تفسیر ابوالحسنات

تالیف

علامہ مفسر حکیم المدبر ابوالفضل مولانا محمد عبداللہ السید الایوبی

الفندھاری السیالمانخیلی الحنفی النقشبندی عم فیضہ

زیر اہتمام

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کافی روڈ سٹاپ لدھیانہ کوٹ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کښې بې ساری په زرګونو جديدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر ایوبی حنفی

اِقْتَرَبَ ﴿١٧﴾ قَدْ اَفْلَحَ ﴿١٨﴾

تالیف او تصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الحنفي النقشبندي السليمانخيلي القندهاري

مکتبة القراءة والتجويد

کاسي رود کوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسیر ایوبي پښتو دووولسم توک

مؤلف ..... الحاج مولنا محمد عبید الله الایوبي الکندهاري

السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي

کمپوز ..... حبیب الحق حقاني

تایپ ..... حقاني کمپیوټر (اداره)

نشر کووتکي اداره ..... مکتبة القراء ت والتجوید کاسي رود کوټه

د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان

یو نظر دې خوا

ښاغلي مسلمان هم په قرآن مجید، احادیثو یا د فقهي په کتابونو کې په قصده سره غلطي نه کوي. زمونږ اداره تر خپله وسه پورې د کتابونو تر لیکلو وروسته تصحیح ته ژیاته پاملرنه کوي. چې له دې کبله زمونږ کتابونه معیاري دي. خو بیا هم بنده بنده دي. وتلې خای خه ناخه غلطي په املاء کې یا په یوه جمله کې خنې صادره سي. نو زمونږ له لوستونکو خخه دا خواست دي چې که ستاسي نظر داسي غلطي ښکاره سي نو زمونږ سره ضرور شریک کړئ او خپل کتاب د دوهم واړه چاپ کې د هغې ښودنې اصلاح وسي

په درناوي

ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكة الادبية والفنية محفوظة

لمكتبة القراءة والتجويد كوئٹه باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على اشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves

Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat wattajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣٠ هجري - ٢٠٠٩ ميلادي

مكتبة القراءة والتجويد

شارع كاسي كوئٹه - باكستان

رقم الهاتف ٠٣٠٠٢٨٨٥٥٢٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KASI ROAD QUETTA
PAKISTAN

ISBN 2-7451-3140-9



بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلوة والسلام على خير الورى

وبعد: داچي تفسير ايوبي دوولسم ټوک چي پکښي اوولسمه او اتلسمه سپاره او دهغه تفسير موجود دی. هيله لروچي د کتاب الله د فهم او د تشريح مسائلو تنده به مو په دې ماته سي.

دا د خوشحالي ځای دی چي د پښتو په تاريخ کښي پر ترجمه، مسائلو او نحوي تراکيبو باندي مشتمل تفسير د تصور له اسمانه د جود په جامه کښي را ووت.

دا حقيقت دی!

که څوک دا وايي چي څه رنګه دا د پښتو اولنی تفسير دی، سره ددې چي له دې څخه مخکي هم تفسيرونه په ژباړه پيمانه کښي موجود دي؟ نو ځواب دادی چي هغه يوله تفسيرونه کوم چي له تفسير ايوبي څخه مخکي په پښتو کښي موجود دي هغه يا خو له عربي، يا له اردو، يا له فارسي څخه اوپا هم له نورو ژبو څخه ژباړل سوي دي، تر کومه حده چي زمونږ معلومات دي، دا يوله تفسيرونه له نورو ژبو څخه ژباړل سوي دي، خو يواځي او يواځي تفسير ايوبي ته دا

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

ویاړ ورپه برخه دی چې د پښتو په تاریخ کښې اولنی تفسیر دی، چې تصنیف او تالیف او همدارنګه اصل متن یې په پښتو دی، که چېرې تاریخ د عادلانو مؤرخینو په لاس ولیکل سو، نو د حضرت علامه ایوبي او همدارنګه د ده د تصنیفاتو او تالیفاتو او نورو خدمتونو به هرو مرو ذکر پکښې وي.

او دا هم تر لمر روښانه ده!

چې د عصر په اخیرنیو شپږو کښې دا ویاړ و حضرت علامه فقیه الوقت ومفسر الزمان مولانا محمد عبید الله الایوبي القندهاري ته ورپه برخه کړی چې د ده د علمي شجر او پوهې څخه هیڅ یو معاند او معاصر هم انکار نه سي کولای.

الله تعالی دي ورته بښې شپږې ورپه برخه کړي، خداوند پاک دي نور هم د مسلمانانو د خدمت کولو توفیق ورپه برخه کړي امین.

عمر دې زیات، قلم دې ګرځندی او بریاوي دې مل وي، د ده یو ادنی شاګرد

فضل الحق حقاني

باني مکتبة القرائت والتجوید

خو دا هم د الله ﷻ یو لوی فضل او احسان دی چې هر کله چې د کمپیوټر دنیا نه وه، نو د حضرت ایوبي کتابونه مو په خپل د لاس په خط وچاپ ته وسپارل چې ژوندي مثالونه یې قدوري، نور الایضاح، نور الظلم، ابو المنتهی، شروط الصلوة، شهادة الحسنین او داسي نور دي. او کله چې کمپیوټر چاپیریال ته راغلی، نو بیا مو د حضرت کتابونه په کمپیوټري لیکنه باندي وچاپ ته وسپارل، خو کېدای سي چې دا هم د حضرت ایوبي اخلاص او للهیت وي ورنه ..... د افغانستان یو عالم هم په دومره تصنیفاتو او کتابونو، حواشیو وتفاسیرو باندي بریالی سوی نه دی لکه څرنګه چې دا ځرګند او واضح حقیقت دی، نو له دې کبله د ټولو مسلمانانو څخه د مکتبة القرائت والتجوید د پاره خدمتونو لپاره د دعا، محتاجه او کارکوونکو ته یې د اسلام د خدمت او چوپړ لپاره د توفیق غوښتونکي یو والسلام

اداره مکتبة القرائت والتجوید

کاسي روډ کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْاَنْبِيَاءِ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ وَّاثْنَتَا عَشْرَةَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه واتباعه اجمعين.

ابتداء تفسير هذا الجزء (۱۷) وهذه السورة يوم الاربعاء، وقت طلوع الشمس ساعة (۸) في حجرة الداري (۲۹) ربيع الاول سنه (۱۴۳۰) هجري قمري، اللهم وفقني لتفسير هذا الجزء، ولتفسير جميع اجزاء القرآن الكريم بالصحة والسلامة والسداد، واجعله خيراً باقيًا لهذا العبد الفقير العاصي الى يوم التناد، انك يا الله على كل شئ قدير وبالاجابة جدير.... بيت:

حاشاك ان تقنط عاصيًا ..... الفضل اجزل والمواهب اوسع

اِقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ

نژدې سو خلګو ته حساب ددوی، يعني وقت حسابهم وهو يوم القيامة.

دروښ وايي: چې مراد له (ناس) څخه مشرکان د اهل مکة دي چې منکر له بعث بعد الموت څخه دي، روح البيان او مظهري وايي چې لام لپاره د تعريف الجنس دی يعني مسلمانان کافران دواړه څندې مراد دي لکن اولی داده چې مراد څندې کافران دي عموماً بدليل مابعده، او امام قرطبي او زمخشري ؒ وايي چې مراد مطلق مشرکين دي که اهل مکه وي او که نور.

پوښتنه: ددې سورت له نازلېدلو څخه تر اوسه يعني سنه (۱۴۳۰) ډېره موده کېږي قيامت نه دی راغلی والله اعلم چې څو کاله به نور تېر سي، نو قيامت چې راځي نو دا څرنګه قريب دی؟

ځواب: قرب يې نظر و مامضی ته دی من عمر الدنيا، او يا ځواب دادی چې هر راتلونکی شی نژدې دی، او هر شی چې تېر سو هغه لېرې دی کما قيل (ما اقرب ما هو آت وما ابعد ماهو فات)

پوښتنه: څه حکمت دی د خدای ﷻ چې د قيامت ورځ له نفخه ثاني څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شروع کړي په خپل علم کي پته ساتلي ده چي نه مقربي ملکي په خبري دي او نه نبي مرسل په خبر دی؟

ځواب: حکمت يې دا دی چي خلک يې هر وخت د راتلو په حذر وي الی غير ذالک من الحکم والمصالح فافهم. او په حديث نبوي کي راغلي دي چي (اما بقائکم فيما سلف قبلکم من الامم کما بين صلوة العصر الی غروب الشمس.

فائده: بعض مفسرين وايي چي لام د (للناس) لپاره د تاکيد د اضافت دی.

وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُّعْرِضُونَ ۝

او دوی په غفلت کي دي له حساب څخه. ولي چي دوی په دنيا او په شهواتو کي د دنيا غرق دي او نه پوهيږي چي په ورځ د حساب به زمونږ سره څه معامله خدای ﷻ وکړي. او دوی اعراض کونکي دي له دې څخه چي په حساب د يوم القيامة دي فکر ووهي او ځان دي ورته اماده کړي بالايمان والطاعة. قال سعدي ؒ:

کسی را که پندار در سر بود ..... مينداز هرگز که حق بشنود
زعلمش ملال آيد از وعظ تنگ ..... شقائق ببارانش نرويد زسنگ

دروښ وايي: چي شقائق گل لالهٔ ته وايي چي سره گلان دي او د پسرلي د باران په وخت کي په دښتو کي پيدا کيږي لکن په ډبره کي نه پيدا کيږي يعني وعظ لکه د پسرلي باران دی او ايمان او قبول د اسلام لکه شقائق دی او زړونه د کفارو لکه ډبرې دي. نو باران د وعظ د دوی په زړونو کي گل لاله د ايمان نسي پيدا کولای.

پوه سه: چي تنکير د (غفلة) لپاره د تعظيم دی ای في غفلة عظيمة تامة.

مَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّن رَّبِّهِم مُّحْدَثٍ

دوی ته نه راځي يو ذکر. چي مراد څخه آيات قرآنيه دي يعني د دې لپاره چي دوی له خوب څخه د جهالت او غفلت بيدار کړي.

پوه سه: چي کلمه د (من) زائده ده لپاره د استغراق د نفي ده. نو د ذکر لفظ لفظاً مجرور دی او محلاً مرفوع دی فاعل د (ياتيهم) دی (من ربهم) له جانبه څخه د رب د دوی. دا جار او مجرور يا صفت دی د ذکر په حذف سره د متعلق ای کائنة من ربهم او يا ظرف لغو دی متعلق په ياتيهم سره. والتقدير الثاني اولی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما لایخفی فافهم (محدث) صفت د ذکر دی یعنې دا ذکر حادث یعنې تنزیل یې او ددوی ترغوږو پورې رسول چې پند ځنې واخلي، نو دا سوال نه وارد پرې چې په عقائدو کې وایي چې قرآن قدیم دی، وجه عدم الورود چې په هغه عقائدو کې مراد کلام نفسي دی چې صفت د خدای ﷻ دی. والمراد ههنا الکلام اللفظي المسموع بالاذنین والمقروء علی الالسن.

مسئله: که څوک کلام نفسي حادث وبولي هغه کافر دی بالاتفاق. او که کلام لفظي څوک قدیم وبولي هغه جاهل مطلق دی، علماء وایي چې سړی دې داسې وایي چې قرآن صفة لله قدیم دا سې دي نه وایي چې قرآن قدیم لئلا یذهب الوهم الی قدم الکلام اللفظي فافهم.

اِلَّا اسْتَمَعُوْهُ وَهُمْ يَلْعَبُوْنَ ۝

مګر په غوږو خویې اوري او دوی پسخند په وهي له جهته ځخه د تناهي د غفلت او انکار د دوی وفرط الاغراض عنه او له عاقبت ځخه د استهزاء بالقرآن دوی غافله دي.

مسئله: بعض جاهل طالبان قرآني آیتونه د مسخرو او خندا لپاره وایي، نو ویونکی یې هم کافر دی او چې پرې خاندي هغه ټوله کافران دي مثلاً نعوذ بالله من ذالک یو طالب د بل طالب ځخه پوښتنه وکړي چې د پشي غوړ پاک دي؟ هغه بل دا آیت قرآني ورته ووایي (في شغل فکهون) نور پرې خاندي.

پوه سه: چې جمله د (وهم یلعبون) حال ده له فاعل ځخه د استمعوا.

لَاهِيَةً قُلُوْبُهُمْ ۭ وَاَسَرُّوا النَّجْوَى ۝

په لهو او غفلت اخته وي زړونه د دوی یعنې په ما استمعوا کې فکر نه وهي چې دا کلام البشر دی او که کلام الله المنزل علی خیر البشر دی. دا بل حال دی.

فائده: استئناء حال دی له مفعول ځخه د یاتیهم. والتقدیر ماياتیهم من ذکر في حال من الاحوال الا حال استماعهم جامعین بین الاستهزاء به والتلهی والذهول عن التفکر فیه کذا قال المظهري ؒ، مفسرین وایي چې قلب لاهي هغه دی چې مشغول وي په امورو سره د دنیا او غافل وي له احوال ځخه د عقبی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې (نجوىٰ) په اصل کې مصدر دی (راز کفتن).

پوښتنه: د نجوىٰ معنی خو پټې خبرې کول دي. نو د اسروا څه فائده ده؟

ځواب: مقصود مبالغه ده په پټوالي کې د راز.

الَّذِينَ ظَلَمُوا

هغه کسان چې ظالمان دي په سبب د کفر او عصيان.

سوال: يو فعل لره خو دوه فاعله نه وي بېله عطفه په دې آيت کې. نو په اسروا کې ضمير د جمع ستد هغه يې فاعل دی، او الذين ظلموا يې هم فاعل دی؟

والمشهور في الجواب چې واو د اسروا فاعل دی او الذين ظلموا يې بدل دی وفائدة الاعلان الافلان بظلمهم فيما اسروا ومثله اكلوني البراغيث، وصاحوا اهل الدار كما في نفحة اليمن من كتب اللغة العربية، او يا الذين ظلموا اخبر د مبتدا، محذوف دی، والتقدير هم الذين، والجواب المشهور مذهب المبرد: او ابن عطيه رح وايي چې د سيبويه هم دغه مذهب دی. او ابو عبيده او اخفش رح وايي چې فاعل د اسروا موصول دی او واو د اسروا حرف دال پر جمعيت دی لكه واو د قائمون او تاء د قامت كذا في روح المعاني.

پوه سه: چې دا وروسته جمله استيناف بياني دی كانه قيل فما قالوا في نجواهم فقيل قالوا.

هَلْ هَٰذَا إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ

(هل هذا) كلمه د هل استفهام انكاري ده او هذا اشاره و عليه الصلوة والسلام ته ده يعني نه دی محمد ﷺ مكر نه انسان دی مثل ستاسي يعني غوښي لري وينې لري او خورک کوي او اوبه څښي و كل مايحتاج اليه البشر او يو وخت به مري لكه نور بشر، نو دی څرنګه وايي چې د خداى رسول يم.

دروښ وايي: چې د دوی لعنهم الله حجت ؤ پر نفي د رسالت د عليه الصلوة والسلام څخه د دوی زعم باطل دا ؤ چې رسول بايد ملكه وي دوی دا زعم باطل درلود ی چې رسول بايد له جنس څخه د مرسل وي او ملائكه دوی بنات الله بللې چې مرسل په صيغه د اسم فاعل چې خداى هم جنس دی او دا تولې باطل خبرې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تسویل د شیطان، او حق دادی چې رسول باید له جنسه د مرسل الیهم وي تاچې افاده او استفاده سره وکړای سي وهذا عادة الله ﷻ في جميع الانبياء والرسل چې رسول و اثناانا ئو ته باید انسان وي، کاشکي د مکې کافرانو د تاریخ پانې د انبیاء والرسل کتلي وای چې یو وخت خدای ﷻ و بشر ته ملکه را استولې ده په رسالت سره؟ (فاسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون) چونکه پر دوی یعنې مشرکان مکه باندې دا سوال به کېدی چې دا معجزات چې پر لاس د محمد ﷺ ښکاره کېږي دا نو څه شی دي؟ په جواب کې ددوی یې داسي وویل.

أَفَتَأْتُونَ السِّحْرَ وَأَنتُمْ تُبْصِرُونَ ۝

آیا تاسي متابعت کوئ د سحر، او تاسي په سترګو ورته ګورئ چې سحر دی، والمراد انكم تعلمون ان ما اتى به محمد سحر. والجملة حال من فاعل تاتون.

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او فا عطف ده پر محذوف او لفظ د سحر منصوب دی على المفعولية والتقدير افتصدقونه في دعوى الرسالة فتاتون السحر. حاصل ددوی د کلام دادی چې رسول خونه دی او دده سره چې خوارق ملګري دي لکه قرآن چې اتیان یې په مثل سره څوک نسي کولای او یا شق القمر وغیرهما دی هغه ټوله سحر او جادو دی. یا السحر منصوب دی مفعول له او مفعول د تاتون محذوف دی والتقدير افتاتون محمدًا لاجل سحره.

پوښتنه: دوی څه دلیل درلودی چې دا خوارق سحر دی؟

ځواب: دلیل خو یې نه درلودی ولي چې قول باطل به څرنګه دلیل ولري نو مجبورًا دعوى د بداهت یې وکړه.

پوښتنه: دا نجونی دوی ولې په پته سره کوله؟

ځواب: ددوی غرض مشوره وه چې سره وه یې کړي چې په څه ډول اسلام وڼړوي او امر د نبوت د علیه الصلوة والسلام له منځه ځخه یوسي چې علیه الصلوة والسلام په خبر نسي چې نباید چې دی زموږ د سازش پلان ونه سنجوي، قال الله تعالى في بيان امثال قولهم ههنا يريدون ليطفؤا نور الله (اى الاسلام) بافواههم والله متم نوره ولو كره الكافرون وكان كذالك يعني لم يحصل مرادهم من انهدام الاسلام بل كان ما اراد الله من اتمام نوره والله عزيز حكيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ رَبِّيْ يَعْلَمُ الْقَوْلَ فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

(قُل) ووایه ته یا محمد (ﷺ) چې زما خدای ﷻ خبر دی په قول د هر چا که په اسمان کې وي او که په مځکه کې وي وسواء کان القائل الملائکة او الانس او الجن جهرًا کان او سرًا فلا فائدةٌ في اسرارهم النجوی. او خدای ﷻ سمیع د اقوالو ددوی او خبر دی په احوالو ددوی ماظهر منها ومابطن.... بیت:

برو علم یک زره پوشیده نیست..... که پنهان وظاهر بنزدش یکی است

بَلْ قَالُوْٓا اَضْغَاثُ اَحْلَامٍ

پوه سه: چې کلمه د بل اضراب دی د الله ﷻ في حکایة قولهم في شان الرسول علیه السلام بانه بشر لایصلح ان یکون رسولاً من الله کما مر الی حکایت قولهم في شان القرآن اضغاث احلام.

پوه سه: چې اضغاث جمع د ضغث ده بکسر الضاد چې عبارت دی د یوې قبضې وښوو څخه چې وچ او لانده سره ګډ وي او احلام جمع د حلم ده بضم الحاء وسکون اللام رؤیا یعني خوب ته وایي وضم اللام لغة فیه ایضًا. نو د احلام معنی خوبونه دی که حق او که باطل. نو اضافت د اضغاث و احلام ته اضافت دی د خاص و عام. نو اضغاث احلام هغه ګډوډ خوبونه دي چې معبرین یې تعبیر نسي کولای ددوی لعنهم الله مراد داوو چې قرآن من عند الله نه دی بلکې د محمد ﷺ ګډوډ خوبونه دي.

پوه سه: چې رؤیا په عرف کې د عربو حق خوب ته وایي او حلم و منام باطل ته وایي کما قوله علیه الصلوة والسلام الرؤیاء من الله والحلم من الشیطان.

بَلِ افْتَرٰىهُ بَلْ هُوَ شَاعِرٌ ۚ

اضراب دی د کفارو له خوا من کون القرآن اباطیل چې په محمد ﷺ خوب لیدل سوی ګډوډ الی افتراء چې قرآن په قصد محمد (ﷺ) دروغ په خدای ﷻ پورې ترلي دي یعني په خوب یې هم نه دی لیدلی، ولي د خوب لیدل خو بې اختیارشی دی او افتراء قصدًا دروغ ته وایي (بل هو شاعر) دویم اضراب دی د کفارو له خوا من کون القرآن کلام مفتری الی کونه شعرًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چې بغوي ؒ وايي چې بعض کافرانو به قرآن اضغاث احلام باله بعضو به قریه قصدي درواغ بولی او بعضو به کلا، شعري باله.

درویش وایي: چې روح المعاني دا قولونه پر بعض کذا وبعض کذا لکه بغوي چې وویل نه دي ویلي بلکې هغه وایي چې دا ټوله قولونه مشرکانو د مکې کوله، دی وایي چې دا عادت د عاجزی دی له دلیل څخه چې مبهوت، مغلوب او معتوه یې بولي ګاهي یوه خبره ګاهي بله خبره او انتقال د فاسد و افسده کوي بلکې د افسد الافسده.

سپینه فائده: درویش وایي چې انجیر خوردن نه کار هر مرغیست چې یو مثل په فارسي ژبه کي دی، ددې خبري د مشرکانو د مکې چې قرآن شعر دی او علیه الصلوة والسلام شاعر دی نعوذ بالله من مثل هذا القول تحقیق باید وکړل سي چې ددوی څه مراد ؤ؟ دا معنی د شعر چې موضوع د علم العروض دی چې کلام موزون مقفی یقصد به الوزن، والتقفیة مراد د موزون څخه دا دی چې هر یو وزن عروضي چې (۱۶) بحر دی ټوله د بحر پر ارکانو به برابر وي، وبیان تلک الابحر و اوزانها واجزائها في علم العروض لکه مختصر الشافي او محیط الدائرة وغیرهم. او د مقفی معنا داده چې قافیه به هم لري چې تفصیل یې په علم القافیة کي راغلی دی دا خو ددوی مراد نه ؤ، ولي یو بلید د عجمو خو په دې پوهیږي چې اسلوب د قرآن کریم خو داغسي نه دی او نه ممکنه ده چې ټوله د قرآن کریم آیاتونه دي څوک پر اوزانو عروضیه ؤ برابر کړي. البته بعض آیتونه په قرآن کریم کي اتفاقًا د یو بحر پر وزن به برابر وي لکه په محیط دائره کي یو، وه مثاله یې راوړي دي، نو چې بلید سړی د عجمو په دې پوهیږي چې د قرآن مبارک اسلوب او طرز بیان د شعر نه دی، نو مشرکان د مکې چې بلغاء او د شعر او نثر په فرق نه پوهیدله څرنګه به قرآن ته په معنی مذکور شعر ووایي.

سوال: دوی خو معاند ان وه، عناداً دي دوی د دغه مذکوره معنی غرض وایي؟

خواب: که دوی وایي چې قرآن په معنی مذکور شعر دی، نو ددوی د خالد د خورزوی به پر دوی د کذب شاهدي ادا، کړې وای.

پوښته: نو ددوی څه مراد ؤ، روح البیان که څه هم ویلي دي چې ډیرو مفسرینو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل هو شاعر والقرآن شعر پز معنی مذکور حمل کړي ده چي قرآن منظوم مقفی دی حتی چي کفارو ټولو ماجاء في القرآن من الآيات على الوزن الشعري من الابحر (۱۶) تطبيق کړی دی انتهی.

درویش وایي: چي دا تبطيق د ټولو آياتو د قرآن مجيد پر اوزانو عروضيه ؤ ده پره بعيده خبره ده بلکي له حدودو څخه د امکان هم وتلي خبره ده ولم يا ت احد من المشرکين بذالک التطبيق فکيف يصح نسبة ذالک الى اکثر المفسرين بلکي تحقيق خبره داده چي کفارو دمکي نسبت د کذب و عليه الصلوة والسلام ته کاوه او قرآن يې هم کذب باله فان الشعر يعير به عن الکذب والشاعر يقال للکاذب، ځکه په علم منطق قياس مرکب من القضايا الموهومة او الکاذبة ته قياس شعري وايي. او بله خبره داده چي شعر على العموم ځای د دروغو دی، ځکه يو عالم خپل زوی ته نصيحت کاوه داسي يې وويل: درشعر مپيچ و در فن او زانکه احسن او اکذب اوست... بيت

درقيامت نرسد شعر بفرياد کس.... گرچه سراسر سخنش حکمت يونان باشد

سوال: په حديث شريف کي راغلي دي (ان من الشعر لحکمة) او بل دا چي حسان بن ثابت ؓ پر منبر نبوي په حضور انور کي د عليه الصلوة والسلام شعرونه په هجو کي د کفارو وويل، او بل دا چي ډير کتابونه د بيان د عقائدو د دين او د احکامو د دين په اشعار فارسيه وو سره دي، دا نژدې پنځ کتاب مطالعه کړئ مثنوي نو لا چېري ده، په خپله صاحب د مثنوي په يو بيت کي داسي وايي:

ازکرامات بلند اولياء..... اولاً شعر است واخر کيميا

ځواب: په حديث شريف کي من د تبعيض راغلی دی او حسان ؓ چي هجو د کفارو په مسجد نبوي کي کوله هغه خو عبادت ؤ او بعض کتابو چي عقائد او احکام په اشعارو سره راوړي دي هغه له دائرې څخه د بعضيت نه دي، خبره خو په دې کي ده چي على العموم والاکثر اشعار د عوام الناس له کذب څخه خالي نه دي بلکي د بلغاؤ د عربو د جاهليت غالبًا کذب بحت وه فلا منافات فتدبر حق التدبر.

پوښتنه: مراد د کفارو د مکي نسبت د کذب و عليه الصلوة والسلام ته ؤ في قولهم بل هو شاعر، نو نسبت د افتراء او کذب خو دوی د مخه و عليه الصلوة والسلام ته کړی ؤ بقولهم بل افتراه، نو د بل هو شاعر څه فائده ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: مظهري ؒ داسي ويلي دي والفرق بين المفترى (على صيغة المفعول) والشعر ان المفترى كلام كاذب چې د متكلم يې دا اراده وي چې حاصل كړي تصديق د سامع پر دغه نسبت غير مطابقة للواقع او شعر مركب من مقدمات تاثر في ذهن السامع يا رغبت يا بېره يا خوشالي يا غم يا تعظيم يا تحقير او غير ذالک. والغرض من الشعر ذالک التاثير في النفوس من دون حصول التصديق اصلاً فكان من قبيل الانشاء آه.

دروېش وايي: چې داؤ تحقيق د دې مقام حتى الوسع ولايكلف الله نفسًا الا وسعها.

فَلْيَأْتِنَا بِآيَةٍ كَمَا أُرْسِلَ الْأَوَّلُونَ ۝

يعني كه محمد (ﷺ) صادق وي په دعوى كې د رسالت د خداى ﷻ نو موږ ته دي راوړي، داسي آيت لكه د نورو رسولانو يعني لكه ناقة د صالح عليه السلام يا عصاء او يد بيضاء د موسى عليه السلام يا ابرء الاكمه والابرص و احياء الموتى لعيسى عليه السلام وغير ذالک.

پوه سه: چې (بآية) متعلق دى په (فليأتنا) پورې او كلمه د ما يا موصوفه ده يا موصوله او عائد يې پر دواړه تقديره محذوف دى او كلمه د كما صفت د موصوف محذوف ده، والتقدير فليأتنا بآية كائنة كالآية التي ارسل بها (وهذا هو العائد المحذوف) التي ارسل بها الاولون من الرسل (على تقدير كون ما موصولة) او كآية ارسل بها الاولون (على تقدير كون ما موصولة)

پوه سه: چې ابن جرير ؒ له قتادة ؒ څخه روايت كړى دى چې اهل مكه و عليه الصلوة والسلام ته وويل ان كان ماتقوله حقًا نو موږ ته د صفا غر د سرو زرو و كړځوه، نو جبرئيل و عليه الصلوة والسلام ته راغلى او وه يې ويل كه ستا خوښه وي زه به د دوى غوښتنه پر ځاى كړم لكن كه دا غوښتنه د دوى پر ځاى سي او بيا هم ايمان نه راوړي بيا د استيصال عذاب وركوم مهلت بيا نسته، او كه ستا خوښه وي د دوى خواهش به نه كړم منظور او دوى ته به مهلت وركړم يعني ژر به عذاب نه پر نازلوم. قال عليه الصلوة والسلام شفقة على قومه بل استاني لقومي (يعني مهلت وركړه) فانزل الله تعالى هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَآ اٰمَنَتْ قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا ۚ اَفَهُمْ يُؤْمِنُوْنَ ۝

ایمان نه دی راوړی دمخه تر مشرکینو د مکې له اهل څخه د لوی قریې. آیا دوی یعنې مشرکان د مکې به ایمان راوړي که دوی ته د دوی غوښتلي معجزې ورکړل سي مع ان کفار مکة اشد کفرا دي تر ماقبل قومو نو من زائد دی لپاره د استغراق د نفي او قریة په محل کي د رفع فاعل د آمنت دی (اهلکنا) چې موږ هلاک کړي دي اهل د هغې قریې په حذف د مضاف اعني لفظ د اهل.

پوه سه: چې اهلکناها صفت د قریة دی یعنې وروسته تر دې چې دوی آیات مقترحه وغوښتل لکه قوم د صالح ؑ چې له صالح ؑ څخه یې غوښتنه د ناقة وکړه او بیا یې هم ایمان نه راوړی، نو موږ دوی په هلاک استیصال سره هلاک کړل.

پوه سه: چې کلمه د فا لپاره د عطف ده پر ما آمنت او استفهام لپاره د انکار دی یعنې کفار مکه هم ایمان نه راوړي که څه هم د دوی د خوا معجزه ورکړه سي.

پوه سه: چې خدای پاک تعقیب د نه ایمان د اهل مکه پر نه ایمان د دمخه کافرانو وکړی والحاصل چې عدم ایتاد مقترحاتو د اهل مکه له جهته څخه د عدم قدرت د خدای ﷻ نه دی بلکې د پرېښولو د دوی دی تر یو وخته پورې. ولې رحمة للعالمین ﷺ سوال د ابقاء د دوی کړی دی تاچه عذاب د استیصال پر دوی رانسي.

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ

موږ نه دي استولي تر تا دمخه یا محمد مګر نه رجال یعنې لا ملائکة لکه اهل مکه چې یې مطالبه کول او موږ به وحي کولې دوی ته.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده لپاره د رد د قول و اهل مکه ته هل هذا الا بشر مثلکم. حاصل د رد یې دادی چې دا عادت قدیمه د خدای ﷻ دی چې انسانانو ته انسان نبي را استوي لا الملک.

فَسْـَٔلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ ۝

نو تاسي یا اهل مکه پوښتنه وکړئ له اهل علم څخه چې اهل کتاب دي چې مخنې رسولان بشر وه که ملکي تاچه ستاسي شبهه به دفع سي. که تاسي چې علم نه لري.

پوه سه: چې دا شرط دی جزاء یې له ماقبل څخه فهمیږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: مشرکینو د مکي خو اهل کتاب هم منل ولي چي بعث بعد الموت يې نه مانه او اهل کتاب خو يې منې، نو له هغو څخه پوښتنه څه فائده لري؟

خواب: مشرکانو د اهل مکي به د اهل کتاب سره مشوره کول په باره کي د علیه الصلوة والسلام د نبوت او د اهل کتابو پر خبره يې باور درلودی في الجملة او يا له دې سببه يې حواله پر اهل کتاب ورکړه چي تواتر علم فائده کوي که څه هم دوی کفار وي.

وَمَا جَعَلْنٰهُمْ جَسَدًا لَّا يَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ وَمَا كَانُوْا خٰلِدِيْنَ ۝

او موږ نه دي کړ ځولي د مخه رسولانو يو جسد چي طعام يې خوړی لکه ملکي او نه دي کړ ځولي مخکي رسولان خالدين يعني همېشه ژوندي په دنيا کي بلکي عند الاجل مړه سوي دي.

سوال: په (جعلناهم) کي ضمير د جمع ؤ، نو (جسداً) مفرد يې څرنګه پر حمل کړی؟

خواب: جسد اسم جنس پر يوه او پر ډېرو يې اطلاق روا دی. او يا (جسداً) مصدر دی په اصل کي نو اطلاق يې روا دی پر ډېرو يا مضاف محذوف دی ای ذوی جسد او يا په تاويل د کل واحد.

پوه سه: چي بعض اهل لغت وايي چي جسد او جسم سره يو دی، او بعض اهل لغت وايي چي جسد تر جسم خاص دی چي جسد هغه جسم ته وايي چي لون او رنګ لري، نو خکه هوا ته جسد نه ويل کيږي او جسم دی.

فائده: (لايا کلون) صفت د (جسد) دی په دې صفت سره يې رد د هغه قول د کافرانو وکړی (ما ل هذا الرسول يا کل الطعام آه).

فائده: په (ماکانوا) سره يې هغه قول د مشرکينو دفع کړی چي دوی يو د بل سره ويل پرېږدئ محمد يو څو ورځي به ژوندی وي چي مړ سو خندي خلاص به سو فافهم.

ثُمَّ صَدَقْنٰهُمُ الْوَعْدَ فَاَنْجَيْنٰهُمْ وَمَنْ نَّشَآءُ وَاَهْلَكْنَا الْمُسْرِفِيْنَ ۝

ورو سته موږ رښتيا کړه د رسولانو ماضيينو سره په وعده کي د نصر پر اعداؤ ددوی (چونکه صدقنا متعدي و يوه مفعول ته دی چي هم دی نو نصب د الوعد په حرف جر محذوف سره دی ای في الوعد) نو موږ نجات ورکړی د عذاب نازل پر کافرانو وه رسولانو ته (ومن نشاء) يعني المؤمنين بالرسل يا هغه کافران چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابقاء کي يې د خدای حکمت ؤ چې يا به دی مسلمان سي يا به يې په اولاد کي مسلمان پيدا سي، او هلاک کړه موږ هغه کسان چې چې متجاوز تر حد به وه په کفر او په طغيان کي چې نه به په دوی کي ځای د ايمان ؤ او نه په عقب کي دده يعني بحسب علم الله عزوجل.

دروښ وايي: چې په دې آيت کي ضمنًا وعده د عليه الصلوة والسلام سره ده چې تاته به هم نصرت در کړم پر کافرانو د مکې او تا او مؤمنانو ته به نجات در کړم او مسرفان د دوی به په ځاه کي د هلاک واچوم کما في بدر وغيره من مغازي رسول الله ﷺ.

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ كِتٰبًا فِيْهِ ذِكْرُكُمْ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝١٠

لام موطئه د قسم دی، په تحقيق نازل کړی دی موږ و تاسي ته يا معشر قريش قرآن کريم چې په هغه کتاب کي ستاسي شرف دی يعني که چېرې تاسي عمل په وکړئ او يا له دې سببه ستاسي شرف پکښې دی چې ستاسي په ژبه دی. او يا د دې معنی داده چې ستاسي د خدای ﷻ ذکر پکښې دی او ذکر د هغو شيانو پکښې دی چې تاسي حاجت ورته لرئ من امور دينکم ودنياکم، او بيضاوي وايي چې ستاسي ذکر حسن پکښې دی او موعظتکم او ماتطلبون حسن الذکر من مکارم الاخلاق (افلا تعقلون) دا جمله عطف ده پر (انزلنا) او تعقلون منزل منزلة اللازم دی ای فلا عقل لکم او يا يې مفعول محذوف دی، والتقدير افلا تعقلون خيرکم وشرکم او کلمه د فاء لپاره د تعقب ده او استفهام لپاره د انکار دی د عدم تعقل د مافيه صلاحکم وشرفکم لا بمعنی عدم وقوع ذالک بل بمعنی لاينبغي لم ذالک.

وَكَمْ قَصَمْنَا مِنْ قَرْيَةٍ كَانَتْ ظَالِمَةً وَّاَنْشَاْنَا بَعْدَهَا قَوْمًا اٰخَرِيْنَ ۝١١

پوه سه: چې کلمه د (کم) خبر مقيد د کثرت ده او (قصم) کسر او هلاک ته وايي ای اهلکنا کثيرًا، کلمه د (من) بيان دی د (کم من قرية يعني اهل قرية) چې وه دا قريه يعني اهل د هغې ظالمان وه بالکفر والمعاصي او ظلم يې پر خپلو ځانو کاوه، (انشانا) په معنی د اورثنا دی يعني اورثنا بعد هلاک اهلها اموالهم قوم آخرين ته چې د دوی قائمقام وه چې نه په نسب د دوی وه او نه په دين د دوی وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَمَّآ اَحَسُّوْا بَاْسَنَآ اِذَا هُمْ مِّنْهَا يَرْكُضُوْنَ ﴿۱۲﴾

پوه سه: چې ضمير د (احسوا) راجع دی و اهل ته چې د قرية سره مضاف محذوف ؤ، او د باس معنی شوه د جنګ وغيره ته وايي. مظهري ؒ ترجمه د احسوا په ادارک بحاسة البصر سره کړې ده، او روح البيان داسې ترجمه کړې ده ای ادرکوا ادراگا تامًا کانه محسوس بالبصر يعني مراد له احساس څخه علم کامل تام دی، احساس يې تشبيهًا ورته ويلی دی، کلمه د (اذا) لپاره د مفاجات ده، او ضمير د هم و اهل قريه ته راجع دی. او ضمير مؤنث وه قريه ته راجع دی، او رکض وهل د آس يا خره په پښو سره چې چابک سي، نو رکض چې نسبت يې وه راکب ته وسي پښې ښورول دي پر مرکوب چې وځغلي نحو رکضت الفرس، او چې پياده سړي ته يې نسبت وکړل سي مراد خندي وځغاسته ده، والمعنی دوی چې احساس د شدت د عذاب د خدای وکړي نابېره بې په تېښته له قريه څخه پيل وکړي، که سپاره وه هغوبه پر آسانو وغيره پښې ښورولې او که به پياده وه هغوبه مټه شروع کړه، غرض دادی چې څرنګه به د عذاب پر قريه خلاص سو.

لَا تَرْكُضُوْا

(لاترکضوا) دا جمله مستانفه ده په جواب کې د دې سوال چې دوی ته په وخت کې د هرب من القرية چا څه وويل، نو قيل دلته محذوف دی يعني قيل لهم مه وځغلئ د خپلې محبوبې قريې څخه، دا خبره د استهزاء او پسخند پر ډول ورته وکړل سوه، دا قول يا يو ملکي د عذاب ورته ذکر کړی چې د دوی د عذاب په وخت کې حاضره وه، يا بعض مؤمنانو چې په قريه کې وه او يا په لسان حال ورته وکړه سوه، هذا ماقاله روح البيان والمظهري وروح المعاني والقرطبي والرازي ؒ.

وَارْجِعُوْٓا اِلٰى مَآ اُتْرِفْتُمْ فِيْهِ وَمَسٰكِنِكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْـَٔلُوْنَ ﴿۱۳﴾

راوګرځئ وه هغو شيانو ته چې تاسې تنعم او تلذذ په قريه کې په کاوه من المآکولات والثمار والمفروشات وغير ذالک، شايد ستاسې څخه به پوښتنه وکړل سي، يا د دې چې پر تاسې او ستاسې پر اموالو څه عذاب نازل سو، نو به تاسې د ستر ګو ليدلی حالات وسائل ته بيان کړی، او يا معنی داده راوګرځئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښېنئ په خپلو مجلسو کي او په خپلو مریانو کي او هغو ته به امر او نهي کوئ یا راسئ په خپلو کورو کي کښېنئ چي خلک سوال درڅخه کوي د خپلو مشکلاتو او د نوازلو، او ابن عباس ؓ وایي چي تاسي خپل نبي څرنګه قتل کړی. بغوي ؒ په مختصره توګه داسي وایي چي دا آیت په اهل کي د حضورا چي د یو وطن نوم دی په یمن کي چي اهل یې عرب وه، نو خدای ﷻ نبي ورته راواستاوه (د نبي نوم بغوي ؒ نه دی ذکر کړی) نو هغه و دوی ته دعوت د توحید د خدای ﷻ ورکړی دوی یې تکذیب وکړی او نبي یې قتل کړی، نو خدای ﷻ پر دوی بخت نصر بابلي مسلط کړی حتی قتلهم و سباهم، نو چي قتل په دوی کي تر اندازه ډېر سو، نو دوی پر قتل د نبي پښېمانه سوه او په جنګ کي یې شکست وخوړی او په تېښته یې پیل وکړی فقالت الملائکة لهم استهزاء لاترکضوا وارجعوا الی مساکنکم واموالکم. انتهی قول البغوي ؒ.

سوال: دوی چي پر قتل د نبي او شرک پښېمانه سوه، نو دا د دوی توبه نه وه؟ او سره ددې چي په حدیث صحیح کي راغلي دي (الندم هو التوبة)؟

ځواب: ندم چي توبه ده هغه قبل نزول العذاب ده، دوی خو په وخت کي د نزول العذاب پښېمانه سوه دا توبه نه وه کما قال السعدي ؒ.

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

او قتاده ؒ وایي لعلکم تسئلون شیئًا من اموالکم و دنیاکم فتعطون من شئتم وتمنعون من شئتم فانکم اهل ثروة ونعمة. نو بخت نصر چي توري پسي راوکښلې د اسمان له خوا نعره وسوه یا ثارات الانبیاء (ای کسات کښونکو د قتل د نبیانو یعني چي اهل حضورا خپل نبي قتل کړی ؤ) اقتلوهم (وژنئ یاست دوی، نو دوی چي دا نعره واوریدل پوه سول چي دا د مقتول نبي کسات خدای له موږ څخه کاږي) اقروا علی انفسهم بالذنوب ای الشرک والمعاصي وقتل النبي وندموا حین ینفعهم ذالک الندم. قالوا.

قَالُوا يَا وَيْلَنَا إِنَّا كُنَّا ظَالِمِينَ ﴿۱۴﴾

اې هلاک زمونږ په تحقیق موږ ظالمان ؤ.

دروښ وایي: چي دا هغه د دوی ندم او پښېماني چي فائده یې ونه کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د عربو دا قانون دی چي په وخت کي د سختی د یا ویلنا یاحسرتاه واندامتا نارې وهي. وهذا النداء مجاز.

فَمَا زَالَتْ تِّلْكَ دَعْوٰىهُمْ حَتّٰى جَعَلْنٰهُمْ حَصِيْدًا خٰمِدِيْنَ ﴿۱۵﴾

نو همیشه دوی دغه نارې چي هلاکه چیرې پې راسه دادی وخت دی. موږ وکړخول دوی لکه غنم یا اوربشي وغیره چي خلګ یې لو کړي بالمناجل (لوریا منګال) چونکه په فعیل په معنی د مفعول کي مفرد، مثنی او جمع سره برابر دي. نو له دې سببه یې مفرد راوړی او سره ددې چي مفعول اول د جعلنا جمع ؤ. نو باید مفعول ثاني یې هم جمع وای فتدبر (خامدین) یعني مړه کما یقال خمدت النار.

دروښ وایي: چي روح المعاني و قصې ته د حضور اهیځ تعرض نه دی کړی نه مختصراً نه مطولاً، او روح البیان دا قصه وپرې په تفصیل سره بیان کړې ده، اول وایي چي له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي ظلم سبب د خرابی د آبادی دی، بدلیل قوله تعالی انا کنا ظالمین. او په حدیث صحیح کي هم راغلي دي (الظلم ظلمات یوم القیامة) او شیخ سعدي شیرازي قدس سره هم ودې خبرې ته د اسي فهم لرنه کړې ده:

بقومی که نیکی پسندد خدای ..... دهد خسرو عادل نیک رای
چو خواهد که ویران کند عالمی ..... کند ملک در پنجه ظالمی

بیا روح البیان ویلي دي قال بعض اهل التفسیر و الاخبار چي حضور چي له قرې وو څخه د یمن وه. او بعض راویان وایي چې د حجاز له قریو څخه وه، وطرف ته د شام، دوی ته خدای ﷻ راواستاوه نبي چي نوم یې موسی بن مشان ؤ کما في الکشف. او امام سهیلي وایي چي نوم یې شعیب بن ذی مهرم ؤ، او ددې شعیب قبر په یمن کي دی په یوه غره کي چي خلګ یې (ضعین) بولي او په قاموس کي وایي چي ضعین بالکسر جبل عظیم بضعاء الیمن.

بوه سه: چي دا شعیب هغه نبي نه دی چي په مدین کي ؤ او د موسی بن عمران ﷺ خسر ؤ لان قصته حضور قدیمة جداً، او دې د حضور خلګو خپل نبي قتل کړی او په عین دغه تاریخ اصحاب الرس خپل نبي حنظلة بن صفوان قتل کړی، نو خدای ﷻ وحي وکړې و بل نبي ته چي نوم یې ارمیاء ؤ چي ته ورسه بخت نصر بابلي ته او دی خبر کړه چي ته خدای مسلط کړی یې پر اهل حضور او پر مځکه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عربو او زه انتقام اخلم له دوی څخه په ټا سره، او ارميا ؑ ته يې دا وحي را
واستولې چې معد بن عدنان پر آس سپور کړه عراق ته يې بوزه چې د يمن په مځکه
کې يا د نورو عربو په مځکو کې ده ته ضرر ونه رسېږي، خدای پاک ارميا ؑ ته
وويل چې زه له نسل څخه د معد بن عدنان بعد قرون من الزمان يو نبي آخر الزمان
پيدا کوم چې نوم يې محمد ﷺ دی، نو ارميا ؑ معد مذکور چې دوولس کلن ؤ
عراق ته بوتلی او په اسرائيلو کې يې استوګنه وه حتی چې ځوان سو او په بني
اسرائيلو کې يې ښځه په نکاح کړه چې نوم يې معانه ؤ، نو بخت نصر ه هر جيوش
سره جمع کړه او غارات او حملې يې پر اهل حضور شروع کړې من کل جهة حتی
قتلهم وسبی منهم او عمارات د حضور يې خراب کړل چې په حضور کې نه انسان
او نه حيوان او نه عمران پاته سو کما قال الله تعالی (حتی جعلناهم حصيداً
خامدين) بيا بخت نصر د عربو پر مځکو بښارو باندو يرغل شروع کړی يمنها
وحجازها فاكثر القتل والسبي وخرب وحرق ثم رجع الى سواد بابل، او په دې آيت
کې خدای پاک وايي (وكم قصمنا من قرية كانت ظالمة) دغه د عربو قريې مراد
دي چې بخت نصر حملې پر وکړې، روح البيان په اخير کې ويلي دي ان هذه الرواية
منقولة عن ابن عباس ؓ، لكن ابن عباس ؓ يوازې ذکر د حضور کړی دی والله
الذي احاط دائرة علمه بما كان وما يكون اعلم بالصواب وحقيقة المقال.

دروېش وايي: چې دا وه پښتو ژباړه د عبارت د روح البيان مع زيادة يسيرة او
ترجمة بعض العبارات من هذا العبد العاصي غفرله الباري ذنبه الجلي والخفي
والله المستعان وعليه التكلان.

وَمَا خَلَقْنَا السَّمَآءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لٰعِبِيْنَ ۝

او نه دی پيدا کړی موږ اسمان (اسم جنس دی يعني السموات السبع) او
مځکه او منځ د اسمان او مځکې (چې کره د هواء ده او بارانو او واورې وغيره) په
داسې حال کې چې موږ عبث کار کاوه او بې فائدې ګار مو کاوه بلکې آسمانونه
او مځکه پر عجائبو د قدرت د خدای ﷻ مالا مال دي تاچه ناظرينو ته تبصره
وګرځي او هم سبب وګرځي د ژوندانه د چارو د مخلوقاتو او د آخرت په چارو کې
برګ درختان سبز در نظر هوشيار ... هر ورقی د فتريست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنگر بچشم فکر که از عرش تا بفرش ... در هیچ ذره نیست که سری عجیب نیست

لَوْ أَرَدْنَا أَنْ نَتَّخِذَ لَهْوًا

که اراده زمونږ وایي چې د څان لپاره ساتېرۍ شمې وګرځوو. عطاء ؒ د ابن عباس ؓ څخه داسې روایت کړی دی چې مراد له لهو څخه ماینه ده وهو قول الحسن وقتاده ؒ ولي چې لهو په لغت کې وطي ته وایي او ماینه محل د وطي ته، او کلبي ؒ هم له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې مراد له لهو څخه ولد دی ولي چې خلګ په کوچنیانو سات تېروي په غېږ کې یې ګرځوي او مچې څنې اخلي الی غیر ذالک من انواع اللعب.

بوه سه: چې لهو مصدر دی په معنی د مفعول. حسین کاشفي په تفسیر حسیني کې وایي: لهو چیزیست که بآن بازی کنند وبرؤیت آن مستانس شوند چون فرزند انتهی.

دروښ وایي: چې تفسیر کاشفي ډېر جامع او په زړه پورې دی.

لَّاتَّخَذْنَاهُ مِن لَّدُنَّا إِن كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٧﴾

ای من عندنا مما یلیق بحضرتنا من المجردات. مظهري ؒ وایي که مونږ بالفرض والتقدیر المحال دا کار کولای.

دروښ وایي: چې د مجردات قائلین غیر د ذات د رب ﷻ خو حکماء دي، نو مظهري ؒ څرنګه تفسیر په مجرداتو سره وکړی؟ او روح البیان یې داسې تفسیر کړی دی ای من جهة قدرتنا لتعلقها بکل شئ من المقدورات (وفیه بحث لان المستحیل بالذات کشریک الباري واجتماع النقیضین وارتفاع النقیضین لیس محل القدرة لان محل القدرة الممکن) او واحدي یې داسې تفسیر کړی دی چې معنی د لدنا من عندنا بحیث لایظهر لکم ولاتطلعون علیه ولایجری لاحد فیه تصرف لان ولد الرجل وزوجته یکونان عنده لاعند غیره آه (وفیه بحث لان الآیة علی تقدیره وتفسیره لاتدل علی استحالة الولد والزوجة) والصحیح في تفسیر مالدنا ماینا سب کما هو المعلوم من ان الولد لکل شئ یکون من جنسه ولما ثبت بالدلة النقلیة والعقلیة ان ذاته تعالی لایماثله شئ، کریمه: لیس کمثله شئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولايجانسه احد فاستحال انيكون له زوجة او ولد. و تعلق ارادته تعالى التي لاينفك المراد منها بالمستحيل مستحيل فامتنع اتخاذ الزوجة والولد فافهم.

پوه سه: چې (ان كنا فعلين) شرط مستغني له جزاء څخه مما قبله دی يعني كه مورِ فاعل د لهو من الزوجة والولد واى والجزاء دل عليه ماقبله لكن نه يو فاعلين لكونه مستحيلاً مناف للالوهية.

دروښ وايي: چې دا آيت پر تفسير صحيح اشاره ده و قياس استثنائي ته چې تالي يې محال دی. نو مقدم هم محال دی كقولهم ان كان زيد حمارًا لكان ناهقًا لكنه ليس بناهق فليس بحمار. وتقريره ههنا لو اردنا ان نتخد لهوًا (وهذا هو المقدم للمقدمة الشرطية) لاتخذناه من لدنا (وهذا التالي للشرطية) لكن اتخاذ من لدناه مستحيل (وهذا هو المقدمة الاستثنائية المحذوفة كمامر تفسيرها واستحالتها) فالمقدم اعني ارادة اتخاذ اللهو (چې ترجمه د مقدم مذكوره ايضًا محال)

پوښتنه: تا تفسير چې تا وكړی، عوام خو څه كوې د بعضو طالبانو بلكې د بعضې ملايانو تر فهم لوړ دی؟

خواب: غرض خو تفسير د آيت دی پر صحيح دول بعض كه نه په پوهېږي علماء مدرسين چې علاقه د عقلي علومو سره لري دې تفسير ته به خوش آمديد ووايي ان شاء الله ﷻ. سعدي شيرازي وايي:

تو گوی آنچه دانی سخن سود مند ..... اگر هيچ كس را نيايد پسند

بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ

پوه سه: چې بل اضراب دی د اتخاذ د ولد او له ارادې څخه د هغه، نو معنا د آيت داده چې هغه اراده د لهو خو مورِ نه لرو بلكې شان زمورِ دادی چې حق چې له جملې څخه د هغه ضد اللهو دی چې جد يې بولي او ايمان او قرآن دی غالب گرځوو پر باطل باندې چې له جملې څخه د هغه لهو او كفر او نور باطل شيان دي. نو هغه باطل خدای پاک هلاک او نېستي كړي او يا حق باطل نيستي او نابود كړي دا وه د آيت سليسه ترجمه. اوس واورئ د مفرداتو د آيت ترجمه (قذف) راغب ؒ وايي ويشتل دي له لېرې څخه كما يقال منزل قذف اى بعيد والباطل نقيض الحق، او له جملې څخه د باطل ذاهم ده اتخذ الله ولدًا لكه نصارى چې وايي عيسى ابن الله و مريم زوجته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالی عن ذالک. او له جمله څخه دا هم ده چې خدای پاک دي د صاحبه والولد والدفع کسر الراس والدماغ المفضي الی زهوق الروح، صاحب المفتاح وایي چې اصل استعمال د قذف او دفع خو په اجسامو کې ده لکه یو څوک چې په کلکه ډبره د خاورو لوښي وولي او مات یې کړي، ثم استعیر القذف لایراد الحق علی الباطل والدفع لاذهاب الباطل ومحوه بالکلیة ففیه تشبیه للمعقول بالمحسوس لتتمکن المعقول في ذهن السامع فضل تمکن لان العقل الی المحسوسات امیل، نو معقول دلته ایراد الحق دی چې قرآن کریم دی پر باطل چې شرک دی او محسوس ما قول دی د خاورو د لوښي یا د سړي سر او دماغ په لویه ډبره چې وولي فافهم.

فَاِذَا هُوَ زَاهِقٌ ؕ وَلَكُمُ الْوَيْلُ مِمَّا تَصِفُوْنَ ﴿۱۸﴾

نو ناګاه هغه باطل چې شرک ؤ له منځه ولاړ سي چې هیڅ اثر یې پاتې نه سي. په قاموس کې وایي زهق الباطل ای ذهب وهلک فهو زاهق آه. او تاسي لره دی یا معشر قریش مکه هلاک د هغه شي څخه چې تاسي یې په وصف کې د خدای پاک وایاست من الشریک وهي الاصنام. والولد چې ملائکه بنات الله بولئ مما لایلیق بشانه ﷻ.

پوه سه: چې کلمه د ما یا مصدریه ده ای وصفکم الله، یا موصوفه یا موصوله دی ای شئ تقولونه في وصفه تعالی او الذي تقولونه آه وعلی التقدیرین الآخرین العائد محذوف کما اشرنا الیه عنقریب.

وَلَهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَمَنْ عِنْدَهٗ

او خدای ﷻ لره دي هغه شیان چې په آسمانو او مځکه کې دي یعني ملګا وخلقا یعني لایصلح شئ د دغو څخه چې د خدای پاک ولد سي او یا اهل او یا کفو کما في سورة الاخلاص (لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد) (ومن عنده) عطف دی علی من في السموٰات آه من عطف الخاص علی العام مراد له عندیت څخه عندیة د شرف دی لا عندیة المکان، نو د عند په لفظ راوړلو کې قرب رتبي مشابه کړی دی د قرب مکان سره، روح البیان وایي وهم الملائکة علیهم السلام مطلقا او مظهري ؒ وایي وهم الملائکة والانبیاء علیهم السلام، په هر صورت که څه هم دا من عنده په من في السموٰات والارض کې داخل دي لکن لپاره د شرف د دوی علیحدهٔ راوړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَلَا يَسْتَحْسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾

دوی کبر او لویی له عبادت څخه د خدای نه کوي او نه ستړي کیږي په عبادت د خدای ﷻ. ولي چې دوی په عبادت کې د خدای پاک لذت وینې او ترک یې ودوی ته هلاک معلومیږي. قال رسول الله ﷺ وجعلت قرة عيني في الصلوة.

پوه سه: چې (من عنده) مرفوع محلاً مبتداء ذی (لایستکبرون) یې خبر دی.

يُسَبِّحُوْنَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لَا يَفْتُرُوْنَ ﴿۲۰﴾

دوی تسبیح او تنزیهه کوي او وای یې د شپې او د ورځې او سستي نه کوي په تسبیح ویلو کې دائمًا کر الازمان ومر الدهور.

پوښتنه: د روح المعاني پر تفسیر چې د من عنده څخه مراد ملائکه علیهم السلام دي مطلقًا، د یسبحون اللیل الخ توجیه خو آسانه ده. ولي چې د ملائکه تسبیح او تهلیل وغیره لکه تنفس د بني آدم دی یا اوبه څیښل د ماهیانو دی، نو لکه بني آدم چې په تنفس نه ستړي کیږي لیلاً او نهارًا یې تنفس جاري وي ما دام حیًا او دغه رنګه ماهیان په استنشاق د اوبو نه ستړي کیږي لیلاً او نهارًا استنشاق د اوبو کوي ملائکه کرام هم په تسبیح د خدای ﷻ نه ستړي کیږي لیلاً او نهارًا یې وایي. لکن پر تفسیر د مظهري ؒ چې وایي چې له من عنده څخه مراد ملائکه او انبیاء علیهم السلام دواړه دي، نو څرنګه به انبیاء علیهم السلام دا خبره کول یسبحون آه متصوره کېدای سي. ولي چې دوی هم خوب کوي او هم اکل او شرب او نور مشاغل درلودل کما لایخفی؟

ځواب: مظهري ؒ ددې سوال په ځواب کې وایي چې د تسبیح او عبادت څخه د مقربینو دوام الحضور او ذکر خفي دی چې هغه لاینقطع عن المقربین بل لایمکن. وایضًا اذا دام الحضور فکلما یفعل المرء فهو عبادة لله مثلاً یاکل ویشرب وینام لیتقوی علی طاعة الله وینکح عصمة الی غیر ذالک او معصیت له دوی څخه نه صادریږي ولي د معصیت بناء پر غفلت ده او دوی دائم الحضور دي او که فرضًا یو ذلة له دوی څخه صادر سي پر هغه پښیماني کوي ویتوب بحیث یبدل الله سیئاتهم حسنات ولهذا قال رسول الله ﷺ ینام عیني ولاینام قلبي وعلی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هذا فقس، ولهذا ورد رؤياء الانبياء وحي ولهذا قالوا نوم العالم عبادة.

تبصره: دروښ وايي چې که دبو سړي سره د تهجد فکر ورسره وُاو که بيو وخت ځني پاته سي دبريې فکر خراب وي، نو داسړی د شپې په اول کې وختي بدبړي او د چا سره د ماخستن تر لمانځه وروسته مجلس نه کوي په دې نيت چې د تهجد لمانځه ته رابيداره سم دا ټول خوب يې عبادت دی، يا بيو سړی تجارت کوي او دا يې ټينګ قصد وي چې زه پيسې وګټم او مسکينانو ته لاس وغځوم او صله رحمي د اقرباؤ سره وکړم دا تجارت يې عبادت دی، نور له دې قسمه دنيائي کارونه په نيت سره عبادت ګرځي.

اَمِ اتَّخَذُوْٓا اٰلِهَةً

بوه سه: چې کلمه د (ام) منقطعه ده په معنی د (بل آه) ده و معنی بل اضراب دی له مضمون څخه د کلام سابق چې خدای ﷻ د مشرکانو د قول حکايت کړی وُ، قال الله تعالى مايا تيهم من ذكر من ربهم محدث الا استمعوه وهم يلعبون، وقال الله تعالى واسروا النجوى الذين ظلموا ان هذا الا بشر مثلكم وقال الله تعالى بل قالوا اضغاث احلام بل افتراه بل هو شاعر.

دروښ وايي: چې ددې آيتو ترجمې دمخه تېرې سوي دي، نو د بل معنی اضراب دی ددوی له خبرو څخه چې طعن يې پر قرآن او پر عليه الصلوة والسلام وايه چې دا غسي نه ده بل اتخذوا آلهة او د همزه استفهام معنی انکار او توبيخ دی.

فائده: ضمير د اتخذوا و مشرکينو ته راجع دی او مراد د آلهة څخه بتان دي.

مِّنَ الْاَرْضِ هُمْ يُنْشِرُوْنَ ۝

له جنس څخه د مځکې دا صفت دی د آلهة ای صنعوا من جواهر الارض من ذهب او فضة واحجار الارض.

فائده: من الارض لپاره د تحقير ددوی د خدايانو دی د تخصيص نه دی، ولې بعض ددوی د ملکو عبادت کاوه هغه خو د جنس الارض څخه نه وه (هم ينشرون) صفت د آلهة دی يعنې دوی وايي چې دغه زمور خدايان مړي ژوندي کوي، وهذا من غاية جهلهم حيث اثبتوا للجمادات احياء الاموات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: مشرکانو خو دا نه ویل چي زمونږ خدایان مړي ژوندي کوي بل انکروا الاحیاء بعد الموت مطلقًا فکیف معنی هذه الآیة؟

ځواب: هو! دوی خو په خولو دا خبره نه ده کړې، ولي دوی به ویله من یحي العظام وهي رمیم، لکن ددوی د دعوې د الوهیت د اصنامو خپل دا وینا ددوی لازمیږي ولي د الوهیت سره عقلاً ونقلاً د احیاء الموتی قدرت لازم دی فکانهم ادعوا ذالک، کذا في روح البیان وروح المعاني والمظهري والامام الهمام الرازي والامام القرطبي ؒ.

دروښ وایي: چې خدای ﷻ خپل پر وحدانیت وابطال تعدد الآلهة داسي برهان قاطع وایي.

لَوْ كَانَ فِيهِمَآ اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ

که چېرې وای په اسمانو او په مځکه کي آلهة غیر الله، نو معنی د الاّ غیر ده لپاره د استثناء نه دی، نو الاّ از روی معنی صفت د الهة دی لکن چونکه پر صورت د حرف استثناء دی چې قابل د اعراب نه دی ځکه اعراب د رفع په لفظ کي د الله راغلی.

فائده: ضمیر د فیهما که څه هم ظاهرًا راجع دی و اسمانو او مځکي ته لکن مراد ځندي ټوله عالم علوي او سفلي دی لعدم القائل بالفصل والفرق.

فائده: مراد له فیهما څخه تمکن او استقرار نه دی لکه بعض مفسرانو چې ویلي دي بلکې مراد ځندي غایت قدرت پر تصرف فیهما وتدبیر امرهما.

دروښ وایي: چې په دې آیت کي اشاره وبرهان تمانع ته ده چې په حاشیه کي د مولی خیالي پر شرح عقائد نسفي ده او په حواشیو کي د فاضل لاهوري پر خیالي دی په دې بسط او تفصیل سره ذکر سوی دی، صاحب د روح المعاني تر اندازه دې پر تفصیل پر لار اچولی دی چې نقل به یې دې پر تطویل او اطناب وګرځي، نو له هم دې سببه یې دروښ له نقل څخه ډډه وکړه.

پوښتنه: څه سبب دی چې الا په معنی د غیر دی او د استثناء لپاره نه دی؟

مظهري ؒ ددې پوښتنه په ځواب کي داسي ویلي دي چې نه په دې ځای کي د استثناء متصل حکم کېدای سي او نه د منفصل، ولي چې د مستثنی منه چې آلهة دی درک نه معلومیږي چې له آلهة څخه سره د خدای تعدد مراد دی حتی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استثناء متصل وگرځي او که ببله خدايه تعدد مراد دی چې استثناء منفصل ده، نو ددې سببه الا يې په معنی د غير وگرځاوه، هم دا سبب دی چې روح البيان د آلهة ترجمه مبهم کړې ده حيث قال سواء كان الله معهم اولا.

فائده: نحات وايي چې لفظ د غير د استثناء لپاره کما في قولهم جائني القوم غير زيد ای الا زيد ډېر دی په استعمال کې د عربو تر استعمال د الا په معنی د غير کما في هذه الآية للمانع من الاستثناء، کما مر في قول المظهري.

فائده: آيت مذکور که څه هم په رد کې د قول د مشرکانو نازل دی چې دوی خپل بتان آلهة بلل، لکن د مجوسيانو د مذهب رد قوي هم دی. ددوی مذهب دادی چې دوی وايي عالم لره دوه خدايان واجب الوجود خالق ستة چې يو د خير او د نفع کارونه کوي لکه باران ونه او نافع شيان پيدا کوي لکه مېوې ارتزاقي مواد، دې خدای ته دوی يزدان وايي. او بل خدای د ضرر کارونه کوي قحط يا شديد يخ پر مېوو مسلط کړي چې هغه له منځه يوسي او دا خدای مضر حيوانات لکه لړمان، ماران، لېوان وامثالها پيدا کوي چې دې خدای ته دوی اهرمن يا شيطان وايي، ددې مجوسيانو نوم په عربي ثنويه دي يعنې دوه خدايان بولي، او مشرکانو ته وثنيه وايي چې وثن بت بولي دوی هم د بتانو عبادت کوي لکن نه يې واجب الوجود او نه يې خالق بولي.

لَفَسَدَتَا

اسمانونه او مځکه به نيستي سوې وای او يا به د نظام اصلح موجود څخه وتلې وای، مظهري ح وايي لبطلتا ولم يوجدا، وتقريره ان ادنى التعدد اثنان وشان الآله تمام المقدرة فاما ان يوجد السموات والارض بمجموع القدرتين فيلزم توارد العلتين المستقلتين على معلول واحد وهو باطل كما بين الحكمة اووان تتخالف الآلهة في الخلق يمنع كل واحد منهما الآخر من الخلق فيتعطل خلق السموات والارض كما لايخفى، او روح البيان وايي لخرجتا ای السموات والارض من هذا النظام المشاهد لان كل امر يتصرف فيه الاثنان لايجرى على قضاء واحد والرعية تفسد بتدبير الملكين وحيث انتفى التالي انتفى المقدم وهو تعدد الآلهة بوجه عقلي برهاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په شرح العقائد کې وايي چې دا تمانع د خدايانو خو احتمالي خبره ده لجواز الاتفاق على النظام الموجود المشاهد واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال كما هو القول المسلم الدائر على السنة العرب والعجم فافهم. والتقرير الراجح لهذه الحجة هغه دی چې بعض محققانو راوړی دی چې دا آلهه به يا متساوي په الوهيت او کمال القدرة کې وي فيلزم من احتمال التمانع بينهما عدم وجود السمٰوات والارض في حين من الاحيان، او يا به بعض آلهه کامل القدرة وي او بعض به ناقص القدرة وي، نو پر دې تقدير کامل القدرة مستغني د ناقص القدرة څخه دی، نو ناقص القدرة مستحق د الوهيت نه دی، او يا به ټوله ناقص القدرة وي او يو د بل قدرت ته به حاجت نه لري فلا يصلحون كل للالوهية ولې چې دوی ټوله مکمل ته محتاج دي بل الخالق للسمٰوات والارض هو المجموع من حيث المجموع لا كل واحد فلا حاجة الى هؤلاء الناقصى القدرة بل الله الواحد القهار الكامل القدرة بدون الشركة كاف في خلق السمٰوات والارض بل جميع المخلوقات على حسب حكمته وارادته.

فَسُبْحٰنَ اللّٰهِ

تفريع ده پر ماقبل، نو پاکي ده خدای لره يعني د نقائصو او عيبو څخه چې کافران يې پرده وايي.

پوه سه: چې اصل د سبحان الله داسې وٗ اسبح الله (پر صيغه د متكلم) سبحانًا مفعول مطلق وٗ د اسبح من غير بابه لان اسبح من باب التفعيل وسبحانًا مصدر المجرد مثل انبت الله نباتًا او بعض علماء وايي چې سبحانًا په دې ترکيب کې اسم مصدر دی يا علم مصدر يعني التسبيح، په هر صورت فعل سره د فاعله يې يعني اسبح حذف کړی لكثرة الاستعمال او مصدر چې سبحانًا وٗ معمول ته د اسبح چې کلمه د الله وه مضاف کړی سبحان الله ځني جوړ سو وروسته تر اضافت اظهار د فعل يې نه دی روا کما في شرح الكافية للرضي والجامي ؒ لان المعمول لا يرضى بمعانقة العامل الضعيف وهو المصدر حين يرى العامل القوي وهو الفعل يعني اسبح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿۲۲﴾

چي خالق دی د عرش يعني چي محيط دی پر ټوله عالم اجسام باندي او ځای د تدابيرو او مقاديرو دی، چي دوی يعني مشرکان و خدای ﷻ ته توصيف په کوي من اتخاذ الشريک والصاحبة والولد.

لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُونَ ﴿۲۳﴾

سوال نه کړل کېږي له خدای ﷻ څخه د کار چي دده اراده ورته وسي او وه يې کړي لانه يتصرف في ملکه ولا يسئل المالک عما يفعل في ملکه کيف شاء لا اعتراض عليه عقلاً ونقلاً، او بل سلطان د خدای ﷻ قوي دی او متفرد بالالوهية دی، نو څرنګه به څوک ورته ويلای سي چي دا کار دي ولي وکړی (وهم يسئلون) او د مافي السمٰوات والارض څخه پوښتنه کړل کېږي د عما يفعلون، ولي چي ددوی افعال تصرف دی په ملک د الله جل سلطانه فلا يجوز لهم ذالک التصرف الا باذنه واجازته فيسئلون عنهم من جانب الحق ﷻ لم فعلت الفعل الفلاني، مثلاً بندګان که په ځپل مال او ملک کي تصرف وکړي هغه په اجازه د خدای ﷻ دی او که بل چا په مال کي د چا تصرف وکړی بالغصب والسرقة وغير ذالک فيسئله الله تعالى لم فعلت هذا الفعل بدون اجازته، يا يو سړی د خپلي کور والا سره جماع وکړي دا په اجازه د خدای ﷻ دی او که د بلي پېګانه بنځي سره زنا وکړي بې اجازې د خدای ﷻ ده، نو سوال ځني کېږي وعلى هذا فقس الافعال الاخر للعباد المجازة وغيرها فافهم.

فائده: اعتراض پر خدای ﷻ منحوس کار دی سبب د غضب د خدای پاک دی او موجب د غقا د خدای ﷻ دی، او امت مرحومه په اجماع سره وايي چي اعتراض پر خدای ﷻ کول چي ملک حق دی په افعالو کي د خدای ﷻ کفر دی وکذا الاعتراض على النبي ﷺ لانه انما يقول عن الحق لا عن الهوى. کريمه: وماينطق عن الهوى انما هو وحي يوحى الآية. و اول المعترض على الله ﷻ هو ابليس عليه اللعنة ولي دی خدای پاک امر کړی په سجده سره و آدم ؑ ته ده داسي وويل اسجد لمن خلقته طينًا على طريق الاعتراض على الله ﷻ في ذالک الامر فلذالک صار ملومًا الى الابد ای ملعونًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَمِ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ اٰلِهَةً ؕ

آیا اختستی دوی یعني مشرکانو د مکې ماسوی له خدای ﷻ څخه معبودان چې بتان دي کلمه د ام منقطعه ده په معنی د (بل آه) ده، بل لپاره د انتقال من مضمون الی مضمون آخر مناسب للاول او استفهام لپاره د توبیخ او انکار دی.

پوښتنه: توبیخ او انکار خو د مخه په آیت کې تېر سو (ام اتخذوا آلهة) نو په تکرار کې یې حکمت څه دی؟

ځواب: لپاره د استعظام د کفر د دوی او لپاره د تبکیت د دوی او لپاره د اظهار د غایت جهل د دوی تکرار وکړل سو.

قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ ۚ هٰذَا ذِكْرُ مَنْ مَّعِيَ

ته ورته ووایه یا محمد (ﷺ) چې راوړئ تاسي دلیل ستاسي پر استحقاق د عبادت د بتانو اما دلیلاً عقلیًا او دلیلاً نقلیًا لانه لایصح القول والمدعی لا دلیل علیه خصوصًا اذا کان في الجانب المقابل له یعني التوحید دلائل عقلیة کبرهان التمانع کما مر تفصیله و دلائل نقلیة کالقرآن والمعجزات الباهرة، (هذا) اشاره ده و قرآن. تورات او انجیل ته یعني دا کتب ثلثة دلیل دی د هغو کسانو چې زما سره راسره دي پر توحید د خدای او پر بطلان د بتانو، ولي چې دا کتابونه پر دې اثبات د حقیقت د توحید او پر بطلان د شرک سره متفق دی. نو دا کتب ثلاثه زما د امت دلیل دی الی یوم القیامة.

وَذِكْرُ مَنْ قَبْلِيْ ؕ

او پند او نصیحت دی د هغو کسانو چې ترما د مخه تېر سوي دي ای الامم الماضیة، او عطاء ؒ له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې هذا ای القرآن ذکر من معي وذکر من قبلي التورات والانجیل، والحاصل علی کل تقدیر چې تاسي ای مشرکانو د مکې رجوع وکړئ و دغو کتب ثلثه وو ته چې تاسي په هغو کې دا پیدا کولای سئ چې خدای پاک لره شریک ستة؟ یا ولد ستة؟ یا امر په اشراک د غیر الله په عبادت کې؟.

سوال: مشرکانو د مکې خو ادریې سره کتب سماویه خصوصًا قرآن نه منی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منزل من عند الله دی، نو څرنګه پر دوی احتجاج په کتب سماویه سره روا دی لان مقدمات البرهان علی الخصم لابد انیکون مسلمة عنده حتی یصح الالزام علیه؟

ځواب: صحت د کتب سماویه وو کونها من عند الله په معجزاتو باهراتو سره د علیه الصلوة والسلام او د عیسی ؑ او د موسی ؑ ثابتؤ او انکار د مشرکانو خو صرف او صرف عناداً او تکبراً ؤ لم یعتد بانکارهم وجعلوهم کالمسلمین للکتب الثلثة.

بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ الْحَقَّ فَهُمْ مُعْرِضُونَ ﴿٢٤﴾

بلکې ډېر د دوی په حق نه پوهېږي چې له باطل څخه یې جلا کړي او په حق عمل وکړي چې توحید دی او شرک پرېږدي چې باطل دی نو ځکه دوی روی ګردانې له حق څخه و باطل ته کوي.

وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ ﴿٢٥﴾

او موږ نه دی را استولی تر تا دمخه یا محمد (ﷺ) یو رسول د رسولانو، مګر موږ وحي کړي دي و هغه ته چې په تحقیق نسته مستحق د عبادت بېله ما، نو یوازې زما عبادت کوئ.

پوه سه: چې کسره د نون عوض له یاء څخه ده اضافت ده، په دې تعمیم بعد التخصیص دی، یعني ثبوت د توحید او بیان د هغه او بطلان د شرک او بیان د هغه حصر په دې درو کتابو کې نه دی بلکې دا امر مجمع علیه دی د ټولو رسولانو من لدن آدم ؑ الی محمد ﷺ.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَٰنُ وَلَدًا

وایي دوی چې خدای ﷻ ګرځولی دی ځان لره ولد، ولد عام دی نر او ښځې دواړو ته شامل دی.

دروښ وایي: چې اتخاذ الولد که څه هم نصاری وایي چې عیسی ابن الله او یهود ان هم عزیر ابن الله بولي، لکن په قول د بغوي ؒ دا آیت په شان کې د خزاعة وو نازل سوی دی چې هغو ملائکه بنات الله بللي، دوی ؤیله چې خدای ﷻ لونې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د امیرانو د جن په نکاح کړي دي او ملکي يې لونې دي، نو ځکه دوی د ملکو عبادت کوي. او دا آيت (الکم الذکر وله الانثی تلک اذاً قسمة ضيزی) هم د دوی په شان کې نازل سوی دی.

پوه سه: چې دا جمله عطف ده پر مضمون (ام اتخذوا آلهة من الارض) و مضمون قوله تعالی ام اتخذوا من دونه آلهة.

سُبْحٰنَهٗ ؕ بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ ۙ﴿۲۶﴾

پاک دی خدای ﷻ له اتخاذ څخه د ولد، بلکې ملکي لونې د خدای پاک نه دي مګر عباد معزز عند الله دي او مقربون بندګانې د خدای ﷻ دي.

لَا يَسْبِقُوْنَهٗ بِالْقَوْلِ وَهُمْ بِاَمْرِهٖ يَعْمَلُوْنَ ﴿۲۷﴾

دوی وړاندې والی د خدای ﷻ نه نه کوي په خبرو کولو سره یعنې بې اجازې د خدای ﷻ له جهته څخه د غایت ادب خبرې نه کوي. او دوی په امر د خدای پاک عمل کوي یعنې امتثال د امر الهي کوي او عصیان له امر څخه د خدای ﷻ نه کوي اصلاً وهذا معنی عصمتهم کما هو المشهور وبهذا جزم العلماء.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ

او خدای ﷻ علم لري پر هغو اقوالو او اعمالو چې دوی د مخه کړي وي او په هغو اعمالو او افعالو چې دوی څنډولي وي یعنې په مستقبل کې د زمان يې کوي.

پوه سه: چې دا جمله تعلیل ده د ماقبل یعنې وهم بامره یعملون یعنې چې خدای ﷻ علم لري پر قبلي او بعدي حالاتو د دوی او دوی هم په دې پوهيږي. نو دوی د خپلو اعمالو او اقوالو غایت مراقبت کوي. نو ځکه دوی لایسبقونه بالقول وهم بامره یعملون، او دغه تمهید دی و مابعد ته یعنې.

وَلَا يَشْفَعُوْنَ ۙ اِلَّا لِمَنِ ارْتَضٰى

او دوی شفاعت نه کوي له دې هیبته څخه مګر د هغه چا چې خدای راضي وي په شفاعت د هغه. قال ابن عباس ؓ الا لمن قال لا اله الا الله یعنې ای من امة ای رسول کان ولذا لم یقل ابن عباس ؓ محمد رسول الله فافهم. وقال مجاهد ؒ الا لمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رضی الله تعالی عنه والمآل واحد کما لایخفی، ولي چې په منځ کې د رضاء د خدای او د رضی بالشفاعة تلازم دی.

وَهُمْ مِّنْ خَشْيَتِهٖ مُشْفِقُوْنَ ۝

او حال دا دی چې ملائکه سره د هغه چې عباد مکرمون دي له بېرې ځکه د خدای ﷻ (اضافت دی د مصدر و مفعول ته والفاعل الملائکة) روح البیان وایي ریږدي او کاشفي وایي از مهابت وعظمت او ترسان.

یوه سه: چې ابن شیخ په خپل تفسیر کې وایي چې خشیت او اشفاق په معنی کې سره نژدې دي، دوه سره فرق یې دی چې په خشیت کې جانب د مخشی منه معتبر دی وعظمته ومهابته وهو ههنا الله ﷻ، وفي الاشفاق جانب المخشي علیه یعني الاعتناء بشانه وعدم الامن من ان یصیبه مکروه، په پښتو کې یې فرق دا دی چې له فلاني ځکه بېرېږم او پر فلاني بېرېږم یعني ملائکه د خدای ﷻ له هیبت او جلال ځکه پر خپلو ځانو بېرېږي فتدبر.

وَمَنْ يَّقُلْ مِنْهُمْ اِنِّيْٓ اِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهٖ فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ ۭ

یعني له خلکو یا له ملکو ځکه فرضًا وایي چې زه خدای یم ماسوی له الله ځکه، نو دغه شخص ته به مو جزاء ورکړو د دوزخ.

یوه سه: چې له دې آیت ځکه مقصود نفي د ربوبیت له غیر ځکه د خدای ﷻ او نفي د ادعاء د ربوبیت دی له ملکو ځکه او وعید شدید دی د مشرکانو چې بتان د خدای ﷻ شریکان بولي، او د نصاری وو چې مسیح ؑ د خدای ﷻ زوی بولي یا یې ثالث ثلثه بولي، او د یهودانو چې عزیر ابن الله بولي کریمه لن یستنکف المسیح ان یکون عبدًا لله ولا الملائکة المقربون، ومن یستنکف عن عبادته ویستکبر فسیحشرهم الیه جمیعًا.

كَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِيْنَ ۝

یعني دغسې لکه چې ذکر سول مونږ جزاء من یدعی الالوهیة بنجزي، صورې جزاء ورکوو وه ظالمانو ته چې وضع د الوهیت یې ځایه وکړي کما هو معنی الظالم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوَ لَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا

آیا علم نه لري هغه کسان چي کفر کوي (نو رؤیت په آیت کي په معنی د علم دی یعني رؤیت بصري نه دی) دا چي اسمانونه اووه دي او دا چي مځکي اووه دي په اول خلقت کي سره متصل دي (ففتقناهما) یعني دوی، نو موږ سره جلا کړه په منځ کي ددوی مو هواء پیدا کړه.

سوال: کانتا یې تثنیه ولي راوړه او سره ددې چي سمٰوات او مځکه خو ډیر دي؟

ځواب: مراد دلته جماعت د اسمانو او جماعت د مځکو دی، نو دوه جماعته دي (رتقًا) ابن عباس ؓ، قتاده، ضحاک او عطاء ؒ وایي چي شیئًا واحدًا یو په بل پسي منبتي وه فصل یې نه درلودی.

بوه سه: چي رتق په لغت کي سد او ضم ته وایي او فتق الشق او فتح ته وایي.

سوال: رتقًا خو خبر د کانتا دی، نو ولي یې مفرد راوړی؟

ځواب: رتقًا مصدر دی، والمصدر لایثنی ولایجمع.

سوال: د مصدر حمل نو څرنګه پر اسمانو او مځکي روا دی؟

ځواب: حمل یې مبالغةً دی لکه زید عدل، یا یې د مضاف یعني ذواتی رتق او یا په تاویل د مشتق ای المرتوق.

بوه سه: چي حسن، زید بن علي، ابو حیان او عیسی ؒ ټوله قراء دغه لفظ رتقًا وایي بفتح التاء او هغه مصدر نه بولي بلکې په معنی د مفعول دی ای المرتوق.

سوال: پر دې تقدیر چي په معنی د مفعول سي، نو تثنیه ولي نه وایي، زمخشري ؒ ددې سوال په ځواب کي وایي چي د رتقًا موصوف محذوف دی ای شیئًا رتقًا والشئ اسم جنس یتناول القلیل والکثیر، ابو الفضل الرازي ؒ وایي چي اکثره علماء پر دې رایه دي چي رتقًا په سکون د تاء مصدر دی او په حرکت د تاء اسم دی په معنی د مرتوق دی.

فائده: ددې فتق فائده داده چي تمیز د هري طبقې ده اسمانو او د مځکي سره راسي.

دروښ وایي: چي د رتق او فتق په معنی کي اختلاف دی، اظهر توجیه یې هغه ده لکه عکرمه او عطیه چي وایي، او د وروسته آیت سره سمون هم لري، کانت السماء رتقًا یعني باران یې نه اوراوه او مځکه رتق وه نباتات یې نه شنه کول، نو خدای ﷻ خپل په قدرت د حکمت سره برابر آسمان یې فتق کړی په باران سره او مځکه یې فتق کړه د نباتاتو په راوتلو له دې ځخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: باران خو له اول آسمان څخه اوري، نو سمٰوات يې جمع ولي راوړه؟

ځواب: مراد خو اول اسمان دی جمع يې په اعتبار د آفاقو ده چې پر هر افق باران اوري او يا ټوله اسمانونه مراد دي چې ټوله د باران په اوربدو کې دخل لري، او ارض چونکه مفرد راوړې ده دې توجيه ته ضرورت نه لري.

پوښتنه: تا وويل دا اظهر تفسير دی د رتق او فتق دليل يې څه دی؟

ځواب: د دې آيت مخاطبه خو د کفارو سره ده چې خدای د خپل قدرت نخښې او ننبانې ورته بيانوي، او کفار ټوله چې لږ عقل لري په دې پوهيږي چې باران د آسمان له خوا اوري او کلونه کلونه د باران قحط وي، او نباتات له مځکې څخه راوزي او د هر کلونه چې باران نه وي مځکه له نبات څخه خالي وي، نو د اوربنت او د مځکې څيرل په نبات سره امر حادث دی او هر حادث محدث واجب الوجود غواړي اما کون المحدث واجب الوجود لا محدث آخر لان الحادث مستعير في وجوده فلا يطيق افادة الوجود لغيره.

سوال: د يوه حادث محدث دي بل حادث وي د هغه لپاره بل وهکذا؟

ځواب: نو ترکومه پوري به دا سلسله روانه وي تسلسل خو عقلاً ونقلاً باطل دی فلابد ان ينتهی سلسلة الايجاد الی واجب الوجود وهو الله عز وجوده بلا شرکة غيره فيکون هذه الآية الزامًا تامًا علی المشرکين.

نکته: قدرت د خدای ﷻ دی چې آسمان سره د ډېره کلک والي په ډېر لين شي سره لکه اوبه فتق (څيري) کړي، او مځکه بلکې غرونه د مځکې په يو نازک نبات سره فتق کړي، دا ؤ بيان د اظهر توجيه د دې آيت، او کعب احبار او نور بعض مفسرين وايي چې خدای ﷻ په اول خلقت اووه اسمانونه او مځکه سره متصل او جفت پيدا کړه بيا يې تر منځ د دوی لپاره د تميز د دوی تر منځ هوا او باد پيدا کړی، نو سره جلا جلا يې کړه ومثل هذا منقول عن المجاهد والسدي ؒ.

سوال: په دې معنی به نو دا آيت پر مشرکانو چې د دې آيت مخاطب دي څرنګه به الزام راسي، دوی خو په دې سلسله هيڅ خبر نه وه او نه د دې سلسلې قائل وه؟

ځواب: هو! دوی خو بالفعل که څه هم خبر نه وه لکن قدرت پر علم د دې مسئلې يې درلودی چې يا يې استفتاء له علماؤ څخه کړې وای يا يې مطالعه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کتب سماویه وو کړي وای، نو په دې آیت تمکن ددوی او قدرت ددوی پر علم ددې سلسلې پر دوی باندې الزام دی فافهم و خل خاطرک علی الخیالات الفاسدة للعلماء الطبیعین خصوصًا الضال المضل الاعظم.

دیمقراطیس (من ان وجود العالم الکبیر انما هو بالاتفاق بدون الموجد والخالق) لعنه الله دي فکر نه وهي چې یوه دروازه بېله نجاره نه جوړیږي او نه یوه خونه بې بناء جوړیږي وهکذا، نو څرنګه دا عالم کبیر بېله صانع قدیر پیدا سو، وقد رد مذهبه الشیخ ابن سینا، في الهیات الشفاء اشد رد فطالعه، نو دې ډلې ته دهریان وایي چې اوس هم په نړۍ کې ډېر خلک چې خلک یې روشن فکران بولي ددغې ګمراه کن ډلې سره هم مذهبه او هم نوادي.

دروښ وایي: چې ددې ډلې سره د سوال او ځواب لپاره عقلي علوم په کار دي. ولي چې دوی قال الله وقال الرسول نه منې، او ډېره ښاهانه خبره داده چې د دا سي خلکو سره سړی په جوال کې ځان نه واچوي.

وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾

دروښ وایي: چې دا هغه آیت چې ما دمخه وویل چې د ترجمې سره د ابن عطیه او عکرمه وروسته آیت مناسب دی، او دا جمله عطف پر فتقنا هما، والمعنی فتقنا السماء وانزلنا منها ماء، وفتقنا الارض واخرجنا منها نباتًا او موږ ګرځولي له هغو اوبو څخه چې له اسمانه نازلیږي هر شی ژوندی (افلا یؤمنون) آیا دوی یعني مشرکان ایمان نه راوړي پر وحدانیت د خدای ﷻ. الاستفهام للانکار او نفي د نفي اثبات دی یعني باید ایمان یې راوړی وای، وکلمة الفاء للتعقیب یعني وروسته تر لیدلو ددې دلائل قاطعه وو چې پر وجود د صانع واجب الوجود المتصف بکمال القدرة وجلیل الحکمة دوی ایمان نه راوړي.

پوښتنه: د نباتاتو چې یوه نوع د حیوانا تو لري له اوبو څخه خو ظاهرًا ده ولي اوبه د اسمان لکه نطفه د حیوان ده، او دغه رنګه د بعض حیواناتو لکه حشرات الارض هم ظاهره ده، ولي اوبه د اسمان لکه نطفه د حیوان ده، او دغه رنګه د بعض حیواناتو لکه حشرات الارض هم ظاهره ده، ولي د حشرات الارض خلق په رطوباتو سره چې د اسمان له اوبو څخه پیدا کیږي تینګې اړیکي لري لکن اکثره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حیوانات خو له نطفې څخه پیدا کېږي یا بالذات یا بالواسطه لکه د چرګې له هګۍ څخه چیچې، فما معنی قوله تعالی (وجعلنا من الماء کل شئ حي)؟

ځواب: اوبه لوی شی دی د بقاء د حیوان او حیوان ډېر ضرورت ورته لري او په اوبو سره فائده اخلي، نو ګویا ټوله حیوانات له اوبو څخه پیدا سوي دي، نو مجازًا دا صحیح ده وجعلنا من الماء کل شئ حي کما في آیة خلق الانسان من عجل، ولي چې انسان ډېر تلواري دی ګویا له عجل څخه پیدا دی.

سوال: کل شئ خو جماد اتو ته هم شامل دی. نو هغه د اوبو سره څه اړه لري؟

ځواب: مراد په آیت کې کل شئ قابل للحیوة له اوبو څخه یې ګرځوو، او بعض مفسران د اول سوال په ځواب کې په آیت کې مضاف محذوف بولي، والتقدیر وجعلنا من الماء بقاء کل شئ.

وَجَعَلْنَا فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَنْ تَمِيدَ بِهِمْ

پوه سه: چې رواسي جمع د راسیة والموصوف محذوف ای جبال ثوابت، او جعل که څه هم په معنی د خلق دی چې مفعول غواړي، نو مفعول یې رواسي دی، او في الارض حال دی له رواسي څخه قدم علی ذی الحال لتنکیره، نو معنی داسي ده، پیدا کړي دي موږ رواسي حال کونها في الارض، او که جعل په معنی د تصییر سي چې دوه مفعوله غواړي، نو مفعول اول یې رواسي دی او مفعول ثاني یې في الارض. نو معنی یې داده ګرځولي دي موږ په مځکه کې رواسي، اول ته په اصطلاح د عقلي علوم جعل بسیط وایي او دویم ته جعل مرکب وایي فافهم.

پوه سه: (مید) ښوروبدلو ته وایي او عبارت په حذف د مضاف دی یعني کراهة ان تمید چې مځکه حرکت وکړي متلبسة بهم یعني که غرونه نه وای. او یا تقدیر داسي دی لئلا تمید بهم ددې لپاره چې مځکه حرکت ونه کړي متلبسة بهم والمآل واحد.

سوال: قرینه پر دې حذف څه شی دی؟

ځواب: په کلام کې د عربو دا حذف شهرت لري فلا یلبس المراد فالشهرة قرینة للحذف.

وَجَعَلْنَا فِيهَا فِجَاجًا سُبُلًا لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُونَ ۝

پوه سه: چې ضمیر د فیها یا راجع و مځکې ته دی چې مؤنث سماعي ده او یا و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(رواسي) ته يعني غرونه، اوجلالين يوازي دويمه معنى راوړې ده ولي چې غرونه دپر محتاج دي و لارو ته (يعني خلګ د غرو لارو ته دپر محتاج دي) (فجاجًا) جمع د فج ده وهو الطريق الواسع بين الجبلين، قاموس (سبلاً) وهو جمع سبيل چې طريق واضح ته وايي.

پوه سه: چې په دې کې بيان د بل قدرت د خداى ﷻ دى او نعمت دى پر خلګو کما يدل عليه قوله تعالى (لعلهم يهتدون) اى لكى يهتدون اى الناس الى مصالحهم، نو لعل په معنى د لام کې دى.

وَجَعَلْنَا السَّمَآءَ سَقْفًا مَّحْفُوظًا ۚ

او ګرځولى دى مونږ اسمان بام د کرې د محکې چې محفوظ دى له نړېدلو څخه بقدرته تعالى من غير عمد بهله ميلانو تر وخت معلوم پورې يعني تر يوم القيامة پورې.

دروښ وايي: چې دا بل آيت او دليل دى د قدرت د رب ﷻ او ضمنًا نصحت وه خلګو ته هم دى او يا معنى د آيت داده چې آسمان محفوظ دى د استراق الشياطين المسموعات من الملائكة بالشهب، مفسرين وايي چې د استراق السمع لار پر شيطانانو دپره تنګه سوه په سبب د بعثت د سيد المرسلين ﷺ كما جاء في مواضع آخر من القرآن المجيد وورد فيه الاحاديث الصحيحة في بخاري ومسلم وغيرهما.

وَهُمْ عَنْ اٰيٰتِهَا مُعْرِضُوْنَ ۝

او مشرکان د مکې له دلائل عظيمه وو څخه د اسمانو من الشمس والقمر والكواكب وغيرها چې دال دي پر قدرت عظيمه د خداى ﷻ او پر وجود د صانع او پر وحدانيت د هغه كما مر في بيان برهان التمانع بالتفصيل اعراض كونكى دى يعني دوى په دغو آياتو کې فکر او غور نه کوي حتى چې شرک پرېږدي.

فائده: عقل چې يو عظيم نعمت و انسان ته ورکړل سوى دى او په سبب د عقل يې تفضيل پر نورو حيواناتو ورکړى دى، کريمه (ولقد كرمنا بني آدم) دد ې لپاره چې په عجائبو مصنوعاتو کې د خداى ﷻ غور وکړى او قلب يې منبع د نور المعرفة وګرځي او درجې ته د علم اليقين او حق اليقين ورسېږي كما هو معنى الاحسان على ماجاء في الحديث الطويل المروي عن عمر ﷺ برواية البخاري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومسلم. حين جاء جبرئيل عليه السلام الى النبي صلى الله عليه وسلم في صورة البشر وسئله ما الايمان وما الاسلام حتى قال ما الاحسان؟ قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الاحسان ان تعبد الله كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراك آه.

وَهُوَ الَّذِیْ خَلَقَ الَّیْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ؕ كُلٌّ فِیْ فَلَكٍ یَّسْبَحُوْنَ ۝

او خدای هغه ذات دی چې پیدا کړې یې ده شپه او ورځ او لمر او سپوږمی. (یعني لمنافع عباده ومخلوقه)

پوه سه: چې په قرآن عزیز کې شپه تر ورځې دمخه راځي یا ددې سببه چې قرآن عزیز د عربو پر اصطلاح نازل سوی دی، په عربو کې که میاشت بیانوي او که شبانه روز هغه یې د شپې څخه شروع کوي کما هو المعلوم، او بل دا چې شپه پر ورځې شرافت لري. ولي شپه وخت د آرام او استراحت ده. نو نمونه د جنت ده، او ورځ وخت د تعب او ستړیادې چې نمونه د دوزخ ده، او بل شپه عموماً د احبه وو سره د ملاقات وخت دی ولهذا وقع معراجه صلى الله عليه وسلم في الليل دون النهار، او ورځ د دوست او دښمن د دواړو د لیدلو وخت دی فافهم. پوه سه! چې د آیت د بعض آیاتو د قدرت بیان دی کما لا یخفی (کُلٌّ) التنوین عوض من المضاف الیه دی کل واحد منهما (في فلک) مظهري رح وایي ان کل واحد منهما في فلک واحد وهو السماء الدنیا آه. او روح البیان وایي کل واحد من الشمس والقمر في فلک علی حدة کما یشهد به الرصد آه. او روح المعاني وایي بناء علی ان المجموع لیس في فلک واحد آه. قاموس وایي چې فلک دی د ستورو الذي یضمها. وفي کلام العرب الفلک کل شئ مستدیر. او بعض علماء وایي فلک هغه آسمان دی چې ستوري پکښې بنخ وي و کل کوکب یجری في السماء الذي مدر فیه آه وهو قول قتادة الی غیر ذالک من المذاهب (یسبحون) تګ کوي په فلک کې په اسانې سره لکه اوباز چې په اوبو کې اوبازي کوي.

پوه سه: چې ضمیر د جمع راجع دی و شمس او قمر ته په نېز د بعض مفسرینو رح.

سوال: لمر او سپوږمی خو دوه دي. نو ضمیر د جمع څرنګه ورته راجع کړل سو؟

ځواب: جمعیت د ضمیر په سبب د اختلاف د مطالع دی. ولي چې د هیئت په کتابو کې وایي چې شپږ میاشتې لمر او شپږ میاشتې په جلا جلا مطلع کې راخېژي ثم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعود ان في تلك المطالع شپږ مياشتي، او بعض مفسرين وايي چي ضمير د جمع راجع دی کواکبو ته.

سوال: کواکب خو نه دي ذکر سوي؟

ځواب: شمس او قمر پر هغو دلالت کوي لکونها اشهر الکواکب والعمدة فيها؟

سوال: جمع بالواو والنون ځو لپاره د ذوی العقول راځي کما تقرر في الصرف والنحو او لمر او سپوږمي يا نور کواکب خو له ذوی العقول څخه نه دي؟

ځواب: چونکه سباحت د ذوی العقول کار دی هغه چي دوی ثابت، نو ضمير د جمع د ذوی العقول يې هم ورته راجع کړی، او بعض حکماء او رياضي والا چي شمس او قمر او افلاکو ته ارادي حرکت ثابتوي او له ذوی العقول څخه يې بولي هغه په اسلام کي ثبوت نه لري.

دروېش وايي: چي صاحب د روح المعاني دومره لوی بيان په ورقو پر کار اچولی دی چي د دې تفسير ايوبي سره هيڅ مناسبت نه لري فلهذا ترکنا نقله، او روح البيان په خپل وار څه دراز بحث کړی دی، له هغه څخه هم د تفسير ايوبي ساحه تنګه ده، او مظهري مختصر بيان کړی دی وروسته يې والله اعلم ويلی دی. د دروېش په نېز دا ډېره زېبا خبره ده زه هم وايم والله اعلم.

بوه سه: چي سورت (اذا جاء نصر الله والفتح) الی اخيرها چي نازل سو رسول الله ﷺ وپوهېدی چي زما د سفر و ملاء اعلی ته نژدې سو قال يارب من لامتي، او بغوي او روح البيان وايي چي دا آيت هلته نازل سو چي کافرانو به ويل نتربص بمحمد ﷺ ريب المنون، قال الحسيني في تفسير ماقالوا انتظار مېږوېم که ګردباد حوادث برآيد وياران محمد ﷺ متفرق ساخته و اورا در روطهٔ هلاک اندازد آه، نو دا آيت نازل سو.

وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ۖ أَفَإِن مِّتَّ فَهُمُ الْخَالِدُونَ ﴿٣٤﴾

موږ نه ده ګرځولې د هيڅ بشر لپاره خلود يعني دوام، البقاء في الدنيا لحکمته تعالی في ذالک. آيا که ته وفات سي نو دوی يعني کفار به همېشه ژوندي وي حتی چي دوی ستا په مرګ خوشالي کوي؟ قال الامام محمد بن ادريس الشافعي رح:

تمنى رجال ان اموت وان امت ..... فتلک سبيل لست فيها باوحد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د ما لپاره د ترتب ده پر ماقبل او همزه د استفهام لپاره د انکار دی او محل د انکار يې خلود د اهل مکه وروسته تر موت د علیه الصلوة والسلام.

فقل للشامتين بنا افيقوا ..... سيلق الشامتين كما لقينا

وويله هغو کسانو ته چي خوشاله وي په مړ يعني زموږ پر مرګ سره بيداره سي. ژر دی چي ملاقي به سي يعني مرګ د دوی سره يعني د شاتمين زموږ په مرګ سره هغه شی چي زموږ سره ملاقي سوی ؤ يعني مرګ.... قال شيخ سعدي رح:

مکن شادماني به مرګ کسی ..... که دوران پس از وی نماند بسی

فائده: جمله د (فان مت آه) عطف ده پر مضمون د (ماجعلنا لبشر آه) والمعنى سلمنا انک لست بخالد فان مت فهم الخالدون والامر ليس كذالک.

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ

هر نفس خوند ځکونکی دی د تريخ والي او د جلاوالي د روح له بدن څخه. دا جمله تاکيد ده لما قبله وما جعلنا لبشر من قبلک الخلد.

فائده: له نفس څخه مراد نفس ناطقه دی چي روح انساني دی، او د موت له نفس څخه مراد مفارقت دی له بدن څخه او ذوق پر خپل ظاهر نه دی محمول چي په پښتو يې خوند ځکل بولي لان الموت ليس من جملة المطعوم حتى يتصور فيه الذوق بلکې ذوق ادارک خاص دی مجازًا.

وَنَبْلُوْكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً ؕ وَاِلَيْنَا تُرْجَعُوْنَ ۝

مور معامله د امتحان کوو د تاسي سره (فقير معامله ذکر کړه له دې سببه چي حقيقت اختبار او امتحان پر خداى ﷻ محال دی لان السبب الاختبار والامتحان هو الجهل بحال من يمتحنه ويختبره والجهل محال على الله ﷻ) له شر څخه مراد سختي او ناجوړي و فقر وغيرها مما يكره المرء، او له خير څخه مراد رخاء او صحت او غناء وغيرها مما يحبه المرء، او په قيامت موږ ته راجع کړل کيږئ، يعني پر شکر او صبر به ثواب درکړل سي او پر ناشکرۍ او جزع به د دوزخ عذاب درکړل سي.

پوه سه: چي د فتنة معنى هم ابتلاء او امتحان دی فهو مفعول مطلق (لنبلوكم) من غير لفظه نحو قعدت جلوسًا يعنې چي بښکاره سي چي تاسي د ما تحبون شکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وایاست او که نه، او پر ما تکرهون باندي صبر کوئ او که جزع او فزع کوئ.

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چې د دنیا ژوند لپاره د ابتلا ۰ دی او انسانان د ثواب او عذاب د اعمالو سره مخامخ کول دي، کریمه: فمن یعمل مثقال ذرة خیرًا یره ومن یعمل مثقال ذرة شرًا یره.... حافظ شیرازي رح وایي:

خوش بود گر محک تجربه آید بمیان ... تا سیه روی شود هر که در و غش باشد

د غش معنی کوټ ده.

شان نزول: ابن ابی حاطم رح له سدي رح څخه روایت کړی دی چې یوه ورځ آنحضرت ﷺ پر ابو جهل او ابو سفیان تېرېدی دوی دوو خبرې سره کولې او ابو جهل چې علیه الصلوة والسلام ولیدی استهزاء یې ابو سفیان ته وویل او وه یې خندل دادی نبي د عبد مناف راغلی. ابو سفیان ته درد ورغلی وه ابو جهل ته یې وویل ماتنکرون انیکون من بني عبد مناف بني؟ الی اخیر الحدیث فنزل هذه الآیة

وَإِذَا رَآكَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا ط

او هغه چې وویني تا یا محمد هغه کسان چې کفر یې پر کار اچولی دی نه کړئ تا مګر هزو یعني مهزو یه یعني پسخند دروهي (هزوًا) مصدر دی په معنی د مفعول دی او داسي هم وایي.

أَهَٰذَا الَّذِي يَذْكُرُ آلِهَتَكُمْ

آیا دغه دی هغه سړی چې ستاسي خدایان ذکر کوي یعني په بد نامه یعني وایي چې دا خدایان جمادات لاتضر لمن یخالفها ولا تنفع لمن یعبدوها الی غیر ذالک.

سوال: بسوء لفظ یې نه کړی ذکر حکمت یې څه دی؟

ځواب: عدم ذکر یې په سبب د دلالة الحال دی فان ذکر العدو لایکون الا بسوء کما ان ذکر الحبیب لایکون الا بخیر، محاوره: یقال فلان یذکر فلانًا ای یعیبها وفلان یذکر الله ای یعظمه.

وَهُمْ بِذِكْرِ الرَّحْمَٰنِ هُمْ كَافِرُونَ ﴿٣٦﴾

او دوی په ذکر سره د رحمٰن یعني د خدای په توحید او تعظیم سره یعني له شریک څخه یې پاک وبولي او یا په دې سره چې خدای ﷻ وخلګو ته لاربنوونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي په بعث د رسولانو او په انزال د کتابو، رحمةً علیهم یا مراد له ذکر الرحمٰن څخه قرآن دی (هم) ثاني تاکید دی کافران دي، روایت سوی دی چې یو وخت ابو جهل له رسول الله ﷺ څخه واورېدل یا الله یا رحمٰن، میدان یې کړه خلګو یعني مشرکانو ته یې وویل چې محمد موږ له شرک څخه منع کوي او دی په خپله خدای ته شریک وایي، موږ خو نه پوهیږو بهله رحمن الیمامة یعني مسیلمة الکذاب چې په نامه د رحمٰن الیمامة مشهور ؤ، کما قال الله تعالی في موضع آخر من القرآن ردًا علیهم قل ادعوا الله او ادعوا الرحمٰن ایا تدعوا فله الاسماء الحسنی.

خُلِقَ الْإِنْسَانُ مِنْ عَجَلٍ ؕ

پیدا کړل سوی دی انسان له تلوار څخه.

پوه سه: چې دا آیت مبالغه ده په تلوار کې د انسان په هر کار کې یعني چې هر کار ته یې سودا سوه په عاقبت کې یې فکر نه وهي بلکې عجولانه هغه کار کوي او په بعض کارو کې اخیر الامر پښېمانه وي، نو ګویا انسان له نفس تلوار څخه پیدا دی.

پوه سه: چې عرب دا محاوره لري چې هر کار چې سړی د هر کوي له هغه څخه یې پیدا بولي مثلاً یقولون فیمن کان کرمه وسخائه خلق فلان من کرم او که د چا غضب د هر وي یعني قوة غاضبه یې غالب وي، نو وایي خلق فلان من غضب، د دې معنا داده چې د غه کار یا صفت دده سره لازم دی، سعید بن جبیر ؓ وایي چې په ابو البشر آدم علیه السلام چې روح داخل سو په سر او په ستر ګو کې یې د جنت میوې ولیدلې چې نس ته یې روح ور ورسېدی د جنت میوو ته یې اشتهاء وسوه، نو دی وغوړ ځېدی د مخه تر دې چې روح یې پښو ته راغلی وي د هر په تلوار یې د ولاړېدو قصد وکړی، نو چونکه په پښو کې یې روح نه ؤ غځار سو فقیل خلق الانسان من عجل نو چونکه آثار الآباء تظهر في الابناء په عیال او نسل کې دده هم عجلت ساري سو، په دې آیت کې رد دی پر کفارو چې د انبیا کرامو علیهم السلام په کارنامو او معجزاتو کې د غور له نظره کار نه اخلي بلکې عجولانه وایي انکارًا لنبوتهم انما انت بشر، او د قرآن کریم په معجز آمیز بلاغت او قصص او امثالو په بې فکرۍ عجولانه دا بې ویل هذا سحر یا کهانة یا شعر یا ما یعلمه الا بشر وامثال هذا في شان القرآن والنبي علیه السلام والمعجزات، او بعض مفسرین وایي خلق الانسان یعني آدم خلقه الله تعالی بعد کل شئ في آخر ساعة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من يوم الجمعة فاسرع الله في خلقه قبل مغيب الشمس ولا يخفى مافيه فتامل. او بعض مفسرين وايي چي عجل خپو ته وايي، نو معنى داده خلق آدم من طين، صاحب القاموس وايي العجل محركة الطين والحمائة (لوشي) ومن عجولة الانسان قول نضر بن الحارث اللهم ان كان هذا (اى مايقوله محمد) حقا من عندك فامطر علينا بحجارة من السماء او ايتنا بعذاب اليم (يعني له سببه دده) چي د ما قاله محمد ۴ څخه خو موږ منكر يو.

اعرابي وايي: اياكم والعجلة فان العرب تكنيها ام الندامات (ځان ساتي له تلوار څخه، ولي چي عرب په اسم كنيه سره عجلت ام الندامات بولي يعني مورد پښيمانيو) يو شاعر وايي:

لا تعجلن لامر انت طالبه..... فقلما يدرك المطلوب ذو العجل
فذو التائي مصيب في مقاصده..... وذو التعجل لايخلو عن الذلل

قال آدم في وصاياه لاولاده، وكل عدل تريدون ان تعملوه فقفوا له ساعة فاني لو وقفت ساعة (اى في الاكل من الشجرة) لم يكن اصابني ما اصابني (چي كالي زاباندي توى سوه او بريند (لځ لغړ) سو آه) فلا بد من التاني في الامور الدنيوية والمقاصد الحسنة، بيت:

چو صبح وصل او خواهد دميدن عاقبت جامی
مخور غم گر شب هجران بپايا دیری آید

دروېش وايي: چي تعجيل او تكبر دواړه اول له ابليس څخه سرزد سوي دي چي دى خداى پاک امر كړى په سجدې و آدم ۴ ته ده په عجولانه تكبر سره داسي وويل ااسجد لمن خلقت طينا.

سَأُورِيكُمْ آيَاتِي فَلَا تَسْتَعْجِلُونِ ﴿٣٧﴾

ژر دى چي زه به وويني په تاسي ايها المؤمنون نعمتونه خپل په دنيا كي لكه واقعه د بدر او په اخرت كي عذاب النار للكفار، تاسي يې په تلوار مه غواړئ قبل الوقت المقدر لها.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٣٨﴾

او وايي كفار د مكې كله به وي وخت د عذاب موعود في الدنيا او القيامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا استفهام لپاره د استبعاد دی چي مبني پر استعجال دی، وهذه الجملة عطف علی الشرطیة السابقة اعني اذا راک للذین کفروا الآیة.

پوه سه: چي د ان کنتم مخاطب علیه الصلوة والسلام او اصحاب دي، والمعنی ان کنتم صادقین باتیان العذاب او اتیان یوم القیامة فبینوا وقت اتیانها دا جزاء د شرط ده.

لَوْ يَعْلَمُ الَّذِينَ كَفَرُوا

که چېري خبر سي هغه کسان چي پر کفر دي.

پوه سه: چي (لو) شرطیه دی جزاء یې محذوفه ده، لکه چي موږ یې بیان کړ.

حِينَ لَا يَكُفُّونَ عَنْ وُجُوهِهِمُ النَّارَ وَلَا عَنْ ظُهُورِهِمْ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٣٩﴾

هغه وخت چي دوی نسي دفع کولای له مخانو څخه ځپل اور یعني د دوښ او نه یې له شاوو څخه ځپل یعني په ځپل قدرت، او نه د دوی سره مرسته کول کېږي یعني چي بل څوک دي دا عذاب النار له دوی څخه دفع کړي، والجزاء لما اقاموا علی کفرهم. دوی به پر کفر وو نه وای پاتې سوي بلکې ایمان بې راوړی وای (حین) مفعول به د یعلم دی.

پوه سه: چي مقصود احاطه د اور ده پر دوی د ټولو جوانبو څخه، تخصیص د مخانو او د شاوو چي یې وکړی چي دا دوه لوی ارخونه د انسان دي، نو پر نورو خو یې احاطه بطریق الاولی کړې ده.

بَلْ تَأْتِيهِمْ بَغْتَةً

بلکې راځي دا عذاب موعود نابیره.

پوه سه: چي ضمیر د تاتي یا راجع دی نار ته چي مونث سماعي دی یا راجع و حین ته دی تانیث د ضمیر یې په اعتبار د تاویل د حین په ساعت سره دی یا راجع و وعد ته دی په تاویل د عدة.

فائده: کلمه د بل لپاره د اضراب د استبعاد ددوی دده چي قیامت او عذاب یې بعید بالله، کما یدل علیه قولهم متی هذا الوعد، والمعنی بلکې راځي به دوی ته اور یا ساعت یا عده نابیره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَتَبْهَتُهُمْ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ رَدَّهَا وَلَا هُمْ يُنْظَرُونَ ﴿۴۰﴾

نو به دغه اوريا ساعت يا عده دوی حيران وگرځوي، نو دوی طاقت درد د ساعت يا د اور د دفع کولو نه لري، او نه دوی ته مهلت ورکول کيږي چې بيرته دي دنيا ته ولاړ سي چې ايمان راوړي ولي چې د دوی هغه پخوانی مهلت د دنيا کافي دی. سعدي شيرازي قدس سره وايي:

تو پيش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زير چوب

نکته: پوه سه! چې په (لاهم ينصرون) کې يې مسند اليه د مخه کړی پر مسند فعلي لپاره د حصر يعنې چې عدم نصرت حصر دی پر کافرانو، ولي چې د عصاة المؤمنين چې بې توبې مړه سوي وي نصرت يې کيږي په شفاعت د انبياء والملائكة الكرام عليهم السلام وصلحاء الامة رح.

فائده: دا خبره متفق عليه شرعًا وعقلاً وكشفًا ده چې هر کمال چې انسان په دې ژوند کې او په دې دار الدنيا کې حاصل نه کړي پس له مرګه او په قيامت کې يې نسي حاصلولای فعلم ان الفرصة غنيمة والموت ياتي بغتة والمرء لايقدر ردها ولا تدارک مافاته، سعدي رح ميګويد:

نگه دار فرصت که عالم دميست ..... دمی پيش دانا به از عالميست

نقل هذا المضمون روح البيان عن الفكوک لصدر الدين القنولي قدس سره.

پوښتنه: انبياء عليهم السلام خو کمال د شفاعت د عصاتو خو په قيامت کې پيدا کيږي؟

ځواب: دا کمال خو دوی ته حاصل في الدنيا ؤ لكن ظهور يې په قيامت وسو.

سوال: په صحيح حديث کې راغلي دي چې خدای پاک داخلوي رحمتونه د مړو په قبرو په مثال د غږو په دعا د ژوندو او كما قال عليه السلام، نو دا کمال د مړو نه دی ورسته تر مرګ که څرنګه؟

ځواب: کلا! دا د دوی کمال نه دی بلکې دا نصرت او شفاعت دی د ژوندو كما لايخفى.

وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ بِرُسُلٍ مِّن قَبْلِكَ

پوه سه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی، او تنوين د (رسل) لپاره د تعظيم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او تکثیر دی ای بالله چې پسخند وهل کړه سوی په ډېره رسولانو چې خاوند ان د لوړو مرتبو وه (من قبلک) تر تا دمخه، په دې آیت سره تسلي ورکول دي و علیه الصلوة والسلام ته چې قوم دده قریشو به په ده پسخند واهه کما مر في قوله تعالى واذا رءاک الذین کفروا ان یتخذونک الا هزوًا. او دا جمله عطف پر هغې جملې ده وجه د تسلي د علیه الصلوة والسلام چې دا استهزا، په رسولانو عادت قدیمه ده فاصبر علیه ان کما صبر من قبلک من المرسلین. عرب وایي البلیه اذا عمت هانت او پښتانه وایي د عالم سره غم نه غم.

فَحَاقَ بِالَّذِينَ سَخِرُوا مِنْهُمْ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٤١﴾

نو احاطه به وکړه په دې آیت کې وعد خفي دی د علیه الصلوة والسلام سره په نصرت پر قوم دده، پر هغو کسانو چې پسخند بې واهه د دوی څخه هغه شی دوی په هغه پسخند واهه یعني د رسول د خوا چې به دوی په عذاب الهي بهرول کېدل دوی به پسخند په واهه، نو جزاء د هغه پسخند پر دوی احاطه وکړه (نو د ما کانوا سره مضاف محذوف دی وهو لفظ الجزاء).

بوه سه: چې پر قریشو د بدر ورځ هم جزاء ده استهزاء احاطه وکړه، ولې چې د دوی لوی لوی سرداران پکښې اوویا (۷۰) کسه ووژل سول.

قُلْ مَنْ يَكْلَؤُكُمْ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مِنَ الرَّحْمَٰنِ ۗ

(قل یا محمد للمستهزئین بک) څوک به ستاسي حفاظت وکړي د شپې او د ورځې من عذاب الرحمن کذا قال ابن عباس رضي الله عنه فالعبارة بحذف المضاف ان ارادبکم او نزل بکم یعني نسته حافظ او کافي له عذاب څخه د رحمٰن الا رحمته العامة یعني چې ستاسي څخه دي هغه راغلی عذاب دفع کړي یا دي مهلت درکړي. یعني په ښائسته صفه نازېږئ چې دا آلهه باطله جمادات دي عذاب الهي له تاسي څخه دفع کړي.

فائده: شپه چې یې تر ورځې مقدمه کړه یا له دې کبله چې دواهي او عذابونه د شپې راځي او یا له دې سببه چې عذاب د شپې سخت دی تر ورځې ولې چې مستغیث او نه ناصر نه شفاعت کونکی د شپې پیدا کېږي بخلاف النهار په لفظ کې د رحمٰن اشاره ده چې کهالي ستاسي اوس هم رحمت عده د خدای ﷻ ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ع:..... ای کریمی که از خزانه غیب گبر و ترسا وظیفه خور داری

یاتنبیه پر دې ده چې عذاب د رحمٰن چې اراده یې وسي نو د هر سخت دی، ولهذا یقال اعوذ بالله ﷻ من غضب الحلیم.

بَلْ هُمْ عَنْ ذِكْرِ رَبِّهِمْ مُّعْرِضُوْنَ ﴿۴۲﴾

دا جمله اضراب دی د امر بالسوال سره في قوله تعالی قل من یکلئکم آه، یعني دغه سوال ودوی ته فائده نه کوي.

بوه سه: چې له ذکر څخه مراد قرآن او نور مواعظ الله دي یعني دوی اهل د سماع القرآن والموعظة نه دي، ولي چې د منعم حقیقي نعمتو د منعم له ذکر څخه غافل کړی دي فلا یذکرونه حتی یخافوا عذابه فلا فائدة لهم في التخویف بالعذاب.

دروښ وایي: چې هغه څوک جاهل او پر باطل وي او په خپل جهل نه پوهیږي بلکې دده زعم باطل وي ځان پر حق بولي چې دې ته جهل مرکب وایي دې سړي ته وعظ او قرآن فائده نه کوي کما قیل:

آن کس که نداند وبداند که بداند ..... در جهل مرکب ابد الدهر بماند

البته هغه څوک چې په خپل جهل پوهیږي هغه ته پند او وعظ فائده کوي کما قیل:

آن کس که نداند وبداند که نداند ..... او اسپ خود از گنبد فیروزه جهاند

دې ته جهل بسیط وایي فلیکن منک علی ذکر ان لم تکن جاهلاً جهلاً مرکبًا.

د خدای روی د قرآن روی و هغه چا ته وایه

چې خدای پېژني او قرآن ته هم تسلیم وي

اَمْ لَهُمْ اٰلِهَةٌ تَمْنَعُهُمْ مِّنْ دُوْنِنَا ؕ

ام په معنی د بل آه دی، بل لپاره د انتقال من کلام الی کلام آخر، او همزه لپاره د انکار دی، آیا دوی لره خدایان ستة چې دوی منع او خلاص کړي له عذاب څخه زموږ (تمنعهم) صفت دی د (الهة) (من دوننا) یعني بیله موږه دا صفت ثانیه د (الهة) دی یعني لیس کذالک یعني الهة د دوی زموږ له عذاب څخه نسي خلاصولای.

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ نَصْرَ اَنْفُسِهِمْ وَلَا هُمْ مِّنَّا يُصْحَبُوْنَ ﴿۴۳﴾

آلهه د دوی طاقت د نصرت د خپلو ځانونه لري فضلاً عن نصر عابدیهم، ولي که یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سرې چې ښه دروند ستنک راواخلي او دا د دوی بتانو پرډا سر سره ووهي په يوه ساعت کې به دري سوه شپېته (۳۶۰) خدايان چې په مکه مکرمه دوی راتاوکړي وه زېر و زبر او توک توک به يې کړي. کريمه: وان يسلبهم الذباب شيئا لا يستنقذوه الآية.

پوه سه: چې جمله د لا يستطيعون آه تعليل للانكار في الجملة السابقة (ولاهم منا يصحبون) عطف دی پر (لا يستطيعون) باندې، او نه ملګرې کېږي د دوی د آلهه وو سره کومک زمونږ له خوا لکه د هغه کسانو سره زمونږ کومک ملګرې کېږي چې د عصاة المؤمنين شفاعت مونږ ته وکړي من الانبياء والملائكة والصالحين.

فائده: کومک د خدای ﷻ د دغو کسانو سره دا دی چې شفاعت يې قبلوي او ګنهګارانو ته بخښي... بيت:

عطای شفاعت چنانش دهند ..... که امت تمامی ز دوزخ رهند

ای في اول الوهلة او قريب منها فافهم. او حبر العرب عبد الله بن عباس ؓ وايي چې معنا د آيت داده ولاهم منا يمنعون نه د دوی آلهه زمونږ څخه منع کړی کېږي يعني د دوی خدايان که څه هم جمادات دي دوزخ ته ورداخل کړل کېږي. کريمه: انكم وما تعبدون حصب جهنم الآية.

بَلْ مَتَّعْنَا هَٰؤُلَاءِ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ طَالَ عَلَيْهِمُ الْعُمُرُ

بلکې سبب د کفر او د طغيان د دوی دا دی چې دوی ته مونږ نعمتونه ورکړي دي او مهلت مو ورکړی دی و د غو بت فرستانو ته په دنيا کې، او د دوی پلرو او نيکه ګانو ته، تر دې پورې چې پر دوی ډېر عمرونه تېر سول.

پوه سه: چې کلمه د بل اضراب دی د دوی د خيالاتو فاسدو څخه چې دا دهر زرقونه زمونږ د خدايانو نصرت دی زمونږ سره، خدای ﷻ د دوی څخه اضراب وکړی چې دغسې نه ده بلکې دا نعمتونه زمالهه خوا د رکول کېږي استدراجا والتمتع بما قدر لهم من الاعمار يعني خدای ﷻ دوی ته نعمتونه ورکړه استدراجا د دوی توهم دا سو چې دا نعمتونه زمونږ د خدايانو دي او چې زمونږ الهه باقي وي مونږ په پرد غه جاه و جلال يو، خدای ﷻ د دوی د زعم باطل ابطال په دې سره وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَفَلَا يَرَوْنَ اَنَّا نَاْتِي الْاَرْضَ نَنْقُصُهَا مِنْ اَطْرَافِهَا ؕ

آیا دوی نه ګوري په ستر ګو، او یا معنی چې دوی علم نه لري (نو رؤیت د بصري او علمي دواړو احتمال لري) چې موږ ورځو ای امرنا و محکو ته د کفارو را کموونې له اطرافو څخه. یعني مسلمانان یې پر اطرافو مسلط وو. او دوی یا قتل کېږي یا فرار کېږي یعني نن د یوه طرف نوبت د محکو ددوی دی د مسلمانانو په قبضه کې صبا د بل طرف وار دی د قبضې د مسلمانانو ددوی پر محکو وهلم جرا. حتی په صحیح تاریخ کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام چې وفات کېدی یو کور د عربو نه ؤ چې په اسلام دي نه ؤ مشرف سوی.

پوه سه: چې په (افلا یرون) کې همزه لپاره د انکار ده او فاء عطف ده پر مقدر حسب القانون النحوي کما مر غیر مرة تقدیره الاینظرون فلا یرون بالابصار او لایتفکرون فلا یعلمون علی التقدیر کون الرؤیة علمیة.

اَفَهُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝

آیا دوی به غلبه وکړي پر علیه الصلوة والسلام او پر مسلمانانو؟ یعني داسې نسې کېدای (این خیال است ومحال است و جنون) په تاریخ کې راغلي دي چې اسکندر ته چا وویل چې د دارا شکوه سره یو کرور فوج موجود ؤ، نو تا څرنګه فتح کړی؟ اسکندر ورته وویل چې قصاب چې ماهر وي له دې هر والي څخه د پسو نه بېریږي!

خدای ﷻ وایي کریمه: وان جندنا لهم الغالبون، کریمه: وانتم الاعلون ان کنتم مؤمنین، ای حقا د دې غلبې د مؤمنانو پر کافرانو ژوندی مثال دادی چې امریکا چې په اوسنی زمانه کې د ټولې نړۍ ستر قوت کنډل کېږي او انګرېزان یې هم د ځان ملګري کړه او له جنیوا څخه یې فوجونه راوستل او د ډالرود باران وریږ هم ورسره ده پر یو غریب ملک افغانستان باندې یې خپله واچول په دې امید چې افغانستان د آسیا د وسط مرکز دی، نو د دې افغانستان په قبضه سره به موږ پر ټوله آسیا قابض سو. په مقابل کې یې یوه ضعیفه ډله چې نه کافي سلاح لري نه د سپارو طیارې لري او نه مابتام ډوډۍ لري او نه د شپې د تېرولو ځای لري او نه کوټ و برستن لري، دا ډله ورته ودریدل چې امریکا د جنګ جهاني ټوله سلاح په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کار اچولې ده، اووه کاله کېږي چې دغه ضعيفه ډله امريکا له پښو نه واچول سره ددې چې په دغه ضعيفه ډله کې څه ناڅه نواقص ستة که هغه هم نه واى د وخته به امريکا افغانستان ته خير ياد ويلى واى. زما د خبرې شاهد دادى چې په هغه زمانه کې چې د حقيقي مسلمانانو سلطنت ؤ د کسرى او د قيصر روم چې دوه سترې قوتونه وه د نړۍ او جګ خولې فوجونه يې هم درلودل، څرنګه د مسلمانانو له خوا رنګ سول او خزانې يې عربي مسلمانانو په دست جمې راوړې.

دروښ وايي: اين قصه پايان نداره پس بګيره دامن تفسير قرآن پيش برده.

قُلْ إِنَّمَآ أُنذِرُكُم بِٱلْوَحْىِ ۖ

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) يعني کفارو ته د مکې چې زه نه بېروم تاسي مګر نه په وحي يعني القرآن من جانب الرحمن لامن نفسي، نو چونکه بېرول ستاسي د خداى ﷻ له جانبه څخه دى او خداى ﷻ پر هر شي قادر دى بايد تاسي استبطاء دده د عذاب ونه کړئ يعني بعيد يې نه وبولي او بايد استعجال يې هم ونه کړئ كما استعجل النضر بن الحارث بقوله ان كان هذا هو الحق من عند ربنا فامطر علينا حجارة الآية.

وَلَا يَسْمَعُ ٱلصُّمُّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا مَا يُنذَرُونَ ﴿٤٥﴾

او نه اورې کوڼ بلنه د چا.

پوه سه: چې مشرکان د مکې که څه هم صحيح الحواس وه لکن چونکه قرآن او تبليغ د عليه الصلوة والسلام يې په سمع د قبول نه اورېدى نو دوى ګويا فاقد السمع دي دا جمله حال ده نه فاعل څخه د قل (انما انذركم) هغه وخت چې دوى بېرول کېږي. کلمه د اذا ظرف ده د يسمع يا د دعاء، فائده د تقييد بالظرف داده چې د انذار خبرې نه اورې او نورې خبرې دنيوي بنه اورې چې اصلاً نو کاڼه نه دي صرف د انذار په وخت کې ځان کوڼ واچوي.

وَلَئِن مَّسَّتْهُمْ نَفْحَةٌ مِّنْ عَذَابِ رَبِّكَ

(ولئن) کلمه د لام موطئه د قسم محذوف دده اى والله (مستهم) جواب د قسم محذوف دى که صرف مس کړي يو قليل له عذاب څخه د رب ستا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اصل د نفخ د بوی ولاړ دی، په دې آیت کې مبالغې دې په قلت کې (۱) لفظ د مس دی یعنې چې صرف څندي ومښلي (۲) لفظ د نحة دی چې معنی یې قلت دی (۳) وزن د نفحة چې فعلة دی چې لپاره د مرت دی کما تقرر في علم الصرف والنحو من ان فعلة بفتح الفاء للمرة وبكسرها للهيئة كما في جلست جلسة القاري القاري بكسر الجيم اى على هيئة القاري وضربت ضربة بفتح الضاد اى مرة.

لَيَقُولُنَّ يٰوَيْلَنَآ اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ۝

هر آئینه دوی وایي ای هلاکت زمونږ (یعنې مرګ ته ناړې وهي چې راځه دغه دی وخت چې مرګه ستا په سبب به مونږ د عذاب څخه خلاص سو) مونږ ظالمان یعنې پر ځانونو موظلم وکړی په سبب د کفر او ګنهو وحاصله الهم ندموا حين لاينفعهم الندم.

درویش وایي: چې مراد له مس څخه د نفحة العذاب، عذاب د آخرت دی په سبب د دې چې مفسرین ټوله په اتفاق په تفسیر د انا كنا ظالمين داسي وایي ندموا حين لاينفعهم الندم (دوی پښېمانه نسي په داسي وخت چې پښېمانې فائده نه ورته کوي) وما هو الا الندم في يوم القيامة كما قال السعدي الشيرازي رح:

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

ولې که دوی پر رسېدلو د لوی عذاب د دنیا اقرار په ظلم خپل وکړي او پښېمانه سي، نو دا توبه ده په دار التکلیف کې او دا توبه خو عین قبول د اسلام، نو ولې به مفسرینو ویلای ندموا حين لاينفعهم الندم فافهم.

وَنَضَعُ الْمَوَازِيْنَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ

او مونږ ایږدو ترازوګان د عدالت.

پوه سه: چې قسط مصدر دی په معنی د عدالت دی او د موازین صفت دی چونکه په مصدر کې مفرد او جمع برابر دي نو دا سوال نه پیدا کېږي چې مفرد لفظ څرنګه د جمع صفت واقع سو، او حمل د مصدر مبالغةً دی یا په حذف د مضاف دی ای ذوات القسط فافهم.

پوښتنه: په ترازو کې خو اجسام تلل کېږي اعمال حسنه او سیئه خو اجسام نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي، نو څرنګه تلل کېږي؟

ځواب: بعض علما ء وايي چې صحيفې د اعمال حسنه او سيئه وو سره تلل کېږي چې کرام کاتبين نوشته کړي، او بعض وايي چې هر عمل ته صورت جوهري جسمي خدای ﷻ ورکوي هغه ورسره تلل کېږي.

سوال: لفظ د جمع يعني موازين يې ولي راوړی؟

ځواب: امام نسفي رح په بحر الکلام کي وايي چې سبب يې دا دی چې هر انسان لره جلا جلا ترازو سته.

دروښ وايي: چې دا جواب ضعيف دی ولي چې ميزان په قرآن کريم کي بعض ځايونه مفرد راوړی دی الا ان يراد بالمفرد الجنس، او يا لفظ جمع ذکر سي مراد ځندي يې وي تعظيمًا وتفخيمًا كما في قوله تعالى ونادته الملائكة مع ان المبادي كان واحدًا وهو جبرئيل ؑ وكما في قوله تعالى يا ايها الرسل كلوا من الطيبات، والمراد به محمد ﷺ وقيل غير ذالک مما لا يعباء به.

فائده: ليوم القيامة بالام په معنی د في دی ای في يوم القيامة يا عبارت په حذف د مضاف دی ای لجزاء يوم القيامة او لاجل يوم القيامة.

فائده: بعض اهل الاهواء من المعتزلة وغيرهم وايي چې وضع الميزان يو مثال دی لپاره د جزاء عادلانه على حسب الاعمال يعني برابر حساب کېږي واستدلوا على مذهبهم بدلائل عقلية، والصحيح عند اهل السنة والجماعة ان الميزان على حقيقته (معنی ترازو) والدليل على ذالک ماروی بروايات صحيحة عن ابن عباس رض قال الميزان له كفتان ولسان يعني دوې پلې لري او يو شيون، او بيهقي د عبدالله بن عمر رض او هغه د عمر رض څخه روايت کوي في حديث طويل حيث سئال جبرئيل عن النبي ﷺ ما الايمان يا محمد؟ قال الايمان ان تؤمن بالله (يعني بالوحدانية) وملائكته (يعني بانهم عباد مكرمون) ورسله وتؤمن بالجنة والنار والميزان وتؤمن بالبعث بعد الموت الى اخير الحديث، او ترمذي و بيهقي د انس خادم الرسول الله ﷺ څخه روايت کړی دی، دی وايي سئلت رسول الله ﷺ ان يشفع لي يوم القيامة قال عليه السلام انا فاعل، ما ورته وويل يا رسول الله فاين اطلبک زه به چېرې ستا طلب کوم؟ دده راته وويل چې اول زما طلب پر پل صراف کوه، ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل كه مي هوري نه كړي پيدا؟ قال عليه السلام فاطلبني عند الميزان، ما ورته وويل كه مو هوري هم نه كړي پيدا؟ قال فاطلبني عند الحوض فاني لا اخطا، هذه المواطن الثلثة. حاكم او بيهقي رح په خپلو صحيح سند و له سيدتي عائشه رض داسي روايت كړى دى چي ما عليه الصلوة والسلام ته وويل چي ستاسي پيادېږي اهل البيت يوم القيامة، قال لي ثلاث مواطن فلا يذكر احد احدًا (۱) حيث يوضع الميزان حتى يعلم يثقل ميزانه (اى بالحسنات) او يخف (۲) حيث تطار الكتب (يعني عمل نامې) حتى يعلم اين يقع كتابه في يمينه او في شماله او من وراء ظهره (۳) و حيث يوضع الصراط (اى على متن جهنم) حتى يعلم انه ينجوا اولا.

بجاى كه دهشت خورد انبياء ..... تو عذرى گناه راچه دارى بيا

والحاصل انه ورد في الميزان على المعنى المتعارف احاديث كثيرة صحيحة ونقل كلها يثقل على المتعلمين لهذا التفسير.

دروېش وايي: والعجب كل العجب چي الضحاك او مجاهد او قتاده والاعمش رح مع كونهم اعلم بآحاديث رسول الله ﷺ اختاروا في الميزان مثل ماقال المعتزلة بقول روح المعاني وعندي ان في النقل عن هؤلاء السادات في الروات ضعف والله اعلم.

فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا

نو په دې ورځ ظلم نه كول كېږي د هيڅ نفس سره (ولهذا اورده نكرة) شيـًٔا د هيڅ شي كه څه هم ببخي لږ وي، وصورة الظلم ان ينقص من حسناته شيـًٔا او يزاد في سيئاته شيـًٔا.

وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا

پوه سه: چي مراد له مثقال څخه مثقال متعارف نه دى مراد بلكې مصدر ميمي دى يعني په قدر د ثقل (حبة) د يوې دانې د خردل چي په پښتو يې سپلنى بولي او په فارسي يې اسفند بولي، چي دا دانه د خردل ضرب مثل ده په كوچنيوالي كې يعني دا حبه موږ حاضره كړو په ترازو كې، نو اكبر تر حبه خردل خو په طريق اولى په ميزان كې د عدل حاضر كړه كېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې امام نافع ؒ د قراء سبعه وو څخه مثقال په رفع سره وايي کان تامة بولي اى ان وجد او مثقال يې فاعل دى او نور قراء يې ټوله په نصب سره وايي او کان ناقصه بولي اسم يې ضمير راجع دى و عمل ته چې د موازين څخه و فهمېدى او خبر يې مثقال بولي يعني ان كان العمل مثقال حبة من خردل.

وَكَفٰى بِنَا حَاسِبِيْنَ ﴿۴۷﴾

پوه سه: چې باء زائده ده په فاعل کې، نو ضمير د (نا) فاعل د کفى دى او حاسبين حال دى له فاعل څخه د کفى، ابن عباس ؓ د حاسبين داسې ترجمه کړې ده عالمين حافظين (ان من حسب شيئا علمه وحفظه وكفى بالله حسيبا اذ لا مزيد على علمه وعدله او سدي ؒ وايي چې حاسبين په معنى د محصين دي والحسب معناه القدر يعني اندازه، ابن ابى حاتم ؒ له ابن عباس ؓ څخه روايت کړى دى چې حساب کړل کېږي د خلګو سره نو هغه څوک چې حسنات يې زيات وي تر سيئاتو يوه حبه خردل د خل الجنة ومن كان سيئاته من حسناته بواحدة دخل النار انتهى، والمراد والله اعلم ان شاء الله ولم يشفع.

پوه سه: چې ټوله عملونه كه قولي وي او كه فعلي تلل کېږي الا كلمة التوحيد لا اله الا الله ولي اهل تفسير وايي چې كه اووه اسمانونه په يوه پله کې د ميزان كښېښول سي او كلمه طيبه په بله پله کې لرجحت الكلمة الطيبة منها، د بخاري دا اخيري حديث د خپل کتاب په ياد لرئ او عمل په کوئ، بخاري په خپل سند سره نقل کړى دى چې رسول الله ﷺ وويل كلمتان خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان حبيبتان الى الرحمن سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم.

مسئله: واما المشركون فقد قال الله في شانهم فلا نقم لهم يوم القيامة وزنا اى لا يوزن لهم عمل وان كان بحسب الظاهر من قسم الحسنات كاطعام الطعام للفقراء والمساكين وصلة الرحم واعتاق الرقاب وغير ذالك لفقد شرط الوزن وهو الايمان البتة په دنيا کې يې عوض ورکوي واما في الآخرة فكانت اعمالهم هباءً منثورا.

دروښ وايي: چې امام حجة الاسلام محمد الغزالي ؒ په احياء العلوم کې وايي الميزان حق او سبب د وضع د ميزان دا دى چې خداى ﷻ په صحائفو کې د اعمالو د بندګانو وزن اېښې دى پر اندازه د درجاتو د اعمالو د دوى په نېږد خداى نو په وزن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره مقادير د اعمالو د بندګانو دوی ته معلوم سي تاچي دوی ته اندازه د عدل د خدای ﷻ في العقاب کي ورکاوه او د فضل د خدای ﷻ کي عفوه ورته کول او د اعمالو ثواب يې مضاعف کاوه انتهى، په دې بيان سره دفع سو هغه سوال د امام رازي ؒ چي په خپل تفسير کي يې راوړي دي حيث قال چي اهل القيامة به يا يقين لري پر دې چي خدای ﷻ عادل دی فلا حاجة الى وضع الميزان بل مجرد حكمه بترجيح جانب الجنة او النار کاف او که ددوی دا يقين نه وي نو وزن هم فائده نه لري لاحتمال انه تعالى يجعل احدى الكفتين اثقل ظلمًا انتهى: وجه د دفع ددې سوال داده چي اهل محشر ته عدالت د خدای ﷻ په علم ضروري معلوم دی لان الناس نيام فاذا ماتوا انتبهوا لكن حكمة الوزن انه تعالى اراد ان يحصل لهم العلم بمقادير ليظهر العدل كالمحسوس والعقلي كالبدهي الاولى وفيه الزام الحجة عليهم فافهم. راوي وايي چي شبلي نعماني ؒ وروسته تر وفات چا په خوب وليدی، نو يې پوښتنه ځني وکړه ما فعل الله بک؟ فقال حاسبونا فدققوا ثم منوا فاعتقوا.

دروېش وايي: چي بعض مفسرين وايي چي ميزان دوې پلې لري چي په عربي يې کفتان بولي او يو لسان لري چي په پښتو يې شيون بولي او دا ميزان په لاس کي د جبرئيل ؑ دی حسنات په يوه پله کي پراته وي په بله صورت سره او سيئات په بله پله کي وي په بد صورت والحكم للغالب منهما وفي صورة التساوي الحكم لفضل الله تعالى. او بعض علماء وايي چي تساوي والا به پر اعراف باندي وي چي يو دې پوال په منځ کي د جنت او د دوزخ دی چي د اعراف والا دواړه جانبه وي وينې لكن مآلهم الى الجنة، کريمه: وعلى الاعراف رجال يعرفون كلاً بسيماهم الآية.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ الْفُرْقَانَ وَضِيَآءً وَّذِكْرًا لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

کلمه د لام موطئه د قسم محذوف ده يعني والله په تحقيق ورکړی ؤ موږ موسی او هارون ؑ ته کتاب فارق بين الحق والباطل چي مراد ځني تورات دی، چي نور معنوي ؤ حق او باطل روښانه کېدل.

بوه سه: چي تنکير د ضياءً لپاره د تعظيم دی او د هغو کسانو لپاره چي د خدای ﷻ پېرېدل نصيحت ؤ، او يا معنى داده چي په دې کتاب کي ذکر او بيان ؤ د مايحتاجون اليه من الشرائع والاحكام والحلال والحرام، والحاصل انه كتاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جامع لكل خير او ابن زيد وايي الفرقان النصر على الاعداء لكه په قرآن كريم كي ورځ د بدر يوم الفرقان بلل سوې وه، او بعض مفسرين وايي چې له فرقان څخه مراد فلق البحر دی چې بني اسرائيل او قبطيان قوم فرعون يې سره جلا کړه يعني چې بني اسرائيلو ته يې نجات ورکړی او فرعون او دده قوم يې د غرق و کندې ته وسپارل، کريمه: اغرقوا فادخلوا نارًا.

الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَيْبِ وَهُمْ مِّنَ السَّاعَةِ مُشْفِقُونَ ﴿۴۹﴾

هغه کسان دي متقين چې ويريږي له رب څخه ددوی، او دوی له عذاب او حساب څخه د ورځې د قيامت ويريږي.

پوه سه: چې الذين يا مجرور محلاً صفت د متقين دی، او يا منصوب محلاً دی په حذف اعني يا مرفوع محلاً دی ای هم الذين آه او بالغيب حال دی يا له فاعل څخه د يخشون يعني حال کونهم متلبسين بالغيب ای من الله او بالغيب من الناس او يا حال دی له مفعول څخه د يخشون چې ربهم دی يعني چې خدای ﷻ غائب دی يعني دوی نه دی ليدلی.

فائده: تقدير په ضمير د هم او اسناد د مشفقون ورته کول لپاره د تاکيد دی على ما تقرر في كتب النحو.

وَهٰذَا ذِكْرٌ مُّبَارَكٌ أَنزَلْنَاهُ ۚ أَفَأَنتُمْ لَهُ مُنكِرُونَ ﴿۵۰﴾

او دا قران ذکر مبارک دی ای کثير البرکة والنفع للعباد، آيا تاسي ای اهل مکه له دغه ذکر مبارک څخه منکر ياست؟.

پوه سه: چې هذا مبتداء ده او ذکر يې خبر دی او مبارک يې صفت دی، د ذکر تنکير لپاره د تعظيم دی، استفهام لپاره د انکار دی ددوی پر انکار او د توبيخ دی.

وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ ﴿۵۱﴾

(ولقد) اللام لجواب لقسم محذوف، قسم په خدای دی چې موږ ورکړی وُ ابراهيم ته هدايت او صلاح او پرهيز د عبادة الاصنام څخه.

فائده: د رشد اضافت يې و ابراهيم ته وکړی تنبيه پر دې ده چې ابراهيم لوی شان او ثبات قدم لري په رشد کي (من قبل) دا لفظ مبني پر ضمه دی عوضاً عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المضاف اليه المحذوف اى قبل موسى وهارون ومحمد ﷺ، وفي هذه الآية تنبيه لمشركي مكة على ان الرسالة والوحي الى محمد ﷺ يو نوى كار نه دى بلكي عادت الهي له قديم الزمان څخه پر دې جاري دى چي لپاره د اصلاح د خلكو يو رسول را استوي لكه ابراهيم عليه السلام وغيره (وكنا به علمين) او موږ ؤ په ابراهيم سره خبر چي اهل د هدايت او د نبوت دى.

پوه سه: چي په ذكر كي د ابراهيم هڅول دي د كفارو د مكې پر ايمان بمحمد ﷺ لانهم يعظمون ابراهيم، او محمد ﷺ هم د ابراهيم عليه السلام له نسل څخه دى او هم پر ملت د هغه، كريمه: بل نتبع ملة ابراهيم حنيفًا، نو ولي كفار مكه له ده څخه انكار كوي، او بعض مفسرين د من قبل ترجمه كوي په قبل البلوغ سره يعني دى كوچنى ؤ چي دى له غار څخه راووتى چي ده وويل اني وجهت وجهي الآية، مظهري وايي ددې معنى داده چي نبوت ده ته د كوچنيوالي ورکړل سوى ؤ انتهى والله اعلم، والاول من معنى قبل مروي عن ابن عباس و ابن عمر ؓ.

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ ﴿٥٢﴾

هغه وخت چي ابراهيم وويل و خپل پلار ته او قوم ته دده.

پوه سه: چي اذ منصوب محلاً دى په اذكر سره او يا ظرف دى د متعلق په آتينا پوري يا په رشد پوري.

پوه سه: چي تمثال هغه صورت ته وايي چي روح نه وي پكښې، يعني نو نه چا ته ضرر رسولاى سي او نه نفع په دې كي تحقير د شان ددوى د معبودانو دى او توبيخ دى د قوم چي ددې پرروحه شيانو عبادت كوي لان المعبود يجب انيكون ضارًا اذا لم يعبد ونافعًا للعابدين والعكوف الاقبال على الشئ وملازمته على وجه التعظيم.

ترجمه: څه شى دي دغه بې روحه بتان مجسمې چي تاسي ددې احترام كوئ او دوى ته مقبل ياست، كاشفي در تفسير حسيني چنين فرموده كه آن هفتاد و دو (۷۲) صورت بود و در تيسير گويد كه نود بت بوده وبزرگتر همه از زر ساخته بودند، ؤدو گوهر شاه وار در چشمهاى وى ترکيب كرده بودند، و در تبيان آورده كه صورتها بودند بر هيئات سباع وبهائم وانسان و بعض صورتها بر شكل وهيكل كوكب بوده.

د علي رضي الله عنه څخه روايت دى چي دى يو وخت تېرېدى يو څو كسه وه شطرنج يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه فقال ماهذه التماثيل.

درويش وايي: چي امير المؤمنين علي رضي الله عنه غايت تقبيح د عمل د شطرنج وکړه ولي مشابه يې کړه د اصنام سره د قوم د ابراهيم ؑ، يعني العکوف على هذا اللعب کالعکوف على عبادت الاصنام کذا في تفسير ابي الليث السمرقندي.

درويش وايي: چي وان لم يکن اللعب بالشطرنج کفراً فلا اقل من انه مکروه جداً، قال صاحب الهداية يکره اللعب بالشطرنج والاربعة عشر لانه قاصر بها فالمسير حرام بالقرآن وان لم يقاصر بها فهو عبث ولهو.

درويش وايي: چي له امام شافعي رح څخه منقول دي چي لعب الشطرنج مباح دی، ولي چي لعب کي د اذهانو ذکاوت او تصفيه پيدا کيږي، زين العرب په شرح کي د مشکوة وايي چي شافعي قدس سره له دې قول څخه رجوع وکړه ځلوېښت ورځي تر مرګ دمخه، او امام ابو حامد محمد الغزالي الشافعي رح په خلاصه کي وايي چي د شطرنج لوبه مکروه ده عند الشافعي اى في قوله الآخير. او څرنګه به مکروه نه وي چي په لعب شطرنج کي احياء د سنة المجوس ده.

قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ ﴿٥٣﴾

دوی په جواب کي د ابراهيم ؑ وويل چي موږ پيدا کړي دي يعني ليدلي مو دي چي پلرو او نيکه ګانو د دغو تمائيل عبادت کاوه يعني موږ يې عبادت تقليداً کوو يعني بل کوم دليل نه پر لرو لا عقلاً ولا نقلاً من کتاب.

قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ ﴿٥٤﴾

ابراهيم ؑ ورته وويل په تحقيق ياست تاسي او ستاسي پلرونه نيکه ګان په خطاء او ګمراهي ښکاره کي حيث تعبدون الجمادات لاتضر ولاتنفع والتقليد للضال المخطي ضلال وخطاء.

فائده: انتم تاکيد دی د ضمير متصل د کنتم لاجل عطف وآبائکم کما هو القانون النحوي من ان العطف على الضمير المتصل لايجوز الا بالتاکيد بالمنفصل او الفصل فافهم.

درويش وايي: چي د ابراهيم ؑ قوم ته دا تضليل د آباؤ د دوی ډېر بعيد ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بشکاره سو. نو يې په خيال دا ورغله چې دی زمونږ سره مسخرې کوي، نو يې داسې ورته وويل.

قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ اَمْ اَنْتَ مِنَ اللّٰعِبِيْنَ ۝

دوی ورته وويل چې تا مونږ ته يو حق دين چې ثابت په دليل قطعي دی راوړی دی او که ته په دې قول کې زمونږ سره مسخرې کوې.

مسئله: علماء وايي چې تقليد قبول دی د بل د قول بې دليله د حقية او دوی وايي چې تقليد په فروع کې د دين لکه اودس، لمونځ، روژه وغيرها روا دی لکه په مذاهبو اربعه وو کې دا اختلاف موجود دی او هر قوم د خپل امام المذهب تقليد کوي. او په اصولو او اعتقادياتو کې د دين تقليد نه دی روا بلکې استدلال ضروري دی.

پوښتنه: عوام الناس خو ټوله معتقدات تقليداً مني قابل د نظر او استدلال نه دی؟

ځواب: ايمان د مقلد صحيح دی په نېز د امام الائمة سراج الامة ابو حنيفة رح او په نېز د اهل ظاهر الحديث هم صحيح دی.

پوښتنه: مقلد په ايمان کوم څوک دي؟

ځواب: چې وجود د واجب تعالى او وحدانيت د خدای په عبادت سره او عالم لره صانع او خالق الله بولي او په اوصافو د جلال او جمال يې منصف بولي او ارسال الرسل مني او عالم حادث بولي او بعث بعد الموت حق بولي الى غير ذالک لکن دليل نه پر لري، والدليل على قبول الايمان من غير الدليل دا دی چې رسول الله ﷺ ايمان د اعرابو د کوچنيانو او د بنځو او د مريانو قبلاوه من غير تعليم الدليل.

دروښ وايي: چې عامي که لږ عقل ولري دلائل هم د هر پيدا کولای سي.. سعدي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

حکايت: يو اعرابي ته چا ووېل چې څه دليل لري پر وجود د خالق د عالم؟ اعرابي ورته ووېل البعرة في الطريق تدل مرور البعير. وآثار الاقدام على الطريق تدل على سير السائرين في الطريق فكيف لايدل هذا العالم الكبير على العالم الصانع الخبير.

دروښ وايي: چې وهذا عين الاستدلال على وجود الصانع الخبير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ بَلْ رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الَّذِیْ فَطَرَهُنَّ ۖ

ابراهيم عليه السلام ورته وويل (كلمه د بل اضراب دى له قول څخه د قوم ام انت من اللعبين) يعني زه مسخري نه كوم ستاسي سره بلكې رب او خالق ستاسي هغه ذات مقتدر دى چې هغه رب او خالق د سمٰوات اى السبع او د مخكي دى، هغه دى چې د غه مخكه او اسمانونه يې له كتم څخه د عدم وعرصه ته د وجود راښكتلي دي بېله مثال سابق څخه.

پوښتنه: د (الذي فطرهن) څه فائده ده وروسته تر (رب السموات والارض)؟

ځواب: فائده يې داده چې رب و سلطان ته هم وايي نو په دې قيد سره دفع د توهم د جاهلانو د قوم چې سلطان دي وي او هغه قول د نمرود چې وروسته به راسي (انا احي وامیت) نو ابراهيم عليه السلام يو برهان قوي ورته پېش كړى پر دې دول چې اسمانونه او مخكي شاهدي اداء كوي په لسان حال چې موږ خو ممكنات او موږ نسو كولاى چې په خپله دي پرده د عدم څيري كړو او ميدان ته د وجود دي راووځو، ولي امكان او حدث زموږ برخه ده، نو زموږ د عدم رايستونكى لازمًا بايد واجب الوجود قديم بذاته څښتن د قدرت كامله بېله منازع وي، فاذا كان كك فهو مستحق للعبادة وحده لا الجمادات ستاسي خدايان.

وَاَنَا عَلٰی ذٰلِكُمْ مِّنَ الشّٰهِدِیْنَ ۝

او زه پر دغه مذكوره شيانو د شاهدانو له دلې څخه يم بالحال كالسموات والارض والقول لا اله الا الله والجنان يعني بتصديق القلب.

فائده: چونكه (ذا) اسم اشاره و مفرد ته ده او مشار اليه سمٰوات او ارض دي او هغه ډېر دي، نو بايد تلك يې ويلى واى له دې سببه ما ترجمه په مذكور سره وكړه چې مفرد دى.

قانون: كه مشار اليه مفرد ؤ او مخاطب هم مفرد ؤ اشاره په ذالك ورته كوي چې د ذا د مفرد راوړو سبب يې افراد د مشار اليه وي او د كاف راوړلو سبب به افراد د مخاطب وي، او كه مشار اليه مفرد او مخاطبين ډېر وه ذالكم به وايي او كه مشار اليه او مخاطب دواړه تثنيه وه ذان كما به وايي، وعلى قفس التذكير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والتانيث في المشار والمخاطب كذا في علم النحو، نو هغه قاريان چې خاتمه د قرآن په يوه مجمع كي وايي او داسي ووايي انا على ذالك من الشاهدين پر خطا دی بلكې ذالكم بې ويلی وای فتدبر.

وَتَاللّٰهِ لَاَكِيْدَنَّ اَصْنَامَكُمْ

او قسم په خدای چې زه به يوه حيله وكړم ستاسي وبتانو ته، يعني په پټه دوی مات كړم چې تاسي ته ددوی عجز بنكاره سي چې دوی په خپله دفع د ضرر له ځانه څخه نسي كولای، نو ستاسي څخه به دفع د ضرر څرنګه وكړي، والمعبود لابد انيكون دافعًا لضرر عن عابده وجالبًا للنفع الى عابده فكيف تكون آلهة، قاضي بيضاوي رح وايي چې كلمه د تاء په قسم كي بدل د واو ده چې هغه بدل د باء دی.

پوه سه: چې په لفظ كي د كيد او تاء التعجب في القسم چې ابراهيم راوړه له دې سببه چې دا كار يعني ماتول ددوی د بتانو څه پر مشكل كار دی او لوی حيله ته ضرورت لري مع قوة سلطنة نمرود و كثرة اتباعه ومحافظين معابدهم و اصنامهم، نو بيا هم ابراهيم ؑ على زعم انف نمرود ودې كار ته چمتو سو او كاميابه هم سو كما سيأتي.

پوښتنه: جمله د (وتالله آه) جمله قسميه انشائيه ده، نو عطف يې څرنګه صحيح دی؟

ځواب: د (تالله) سره قال محذوف دی، والتقدير قال ذالك القول بل ربكم آه وقال هذا القول ای تالله، نو قال ههنا عطف دی پر قال هناك، نو عطف د جمله خبريې پر خبريې دی.

بَعْدَ اَنْ تُوَلُّوْا مُدْبِرِيْنَ ﴿٥٧﴾

وروسته تر دې چې تاسي مخ واړوئ له بتانو څخه او دوی ته شا كړئ د اختر د ورځي د ساتېري لپاره.

سوال: دا خبره كه يې برملا علانيه ودوی ته كړې وې يعني تالله لاكيدن آه نو خو دوی يې مخ نيوی كولای سوای چې پر بت خانه به يې محافظان درولي وای چې د ابراهيم ؑ د ورتګ لار به يې بنده كړې وای؟

ځواب: بغوي رح وايي چې مجاهد او قتاده رح وايي چې ابراهيم عليه السلام دا خبره ډېره كراره وكړه چې صرف يوه سړي واورېده چې وروسته بيا تر ماتېدو د بتانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه سړي دا خبر افشاء کړه چې وروسته به راسي چې هغه سړي وويل سمعنا فتى يذكرهم يقال له ابراهيم.

درويش وايي: چې راويان د تاريخ قديم وايي او ټولو مفسرينو يې تائيد کړی دی چې د نمرود طاغي قوم په کال کې يوه ورځ د اختر او خوشالی درلوده چې دوی به تر ټولو لويي بت خانې ته بې بنه طعامونه راوړه مثلاً ورجې غوښې وغيره او بتان به يې بنه پالش کړه او د هر زېبا رنګونه به يې پورې مښلله او خوارکي مواد به يې د بتانو مخ ته کښېښول د تبرک لپاره چې دوی به په صحراء کې بنه ځانونه ستړي کړه بت خانې ته به راغله او هغه ددوی په زعم مبارکه ډوډۍ به يې وخوړله او بتانو ته به يې سجدې وکړې نو به خپلو خپلو کورو ته ولاړه، نو د غه ورځ چې راغله د ابراهيم[۴] پلار آذر وه ده ته وويل رازه زمونږ اختر ته زمونږ د خدايانو تنداره او سيل به وکړې او زمونږ دين به ډېر بنه خوند درکړي، نو ابراهيم[۴] هم په مجمع کې ورسره ووتی لوی بت خانې ته نژدې سو ځان يې غوځار کړی او دا يې وويل چې پر پښو مي درد سو او وه يې ويل اني سقيم.

سوال: ابراهيم[۴] خو نه وُ ناجوړی، نو دا درواغ نه وه او که څرنګه؟

ځواب: دا تعريض دی د ابراهيم[۴] خو زړه په رشتيا ناجوړی وُ د قوم د بت پرستی په سبب ظاهراً يې پښه بهانه وګرځول او بل دا چې درواغ لنصرة دين الله خو روا دی کما في وقعة قتل کعب بن الاشرف په مدينه منوره کې چې تفصيل يې مخته تېر سوی دی.

راوي وايي چې خلک چې ټوله ولاړه ابراهيم[۴] بت خانې ته ورغلی د بت خانې د دروازې مخامخ يو لوی بت وُ و څنګ ته يې کوچنی بت وُ او د هر لوی بت و څنګ ته به کوچنی بت موجود وُ، ابراهيم[۴] چې وکتل ورجې، غوښې او اعلی مطعومات د بتانو و مخ ته پراته وليدل، نو د پسخنده يې ورته وويل الا تا.کلون؟ ولي يې نه خورئ؟ فراغ عليهم باليمين، نو حمله يې وکړه پر هغو بتانو په راسته لاس چې تر چپه لاس قوي دی، راوي وايي چې د ابراهيم[۴] سره پټ په بغل کې يو سندان ورسره وُ په هغه به يې د بتانو وهله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَجَعَلَهُمْ جُذٰذًا

وګرځول ابراهيم ؑ دا بتان ټوک ټوک.

پوه سه: چې جذاذ فعال دی بضم الجيم مصدر په معنی د مفعول دی ای مجذوذ. او بعض مفسرين وايي چې جمع دی واحد د لفظ نه لري، والمعنی ټوک ټوک کړه ابراهيم ؑ ټوله بتان.

إِلَّا كَبِيرًا لَّهُمْ لَعَلَّهُمْ إِلَيْهِ يَرْجِعُونَ ﴿٥٨﴾

مګر نه هغه صنم اکبر ددوی (او سندان يې وصنم اکبر ته کښېښو، او بعض وايي د صنم اکبر په غاړه يې ور وځړاوه او دی ځنډي ووتی) بعض مفسرين وايي چې دا کبير صنم ته به خلک رجوع وکړي چې دا بتان چا مات کړه، ولي چې معبود بايد علم ولري او سائل جواب ورکړي، نو اخيرا به ابراهيم ؑ په دغه سره دوی مغلوب کړي په دليل کې، او بعض مفسران وايي چې ضمير د اليه و خدای ﷻ ته راجع دی يعنې چې دوی چې دا عجز د خپلو خدايانو ووينې، نو خدای ته به رجوع وکړي او ايمان به راوړي او د سياق سره برابر دا دی چې ضمير د اليه ابراهيم ته راجع دی په دې معنی چې چونکه زه شهرت په مخالفت د اصنام لرم، نو به اخير دا ماتوالی پر ما تپ کړي او ما به ورو غواړي زه به ورسره دليل ووايم چې دا څرنګه خدايان دي چې يو ازي زما سره يې مقابله له وسه نه وه پوره که ما مات کړي وي خير خلک چې د صحراء له بازيو څخه راغله هم ستړي سوي وه او هم وږي سوي وه بت خانې ته ور غله بتان ټوله ريز ريز پراته وه او ډوډی مودی يې ټوله سره تيت وپرک پارته وه.

قَالُوا مَن فَعَلَ هٰذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظّٰلِمِينَ ﴿٥٩﴾

دوی وويل چې دا چا دا کار کړی دی زمونږ له خدايانو سره يعنې ټوک ټوک کړي يې دي، په تحقيق دا سړی خو د ظالمانو له ډلې څخه دی چې د خدايانو سپکاوی وکړي يا ظلم پر خان دی چې خان يې و هلاک ته وسپارې يعنې مونږ خو يې حتمًا وژنو.

قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرٰهِيمُ ﴿٦٠﴾

دوی وويل چې مونږ اورېدلي دي چې يو ځوان دی چې زمونږ خدايان ذکر کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني عيب پر وايي چي دا آلهه هيڅ شی نه دي يعني نه يې چا ته نفع رسېږي او نه چا ته تاوان رسولای سي (يقال له ابراهيم) صفت ثاني لفتًى او يذكرهم يې صفت اول وُ.

پوه سه: چي ابراهيم مرفوع دی په يقال سره يعني مفعول مالم يسم فاعله يې دی او يا خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو ابراهيم، نو پر دې تقدير مفعول مالم يسم فاعله يې جاري او مجرور دی.

اخير دې خبري افشاء پيدا کړه تر نمرود جبار او تر اشرافو د قوم دده ورسېدله.

قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ ﴿٦١﴾

نمرود او اشرافو د قوم وويل يعني که دی متهم دی په دې فعل سره د آلهه د ماتولو، نو تاسي دی راولئ يعني چي تحقيق ځندي وکړو په حضور کي د خلکو (والتقدير كائنًا على اعين الناس اى على مرئي منهم يعني چي دوی يې ووينې) يعني څوک به د چشم ديد شاهدي پر اداء کړي. نو بې موږ د عذاب شکنجې ته وسپارو، وغرض اللعين چي بېله شاهدانو موږ دا عذاب نه ورکوو.

قَالُوا أَأَنْتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ ﴿٦٢﴾

آيا تا دا کار يعني کسر او ماتول کړي زموږ په خدايانو سره ای ابراهيم؟

قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ﴿٦٣﴾

ابراهيم وويل چي دا کار دالوی خدای کړی دی، نو تاسي له دې مات سوو خدايانو څخه پوښتنه وکړئ که چېرې دوی خبرې کولای سي.

پوښتنه: کار خو ابراهيم کړی ؤ، نو اسناد يې و کبيرهم ته څرنګه وکړی؟

ځواب: په دې کي مجازدی و سبب ته د کسر ابراهيم چي چونکه د دغه لوی بت په پر احترام دوی کاوه، نو ابراهيم ته غصه ورغله او دا بتان يې مات کړه تا چي دوی و دې لوی خدای ته رجوع وکړي، نو هغه به دلا يا نعم له جواب څخه عاجزه پاته سي او د ابراهيم ؑ حجت به قائم سي.

سوال: ابراهيم ؑ خو په دې پوهېدی چي بتان خو خبرې نسي کولای او د چا د سوال ځواب هم نسي ورکولای، نو يې ولي دوی امر کړه په سوال سره د دې او خبرې د دوی يې شرط وکړ ځولې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: هو! لكن د ابراهيم ؑ غرض داؤ چې ددوی د خدایانو عجز ودوی ته وښيي. نو ضمنًا گويا دا اقرار دی دُده له خوا چې ما کړی دی. (وروى ابوهريرة ؓ عن النبي ﷺ لم يكذب ابراهيم الا ثلث كذبات)

درويش وايي: چې كذبات وبلل چې ظاهر صورت يې د كذب ؤ والا فالكذب الصريح كبيرة والانبياء معصومون من الكبائر كلها بلكې دې ته معاريض وايي چې د قائل په زړه مراد يې صحيح وي لكن ظاهر صورت يې د كذب وي چې دې ته توريه هم وايي وهو ان تشير بالكلام الى شئ والغرض منه شئ آخر.

(ثنتين في ذات الله) يعنې په طلب كې د رضا د خداى ﷻ (١) قوله اني سقيم) چې زه ناجوړ يم. دده مراد خو داؤ چې سقيم القلب يم په سبب د كفر د قوم او ظاهر يې داؤ چې سقيم الجسد يم ولم يكن كذالك (٢) او بل دا چې (بل فعله كبيرهم) دده غرض خو داؤ چې د كبير صنم غايت تعظيم كول پر ما باعث د ماتولو د بتانو وگرځېدی او ظاهره صورت يې داؤ چې راسًا دا كسب او كار يعنې ماتول د بتانو كار د كبير صنم دی ولم يكن كذالك (٣) لپاره د دفع د فساد له ساره څخه چې دده ماينه وه هغه داسې وه چې ابراهيم ؑ چې اردن ته ورغلی هورې يو ملك جبار ؤ چې صادق يې نوم ؤ او د هغه قانون داؤ چې بنځې چې به مېړه درلودی كه به دده خوښه وای له مېړه څخه به يې راگرځوله او كه به هغې مېړه نه ؤ گړی په هغې بنځې يې كار نه درلودی چونكه ساره ډېره ښائسته وه. نو يو چا يې د سلطان جابر ته راپور وروړی چې دلته تر يوې درختې لاندې يو درويش صفت سړی دی او ډېره ښائسته ماينه يې ده. جبار امر وكړی چې ورسئ دا بنځه څنې راولئ چې زه يې معلومات وكړم. نو ابراهيم ؑ وساره ته وويل چې كه دې جبار تا ته وويل چې ته د دې سړي څه يې داسي مه ورته وايه چې ماينه يې يم ولي چې بيا دي زما څخه ونه گرځوي داسي ورته ووايه چې زه يې خور يم ابراهيم ؑ ورته وويل چې په زړه كې دا ونسه چې ديني خور يې يم ولي چې په مځكه كې بل مسلمان نه وينم بېله ما وتا.

درويش وايي: چې دا هم تعريض او توريه وه ولي ظاهر خو يې دا وو چې نسبي خور يې يم او په زړه د ابراهيم ؑ كې دا ؤ چې ديني خور ده خير ساره چې جبار ته وروستل او ابراهيم ؑ پر خپل ځای پرلمانځه و دريدی او عجز و نياز يې شروع كړی په باره كې د خلاصون د ساری د دې جبار څخه جبار پرمين سو بلا تحقيق يې لاس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروغځاوه يعني د زني د پاره لاس يې وچ سو چې نه يې را ټولولای سو ای او نه يې پر مخه حرکت ورکولای سو ،وفي روایة فغط ترستوني ونیول سو پښې يې غورځولې، نو يې ساره ته وویل چې دعاء وکړه چې زه له دې آفت څخه خلاص سم بیا ضرر نه دررسوم بیرته دي خپل ملګري ته استوم هر څه چې دي دي، هغې خواست وکړی جبار جور سو بیا يې لاس ورروغځاوه بیا په مثل د اول وار ونیول سو بیا يې ساره ته وویل چې خدای ته خواست وکړه که جور سوم ضرر نه درسوم هغې بیا خواست وکړی جبار جور سو ثم تناولت الثالثة فصار الجبار مثل ماکان بلکې اشد ترهغه بیا يې زاری ورته وکړې او وعده يې د عدم ضرر ورسره وکړه بیا جور سو، نو جبار دیو حاجب په لاس ورکړه او ورته وه يې ویل چې تا ماته انسان نه دی را وستلی انما اتیتني بشیطان، جبار یوه بنځه د هاجره په نامه ودې ته وبخښل، نو ساره چې را غله هاجره هم ورسره وه ابراهیم ؑ پر لمانځه ولاړ و سریې ورته وښوراوه چې مهیم چې د ایمیني کلمه ده معنا يې داده چې څه حال دی او څه پیښه سوه؟ هغې ورته وویل قد کبت الله کید الکافر وفي روایة قد رد الله کید الکافر في نحره واخدم هاجرة قال ابو هریرة یعني عن النبي ﷺ تلک (یعني هاجرة) امکم یا بني السماء (ای د اسمان زامنو) یعني چې په مکه کي خو کښت نسته تاسي په صحراؤ کي ژوند کوئ په اوبو د اسمان د هغه قصه داسي وه چې ساره خپل مینځه هاجره و ابراهیم ؑ ته وبخښل ابراهیم ؑ په نکاح کړه ساره چونکه په اول کي وچه وه کما سیاتي ان شاء الله تعالی، نو خدای پاک ابراهیم ؑ ته زوی ورکړی چې نوم يې اسماعیل پر کښښو چې د مکې د قریشو نیکه دی، او علیه الصلوة والسلام هم دده له نسل څخه دی وباقي قصة طویلة جدًا ،دا اخیر قول د ابراهیم چې ساري ته يې وکړی انک اختي في الاسلام صریح في ان مراده کان من المعاریض والتوریة دون الکذب حاشاه الله عن ذالک کما مر آنفًا.

فائده: دا د ریم قول د ابراهیم ؑ که څه هم په هغه کي هم رضی د خدای ﷻ وه چې زوجه د خلیل الله له فساد څخه د جبار په وساتل سول، لکن چونکه په دې د ابراهیم ؑ طبعي نفع موجوده وه، نو ځکه په حدیث مذکور کي د دې اولي توریه او معاریض في ذات الله وبللې دون الثالثة.

پوښتنه: صریح دروغ روا دي او که حرام یعني چې هیڅ توریه یا تعریض نه وي پکښې؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: شیخ عزالدین بن عبدالسلام په خپله فتاوی کي وایي چي خبري خو وسیله دي و مقصود ته که موصل و مطلوب ته په صدق او کذب دواړو سره کیدی فالکذب فیه حرام او که توصل و د مطلوب ته په کذب کیدی په صدق نه کیدی فالمقصود ان کان مباحًا فالکذب فیه مباح وان کان المطلوب واجبًا فالکذب في واجب انتهی.

دروښ وایي: چي دا کلام د عزالدین ؒ پر دې پرو مسائلو باندي تطبیقېږي فتامل فیه جدًا واخرج من هذا الکلام جواب مسائل کثیرة في حرمة الکذب واباحة ووجوبه، دا ؤ تفصیل د هغو دوو آیتو اني سقیم بل فعله کبیرهم هذا.

فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾

نمرود یا نورو رجوع وکړه و خپلو عقلو ته او د خان سره یې فکر وواهه چي ابراهیم چي وایي چي دا بتان د الوهیت وړ نه دي حق خبره ده او موږ چي یې آلهه بولو باطله خبره ده، ولي چي دوی دومره عاجزه دي چي دفع د ضرر له خپله ځانه څه نسي کولای، نو زموږ څخه به څرنګه دفع د ضرر وکړي یا به نفع راورسوي، والمعبود بالحق من یکون ضارًا ونافعًا. نو دوی وویل یو د بل سره یا په خپلو زړو کي چي په تحقیق تاسي په خپله ظالمان یاست چي عبادت د داسي چا کوئ چي نه خبري کولای سي نې ضرر چا ته رسېږي او نه یې نفع. یا معنی داده چي تاسي ظالمان یاست چي نسبت د ظلم و ابرهیم ته کوي یعني بقولکم من فعل هذا بآلهتنا انه لمن الظالمین.

ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾

بیا دوی رد کړل سوه پر سرو خپل یعني د تکبر لاریې خپله کړه اورد کړه سوه و کفر ته او مجادله او بحث ته یې ځانونه چمتو کړه بعد ما استقاموا بالمراجعة الی العقول وقولهم انکم انتم الظالمون، ته بنه پوهېږې چي نه دي دا بتان چي خبري دي وکړي، نو ته ولي موږ ته وایي فسئلوهم ان کانوا ینطقون.

پوه سه: چي اصل معنی د نکس داده چي اسفل د شي اعلی وګرځول سي او اعلی یې اسفل، نو دا د دوی عود و باطل ته وروسته تر دې چي حق یې په زړو کي راغلی ؤ مشابه وګرځاوه د نکس سره د شي. ولي حق چي اعلی ؤ هغه یې کښته کړی او کفر چي اسفل ؤ د هغه بیرغ یې پورته کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾

ابراهيم وويل چې حجت يې پر دوی تمام ته ورسېدی تاسي عبادت کوئ ماسوی له خدايه چې نسي رسولای يو شی له نفع څخه که تاسي عبادت ددوی وکړئ، او نه ضرر دورسولای سي يعني ديو شي که يې تاسي عبادت پرپرديئ.

فائده: کلمه د فاء عطف ده پر محذوف تقديره اتعترفون بان هؤلاء لاينطقون ولا ينفعكم شيئًا ولايضرون فتعدون بعد ذالک.

دروښ وايي: چې دا قانون نحوي دی چې همزه د استفهام چې پر حروف عاطفه و داخل سي عطف پر مقدر به وي لئلا يفوت صدارة همزة الاستفهام، مورِ دا قانون په دې تفسير کې مکرر راوړی دی شفقةً على المتعلمين لئلا يحتاجون الى تفصح الاوراق.

حکايت: يناسب هؤلاء العابدون لغير الله، راوي وايي چې د حبيب العجمي قدس سره ماينې ده ته وويل په کلکه سره چې بازار ته ولاړ سه د يو چا مزدوري وکړه لپاره د فراخي د رزق، نو دی هم له کوره ووتی په يوه مسجد کې يې د خدای پاک عبادت کاوه تر ماښامه پورې، ماښام چې کورته راغلی ماينې ورته وويل چې مزدوري دي وکړه څه دي راوړه؟ حبيب ؒ ورته وويل چې د لوی چا مزدوري مي وکړه لکن شرمېدم د مزدوری مي نه ورته وويل، دا بله ورځ بيا حبيب ؒ له کوره ووتی، ماښام کورته خالي لاس راغلی ماينې چې يې ورته وويل ده بيا هغه عذر ورته ووايه، درې ورځې چې تېرې سوې ماينې يې ورته وويل چې يا له هغه سره څخه چې تا يې دا درې ورځې مزدوري کړې ده د خپل اجرت جدي طلب ځني وکړه او يا د بل چا سره مزدور سه او يا به ماته طلاق راکوې، حبيب ؒ ته يې ډېر زور ورکړی چې ماينې يې مطالبه د طلاق ځندي وکړه، خير حبيب ؒ بيا ولاړی خپل د خدای ﷻ عبادت يې تر ماښامه پورې وکړی، ماښام چې کورته راغلی د طعام بوی يې تر پزه سو او ماينه يې هم ډېره خوشاله وليدل، ماينې يې ورته وويل چې هغه درې ورځې چې تا يې مزدوري کړې وه او تا له شرمه د مزدوری نه وه ورته ويلي هغه چا نن ډېر نعمتونه را استولي دي او يوه هميانی د سروزرو ډکه يې هم را استولې ده، حبيب ؒ وژړل چې ما د خدای ﷻ دا درې ورځې عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه دا خدای ﷻ را استولي دي. ماینې چې یې واورېدل پر ما مضٰی خو یې توبه وکښل او قسم یې واخستی چې زه به ابدًا ورته کار نه کوم.

دروښ وایي: چې دا د هغه حدیث قدسي مصداق دی (من شغله ذکري عن مسئلتي اعطیته افضل ما اعطي السائلین) وقد جربه اهل الله فوجدوه کذالک.

اُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۷﴾

روح المعاني وایي چې دل تنګه سو ابراهیم ؑ له اصرار څخه د قوم پر کفر باندې مع وضوح الحق وقطع العذر. واصل اف صوت المتفجر من استقذار شئ (اف اواز دی د هغه چا چې زړه یې تنګ سي چې له یو کار څخه یې بد راسي) راغب نحوي وایي چې وروسته اف اسم فعل وګرځېدی په معنی د اتفجر (زما زړه تنګ سو) ومعنی الآیة زما زړه تنګ سو یعني ستاسي له اصرار څخه پر کفر او له سببه ددې چې تاسي عبادت کوئ د من دون الله چې بتان دي (افلا تعقلون) استفهام لپاره د توبیخ دی. آیا تاسي عقل نه لرئ چې حق او باطل سره جلا کړئ او د حق متابعت وکړئ او باطل پرېږدئ.

دروښ وایي: چې په (اف) کې ډېر لغات دي چې مظهري بیان کړي دي.

پوه سه: چې مظهري ؒ وایي چې اف مبتداء ده نکره او ابتدائیه یې سره د تنکیره داسي دی لکه علماء چې په ویل کې وایي ای ویل عظیم. او لکم یې خبر دی ولما تعبدون پر عطف دی او بیضاوي وایي معناه قبحًا وتنًا واللام لبیان المتافف له.

دروښ وایي: چې نمرودیان چې په احتجاج کې پاتې راغله نو یې د زور او ضرر لار اختیاره کړه لکه چې دا عمومي عادت دی د جهالو معاندینو چې په دلیل ملامت سي د سړي ګریبان پرې ځیري.

قَالُوْا حَرِّقُوْهُ وَانْصُرُوْٓا اٰلِهَتَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ فٰعِلِيْنَ ﴿۶۸﴾

نمرود او نمرودیانو سره وویل وسوځئ ابراهیم په اور سره او مرسته وکړئ د خپلو خدایانو چې ابراهیم ؑ یې استخفاف وکړی که تاسي دا کار کوئ.

پوه سه: چې شرطي مستغني دی له جزاء څخه په ما قبل سره یعني حرقوه آه، له ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې مشوره د احراق چې یې نمرودیانو ته ورکړه یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی وُ له عجمو څخه یعني د کردانو څخه چې نوم یې هنون وُ او هغه کردي خو خدای ﷻ په مځکه کې خسف کړی، نو دی په مځکه کې روان دی الی یوم القیامة لکه قارون د موسی علیه السلام.

تبصره: کردان یو ظالم قوم دی چې بعض یې په ایران کې اوسیږي او بعض یې په عراق کې هشت دي، تاریخ وایي چې دا قوم که څه هم په نامه د مسلمانانو یادیږي لکن کار ددوی قطع الطریق او ظلم پر مسافرو چې ددوی په وطنو کې سفر کوي، ته یا مخاطب نه وینې له دین څخه د اسلام چې دین ابراهیم خلیل الرحمن دی پر کردانو یو خوی یا یو عمل د اسلام، خوی ددوی دادی چې غارت اچوي په دلییزه توګه پر اموالو د خلګو. و عملهم قتل و ظلم و سرقة و قطع الطریق. وعدم رحمة في قلوبهم علی المارین علیهم من شیخ و شاب و مرئة و صبي، روح البیان وایي والله ماهؤلاء باهل الملة الغراء لاکثر الله في الناس امثالهم ایاک والمصاحبة باصلحهم ولا المرور ببلادهم انتهی.

دروېش وایي: چې دا کار تر اوسه (۱۴۳۰هـ ق) په کردانو کې جریان لري مسافر چې ددوی په وطنو کې تېریږي دوی یې بندي کړي او د هغه د کور د تلیفون نمبر څندي واخلي او هغه بندي ته ووایي چې کور ته دي تلیفون وکړه چې مثلاً لس لکه روپۍ را واستوئ ورنه کردان ما وژني او د هغه بندي د ضرب و کوب او ژړا د هغه په قربانو واوري.

دروېش وایي: چې قصه د اور اچولو د خلیل الرحمن په اور کې په روح البیان روح المعاني و المظهري بل سائر المفسرین و منهم الکاشفي په دې ډول بیان کړې ده مع قلیل التفاوت في عبارات هؤلاء السادات الکرام ؒ، چې نمرود الطاغي او قوم دده اتفاق وکړی پر احراق د ابراهیم ؑ په اور سره نو دی یې په یوه خونه کې بندي کړی، نو دوی د جبل کوئي چې د یوې قریې نوم دی په عراق کې د هغه غره په لمن کې یې یو دېوال چې ارتفاع یې شپیته ګزه وه تعمیر کړی، یوه لویه دروازه یې ورکړه او نمرود امر وکړی چې کلک لرګي په دې خطیره کې اچوئ، داسې بڼې خلګو پر دابو او په شاوخوا چلول حتی یو سړی چې به مریض وُ دا وصیت به یې کاوه چې زما په روپو لرګي رانسي د ابراهیم د سوځنګ لپاره، او حتی که د یوې بڼځې قریب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به ناجوړی ؤ دې به نذر کښېښنو که زما مریض ښه سو زه به ذ ابراهیم اورته دومره اندازه لرګي راوړم، او بعضې ښځو به اورته وودل هغه بې خرڅ کړه په هغو روپو به یې لرګي رانیول د ابراهیم ؑ د اور لپاره، حتی چې یوه سپین سرې ښځه وه هغې پر ځان نذر کړی ؤ چې نار ته د ابراهیم بوتې جمع کوم وړم به یې، دې پر سر یوه اندازه بتې اخستې وه ملکه په صورت د سړي په مخه ورغله او ورته وه یې ویل چې چېرې ځې بدې؟ دې ورته وویل چې دا بتې د ابراهیم د سوځلو لپاره وړم، نو ملکې ورته وویل طول الله طریقک (خدای ﷻ دې لار اوږده کړه) وقصر خطاک (او ګامونه دې خدای ﷻ لنډ کړه) نو دا کرار کرار راهي وه او د لرګو غوټه یې پر سر وه اخیر وړې او ټرې سوه حتی ماتت عن جوعها وعطشها لعنها الله تعالی، راوي وایي چې دوابو، خرو، غوميو، آسانو وغیره د بوتو له وړلو څخه و نار ابراهیم ته منع وکړه هغه بوتې چې به یې پر بار کړه یو ګام یې نه اخستی الا البغل یعني غاتره فعاقبها بقطع النسلها، کعب الاحبار وایي کل حیوان یسعی چې اور مړ کړي مګر نه کربونې چې وزغ یې بولي، بغوي ؒ له سعید بن مسیب ؒ څخه روایت کړی دی ان رسول الله ﷺ امر بقتل الوزغ، قال ینفخ علی نار ابراهیم ؑ. او بخاري، مسلم او طبراني ټولو له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وویل اقتلوا الوزغ ولو في جوف الکعبة، او له سعید بن ابي وقاص ؓ څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام امر وکړی په قتل د وزغ وسماه فویسقا رواه مسلم، وعن ابي هریرة ؓ ان رسول الله ﷺ قال من قتل الوزغ في اول حربة (که چا قتل کړی کربونې په اوله ضربه سره) کتب له مائة حسنة وفي الثانیة دون ذالک وفي الثالثة دون ذالک رواه مسلم، ابن اسحق ؒ وایي چې یوه میاشت دا بوتې جمع کېدل، حسین کاشفي وایي که بر آن حطب روغن پاشید تا زودتر آتش بگیرد، وروسته دوی ظالمانو له څلورو طرفه څخه اور ورواچاوه د اور لمبې چې پورته سوې تر دې اندازې ورسېدې چې مرغه به په هوا، کې پردې برابر راغلی اوربه یې واخستی راشوه به سو او وه ورځې دا اوربل ؤ آخیر نمرودیان حیران وه چې ابراهیم څرنګه ور وغورځوو، ولي چې یو میل نژدې سړی نسو ورتلای، ابلیس دیو سړي په شکل کې ورته راغلی منجنیق یې ورو ښو (دا یو آله ده چې پخوا به خلګو غټه ډبره پکښې کښېښول او تاو به یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورکړی چې ایله به یې کړی د برد به څنډې په هوا سوه چې په دغه ذریعه خلګو لوی لوی قلاوې په نړولې، نو دوی هم منجنیق جوړ کړی ابراهیم ؑ یې ورپورته کړی لاسونه او پښې یې ورټرلي وه او قمیص یې څنډې وکښې په منجنیق کې یې کښېنو د آسمانو او د مځکې د ټولو ملکو ناړې سوې بلکه جمیع الخلق الا الثقلین مګر نه جن او انس صیحهٔ واحدهٔ او دا یې وویل ای ربنا ابراهیم خلیلک اورته غورځول کېږي لیس في الارض واحد یعبدک غیره فاذن لنا في نصره، فقال الله ﷻ ابراهیم خلیلي لیس لي خلیل غیره وانا الله لیس له اله غیري، نو که ده مدد (مرسته) وغوښتل له یوه څخه ستاسې یا یې خواست درته وکړی زما اجازه ده ورسره وه یې کړی وان لم یدع غیري نو زه د دده دوستیم ما ودوی سره پرېږدئ فانا اعلم بحاله، نو ابراهیم ؑ ته هغه ملکه راغله چې باد ونه یې په تصرف کې خدای ﷻ ورکړي دي، ابراهیم علیه السلام ته یې وویل که ستا خوښه وي زه به تلند باد پر دې اور مسلط کړم چې سره وه یې پاشي، ابراهیم ؑ ورته وویل لاحاجة لکم، بیا خازن المیاه ملکه ورته راغله ورته وه یې ویل که ستا خوښه وي زه به پر دې اور اوبه وپاشم مړ به یې کړم، ده ورته وویل لاحاجة الیک حسبي الله ونعم الوکیل، او له کعب الاحبار څخه روایت دی چې اخیري دعاء د ابراهیم علیه السلام دا وه (لا اله الا انت سبحانک لک الحمد ولک الملک لاشریک لک) وروسته نمرود یانو له منجنیق څخه اورته وغورځاوه، اور ته نږدې رسیده جبرئیل ؑ ورته راغلی او دا سې یې ورته وویل هل لک یا ابراهیم من حاجة؟ ابراهیم علیه السلام ورته وویل اما الیک فلا، جبرئیل ؑ ورته وویل چې خدای ﷻ نه خواست وکړه! ابراهیم علیه السلام ورته وویل حسبي من سوالي علمه بحالي.

درویش وایي: چې د خلیل الرحمن نوم ګټل په مسخره نه دی، دومره لوی لوی امتحانونو ته ضرورت لري، فعلیه الصلوة والسلام من امة محمد ﷺ.

دقیقه پوښتنه عن افکار العامة: درویش وایي چې چونکه د خلت د ابراهیم ؑ په امتحاناتو کې دې امتحانه پاته وه لکه امتحان د خازن الریاح او امتحان د خازن الماء او امتحان د جبرئیل ؑ کما مر عن قریب تفصیلها، نو خدای ﷻ د نمرود یانو ظالمانو افکار له دې څخه مصروف کړه چې اول به یې د ابراهیم علیه السلام لاس او پښې ورټرلي وای او قمیص به یې څنډې کښلی وای او د لرګو پر غونډی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به يې اينښي واى، وروسته به يې لرګو ته چار طرفه سره د روغنياتو په شالو سره اور اچولی واى، منجنيق ته به ضرورت نه واى، لکن چونکه ابراهيم علی نبينا وعليه الصلوة والسلام په مذکوره درې امتحانه کې د خلت خالصه کامياب سو، درياب د رحمت الهي جوش وکړى او خداى ﷻ داسې خطاب و اورته وکړى.

قُلْنَا يٰنَارُ كُوْنِيْ بَرْدًا وَّسَلٰمًا عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ ۝

مونږ وويل (يعني اورته د نمرود) اوسه خنک (سوړ) (د دې معنى دا نه ده چې هر سه بلکې سره د لمبو خنک سه) او د سلام معنى داده چې برد ضارو ابراهيم ته دې نه وي.

پوه سه: چې سلام مصدر دى حمل يې مبالغةً دى كما هو المشهور في زيد عدل يا په حذف د مضاف يعني ذو سلامة پر ابراهيم ، ابن عباس ؓ وايي که خداى پاک سلامًا نه واى ويلى، نو ابراهيم به له ډيره يخه مړ واى، قاضي ناصر الدين البيضاوي ؒ وايي چې په دې آيت کې مبالغات دي (۱) جعل النار المسخرة بقدرته تعالى مامورة مطيعة (۲) اقامة كوني ذات برد مقام ابردي بحذف المضاف واقامة المضاف اليه مقامه، بغوي ؒ وايي مشهوره په آثارو او اخبارو کې داده چې نسو پاته په ټوله نړۍ کې اور مګر مړ سو، نو په دغه ورځ چا له اوره نفع نه ده اخستې او که دا قول د خداى ﷻ نه واى على ابراهيم بقيت ذات برد ابدًا.

دروښ وايي: چې که څه هم اکثره تفسير د مظهري بناء دى پر تفسير د بغوي لکن په دې خبره کې يې پر بغوي اعتراض کړى دى بقوله قلت والظاهر ان النار كانت بحالها يعني محرقة (كما هو طبعها) لكنها جعلها غير موذية لابراهيم خاصة غرض يې دادى چې د دنيا نور اور پر طبع د احراق باقي ؤ ولي خداى ﷻ بردًا وايي په ابراهيم سره مقيد وګرځاوه، سدي ؒ وايي چې ملائكه ابراهيم ؑ پر فرش مخکه کښېناوه چې هورې د شېرينو اوبو چينه هم او زېبا سره ګلان د جنت هم وه، راويان وايي چې اووه ورځې ابراهيم په دغه اور کې تېرې کړې چې طعام د جنت به ملکو ورته راوړى، په صحيح روايت کې راغلي دي چې ابراهيمي وويل چې زه په ټوله ژوند کې دونه نه يم خوشاله سوى لکه د دغه اووه ورځې په اور کې د نمرود، ابن بشار وايي چې خداى ﷻ جبرئيل را واستاوه له جنت څخه يې ورېښمين قميص راوړى په ده يې واغوستى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا هغه قميص دۍ چې په ميراث يعقوب ؑ ته ورسېدی يعنې د پلار اسحق ؑ له خوا څخه او يعقوب ؑ هغه قميص سره کت کړی د يوسف ؑ په غاړه يې وځړاوه. نو يوسف ؑ چې ورونو ځاه ته واچاوه قميص يې څنډي وکښی تا چې ماښام پلار يعقوب ؑ ته په وينو رنګ وروړي چې يوسف اکله الذئب نو جبرئيل ؑ جب ته ورغلی د يوسف ؑ تعويذ يې خلاص کړی او هغه جنتي قميص يې په يوسف ؑ واغوستی.

نو جبرئيل ؑ د ابراهيم ؑ لپاره يو جنتي قالين هم راوړي وه دی يې پر کښېناوه او ملک الظل راغله سايه يې پرو کړه او جبرئيل ورته وويل چې خداى ﷻ وايي اما علمت ان النار لايحرق احبابي. نمرود د خپل قصر تر دريچه وکتل نو ګوري ابراهيم پر فرش ناست دی دوه کسه نور ورسره دي او اور شاوخوا لمبې وهي. نو نمرود ور ناړې کړې چې ابراهيم ته تر دې بل اوره راوتلای سی؟ ابراهيم عليه السلام ورته وويل نعم، نمرود ورته وويل ته که په دې اور کې پاته يې له ضرر څخه بهر ېږې؟ ابراهيم ؑ ورته وويل لا. قال نمرود فقم فاخرج منها زه هيڅ ضرر نه دررسوم، ابراهيم ملکي رخصت کړې په بل اور کې را روان ؤ را ووتی دی چې را ووتی نمرود ورته وويل من الرجل الذي معک في صورتک وقاعد الى جنبک ذالک ملک الظل ارسله ربي الي تاچې زما موانست ورسره وي. نمرود وويل اني مقرب الى ربک قربانا لما رئيت من قدرته وعزته فيما صنع بک حين ابيت عن عبادته وتوحيده، زه څلور زره غوايي ستاد الهه لپاره ذبح کوم. ابراهيم عليه السلام ورته وويل چې خداى ﷻ يې نه قبلوي چې ته پر دغه دين قائم يې، راسه ته زما دين ته رجوع وکړه نمرود ورته وويل چې سلطنت نسم پرېښولای لکن څلور زره غوايي حتمًا ذبح کوم، نو هغه غوايي نمرود ذبح کړه او په ابراهيم عليه السلام يې کار نه درلودی د بېړي دلاسه.

وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنٰهُمُ الْأَخْسَرِينَ ﴿٧٠﴾

او نمرود ډيانو و ابراهيم عليه السلام ته چم د هلاک کړی ؤ، ما دوی وګرځول ناکام چې ددوی اوزې په ابراهيم هيڅ ونه کړه. اوس نمرود خداى ﷻ غوماشي مسلطي کړې غوښې يې ځندي وخوړلې وينې يې څښلې يوه غوماشه د پرې له لارې دده مغزو ته ورسېده او دی يې هلاک کړی، وآمن له لوط ؑ چې د ابراهيم عليه السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وراره ؤ. وآمنت به ساره ایضًا وهي بنت هاران الاکبر عم ابراهیم ؑ. نو ابراهیم لد کوټي څخه د عراق ووتی مهاجرًا الی حیث امره ربه ومعه لوط وساره حتی حران ته ورسېدی، یو څو وخت دلته پاته سو بیا یې هجرت وکړی مصر ته ولاړی بیا له مصره شام ته راغلی او د السبع په نامه ښار کي یې استوګنه کول چي د فلسطین مربوط ؤ، قال في البحر قد اکثر الناس في حکایة ماجری لابراهیم علیه السلام مع نمرود والصحیح ماجاء في القرآن الکریم انتهی.

وَنَجَّيْنٰهُ وَلُوْطًا اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾

مورِ نجات ورکړی ابراهیم او لوط علیهما السلام ته د نمرود او ددې له قوم څخه په عراق کي لکه تاسي چي یې تولې قصه واورېدل، وهغې مځکي ته چي مورِ برکت اینبنی دی په هغې کي د عالمیانو لپاره چي مځکه د شام ده چي هم دنیاوي برکت علی برکت پکښې دی چي همېشه پکښې بشه کلي ده یعني هر وخت د حاجت بارانونه پر اوري او ډېري درختي پکښې سته او ډېري مېوې رودونه او یالې لري. ابی بن کعب ؓ وایي چي مبارکه یې په دې وبللې چي هورې تولي شېرینې اوبه د صخرة بیت دلاندي څخه راوځي، بغوي له قتاده څخه روایت کړی دی چي عمر بن الخطاب و کعب بن مالک ؓ ته وویل چي مدینې ته نه راځې چي ځای د هجرت د رسول الله ﷺ دی وقبره الشریف؟ فقال کعب ؓ چي ما په کتاب الله یعني تورات کي لیدلي دي یا امیر المؤمنین ان الشام کنز الله وبها کنز عباده.

دروښ وایي: چي دا د شام هم برکت دنیاوي دی او هم برکت معنوي ديني دی وعن زید بن ثابت قال قال رسول الله ﷺ طوبی للشام قلنا لای جهة ذالک (د څه جهتې څخه د طوبی د شام) قال لان ملائکة الرحمة باسط اجنحتها علیها (علیه الصلوة والسلام وویل له دې جهتې څخه چي ملکو د رحمت خلاص کړي دي وزرونه خپل پر مځکو د شام. رواه احمد والترمذي) وروی عن علي ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ الابدال (یعني چي تصرف د تولي مځکي هم د دوی په لاس کي دی) یکونون بالشام وهم اربعون رجلاً فلما مات رجل منهم ابدل الله مکانه رجلاً، یسقی بهم الغیث وینتصر بهم علی الاعداء ویصرف بهم البلاء والعذاب من اهل الشام رواه احمد (دروښ وایي: چي له هم دې سپېه دوی ابدال بولي)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې امريکايانو ډېر کوشش کاوه چې نژدې وشام ته اډه د اسرائيلي حکومت جوړه کړي تاچې ددې اډې په ذريعه شام له منځه يوسي لکن تر الی اليوم (۱۴۳۰ هـ ق) نه دي کاميابه سوي پر شام، البته فلسطين يې زېروزبر کړی ددغه اسرائيلي اډې دلاري.

وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ ؕ وَيَعْقُوْبَ نَافِلَةً ؕ

او موږ هيبه کړه و ابراهيم ته يعني ورمو کړه اسحٰق چې د ابراهيم ؑ زوی دی، او يعقوب چې د اسحٰق زوی دی او د ابراهيم لمسی دی عليهم السلام. بعض مفسرين وايي چې نافلة مصدر دی من غير لفظ الفعل السابق ای وهبنا له هبة، او مجاهد او عطاء ؒ وايي چې معنی د نافلة عطية ده، نو نافلة حال دی د اسحٰق او يعقوب دواړو څخه. ولي چې دواړه له عطايا وو څخه د خدای ﷻ دي، او حسن او ضحاک وايي چې معنی د نافلة فضلاً ده او حال ده له دواړو څخه، ولي دوی دواړه تفضل او احسان د خدای ﷻ دي، نو نصب يې پر دې تقدير حالیت او علية دواړه کېدای سي.

دروښ وايي: چې ددې تفاسيرو مآل يو دی ولي چې هبة او عطية او فضل و يوه شي ته راجع کېږي. د دروښ په عقيده هغه تفسير د نافلة چې د ابن عباس، ابی بن کعب، ابن زيد او او قتاده ؓ څخه مروي دی ډېر زېبا او په زړه پوري او د لغت سره برابر دی. ولي چې په لغت کي نفل زيادت ته وايي لکه نفلي لمونځ روژه وغيره، دوی وايي چې نافلة يوازې يعقوب ؑ دی ولي چې ابراهيم ؑ داسي دعاء کړې وه وهب لي من الصالحين هغه خواست د ابراهيم ؑ څو په اسحٰق ؑ پوره سو، او يعقوب چې ولد ولد ابراهيم دی دا خدای ﷻ زائد ترمسؤل دده ورکړی، والنافلة الزائدة. نو نافلة حال دی له يعقوب څخه فقط.

وَكُلًّا جَعَلْنَا صٰلِحِيْنَ ۝

(په کلاً کي تنوين عوض د مضاف دی ای کل واحد من هؤلاء الاربعة يعني ابراهيم، لوط، اسحٰق، يعقوب مع تفاوت) ټوله موږ ګرځولي وه له صالح بندګانو څخه چې زړونه يې صاف وه له اشتغال څخه بغير الله تعالی، او انفس يې پاک وه له رزائل نفسيه وو څخه کالبخل والحسد والکبر وغير ذالک، او متصف په اوصافو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د کمال وه من الجود والکرم والشفقة وغیرها، او بدنونه یې ککړ په ګناه نه وه د خدای ﷻ په طاعات بوخت وه بدون الریاء والسمعة.

پوه سه: چې صلاح ضد د فساد ده وکل من الضدین یتعلق بالقلب والقالب والنفس.

وَجَعَلْنٰهُمْ اَئِمَّةً يَّهْدُوْنَ بِاَمْرِنَا

ګرځولي وه موږ دوی پیشوایان د خلکو چې په دوی پسې به نورو اقتدا، کول د خیر په کارو کې (یهدون) المفعول محذوف والتقدیر یهدون الناس دوی لارښونه کول خلکو ته زموږ په امر سره چې موږ انبیاء ګرځولي وه تاچې خلکو ته مامورات او منهیات د خدای ﷻ وروښیي تاچې هغه خلک هم و درجاتو ته د کمال ورسیږي.

وَاَوْحَيْنَآ اِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرٰتِ وَاِقَامَ الصَّلٰوةِ وَاِيْتَآءَ الزَّكٰوةِ ۚ وَكَانُوْا لَنَا عٰبِدِيْنَ ۝۷۳

او موږ دوی ته وحي کړي وې د خیر د اعمالو یعني چې حسن وي من حیث العقل والنقل. لمونځ نه بې کول او زکوة د مالو بې ورکاوه، او وه دوی زموږ عبادت کونکي یعني عبادت په توحید وبدون الاشراک کما یدل علیه تقدیم الجار والمجرور علی عامله .. بیت:.

عبادت باخلاص نیت نکوست .... وګرنه چه اید زیی مغز پوست

پوه سه: چې د لفظ د اقامت تا یې حذف کړه لقیام المضاف الیه مقامها.

فائده: اقامة الصلوة هر ځای که په لفظ د مصدر او که د فعل وي او که د مشتق وي چې راسي معنی یې اداء الصلوة مع الفرائض والواجبات والسنن والمستحبات مع تعدیل الارکان وحضور الباطن. او قیام الصلوة نفس لمونځ کول دي ولو بدون تعدیل الارکان وبدون الخشوع والخضوع. ځکه فقهاء وایي چې قائمین الصلوة د هر دي او مقیمین الصلوة لږ دي او په قرآن کریم کې قیام الصلوة په منافقانو کې رغلی دی کریمه: واذا قاموا الی الصلوة قاموا کسالی الآیة.

پوه سه: چې عطف د اقام الصلوة وایتاء الزکوة پر فعل الخیرات باندې عطف د خاص دی پر عام باندې لمزید الاهتمام بشان الصلوة والزکوة لانه ورد في الحدیث الصحیح النبوي الصلوة عماد الدین والزکوة قنطرة الاسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلُوطًا اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا

پوه سه: چې لفظ د لوط منصوب دی په فعل سره چې (آتيناه) يې تفسير دی چې دې ته په نحو کې منصوب علی شريطة التفسير وايي وهو الاظهر. او بعض مفسرين وايي چې منصوب دی په اذکر مقدر سره ای اذکر لوطًا او جمله د آتيناه بدل اشتمال ده، (حكمًا وعلمًا) يعني حكمة ونبوة يا فيصله کول په منځ کې د مدعي او مدعی عليه او علمًا بالله وصفاته الكمالية كما هو شان الانبياء عليهم السلام.

وَنَجَّيْنٰهُ مِنَ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ تَّعْمَلُ الْخَبٰٓئِثَ ؕ

او ده ته مو نجات ورکړی له عذاب څخه (بحذف المضاف) د اهل د قريه چې سدوم يې نوم وُ چې لويه قريه وه له قری څخه د قوم لوط (التي تعمل الخبائث) صفت دی د قرية. والمراد تعمل اهلها الخبائث.

دروښ وايي: چې خبائث يې په صيغه د جمع راوړه ولي چې دوی ډېر خبيث کارونه کول. چې اعظم د خبائثو اتيان الرجال في الادبار او په مسافرو پسې بې ډيري غوږ ځولې او په کوترو به يې بازی کولې وغير ذالک.

اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمَ سَوْءٍ فٰسِقِيْنَ ۙ﴿۷۴﴾

په تحقيق دوی وه قوم د بدو يعني بد کارونه يې کوله.

پوه سه: چې اضافت د قوم سوء اضافت دی د موصوف و صفته ته ولا يخفی ما فيه المبالغة بجعل السوء صفة لهم او په عين حال فاسقين ای خارجين عن حكم الله منهمكين في الكفر والضلال هم وه.

وَاَدْخَلْنٰهُ فِيْ رَحْمَتِنَا ؕ اِنَّهٗ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾

او مونږ لوط داخل کړی په اهل رحمت کې زمونږ (بحذف المضاف) په تحقيق وُ لوط له صالح بندګانو څخه د خدای ﷻ ای الكاملين في الصلاح والكامل في الصلاح من لا يكون فيه شئ من الفساد الذي هو ضد الصلاح فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنُوحًا إِذْ نَادٰى

او نوح ؑ هغه وخت چې ده ته دلی وکړه یعنې خواست یې وکړی د نزول د بلا پر قوم دده او د هلاک د هغو بالاستیصال (نوحًا) عطف دی پر لوطًا. والتقدیر آتینا لوطًا ونوحًا حکمًا وعلمًا، نو دا خواست هلته ده وکړی چې خدای ﷻ ده ته وویل لن یؤمن من قومک الا من قد آمن، نو ده داسې خواست وکړی (رب لاتذر علی الارض من الکافرین دیارًا.

پوه سه: چې نوحًا که عطف سې پر لوطًا باندې نو اذ نادی ظرف منصوب محلاً دی په اذکر مقدر سره، نو اذ نادی بدل اشتمال دی له اذکر نوحًا څخه.

مِنْ قَبْلُ فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ فَنَجَّيْنٰهُ وَاَهْلَهٗ مِنَ الْكَرْبِ الْعَظِيْمِ ۝

موږ یې خواست قبول کړی یعنې چې قوم مو په طوفان ورهلاک کړی، نو نجات ورکړی موږ ده ته او اهل ته دده (چې سام، حام او یافث وه او د هغو زوجات چې دده سره په کښتی کې سپاره وه) له لویه غمه څخه، ابن عباس ؓ وایي مراد غرق دی چې دی او اهل نه سوه غرق، او بل تکذیب د قوم چې دا دواړه لوی غمونه وه.

پوه سه: چې تاریخ قدیم وایي چې نوح ؑ اطول د انبیاؤ عمرًا واشدهم بلاءً چې نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله یې قوم ته تبلیغ کړی دی او قوم یې دومره ازارونه ورورسول چې ګاهې به یې دی دومره وواهه چې بیهوشه سو په کراسته کې به یې وپیچی په خونه که به یې واچاوه ددوی خیال به داؤ چې مړ سو دی چې به پر هوش راغلی بیا به یې قوم ته تبلیغ شروع کړی، شروع کړی، او ابن اسحاق صاحب المغازي وایي چې ګاهې به قوم دی تینګ کړی په غاړه کې به یې تناؤ ورواچاوه خپه به یې کړی بیهوشه به سو داسې به یې ویل رب اغفر لقومي فانهم لایعلمون.

وَنَصَرْنٰهُ مِنَ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

موږ دده سره کومک وکړی (ونجیناه) دا متعلق د من دی، د هغه قوم څخه یعنې د نوح علیه السلام چې دوی تکذیب کاوه د ایاتو زمونږ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمَ سَوْءٍ فَأَغْرَقْنَاهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٧٧﴾

دوی قوم د بلدو وه. و قد مر تفسیر قوم سوء فتذکر. نو دوی غرق کړه مونږ تولـه پـه استیصال او ډلیزه توګه اجمعین د پاره د تاکید دی یعني په طوفان سره.

فائده: پوه سه چي دعا په خلوص قلب وي لکه انبیاء علیهم السلام و کمل الاولیاء رحمهم الله دعاد خدای په دربار کي مقرون بالاجابة کړي او دغه رنګه دعاد محیور هو من چي په حالت کي د اضطرار خدای ته خواست وکړي کریمه، امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء، په صحیح روایت سره ثابته ده چي زید بن ثابت رضي الله عنه د مکي څخه د طائف و خواته راهي وو چي یو بل سړی ورسره ملګری سو. چي منافق وو زید رضي الله عنه نه ؤ په خبر ظاهر حال یې د مسلمان ؤ. نو د ورځي په تندخوي کي په یوه خرابه سره تنوتل دواړه بهیده سوه منافق نالیږه پر بهیده زید حمله وکړه او دواړه لاسونه یې ورو ترڅ او چاره یې را وکښل چي مړیې کړي زید دا قدر وویل. یا رحمن، اعني زما سره کومک وکړه. چي د باندي نعره وسوه چي. ویحک لاتقتله د منافق خیال دا سو چي د باندي سړي دا نعره وکړه. نو دی د باندي ورووتی څوک نه ؤ بهرته راغلی بیا چي د زما د قتل قصد وکړی بیا ورته نعره وسوه بیا منافق د باندي ورووتی څوک نه ؤ، دریمه پلا چي دی خرابې ته داخل یو سړی پر آس سپور پسي را ورسېدی سر یې په توره ځندي پرې کړی او د زید لاسونه یې ورخلاص کړه، زید وایي چي دیې سړي ماته وویل چي زه جبرئیل یم زه په (۷) آسمان کي وم چي تا دا دعاء وکړه. یا رحمن دعني. خدای ﷻ پر ما امر وکړی. ادرک عبدي. یعني ځان ورسوه او زما بنده د دښمن څخه خلاص کړه دا خبره یې وکړه او غائب سو.

پوښتنه: زید بن ثابت رضي الله عنه څو نبي نه ؤ نو څرنګه جبرئیل ده ولیدی او خبري یې وسره وکړي؟

ځواب: امام ابو حامد محمد الغزالي په خپل کتاب کي (المنقذ من الضلال) کي وایي چي صوفیه کرام رحمهم الله په تصفیه د باطن د نفس و هواء څخه او په پاکي د زړو د ماوراء الله څخه او په سبب د دوام الحضور بقلوبهم مع الله سره ملائکة په صورت بشري لېدلای سي یا ځان ورښولی یا نه ورښولی. مقوله شد فرشته دیدن از شان فرشته صفتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا خبره به هغه څوک ونه منې چې د حب الشهوات او حب الجاه و الجلال او حب الدرهم و الدينار په درياب کې غرق وي شيخ سعدي ؒ الباري وايي ،تو گوي آنچه داني سخن سودمند. اگر هيچکس رانيايد پسند.

فائده: د دې آيت څخه ،فنادیٰ ربه الی قوله فنجيناه، دا معلومه سوه چې دعاء او درخواست په دربار کې د رب العزة عظيم الرحمة سبب دی د اجابت و قد ورد في الحديث الصحيح الدعاء مخ العبادة، وايضًا ورد ادعوا الله وانتم مستيقنون بالاجابة، يعني في الدنيا اما باعطاء ما يدعوه او باعطاء حسن البدل عنه او بدفع الشر العظيم عنه، واما في الآخرة باعطاء المنازل الرفيعة والدليل على اجابة الدعاء ان الرحمة عامة والقدرة تامة، والعلم بحال الداعي شامل فما لقبول الدعاء مانع. وجيوش الله كثيرة په صحيح روايت کې راغلي دي چې د سفينة ؓ په نامه چې د عليه الصلوة والسلام ازاد شده مريى ؤ د روم په غزاء کې د لښکر لار په سبب د ديو عارض څنډې ورکه سوه، نو دی روان ؤ په دښت او غرو کې، نو ديو غره له خوا يوه شپه يو زمری راشوه سو چې ستر کې يې لکه څراغان برېښېدې، نو ده پر ږغ کړه انا سفينة مولى رسول الله ﷺ وكان من امر كيت وكيت، يعني خپل حال يې ورته بيان کړی، نو زمری ورته رانژدې کېدی کرار کرار د صلح پر ډول لکه د درندګانو چې عادت دی لکې يې ورته بنورول، دده و بغل ته ودرېدی، بيا زمری دمخه سو او سفينه ؓ ته يې وکتل يعني په لسان حال يې دا ورته وويل چې په ما پسې راځه زمری دمخه سفينه ؓ په پسې حتى چې د لښکر او ازونه يې واورېدل، زمری ودرېدی ده ته يې وکتل، گويا په زبان حال يې ورته وويل چې گم شده لښکر ته راورسېدې، وروسته زمري دده پر پښو ژبه تېره کړه يعني قدم بوسي د رخصت يې وکړه څنډي راهي سو ... بيت:

محال است چون دوست دارد ترا ..... که در دست دشمن گذارد ترا

شيخ سعدي ؒ وايي:

يکې ديدم از عرصه رود بار ..... که پيش آمدم بر پلنگی سوار
چنان هول ازان حال برمن نشست ..... که ترسيدنم پای رفتن گرفت
تبسم کنان دست بر لب گرفت ..... که سعدی مدار آنچه ديدی شگفت
توهم گردن از حکم داور مپيچ ..... که گردن نه پيچد ز حکم تو هيچ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حافظ شيرازي ؒ وايي:

مرا درين ظلمات آنکه رهنمائی کرد ..... دعايی نيم شبی وگريه سحری

مولانا جلال الدين الرومي قدس سره وايي:

آن نياز مريمی بود ست ودرد ..... که چنان طفلی سخن آغاز کرد

هر کجا دردی بود دوا آنجا رود ..... هر کجا پستيت آب آنجا رود

تانه روید آسمان کی خندد چمن ..... تانه گريد طفل کی جوشد لبن

وَدَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ اِذْ يَحْكُمٰنِ فِي الْحَرْثِ

دروښ وايي: چې دد ې آيت ترکيب او بيان د اعراب يې هغسې دی، ونوحًا اذنادی آه، کمامر عنقريب.

پوه سه: چې عبدالله بن مسعود او عبدالله ابن عباس ؓ وايي چې له حرث څخه مراد د انګور تاکان دي چې عنقو يې ښکاره کړي يعني نازک وابښکي د انګورو يې ښکاره کړي. او قتاده ؒ وايي چې د غنمو خسيل ؤ وهو الاشهر.

اِذْ نَفَشَتْ فِيْهِ غَنَمُ الْقَوْمِ ۚ وَكُنَّا لِحُكْمِهِمْ شٰهِدِيْنَ ۝

(اذ) ظرف دی ليحکمان يعني يعني د انګورو باغ يا د غنمو کښت پولی ؤ پسو، مېږو او بزو د يو قوم يعني د شپې او شپانه هم نه ؤ ورسره کذا في القاموس او په نهايه کې چې د يو کتاب نوم دی وايي (لعنت) نفشت السائمة اذا رعبت ليلاً بلا راع وهلمت اذا رعت نهارًا (وکنا لحکمهم) او موږ ؤ د حکم ددوی.

پوه سه: چې ضمير د جمع راجع دی و داؤد او سليمان او متجاکمينو ته، او فراء ؒ وايي چې مراد له جمع څخه داؤد او سليمان عليهما السلام دي لانه قد يذکر الجمع ويراد منه اثنان کما في قوله تعالى فان کان له (اى للميت) اخوة يعني دوه وي بالاجماع فلامه السدس (شٰهدين) اى عالمين.

فَفَهَّمْنٰهَا سُلَيْمٰنَ ۚ

نو الهام وکړی د حکوت يا د فتوی ددې دعوې.

پوه سه: چې ضمير مؤنث يا راجع دی و حکومت يا فتوی ته چې له مقام څخه د تحاکم فهمېږي، والمراد ان المرضی لله هو فتوی سليمان ؑ، نو چې حکم د سلميان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داؤد ؑ وارد ېدی که څه هم داؤد ؑ فیصله بل ډول کړې وه لکن خپل فیصله یې فسخ کړه او د سلمیان ؑ پر فتوی یې فیصله وکړه، بغوي ؒ وایي چې ابن عباس او قتاده ؒ وایي چې له فسخ څخه د داؤد ؑ د حکم خپل دا معلومه سوه چې حاکم چې مجتهد وي او رایه یې بدله سي د مخه تر امضاء د حکم وده ته روا ده بلکې لازمه ده چې د خپل سابق حکم څخه رجوع وکړي کما فعل داؤد ؑ مع کونه نبیًا وزبور کتابه او سلیمان ؑ په دغه وخت چې د دوولسو یادیارلسو کالو ؤ، او داؤد ؑ دومره تقوی داره ؤ چې له بیت المال څخه یې تنخوا نه اخستل بلکی د عمل الیدین له مبلغ څخه بې خورک کاوه یعني زغري یې جوړولې او هغه یې خرڅولې.

روی البخاري عن ابی هریره ؓ عن النبي ﷺ چې داؤد ؑ ته خدای ﷻ قرآن یعني زبور دومره سپک کړی ؤ چې یو خواته به ېدی تلی نو نوکر ته به یې وویل چې آس څین کړه چې نوکر به لا آس نه ؤ څین کړی ده به زبور ختم کړی.

دروښ وایي: چې فسخ کول د خپل حکم و حکم ته د دوولس کلن زوی یو بناخ دده د غایت تقوی ؤ، ابن عباس. قتاده او زهري ؒ وایي چې داؤد ؑ ته دوه کسه ورغله چې یو صاحب الزرع ؤ او بل صاحب الغنم ؤ صاحب الزرع ورته وویل چې ددې سړي پسونه د شپې زما په کښت کې سوي دي او کښت یې خواپاکی خوړلی دی (دروښ وایي: چې داؤد ؑ چې د زرع او د پسو قیمت سره د سنجاوه یو شی ؤ، نو پسونه یې ټوله و صاحب الزرع ته ورکړه یعني حکم یې وکړی، دا دوه کسه چې تر محکمې د داؤد ؑ دباندې راووتل، سلیمان ؑ ورته وویل چې زما پلار څه فیصله وکړه ستاسي تر منځ؟ هغو د داؤد ؑ فیصله ورته بیان کړه، سلیمان ؑ ورته وویل که فیصله زما په لاس وای ما بل ډول فیصله کوله، او په بل روایت کې راغلي دي چې سلیمان ؑ وویل غیر هذا کان ارفق بالفریقین، دا خبره پسو والا و داؤد ؑ ته ورسول، نو داؤد ؑ سلیمان ؑ راغوښتی او داسي یې ورته وویل بحق الابوة والبنوة، ته راته ووایه چې ارفق فیصله څرنګه ده؟ سلیمان ؑ ورته وویل چې پسونه موقت و صاحب الزرع ته ورکړه چې شیدې، مستې، کوچې او غوري، وړې او نوي وري او مرغومي راوړي هغه یې هم د صاحب الزرع، او صاحب د غنمو یعني پسو پر کښت د صاحب الزرع د بزګر په شکل مقرر کړه چې کښت یې اوبه وي او روزي به یې تر څو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې زرع شنه سوه او هغه حد ته ورسېدله چې صاحب د پسو پوولې وه، بيا دې پسونه و خپل مالک ته ورکړي او کښت دې خپل مالک ته ورکړي.

دروېش وايي: چې د سليمان ؑ ددې فيصلې سره دا دی چې د داوٗد ؑ په فيصله کې پسو والا من کل الوجوه په تاوان کې ؤ. ولې ټوله پسونه يې له لاسه ووتل او د صاحب الزرع کښت چې خسيل ؤ که څه هم پسو ټوله خوړلی ؤ. خو بيرته راشين کېدی او غله يې ورته کوله. نو د صاحب الزرع دوې ګټې کېدلې هم پسونه او هم غله فافهم.

دروېش وايي: چې پوهان يو مثال وايي (توانګري بهتر است نه بمال) يعنې توانګري د زړه ښه ده نه د مال (وبزرګی بعقل است نه به سال)

دروېش وايي: چې مظهري ؒ له مجاهد ؒ څخه نقل کړی دی چې دی وايي قول د سليمان ؑ صلح وه بين المتخاصمين او ما فعله داوٗد ؑ حکم ؤ والصلح خير انتهى.

دروېش وايي: چې قول د سليمان ؑ کما مر پورته رکول د حق د پسو والا ؤ لا صلح او بيا مظهري ؒ يو بل قول په قيل سره نقل کړی دی چې سليمان او داوٗد ؑ دواړه قول په وحي سره وکړی لکن قول د سليمان ؑ ناسخ د قول د ده وګرځېدی انتهى.

دروېش وايي: وهذا بعيد جدًا لانه لم يقل احد من المفسرين والمحدثين چې سليمان ؑ په دوولس کلنۍ يا دیارلس کلنۍ کې نبوي ؤ، او د قرآن مبارک له عبارت څخه هم دا فهميږي چې دی نبي نه ؤ د فيصلې په وخت کې حيث قال عزوجل ففهمناها سليمان. او مظهري په خپله تفسير د دغه عبارت قرآني په الهمناها سره کړې. نو له هغه څخه دا واضح سوه چې قول د سليمان ؑ وحي نه وې الهام الهي ؤ، نو داوٗد ؑ خو نبي ؤ د ده قول چې وحي سي، نو د سليمان ؑ الهام يې څرنګه ناسخ کېدای سي. او بله خبره داده چې وحي قبل العمل به څرنګه نسخ روا وي؟ بلکې صحيح داده لکه اکثره مفسرين چې وايي چې حکم د داوٗد او سليمان عليهما السلام دواړه په اجتهاد سره ؤ لکن داوٗد ؑ په اجتهاد کې سهوه سو او سليمان ؑ حق ته ورسېدی.

دروېش وايي: چې مظهري ؒ هم همدا خبره تائيد کړې ده بقوله والاظهر ان حکم کليهما کان بالاجتهاد آه، نو نقل د اقوالو ضعيفه ووته څه ضرورت ؤ بېله اضطرابه د متعلمينو د ده د تفسير والله اعلم بالصواب.

مسئله: بعض علماء وايي چې انبياؤ ته اجتهاد روا نه دی، ولې چې انبياء ؑ له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اجتهاد څخه مستغني دي په وحي سره لکن صحيح داده لکه چي اکثره فقهاء وايي چي که په انتظار د وحي موضوع د لاسه وتل کما في نحن فيه من خصومة اهل الزرع ومالک الغنم، نو اجتهاد ورته روا دی والا لا.

مسئله: نبي چي اجتهاد وکړي خطاء يې ممکنه ده، بعض علماء وايي چي خطاء پر انبياء نه ده روا، لکن صحيح داده چي خطاء خو روا ده لکن لايقرون على الخطاء، بل ينبههم الله على الخطاء، وليس شان الانبياء في الخطاء كسائر المجتهدين من ائمة الامة بلکه ائمة الامة که اجتهاد وکړي او صواب عند الله ته ورسيږي لهم اجران وان اخطاؤا لهم اجر واحد کريمه: لايكلف الله نفسًا الا وسعها.

وَكُلًّا اٰتَيْنَا حُكْمًا وَّعِلْمًا

او هر يوه ته د داؤد او سليمان عليهما السلام موږ وکړی حکم په منځ کي د خصمًا او علم يا په وحي سره لکه داؤد ته لکن نه په دې موضوع کي، ولي په دې موضوع کي خو د داؤد[۴] حکم هم اجتهاد ؤ، يا په الهام سره لکه حکم د سليمان په موجوده موضوع کي.

مسئله: بعض علماء وايي چي هر مجتهد مصيب دی او حق عند الله په وخت کي د اختلاف د مجتهدينو متعدد دی، او دا دلله په دغه آيت سره دليل وايي حيث مدح الله کليهما بقوله وکلا اتيناها آه، لکن صحيح داده چي په دې آيت دوی لره دليل نسته بلکي دا آيت پر دوی د ملامتی دليل دی، ولي خدای ﷻ وويل ففهمناها سليمان، تخصيص د سليمان[۴] يې وکړی، دليل پر دې دی چي صواب اجتهاد د سليمان دون اجتهاد داؤد[۴]. نو چېرې دی تصويب د هر مجتهد او دغه کسان چي هر مجتهد پر صواب بولي په حديث سره چي روايت يې بخاري او مسلم کړی دی هم دليل وايي چي عمر بن العاص[۱۵] وايي چي ما واورېده له عليه الصلوة والسلام څخه چي يو حاکم چي خپل اجتهاد په کار واچوي فاصاب فله اجران، او که خطاوتی فله اجر واحد، او د دې حديث روايت ابو داؤد، احمد، ابن ماجه او نسائي له ابو هريره[۱۶] کړی دی او ترمذي له عمرو بن العاص[۱۵] څخه کړی دی کنامر، دا هم د دوی دليل نه دی بلکي پر دوی دليل دی، لانه صريح في ان المجتهد يصيب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ويخطئ وحين كونه على خطاء ماجورًا باجر واحد لايدل على كونه مصيبًا لكون الصواب والخطاء ضدان وليس مراده صلى الله عليه وسلم انه يؤجر على خطاء بل يؤجر على بذل اجتهاده في طلب الحق والصواب وهذا الجهد عبادة فيؤجر على تلك العبادة والخطاء عنه مرفوع اذ لم ينل جهده ولا يكلف الله نفسًا الا وسعها وليس للانسان الا ماسعى وعند الاصابة له اجران اجر الاجتهاد وبذل مجهوده واجر نيل الصواب والله اعلم بالصواب.

روح البيان په مسئله کي د اجتهاد د انبياء عليهم السلام وايي چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي العلماء ورثة الانبياء، فيلزم ان يكون درجة الاجتهاد ثابتة للانبياء ليرثوا العلماء منهم ذالک الاجتهاد، والاجتهاد جائز للانبياء عند اهل السنة والجماعة ليدركوا ثواب المجتهدين.

دروښ وايي: چي روح المعاني وايي چي هر مجتهد مصيب دی دا قول دی د جمهور المتكلمين. كالاشعري والقاضي بيضاوي ؒ. ومن المعتزلة كابى الهزيل والجبائي واتباعهم. ونقل عن الائمة الاربعة يعني امام ابو حنيفة والشافعي ومالک واحمد بن حنبل ؒ. القول بتصويب كل مجتهد آه. قلت هذا بعيد جدًا ولي چي ائمه اربعه ؒ قائل په تصويب د هر مجتهد سي، نو اتباع ددوی ولي عمومًا پر دې دي چي مجتهد يخطئ ويصيب مع ان دليل المقلد هو قول مجتهد، والقرآن والحديث النبوي ايضًا يدلان كما مر على ان المجتهد يخطئ ويصيب فافهم والله اعلم.

دروښ وايي: چي لکه چي دمخه اختلاف د داؤد او د سليمان عليهما السلام په اجتهاد کي تېر سو. بل اختلاف اجتهاد دی هم په منځ کي ددوی راغلی دی. او بيا اجتهاد د سليمان ؑ کاميابه سوی دی وهو ماجاء في حديث رواه البخاري ومسلم عن ابي هريرة ؓ قال سمعت رسول الله ﷺ يقول چي دوې ښځي وې چي د هري يوې سره خپل کوچنی زوی ورسره وۀ، نو يو لېوه راغلی د يوې ښځي کوچنی زوی يې حمله کړی (دروښ وايي چي داسي معلوميږي چي له اهل بدو څخه به وي) نو هغې ښځي چي زوی يې لېوه يوړی په هغه بلې ښځي يې دعوه وکړه چي ستا زوی لېوه يوړی دا موجود زما زوی دی، خير ددې فيصله يې و داؤد ؑ ته ورورړه، او هغه مشره ښځه چي زوی يې لېوه وړی وۀ ډېره په ژړه کي چالاکه وه، نو د داؤد ؑ دا اجتهاد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سو چې دا پر حق ده، نو يې حکم وکړی چې پاته کوچنی مشري ته ورکړئ. دوی چې راوو تلې سلیمان ؑ ورته وویل چې فیصله د چا په حق کې وسوه؟ هغې مشرې ښځې ورته وویل چې کوچنی مې ځندې وګنې، سلیمان ؑ په الهام الهي ورته وویل چې چاره راوړئ زه يې درنیمی کوم فقالت الصغری لاتفعل یرحمک الله هو ابنها. چې دا کوچنی د کبری زوی دی، نو چونکه هلک د صغری زوی ؤ في الحقیقة که څه هم داؤد ؑ فیصله په حق کې د کبری کړې وه (د تقسیم په خبرو کې کبری ساکته وه) نود صغری تقسیم او مرګ د زوی نه ؤ پېرزو، نو له دې کبله يې اقرار وکړی چې زوی د کبر دی، نو سلیمان ؑ هلک و صغری ته ورکړی چې دا رشتیا ستا زوی دی چې پر مرګ دې نه دی پېرزو انتهی الحدیث په پښتو ژباړه.

وَسَخَّرْنَا مَعَ دَاوُدَ الْجِبَالَ يُسَبِّحْنَ وَالطَّيْرَ

موږ مسخر کړي دي د داؤد ؑ سره غرونه، چې غږ وبه دده تسبیح ویله، یعني چې داؤد ؑ ته به تسبیح څه فتور ورپېښ سو غږ وبه تسبیح ورسره شروع کړه ده ته به لویه خوشالي پیدا سوه.

پوه سه: چې کلمه د مع متعلق په سخرنا پورې یا په یسبحن پورې ده، مراد له تسبیح څخه تسبیح قولي ده چې بل چا به هم اورېدې لکه په لاس کې د رسول کریم ﷺ چې شګو تسبیح ویل او خلګو هم واورېده کما جاء في الحدیث النبوي (والطیر) او مرغان. عطف دی پر جبال یا مفعول معه دی.

نکته: جبال يې تر طیر دمخه کړه، ولي چې تسخیر او تسبیح د غږ و اعجب ده. ولي مرغانو خو ظاهراً يو څه اوازونه کوي که څه هم څوک عموماً نه په پوهېږي او له جبال څخه خو هیڅ صوت نه صادرېږي.

پوه سه: چې جمله د یسبحن یا حال ده له جبال څخه او یا استیناف دی بیان د وجه د تسخیر دی یعني استیناف بیاني دی، حسین کاشفي وایي مؤمن کامل باید که اعتقاد کند برین وجه که کوهها و مرغان بموافقت داؤد ؑ بر وجهی تسبیح می گفتند که همه سامعان را ترکیب حروف و کلمات آن مفهوم میشده و این معنی از قدرت الهی غریب نیست، یک شاعر محقق میگوید:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هر کجا قدرتش علم افراخت ..... از غرائب هر آنچه خواست بساخت
قدرتی را که نیست نقصانش ..... کارها جمله هست اسانش

دروښ وايي: چې هر څوک چې له تسبیح قولي مسموعي څخه د حجر او طیرد داؤد علیه السلام منکر وي، هغه له قدرت عظیم څخه د خدای ﷻ او د قرآن څخه منکر دی.

وَكُنَّا فٰعِلِيْنَ ﴿۷۹﴾

موږ یو فاعل د تفهیم او تسبیح اوغرو او د مرغانو.

دروښ وايي: چې عجب خبره خو داده چې د جمادات چې په صنعت سره د کافرانو جوړ سوي دي لکه راډیو، تلویزون، تلګراف او نور فاحشاتي آلات او تر تیولو رائج شی لکه موبائل چې د هر نر او ښځې په جیب کې دی او د هر لوی او کوچنی په پوهیږي، او د خالق العالم په قدرت د غرو او مرغانو د تسبیح د داؤد سره د حیرت یا د انکار په ستر کو ګوري، روح المعاني وايي تذیل او تعلیل دی د ماقبل ای من شاننا ان نفعل امثاله فلیس ذالک یبدع وان کان بدیعًا عندکم.

وَعَلَّمْنٰهُ صَنْعَةَ لَبُوْسٍ

موږ ښوولی ؤ داؤد ؑ ته جوړول د لبوس.

پوه سه: چې لبوس په لغت کې نوم دی د هر اغوستونکي شي او په اسلحه وو کې استعمالیږي، مراد څنډي دلته زغري دي چې د جنګ په وخت کې استعمالیږي (یعني په پخوانی زمانه کې)

دروښ وايي: چې اول واضع او جوړونکی د زغرو په قول د قتاده ؒ داؤد ؑ دی وفي الحدیث الصحیح کان داؤد ؑ لایاکل الا من عمل یدیه.

لَكُمْ لِتُحْصِنَكُمْ مِّنْ بَأْسِكُمْ

(لکم یا معشر القریش في جملة الناس) چې تاسي وساتي یعني من حرب عدوکم. او سدي ؒ وایي من وقع وتاثیر السلاح من السیف وغیره في ابدانکم.

پوه سه: چې اهل القراءة السبع، ابو جعفر، ابن عامر، حفص او یعقوب ؒ (لتحصنکم) په تاء سره وایي وضمیر الفاعل المؤنث راجع دی یا وصنعة ته یا و لبوس ته په تاویل د زروع. او باقي قراء یې په یاء تحتانیه سره وایي، وضمیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الفاعل راجع الى داؤد ؑ.

درویش وایي: چي صنعه د زغرو معجزه وه د داؤد ؑ په دې سبب چي هیڅ آلت نه مترکه، نه سندان او نه اورته ضرورت ؤ، کریمه: والنا له الحدید ان اعمل سابغات الآیة.

تاریخ قدیم وایي چي لقمان حکیم چي د داؤد ؑ شاګرد ؤ په دې صنعت کي به یې فکر واهه چي داؤد ؑ دا څه شی جوړوي ولي چي تر اوسه یې نه ؤ لیدلی، ګاهي به یې فکر واهه چي پوښتنه ځندي وکړه بیا به برته ساکت سو چي اخیر به پخپله داؤد ؑ د دې شي سر بیان کړي، نو داؤد ؑ چي زغره پوره کړه او وایه غوستل، نو یې وویل نعم ادات الحرب، نو لقمان یې بې پوښتنه په حکمت او فائده پوه سو، نو یې داسي وویل ان من الحکمة الصمت (یعني حکمت دادی چي سړی پټه خوله اوسي) مقوله: پوهان وایي چي که څه هم خبري سپین زر دي لکن صمت بیا هم سره زر دي

اګر بسیار دانی اندکی ګوی ..... یکی راصد مګو صدرا یکی ګو

فائده: له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي ټوله صنائع په خلق او تعلیم د خدای ﷻ دي اول مرة.

فَهَلْ أَنْتُمْ شَاكِرُونَ ﴿٨٠﴾

نو نه یاست تاسي یا اهل مکة وغیر کم د دې نعمت د الة الدروع، استفهام د ایجاب د شکر دی پر ټولو خلقو یعني فاشکروا انعم الله کلها التي من جملتها نعمة الدروع التي مرت فائدتها آنفًا.

پوښتنه: باعث پر داؤد ؑ څه ؤ چي دا صنعت یې په کار واچاوه؟

خواب: داؤد ؑ یوه ورځ صحراء ته ووتی چي داسي سړی پیدا کړي چي دی یعني داؤد ؑ نه پېژني تا چي دی پوښتنه ځندي وکړي د خپل حال د حکمرانی یعني که څه عیب او خلل زما په حکمرانی کي ؤ هغه سړی به یې راته په ګوته کړي او زه به یې دفع وکړم، نو په صحراء کي یو نابلده سړی په مخه ورغلی یعني جبرئیل ؑ په صورت د انسان چي ده نه وپېژندی چي دا جبرئیل ؑ دی، کیف تری سیرة داؤد في مملکته، فقال جبرئیل نعم العبد داؤد لولا ان فیه خصلة واحدة، داؤد ؑ ورته وویل چي هغه خصلت څه شی دی؟ جبرئیل ورته وویل چي ماته خبر را رسېدلی دی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی له بیت المال څخه تنخواه اخلي، وليس شئ افضل من ان ياكل الرجل من كد (د تكلف څخه) يده، نو داؤد ؑ چې دا خبره د جبرئيل واورېده له خدای ﷻ څخه يې خواست وکړی ان يجعل رزقه من كد يده، قال الله تعالى فالنا الحديد الى اخير الآية، او صنعت د ذروع يې ورو ښو، نو زغري به يې جوړولې او هغه به يې خرڅولې وياكل هو و عياله من ذالک.

تفريع: د فقهي شريفي په کتابو کي وايي چې په بيت المال کي حق د تنخواه حکمرانانو سته او حق د علماؤ او مدرسينو سته او حق د ساداتو کرامو سته، نو د مذکوره کسانو لپاره اکل د بيت المال څخه حرام نه دی عند اهل الشريعة والحقيقة لکن ترک يې افضل دی لاهل التقوى كما يدل عليه قصة داؤد ؑ. حافظ شيرازي ؒ:

فقيه مدرسه ای مست بود و فتوی داد ... که می حرام ولی به زمال اوقاف است

شرح البيت: له فقيه مدرسه څخه مراد هغه مست دی چې په شراب و د غفلت او د حب الدنيا او اعتماد پر تنخواه د مدرسې يې تکيه او اعتماد کړی وي، او لفظ د (دی) معنی دی شب برای شپه فتوی ورکړي، د لفظ می معنی شراب دی او مراد څندي عشق الهي دی يعني فقيه مدرسه دا عشق حرام وباله لکن حال داغسي نه دی لکه ده چې فتوی ورکړه، ولي چې عشق حقيقي او اعتماد التام پر خدای ﷻ نبه دی تر اکل او خوراک د مال وقف. او تکيه پر تنخواه د مدرسې يا پر زکواة د مقتديانو، ولي د دوی سترګي د مخلوق و خواته کړې دي.

فائده: د انبياء ؑ قبل النبوة وبعدها کسبونه يې کول او د عمل اليدين نفقه په خوړله (۱) د داؤد ؑ حرفت او کسب د خدای ﷻ په قرآن کي ذکر کړی (۲) ادريس ؑ خياط ؤ (۳) او نبينا ﷺ دمخه تر نبوت د مکې والو پسونه په اجرت ورپوول كما في البخاري كنت ارعى الغنم لاهل مكة على قراريط او كما قال. وروسته تر نبوت عليه الصلوة والسلام کالي په خپله ګنډله په کور کي، وفي الحديث عمل الابرار من الرجال الخياطة وفي الحديث ما من نبي الا وقد رعى الغنم (۴) نوح ؑ نجار ؤ (۵) ابراهيم ؑ بزاز ؤ، او په حديث شريف کي راغلي دي چې که جنتيانو تجارت کولای بزازي به يې کولای، او که دوزخيانو تجارت کولای صرافي به يې کولای، او په بل نامه د حوالو کاروبار به يې کولای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۶) زمونږ نبيکه آدم عليه السلام کالي و دل چي خامک يې بولي (۷) سليمان عليه السلام سره دانس او جن د سلطنته تو کړی يا غلبېلونه به يې جوړول او خرڅول به يې ويا کل من ثمنه لامن بيت المال (۸) او موسی و شعيب عليهما السلام د خلګو د پسو د پوونې مزدوري کول.

مسئله: د انبياء عليهم السلام نومان ددوی د اکسابو به سپکاوی نه وايي والا يخاف عليه الکفر نعوذ بالله من ذالک.

پوه سه: چي افضل د کسبو جهاد في سبيل الله دی و کان حرفة رسول الله ﷺ بعد النبوة و الهجرة، ثم التجارة بشرط الامانة، ثم الحراثة يعني کښت کاري ثم الصناعة کما في المختار و التحفة.

وَلِسُلَيْمٰنَ الرِّيْحَ عَاصِفَةً

دا جمله عطف ده پر (مع داؤد) و المعنی و سخرنا لسليمان الريح.

پوښتنه: د تخسير سره د داؤد يې مع لفظ راوړی، او د تسخير سره د سليمان يې لام راوړی نکته يې څه ده؟

ځواب: لپاره د فرق بين السخيرين من التفاوت، ولي چي تسخير د سليمان ريح وه و غيرها کان بالانقياد الکلي له و کونه امرًا عليها. و تسخير الجبال و طير فلم يکن بهذه المثابة ای الامرية عليها بل بطريق التبعية له و الاقتداء به في عبادة التسبيح و شتان بينهما فافهم (عاصفة) حال من الريح (چي مؤنث سماعي دی) يعني تند تېز رفتاره چي مسافت بعيده په مدت قصيره کي قطع کوي، کريمه: غدوها سحر (يعني له سهار څخه تر غرمې پورې ديوې مياشتي مزل يې پر مخکه قطع کاوه) ورواحها شهره (او له زواله تر لمر لوېدلو پورې يې د يوې مياشتي مزل قطع کاوه)

سوال: په قرآن مبارک کي داسي هم راغلي دي (رخاء) چي ضد د عاصفة دی؟

ځواب: د باد کرار والی او تند والی د سليمان عليه السلام په اراده وو.

دروښ وايي: چي حال د تخت سليماني حال د طيارا تو دی په اوسنۍ زمانه کي لکن د اوسنۍ زماني طيارې په صنعت او حکمت چلېږي، او د تخت سليماني رفتار په معجزه او قدرت د خدای ﷻ وو لکن مع ذالک د اوسنۍ زماني صنعت او حکمت د سليماني تخت و رفتار او بارګير ته نژدې لانه دی کما سيئاتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَجْرِيْ بِاَمْرِهٖٓ اِلَى الْاَرْضِ الَّتِيْ بٰرَكْنَا فِيْهَا ؕ

(تجري آه) حال ثاني دی یا بدل دی له حال اول څخه. یعني دا باد رفتار کاوه په امر د سلیمان و هغې محکي ته چې موږ برکت ایښی دی چې مراد څندي شام دی چې منزل د سلیمان علیه السلام هوري ؤ.

پوه سه: چې برکت د شام هم دنیاوي دی چې ښه ښه رودونه او ولې پکښې بهیږي او د هري ښې میوې باغونه پکښې ستە او غرونه یې د معدنیاتو مرکزونه دي. او هم برکت معنوي پکښې ستە چې مقرد ډېرو انبیاء کرامو علیهم السلام دی.

سوال: د سلیمان ؑ کور خو په شام کي ؤ. نو دی خو به له شام څخه لېرې کېدی، نو کلمه د الی چې لپاره د انتهی د غایة څرنګه استعمال سوه.

ځواب: بعض مفسران وایي چې کلمه د الی په معنی د من ده چې لپاره د ابتداء الغایة ده، او بعض مفسرین وایي چې دې مجاز ته ضرورت نسته، ولې چې سلیمان ؑ چې به بکرة پر یو خوا تلی ماښام به بیرته ارض مقدسه ته راستون کېدی.

وَكُنَّا بِكُلِّ شَيْءٍ عٰلِمِيْنَ ﴿۸۱﴾

موږ په هر شي سره په ازل کي خبر ؤ. یعني د حکمت سره برابر کار مو کاوه چې یو له هغو امورو څخه حال د سلیمان ؑ ؤ چې که څه هم تخت پر باد روان ؤ لکن دا سبب د تکبر دده نه ګرځېدی بلکې لا یې خضوع و رب جل وعلا ته زیاتېده، وهب بن منبه ؒ وایي چې سلیمان ؑ چې به له کوره راووتی مرغان به په هوا کي شاو خوا پر ګرځېدل او جنیات به تیارسئ ولاړوه تر څو چې دی پر تخت کښېناستی، او سلیمان ؑ غازي مطلق ؤ في جمیع مدة حیوته. او چې په یوه ناحیه کي د اطرافو یې خبر د مملکت د کافرانو واورېدی غزا ته به ور راهي سو. تو له مملکت به یې ذلیل کړی او د کفر بنکي به یې د وزرو څخه ورو کښلې.

حسین کاشفي ؒ در تفسیر حسیني چنین میګوید: در تلخیص آمده که در شام شهری بود بنام قدمو که دیوان برای سلیمان بنیاد ساخته بودند، صباح از آن شهر بیرون آمدی باز نماز شام دیر آید آنجا آوردی، و در مختار القصص آورده که بامداد از شهر قدمو بیرون آمدی و قیلوله (یعني غرمه) در اصطخر فارس کردی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وشبانگه بکابل بای تخت افغانستان رفتی وروزی دیگر از کابل بیرون آمدی وچاشت دراصطخر بودی وشام به شهر خود قدمو باز آمدی، وکانت (یعنی تخت سلیمان[۴]) یذهب الی حیث یشاء، سلیمان ثم یعود منزله بالشام، وروی ان سلیمان[۴] سار من العراق غادیًا وصلی العصر ببلخ (من بلاد افغانستان) ثم سار من بلخ درمیان بلاد الترک والصین (یعني چین) ثم عطف منها علی مطلع الشمس علی ساحل البحر حتی اتی الی قندهار (من مضافات افغانستان) یعني هغه ځای چي داله یې بولي چي امریکایانو هورې دارغنداب رود ته کاسه جوړه کړې ده یعني د دوو غرو منځ په سختو لوی لوی ډبرو او په سمښتو یې بند کړی دی تاچي ذخیره د اوبو سي د قندهار د ولایت، درې دروازې یې ورکړي دي چي کاسه چي دکه سي د پسرلي په وخت او واوري د غزني او کابل ویلي سي او دې کاسې ته راسي. اول یې لوړه دروازه ایله کړي د قندهار د باغو او کښتو لپاره، وروسته چي لوړي اوبه تمامي سي بیا یې دویمه دروازه ایله کړي، د کال په پای کي دریمه دروازه ایله کړي چي هغه اوبه هم تمامي سي. نو درې سره دروازې بندي کړي د آئنده کال د بارانو لپاره ثم وثم الی الیوم، نو بیا به سلیمان[۴] له قندهار څخه ووتی ومکران او کرمان ته حتی فارس ته به راغلی، څو ورځي به یې په فارس کي تېري کړې سهار به د کسکر پر خوا وخوځېدی خپل بنار قدمو ته به راغلی.

درویش وایي: چي په داله کي د قندهار یو غردی چي کوه سلیمان یې بولي دا غر قرارګاه د سلیمان[۴] وه، امریکایانو چي د دالې بند تړی په یوه غار کي یې یوه تاریخي ډبره پیدا کړه چي پر هغه ډبره نوشته وه چي موږ یو وخت د سلیمان په ملګری دلته راغلو والله اعلم.... شیخ سعدي[رح] وایي:

نه برباد رفتی سحرګاه وشام ..... سریری سلیمان علیه السلام
بآخر نه دیدی که برباد رفت ..... خنک آنکه بادانش وداد رفت

درویش وایي: چي روح المعاني، روح البیان او مظهري له مقاتل[رح] څخه داسي روایت کړی دی چي شیطانانو یو قالین رقم بساط و سلیمان[۴] ته د سرو زرو له تارو څخه اود ورېښمو د تارو څخه جوړ کړی ؤ فرسخ په فرسخ کي اوپردې بساط یې منبر د سرو زرو جوړ کړی ؤ في وسط البساط، نو سلیمان پر دې منبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کښېنستی او شاوخوا به يې دري زره کرسی وي بعض د سرو زرو او بعض د سپينو زرو چې انبياء يعني د سليمان ؑ د وخت پر کرسيو د سرو زرو کښېناستل، او علماء د وخت دده پر کرسيو د سپينو زرو کښېناستل وحولهم الناس، وحول الناس الجن والشياطين او پر سرو د تولو به مرغان راکرځېدلي وه، يعني د سايوان په شکل تاچې تودوخی د لمر نه ورورسېږي وترفع ريح الصبا ذالک البساط مسيرة شهر من الصباح الى الرواح ومسيرة شهر من الرواح الى الصباح.

واعجب من ذالک ما روى عن سعيد بن جبير ونقل المظهري، چې سليمان ؑ ته به شپږ لکه کرسی اينبوول کېدې يجلس الانس فيما يليه ثم يليهم الجن ثم يظلهم الطير ثم تحملهم الريح.

دروېش وايي: چې دېر عجبه روايت مظهري له ابن زيد څخه کړی دی، دی وايي چې د سليمان ؑ مرکب يعني تخت د لرګو وؤ، او په دې مرکب کې زر کونجيان وه او په هر کونج کې زر خوني وې يرکب معه فيه الجن والانس، او تر هر کونج يې زر شيطانان وه او هغو شيطانانو دا مرکب چې بې پورته کړی ريح رخا به راغلی فسارت به (ای بسليمان ؑ) وبهم (او دده په ملګرو سره هر څو زره کسان چې به وه) يقيل عند قوم (يعني غرمه به يې تېروله په نېز د يوه قوم) بينه وبينهم شهر وليمشي عند قوم بينه وبينهم شهره، او د سليمان ؑ جنګي فوج به ورسره وؤ او د مخ خلک به په لښکرو نه وه خبر انتهى.

پوښتنه: ستا حواله وکتاب ته نه وه عادت دا اوس ولې حوالې کوې؟

ځواب: که فقير بې حوالې دا عجيبه روايات بيان کړي وای حاسدانو به ويل چې ايوبي سخته لوی درواغ وويل يعني زه خپله ذمه فارغه کوم، ولي چې مظهري تر ما په حديث نبويه وو بنه خبر دی او په تواريخ قديمه وو تر ما بنه خبر دی، والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

پوښتنه: د دې کرامت د تسخير د ريح کما ذکرناه و سليمان ؑ سبب څه وؤ؟

ځواب: حسن ؒ وايي چې يو وخت چې سليمان ؑ د يوې غزاء اراده وکړه او آسان يې معاينه کول کما جاء في القرآن في موضع، د ما پښين تر لمانځه وروسته فکر يې نه وؤ د آسانو په معاينه اخته وؤ د مازديګر لمونځ ځندي قضاء سو، نو هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تولہ آسان یې ذبح کړه خیرات یې کړه، نو خدای ﷻ تر آسانو خیر او یې تکلیفه د خورک وغیره او تر آسانو چابک شی چې باد ؤ ده ته مسخر کړی انتهی.

وَمِنَ الشَّيٰطِيْنِ مَنْ يَّغُوْصُوْنَ لَهٗ وَيَعْمَلُوْنَ عَمَلًا دُوْنَ ذٰلِكَ ۚ

او مونږ مسخر کړي وه و سلیمان ته شیطانان چې غوتې به یې وهلې په دریابو کې او جواهرات به یې له دریابو څخه ده ته رایستل.

اعراب: کلمه د من موصوفه یا موصوله ده یغوصون صله یا صفت دی معطوف علی الریح او ضمیر د له راجع دی سلیمان ته او من الشیاطین حال من کلمة من باعتبار معناه او مقدم پر ذی الحال دی. والتقدیر وسخرنا نفوسًا یغوصون له کائنین من الشیاطین (ویعملون عملاً آه) عطف دی پر یغوصون، او جوړول او عمل کاوه شیطانانو عملاً ماسوی د اخراج د جواهرو من البحار بالغوص فیها، چې قلاوي یې د رجوړولې چې ځای پر ځای به ثابتې وې یعني له یوه ځایه بل ځای ته نقل کېدلې، او بناروونه یې د رجوړوله او اختراع د غریبه او نادره صنعاتو به یې ورته کوله کما جاء في موضع آخر من القرآن، کریمه: من محاریب وتماثیل وجفان کالجواب و قدور راسیات الی آخر الآیة.

وَكُنَّا لَهُمْ حٰفِظِيْنَ ۙ

او وو مونږ ساتونکي د شیطانانو له بغاوت څخه دده د امر یا له افشاء څخه د ماعملوا، ولې چې د شیطانانو دا عادت ؤ چې له یوه کار څخه به خلاص سوه او په بل کار به نه سوه اخته هغه د مخه کار به یې بیرته خرابا وه، نو سلیمان ؑ دوی دې ته نه پرېښول بلکې یو کار چې به یې خلاص کړی علی الفور به یې په بل کار اخته کړل او د هر شیطان سره به یې یو انسان مقرر کړی ؤ او هغه انسان ته به سلیمان ؑ ویل چې شیطانان چې له یو کار څخه خلاص سي دستي یې په بل کار اخته کوه کذا ذکر البغوي ؒ. په یوه روایت کې راغلي دي چې مسخر شیطانان چې سلیمان ؑ به اعمال شاقه په کول کافران د شیطانانو وه لا مؤمنو هم یعني په هغو یې اعمال شاقه نه کول.

سوال: شیطانان خو کافران دي طبعًا نو مؤمنان به دوی څرنګه وه؟

ځواب: مراد له شیطانانو څخه معنی اعم ده للجنیات وفي الجن مؤمن وکافر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: شيطانان خو اجسام لطيفه دي، نو اعمال شاقه د دوی د حال سره څرنګه وړ دي؟

ځواب: دا ثابته ده چې دوی په اشکالو مختلفه وو سره کېږي فيقدرون على الاعمال الشاقة. ولي چې ريح خو هم جسم لطيف دی لکن په وخت کې د قصف يعني الشدة درختي نړوي، علاوه تر دې شيطانان په تسخير کې د سليمان همېشه پرداسي اجسامو وه چې خلګو به ليدل کارونه به يې کول.

وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ

پوه سه: چې د دې آيت اعراب هم هغسي دی لکه ونوحًا اذ نجيناه، او روح البيان د دې اعراب داسي بيان کړی دی واذكر خبر ايوب الی قومک.

دروېش وايي: چې وهب بن منبه ؒ وايي چې ايوب ؑ رجل من الروم او مظهري هم دغه روايت راوړی دی، او روح المعاني وايي نقلاً عن ابن اسحاق الصحيح انه من بني اسرائيل ولم يصح في نسبه شئ الا ان اسم ابيه اموص، او ابن جرير ؒ وايي چې نسب يې داسي ؤ ايوب بن اموص بن رزاح بن عيص بن اسحق بن ابراهيم عليه السلام، او ابن عساكر ؒ وايي چې د ايوب ؑ مورد الوط ؑ لوروه، او دده پلار پر ابراهيم ؑ باندې ايمان راوړی ؤ فعلى هذا كان ايوب ؑ قبل موسى ؑ، او ابن جرير ؒ وايي كان ايوب ؑ بعد شعيب ؑ وقال ابن ابی خثمة ؒ كان بعد سليمان ؑ، او ابن سعد المؤرخ الكبير له كلبي ؒ څخه روايت کړی دی چې اول نبي مبعوث بعد آدم هو ادريس ؑ ثم نوح ثم ابراهيم ثم اسماعيل واسحق ويعقوب ثم يوسف ثم لوط ثم هود ثم صالح ثم شعيب ثم موسى وهارون ثم الياس ثم اليسع ثم يونس ثم ايوب على نبينا و عليهم السلام.

(القول المسلم) دروېش وايي: چې په اتفاق د مفسرينو دا خبره منل سوې خبره ده چې ايوب ؑ د خدای ﷻ برګزيده شخصيت ؤ او نبي يې ګرځولی ؤ او فراخه دنيا يې ورکړې وه، د ثنيه په نامه په شام کې يې يوه قريه درلوده تولې دده وه اهلها وجبالها، او قسم قسم مواشي يې درلوده من الابل والبقر والغنم والخيل والحمر مالا يكون لرجل افضل منه في العدة والكثرة، او پينځه سوه جوړه غوايي د زراعت يې درلوده چې د هري جوړې سره يو مربی ؤ او هر مربي يې مايته او عيال درلوده، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای پاک ده ته کور ودانه ورکړي وه او اووه (۷) زامن او اووه لونې يې درلودې وکان برًا تقيًا رحيمًا بالمساكين يطعم المساكين ويكفل الارامل (ای کونډيانې) والايتام ويكرم الضيف وكان شاكرًا لانعم الله مؤديًا بحق الله من الزكوة وغيره او خدای دی ساتلی وُد عدو الله ابليس څخه چې اهل غنی والغفلة والشاغل عند امر الله بما فيه من الدنيا ته به ابليس ورپښول ايوب عليه السلام ته به يې نسوای رسولای، تر دې ځايه پوري به بعض مبالغه آميزې خبرې به البته پکښې وي. روح البيان ده برې مختصره توګه بيان د غنی د ايوب کړی دی او روح المعاني هم څه تطويل په غنا کې د ايوب کړی دی، خو مطلب دادی چې د ابليس حسد ورسره پيدا سو، او خدای ﷻ ته يې خواست وکړی چې ستا بنده ايوب درعافيت است وسعت عيش است په هر مالونه لري او خوانان زامن لري، که چيرې له ايوب څخه دا مال او اولاد او دا سعت عيش څندي واخلې ژر دی چې ستا څخه به مخ واړوي او د کفران نعمت لار به غوره کړي، بعض مفسرين لکه روح البيان او مظهري داسې راوړي دي چې حق سبحانه وتعالى و ابليس ته وويل چې داغسې نه ده لکه ته چې وايې، ايوب ؑ زما په حقه سره بنده دی که زه زړواره په بوقه کې د امتحان دی ويلې کړم بې غشه به راووځي بلکې صفائي به يې نوره زياته سي لکه د سرو زرو آه.

دروښ وايي: چې له دې عبارت څخه خو داسې معلومېږي چې د خدای ﷻ او د ابليس تر منځ دغه سوال او ځواب بالذات جاري ؤ وليس كذالك كيف يصح مكالمة رب الارباب مع الرجيم الخناس، بلکې صحيح داده چې ابليس به خود حسد د ايوب عليه السلام سره پر لار اچولی وي لکه د ابو البشر آدم عليه السلام او دا مذکوره خبرې به ابليس خود د خدای ﷻ په دربار کې کړي وي لا بالذات په اميد ددې چې شايد دغه لوی دوست د خدای ﷻ په بلا، کې د مخالفت د خدای ﷻ واچوي، نو حق سبحانه وتعالى پر ايوب ؑ بلايا مسلط کړې چې دی صابر ثابت سو، د ابليس ځواب په خپله وسو، بلايا ايوب ؑ چنان بود که همه شترانش بصاعقه هلاک شدند وگوسفندانش همه وهمه بسبب سيل درگرداب بلا افتادند وزراعاتش بباد آتش آميز بسوخت و اولادش همه وهمه درزير ديوار کشته شدند وبر بدن مبارکش دانه ها پيدا شدند ودران هزاران کرمها پيدا شدند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وخلق ازوی گریخت ودوری اختیار نمودند بجز زن او رحمت بنت افرایم بن یوسف ؑ، او ایوب ؑ په دې بلا او امتحان کې اتلس یا اوولس کاله اووه میاشتې اووه ورځې اووه ساعته مبتلا ؤ. یوه ورځ یې مایښې ورته وویل چې کاشکې دې خدای ﷻ ته خواست کړی وای چې خدای له دې ناجوړی څخه جوړ کړی وای. ده ورته وویل چې زما او ستا د استراحت او عیش څو زمانه وه؟ هغې ورته وویل اتیا کاله، نو ایوب ؑ ورته وویل چې زه له خدایه شرمېږم چې خواست ورته کوم چې تر اوسه مې زمانه د بلا و زمانې تده رخاء (استراحت) نه ده رسېدلې، او هر سهار و ایوب ؑ مکروب ته دا خطاب مستطاب د رب الارباب په ذریعه د جبرئیل ؑ رسېدی چې ایوبه څه حال دې دی، وایوب بذوق و شوق این پرسش الهی کوه بلا را بجان میکشید ودرآن بیماری خوش وقت.

اگر برسر بیمار خود آیی بعیادت.... صدساله بامید تو بیمار توان بود

او په بدن کې د ایوب ؑ په زړو چینجیان خدای ﷻ پیدا کړي وه چې یو چینجی به دده له بدنه ولوېدی ده به بیرته په خپلو غوښو کې کښېښو او دا به یې ویل چې ستا رزق خو زما له غوښو څخه دی، روح البیان وایي چې بعض کبائر علماء وایي چې بلا د ایوب ؑ تر ده د مخه اوویا انبیاؤ د خانو لپاره مختاره کړې وه لکن خدای پاک و ایوب ؑ ته دا پېرزوینه وکړه لانه قد قیل ان العطایا علی متن البلایا، ولهذا قال سعید البشر ﷺ ما اوذی احد کما اوذیت، راویان وایي چې د ایوب ؑ د بدن تولې غوښې چینجیانو وخوړلې حتی بقی العظام والقلب واللسان والعینان والاذنان، ولما قصد الدود القلب الذي هو معدن النبوة والولایة ولسانه الذي هو مصدر الذکر ومورد التوحید، نو ایوب ؑ وبېرېدی چې له طاعت څخه او له تسبیح څخه د خدای ﷻ بالکلیة بېکاره کېږم، ولي دی له ضعف څخه د بدن دومره اندازې ته ورسېدی چې په ولاړه یې لمونځ نسوای کولای، فلما انتهی الابتلاء وحصل الغناء التام في مقام البلاء الهمه الله تعالی الدعاء لیوصله الی مرتبة البقاء، ویتجلی له الرب بصفة الجمال واللقاء بعد الجلال والاذی کما اخبر عنه اذنادی ربه (ای دعاه)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَنِّي مَسَّنِيَ الضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ ﴿٨٣﴾

(اني) اى بلاني (مسني) اى اصابني (الضر) اى رنج وسختي، تنه تر تهولو مهربانو بهتر مهربانه يې.

پوه سه: چې ايوب ؑ داسي نه وويل ارحمني بلكې صرف خپل افتقار يې بيكاره كړى تلطفًا في السؤال وحفظًا للادب، علماء وايي چې اكثره سوالونه د انبياء كرامو په صورت كې د تعريض او كنايې دي قال الشاعر المحقق:

وفي نفس حاجات وفيك رحمة..... سكوتي بيان عندها وخطاب

حافظ شيرازي قدس سره وايي:

ارباب حاجتم وزبان سوال نيست..... در حضرت كريم تمنا چه حاجتيست

نكته: هذا القول من ايوب دعاء وتضرع وافتقار لاجزع وشكاية له تلطف څخه د طلب او سوال هغه سوال د يوې ښځې دى چې شكايت يې وكړى بعض اولاد ته د سعد بن عباده چې يو غني سړى ؤ او داسي ورته وويل قلت الفار في بيتها، زما په خونه كې مړكان لږ سوه، هغه ورته وويل تلطفت في السوال، نوكرانو ته يې وويل املئوا بيتها خبزًا وسمنًا ولحمًا، په روح المعاني كې وايي چې يوه ورځ چې امرئة ايوب په طلب پسې د ډوډۍ لپاره د ايوب ؑ تللې وه على حسب المعتاد ابليس عليه اللعنة ودې ته په يو عظيم هيئت ودرېدى او دې ته يې وويل چې زه خداى د مځكې يم، دا ستا پر مېړه هرڅه حالات چې راغلي دي زما له طرفه څخه دي، ولې ده زما عبادت پرېښو چې اله الارض وم او د اله السماء عبادت يې مختاره كړى كه دى ماته يوه سجده وكړي زه بې مال اولاد ټوله وركړم كړم او په صورت به يې جوړ كړم، نو رحمته د ايوب ؑ كور ودانه راغله وايوب ؑ ته چې هغه په اصطلاح په يوټپ كې چې په عربي يې كناسه بولي د بيت المقدس پروت ؤ بې يارومددګار، دا حال يې ورته وويله، هغه پوه سو چې شيطان لعين ورته ويلي دي، نو قسم يې واخستى چې كه زه خداى ﷻ جوړ كړم تا به سل لركې وهم، روح المعاني په اخير كې وايي والله اعلم بصحة هذا الروايات.

دروښ وايي: چې دا عجب العجائب د بيانانو څخه چې په حال كې د ايوب ؑ بيان سوي دي ماقال المظهري ؒ في بيان قصة ايوب ؑ قال فكان ابليس لايحجب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عن شئ من السموات وكان يقف فيهن حيث ما اراد حتى رفع عيسى عليه السلام فحجب عن اربع فلما بعث محمد ﷺ حجب عن الثلاث الباقيات آه.

دروښ وايي: چې دا منع د ابليس نه ده دا خو منع د مسترقوا السمع يعني هغه شيطانان چې تر اول اسمان پورې به ورغله او د ملکو خبرو ته به يې غوږ نيوی. نو د عيسى ؑ په بعثت سره نه د دفع دده په سبب سره دا دائره د اورښلو د ملکو د خبرو څخه تنګ سوه او د عليه الصلوة والسلام په بعثت سره ډېر تنګ سوه او په شهب ويشتل کېدل کما جاء في القرآن المجيد. وصرح بذالک في البخاري ومسلم، وروسته دی وايي فسمع ابليس تجاوب الملائكة بالصلوة على ايوب وذالک حين ذكر الله واثنى عليه فادركه البغي والحسد وصعد الى السماء حتى وقف من السماء موقفًا كان يقضه آه.

دروښ وايي: چې دا خبره د صريح قرآن څخه مخالفه ده. ولي ابليس چې آدم ؑ ته سجده ونه کړه خداى ﷻ ورته وويل اخرج منها اى من الجنة. وروسته ابليس، آدم او حوا، ته جمعًا يې وويل اهبطوا بعضكم لبعض عدو، نو دوی دري سره له اسمان څخه و مځکې ته راغله، بيا په هيڅ حديث کې نه دي راغلي چې د ابليس لار و آسمانو ته خلاصه وه د مخه تر عيسى او محمد عليهما السلام آه. وروسته يې ويلي دي چې ابليس چې د ايوب ؑ په زمانه کې آسمانو ته ورغلى داسې يې خداى ﷻ ته وويل الهى نظرت من امر عبدک ايوب فوجدته عبدًا انعمت عليه فشكرک وعافيته فحمدک، ولو ابتليته بنزع ما اعطيته لحال عما هو عليه من شكرک وعبادتک ولخرج عن طاعتک آه، ددې معنى خو داده چې د خداى ﷻ سره بالذات ابليس خبرې وکړې او خداى ﷻ دده په خوله هم وکړه ولم ينقل عن احد من العلماء المحدثين ولا عن احد من الائمة الاربعة ؒ ان ابليس كلم ربه تعالى بعد الطرد واللعن فمن اين يقول المظهري ؒ ذالک؟ ثم قال المظهري چې خداى ﷻ ابليس ته وويل انطلق فقد سلطتک عليه وعلى ماله آه.

دروښ وايي: چې خداى ﷻ فرمايي (ولن يجعل الله للكافرين على المؤمنين سبيلاً. نو څرنګه خداى ﷻ دا لوی دښمن ابليس پر دې دوست ايوب مسلطه کاوه؟ البته ابتلاء د خداى ﷻ پر ايوب ؑ راغله لکه د مخه چې تېره سوه په هلاک د اموالو،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مواشیو. د اولادو او د زراعت دده نه په واسطه د ابلیس علیه اللعنة لانه تعالی عزیز علی امره، وروسته مظهري ویلي دي چې دروښ دده عبارت په پښتو ژباړه نقل کړی دی، دی وایي چې ابلیس چې خدای ﷻ مسلط کړی پر ایوب ؑ او دی له آسمانو څه مځکي ته راغلی، نو ده اراده وکړه چې پر ایوب ؑ داسي مصیبت قارعة مسلط کړي چې هیڅ انسان صبر نسي پر کولای، نو ددې کار لپاره یې د پیرانانو خبیثان او د شیطانانو سرکښان راجمع کړه، او ابلیس ورته وویل چې ستاسي سره څه قوت چې درسره دی. یو عفریت د شیطانانو ورته وویل ما ته دومره قوت راکړل سوی دی چې ستا خوښه وي چې زه کولای سم چې یوه لمبه د اور وګرځم او هرشي ته چې ورسم پاک یې وسوځم. ابلیس ورته وویل چې ورسه اوښانو ته د ایوب چې ټوله په مرعی کي سره جمع دي ټوله اوښان یې وسوځه، خلګ نه پوهیدل چې نابیره له مځکي یوه لمبه راووتل، نو د ایوب ؑ ټوله اوښان سره د څرونکو (ساروانانو) پاک وسوځل، وروسته ابلیس ځان د اوښان د څرونکو په شکل کړی ایوب ؑ ته راغلی چې دی پر لمانځه ولاړ ؤ، نو یې ورته وویل یا ایوب له مځکي څخه یو اور راووتی ټوله اوښان یې وسول سره د هرشي بیله ما. فقال ایوب ؑ الحمد لله الذي هو اعطاها وهو اخذها، ما نه دی عادت کړی خپل نفس پر غني.

دروښ وایي: چې ورته واقعات د ابلیس د ایوب ؑ سره په هلاک کي د اولادو دده او د زراعت د ایوب ؑ مظهري راوړي دي دې صفحې نوري، فقیر وایي چې که دومره قدرت ابلیس درلودای او دومره قهرمانان یې درلودای، نو پر مخ د مځکي به یې مسلمان نه وای پرې ایښی، وقد قال الله تعالی ان عبادي لیس لک علیهم سلطان فافهم.

فَاسْتَجَبْنَا لَهُ فَكَشَفْنَا مَا بِهِ مِنْ ضُرٍّ

قبوله کړه مونږ دعاء د ایوب ؑ (پوه سه: چې مراد له دعاء څخه هغه ضمني دعاء د ایوب ؑ ده اني مسني الضر وانت ارحم الراحمین) نو مونږ لهرې کړی هغه چې دده مرض ؤ یعني جوړ مو کړی او ورته وه مو ویل ارکض برجلک، پښه د مځکي وواهه ده چې پښه د مځکي وو هل له مځکي څخه یوه چینه د اوبو پیدا سوه، خدای پاک دې امر کړی چې په چینه کي غسل وکړه! ده چې غسل وکړی ټوله مرضونه چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهر بدن کي وه جوړ سوه، او از سر نو يې ځوانۍ راوکړځېدل او هغه جمال او حسن ماکان چې خدای ﷻ ورکړی ؤ. ایوب ؑ څلوېښت کاله رهي سو، بیا خدای ﷻ ورته وویل چې بیا پښه د مخکي وواهه. نو ده چې پښه له مخکي وو هل بله چینه پیدا سوه چې بنې یخي اوبه پکښې وې خدای پاک دی امر کړی چې دا اوبه وڅښه ده چې اوبه د قدرت الهي وڅښلې نو لدد باطن امراض يې جوړ سوه فصار کاصح مایکون من الرجال، او له جنت څخه کالي ورته راغله هغه يې په ځان واغوستل، قال الحسن ؒ چې ایوب ؑ پریو لوړ ځای کښېنستی ماینې يې فکر وکړی چې ورسم چې دی به مړوي د لوبۍ، ولي چې هغه د شیطان خبره چې دې ته يې کړې وه چې دې وایوب ؑ ته وکړه او ده قسم واخستی چې که زه جوړ سوم تا به سل لرکي وهم، ایوب ؑ دا قسم هم په هغه وخت کي ورته اخستی ؤ چې زه بیا ستا دلاس راوړې وه وی نه خورم، نو ځکه د ماینې يې دا خیال سو چې اوس به دی د لوبۍ مړوي او خدای نخواسته که مړوي نو درند گانو به خوړلی وي، نو دې د ځان سره وویل چې که څه هم دی زما څخه پر هغه خبره خفه سوزه به خامخا ورځم او د وفاداری قدیم تناؤ به کشوم، دا چې ورغله نه کناسه وه او هغه مخکنی حالات چې دې لیدلی ؤ ټوله متغیر ؤ، نو شاوخوا گرځېدله چې هغه کناسه چیرې ده چې ایوب ؑ پرپروت ؤ او ژړل يې په فراق د مېړه، دې خو هغه ځوان ولیدی چې پر لوړ ځای ناست ؤ لکن له شرمه يې پوښتنه نسوای ځندي کولای، ایوب ؑ ورغېږه وکړی یا امة الله ما تریدین؟ دې وژړل او داسي يې ورته وویل چې په خپل همسر مبتلی ایوب ؑ چې پر دې کناسه ناجوړی پروت ؤ گرځم، زه نه پوهېږم چې مړ سوی به وي درندگانو به خوړلی وي او که ځرنگه؟! ایوب ؑ ورته وویل چې که يې ته وینې پېژنې يې؟ دې ورته وویل چې ایوب ؑ چې چالیدلی وي، نو ځرنگه به يې نه پېژنې، نو ما چې خپله ځوانۍ دده سره تېره کړې ده نو ځرنگه به يې نه پېژنم؟. لکن دې د ستر گو تر کنجیانو دې ځوان ته کتل او شرمېدل او ځندي يې ورېدل هم. نو يې دا خبره ورته وکړه چې زما مېړه چې جوړ او ځوان ؤ تاته په رنگ سوی ؤ. ایوب ؑ ورته وویل چې زه ایوب يم، روح المعاني وایي چې ایوب ؑ ورته خندل ماینې يې پر خندا وپېژندی، نو مېړه او ماینې لاسونه په غاړه کې سره واچول... جامي ؒ وایي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... بامید رسد امیدواری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای پاک ایوب ؑ په صابر سره مسمّی کړی دی، او سره ددې چې ده جزع یعنې شکایت وکړی انې مسنې الضر؟

خواب: بعض مفسرین وایي چې دا شکایت نه دی بلکې دا دعاء ده د رفع د ضر یعنې المرض بدلیل قوله تعالی فاستجبنا له یعنې موږ یې خواست قبول کړی. او بل خواب دا دی چې جزع شکایت دی و مخلوق ته او شکایت و خدای ﷻ ته جزع نه ده او نه عدم صبر دی، کما قال یعقوب ؑ في فراق یوسف ؑ انما اشکوبثی وحزني الی الله. علاوة سفیان بن عیینة ؒ وایي چې څوک چې اظهار د شکایت و خلګو ته وکړي لکن په قضاء د خدای ﷻ راضي وي دا جزع نه بولي لکه په حدیث صحیح کې چې راغلي دي چې جبرئیل ؑ و آنحضرت ﷺ ته راغلی په مرض موت کې ده نو یې ورته وویل چې ته خپل ځان څرنګه بولې؟ علیه الصلوة والسلام اجدني مغمومًا اجدني مکروبًا. زه خپل ځان په غم کې وینم (یعني في امر امتي) نو دا خو علیه الصلوة والسلام اظهار د جزع او غم و جبرئیل ته وکړی لکن مع هذا په قضاء د خدای ﷻ راضي وُ وله امثلة کثیرة في الاحادیث الصحیحة.

وَاٰتَيْنٰهُ اَهْلَهٗ وَمِثْلَهُمْ مَّعَهُمْ

او موږ ورکړه و ایوب ته اهل د ده یعني هلاک شده زامن د ده او مثل د هغو سره د هغو.

پوه سه: چې ماینې ته اهل نه وایي فلا یرد السوال چې د ایوب ؑ ماینه خو ژوندی وه.

دروښ وایي: چې ددې آیت په تفسیر کې اختلاف دی ابن مسعود ؓ ابن عباس ؓ، قتاده، حسن او اکثره مفسرین ؒ وایي چې ایوب ؑ ته مثل د اولاد هلاک شده ورکړل سو چې شپږ زامن او شپږ لونې وې او هلاک شده ګان نه دي ورته راژوندي سوي، وهذا القول یخالف ظاهر القرآن کما مر. او بعض علماء وایي چې ایوب ؑ ته اختیار ورکړل سو د خدای ﷻ له خوا څخه چې هالکین په دنیا کې درژوندي کړم او که دي هغه د آخرت ذخیره وي او مثل یې په دې دنیا کې درکړم، نو ایوب ؑ شق ثاني مختار کړی، نو معنا د آیت داسي ده، وآتینا مثل اهله في الآخرة ومثلهم في الدنیا ونسب هذا القول الی الامام الاعظم ابو حنیفة ؒ والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې علیه الصلوة والسلام ته یې رسولی دی چې د ایوب علیه السلام دوه ځایونه وه یو د غنمو او بل د اوریشو، نو خدای جل جلاله د غنمو او د اوریشو د ذخیرې پر ځای دوې وریځي راواستولې چې د غنمو د ذخیرې پر ځای یې د سرو زرو باران وکړی او د اوریشو د ذخیرې پر ځای یې د سپینو زرو باران وکړی.

دروښ وايي: چې په روح المعاني کې یو حدیث داسي راغلی دی په روایت د ابن عباس رضی الله عنهما دی وایي چې ما پوښتنه وکړه د علیه الصلوة والسلام څخه په باره کې د دغه آیت (وآتیناه اهل الخ) علیه الصلوة والسلام وویل چې خدای پاک ماینه د ایوب رد کړه وده ته وزاد في شبابها او ددې ځوانې له سره راوګرځېدل یعني لکه د ایوب علیه السلام ځوانې چې خدای جل جلاله راوګرځول، حتی ولدت له ستا وعشرین ولدًا ذکرًا قال روح المعاني، فالمعنی علی هذا آتیناه في الدنیا مثل اهله عددًا مع زیادة مثل آخر انتهی (یعني هغه مړه عیال د ایوب علیه السلام یې نه دي راژوندي کړي).

پوه سه: چې احمد، بخاري وغیرهما رحمهم الله روایت کړی دی له ابو هریره رضی الله عنه څخه عن النبي صلی الله علیه وسلم چې یوه ورځ ایوب علیه السلام غسل کاوه لخ (یعني په محفوظ ځای کې) پرده راشوه سوه ملخان د سرو زرو، نو ایوب علیه السلام هغه ملخان په خپلو کالو کې چابک چابک جمع کول، نو خدای جل جلاله ده ته نداء وکړه (یعني بلا واسطة ملک) الم تکن اغنیتک عما تری، یعني ته ما نه یې مستغني کړی له دې جمع کولو څخه د سرو زرو د ملخانو یعني چې پر ذخیره د غنمو مي د سرو زرو باران درو کړی او پر ذخیره د اوریشو مي د سپینو زرو باران درو کړی، ایوب علیه السلام ورته وویل چې هو مستغني خو دي ګرځولی وم، وعزتک یعني ستا په عزت مي دي قسم وي لکن لا غنی عن برکتک یعني د سرو زرو ملخان خو ستاله خوا برکت دی، ستا له برکت څخه خو مستغني نه یم.

دروښ وايي: چې له دې حدیث څخه معلومه سوه چې تکثیر د مال حلال مباح دی خصوصًا لمثل ایوب علیه السلام الذي کان منفقًا علی الیتامی والارامل والمساکین في سبیل الله کما لایخفی.

فائده: د ابن عباس رضی الله عنهما په روایت ایوب علیه السلام ورو سته تر تېرېدلو د امتحان او بلا تر دوري اوویا کاله ژوندی وُ، او مفسران وایي چې ایوب علیه السلام چې په امتحان کې د بلا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واقع کېدی عمر يې اوويا کاله ؤ، نو مجموع عمر د ايوب ؑ ويوسل څلوېښتو کالو ته رسېږي، وهب بن منبه ؒ وايي چې د ايوب ؑ د عمر نېټه چې پای ته رسېدله، نو يې خپل زوی حرمل جای نشين وګرځاوه يعني بامره تعالى.

رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا وَذِكْرٰى لِلْعٰبِدِيْنَ ﴿۸۴﴾

يعني موږ چې ايوب له بلا څخه خلاص کړی وآتيناه اهله الآية، دا پر ايوب ؑ باندې رحمت ؤ زموږ له خوا څخه، او دا نصيحت ؤ د نورو عابدانو لپاره يعني چې دوی هم په بلايا وو کې د خدای ﷻ صبر وکړي، ولې صبر که څه هم ظاهراً ګران دی لکن بر او مېوه شرينه لري في الدنيا والآخرة كما سمعت في قصة ايوب ؑ.

سعدي شېرازي ؒ وايي:

هرکه او در راه حق صابر بود ..... بر مراد خويشتن قادر بود
صبر بايد تا حرج يکسو شود ..... زانکه گفت الصبر مفتاح الفرج

فائده: پوه سه! چې بلا د ايوب ؑ له قبيلې څخه د امتحان وه تا چې بنکاره سي و خلکو ته مافي الضمير من الصبر ويظهر الله لخلقه اين ايوب ؑ من ربه، او بلا د يوسف ؑ چې څورلس کاله يې په بندي خانه کې تېر کړه له قسمه څخه د عقوبت وه، ولې چې ده يو بندي ته چې له بندي خانې خلاص سو داسې وويل اذكرني عند ربک يعني پر ما سوی د خدای ﷻ يې تکيه وکړه، او بلاء د يحيى ؑ چې کافرانو ذبح کړی له قبيلې څخه د کرامت وه، ولې چې يحيى ؑ په خپل ګرد عمر کې د معصيت قصد نه ؤ کړی.

دروېش وايي: چې تر عنوان د دې آيت مبارک لاندې وا ما بنعمة ربک فحدث يعني ذکر د نعمت د خدای ﷻ په قصد د شکر روا دی بلکې واجب دی بلکې عليه الصلوة والسلام ته چې په دغه آيت کې ده ته امر وکړل سو چې تحديث په نعمت دی وتاته چې عبارت له رسالت څخه دی واجب دی، او نورو خلکو ته بيان د نعمت د خدای ﷻ پرده لازم يا مستحب دی، نو دروېش له قسمه د تحديث بالنعمة من الله العزيز عليه وايي چې په سنه (۱۴۳۰) هجري قمري کې چې عمر د فقير د (۹۵) په شاو خوا کې ؤ په نيت د عمرې او د زيارت د حرمينو شريفينو په اخير کې د مياشتې د ربيع الثاني سره د خادم زوی حاجي عبد الهادي عازم د سفر سوم حتى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې مکې مکرمې ته ورغلو مراسم د عمرې مو پر ځای کړل او یوځو شپې مو په مکه مکرمه کې تېرې کړې، وروسته لپاره د زیارت د قبر نبوي او مسجد نبوي مدینې منورې ته ولاړو تخمینًا څورلس ورځې مو هورې تېرې کړې وروسته بیرته مکې مکرمې ته راغلو شپه د جمعې مبارکې وه چې مکې مکرمې ته ورغلو په هغه شپه کې فقیر خوب ولیدی چې یو څوک فقیر ته وایي امح کمالاتک من العلم والقدرة والعبادة في کمالات حضرت النبي ﷺ تعرف حقیقة الرسالة وامح کمالات حضرت النبوة في صفات حضرت الرب جل وعلا تعرف حقیقة ربوبیة الله ﷻ وهذه الرؤیا، بشارة لهذا العبد العاصي وتعلیم مقام رسالة النبي ﷺ والمرتبة العالیة لحضرت الباري جل وعلا والامر کذالک.

وَإِسْمٰعِيْلَ وَإِدْرِيْسَ وَذَا الْكِفْلِ ؕ

او اسماعیل بن ابراهیم او ادریس چې نوم یې اخنوخ وسمی بادریس لکثرة دراسته ووعظه للناس، او ذا الکفل

پوه سه: چې دغه اسماء منصوب دي په اذکر مقدر سره یعني ذکر کړه ته قصه د دغو کسانو وخپل قوم ته.

فائده: په ذاالکفل کې اختلاف دی عطاء ؒ وایي چې دی نبي ؤ له انبیاؤ څخه د بني اسرائیلو، قصه څه داسې وه چې یو نبي ؤ له انبیاؤ څخه د بني اسرائیلو چې اجل یې نژدې سو خدای پاک وحي ورته وکړې چې زه ستا روح قبض کوم ته مملکت د بني اسرائیلو داسې چا ته وسپاره چې هغه د دې ضمانت او کفالت پر ذمه واخلي چې هغه به ټوله شپه په عبادت تېروي سستي به نه کوي، او هره ورځ به روژه نسي روژه به نه خوري او غصه او غضب به چا ته نه کوي فادفع ملک الیه، یعني ملک او بادشاهي و هغه ته وسپاره، نو یو ځوان د بني اسرائیلو دا کار پر ذمه واخستی هغه ته یې بادشاهي وسپارل او هغه هم په مذکوره شرائطو سره وفا وکړه او خدای ﷻ یې سعي مشکور او قبول وګرځول او نبوت یې هم ورکړی فسمی بذا الکفل لذالک. او دې سړي ته خدای ﷻ صرف د غرمې په وخت کې د یو څو ساعتو د خوب او ارام اجازه ورکړې وه، نو ابلیس ملعون د دې ذوا الکفل له لارې څخه د اړولو داسې تدبیر وکړی چې د ذوا الکفل چې د قیلولې او ارام وخت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلی نو ابلیس په صورت د سپین ږیري سړي ورته راغلی دروازه یې وروټکول، ذوا الکفل ورته وویل من هذا؟ څوک یې چې دروازه دي وټکول؟ ابلیس ورته وویل شیخ مظلوم، ذوا الکفل دروازه ورخلاصه کړه. ابلیس ورته وویل چې زما او د قوم تر منځ خصومت دی پر ما یې فلانی فلانی ظلم کړی دی خو ابلیس خبرې اوږدې کړې او د ذوا الکفل د خوب او ارام وخت یې توله پر تېر کړی، ذوا الکفل ورته وویل چې ته ولاړ سه زه چې د قوم او خلګو د فیصلو لپاره کښېنم ستا حق به د ظالمانو څخه درواخلم، ذوا الکفل چې د محکمې په ځای کې کښېناست ګوري چې اوس به هغه سپین ږیری مظلوم راسي اوس به راسي خو سپین ږیری ورک سو یعني نه راغلی اخیر ولاړ سو شاو خوا یې په خلګو کې وکتل سپین ږیری یې نه ولیدی، دویمه ورځ هم ذوا الکفل د سپین ږیري په انتظار وُ خیر چې د محکمې وخت پوره سو ذوا الکفل د خوب او استراحت پر ځای پرېوتی، دروازه وټکېدل ذوا الکفل ورته وویل څوک یې؟ ابلیس ورته وویل الشیخ المظلوم دروازه یې ورخلاصه کړه او شیخ ته یې وویل چې ما تاته نه وویل چې ته راسه د محکمې په وخت کې ما ستا انتظار کاوه ته نه راغلې سبب څه وُ؟ ابلیس ورته وویل چې زما قوم ماته وویل چې ته مورږ محکمې ته د ذوا الکفل مه پېښوه مورږ ستا حق پوره درکوو. لکن دوی چې وپوهېدل چې ذوا الکفل د محکمې له ځایه ولاړ سوی دی بیرته منکر سوه، نو ځکه زه نن بیا د فریاد رسی لپاره راغلم، ذوا الکفل ورته وویل چې ته اوس ولاړ سه چې زه د محکمې په ځای کې کښېنم ته راسه زه به ستا غوره وکړم، ابلیس چې د شیخ مظلوم په شکل کې راغلی وُ خبرې یې ورسره اوږدې کړې حتی چې د ذوا الکفل د استراحت وخت یې دویمه ورځ هم پر تېر کړی، د ابلیس مقصد دا وُ چې ذوا الکفل به ماته په غضب سي او دده د کفالت کړی به ماته سي کمامر، بیا ذوا الکفل ورته وویل چې ته ولاړ سه ما پښېنې د محکمې په وخت کې راسه، ابلیس ذوا الکفل دوه شپانه روزه بند خوبه کړی، دا بله ورځ هم ذوا الکفل د شیخ په انتظار وُ خو نه راغلی درېیمې ورځې بند خابې، ډېر زور پر وکړی، نو حاجبانو ته یې وویل چې نن د دروازې ټکولو ته هیڅ څوک مه پرېږدئ چې زه یوځه خوب وکړم، درېیمه ورځ شیخ مظلوم ابلیس پر هغه وخت د استراحت د ذوا الکفل راغلی خو حاجبانو منع کړی چې دروازه وټکوي، نو ابلیس په هغه خونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي چې ذوا الکفل ارام پکښې کاوه یو غار ولیدی تر هغه غار ورننوتی ولي چې شیطان په هر صورت کېدای سي، ابلیس په خونه کي دننه ولاړ دی په صورت د شیخ مظلوم د دننې خوا څخه دروازه ټکوي ذوا الکفل چې د دروورځو بهخابه ؤ حاجب ته یې وویل چې ما نه وه درته ویلي چې د دروازې ټکولو ته څوک مه پرېږده؟ حاجب ورته وویل چې د دباندې له خوا څخه خو مورِ څوک نه دی پرې اینبی چې دروازه وټکوي ته وګوره چې د کومې خوا دا سړی درغلی دی، ذوا الکفل ور ولاړ سو دروازه د دننه خوا هغسي بنده وه لکه ده چې بنده کړې وه، ذوا الکفل چې وکتل شیخ مظلوم په خونه کي دننه د ده سره ولاړ دی. ابلیس ورته وویل اتنام والخصوم ببابک (ته خوب کوې او خلګ په دروازه کي تاته ولاړ دي) نو ذوا الکفل پوه سو چې دا ابلیس دی، نو یې ورته وویل یا عدو الله انت ابلیس؟ قال نعم زه دي ډېر ستړی کړی وم نو ما هم دا درې ورځې پرتا خوب حرام کړی په امید ددې چې ته ما ته غصه او غضب وکړې او ستا عهد به مات سي لکن عصمک الله مني، فسمی ذوا الکفل لانه تکفل بامر کما مر من الشروط الثلثة فوفی بها فتامل.

كُلٌّ مِّنَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۸۶﴾

هر یو له دغو مذکوره انبیاؤ څخه له صبر کونکو څخه وه پر مصائبو او پر مشقت د عباداتو او ځانونه یې ساتلي وه د شهواتو او معاصیو څخه.

پوه سه: چې مراد له صابرینو څخه کاملین في الصبر دي، اما اسماعیل علیه السلام ده صبر وکړی پر ذبح کولو باندې د پلار ابراهیم علیه السلام، او پلار ته یې داسي وویل یا ابتي افعل ما تؤمر به ستجدني ان شاء الله من الصابرین، او بل یې صبر کړی ؤ په اوسېدو کي د مکې د وچې شپلې چې لازرع فیه ولاضرع ولانباء، نو څکه خدای پاک دده له نسل مبارک څخه خاتم الانبیاء محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پیدا کړی، او ادریس علیه السلام صبر کړی ؤ پر مشقت د دراست د کتاب الله، او د ذوا الکفل بیان نژدې تېر سو.

وَاَدْخَلْنٰهُمْ فِيْ رَحْمَتِنَا ۭ اِنَّهُمْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾

او مورِ داخل کړي وه یوله په رحمت خاصه کي خپل (من النبوة و درجات القرب من الله جل جلاله او په اخرت کي مقامات عالیه د جنتو دي) په تحقیق دوی له صالح بندګانو څخه د خدای جل جلاله وه، یعني کامل الصلاح چې د فساد هیڅ لار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته نه وه لکونهم معصومین من الصغائر والکبائر قبل النبوة وبعد النبوة.

درویش وایي: چي د عصمت د انبیاء علیهم السلام تحقیق مي په اکمله وجه ما په خپله رساله کي چي نوم يې (کشف الغطاء عن عصمت الانبیاء) دی کړی دی والله الموفق.

وَذَا النُّوْنِ إِذْ ذَّهَبَ مُغَاضِبًا

او بیان کړه قصه د ذا النون ای صاحب الحوت وهو یونس بن متی علیه السلام، یعني چي دا خبره د ذا النون هغه وخت وُ چي دی ولاړی له قوم څخه په داسي حال کي چي دی په نهایت غضب کي وُ.

درویش وایي: چي متی د یونس[۴] د پلار نوم وُ کما في البخاري وغیره وصححه ابن حجر رح. روح المعاني وایي چي زما علم نسته پر اتصال د نسب د یونس[۴] یعني چي نسب متصل یې چاته رسېږي، او ابن کثیر وایي چي متی د یونس[۴] د مور نوم وُ.

فائده: نسبت و مورته په هیڅ نبي کي نه دی راغلی پرته له یونس بن متی او عیسی بن مریم علیهما السلام، په جامع الاصول کي دغه مختاره ګڼل سوې ده چي د مور نوم یې وُ او عطاء رح وایي چي ما له کعب بن مالک رض څخه پوښتنه وکړه چي متی د یونس[۴] د مور نوم وُ او که د پلار؟ ده راته وویل چي د پلار نوم یې وُ، د مور نوم یې بدورة دی وهو من ولد هارون[۴].

فائده: لفظ د متی په فتح سره د میم او په تشدید د یاء مفتوحه ویل کېږي، او یونس[۴] ته ذا النون په دې سبب وایي چي ماهي تېر کړی وُ والنون الحوت کما سیأتي.

پوښتنه: مغاضبًا که څه هم له باب څخه د مفاعله دی او دلته غضب یوازي د یونس[۴] له خوا وُ. نو د باب د مفاعله څه توجیه ده؟

ځواب: توجیه یې داده چي پر شدت غضب د یونس[۴] دلالت وکړي، اهل صرف وایي چي ګاهي باب د مفاعلي لپاره د مبالغي راځي.

درویش وایي: چي په سبب کي د غضب د یونس[۴] اختلاف دی، ضحاک رح وایي مغاضبًا لقومه کما روی عن ابن عباس رض چي یونس[۴] او قوم دده په فلسطین کي اوسېدله، او بعض مفسرین وایي چي په نینوا کي اوسېدله چي د موصل یو وطن دی، نو بادشاه د کافرانو پر دوی حمله وکړه، نو ددوی څخه یې اووه سبطه او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قوم ددوی او یو نیمایي د سبط یې په حصارت بوتلل. او دوه نیم سبط پاته سوه. نو خدای ﷻ وحي وکړې و شعیاء ته چې نبي ؤ چې ته ورسه و حزقیاء ته چې دی بادشاه د بني اسرائیلو ؤ چې ته یو لښکر د یو قوي نبي په مشری واستوه و هغه بادشاه ته چې اووه نیم سبط د بني اسرائیلو یې یرغمال نیولي زه به د هغه بادشاه او ددهٔ د رعیتو په زړو کي بهره ورواچوم چې ټوله یرغمال بني اسرائیل به خوشي کړي. نو خرقیا چې ملک ؤ د بني اسرائیلو و شعیا النبي ته یې وویل چې کوم نبي واستوم او په هغه وخت کي په بني اسرائیلو کي پینځه نیسان وه، شعیا ورته وویل چې یونس واستوه انه قوي آمین. نو ملک یونس [۴] راوغوښتی او امریې کړی چې ته د دغه فوج مشري پر غاړه واخله. یونس [۴] ورته وویل چې خدای ﷻ زه په نامه دربنوولی یم؟ ملک ورته وویل یا! نو یونس [۴] ورته وویل چې نور انبیاء اقویا خو هم سته هغه ولي نه استوې. ملک او قوم پریونس [۴] د بر الحاح او تهنګار وکړی فهرب وخوج یونس [۴] مغاضبًا للملک ولقومه فاتی بحر الروم فرکب السفینة الی آخیر القصة کما سیاتي ان شاء الله تعالی.

او بعض مفسرین وایي چې یونس [۴] وروسته تر نصیحت و قوم ته او د هغو اصرار پر کفر باندې د خدای ﷻ څخه خواست د نزول د عذاب پر دوی وکړی او خدای ﷻ نېټه د نزول د عذاب پر دوی ورونبوول او یونس [۴] قوم ته هغه وخت د نزول د عذاب پر دوی که ایمان را نه وړي بیان کړه. او ده د قوم له منځه بېله اجازې د خدای ﷻ هجرت وکړی هغه نېټه د نزول چې راغله او علامات د نزول د عذاب چې بنکاره سوه قوم پر کفر پښېمانه سو او سره وه یې ویل چې یونس [۴] پیدا کړئ چې ایمان پر راوړو او دا عذاب نسي واقع، هر څه تلاش چې یې وکړی یونس [۴] یې نه کړی پیدا اخیر رئیس د قوم و خلګو ته وویل یونس [۴] که نسته د ده خدای ﷻ خو سته، نو یې امر وکړی چې ټوله حیوانات یعني اوښه چې لنګه وي سره د شیر خواره جونګي، او غوا چې لنګه وي سره د شیر خوار ګیلګي وهکذا مېږي، بزې او هغه بنځي چې شیر خوار اولادونه لري او انسانان ټوله دي صحراء ته ووځي، نو هلته دي اوښه او جونګی، غوا او ګیلګی، مېږي او وري، بزې او مرغومان، بنځي او شیر خواره کوچنیان دي سره جلا کړي تا چې فضاء ټوله د ژړا وکه سي او خلک دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم دژړا ډېغ په دربار کي د خدای ﷻ خپور کړي او نارې د ایمان بیونس ؑ دي وهي او د آمنت بالله وحده نارې دي وهي، هغه ؤ چې په دې سبب عذاب پر دوی نسو نازل، یونس ؑ چې یو ځای پټ ؤ او د دوی د عذاب انتظار یې کاوه، بعض خلک مسافر د یونس ؑ د قوم چې پر لاره یې سفر کاوه یونس به د هغو څخه پوښتنه کوله د نزول د عذاب پر قوم دد، هغو مسافرو به ورته وویل چې هغه صحیح سالم وه، نو یونس ؑ له دې کبله چې په سبب د عدم نزول نه ؤ خبر دا یې خیال سو چې زه قوم ته ورسم هغه به ماته دروغجن وایي، او وایي به چې کومه دی چې عذاب نازل سو، او په یوه روایت کې راځي چې د هغو دا قانون ؤ چې پر چا به دروغ ثابت سوه هغه به یې قتل کاوه، یونس ؑ پر خپل مرک هم وبېرېدی، نو ولاړی په کښتی کې سپور سو.

فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَيْهِ

دروښ وایي: هذه عبارة مشكلة وقد ذكر المفسرون لهذه العبارة توجيهات فقيل ظن يونس (گومان وکړی یونس ؑ یعني په فرار له قوم څخه بېله اجازې په هر صورت چې ؤ كما ذكرنا من الاحتمالين) ان لن نقدر عليه (چې موږ به تنګي پرده په حبس جوړه نه کړو كذا قال عطاء وكثير من العلماء، او بعض علماء وایي چې نقدر مشتق دی له قدر څخه په معنی د قضاء، والمعنى موږ به فيصله د عقوبت پرده ونه کړو كذا قال مجاهد والضحاك والكلبي وروى ذالك عن ابن عباس ؓ.

توجیهات: (۱) ماذكرنا آنفًا (۲) بعض مفسرین وایي چې دا عبارت تمثيل دی د حال د یونس ؑ چې ده له قوم څخه خان جلا کړی بېله امره د خدای ﷻ په حال سره د هغه چا چې گمان کوي چې خدای ﷻ به پرده قدرت د عذاب نه ولري، او مظهري وایي ناقلاً چې دا یوه وسوسه شیطانیه وه چې دده وهم ته بې اختیاره تېره سوه فمسى ظنًا مبالغة.

دروښ وایي: چې چونکه دا یو نازک مقام ؤ نو ددې مقام د تفصیل زه تاسي ته حواله د تفسیر روح المعاني او د تفسیر روح البیان او د تفسیر بحر مواج او د تفسیر قرطبي او د تفسیر مظهري درکوم، او هغه تفسیر چې موږ ذکر کړی اولاً وثانیًا وثالثًا په هغه کې مطالعه کونکو ته د تفسیر ایوبي کفایت دی والله اعلم بالصواب.

د یونس ؑ د قصې راویان په یوه خوله وایي چې یونس ؑ په هر صورت چې ؤ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بحر الروم ته يې ځان ورساوه هوړې کښتی ولاړه وه نفر پکښې سپاره وه، یونس ؑ چې کیښتی ولیدل دی هم پکښې سپور سو، کښتی روانه سوه د دریاب په څپو کې ځای پر ځای ودرېده له ملاحانو د کښتی وویل چې زمونږ د کښتی دا عادت دی چې یو عاصي اویا عبد آبق له مولی څخه چې پکښې سپور وي کښتی درپرې هیڅ حرکت بیا نه کوي، نو چونکه عاصي یا عبد آبق من المولی مونږ ته نه معلومېږي، نو مونږ قرعه چې په پښتو یې پچه بولي کوو د هر چا قرعه چې وختل هغه دریاب ته غورځوو ولي چې د ټولو اهل کښتی تر هلاک د یوه سړي هلاک افضل دی، نو قرعه چې یې یو وار و کړه قرعه د یونس ؑ وختل، چونکه ملاحانو دده زېبا هیئت او صورت ته وکتل شک د عاصي یا د عبد آبق من المولی یې نه پر راتلی، دویم وار یې قرعه وکړه بیا قرعه د یونس ؑ وختل، درېیم وار یې بیا قرعه وکړه بیا قرعه د یونس وختل، یونس ؑ خپل کالي پر ځان راټول کړه او داسي یې وویل، نعم انا العبد العاصي والعبد آبق من المولی یم، یعني بېله اجازې د خدای ﷻ زه له قوم څخه فرار سوم، او ځان یې و دریاب ته وغورځاوه، په ارادة الهي او قدرت خداوندي ﷻ غټ ماهی اماده باش ولاړؤ او یونس ؑ یې سره د کالو تپر کړی، او ماهي ته خدای ﷻ وحي وکړې چې دا شخص ستا خوراکي غذا نه ده بلکې ستا نس د څو ورځو لپاره بندي خانه فکر کوه چې یو وېښته یې ضائع نه کړې، ماهی د اوبو د دریاب پای ته ولاړی.

فائده: بعض کسان به دا توهم کوي چې د ماهي څومره خوله وه چې یونس ؑ یې سره د کالو تپر کړی، ددې ځواب دادی چې تاریخ پوهان وایي یعني اهل العلم چې په ماهیانو کې د دریاب دومره کوچني ماهیان سته چې لایدرکه الطرف چې سړی یې په ولاړي نسي لیدلای یعني تر دغه بالا نه غټېږي او دومره لوی ماهیان هم سته چې لایدرک طرفه یعني چې سړی فرضًا وسر ته و درېږي لکی یې نه وینې او که یې لکی ته و درېږي سر یې نه معلومېږي.

فَنَادٰى فِي الظُّلُمٰتِ

پوه سه: چې کلمه د فا تفریع پر ماقبل ده یعني یونس ؑ په کښتی کې سپور سو او قرعه کشي وسوه او یونس ؑ خان و دریاب ته وغورځاوه او ماهي تپر کړی او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دریاب پای ته ولاړی. نو یونس ؑ نارې کړې په تاریکیو کې چې یو ظلمت د بطن الحوت ؤ او بل د دریاب د پای او بل ظلمت د شپې ؤ. او شیخ سمرقندي په بحر مواج کې وایي چې ظلمات یې په دې سبب جمع راوړه چې د شپږو جهاتو څخه تاریکه وه لکه په یو حدیث کې چې راغلي دي (رئیت رجلاً من امتي من بین یدیه ظلمة ومن خلفه ظلمة وعن یمینه ظلمة وعن یساره ظلمة ومن فوقه ظلمة ومن تحته ظلمة فهو متحیر في الظلمات)

اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنْتَ سُبْحٰنَكَ ۖ اِنِّیْ كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِیْنَ ۝

دا چې نسته معبود بالحق مګر یو ته. پاکي ده تا لره د ټولو نامالایلیق بشانک الاقدس. په تحقیق زه یم د ظالمانو څخه چې ستا بې اجازې مي له قوم څخه هجرت وکړی یعني دا ابتلا. چې تا زما وکړه ظلم زما له جهته څخه ؤ. ستا ذات اقدس له ظلمه پاک دی. ولذا قال سبحانک.

درویش وایي: چې محي السنة البغوي ؒ د ابو هریره ؓ څخه حدیث مرفوع نقل کړی دی چې د هغه په یوه برخه کې راغلي دي چې ماهی چې د دریاب پای ته چې په نس کې یونس بندي ؤ تسبیح یې واورېدل نو په زړه کې ورو ګرځېدل چې دا تسبیح د چا ده خدای وحي ورته وکړې چې دا تسبیح د دواب البحر ده. نو یونس هم په تسبیح شروع وکړه د ماهي په نس کې ملکو د آسمانو دا تسبیح واورېدله دا سي یې وویل یا ربنا نسمع صوتاً ضعیفاً بارض غریبة؟ خدای پاک ورته ویل ذاک تسبیح یونس عصاني فحبسته في بطن الحوت. ملکو وویل چې هغه صالح بنده یونس چې دده له خوا به هره ورځ د هر عمل صالح تا ته پورته کېدی؟ قال نعم، نو ملکو یې وخدای ﷻ ته شفاعت وکړی، نو خدای پاک امر کړی ماهی چې یونس د دریاب پر غاړه قی کړه. کما قال الله تعالی فنبذناه بالعراء وهو سقیم.

فَاسْتَجَبْنَا لَهٗ ۙ وَنَجَّیْنٰهُ مِنَ الْغَمِّ ؕ وَكَذٰلِكَ نُنْجِی الْمُؤْمِنِیْنَ ۝

نو قبلونه وکړه د خواست د یونس ؑ. او داغسي لکه یونس ؑ چې مو خلاص کړی له غم څخه موږ نجات ورکوونورو مؤمنانو ته له غمو څخه چې په اخلاص یونسي موږ ته خواست وکړي او موږ ته رجوع وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: یونس ؑ کله د خلاصون خواست وکړی؟

ځواب: لا اله الا انت سبحانک آه، دا ادب د لاري د نجات ضمني خواست دی، او مور دی خلاص کړی له غم څخه د ګناه او له غم څخه د تپرېدلو د ماهي او له غمه څخه د ظلمات بتلک الکلمات یعني لا اله الا انت آه.

په حدیث صحیح کي چي روایت یې احمد او ترمذي کړی له حدیث څخه د سعد بن ابي وقاص ؓ قال رسول الله ﷺ دعوة ذی النون (یعني یونس ؑ) چي دعاء وکړه په نس کي د ماهي لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین. لم یدع به رجل مسلم في شیئ (یعني په یو مشکل کي که یو ګناه وي او که مرض وي او که حبس وي او که فقر وي او که ناجوړي وي الی غیر ذالک) الا استجاب له، خدای ﷻ یې قبلوي.

دروښ وایي: چي په دې باب کي ډېر حدیثونه نور هم ستة، په دې کي اختلاف دی چي څومره وروسته ماهي یونس ؑ پر مځکه قی کړی (۱) څلور ساعته وروسته (۲) درې ورځي وروسته (۳) اووه ورځي وروسته (۴) څلوېښت ورځي وروسته.

چون فرو آید بلا بی دافعی ..... جزع تضرع نبود دیگر شافعی

دروښ وایي: وتمام قصة یونس ؑ في سورة والصافات.

وَزَكَرِيَّآ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥ رَبِّ لَا تَذَرْنِى فَرْدًا وَأَنتَ خَيْرُ ٱلْوَٰرِثِينَ ﴿٨٩﴾

او په یاد کړه او ذکر کړه قصه د زکریا ؑ هغه وخت چي ده خواست وکړی له خدای ﷻ څخه په دې دول اې رب (اصله یا ربي) ته مه ګرځوه ما تنها یعني بېله زویه چي زما جای نشین او خلیفه وروسته تر مرګ زما وي، دا بیان د نداء دی، او ته خیر د وارثینو یې، یعني الباقي بعد فناء الخلق.

پوه سه: چي (وانت آه) حال دی له فاعل څخه د لاتذرني او مقصود له دې څخه ثناء د خدای ﷻ ده.

فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ وَوَهَبْنَا لَهُۥ يَحْيَىٰ وَأَصْلَحْنَا لَهُۥ زَوْجَهُۥٓ ۚ

موږ یې دعاء قبوله کړه او ورو ورو موږ ښه ده ته زوی یحیی ؑ.

فائده: وهبنا یې وایه لان یحیی کان هبة الله الی زکریا لان امرته کانت عقیمة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کمایدل علیه قوله تعالی (واصلحنا له زوجه) موږ صالح وګرځول همسره ددده د ولادت لپاره یعني وروسته تر دې چې وچه وه له ځوانی ځخه تر سپین سر توب تر وخته پوري.

دروښ وایي: چې بعض ناپوهان وایي چې ماینه خو زوجة په تانیث د تابولي او په قرآن کي زوجه په تذکیر راغلی دا دده غلط توهم دی، ولي که نر وي او که ښځه چې یوازي وي فرد یې بولي چې بل ورسره ملګري سي که نر اوي او که ښځه زوج یې بولي یعني جفت، او په سورت بقره کي راغلي دي چې په قصه کي د آدم اخرج انت وزوجک الجنة.

إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا ۖ

په تحقیق دغه انبیاء مذکورین یعني ایوب، یونس وزکریا علیهم السلام دوی په چټکی او په رغبت سره کول د خیر کارونه (من دعوة الناس الی توحیده تعالی والطاعات والصبر علی اذی اقوامهم کما لایخفی من احوال الانبیاء) او دوی زموږ عبادت کاوه یا یې خواست راته کاوه.

پوه سه: چې رغبا یا مفعول له ای لاجل الرغبة في التقرب الینا بالعبادات او لاجل قبول السوال بصفة جماله تعالی. او یا حال دی په حذف د مضاف ای ذوي رغبة او یا مصدر په معنی د فاعل دی ای راغبین في الطاعة کما قال رسول الله ﷺ جعلت قرة عیني فی الصلوة رواه احمد والنسائي من حدیث انس رضی الله عنه او روح المعاني دا احتمال هم راوړی دی چې رغبا او رهبا دي حال وي او پر معنی مصدري دي پاته وي مبالغة کما في زید عدل، او بعض مفسرین چې وایي چې رغبًا او رهبًا دي جمع د راغب او راهب وي لکه خدم او خادم انتهی.

دروښ وایي: چې هغه سابق احتمالات د رغبًا په رهبًا کي هم جاري دي، ای لاجل الخوف لصنعه جلاله تعالی او ذوي خوف في عدم قبول الطاعة او السوال، او المعصة او العقاب، او نفس الرهبة علی المبالغة تامل.

دروښ وایي: چې په مجمع البیان کي راغلي دي چې د دعاء د رغبة د ورغوي په غوړېدو سره کوي الی جانب السماء او د دعاء رهبة په ظهور د کف کوي لکن مشهوره دا ده چې د رغبت په سوال کي ورغوي خلاص نسي د آسمان وخواته مع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ادنی فرجة ینهما، او د رهبة په دعاء کي دي ګوتي را پورته کړي د مخ و خواته او چي چاته ښکاره کوي شاد ورغوي دي د آسمان و خواته و ګرځوي اشارة الی نزول العذاب علی المدعو علیه.

وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ ﴿٩٠﴾

او دوی وه موږ لره ښکته ښکته ونکی بندګان مجاهد وایي چي خشوع خوف لازم په زړه کي لاجل کمال معرفة عظمة الله جل شانه.

سوال: مشهوره داده چي خشوع د ظاهري اعضاو د بدن صفت ده او خضوع د زړه صفت ده؟

ځواب: حال د انبیاء علیهم السلام اعلی دی تر دې چي عجز د دوی دي محصور پر ظاهري اعضاء وي لانه یوجد في المرائي ایضا بل لهم خشوع کامل قلبا وقالبا قاله العلامة البروسي رح و کذالک غیر الانبیاء علیهم من اهل الله، بیت بر فلک بر تر بود اسرار او، شیئًا لله شیئًا لله کار او، او د مرائي په حال کي دا بیت ډیر موزون دي، بیت بروي ریا خرقه سهلست دوخت، وګرباخدا در فروشي نکوست.

وَالَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا

منصوب دی په اذکر مصدر سره والمراد بالموصول مریم بنت عمران او په یاد کړه ته هغه ښځه چي دې ساتلی وُ خپل فرج د حلال او حرامه څخه یعني د نکاح او د زنی څخه روح المعاني وابي الفرج في الاصل هو الشق بین الشیئین، کالفرجة ومابین الرجلین للمرئة وکثر استعمال وصار کالصریح في ذالک وهو المراد ههنا اي سنعت فرجها من النکاح والسفاح (ای الزنی) کما سیئاتي من قولها: ولم یمسني بشر ولم اک بغیا.

مسئله: تبتیل یعني نکاح نه کول په هغه وخت کي مشروع وه نرو او ښځو ته، نو مریم علیها السلام هم څانګ د تبتل په تناو ترلی وُ.

فَنَفَخْنَا فِيهَا

یعني پوه کړه جبرئیل په امر زمونږ (فیها) ای في مریم والمراد نفخ في جیب درعها، په ګریوان کي د قمیص د دې، نو دا نفخه ورسېدل په امر د خدای و رحم ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دد ي. نو خداى په خپل قدرت سره د دې په رحم کې مسيح بن مريم عليه السلام.

فائده: بعض انسانان نه پلار لري او نه مور لکه آدم عليه السلام چې د خټو څخه خداى جل جلاله پيدا کړى، او بعض انسانان پلار لرې مور نه لري لکه حوا چې د ديوې پښتې څخه د آدم عليه السلام خداى پيدا کړه. نو آدم بمنزلة الاب للحوا، او بعض انسانان مور لري پلار نه لري لکه عيسى عليه السلام.

پوښتنه: جبرئيل چې د مريم په ګريوان کې پوه کړه خو په رنګ د سړي وُ کما ورد فتمثل لها بشرا سويًا، نو د دې يعني مريم څرنګه پوه کول؟

ځواب: ملکه شهوت نه لري که په صورت د نر وي او که د ښځې.

مِنْ رُّوْحِنَا وَجَعَلْنٰهَا وَابْنَهَآ اٰيَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۱﴾

اى الروح الذي مخلوق بامرنا والاضافة تشريف المضاف او يا د روح څخه جبرئيل عليه السلام مراد دى كما في قوله تعالى تنزل الملائكة والروح. فالمضاف محذوف اى من جهة روحنا اى جبرئيل، او مور او ګرځول مريم او زوى د دې عيسى عليه السلام علامه او دليل د قدرة، لپاره د ټولو عالميانو.

سوال: مفعول اول د جعلنا خو مريم او زوى دواړه وه، نو مفعول ثاني چې آية دى ولې مفرد راوړى مع ان المطابقة بين المفعولين لجعل لازمة؟

ځواب: مراد دلته جعلنا حالها او قصتها وهو مفرد فافهم، والمراد بالاية دليل القدرة الالهية على ما يشاء.

اِنَّ هٰذِهٖٓ اُمَّتُكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً ۖ

اى ملة التوحيد والايمان بجميع الانبياء بان لا نفرق بين احد منهم والسمع والطاعة لله وسوله في كل وقت فهو اشارة الى جميع الملل الحقة او المراد منه ملة الاسلام.

پوه سه: چې دا خطاب دى ټولو خلګو ته.

سوال: هذه اسم اشاره دى چې محسوس بالبصر ته کېږي او توحيد او اسلام خو امر معقول دى، نو څرنګه اشاره ورته صحيح ده؟

ځواب: دا اشارة د باب څخه د قول خضر د موسى عليه السلام، هذا فراق بيني وبينك. يعني تصور المشار اليه في الذهن واشير اليه ففيه مبالغة في امتياز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الامر المعقول حتى صار لغاية الامتياز كالامر المحسوس بالبصر، فافهم، والامة په قول د صاحب المطالع اصلـ هغه قوم دی چې پر دين واحد سره يو ځای وي، بيا يې توسع پکښې وکړه چې نفس دين ته هم وايي واطلاقها على نفس الدين مجاز. وظاهر كلام الراغب ؒ انه حقيقة ايضًا وهو المراد ههنا. او مقصود په دې جمله خبريه سره الامر على المحافظة على تلك الملة ومراعات حقوقها، والمراد ان ملة الاسلام ملتكم التي يجب ان تحافظوا عليها وعلى حقوقها فافعلوا ذالك كذا قال العلامة البروسوي ؒ (امة واحدة) منصوب على الحال من امة والعامل فيها معنى اسم الاشارة چې په نحو کې عامل معنوي بولي كما في قوله تعالى (وهذا بعلي شيخًا) مراد له وحدت ځخه دادی چې ټوله انبياء په دې ملت کې سره متحد دي لا اختلاف بينهم فيها ولا مشاركة لغيرها في صحة الاتباع قال الله تعالى ومن يتبع غير الاسلام دينًا فلن يقبل منه.

پوه سه: چې اختلاف په منځ کې د انبياء عليهم السلام په اصولو کې د دين نسته يعني العقائد البته په اختلاف د عصر او زمان په بعض فروع کې اختلاف سره لري كما هو ظاهر.

وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ ﴿٩٢﴾

او زه مو رب يم زما ځخه پرته بل رب نسته نو زما عبادت کوئ نه د بل چا من الاصنام والملائكة والكواكب وغيرها.

پوه سه: چې اکثره قراء فاعبدون په حذف د يا اضافت وايي او کسره د نون پر دليل بولي، او بعض قراء يې په اثبات د ياء وايي لكن الحذف مناسب لرؤس الايات فافهم.

وَتَقَطَّعُوا أَمْرَهُم بَيْنَهُمْ ۖ

پوه سه: چې په دې آيت کې التفات دی له خطاب ځخه و غيبت ته.

فائده: القطع: جلاکول د شي که مدرک بالبصر وي لکه اجسام او که مدرک په عقل وي لکه اشياء معقوله، او باب د تفعل دلته په معنى د تفعيل دی ای قطعوا وفرقوا كما في الشافية علمته الفقه فتعلم الفقه، والمراد بامرهم امر دينهم، والمعنى جعل الناس امر الدين قطعًا فصاروا بحيث يلعن بعضهم بعضًا وما كان لهم ينبغي ذالك، دا يوه لويه جريمه ده چې دوی وکړه چې هغه دين چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ټوله انبیا، پر متفق وه دوی ټولټ ټولټ وګرځاوه.

درویش وایي: چي دا تفریق له قدیم زمان څخه روان دی، په تاریخ قدیم کي راغلي دي چي امت ابراهیم ؑ وروسته تر ده اوویا ډلي سوه، حتی چي مشرکینو د مکي به هم ویل چي موږ پر امت ابراهیم یو. او امت د موسی ؑ وروسته تر ده یو اوویا ډلي سوه، او امت د عیسی ؑ وروسته تر ده دو اوویا ډلي سوه، او امت د محمد ﷺ وروسته تر ده درو اوویا ډلي سوي دي، وقد ورد في الحدیث الصحیح کلهم في النار الا الناجیة، ناجیه هغه ډله چي خدای او رسول ده چي هغه شی ښوولی وي په هغه یې نفساني، تعصبي، هوائي او ریاء کاري افعال نه وي ګډ کړي.

كُلٌّ إِلَيْنَا رٰجِعُونَ ۝

تنوین عوض له مضاف الیه څخه دی ای کل فرقة به موږ ته رجوع وکړي یعني موږ به هري ډلي ته موافق جزاء ورکړو من الجنة والنار.

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

هغه څوک چي عمل وکړي یو شی له اعمال صالحه وو څخه ولو کان مثقال ذرة او حال دا وی چي دده ایمان وي پر خدای ﷻ او پر رسولانو د خدای او پر ما جاؤا به من الکتب والادیان، دا قید ددې لپاره وویل سو چي ایمان شرط دی د ثواب پر اعمال صالحه وو، ولي چي مشرکانو د مکي هم خدمت د حجاجو کاوه او د زمزم آبیاري یې پر غاړه درلوده لکن چي ایمان نه وُ په مذکوره افعالو کي د خیر یې ثواب نسته في الآخرة وهکذا في العصر الحاضر د امریکایانو یا د نورو کفارو خیریه مؤسسات د کونډیانو، یتیمانو او مصیبت زده ګانو سره چي مرستي کوي لکن چي ایمان یې نسته ثواب یې هم نسته.

فَلَا كُفْرَانَ لِسَعْيِهٖ ۚ

پوه سه: چي لا لپاره د نفي جنس دی ای لا بطلان ولا منع عن الثواب لعمله.

دقیقه پوښتنه: کفران په لغت کي ستر د نعمت او انکار ته د نعمت وایي، نو عمل صالح د بندګانو خو نعمت پر خدای ﷻ نه دی لاستحالته الانعام علیه تعالی حتی چي منع د ثواب یې کفران سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: سلمنا ذالک لکن خدای ﷻ له منع څخه د ثواب د سعي د بنده په کفران سره تعبیر وکړی لبیان کمال تزاهته عن ذالک بتصویره بصورة المستحیل علیه تعالی من القبائح لپاره د مزید اطمنان د بندګانو په ورکړه کي د ثوابو دوی نه حتی چي ابراز د مشابه په معرض کي د امورو واجبه وګرځاوه پر خان ونفي بنفي الجنس ای لاکفران المفید للعموم بدلالة لام نفي الجنس علیه، لکه عمل صالح د بنده څو نعمت پر خدای ﷻ نه دی حتی چي پر خدای ﷻ یې شکر واجب سي لکن بیا هم خدای ﷻ په قبول کي د عمل صالح د بنده وایي (ان ربنا لغفور شکور)

درویش وایي: چي دا سوال او خواب حاصل دی د صافي روح المعاني وروح البیان والمظهري وتفسیر الرازي وغیرها فتفکر فیه غایة التفکر.

وَإِنَّا لَهُ كَاتِبُونَ ﴿٩٤﴾

او موږ دده عمل او سعي نوشته کونکي یو په صحائف کي د اعمالو دده چي کرام کاتبین ملکي یې کوي، او نسبت د کتابت خدای ﷻ و ځان ته وکړی لان کتابة الملائکة الکرام علیهم السلام بامر تعالی ﷻ.

وَحَرَامٌ عَلَىٰ قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا أَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُونَ ﴿٩٥﴾

فائده: قریه په اصطلاح د قرآن ومصر جامع ته وایي کما في القاموس او هغه ځای ته هم وایي چي د هر خلک پکښي جمع کیږي کما في المفردات.

فائده: مراد د قریه اهل قریه دی مجازًا او بحذف المضاف ای علی اهل قریة.

فائده: حرام شرعي حرام ته وایي لکه زنی، لواطت وغیرهما، او عقلي حرام ته هم وایي کاجتماع النقیضین او ممنوع بالتسخیر الهي ته هم وایي په دې آیت کي هم دغه معنی مراد ده کما في قوله تعالی في قصة موسی ﷺ وحرمنا علیه المراضع.

فائده: بعض قراء لفظ د حرام حرم بکسر الحاء وسکون الراء بلا الف وایي، او جمهور قراء یې په فتح د (حاء) او (راء) بینهما الف وایي دا دوه لغته دي معنی یې یوه ده مثل حل وحلال.

فائده: جمله د (انهم لایرجعون) په تاویل د مفرد مرفوع محلا مبتدا ده او حرام یې خبر مقدم دی ابن حاجب ﷺ په امالي کي وایي چي تقدیم د خبر په ورته صورت کي واجب دی لما تقرر في النحو من ان الخبر عن ان یجب تقدیمه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په ان کي چي معنی د تحقیق او تاکید سته معتبر دی په نفي کي چي د حرام څخه وفهمېدی لا في المنفي ای ممتنع عدم رجوعهم الینا حتمًا والمعنی ممتنع غیر متصور الوجود پر اهل قریه باندي چي دوی دي موږ ته رجوع ونه کړي په آخرة کي بلکه حتمًا به هي کوي د مجازات د پاره.

فائده: د اهلکنا ها. معنی حکمنا باهلاکها کعاد و ثمود وغیرهما او یا په هي معنی دا ده وجدناها هالکًا ای کافرًا.

پوه سه: چي ابتدائیت د ان مع جملها روح المعاني او روح البیان او مظهري تولو راوړي دي لکن مظهري داسي اعراب هم راوړی دی چي حرام علی قریة اهلکناها مبتدا، ده او خبر هي محذوف دی تقدیره حرام وممتنع علیهم، ذاک (دا خبر دی) ومعنی ذاک المذکور في الایة المتقدمة من عدم تضییع الحسنات ای تحبط اعمالهم او یا هي خبر دا دی ممتنع توبتهم علی تقدیر ترجمة اهلکناها باوجدناها هالکًا ای کافرًا او یا هي معنی دا ده رجوعهم الی الحیاة الدنیا او یا هي خبر دا دی عدم بعثهم للجزاء مظهري ؒ وا هي چي پر دي تقدیر د انهم لا یرجعون، معنی دا ده لانهم لا یرجعون بالتوبة والاخلاص الینا او لانهم لا یرجعون الی الدنیا حتی چي دوی ایمان راوړي ،والکل تکلف بلا ضرورة فافهم..... تضرع:

ندارم تو شه راه قیامت.....بجز شرمنده گي وروسیاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه.....بجز اشک ندامت آه آهی

قال الله: قل لعبادي الذین اسرفوا علی انفسهم لا تقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعًا.

حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ

هغه وخت چي خلاص سي سد د یاجوج او ماجوج بحذف المضاف یعني سد هما وهما اسمان لقبیلتین من الانس.

پوه سه: چي حتی دلته نه حرف جر دی او نه حرف عطف دی بل حرف یبتدء بها الکلام او دا حرف غایة ده د ما قبل د پاره کانه قیل یستمرون علی ما علیهم من الهلاک حتی اذا اقامت القیامة ای قرب قیامها بفتح سد یاجوج وماجوج یرجعون الینا ویقولون یا ویلنا آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې قصه د یاجوج وماجوج وبناء السد علیهما وفتحه في آخر الزمان د مخه تېره سوه په سوره کهف کې کذا في روح البیان وتفسیره علی التمام في سورة الکهف في قوله تعالی هناک فاذا جاء وعد ربي جعله (ای السد) دکا، (په مخکه پوري متصل) وَکانَ وَعدربي حقًا.

وَهُمْ مِّنْ كُلِّ حَدَبٍ يَّنْسِلُوْنَ ۝

یعني یاجوج وماجوج د هره لوړه ځای که غرونه وي او که غنډې په منډه منډه راځغلي.

فائده: تصریح په حدب سره چې وکړه لان مقرهم ما وراء الجبال، نو دوی تر غرورا اوړی په ځغاسته د حذیفه بن الیمان ؓ څخه روایت دی وقیل عن حذیفة بن الاسد الغفاري ؓ روایت دی چې علیه الصلوة والسلام مسجد نبوي ته تشریف فرما سو موږ بحث سره کاوه، نو علیه الصلوة والسلام پوښتنه راڅخه وکړه چې په څه شي کې تاسي خبري سره کولې موږ ورته وویل د قیامت په باره کې علیه الصلوة والسلام وویل چې قیامت (یعني نفخ الصور الاول) نه قائمېږي تر هغه دمخه چې تاسي لس شیان (یعني خارق العادة) ونه وینې، نو علیه السلام ذکر کړی (۱) الدخان (یعني الخارج من الارض) (۲) والدجال (۳) والدابة (ای الدابة الارض) (۴) وطلوع الشمس من مغربها (۵) ونزول عیسی بن مریم علیه السلام (۶) ویاجوج وماجوج (۷) وثلاث خسوف خسف بالمغرب (۸) وخسف بالمشرق (۹) وخسف بجزیرة العرب (۱۰) و آخر ذالک نار یخرج من الیمن تطرد الناس الی محشرهم (یعني البیت المقدس) رواه مسلم.

وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ فَاِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ اَبْصَارُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ

او نژدې سي هغه وعده چې حق ده یعني یوم القیامة ترکیب، وروسته تر حتی یعني اذا فتحت آه جمله شرطیه ده وقوله وهم من کل حدب آه حال ده یاجوج او ماجوج څخه وقوله واقترب الوعد الحق عطف دی پر فتحت باندې او فراء نحوي ؒ وایي چې کلمه د واو په اقترب الحق کې زائده ده او دا جمله جزاء د شرط بولي، او مظهري ؒ قول د فراء رد کړی بان الواو لا تکون زائدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې فراء پر زيادة د واو دليل ويلی دی بقوله تعالى في قصة ابراهيم و ابنه اسمعيل عليهما السلام. فلما اسلما وتله للجبين ونادينا. آه يعني واو د نادينا زائد والتقدير فلما اسلما للجبين نادينا، نو څرنګه د مظهري قول چې واو زائد نه سي صحيح دی؟

ځواب: د مظهري مراد دا دی چې بېله ضرورته قول په زيادة مردود دی په هغه آيت چې فراء دليل په ويلی دی بېله و نادينا بله جزاء د شرط نسته، نو ځکه واو زائد دی او په مانحن فيه کې خو ضرورت نسته لان جزاء الشرط قوله تعالى فاذا هي آه.

پوښتنه: چې هي ضمير د قصة دی و شاخصة مبتداء قسم ثاني ده کما في الكافيه يعني الصفة المسندة الى فاعلها يعني الابصار فاعل لها، ويحتمل چې ابصار الذين كفروا دي مبتداء قسم اول وي او شاخصة دي خبر مقدم وي، وشاخصة مشتق من الشخوص يقال شخص بصره والمعنى فتح عينه يعني سترګي رډي ولاړي وي نه بې سي ږپولای من شدة الهول والحر، لكن دا حال الذين كفروا دی، لان المؤمن وان كان عاصيًا جدًا لايكون كذالک استدلالاً بهذه الآية.

سوال: په نحو کې واېي چې اذا مفاجات كما في نحن فه قائم د فاء جزائية کېدای سي كما في قوله تعالى اذاهم يقنطون، نو په موجود آيت کې چې هم فاسته او هم اذا مفاجات حکمت د اجتماع بې څه دی؟

ځواب: حکمت د اجتماع تاکيد دی د اتصال د جزاء بالشرط المذكور، يعني چې د اقتراب د وعد الحق او د شخوص الابصار تر مابين اتصال په حيز کې د خفاء په نيز د عقل ؤ، نو ځکه يې تاکيد ته ضرورت سته فافهم جدًا.

يٰوَيْلَنَا قَدْ كُنَّا فِيْ غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا بَلْ كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۹۷﴾

پوښتنه: چې په (ياويلنا) کې يا د نداء ده او ويل هلاک ته وايي او د ويل نداء مجاز ده على عادت العرب عند الوقوع في الفزع العظيم والمهلكة، او دا جمله مقدر په يقولون سره ده (اى يقولون يا ويلنا) او مجموع جمله حال ده له (الذين كفروا) څخه.

ترجمه: په تحقيق موږ ؤ يعني په دنيا کې په غفلت عظيمه کې (نو تنوين د غفلة لپاره د تعظيم دی او د هذا څخه ورځ د قيامت او بعث بعد الموت ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکین خندي منکر وه او دا جمله کالتعلیل لقولهم یا ویلنا) بلکه ؤ موږ ظالمان پر خپلو ځانو چي د دې څخه مو انکار په دنیا کي کاوه او یا مراد د ظلم څخه وضع الشیئ في غیر موضعه یعني چي حق د خدای ؤ موږ د بتانو کاوه.

إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ

تاسي ای مشرکانو او هغه شیان چي تاسي عبادت کوئ ماسوی د خدای څخه.

پوه سه: چي کلمه د ما پر مشهور باندي خاصه ده په غیر ذوی العقول پوري او تحقیق دا دی کما هو المختار عند المحققین کا المحقق الجامي ؒ والمحقق البیضاوي ؒ. نو ما تعبدون شامل دی وما لایعقل من الاجسام لکه بتان د مشرکانو او ګیلګی (سخندر) د سامري. او ما یعقل من المعبودین ته هم شامل دی لکن چي په خپل معبودیت راضي وي لکه شیطانان او یا مدعي د الوهیت من الانس بالباطل لکه فرعون و نمرود وغیرهما چي د خدایي دعوه یې کړې وه.

سوال: د ملکو ځو هم بعض کفره عبادت کوي، او د عیسی ؑ عبادت ځو هم نصاری کوي؟

ځواب: دا معبودین په عبادت سره د خلګو نه دي راضي، نو دا معبودین خارج دي له آیت ځخه بالعقل والنقل قال الله تعالی ولاتزر وازرة وزر اخری.

دروښ وایي: چي د دې عموم تائید هغه حدیث هم کوي چي دا آیت چي نازل سو ابن الزبعري وویل چي دا خاص زموږ په خدایانو سره دی یعني بتان که کل من عبد ته شامل دی من دون الله، علیه الصلوة والسلام ورته وویل لکل من عبد من دون الله الی اخیر الحدیث، او که چېرې کلمه د ما مختص په غیر ذوی العقول سره سي کما هو المشهور فظاهر ان من لایرضی بکونه معبوداً من العقلاء کالملائکة وعیسی غیر داخل فیه.

حَصَبُ جَهَنَّمَ

یعني دوزخ ته به غورځول کېږي او د دوزخ اور به په بلېږي لپاره د رسوایي د کفارو صرفا لکه په بتانو چې داتو کي، اویا د تفضیح د عابدانو لپاره او لپاره د تعذیب د معبودینو عقلاً لکه فرعون، نمرود او شیطانان چي د دوی په دوزخ سره هم رسوایي د عابدانو د دوی ده او هم تعذیب خپله د دغو معبودینو دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې روح البيان د ماتعبدون څخه يوازې اصنام اخستې دي ددې لپاره چې و اخراج ته د عزير ؑ، عيسى ؑ او د ملکو ؑ لاره هموار ه کړي، دليل يې دا ويلى دى بشهادة ما لانها لما لايعقل انتهى وقد مر ان تخصيص د ما خلاف التحقيق دى فافهم. او روح المعاني په دې باره کې ډېرې اوږدې خبرې کړې دي فراجع.

اَنْتُمْ لَهَا وَارِدُوْنَ ﴿۹۸﴾

تاسې اى مشرکانو او ستاسې معبودان و دوزخ ته وارد يږئ.

فائده: انکم وما تعبدون الى اخيره التفات د غيبت څخه و خطاب ته دلان الکلام السابق مع المشرکين على الغيبة وفي هذه الآية على الخطاب.

سوال: صله د ورود خو على راځي نحو وردت عليه، نو په آيت کې د لام د راوړلو حکمت څه دى؟

ځواب: کلمه د لام يې د اختصاص لپاره راوړه. يعنې چې دا عذاب مختص په دوى پورې دى. او بل لپاره دا دې چې دلالت پر سببيت و کړي.

بله سه: چې دا توجيه بنا ء پر دې ده چې اصل تعدى د ورود په على سره کما اشار اليه في القاموس بتفسيره بالاشراف على الماء وهو في الاستعمال کثير، او بعض مفسرين وايي چې ورود متعدي بنفسه دى کما في قوله تعالى وردها. فاللام لتقوية العمل لکون المعمول مقدمًا والعامل فرعي اى ليس بفعل فافهم.

لَوْ كَانَ هٰٓؤُلَآءِ اٰلِهَةً مَّا وَرَدُوْهَا ؕ

که دغه شيان چې تاسې يې عبادت کوئ ايها الکفار خدايان وايي اى في الواقع کما تزعمونه، نو دوى به دوزخ ته نه واى داخل سوي لان شان الآله تخليص العابد من النار.

بله سه: چې دا جمله معترضه ده قول ورسره محذوف دى اى يقال لهم بعد دخولهم في النار توبيخًا وتفضيحًا لحال العابدين.

وَكُلٌّ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۹۹﴾

او هر واحد دعابدين او معبودين به په دوزخ کې همېشه وي لا خلاص لهم عن النار ابدًا، دا جمله عطف ده على انتم لها واردون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَهُمْ فِيهَا لَا يَسْمَعُونَ ﴿۱۰۰﴾

دوی لره به په دوزخ کي خکېروی وي او په زوره به ساه شړي او کاږي، او دوی په دوزخ کي يعني العابدين هيڅ شی نه اوري لشدة غليان النار، او بل په دې سبب چې کافران په تابتانو کي د اوسپنې دي چې دا اوسپنې په مېخو ټينګي سوي وي کما روی عن ابن مسعود رضي الله عنه برواية ابن جرير و ابن ابی حاتم وابن ابی الدنيا وغيرهم او دا تابوتان به في اسفل الجحيم کي وي.

پوښتنه: دا حال خو د عابدينو دی، معبودين چې بتان دي آيا د هغو دا حال نه دی؟

ځواب: په دې آيت اسناد د فعل د بعض دی چې عابدين دي و کل ته چې عابدين او معبودين بتان دواړه دي، او دا جمله حال ده له ضمير څخه په خالدون کي.

شان نزول: حاکم رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې دا آيت چې نازل سو (انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم) مشرکانو د مکې وويل چې د ملکو او د عيسی او د عزير عليهم السلام خو هم عبادت من دون الله کړل سوی دی، نو هغه به هم حصب جهنم وي، نو که هغوی په جهنم کي وي. نو مونږ د خپلو معبودانو پرواه نه کوو فنزلت هذه الآية.

إِنَّ الَّذِينَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِنَّا الْحُسْنَىٰ آ

په تحقيق هغه کسان چې د مخه دوی ته منزله حسنی د قرب الهي ورکړل سوې دي او يا خلعة حسنی ورکړه سوې وي چې عبارت له سعادت څخه دی يا توفيق د توحيد او عبادت ورکړه سوی وي يا زېری د جنت ورکړل سوی وي، بغوي رحمه الله وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او بعض مشران د قريشو د مشرکينو په حطيم کي سره يو ځای وه او پر شاوخوا د کعبې مبارکې (۳۶۰) بتان موجود وه، نو نضر بن الحارث د عليه الصلوة والسلام سره په بحث اخته سو حتی چې عليه الصلوة والسلام دی په دلائلو کي ملزم کړی، وروسته عليه الصلوة والسلام ورته ووېل (انکم وما تعبدون من دون الله حصب جهنم آه) بيا عليه الصلوة والسلام څنډي ولاړ سو عبدالله بن الزبعری قريشو ته ورغلی او د عليه الصلوة والسلام خبرې يې ورته وکړې او وليد بن المغيرة يې هم په ماجری حال خبر کړی، نو وليد راغلی عليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام ته يې وويل چې تا رشتيا دغه خبره کړې ده انکم وماتعبدون الآية عليه الصلوة والسلام ورته وويل نعم! نو وليد بن المغيره ورته وويل اليست اليهود تعبدون عزيرًا والنصارى تعبدون عيسى وبنوا المليح يعبدون الملائكة؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل بل هم يعبدون الشياطين (يعني شيطانان دوی په دغه عبادت سره امر کوي) فانزل الله تعالى ان الذين سبقت الآية. او د ابن الزبعرى په شان کې دا آيت نازل سو (ماضربوه لک الا جدلاً بل هم قوم خصمون) ترجمه: دوی نه دی پېش کړی وتاته يعني د بحث په دوران کې عيسى[۴] مګر نه جدل يعني د ناحقه بحث په توګه، بلکې دوی يعني ابن الزبعرى او وليد بن المغيرة واشباههم نه دي مګر خصومت جلب خلک دي.

فائده: مولانا ابو السعود[رح] وايي چې عليه الصلوة والسلام وابن الزبعرى ته وويل (ما اجهلک بلسان قومک) يعني کلمه د ماخوستا د قوم په ژبه کې د غير ذوی العقول لپاره دی، نو عيسى، عزير او ملائکه څرنګه په ما کې داخليږي آه؟ حافظ ابن حجر[رح] دا حديث موضوعي بولي، روح المعاني وايي چې ابن حجر وامثاله معتمد عليه کسان دي په حديثو کې. ده زياته کړې ده فلاينبغي الاعتراض بذکر هذا الحديث في احکام الآمدي وشرح المواقف وفصول البدائع للتفتازاني وغير ذالک انتهى، او مظهري[رح] فقط دومره قدر ويلي دي چې په بعضې کتابو کې د اصول الفقه دغه خبره د عليه الصلوة والسلام و ابن زبعرى ته ما اجهلک بلسان قومک آه راغلې ده لکن په کتابو کې دا احاديثو نسته آه. ګويا مظهري هم دا حديث موضوعي بولي.

أُولَٰئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُونَ ﴿١٠١﴾

دغه کسان چې سبقت لهم منا الحسنى له جهنم څخه لېرې ساتل کړه سوي دي له جانبه څخه د خداى[ج].

لَا يَسْمَعُونَ حَسِيسَهَا ۖ وَهُمْ فِي مَا اشْتَهَتْ أَنْفُسُهُمْ خَالِدُونَ ﴿١٠٢﴾

دوی نه اوري آواز خفي د دوزخ فضلاً عن انيکونوا فيها، او دغه کسان چې سبقت لهم من الحسنى په هغه نعمتو کې چې د دوی زړه يې غواړي من نعيم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنان التي لاعين رئت ولا اذن سمعت ولاخطر على قلب بشر كما ورد في الحديث الصحيح همېشه به وي.

بوه سه: چي جمله د (لايسمعون حسيها) بدل ده له (معبدون) څخه دا جمله لپاره د مبالغې راوړه سوه په لهري والي كي د الذين سبقت آه له دوزخ څخه.

بوه سه: چي جار ومجرور چي فيما اشتهت دی چي دمخه كړی تر متعلق چي خالدون دی لپاره د اختصاص او اهتمام.

لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْأَكْبَرُ

او دوی په غم كي نه اچوي لويه ېېره.

بوه سه: چي دا جمله سره د معطوفه پر دې خبر بعد الخبر دی لان في ان الذين سبقت آه.

دروېش وايي: چي په تفسير كي د فزع الاكبر عظيم اختلاف دی (۱) سعيد بن جبير او ضحاك ؒ وايي چي فزع اكبر هغه وخت ده چي له دوزخ څخه مجرمان د مؤمنانو راويستل سي وروسته سرپوښ د دوزخ پر كفارو دوزخيانو كښېښول سي (۲) ابن جريج ؒ وايي چي مرګ په شكل د پسه راوستل سي او ذبح سي او پر جنتيانو ملكي زېرې وكړي خلود بلا موت او پر دوزخيانو د غم نارې وكړي خلود بلا موت (۳) حسن ؒ وايي چي پر بنده كه مؤمن او كه كافر امرد دخول النار وكړل سي (۴) بغوي ؒ وايي چي ابن عباس ؓ وايي چي فزع اكبر نفخة اخيره يعني نفخة الاحياء بعد الموت بدليل قوله تعالى ونفخ في الصور ففزع من في السموات والارض، د دې روايت بعض مفسرانو داسي توجيه كړې ده چي مراد نفخة اخيره د دنيا ده لان نفخة الفزع هي النفخة حين يكون في السموات والارض الاحياء فيموتون بهذه النفخة.

دروېش وايي: چي دا توجيه ضروري ده ولي په نفخة اخيره د قيامت خو نه په اسمانو كي او نه په مځكه كي څوك وي چي وېرېږي (۵) مراد له نفخة الفزع څخه نفخة الصعق اى الموت ده وهذا والسابق الاخير متلازمان لانهم اذا فزعوا فزعًا شديدًا فيموتون لاجل الفزع وهذا ما اختاره القرطبي ؒ. دليل دا وايي چي په اكثرو احاديثو صرف دوې نفخې ذكر سوي دي نفخة الصعق اى ونفخة البعث فاذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لم يصح النفخة، الثانية اى نفخة البعث بعد الموت لما مر فلابد ان يراد به نفخة الصعق اى الموت فافهم (۶) شيخ اكبر محي الدين ابن العربي قدس سره وايي چي نفخات درې دي (۱) نفخة الفزع (۲) نفخة الصعق اى الموت (۳) ونفخة القيام الى رب العالمين.

دروښ وايي: چي مظهري هم دغه قول مختار کړی دی، او پر دې يې دليل حديث مرفوع د ابی هريره رضي الله عنه راوړی دی چي ابن جرير، طبراني، ابو يعلى، بيهقي، ابو موسى المدني، علي بن معيطا، عبد بن حميد او ابو الشيخ رحمهم الله په خپلو کتابو کي رانقل کړي دي چي ابو هريره رضي الله عنه وايي چي نفخ الصور درې واره ده (۱) نفخ الفزع چي د اسمان له خوا څخه يو سخت اواز پيدا سي چي وارپه وارپه زړوه کېږي حتى چي انس او جن ټوله د سختي بېرې سره مخامخ سي او حتى چي اهل د قرى وو خپل مواشي پسونه، مېږي، بزې، غوايي او نور ځاى پر ځاى پرېږدي او دوى بنارو ته نقل سي د بېرې او جنيات و غروته.

دروښ وايي: ويدل علي ذالک حديث البخاري چي عليه الصلوة والسلام وويل يو وخت له رمې څخه لېږد پسه حمله کړى شپانه پسي روان سو پسه يې څنډي خلاص کړى، لېږه پر لوړ ځاى ورته ودرېدى او داسي يې ورته وويل چي دا پسه خو تا راڅخه خلاص کړى په هغه وخت کي به يې څوک راڅخه خلاص کړي چي بې ما بل راعي نه لري اشارةً الى نفخة الفزع، صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل سبحان الله ذئب يتكلم؟ عليه الصلوة والسلام انا اومن به وابوبكر وعمر وماهما ثم او كما قال رسول الله صلى الله عليه وسلم. نو دا حديث تائيد کوي د نفخة الفزع چي موږ وويل چي خلک به خپل مواشي په قرېو کي پرېږدي او دوى به وښارو ته نقل سي. نو ذئب او لېږه رشتيا وويل چي بېله ما بل راعي نه لري، او عليه الصلوة والسلام د لېږه د قول تائيد وکړى والله اعلم.

دروښ وايي: چي تحقيق د دې مقام کمامر له خوا صو څخه د تفسير ايوبي دى وقلما يوجد هذا التفصيل بجميعه في مطاوي التفاسير الكبار والله الموفق ولله الحمد والمنة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتَتَلَقّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ۭ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ۝

مخ او استقبال ته وروځي د دغو ان الذين لهم منا الحسنى الآية ملكي عند خروجهم عن القبور على ابواب الجنة زېرى كونكى يه دې قول سره (هذا يومكم) دا ورځ د ثواب ستاسي چې ستاسي سره وعده کړل کېده په کتب سماويه کې پرژيه د رسولانو. والجملة حال بتقدير القول اى قائلين هذا يومكم الآية.

يَوْمَ نَطْوِي السَّمَاۗءَ كَطَيِّ السِّجِلِّ لِلْكُتُبِ ۭ

پوه سه: چې يوم منصوب دى په اذكر مقدر سره، او يا ظرف دى د (لايحزنهم) او يا ظرف دى د (تتلقهم)

فائده: قرء شيبة بن نصاح بالياء، والبناء للفاعل والضمير راجع الى الله ﷻ. وقرء ابو جعفر وغيره بالتاء الفوقية والبناء للمفعول ورفع السماء على انه مفعول مالم يسم فاعله، وجمهور القراء بالنون على البناء للفاعل ونصب السماء على المفعولية، والطي ضد النشر، والمراد بالطي الافناء والآزالة، او ابن قيم د افتناء د اسمانو او اعدامها په عدام صرف منكر دى او دى دعوه کې چې نصوص دلالت پر دې کوي چې اسمانونه تغيير او تبديل کوي له يوه حال څخه وبل حال ته.

(كطي السجل) لكه پېچل د سجل وهي الصفيحة كما اخرج ابن جرير وغيره عن مجاهد ونسبه في مجمع البيان الى ابن عباس ؓ وقتادة والكلبي ايضًا.

فائده: جار او مجرور صفت د مصدر محذوف دي اى طيًا كطي السجل، والسجل هو الطومار يعني اوږد كاغذ.

دروېش وايي: چې ددې آيت په معنى کې عظيم اختلاف دى، روح المعاني وايي واللام للتعليل اى كما يطوى الطومار لاجل الكتابة يعني لوى كاغذ سره وپېچي او کښې يې ږدي چې يو وخت د کتابت ته ضرورت پيدا سي را وايي خلي او نوشته پرې وکړي، فلا يرد ان المعهود نشر الطومار للكتابة لاطيه لها، او عبد بن حميد له حضرت علي ؓ څخه روايت کړى دى چې سجل نوم دى د ملكي چې د هر انسان سره سته چې کرام کاتبين يې بولي، نو انسان چې مړ سي هغه عمل نامه دده وپېچي او پورته يې کړي تر عرش لاندې يې کښېږدي تر ورځې پورې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت. بیا چې انسان ژوندی سي هغه عمل نامه یې په راسته یا چپه لاس کې ورکړي. ویقال اقرا، کتابک کفی بنفسک علیک حسیبًا کما وقع في القرآن العزیز، وهذا المعنی هو الانسب عند الفقیر والله اعلم، واللام في قوله للکتب متعلق علی طي، وقیل السجل کان اسمًا لکاتب الوحي للنبي ﷺ، وهذا ضعیف لانه لم یجئ في شئ من الأحادیث لفظ السجل في کتاب الوحي للنبي ﷺ.

پوښته: تا د ابن القیم الاندلسي ؒ قول دمخه رانقل کړی چې هغه د فناء او زوال د اسمانو بالکلیة منکر دی بلکې په تغییر د احوالو د اسمانو قائل دی. آیا دا قول د اندلسي ؒ له دې آیتو څخه مخالف نه دی (اذا السماء انشقت الآیة، اذا السماء انفطرت، وانشقت السماء فکانت وردة کالدهان) الی غیر ذالک؟

ځواب: لا! ولي د انشقاق او انفطار معنی خو افناء بالکلیة نه ده. وسیئاتي تحقیق ذالک في تفسیر السورة الواقعة هذه الآیات فیها ان ان شاء الله تعالی. اللهم وفقني لتفسیر القرآن العزیز الی اخیره بالخیر والصحة والسلامة انک علی کل شئ قدیر وبالاجابة جدیر وماذالک علیک بعزیز.

هو! په مذکوره آیتو کې رد دی پر فلاسفه وو باندې چې دوی وایي اسمانونه بصورها النوعیة وهیئآتها الموجودة قدیمة ابدیة ولاشک في رد هذا القول بالآیات المتلوة.

دروښ وایي: چې ما دې ته کوشش کړی دی په خپل حاشیه پر هدایة الحکمة په ابطال کې د اقوالو د فلاسفه وو ان شئت فارجع الی تلک الحاشیة وهي مطبوعة موجودة في جمیع مکاتب کویته. فقیر وایي چې دا ؤ تفسیر د دې آیت مغلقه حسب المقدور والله اعلم بمراده في کتابه.

کَمَا بَدَاْنَآ اَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِیْدُهٗ ؕ

لکه چې مونږ ابتداءً مخلوق د کتم د عدم پیدا کړي وه بیرته یې په ورځ د قیامت و دائرې ته د وجود راګرځوو یا په طور د ایجاد بعد العدم المحض کما في اول الخلق او یا په جمع د اجزاء متفرقه د هغو علی حسب اختلاف القولین لان الابتداء لیس باهون من الاعادة بل الامر بالعکس نظرًا الی قدرة الناس وان کان البدء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والاعادة سيان بالنظر الى قدرة القادر العزيز فافهم.

پوه سه: چې کلمه د ما کافه ده مصدريه نه ده وکلمة اول مفعول د بدئنا دی، والمعنى نعيد ما خلقناه مبدءً اعادةً مثل ابدائنا اياه. والمقصود په دې آيت کې بيان د صحت د اعاده چې پر ابداء دې قياس کړي، ولي چې امکان ذاتي د مقدراتو موجود دی اعادةً لکه چې موجود وُ ابتداءً وذالک الامکان هو المصحح المقدورية باجماع اهل الاسلام والفلاسفة او قدرة کاملة د قادر متعال هم تغيير نه دی خو ولی فما للناس ای الکفرة ينکرون البعث بعد العدم، بخاري او مسلم چې په شيخانو سره د علم حديث شهرت لري، او ترمذي له ابن عباس رضي الله عنه خخه روايت کړی دی چې عليه الصلوة والسلام په مجمع کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم ودرېدی او وه يې ويل يا ايها الناس انکم تحشرون الى الله حفاة (لڅې پښې) مشات (پياده) عرات (لڅ لغړ) عزلاً (ناسنته) بيا عليه الصلوة والسلام دا آيت استدلالاً پر ما قال ووايه کما بدئنا اول خلق نعيد کمامر تفسيره، او زياته يې کړه و اول من يکسى من الخلائق (اول سړی چې کالي يعني د جنت په اغوستل کېږي په خلګو کې ابراهيم عليه السلام به وي.

دروېش وايي: چې ددې اوليت وجه داده چې نمرود ابراهيم عليه السلام لڅ و اورته غورځولی وُ.

وَعْدًا عَلَيْنَا ۚ إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ ﴿١٠٤﴾

(وعدًا) مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای وعدنا وعدًا، نو دا کيد دی د نعيده) په تحقيق سره موږ کونکي يو ددې کار يعني البعث بعد الموت، دا جمله تاکيد بعد تاکيد ده.

وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ

لام جواب د قسم محذوف دی په تحقيق موږ نوشته کړي دي يعني ملکو زموږ په امر زما.

پوه سه: چې سعيد بن جبير او مجاهد رحمهما الله وايي چې له زبور څخه مراد ټوله کتب منزله دي او مراد له ذکر څخه ام الکتاب دی چې لوح محفوظ دی چې په نېږد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ دی یعني من بعد ماکتبنا ذالک في اللوح المحفوظ، او شعبي وایي چي له زبور څخه مراد کتاب دی د داؤد علیه السلام کما هو المتعارف او د ذکر څخه مراد تورات دی، او ابن عباس ؓ او الضحاک ؒ وایي چي مراد له زبور څخه تورات دی او له ذکر څخه مراد نور کتب منزله دی بعد التورات چي انجیل او قرآن کریم دي، او بعض مفسرین وایي چي مراد د زبور څخه کتاب داؤد ؑ دی او مراد له ذکر څخه قرآن مبارک دی، پر دې اخیرو دوو احتمالو من بعد په معنی د قبل دی.

دروښ وایي: چي دا مجاز ډېر ناوړه دی. نو بناءً علیه دا دوه احتماله ډېر ضعیف دي فتدبر.

پوه سه: چي زبور د داؤد ؑ مقصور ؤ پر حکمت عقلي ولایتضمن شئ من الاحکام الشرعیة وکانت الاحکام الشرعیة بالوحي الخفي.

اَنَّ الْاَرْضَ یَرِثُهَا عِبَادِیَ الصّٰلِحُوْنَ ۝

بېشکه مځکه د جنت په میراث ورې بندګان زما چي په دنیا کي صالحان وي یعني اوامر الهیه یې پر ځای کړي وي او له منهیات شرعیه وو څخه یې پرهېز کړی وي کما قال الله تعالی والعاقبة للمتقین.

پوښتنه: په عبادو کي د خدای خو فساق او فجار هم ستة، نو هغو ته جنت نه ورکول کېږي؟

ځواب: فساق یا په عذاب سره د دوزخ له ګناه څخه پاکېږي یا په مغفرت الهي پاکېږي یا په شفاعت نبوي پاکېږي، نو دوی ملحق په صالحینو سره ګرځي او جنت ته وارد ېږي، او مجاهد ؒ وایي چي مراد له عبادي څخه امت د علیه الصلوة والسلام دی بدلیل قوله تعالی (وقالوا الحمد لله الذي صدقنا وعده واورثنا الارض نتبوء من الجنة حیث نشاء) وفي روایة عن ابن عباس ؓ چي مراد له ارض څخه ټوله دنیا ده چي خدای ﷻ مؤمنان پر غالبه کوي وهو قول الکلبي ؒ او دا قول یې په تائید کي راوړی دی (لیستخلفنهم في الارض) واخرج مسلم والترمذي وابو داؤد عن ثوبان ؓ قال قال رسول الله ﷺ ان الله زوی لي الارض (ماته خدای ﷻ کشف کړه مخکه) فرئیت مشارقها ومغاربها وان امتي سیبلغ ملکها الی ما زوی لي منها (په تحقیق زما د امت سلطنت به ورسېږي و هغې مخکي ته چي ماته کشف کړل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه. مفسرین رح وایي چي وعده د خدای ﷻ له خوا څخه په اعزاز د دین د نبي ﷺ واعزاز اهله او په غلبه سره د دوی پر اکثره معموره محکه باندي (یعني که څه هم اوسپدونکي یې کافران وي او جزیه ورکوي) لکن دا هغه معموره محکه مراد ده چي تردد (یعني تګ راتګ د مسافرانو وهغې ته د پروي) والا فمن الارض مالم یطئها المؤمنون کالارض الشهیرة بالدنیا الجدیدة (لکه دیار او ممالک د امریکا یانو چي په زرو کلونه وروسته انګریزانو کشف او آباده کړه. یا محکه د هند غربي) روح المعاني وایي که چیري مراد غلبه د مؤمنانو پر ټوله ځمکه سي او ټوله په حوزه کي د مؤمنانو راسي که جدیده او که قدیمه وي هغه په ایام د مهدي ﷺ ونزول عیسی علیه السلام، نو هغه مخني توجیه ته ضرورت نسته فتدبر.

پوښته: په احادیثو شریفه وو کي راغلي دي چي په اخیره زمانه کي به کفار پر ټوله محکه مستولی وګرځي؟

ځواب: وراثت د ټولي محکي مسلمانانو ته د استیلاء د کفارو تاوان نه کوي، ولي چي استقلال د کفارو پر ټوله محکه لږ زمانه به وي چي نفخ الصور به پر دوی وسي. نو دې لږ زمانې ته د غلبه کفارو اعتبار نسته. لکه په حدیث صحیح کي چي راغلي دي چي نفخ الصور تر هغو نه کیږي چي په محکه کي الله الله ویونکي پاته وي.

اِنَّ فِیْ هٰذَا لَبَلٰغًا لِّقَوْمٍ عٰبِدِیْنَ ۝

یعني په دې کي چي په قرآن کریم کي ذکر سوه من اخبار الامم الماضیة والمواعظ البلیغة والمواعید للمؤمنین الصالحین والمسرفین في الارض (لبلاغًا) یعني کفایت سته لاجل دخول الجنة یعني څوک چي په دغو قرآني مواعظو عمل وکړي وجنت ته به ورسیږي (لقوم عابدین) حرف جر متعلق په بلاغًا پوري دی ای للمؤمنین الذین یعبدون الله وحده بخلوص نیة لان هذه عبادة مقبولة عند الله ثیاب علیها بدخول الجنة دار القرار، ابن عباس رض د عابدین ترجمه په عالمین سره کړې ده.

دروښ وایي: چي مراد له عالمینو څخه صرف په نامه عالمان نه دي بلکي مراد العاملین بما علموه دي فالمآل واحد، او کعب احبار وایي چي مراد څنډي امت د علیه الصلوة والسلام اهل الصلوة الخمس وشهر رمضان، روح المعاني وایي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظاهره عموم عبادات دي او تخصيص د صلوات خمس و شهر رمضان نكته الاهتمام بهما لان الصلوة عماد الدين، كريمه (ان الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر، وصيام شهر رمضان تكسر الشهوات الفاسدة) لكه په صحيح حديث كي د بخاري وغيره چي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام ځواني طبقې ته د نرانو داسي وويل كه طاقت او قدرت د نكاح لرئ (فليتزوج الى ان قال ومن لم يستطع فعليه بالصوم فانه له وجاء او كما قال عليه السلام. والوجاء نوع من الخصى) ترجمه: يعني كه قدرت د نكاح لرئ نو نكاح وكړئ، او كه قدرت د نكاح نه لرئ نو روژې ونسئ.

وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

او موږ ته نه يې استولى يا محمد (ﷺ) مګر نه رحمت د ټولو عالميانو لپاره من الانس والجن لعموم رسالته وبقائها الى يوم القيامة.

پوه سه: چي رحمةً منصوب دى علت د ارسال دى، والمراد ان ارسالك رحمة منا على الانس والجن ليهتدوا بك الى الحق، په حديث صحيح كي د ابو هريره رضي الله عنه چي حاكم يې روايت كړى دى عليه الصلوة والسلام وايي انما انا رحمة مهداة) زه رحمت يم چي خداى ﷻ ستاسي د هدايت لپاره استولى يم، يا معنى دا چي تاسي ته يې هديه راستولى يم، والله اعلم، او بخاري په خپل تاريخ كي له ابو هريره رضي الله عنه څخه په روايت داسي وايي چي عليه الصلوة والسلام وويل انما بعثت رحمةً ولم ابعث عذابًا، ابن عباس رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ رحمت د كافرانو لپاره هم دى بتاخير العذاب عنهم ورفع (المسخ الى القردة والخنازير) يعني بيزوګان او سركوزان نه ګرځي) والخسف (او په مځكه نه ننوتل لكه قارون) والاستيصال (د يوه مخه نه هلاكېدل)

بيهانه فائده: په دې كي اختلاف دى چي په عالمين كي ملكي هم داخلي دي، او مبنى د اختلاف پر دې دى چي عموم د بعثت د عليه الصلوة والسلام ملكو ته هم شامل دى او كه نه فان قلنا بالعموم كما رجحه من الشافعية البازري وتقي الدين السبكي والجلال الدين المحلي رح ومن الحنابلة ابن تيمية وابن مفلح في كتاب الفروع ومن المالكية عبد الحق رح قلنا بشمول العالمين للملائكة عليهم السلام وكونه عليه الصلوة والسلام رحمة لهم لانه جاء عليه السلام ايضًا بما فيه تكليفهم بالاوامر والنواهي، كه څه هم موږ نه يو خبر چي د ملكو اوامر او منهيات نو څه شى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ؤ. ولاشک ان في امتثال المکلف ماکلف به نفعاء وسعادة له، وان قلنا بعدم شمول رياسته ﷺ للملائکة کما جزم به الحليمي والبيهقي والجلال المحلي في شرح جمع الجوامع وزين العراقي في نکتة علی ابن الصلاح من الشافية ومحمود ابن حمزة في کتابه العجائب والغرائب من الحنيفية بل نقل البرهان النسفي ؒ والفخر الرازي ؒ في تفسيره الاجماع عليه، که څه هم دا اجماع خو مسلم نه ده، ولي تا د اختلاف خبري واورېدلې قلنا بعدم شموله للملائکة واراد بالعالمين من سواهم.

درويش وايي: چي انصاف دادی چي ملائکه په عموم کي د عالمينو داخلي دي که څه هم عليه الصلوة والسلام مبعوث ودوی ته نه دی، ولي چي عالم ملائکه کرام ته په وساطت د رسالت د عليه الصلوة والسلام ډېر علوم او اسراء عظيمة حاصل سوه مما اودع في کتابه المنزل عليه الصلوة والسلام من اخبار ماکان ومايکون عبارةً او اشارة واى سعادة اعظم من التحلي بزينة العلم، وهذا رحمة لهم عليهم السلام فيکون هو ﷺ رحمةً لهم وان لم يکن مبعوثًا اليهم.

درويش وايي: چي علامه بغدادي ؒ نوري هم اوږدې خبري کړي دي.. بيت:

تاطبع نازکت نه بزيرد ملامتی ..... آن به که نامه را بدعا مختصر کنم

اللهم اهدنا الی صراط مستقيم غير المغضوب عليهم ولا الضالين.

قُلْ إِنَّمَا يُوحَىٰ إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٠٨﴾

ته ووايه يا محمد (ﷺ) و کفارو ته د قريشو چي ماته وحي کړل سوي چي معبود بالحق اله يو دی.

درويش وايي: چي دواړه ځايه په انما د حصر معنی مرعي لره که څه هم په ترجمه کي ماته راوړه.

پوه سه: چي دا جمله مسانقه ده په ځواب کي د هغه سوال مقدر د عليه الصلوة والسلام ما اقول لهم حين بعثته رحمةً لهم (فهل انتم مسلمون) آيا تاسي مسلمانان نه ګرځی والاستفهام ههنا بمعنی الامر ای اسلموا واخلصوا العبادة لله واترکوا الاشراک علی مقتضی الوحي المؤيد بالحجة، نو ځان مستعد د رحمت د خدای ﷻ وګرځوئ او د ما ارسلناک الا رحمةً للعلمين مصداق ځانونه جوړ کړئ.

فَإِن تَوَلَّوْا فَقُلْ آذَنتُكُمْ عَلَىٰ سَوَاءٍ ۖ

که دوی اعراض وکړي له اسلام څخه او له رحمت څخه د خدای ﷻ بعد اتمام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحجة عليهم عقلاً ونقلاً. نو ته يا محمد (ﷺ) ووايه دوی ته ماتاسي خبر کړلاست په ما ارسلت به اليكم، بعض مفسرين وايي اعلمتكم بالحرب وان لا صلح بيننا وبينكم (على سواء) يعني حالكونكم مستوين في الاعلام يعني ما اخفيت منكم شيئًا مما اوحي الي فانا وانتم مستويان في العلم بما اعلمتكم، او يا معنى داده چې زه تاسي ته اعلام د حرب او معادات على سواء. انا وانتم يعني لا خداع من جانبي يعني زما له طرفه څخه چم نسته چې تاسي ناخبره ياست او زه پر تاسي حمله وکړم، نو تاسي هم و جنګ ته تيار سی اوسئ.

وَإِنْ أَدْرِي أَقَرِيبٌ أَمْ بَعِيدٌ مَّا تُوعَدُونَ ﴿١١١﴾

زه نه يم خبر چې آيا نژدې دی او که لېرې دی هغه چې د تاسي سره يې وعده کړل کېږي من غلبة المسلمين عليكم او عذاب يوم القيامة لكن كل واحد منهما متحقق لا محالة اذ لا خلف في وعده تعالى.

إِنَّهُ يَعْلَمُ الْجَهْرَ مِنَ الْقَوْلِ وَيَعْلَمُ مَا تَكْتُمُونَ ﴿١١٢﴾

په تحقيق خدای ﷻ علم لري پر هغه څه چې تاسي يې علانيه کوئ د خبرو من الطعن في القرآن وتكذيب النبي ﷺ او هغه څه چې تاسي يې پټ ساتی يعني په سينو کې بغض او عداوت د مسلمانانو سره، يعني پر هر يوه به خدای ﷻ جزاء ورکړي.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده په منځ کې د معطوف او معطوف عليه وهو قوله (وان ادري)

وَإِنْ أَدْرِي لَعَلَّهُ فِتْنَةٌ لَّكُمْ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿١١١﴾

پوه سه: چې مفعول د ادري محذوف دی ای لا ادري سبب لتاخير العذاب عنكم مع علم الله تعالى بجهركم وسركم بالسوء والمعادات للمسلمين.

فائده: چونکه په آيت فوق نفي د علم عليه الصلوة والسلام چې يقين ورته وايي له سبب څخه د تاخير د عذاب د کفارو له دې څخه دا توهم کېدی چې عليه الصلوة والسلام به ظن هم نه پر لري فدفع ذالک الوهم بقوله تعالى (لعله فتنة لكم) يعني شايد دا تاخير د عذاب ستاسي سبب به يې استدراج وي ستاسي يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی دا فتنه امتحان ده یعنی چې خدای ﷻ ستاسي څخه امتحان اخلي چې تاسي له معادات څخه د نبي علیه السلام او د مؤمنانو رجوع کوئ او کهنه، والمعنی یعاملکم معاملة الممتحن والا هو تعالی بکل شئ علیم.

پوه سه: چې متاع مصدر د مجرد دی په معنی د تمتیع دی او تنوین د متاع او حین لپاره د تحقیر دی یعني لږ تمتیع تر لږ وخت پورې در کوي چې په قضاء الهي کې ستة.

پوښتنه: دا (متاع الی حین) هم تر لعل د ترجي لاندې داخل دی او که څرنګه؟

ځواب: متاع الی حین خو متیقن دی تر لعل نه دی لاندې، ولهذا قال جلال الدین المحلي رح هذا مقابل للفتنة المترجي بلعل ولیس هذا محل الترجي انتهی یعني متاع الی حین خو قضاء مبرم ده خدای رح ده.

قٰلَ رَبِّ احْكُمْ بِالْحَقِّ ؕ

وو ایه اې ربه حکم وکړې په حقه سره په منځ کې زموږ او د کفارو د مکې په عدل سره چې عذاب نازلول دې پر کافرانو د مکې او نجات ورکول دې مؤمنانو ته.

پوه سه: چې حفص رح لفظ (قل) قال وایي په صیغه د ماضي چې ضمیر یې راجع دی و علیه الصلوة والسلام، نو حکایت له حال څخه د علیه الصلوة والسلام دی او جمهور قراء یې په صیغه د امر وایي.

وَرَبُّنَا الرَّحْمٰنُ الْمُسْتَعَانُ عَلٰى مَا تَصِفُوْنَ ۝

او زموږ رب کثیر الرحمة دی پر خلکو (دا جمله مبتداء او خبر دی) چې دده څخه طلب د مرستې کول کېږي (المستعان) صفت د (الرحمن) دی یا خبر بعد الخبر دی د (ربنا) (علی ما تصفون) چې تاسي یا اهل مکه توصیف کوئ د علیه الصلوة والسلام او د قرآن بالکذب والباطل او ددې خبرې د علیه الصلوة والسلام چې شوکت او غلبه د مسلمانانو په ویاړ سي، او تاسي وایاست چې بیرغ د اسلام به یو څو ورځې بلند وي بیا به سرنګون سي، او یا وایاست چې د خدای رح عذاب که حق وای: نو ولي نه نازلیږي مانع یې څه دی.

فائده: خدای ﷻ دغه دعاء د علیه الصلوة والسلام قبوله کړه ونصر المسلمین او وه یې تکول کفار د مکې په قتل او اسر یعني بنډ سره په ورځ د بدر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْحَجِّ مَدَنِيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٍ وَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سَبْعُوْنَ اٰيَةً وَعَشْرُ رُكُوْعَاتٍ

د سورة الحج اته اوويا آيتونه دي، اكثره مكيه دي او بعض مدني آيتونه هم پكښې دي.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمْ اِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيْمٌ ①

اې خلكو وبيرېږئ له عذاب څخه د مُربي او مالک دامورو ستاسي بالايمان والطاعة الذيان هما من اسباب دفع العذاب من ربكم.

فائده: دا خطاب عام دی للمكلفين عند نزول الآية، او هغو كسانو ته چې وروسته تر نزول د آيت په تناو كي د مكلفينو داخليږي يعني الموجودين وقت النزول چې وه رتبې ته د تكليف نه وي رسېدلي يعني بسبب صغر السن، والموجودين بعد النزول الى يوم القيامة لا بطريق الحقيقة عندنا بل بتغليب الحاضرين وقت النزول على الحادثين بعد ذالک، او يا حكم شامل دی ومن سيوجد ته بدليل خارجي وهو ان احكام الشريعة عامة للحاضرين والغائبين بالاجماع القاطع لان نبوته ﷺ وشريعته باقية الى يوم القيامة، خلافًا للحنابلة وطائفة من المسلمين والفقهاء حيث ذهبوا الى تناوله الجميع حقيقة، ولا خلاف في دخول الاناث كما قال الامدي في نحو الناس مما يدل على الجمع ولم يكن فيه علامة التذكير والتانيث.

بوه سه: چې زلزله سخت ښورولو ته وايي بطريق التكرار كما يدل عليه تكرير حروفها لان زلزل مضاعف لزل والساعة عبارة عن القيامة لسرعه حسابها.

فائده: د علماؤ اختلاف دی په وخت كي د دې زلزلې، بعض وايي چې په دنيا كي واقع كېږي قبيل طلوع الشمس من مغربها فيكون وقت الذهول والوضع الاتيان في الآية اللاحقة على حقيقتها، او بعض مفسران وايي تكون تلك الزلزلة يوم القيامة، نو زهول والوضع محمول پر تمثيل ده. ولي په ورځ د قيامت نه حمل سته چې وضع سي او ارضاع سته، مظهري ؒ وايي اى تحريک الاشياء والاسناد الى الساعة مجاز آه (شئ عظيم) لوى شى دى چې د بيان او تفصيل امكان يې نسته لقصور العبارة عن بيانها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې (ان) مع صلتها په ځای کې د تعلیل د امر بالتقوی ده یعنې د خلاصون لار ددې زلزلې له هول څخه یوازې او یوازې د تقوی لباس اغوستل دي.

درویش وایي: ماقیل ان المراد بالناس في یاایها الناس کفار دمکې دي فلیس بشیئ لانه تبدیل التحذیر العام بالخاص بلا ضرورة.

یَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ

هغه ورځ چې تاسي اې مخاطبینو وویني دا زلزله یا ساعت، غافله به سي پر هغه ښځه چې خپل د ولد په خوله یې تی ورکړی وي، دا ښځه به له ډېرې ډېرې ځخه د زلزلې بېهوشه سي، نو دا به غافله سي د خپل کوچنې ځخه او تی به د کوچنې له خولې ځخه وکاږي. وعلی هذا فکلمة ما موصولة او تذهل عن ارضاعها فعلی هذا کلمة ما مصدریة.

پوه سه: چې لفظ د یوم منصوب دی په وروسته فعل سره باتفاق المفسرین ؒ یعنې تذهل، او مراد له رضاع ځخه د صفت معنا وي ای من شانها ان ترضع، یقال مرضع بلا علامة التانیث مثل حائض وحامل لانه من الصفات الخاصة بالنسوة کالحامل والحائض. واذا اید به فعل الارضاع حالاً یقال مرضعة بالتاء، فرقًا بین الوصفین.

پوه سه: چې جمله (عما ارضعت) خبر ثاني د ان ده، والرابط ضمیر ترونها چې راجع دی و زلزلة ته، او یا دا جمله یعنې یوم ترونها الخ علت دی لقوله شئ عظیم فافهم.

وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ

یعنې اسقاط به وکړي له هول ځخه د دې زلزلې هره ښځه (چې امیدواره وي د خپل مافي الرحم د هر څو میاشتو چې وي) او ته به وینې اې مخاطب غیر معین خلک چې یوه خوا او بله خواته به منډې وهي لکه دا خلک چې مست وي شراب یې ځیبلي وي نو په ځان نه پوهېږي، او دوی د شراب مست نه دي.

پوه سه: چې حمزه او کسائي ؒ آیت داسي وایي (سَکری وماهم سَکری) بغوي ؒ وایي چې سکاری او سکری دوه لغته دي د جمع د سکران المذکر لپاره نه د مؤنث لپاره.

پوښتنه: دمخه یې ترونها خطاب د جمع راوړی او په تری الناس کې خطاب د مفرد راوړی وجه یې څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: زلزله خو پوله خلک ویني لکونها امرًا مغایرًا للناس بخلاف الحالة القائمة من شبه السُکر، ولي چي هر سړی خو خپل سُکر نه ویني بلکې د بل سړي سُکر ویني.

پوه سه: چي سکر یو حالت دی چي حائل وګرځي په منځ د سړي او د عقل او اکثره دا حالت د شرابو له څیښلو څخه پیښیږي لکن ګاهي له ډیره عشقه څخه هم پیښیږي ..... ع: سکران سکر هوی سکران مدامة .... ای خمر والهوی العشق.

او ګاهي له ډیره درد څخه هم پیښیږي و منه سکرات الموت، حتی چي د زلزلة القیامة په اوله دوره کي چي رب جل کبریائه بساط د عز والجبروت وغوړوي او خپمه د کبریا، الهي پر ټوله محشر ووهل سي مجبور به سي انبیاء علیهم السلام او نعري به د نفسي نفسي وهي.... قال الشیرازي قدس سره:

دران روز کز فعل پرسند وقول ..... اولو العزم راتن بلرزد زهول
بجای که دهشت خورد انبیاء[۴] ..... تو عذر گناه را چه داری بیا

حسین کاشفي رح میګوید في تفسیر قوله تعالی وماهم بسکاری زیرا که زوال عقل از خوف وحیرت سکر نباشد اګر را ی العین سکر نماید.

وَلٰكِنَّ عَذَابَ اللّٰهِ شَدِيْدٌ ۝

لکن عذاب د خدای ج سخت دی فغشیهم هوله وطیر عقولهم وسلب تمییزهم.

پوه سه: چي لکن استدارک دی لپاره د دفع وتوهم ناشي عن نفي السکر چي کار لکه چي سپک دی.

فائده: یحیٰی بن معاذ الرازي رح وایي که خدای ﷻ ما امر کړي چي زما عذاب پر خلکو تقسیم کړه. ماقسمت للعاشقین عذابًا لان عذاب العشق کاف لهم والمراد العشق الواقعي... حافظ شیرازي رح وایي:

هرچند غرق بحر گناه هم زصد جهت .... گر اشنای عشق شوم زاهل رحمتم

دروښ وایي: چي بعض مفسرین وایي چي دا دوه آیته په غزاء کي د بني المصطلق د شپې نازل سوه، علیه الصلوة والسلام چي تلاوت وکړي د دې دوو آیتو راوي وایي چي نه دي لیدل سوي ژړونکي چي بالا دي وي د دغي شپې تر ژړېدونکو. شپه تیره سوه هیڅ چا د خپلو اوښانو یا آسانو څخه نه باروونه نه ځیني او نه ځل کښته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي او خپلې يې هم نه دي درولي او نه يې ډېک باندې کړې وُ وکانوا بين حزين وياک ومتفکر. نو عليه الصلوة والسلام دوی ته وويل چې تاسې خبر ياست چې دغه ورځ به کله وي؟ قالوا الله ورسوله اعلم، قال ذالک اليوم يوم القيامة چې آدم ﷺ ته خداى ﷻ نداء وکړي يا آدم فيقول لبيک وسعديک والخير کله بيديک، خداى ﷻ ورته ووايي اخرج بعث النار فيقول من کل الناس کم بعث النار خداى پاک ورته ووايي من کل (۱۰۰۰) (۹۹۹) فذالک التقاول بين الله ﷻ وبين آدم ﷺ حين يشيب الصغير وتضع ذات حمل حملها (اى على سبيل التمثيل، ولې په ورځ د قيامت خو حمل پښځه نه لري، او نه کوچنى ستنه چې سپين ږيرى سي، نو دوارې قوله کنايه ده له شدت هول څخه د دغې ورځې) وترى الناس سکارى (اى من الخوف والهول وماهم بسکارى اى من الخمر ولکن عذاب الله شديد) پر مسلمانانو دا خبره ډېره درنه پرېوتل د دوی دا خيال وُ چې په مسلمانانو کې به په زرو کې نهه سوه نهه نيوي دوزخ ته ځي يو به جنت ته ځي، له دې جهته دوی ويل وايتا ذالک الواحد؟ فقال عليه الصلوة والسلام ابشروا فان من ياجوج وماجوج الفًا ومنکم واحد، بيا عليه الصلوة والسلام ويل والذي نفسي بيده اني لارجوا ان تکونوا (تاسې به امت زما ياست) ثلث اهل الجنة فکبروا وحمدوا الله (نو صحابه کرام وله خوشالیه الله اکبر او الحمد لله وويل) ثم قال والذي نفسي بيده اني لارجوا ان تکونوا نصف اهل الجنة فکبروا وحمدوا الله، ثم قال والذي نفسي بيده ان تکونوا ثلثى اهل الجنة، او زياته يې کړه چې اهل جنت به يو سل او شل (۱۲۰) صفه وي (دروېش، والله اعلم بعدد کل صف) (۸۰) منها امتي و (۴۰) من الامم الاخر الى اخير الحديث.

دروېش وايي: چې دا حديث طويل دى روى بعضه بخاري وبعضه ارباب السنن الاربعة، وکذا البغوي عن عمران بن حصين وابى سعيد الخدري ﷺ واخرجه الترمذي وصححه ايضًا، وروى عن ابي سعيد الخدري وعمران بن حصين ﷺ ان رسول الله ﷺ قال تدخل من امتي سبعون الفًا الجنة بغير حساب فقال عمر ﷺ سبعون الفًا (پوه سه! چې قول د عمر ﷺ په طريقه د استفهام دى بحذف حرف الاستفهام، وهذا الاستفهام والله اعلم کان للتعجب الى دخول هذا العدد الکثير الى الجنة بغير حساب، ولذا اجاب رسول الله ﷺ بما هو اعجب منه حيث قال،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعم ومع كل واحد (دهر يوه ددغه سبعون الفًا) سبعون الفًا (يعني اوويا زره په اوويا زره كي ضرب كړئ پخي عدد كثير څند ي جوړيږي كما لايخفى على اهل الحساب) الى اخير الحديث.

دروښ وايي: چي دا وو د مذكوره دوو آيتو تفصيل على وجه التفصيل من الآحاديث الشريفة الصحيحة والله الموفق والمعين والحمد لله رب العالمين.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ

او بعض له خلكو څخه هغه څوك دي يعني من اهل مكة چي ناحقه بحث كوي په ذات او صفاتو كي او په احكامو كي د خداى ﷻ، بيله علمه يا نقلي يا عقلي، مفسرين وايي چي دا آيت په النضر بن الحارث كي نازل سوى دى چي كثير الجدال وُ د عليه الصلوة والسلام سره، او ده به ويل چي ملائكه بنات الله دي او قرآن مبارك به يې اساطير الاولين باله يعني د درواغو قصې د پخواني خلكو، او دى د بعث بعد الموت څخه هم منكروُ او له احياء څخه د من صار ترابًا كذا اخرج ابن ابى عن ابي مالك.

دروښ وايي: چي د دې شان نزول كه څه هم النضر بن الحارث دى لكن اهل التفسير په يوه خوله وايي چي عبرت عموم لره د لفظ دى لا لخصوص المورد فيدخل في الآية امثال النضر بن الحارث من مشركى مكة المعتقدين لمثل عقيدته بل عموم المنكرين الى يوم القيامة كمشركى الهند وجابان وغير ذالك.

وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ ۙ﴿۳﴾

او دى متابعت كوي په عمومي احوالو كي (ضمير راجع دى و من ته) د هر شيطان چي دده په زړه كي دا خبري وراچوي من الجن والانس.

پوه سه: چي مرِد خالي والي ته وايي ومنه الامرد يعني بې ږيري هلك لتجرده من الشعر، والمريد والمارد العاري من الخير المستمر في الشر.

دروښ وايي: چي مريد ټوله رئيسان د كفر او ضلال دي چي اتباعو ته دعوت د شرك او كفرو ركوي، او رئيس اعظم د دې ډلي ابليس دى عليهم اللعنة من الله وملائكته ومن الناس اجمعين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُتِبَ عَلَيْهِ أَنَّهُ مَنْ تَوَلَّاهُ فَأَنَّهُ يُضِلُّهُ

كتب اى قضى الله في اللوح المحفوظ (عليه) اى على الشيطان في التاويلات النجمية اى كتب على كل شيطان من الانس والجن (انه) الضمير للشان (من تولاه) اى اتخذ الشيطان وليًا (فانه يضله) نو شيطان هغه تابع خپل گمراه كوي.

پوه سه: چي ان سره د جمله خبر د مبتداء محذوف في دى اى فشان الشيطان ان يضل من تولاه عن طريق الحق، وجمله فانه آه جزاء ده د من كه كلمه د من شرطيه وي. وخبره ان كانت موصولة فافهم تدرك.

وَيَهْدِيهِ إِلَىٰ عَذَابِ السَّعِيرِ ﴿٤﴾

او شيطان بنوونه كوي و هغه تابع ته ولاري ته د اور يعني دوزخ، يعني شيطان باعثه كوي خپل تابع پر كولو د داسي افعالو من الشرك والمعاصي چي هغه افعال سړى دوزخ ته رسوي.

فائده: اضافت د (عذاب) و (سعير) ته چي نار الشديدة الاشتعال ته وايي بيانيده كعلم الفقه وشجرة الاراك، او حسن رح وايي چي سعير يو نوم دى له نومانو څخه د دوزخ.

فائده: جمله د ومن الناس في الله الآية حال ده له فاعل څخه د اتقوا، والتقدير يا ايها الناس اتقوا ومنكم من يجادل ولايتق، او يا جمله معترضه ده.

فائده: شيطان جني خلك گمراه كوي چي په زړونو كي يې وسوسې وراچوي د كفر او د عصيان او په زړونو كي يې نوري شبهې ورځايوي مثلاً بعث بعد الموت نسته او او اصنام مستحق د عبادت دي او د نورو معاصيو تزيين ورته كوي لكه زنى لواطت وغيرهما، واعظم طريق النجاة من وساوس الشيطان التعوذ من تلك الوساوس الى جناب الباري ﷻ يعني اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ډېره ډېر مكرر ويل دي يعني هر وخت چي په زړه كي وسوسه د معاصي كولو پيدا سي دري واره اعوذ بالله وايا ست خداى جلت قدرته به يې دفع كړي لكن حسن اعتقاد په كار دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علماء رح وايي چي شيطان انسي تر شيطان جني بد تر دی، ولي چي شيطان جني په اعوذ بالله من الشيطان الرجيم دفع کيږي او شيطان انسي په اعوذ بالله من الشيطان سره هم نه دفع کيږي.

سوال: څه دليل دی چي زمونږ په اذهانو کي د ديوه بد کار او معصيت کولو خيال راوکړي چي دا د شيطان له خوا ده؟

ځواب: مولانا جلال الدين الرومي قدس سره د دې ځواب په ډېرو ښوو ابياتو راوړی دی چي حاصل يې دادی چي يو سړی چي په يوه ويباله کي په ډېرو اوبو کي لمبېږي او په پښه دننه په اوبو کي يو ځوزيا ډبره جګه سي چي دی خو يې په ستر ګو نه وينې لکن ژر پښې ته لاس ورورې هغه ځوزيا ډبره له پښې څخه لېرې کړي، نو پر دې قياس وکړه چي په دماغ کي د ګناه او عصيان فکر پيدا سو چي دا ځوزيا شګه د شيطان لعين د خوا دی، نو چابک دا ځوز له دماغه وباسه په اعوذ بالله من الشيطان الرجيم سره، او دې فکر شيطاني ته دوام مه ورکوه چي نبايد و کولو ته د هغه کار مفضي نسي فافهم هداک الله. او شيطان انسي چي عبارت دی د اهل البدع والاهواء د رئيسانو څخه او يا د فلاسفه د يونان له مشرانو څخه چي هغه يو خو انکار د بعث بعد الموت کوي او د جنت او دوزخ څخه منکر دي او عالم قديم او ابدي بولي، نو د سړي سره په استدلالات عقليه وهميه سره دليل وايي او په هغو دلائلو فاسده سره سړی و خپلو عقائدو فاسده وو ته راجلب کړي، که ته د دې مصداق غواړې هداية الحکمت، صدرا، شمس بازغه او نور کتابونه د علم طبعيت ملاحظه کړه. او بعض رئيسان د معتزله او شيعه ګانو او د نورو ډلو لکه خوارج، روافض وغيرهم بيا خلک په استدلالاتو فاسده وو سره خپلو مذهبو ته راجلبوي. ولهذا ورد في الحديث النبوي الصحيح ستفترق امتي ثلث وسبعون فرقة كلهم في النار الا الناجية، نو يو چا د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه چي ناجيه کومه ډله ده؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چي هغه ډله ده چي په عقائدو کي پر هغه لار روان وي چي زه او زما اصحاب پر هغه روان يو.

دروښ وايي: چي دې ډلې ته اهل السنة والجماعة وايي چي په فروعاتو کي د دين پر څلور مذهبه تقسيم دی، يعني الحنيفية اتباع ابی حنيفة رحمه الله، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شافعية اتباع محمد بن ادريس الشافعي رحمه الله، او مالكيه اتباع مالك بن انس رحمه الله، او حنبلية اتباع احمد بن حنبل رحمه الله.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِنَ الْبَعْثِ

اې خلګو (په اکثر استعمال کې د قرآن عزیز له ناس څخه مراد مشرکان دي چې د بعث بعد الموت څخه منکر دي) که چېرې یاست تاسي په شک کې د بعث بعد الموت، یعني له امکان څخه د هغه او له مقدوریت څخه د هغه، خدای ﷻ لره سوال ددې خلګو په باره کې خدای ﷻ د ان لفظ استعمال کړی چې پر محتمل شیانو د اخلېرې مع ان هذه الفرق متیقن الوجود دي لکه مشرکان د مکې، او لفظ د شک یې استعمال کړی سره ددې چې سخت انکار کوي د بعث بعد الموت څخه، حکمت یې څه دی؟

خواب: تنبیه ده پر بعید والي د وجود د دغسې کسانو کما هو مورد ان الشرطية وبعد الانكار عنه فافهم.

فَإِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ تُرَابٍ

موږ تاسي پیدا کړي یاست (شامل لمن ولد، او سیولد باعتبار العموم في لفظ الماضي، یعني تاسي فکر وکړئ په ابتداء د خلق ستاسي تاچې شک په بعث بعد الموت کې به موزائل سي) له خاورو څخه بخلق ابیکم آدم من تراب وهذا اظهر المعاني. وقيل معناه خلقنا كم من الاغذية لكه غنم. اوربشي. انګور. انار وغیرهما چې مخکه یې شنه کوي او د هغو غذاء نطفه پیدا کېږي.

دروښ وایي: چې القرآن لایحتاج الى مثل هذه التوجيهات البعيدة.

ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ مِنْ عَلَقَةٍ

یعني له منې څخه د پلار او مور چې په رحم کې د مور سره یو ځای سي (او عیسی ؑ مستثنی من هذا) بیا یوه توته کلکه وینه سي.

فائده: ان کنتم شرط او فانا خلقناکم یې جزاء نه ده، لان خلقهم مقدم على كونهم مرتابين، والقانون النحوي ان الجزاء يتعقب الشرط بلكې دا علت د جزاء محذوف دي، والتقدير فانظروا الى مبدء خلقكم من كذا وكذا ليزول ريبكم في البعث بعد الموت لان من قدر على البداية قدر على الاعادة كما لايخفى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په حدیث صحیح نبوي کي راغلي دي (ان الله جعل الارض ذلولا تمشون في مناکبها و خلق بني آدم من تراب (بخلق ابیهم آدم من ذالک) لیذلهم بذالک (ای لیختار بنوا آدم الذلة والتواضع کالتراب) فابوا الا نخوة واستکبارًا) نو اباء او منع وکړه بني آدم مګر نه د نخوة او تکبر څخه یعني په اعتبار د بعض افرادو وهم المشرکون والکفرة الی اخیر الحدیث.

ثُمَّ مِنْ مُّضْغَةٍ مُّخَلَّقَةٍ وَّغَيْرِ مُخَلَّقَةٍ

بیا هغه توتې وینه لکه یوه ګوله ژوولې غوښه وګرځي

قال ابن عباس رضي الله عنه تامة الخلق (ای الاعضاء) وغیر تامة الخلق (ای الاعضاء) وقال مجاهد رحمه الله مصورة وغیر مصورة وهو راجع الی تفسیر ابن عباس رضي الله عنه، او بعض وایي چي مخلقه هغه ده چي ښځه پر خپل وخت لنګه سي، غیر مخلقه داده چي نقصان وکړي بې روح شی څنډي پیدا سي.

تنبیه: اصلي وخت د زیږیدلو د طفل نهه میاشتي دي عند الحنیفیة، لکن چې پر شپږ میاشتي پیدا سي بقاء یې ممکنه ده او په تجربه ثابته ده او دغه رنګه پر اووه میاشتي چې پیدا سي ممکن البقاء دی او بقا یې په تجربه ثابته ده او که په اتمه میاشتي کي پیدا سي د هغه د بقاء امید نسته، تاریخ وایي چې د اته میاشتي زیږیدلی له وخت څخه د آدم علیه السلام تر اوسه ژوندي نه دی پاته سوی، په آنحضرت صلی الله علیه وسلم کي بعض مؤرخین وایي چې په اته میاشتي کي پیدا سوی دی مګر خرق العادة یې بقاء کړې ده والله اعلم، او بعض علماء وایي چې مخلقة دا دی چې اعضاء یې ټوله سالم وي هیڅ نقصان او عیب نه وي پکښې. او غیر مخلقه هغه ده چې یا یې یوه ستر که مورزاده ړنده وي، یا مورزاده په یوه پښه ګوډه وي، یا مورزاده کوږ وي چې په دې سبب یې ژبه هم ګونګی کیږي الی غیر ذالک من عیوب الاعضاء.

پوه سه: چې په حدیث صحیح کي راغلي دي چې دمخه تر نفخ الروح یؤمر الملک المؤکل بالرحم باربع کلمات (ای بکتابة اربع قضایا وکل قضیة سمیت کلمة) کتب رزقه (ای غنی او فقیر) واجله (ای مدة حیاته في الدنیا) وعمله، وشقي (وهو من وجبت له النار یعني الکفار) او سعید (وهو من وجبت له الجنة، یعني ولو بعد حین کما في بعض عصات المؤمنین) وهذا ان هو الرابع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قدم الشقي لان الاشقياء وهم الكفار اكثروا وفر، ثم ينفخ فيه الروح الى اخير الحديث.

لِنُبَيِّنَ لَكُمْ

چي مونږ بيان کړو تاسي ته په دغه تدريج د خلق اول د انسان يعني حال د بعث بعد الموت يعني دا دليل وکړئ چي پر دې چي قادر پر خلق اول د انسان بهذه الاطوار قادر على اعادته الى الحيوة الثانية يوم القيامة خصوصًا پيدائښت د اول البشر چي آدم عليه السلام له خاورو څخه چي بوی د ژوند په خاورو کي نه وُ بيا هم انسان چي مع القوى البشرية څنګه پيدا کړی، يو محقق شاعر وايي:

بعث انسان گرنشد نزدت عيان ..... اول خلقش نگر هذا بيان
هر که بر ايجاد او قادر بود ..... قدرتش بر بعث او ظاهر شود
اوست خلاقی که از بعد خزان ..... ميکند پيدا بهار بوستان

وَنُقِرُّ فِي الْأَرْحَامِ مَا نَشَاءُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

الواو للاستيناف مسوق لبيان حالهم بعد تمام خلقهم، او مظهري وايي عطف ذی پر انا خلقناکم بتقدير ونحن نقر، تاچي معطوف او معطوف عليه دواړي جمله اسميه سي، ومعنى الآية مونږ قرار ورکوو دغه حمل ته په رحم کي يعني رحم يې نه غورځوي، دوهره زمانه چي زمونږ اراده وي د قرار تر وخت معين پورې يعني د خروج من الرحم.

مسئله: ادنى مده د حمل د خروج شپږ مياشتي ده باتفاق الائمة الاربعة رح کما مر تفصيله، او نهايت مده د وضع الحمل دوه کاله ده عند الامام الاعظم رح واړه سنين عند الشافعي رح وخمس سنين عند مالک رح.

دروښ وايي: چي هر امام چي مده د وضع الحمل يا څلورياپينځه کاله بولي په واقعات نادره سره دليل وايي، مونږ وايو چي دا نادر واقعات دي جداً، ولا اعتبار للنادر، وتفصيل الدلائل في كتب الفروع.

ثُمَّ نُخْرِجُكُمْ طِفْلًا

وروسته تر قرار په ارحام کي د امهات. او وروسته تر تکامل الخلق عند تمام الاجل المسمى راباسي دی حال کونه طفلاً فهو حال من الضمير المنصوب في نخرجكم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ضمير د کم خو جمع دی او طفلاً مفرد دی فکیف یصح الحالیة؟

خواب: یا په تاویل د کل واحد په ذوالحال کي یا په اراده د جنس له طفل څخه چي مفرد تثنیه جمع کړو ته شامل سي، وما قال المظهري چي طفل مصدر دی فهو یخالف لما قال المولی الفناري في تفسیر الفاتحة ان حد الطفل من اول مایولد یعني چي اوله یغاره وکړي چي د مور له نسه څخه راووځي چي په عربي یې یستهل صارخًا وزته وایي یا تر شپږ کاله پوري انتهی، ولي له دې عبارت څخه خو دا معلومیږي چي طفل مصدر نه دی.

فائده: طفل په غایت ضعف کي چي خپل مایحتاج الیه نسي پر ځای کولای ثم وثم الی مدة.

ثُمَّ لِتَبْلُغُوٓا۟ أَشُدَّكُمْ

وروسته چي ژوندی وي لویږي کرار کرار حتی چي غایت ته د قوت رسیږي په جسد او په عقل کي او په تمیز کي، په ناموس کي وایي چي د اشد ابتداء د اتلسو کالو څخه تر دېرشو کالو پوري ده، والمشهور ان زمان الاشد فیما بین الثلثین الی اربعین.

وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ وَمِنكُم مَّن يُرَدُّ إِلَىٰٓ أَرْذَلِ ٱلْعُمُرِ لِكَيْلَا يَعْلَمَ مِنۢ بَعْدِ عِلْمٍ شَيْـًٔا

او بعض له تاسي څخه وفات سي بعد بلوغ الاشد او قبله والتوفی الموت، او ستاسي څخه چي وکړځي یعني غایت سپین ږیری سي، او ارزل یې په دې ورته وویل چي دا ردي عمر دی، والعمر مدة عمارة البدن بالحیاة.

پوه سه: چي حرف جر متعلق دی په (یرد) پوري واللام للعاقبة کما قوله لدوا للموت وابنوا للخراب یعني حتی یعود الی الهالة الاولی من الطفولیة من سخافة العقل وقلة الفهم والحفظ حتی ینسی ما علمه وینکر ما عرفه، عکرمه[۳] وایي څوک چي قرآن وایي او علم القرآن ورته حاصل وي ارزل العمر نه پرې راځي که هر څومره پر کلان سال سي.

دریښ وایي: چي الحمدلله زما عمر د (۹۶) کالو په شاو خوا کي دی لکن بیا هم د تفسیر په لیکنه بخت یم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: حجاج بن یوسف یو ډېر کلاک سال سپین ږیري ته وویل چي کاکا یا بابا ولاړ او ناسته دي څرنګه ده؟ هغه ورته وویل چي ولاړ یم زه چي وایم په مځکه پوري ګنډلی یم. او چي کښېنم مځکه دومره لهري سي زه چي وایم له بامه راکښته کېږم. حجاج ورته وویل چي خوب دي څرنګه دی؟ هغه ورته وویل چي په ځای کي پرپوځم خوب نه راځي او چي په مجلس کي کښېنم بیده سم.

فائده: په دې لفظ قرآني کي شیئًا مبالغه ده په کم والي کي د علم دده والا فهو یعلم بعض الاشیاء کالطفل. شیخ سعدي قدس سره وایي:

طرب نوجوانی زپیری مجوی ..... که دگرنیاید آب رفته بجوی
زرع را چون رسد وقت درو ..... نخرامد چنانچه سبزه نو

وقال في مواضع آخر

چو دوران عمر از چهل درگشت ..... مزن دست وپاکه آب از سر گزشت
بسبزی کجا تازه گردد دلم ..... که سبزی نخواهد دمید از گلم
تفرج کنان در هوا و هوس ..... گذشتیم بر خاک بسیار کس
دریغا که فصل جوانی گذشت ..... بلهو و لعب زندگانی گذشت

فائده: په دې آیت کي دویم استدلال پر امکان د بعث بعد الموت په دې سره چي پر انسان احوال مختلفه او احوال متضاده راځي په اعتبار د مرور د زمانې د عمر دده کما مر فمن قدر علی ذالک قدر علی البعث بعد الموت ایضًا.

وَتَرَى الْأَرْضَ هَامِدَةً

او ته وینې اې مخاطب غیر معینه. نو (هامدة) یې حال دی په هر صورت له (ارض) څخه. او یا معنی داده چي ته علم لرې پر مځکه. نو (هامدة) یې مفعول ثاني دی. معنی د هامدة میتة یابسة من النباتات. یقال همدت النار اذا صارت رمادًا.

فَإِذَا أَنزَلْنَا عَلَيْهَا الْمَاءَ اهْتَزَّتْ وَرَبَتْ وَأَنبَتَتْ مِن كُلِّ زَوْجٍ بَهِيجٍ ۝

چي مور ې نازلوو یعني له اسمانو څخه پر هغه مځکه، نو مځکه وښوروي یعني یو تخم پکښي راپورته کېږي، نو دا هم حرکت وکړي، او وپرسېږي. نو مځکه راشین کړي هر صنف د نباتاتو (کلمه د من زائده ده او نسبت د انبات و مځکي ته مجازي دی باعتبار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الظاهر والا فالفاعل الحقيقي للانبات هو الله (بهيج) حسن او زيبا، په قاموس کي وايي چي بهجت سرور ته وايي. نو ددغو نباتو په ليدلو خلک خوشاله کيږي.

فائده: جمله (وتری آه) عطف ده پر (انا خلقنا کم آه) نو دا درېيم دليل دی پر امکان د بعث بعد الموت. او دا دليل خدای ﷻ په قرآن کريم کښي مکرر ځايونه راوړی دی لظهوره وکونه مشاهدًا.

ذٰلِكَ بِأَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ

(ذالک، په تاويل د مذکور اشاره ده الی ماذکر من خلق الانسان في اطوار مختلفة چي يو د بله سره ضد دی او و احيا، ته مځکي بالنباتات بعد موتها ويبسها) چي خدای ثابت موجود او واجب الوجود خالق کل شئ دی که خدای ﷻ نه وای ممکن له کتم څخه د عدم و عرصه ته وجود نسوای راتلای.

پوه سه: چي ذالک مبتدا، ده خبر يې (بان الله هو الحق) دی.

وَأَنَّهُ يُحْيِ الْمَوْتٰى وَأَنَّهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ۙ

او خدای ﷻ ژوندي کوي مړي يعني معدوم شيان لکه انسان له نطفې څخه او نباتات له ارض الموات څخه. او په تحقيق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی.

فائده: مراد له شي څخه ممکن بالامکان دی فيخرج منه المستحيلات بالذات کشريک الباري واجتماع النقيضين وارتفاعها الی غير ذالک. وايضًا خرج منه واجب الوجود لانه تعالی ليس خالقًا لنفسه کما هو المقرر في کتب علم الکلام.

تفريع: خدای پاک چي بعض اموات ته ژوند ورکوي. نو ټولو ته يې هم ورکولای سي وذالک هو البعث. نو ولي کفار مکه وايي من يحی العظام وهي رميم، او ولي يې په محسوس شيانو کي فکر نه دی وهلی لکه دوی ټوله چي د سړي له نطفې څخه خدای ﷻ پيدا کړي دي. کريمه وفي انفسکم افلا تعقلون.

وَأَنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا

او په تحقيق سره د خراب د دنيا وخت راتلونکی دی. هيڅ شک نسته په راتلو کي. يعني لمن القی السمع وهو شهيد والا فالمنکرين للساعة او فرکا الفلاسفة. نو په دې آيت کي رد دی پر فلاسفه وو چي دوی وايي عالم دنيا ابدي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُوْرِ ۝

او خدای ﷻ ژوندي کي هغه څوک چي په قبرو کي دي يعني عند النفخة الثانية.

فائده: تخصيص د من في القبور مبني دی پر عرف د عربو چي دوی مړي په قبرو کي ښخوي لکه يهود او نصاری هم داغسي کوي، والا فان الله يحي موتی الهنود الذين يحرقون موتاهم في الدنيا بالنار وكذالک يحي من اكله الذياب وغيرها وحوش البر، وايضًا يحي من اكله السماک بعد غرق السفائن.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيْرٍ ۝

او بعض له خلګو څخه هغه څوک دي چي ناحقه بحث کوي په خدای ﷻ کي يعني په صفاتو کي د خدای ﷻ کالقدرة على احياء الموتى.

پوه سه: چي روح البيان وايي چي مراد له يجادل څخه ابوجهل دی، دا تخصيص مبني پر دې دی چي ابو جهل ډېر سرسخت دښمن د دين اسلام، قرآن او د عليه الصلوة والسلام ؤ، والا فكفار مكة في وقت نزول هذه السورة كلهم يجادلون في الله.

فائده: (من يجادل) مبتداء ده او (من الناس) خبر مقدم دی،

سوال: نحات وايي چي محط ده فائده په جمله اسميه کي خو خبر وي، نو په دې اخبار کي څه فائده چي من يجادل في الله د انسان له قسمه دی اذ هو ظاهر لايخفى على احد؟

ځواب: ان الفائدة في ذالک الاخبار ان المجادل في الله صرف او صرف د انسانانو له نوع څخه نور پرته تر هغه هيڅ کمال د کمالاتو انسانيه وو نسته پکښې، او علامه تفتازاني ﷺ وايي چي کلمه د من په معنى د بعض ده وهو مبتداء ومن يجادل يې خبر دی وحينئذ ففائدة الاخبار بالخبر المذكور ظاهرة.

دروښ وايي: چي علامه تفتازاني ﷺ اول محقق دی چي کلمه د من تبعيضي يې په تاويل د بعض مبتداء ګڼلې ده وقد حققنا ذالک في تفسير سورة البقرة في تفسير قوله تعالى ومن الناس من يقول امنا بالله الآية.

(بغير علم) مراد له علم څخه علم بديهي دی کالواحد نصف الاثنين والكل اعظم من الجزء (ولا هدًى) له هدًى څخه مراد علم استدلالي نظري دی چي سړي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هدایت کوي (ینتجي علی الوجه الکامل) کقول المتکلمین، العالم متغیر وکل متغیر حادث فالعالم حادث (ولاکتاب منیر) او نه یو کتاب لري چي مظهر د حق وي له باطله څخه او منزل من جانب الله وي پر هر یوه د مجادلینو.

پوه سه: چي د انسان د علم اسباب منحصر دي په دغو دروشیانو کي، وما وراء تلک کقول کفار مکة فهو مکابرة محضة ومجادلة خالصة وعناد وتکبر وتقلید الاباء.

ثَانِيَ عِطْفِهٖ

حال اخری من فاعل یجادل (عطف) و جانب ته وایي او انسان لره دوه جانبه دي الیمین والشمال وهو الموضع الذي یعطف (یعني کږیږي او میل کوي انسان په نېزه اعراض له شي څخه، وحاصل المعنی چي دا انسان کافر روی ګردانې کوي د مایدعی الیه من التوحید والقرآن والایمان برسالة محمد علیه السلام تکبرًا او د خیاله) کذا قال ابن عطیه وابن زید وابن جریج رحمهم الله.

لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ

غرض دده دا وي چي نور کسان ګمراهان کړي له لاري څخه د خدای ﷻ وهو التوحید والایمان به علیه الصلوة والسلام (لیضل) علی صیغة المعلوم من باب الافعال والفاعل هو من یجادل والمفعول محذوف ای غیره واللام للغرض.

لَهٗ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ

دغه کافر لره په دنیا کي عذاب دی د رسوایي چي یا قتل دی یا حبس، نو د بدر په غزاء کي نضر بن الحارث او عقبه بن ابی معیط ووژل سوه، صبرًا یعني ژوندي یې ونیول او بیا یې قتل کړه، او اوویا کسه د جنګ په حالت کي ووژل سوه، او اوویا کسه یې بندیان سوه، جلال الدین المحلي رح وایي هذه الآیة في ابی جهل حیث قتل في بدر.

دروښ وایي: چي محلي رح چي د ابوجهل د قتل تخصیص کړی دی لانه اعدی عدو الاسلام فتدبر.

وَّنُذِيْقُهٗ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝

او ده ته به ورکوو (ولیس من ذوق الغم) په ورځ د قیامت العذاب المحرق چي اور د دوزخ دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ يَدٰكَ

ژباړه سه: چې ذالک په نېز د مظهري ؒ عذاب د دوزخ دی، او په نېز د روح البیان ذالک اشاره و خزی الدنیا او عذاب النار دواړو ته دی و علی کل تقدیر الآیة بتقدیر یقال لهم من جانب الملائکة چې دا عذاب په سبب د هغه دی چې دمخه یعنې په دنیا کې ستا لاسونو کړي من الکفر و المعاصي.

فائده: په عربي ژبه کې لاسونه کنایه ده له ذات څخه د سړي و تخصیص الیدین بالکنایة عن ذات الشخص لان اکثر الاعمال الدنیاویة یزاول بالایدي، او په پښتو کې هم ورته کنایه سته. یو سړی وایي فلانی کار ماته د خپلو لاسو راپېښ سو.

فائده: په یداک کې التفات دی له غیبت څخه و خطاب ته.

وَاَنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيْدِ ﴿۱۰﴾

او نه دی خدای ؒ ظلم کونکی پر بندګانو چې بې موجب دې په عذاب کړي.

پوښتنه: ظلام خو صیغه د مبالغې ده ای الظلم الکثیر، او علماء وایي چې نفي چې پر مقید داخلي سي نفي د قید کوي، نحو ماجائني زید راکبًا، نو آیا خدای ؒ نعوذ بالله یو څه ظلم کوي؟

ځواب: مظهري ؒ وایي چې صیغه د مبالغې یې له جهته څخه د کثرت د عبادو راوړه، یعنې چونکه بندګان ډېر دي، نو که خدای ؒ پر هر یوه ظلم و کړي، نو ظلام به و کړځي، او روح البیان هم ورته توجیه د صیغې د مبالغې کړې ده، لکن محمود آلوسي ؒ وایي چې له صیغې څخه د مبالغې خو توهم د محال علی الله کېږي و هو نفس الظلم. او بعض مفسرین وایي چې نفي دي پر ظلم داخل فرض کړل سي او مبالغه دي وروسته تر نفي لحاظ کړل سي فیکون مفاد الکلام المبالغة في النفي لا نفي المبالغة حتی یتوهم و مماذکر، لکن علامه بغداد ؒ دا توجیه رد کړې ده چې دا تقدم (مثل ان یقال لایظلم الله ابدًا) او تاخر خو علماؤ په قیود و منفصله وو کې روا بللی دی، او صیغه د ظلام د هغه قسم څخه نه ده، لکن روح المعاني او بعض نور مفسرین وایي چې ظلام صیغه د مبالغې نه ده بلکې صیغه د نسبت ای لیس بذي ظلم. او ده زیاته کړې ده چې صیغه د نسبت په فاعل وزن پورې خاص نه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه لابن او تامر. او دا مصرع یې شاهد راوړې ده .. ع:

ولیست بذی رمح ولست بنبال .... ای ذی نبل، فتدبر هداک الله.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّعْبُدُ اللّٰهَ عَلٰى حَرْفٍ

او بعض له خلکو څخه داسي کسان دي چې عبادت د خدای ﷻ کوي یعني ایمان یې راوړی وي علی حرف ای علی شک، یعني له اول الامر څخه یې زړه مطمئن بالایمان نه وي.

پوه سه: چې حرف په اصل کې طرف ته وایي کحرف الوادي ای طرفه، فالشاک في الدین والمنافق علی طرف من المؤمنین المخلصین والکافرین المجاهرین قد یمیل الی هؤلاء وقد یمیل الی هؤلاء، نو دوی لکه هغه څوک چې په وخت کې د جنګ د مسلمانانو د کفارو سره د مسلمانانو د لښکر پر یو طرف ولاړ وي، که په دې پوه سو چې بری د مسلمانانو په برخه دی (قر) نو ثابت ولاړ وي والا فر، یعني چې د مسلمانانو شکست احساس کړي د هغه مخه وتښتي.

شان نزول: له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې یو سړی چې به مدینې ته راغلی اسلام به یې راوړی، نو که به یې ماینې نر هلک راوړی او اسپه به یې هم لنګه سوه. نو ده به ویل هذا دین صالح او اسلام ښه دین دی، نو زړه به یې پر اسلام قرار ونیوی، وان لم تلد زوجته ولم تنتج خیله یقول هذا دین سوء بیرته به ولاړی اسلام به یې پرېښنو. فانزل الله تعالی الآیة المتلوة. او بغوي رح وایي چې دا آیت نازل دی په یو قوم کې د اعرابو د بادیه، یعني له صحراء څخه به یې مدینې ته هجرت وکړی ثم ذکر مثل ما قال ابن عباس رضي الله عنهما بزیادة فصح بها جسمه وکثر ماله الی اخیر حدیث ابن عباس رض وهذا معنی قوله تعالی.

فَاِنْ اَصَابَهٗ خَيْرُ ِۨاطْمَاَنَّ بِهٖ ۚ وَاِنْ اَصَابَتْهُ فِتْنَةُ ِۨانْقَلَبَ عَلٰى وَجْهِهٖ

نو که به ده ته خیر ورسېدی یعني ماذکر في حدیث ابن عباس رض نو دی به مطمئن په عبادت د خدای رض او په دین اسلام ؤ، او که به ده ته ورسېدل فتنه یعني ناجوړي یا قلة المال یا به یې ماینې لور راوړه وامثال ذالک، نو به ده د ځان سره ویل یا به یې بل ملګري ته ویل ما اصبت منذ دخلت في هذا الدین الا شرا (زه نه یم رسېدلی چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې دین کې داخل سوی یم مګر نه وشرته) نو به یې دین پریښنو، کما قال الله تعالی (انقلب علی وجهه) پر خپل مخ به ولاړی یعنې کفر سابق ته به ورسو.

خَسِرَ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةَ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْخُسْرَانُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۱﴾

تاوان وکړی دغه سړي چې له دین اسلام څخه مرتد سو هم د دنیا تاوان ولي هغه بلا چې وده ته رسېدلې ده هغه خو په ارتداد سره نه دفع کېږي، او دغه رنګه په اسلام سره چې وینه دده او مال دده معصوم او محفوظ ؤ هغه یې هم له لاسه ورکړه او په اخیرت کې یې خلود في النار په نصیب سو. دغه دی ښکاره تاوان، نه هغه تاوان چې تاجران یې په تجارت کې وکړي.

يَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهٗ وَمَا لَا يَنْفَعُهٗ ؕ

دی عبادت کوي (ضمیر د یدعوا راجع دی و من ته في قوله تعالی ومن الناس من یجادل آه) د ماسوی له خدای ﷻ څخه د هغه شي چې عبارت د بتانو څخه دی چې ضرر نه سي رسولای که یې عبادت ونه کړي او نه نفع ورورسولای سي که یې عبادت وکړي.

ذٰلِكَ هُوَ الضَّلٰلُ الْبَعِيْدُ ﴿۱۲﴾

دغه عبادت د غیر الله دی ضلال بعید له حق څخه چې عبادت د خدای ﷻ دی، دا ضلال مستعار دی من ضل في التیة (بیابان) چې سړی به لېري سود صراط مستقیم څخه.

يَدْعُوْا لَمَنْ ضَرُّهٗۤ اَقْرَبُ مِنْ نَّفْعِهٖ ؕ

دی عبادت کوي د هغه چا (پوه سه: چې کلمه د لام زائده ده لان یدعوا متعدي بنفسه دی، او راوړل د الف د یدعوا سره متابعت دی د مصحف عثماني کما لایخفی، والمراد ضر عبادته چې خلود في النار دی یوم القیامة) نژدې ده تر نفع د عبادت د هغه.

سوال: په عبادت کې د غیر الله څه هیڅ نفع نسته لا في الدنیا ولا في الآخرة فما معنی قرب نفعه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: له نفع څخه هغه نفع مراد ده چې تو هم يې عابدين کاوه په عبادت کې د هغه چې تو هم د کافر مشرک دا وُ چې ددې بتانو په عبادت سره به موږ و خدای ﷻ ته وصل سو، کریمه: لانعبدهم الا ليقربنا الى الله: يا تو هم د شفاعت ددوی يې کاو: هؤلاء شفعاؤنا الى الله. او يا معنى د عبارت داده چې ضره يې اقرب دی تر نفع يعني نفع يې بعيد ده. وهذا على عادت العرب فانهم يقولون لما لايكون موجود اصلاً هذا شيئ بعيد. نو حاصل دادی چې نفع د عبادت بعيد ده يعني موجود اصلاً نه ده كما في قوله ذالک رجع بعيد اذ لا رجع اصلاً. ولما كان نفع صنم بعيد بمعنى انه لانفع فيه اصلاً قيل ضره اقرب من نفه لان الضر كائن لامحالة والنفع لا احتمال له.

لَبِئْسَ الْمَوْلٰى وَلَبِئْسَ الْعَشِيْرُ ﴿۱۳﴾

هرآئينه بد دی ناصر دده، يعني دده په وهم کي ناصر ګڼل کېدی، وهو المعبود (ولبئس العشير) يعني مصاحب ده وهو الوثن، او يا عشير په معنى د مخالط دی. والعرب يسمى الزوجة عشير الرجل اى المخالطة له وهو الوثن ايضًا.

پوه سه: چې لام په دواړه ځايه کي ځواب د قسم مقدر دی. وكلمة اللام جوابية وجملة وجوابه خبر من يعني کافر او مشرک به وايي په ورځ د قيامت برفع صوته وصراخه هغه وخت چې دی خپل ضرر يعني دخول النار په سبب د معبود ددې وهو الوثن وويني ولايرى منه اثر مما يتوقعه من المعبود من النفع بالشفاعة او التقرب الى الله، داسي به وايي (والله لبئس الذي اتخذه ناصرًا ولبئس الذي يخالطه وهو الوثن لانه ضرر محض، خالي عن النفع بالكلية وفي هذا تقبيح جدًا ومبالغة في تقبيح حال الصنم والامعان في ذمه.

درويش وايي: وهذا الوجه مما اختاره السجاوندي ؒ وقد اختاره الزمخشري ؒ ايضًا واختاره صاحب روح المعاني. وقال والمعنى على هذا مما لا اشكال فيه. روح المعاني وروسته نور تاويلات هم راوړي دي او تر تنقيد لاندې يې راوستلي دي. او امام مظهري ؒ دغه مذكوره احتمال خو يې راوړی دی لكن په قيل قيل سره يې داسي احتمالات راوړي دي چې متعلم لره لوی سبب د اضطراب ګرځي په معنى کي د آيت والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې په قرآن کريم کې چې خدای ﷻ سوء حال د کافرانو بيان کړی ليارې د انذار ددوی په وروسته کې حال حسن د مؤمنانو بيانوي للبشارة لهم، نو واورئ ښه حال د مؤمنانو.

إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ

په تحقيق خدای ﷻ داخلوي هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي (يعني بالتوحيد والرسالة والقرآن) او صالحات عملونه يې کړي وي (من المالية والبدنية مطابق د شريعت غراء سره من الفرائض والواجبات وغيرها) جنتونه چې بهيږي به لاندې ترهغو يعني لاندې تر اشجارو او د قصورو د جنت ويالې، يعني د شيدو خالصو او د اوبو او د عسلو منقى او د شرابو لاغول فيها ولاهم عنها ينزفون كما جاء في موضع آخر من القرآن الكريم.

پوه سه: چې د اعمال صالحه په کولو کې پرهيزد منهياتو هم داخل دی. کريمه ان الصلوة تنهى عن الفحشاء والمنكر.

إِنَّ اللَّهَ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ ﴿١٤﴾

په تحقيق الله ﷻ کوي هغه کار چې اراده يې ورته وسي يعني لکه ثواب ورکول و مؤمنانو ته چې اهل الصلاح وي، او عقاب ورکوي و مشرکانو ته او عمومي کافرانو ته لانه تعالى لادافع ولا مانع لقضائه ولما اراده.

مَنْ كَانَ يَظُنُّ أَنْ لَنْ يَنْصُرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ

که څوک ګمان لري چې هرګز به خدای ﷻ مرسته نه وکړي د عليه الصلوة والسلام سره.

سوال: عليه الصلوة والسلام خو قبلاً نه دی ذکر سوی، نو دا ضمير (به) اصمار قبل الذکر نه دی؟

ځواب: عليه الصلوة والسلام له سياق څخه د کلام اظهر من الشمس فهميږي.

پوه سه: چې ارجاع د ضمير و عليه الصلوة والسلام ته مذهب دی د ابن عباس ﷺ، کلبي، مقاتل او ضحاک ﷺ له تابعينو څخه، او د قتاده، ابن زيد، والسدي واختاره من النحات الفراء والزجاج ﷺ، او دليل سياق د کلام بللی دی کما مر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ظن پر خپل ظاهر دی یعني الطرف الغالب المقتضی للمفعولین فالجملة بعده قائم مفعولیه، او بعضې مفسرینو چې ویلي دي الظن بمعنی الوهم فیقتضی مفعولاً واحدًا وهو ان مع صلتها آه فوهم. لان الوهم بعید عن شان الکافرین لانهم یظنون بل یعتقدون ان دین رسول الله ﷺ ذاهب، ولي چې دوی رسول الله ﷺ رسول د خدای ﷻ نه باله.

(في الدنیا) با علاء کلمته واظهار دینه ونصره علی الاعداء (والآخرة) با علاء درجته وادخال من صدقه وقبل دینه جنات تجري من تحتها الانهار. او انتقام به خدای پاک واخلي په اخرت کي ممن کذبه بعذاب الحریق ابدًا.

دروښ وایي: چې بعضې مفسرینو ویلي دي هذا کلام فیه اختصار وبین التقدیر بکلام لایحتاج کلام الله الیه فافهم، وراجع الی التفسیر المظهري.

فَلْيَمْدُدْ بِسَبَبٍ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ لْيَقْطَعْ

نو دي راوځروي یوه رسی له بامه څخه د خوني، لان کل من علاک فهو سماء، کذا اخرج عبد حمید وابن المنذر عن الضحاک من التابعین (ثم لیقطع) یعني ځان دي خفه کړي چې رسی زندی کړي وغاړي ته یې واچوي او ترپښو چې شی لاندي کړي هغه پري وهي چې خفه سي، فسره بذالک ابن عباس ؓ.

پوه سه: چې اقطع مشتق دی د قطع څخه اصل یې قطع نفسه بفتحین ثم ترک المفعول یعني نفسه نسیًا منسیًا فصار بمعنی اختنق لازم خنق. ذکر العلماء ان قطع النفس کنایة عن الاختناق، او بعض مفسرین وایي لیقطع الحبل بعد الاختناق یعني وروسته ترخپه والي دي رسی پرې کړي.

پوه سه: چې دا فعل اوس هم بعض کسان کوي چې غم وغصه غلبه پرو کړي.

فائده: دا امر تعجیز دی کما یقال للحاسد ان لم ترض فاختنق ومت غیظًا لکه د دروښ چې یو حاسد په کتاب فروشانو کي سته چې د دروښ پر روان کاروان د علم یې حسد کړي و هغه ته زه وایم فاختنق ومت غیظًا ان لم ترضی بحال الفقیر.

فائده: وهذا الامر للتعجیز لان اعداء النبي ﷺ وحساده لم یستطیعوا ان یفعلوا ذالک الاختناق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې ابن زید ؒ وایي چې مراد له سماء څخه سماء الدنیا دی نو معنی داده چې څوک چې په نصرت د خدای ﷻ او په وحي د علیه الصلوة والسلام نه وي راضي هغه رسی کش کړي و اول اسمان ته او د وحي دروازه دي بنده کړي.

درویش وایي: چې بغوي ؒ په خپل سند سره وایي چې دا آیت په قبیله کې د اسد او د غطفان نازل سوی دی چې ددې دوو قبیلو او د یهودانو ترمنځ حلف او قرارداد د مرستې وۀ، نو دوی چې علیه الصلوة والسلام و اسلام ته راوبلل، نو دوی په خپل منځ کې مشوره سره وکړه چې مونږ باید وپوهیږو چې که مونږ اسلام راوړو د محمد ﷺ نصر او کومک به خدای ﷻ ونه کړي او په سبب د اسلام به زمونږ او د یهودو معاهده قطع سي. نو زمونږ څخه به غنم او نور خوراکي مواد قطع کړي او د لیدن دین لاریه وتړل سي. فنزلت هذه الآیة.

درویش وایي: چې مظهري او روح المعاني نور احتمالات هم بیان کړي دي چې د متعلمینو د حال په نظر نیولو سره هغه احتمالات فقیر نه راوړل.

فَلْيَنْظُرْ هَلْ يُذْهِبَنَّ كَيْدُهُ مَا يَغِيظُ ۝

نو دی دي وګوري چې هغه مذکوره کار ونه کړي چې دی وکړي غیظ دده به دفع سي، والاستفهام للانکار یعني غیظ یې نه دفع کیږي.

بوه سه: چې جمله من کان یظن تر اخیره پورې تاکید دی لقوله تعالی ان الله یفعل مایرید. وجه التاکید ان غیظ الحاسد لایدفع ما اراد الله تعالی من نصر رسوله والمؤمنین في الدنیا والآخرة لایدفع احد شیئا مما اراد الله تعالی فافهم.

پوښتنه: څوک چې ځان خفه کړي او مړ سي، نو هغه ته څرنګه ویل کیږي ای سي فلینظر آه.

ځواب: (۱) دا امر تقدیري دی یعني دی دي دغسي فرض کړي چې زړه داسي هم وکړم زما غیظ به دفع سي (۲) دی دي دمخه تر اختناق فکر وکړي چې که زړه دغسي وکړم زما غیظ به دفع سي. وهذا الجواب والجواب الاول کانهما متحدان والتفاوت بینهما في العبارة فتامل، او روح المعاني وایي چې مامور په نظر سره بل څوک دی چې صالح د نظر وي یعني غیر المختنق آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې نو څرنګه دا صحيح ده چې فاعل د فلينظر دي غير له فاعل څخه د فليقطع چې په معنی د مختنق ؤ سره جلا وي والله اعلم بمراده في كتابه.

وَكَذٰلِكَ اَنْزَلْنٰهُ اٰيٰتٍۭ بَيِّنٰتٍ ۙ وَّاَنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يُّرِيْدُ ۝

ای انزالاً مثل ذالک الانزال (يعني مثل انزالنا الآيات الدالة على امكان البعث وحقيقة التوحيد وصدق رسوله العزيز والوعد نبصره كما مر بيانها) (انزلناه) يعني هغه قرآن (ايات بينات) ای واضحات الدلالة على صدق الرسول في جميع مايقول. او خدای ﷻ هدايت كوي هغه چاته چې اراده يې ورته وسي.

بوه سه: چې دا جمله محلاً مجرور ده په لام جر سره او عطف ده پر محذوف باندې چې هغه محذوف متعلق دی بقوله انزلناه وتقدير الكلام انزلناه لمصالح جمة ولان يهدی به من يريد. او يثبت الله على الهدى من يريد ثباته على الهدى دائما الى وقت الموت.

• اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِـُٔوْنَ وَالنَّصٰرٰى وَالْمَجُوْسَ وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا ۖ اِنَّ اللّٰهَ يَفْصِلُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ

په تحقيق هغه كسان چې ايمان راوړي يعني المؤمنين او هغه كسان چې دين د يهوديت يې مختاره كړي وي او هغه كسان چې د صائبينو په نامه ياديږي.

بوه سه: چې د صائبين په باره كې ابن جرير له قتاده رح څخه روايت كړی دی چې يو قوم دی چې عبادت د ملكو كوي او لمونځونه وكعبې ته كوي او زبور داؤد خپل كتاب بولي. او په قاموس كې وايي هم قوم يزعمون انهم على دين نوح او قبله د دوی د شمال طرف ته ده وفي كتاب الملل والنحل للفاضل عبد الكريم الشهرستاني ان الصائبة كانوا على عهد ابراهيم وكانوا يقولون انا نحتاج في معرفة الله تعالى ومعرفة طاعته وامره وانهيه واحكامه جل شانه الى متوسط روحاني لاجسماني كالرسل الى غير ذالک من خرافاتهم، او نصاری چې تابعان د دين د عيسى خان بولي او كتاب يې انجيل دی، او مجوس دا هم يو قوم دی چې عبادت د لمر او د سپوږمۍ او د اور كوي، او بعض وايي چې فقط عبادت د لمر او سپوږمۍ كوي او بعض وايي چې فقط عبادت د اور كوي وهو الاشهر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویدل علیه ان بیوت النیران للمجوس کثیرة فاول بیت بناه افریدون، بیت فارِ بطوس وآخر بمدینة بخاری باسم بردسون. او بهمن بن اسفندیار یوه خونه د اورپه سجستان کي جوړه کړې وه چي اوس دا وطن سیستان بولي او ددې خوني نوم کرکرۇ. او دوی یوه بله خونه د اور لرې چي نوم یې کونشه ده په منځ کي د فارس او اصفهان چي کیخسرو جوړه کړې ده الی غیر ذالک من بیوت النار، وفي الهند والصین ای چین ایضًا بیوت نار یعبدون فیها النار.

فائده: مجوس چي تعظیم او عبادت د اورِ کوي لوجوه (۱) اور جوهر شریف دی تر ټولو کراتو د عناصر لوړ دی (۲) د اور تعظیم او عبادت دوی له عذاب څخه د اور خلاصوي په ورځ د قیامت. او په دې دوی نه پوهیږي چي دغه عبادت لوی سبب دی د عذاب د جهنم یوم القیامة. او هغه کسان چي خدای ﷻ ته شریک من الاوثان کمشرکی مکة، په تحقیق خدای ﷻ فیصله وکړي په منځ کي ددوی په ورځ د قیامت او محق او مبطل به سره جلا کړي بالجزاء. لکل واحد بما یلیق به فالمحق یدخله الجنة والمبطل یدخله النار.

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١٧﴾

په تحقیق خدای پاک عالم په عواقبو د احوالو د دغو فرقو دی ولایجوز بمقتضی عدله تعالی ان یجعل المسلمین کالمجرمین ولا المحق بمنزلة المبطل مع کمال علمه تعالی بظواهر احوال الکل وبواطنها.

دروښ وایي: چي دا ۇ بیان د دغو مذکوره ډلو په آیت کي:

أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يَسْجُدُ لَهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ

آیا ته علم نه لرې (ایها المخاطب یعني النبي ﷺ. وقیل المخاطب کل من یعلم ذالک) داچي سجده کوي ده له هغه څوک چي په اسمانو کي دي (یعني ملائکې) او هغه څوک چي په مځکه کي دي، ای الانس والجن یعني المؤمنون منهم.

دروښ وایي: چي پر دې تقدیر له سجود څخه معنی شرعي مراد ده یعني وضع الجبهة والانف علی الارض لقصد العبادة.

پوښتنه: کلمه د من خو عام ده مؤمن او کافر دواړو ته شامل دی فما وجه التخصیص بالمؤمن؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: هو! لکن کافر څندي خارج دی بکلام مستقل وهو قوله تعالی وکثیر حق علیهم العذاب کما سیأتي.

وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ وَالنُّجُومُ وَالْجِبَالُ وَالشَّجَرُ وَالدَّوَآبُّ

او لمر او سپوږمی او ستوري او غرونه او درختي او چارپایان، نو چونکه دا معطوفات د غیر ذوی العقول څخه وه او حقیقت د عطف خو دا دی چې معطوف او معطوف علیه به سره غیر وي، نو له هم دې سببه څخه د من في الارض څخه ذوی العقول مراد سوه ای المؤمنون منهم کما مر آنفًا، او بیضاوي وایي چې کلمه د من یجوز ان تعم ذوی العقل وغیرهم او علی التغلیب نو پردې تقدیر معطوفات مذکوره هم تر لاندې سوه. فعلی تقدیر اراده العموم عطف قوله والشمس آه من قبیل الخاص علی العام.

فائده: ذکر د شمس او قمر آه مع دخولها تحت کلمة من د دې لپاره دی چې دا مشهور شیان وه او سجده کول یې د دوی بعیده توهم کېدل.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر له سجدې څخه معنی متعارف نه ده مراد لانها لاتتصور في المعطوفات المذکورة بلکې مراد څندي اطاعت اختیاري دی محدثین او علماء متقدمین وایي چې جمادات لکه لمر، سپوږمی، ستوري، غرونه او حیوانات لاتعقل چې دواب دي که څه هم جمادات او اموات دي او لایعقل دي زمونږ په عقیده لکن دوی حیوة ما او پوهنه لري وهي مطیعة طاعة اختیارته لله تعالی، کریمه: قالتا آتینا طائعین، کریمه في وصف الحجارة: وان منها لما یهبط من خشیة الله، کریمه وان من شیئ الا یسبح بحمده ولکن لاتفقهون تسبیحهم، وروی الطبراني من حدیث ابن مسعود ؓ قال رسول الله ﷺ ان الجبل ینادی الجبل یا فلان هل مر بک احد یذکر الله، بغوي شافعي المذهب وایي وهذا مذهب حسن موافق لقول اهل السنة، او روح المعاني د عقول متوسطه د حال سره برابر تفسیر داسي کړی دی: والمراد بالسجود دخول الاشیاء تحت تسخیره تعالی وارادته سبحانه تعالی وقابلیتها لما یحدث الله ﷻ فیها چې دې ته سجود تکویني وایي وظاهر کلام الامدي ؒ انه معنی حقیقي ده للسجود وفي مفردات الراغب السجود في الاصل التطامن والتذلل وجعل ذالک عبارة عن التذلل لله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعبادته وهو عام في الانسان والحيوان والجماد، او دا سجده دوه قسمه ده سجود بالاختيار ويكون للانسان وبه يستحق الثواب، وسجود بتسخير وتكوين يكون للانسان وغيره من الحيوانات والنباتات والجمادات او په شريعت كي بالركن المعروف من الصلوة وما جرى مجراه من سجود التلاوة وسجود الشكر انتهى قول الراغب. او روح المعاني وجه د تخصيص د شمس او قمر آه دا سي بيان كړي ده چي د دغو شيانو عبادت كړل سوى دى يا په اعتبار د شخص يا په اعتبار د نوع من دون الله، نو د لمر عبادت د حمير قبيلې كړى دى او د سپوږمۍ عبادت د كنانه قبيلې كړى دى، او د دبران د ستوري چي د ثوابتو ستورو له جنس څخه دى، او د المرزم ستوري عبادت ربيعه قبيلې كړى دى، او اكثرو عربو د هغو بتانو عبادت كړى دى چي په غرو كي به دوى جوړ كړه په اشكال مختلفه وو سره، او بعض مشركانو د عربو د بعض درختو عبادت كړى دى، او بعض مشركانو د بقر (غوايي) عبادت كړى دى.

دروښ وايي: چي حاصل د كلام دادى چي په دې آيت (والشمس الخ) اشاره ده چي د كفارو معبودات چي ذكر سوه د خداى ﷻ تر تسخير لاندي دي، فكيف تكون معبودات من دون الله بل ثبت بالبرهان المذكور ان من يستحق العبادة بالحق هو الله تعالى كما هو معنى كلمة التوحيد لا اله الا الله.

وَكَثِيرٌ مِّنَ النَّاسِ ۙ وَكَثِيرٌ حَقَّ عَلَيْهِ الْعَذَابُ ۗ

او ډېر له خلكو څخه (دا مبتداء ده موصوف ده يعني په من الناس سره) كثير، تكرار د اول دى لپاره د تاكيد او مبالغه في الكثرة، (حق) پر صيغه د ماضي او د (عليه) ضمير راجع دى و كثير اول ته او دا جمله خبر ده د كثير، ولي چي دوى په ساجدين بالاختيار كي څانونه نه وه داخل كړي.

فائده: دا جمله مخصص د كلمه من ده چي كافران يې څنډي ويستل.

پوه سه: چي پر تقدير د ارادة له سجدې څخه سجده د تسخير او د تذليل كما اراد الله كثير من الناس مبتداء، خبر يې محذوف دى يعني حق لهم الثواب دل على هذا الخبر خبر قسيمه يعني حق له العذاب لاختيارهم سجود الطاعة بوضع الجبهة على الارض كثير من الناس، نو دا جمله مستانفه ده، وقوله وكثير حق عليه آه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مستانفه اخری ده یعني لاجل ابائهم عن سجود الطاعة بسبب کفرهم.

وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ ﴿۱۸﴾ ط الحجة

من مبتدا، ده متضمن معنی لرد شرط ده، او خبریه چي په هغه کي معنی د جزا، هم سته فما له من مکرم دی او عائد و من ته محذوف دی و المعنی من یهنیه بالشقاوة ای سپکاوی لایکرمه احد بالسعادة وهذه الجملة الاسمیة معطوفة علی الاسمیة السابقة، ان الله یفعل ما یشاء من الاکرام والاهانة، یعني ان السعادة والشقاوة مختصان بمشیة الله تعالی لا احد للتصرف فیهما ابدًا.

هٰذٰنِ خَصْمٰنِ اخْتَصَمُوْا فِيْ رَبِّهِمْ ۫

بیان وتعیین لطرفی الخصام وتحریر لمحله، نو مراد له هذان څخه فریق المؤمنین، وفریق الکفرة چي پنځه قسمه دي کما بینها الله تعالی في الآیة السابقة. یعني (۱) الذین هادوا (۲) والصائبین (۳) والنصاری (۴) والمجوس (۵) والذین اشرکوا. قال العلامة البغدادي رح وروی عن ابن عباس رض ومجاهد، وعطاء بن ابی رباح، والحسن، وعاصم، وکلبي رحمهم الله ما یؤید ذالک.

(اختصموا) په صیغه د جمع چي یې راوړه له دې سببه چي کفار پنځه ډلي دي او د مؤمنانو د ډلي سره شپږ کرځي، او ابن عبلة رح اختصام په صیغه د تثنیه یعني اختصما وایي مراعاة للفظ خصمان، وکلاهما جائز (في ربهم) چي د دوی خصومت دی په شان کي د خدای ﷻ وقیل في دینه وقیل في ذاته وصفاته وجمیع شیونه. او هره فریقه د مؤمنانو او د پنځو فرقو د کافرانو وایي چي زما مذهب حق دی او د مقابل طرف مذهب باطل دی، بخاري او مسلم له ابو ذر رض څخه روایت کړی دی چي دا آیت یعني خصمان اختصموا في ربهم په حمزه، عبیده او علي بن ابی طالب رض کي، او په عتبه، شیبه او ولید بن عتبه من مشرکی مکة چي په ورځ د بدر میدان ته د جنګ راووتل، او قیس رح وایي چي دا آیت په دغو شپږو کسانو کي نازل سوی دی، محمد بن اسحاق صاحب المغازي وایي چي په ورځ د بدر عتبه بن ربیعه واخیه شیبه بن ربیعه وابنه الولید بن عتبه و میدان ته د جنګ راوداتګل او پر علیه الصلوة والسلام یې ږغ وکړی چي زموږ د جنګ میدان ته څوک راواستوه، نو د مؤمنانو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا دري خوانان د انصارو د قبيلې ميدان ته ورغله يعني عوف، معاذ و معوذ ﷺ چې زامن وه د حارث او موريې عفراء نومېدله چې دا دوه وروڼه وروسته قاتلان د ابوجهل وګرځېدل په دغه غزاء کې د بدر، نو مشرکانو د ميدان ورته وويل چې تاسي څوک ياست؟ هغو ورته وويل رهط من الانصار حين انتسبوا اکفاء کرام، کافرانو د ميدان ورنارې کړې يا محمد اخرج الينا اکفائنا من قومنا (يعني هغه کسان راواستوه چې زمونږ مثل وي زمونږ له قوم څخه يعني قريش) فقال رسول الله ﷺ قم يا حمزة بن عبد المطلب قم يا عبيدة بن الحارث و يا علي بن ابي طالب ﷺ، دوی چې ميدان ته ورغله مشرکانو ورته وويل چې تاسي څوک ياست، دوی چې خپل ځان ورته معرفي کړی هغو ورته وويل نعم اکفاء کرام عبيده ﷺ چې کلان سال د قوم ؤ د عتبه سره په مبارزه سو او حمزه ﷺ د شيبه سره او علي ﷺ د وليد بن عتبه سره، نو حمزه او علي ﷺ خپل دوه مقابله بلا مهلته قتل کړه او د عبيده ﷺ او د عتبه تر منځ دوه سخت د توري واري يو پر بل وسوه، د عبيده ﷺ پښه پرې سوه او ماغزه ځندي بهېدل، نو حمزه او علي ﷺ چابک په دوارو عتبه قتل کړی، او عبيده ﷺ چې تر اوسه لاژوندی ؤو عليه الصلوة والسلام ته يې ورساوه، عبيده ﷺ ورته وويل الست شهيداً، قال عليه السلام بلى ثم مات وهو اول شهداء بدر چې تعداد يې وځورلسو ته ورسېدی په وروستۍ کې.

سوال: دا اختصام د بدر خو په ذات کې د خدای ﷻ نه ؤ؟

ځواب: منشاء د دې جنګ د بدر اختصام په ذات کې د خدای ﷻ ؤ چې مؤمنانو خدای ﷻ واحد لاشريک باله او مشرکان خپل بتان د خدای ﷻ شريکان بلل فافهم ولاتغفل.

ابن جرير ؒ له ابن عباس ؓ او عبد بن حميد او ابن المنذر او ابن ابي حاتم له قتاده ؒ څخه روايت کړی دی چې دا آيت په مسلمانانو او اهل الکتاب کې نازل دی او مراد له اهل کتابو څخه يهودان دي کما في روايت روح المعاني تخاصمت المؤمنون و اليهود، نو يهودانو ووېل نحن اولى بالله تعالى اى اقرب الى الله تعالى واقدم منكم كتابًا ونبينا قبل نبيكم، او مؤمنانو به ووېل نحن احق بالله تعالى امنا بمحمد ﷺ وآمنا نبيكم وبما انزل الله من كتاب، او تاسي زمونږ کتاب او زمونږ نبي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پېژنی یعنی د تورات دلاري بیا موپرې اینبی دی او منکر یاست عناداً و تکبراً. مظهري ؒ دا روایت راوړی دی نور هیڅ یې نه دي ویلي. لکن آلوسي ؒ اعتراض پر کړی دی چې دا خو خصام في الله نه دی بل في ان ایهما اقرب منه ﷺ. وکم تری من فرق بین هذا وذالک کالفرق بین المشرق والمغرب. او مجاهد. عطاء بن رباح او کلبي ؒ وایي هم المؤمنون والکافرون من ای ملة کانوا. او بعض اهل تفسیر وایي چې ادیان شپږ دي في قوله تعالی ان الذین آمنوا الآیة. نو پنځه یې د اور برخه ده و واحد للجنة فقوله تعالی هذان خصمان ینصرف الی هؤلاء فالمؤمنون خصم وباقي الخمسة خصم لان الکفر ملة واحد.

دروښ وایي: چې مظهري ؒ په روایت د عکرمه ؒ داسي هم ویلي دي چې له خصمان څخه مراد جنت او دوزخ دي. وروسته یې حدیث د بخاري او مسلم په دې باره کې رانقل کړی دی. لکن روح المعاني وایي: واما ماقیل ان المراد بهذین الخصمین الجنة والنار فلا ینبغي ان یختلف في عدم قبوله خصمان. او ینتطح فیه کبشان انتهی.

فَالَّذِينَ كَفَرُوا قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ

نو هغه کسان چې کفر یې وکړی (پوه سه: چې دا فیصله ده د اخصتام ددوی کما قال الله تعالی ان الله بینهم یوم القیامة. دروښ وایي چې د تعجب خبره داده چې دا آیت په سبب د کلمه د فاء التفریع علی ماقبله یعني هذان خصمان آه عطف ده. نو څرنګه به یې مظهري تطبیق کړي پر خصومت د جنت او نار. یعني هغه کسان چې کافران وي یعني الفرق الخمسة) دوی ته به ښپل ښپل ورکړل سي (چې په پښتو وایي وبه ښکستل سي) کالي د اور پر اندازه د قد او قامت ددوی.

پوښتنه: اور خو کالي نه دي نو ثیاب څرنګه وویل سو؟

ځواب: تشبیهاً بالثیاب یعني لکه ثیاب (کالي) چې پر بدن احاطه کوي دغه رنګه به د اور لمبې په دوزخ کې ددوی پر بدنو احاطه وکړي. سعید بن جبیر ؒ وایي چې دا جامې د ویلي سرو میسو څخه دي چې نحاس یې بولي. او ترټولو معدني شیان چې ګرم کړل سي تر میسو اشد حرارة نسته.

فائده: احمد ؒ له جویریة ﷺ څخه روایت کړی دی قالت قال رسول الله ﷺ من لبس الحریر في الدنیا (یعني من الرجال لان لبس الحریر جائز للنساء) البسه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله تعالی یوم القیامة ثوبًا من نار. له وهب بن منبه ؒ څخه روایت چې په اهل نار باندې چې کالي د اور واغوندي لځ والی ددوی لپاره خیر. او ژوند ورکړي مرګ ددوی لپاره خیر ؤ.

بوه سه: چې مظهري ؒ ویلي دي چې البزار او ابن ابی حاتم په صحیح سند سره له انس ؓ څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ اول من یکسی حلة من النار ابلیس (اول تر ټولو چې په اغوستل کېږي جامه د اور ابلیس به وي) چې دا جامه یې تر ورو څو پورې وي د سر له خوا او د کښې له خوا پسې کشېږي او اولاد یې ټوله په پسې دي او ابلیس نارې وهي یا ثبورا (اې هلاکه چېرې یې راسه چې دا دي وخت دی) او اولاد یې نارې وهي یا ثبورهم حتی یقفوا علی النار، نو خزنه د جهنم ورته ووایي لاتدعوا ثبورًا واحدًا وادعوا ثبورًا کثیرًا، یعني د ثبور نارې فائده نه درته کوي که یې هر څو واره ووایاست.

يُصَبُّ مِنْ فَوْقِ رُءُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ﴿١٩﴾

تویول کېږي سر ښېره پر سرو ددوی حمیم چې هغه اور ته وایي چې په نهایته درجه کې د حرارت وي.

بوه سه: چې دا جمله یا خبر ثاني د (فالذین آه) ده یا حال ده له ضمیر څخه د لهم یا جمله مستانفه ده.

يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ ﴿٢٠﴾

چې ویلېږي به په هغه حمیم سره چې فوق رؤس یې ورتوی کړي هغه څه چې په نسو کې ددوی دي یعني وازګي یا کلمې (والجلود) او پوستکي ددوی یعني په باطن او ظاهر دواړو کې سوخت پیدا سي، وهذه الجملة حال من الحمیم.

پوښتنه: چې باطن او ظاهر یې دواړه ویلي سي، نو خو مره به سي فیستریح من العذاب؟

ځواب: ښیرته دغه ټوله شیان وربدلوي هر ګړی، کریمه: کلما نضجت جلودهم، بدلناهم جلودًا غیرها، وهکذا حال ما في بطونهم ان الله علی کل شئ قدیر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: جلود خو مرفوع دی عطف دی پر ما چې مرفوع محلاً ؤ مفعول مالم یسم فاعله د یصهر ؤ. او د صهر ترجمه ولېدل ده. او سره ددې چې پوستکي خو نه ولېږي په اور سره بلکې ګونجلک کېږي کما یدل علیه التجربة؟

ځواب: بعض مفسرین وایي چې د جلود سره یحرق مقدر دی چې عطف پر یصهر دی. او په تفسیر بحر العلوم کې وایي چې دا آیت نه قبیلې څخه د علقتها تبنًا وماءً باردًا یعني اشربتها ماءً باردًا.

دروښ وایي: و مآل هذا الی الجواب الاول. او بعض مفسرین وایي چې دې تاویلو ته ضرورت نسته. ولې چې احوال د اخیرت بل ډول دي عقل لاړ نه ورته لري.

سوال: اوبه چې پر سر ورتوی کړي خو اول پر پوستکي تو ږي وروسته به یې تاثیر و باطن ته رسېږي، نو جلود یې ولې وروسته راوړه؟

ځواب: قیل لرعایة الفواصل. وقیل التاثیر في الظاهر غنی عن البیان وانما ذکر اشارة الی تساویهما وقدم الباطل لانه المقصود الاهم.

وَلَهُمْ مَّقَامِعُ مِنْ حَدِيْدٍ ﴿۲۱﴾

او د وږ خیانو لره یعني ددوی د تکولو لپاره مقامع ستې.

پوه سه: چې مقامع جمع د مقمعة ده. هغه آلې ته د اوسپنې وایي چې بل شی سخت په تکول کېږي چې په عربي یې جزر بولي او په فارسي یې ګرز بولي او په پښتو یې سندان یا مارتور بولي، په حدیث کې د احمد، ابو یعلی، ابن ابی حاتم او حاکم له ابي سعید الخدري ؓ څخه په روایت چې رسول الله ﷺ وویل که یوه مقمع د اسپنې پر مځکه کښېښول سي او انس او جن پر جمع سي له مځکې به یې نه کړي پورته. او که یو غر په یوه مقمع ووهل سي ټوک ټوک بسي.

فائده: قوله (لهم) په حذف د مضاف ای لتعذیبهم. او بعض مفسرین کلمه لام په معنی د علی بولي ای علیهم مقامع. ابن ابی حاتم له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی په تفسیر کې ددې آیت یضربون بالمقامع. نو هر اندام یې جلا جلا واقع سي.

كُلَّمَآ اَرَادُوْٓا اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا مِنْ غَمٍّ اُعِيْدُوْا فِيْهَا ﴿۲۲﴾

هر وخت چې اراده وکړي چې له دوږ خه ځان وباسي له دې ره غمه او کرب څخه چې په سبب د سخت اور دوی ته رسېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دوی وه هم وزي بیرته یې ملکي راوګرځوي لان الاعادة لایکون الا بعد الخروج. والجملة الشرطیة اعني کلما ارادوا الی اخیرها، صفت دی للمقامع.

وَذُوْقُوْا عَذَابَ الْحَرِيْقِ ﴿۲۲﴾

پوه سه: چې دا جمله معطوف ده پر اعیدوا بتقدیر قیل لهم ذوقوا الخ.

پوه سه: چې (حریق) په معنی د نار محرقة البالغة في الاحراق الی غایته، فعیل دی په معنی د فاعل لکه الیم چې په معنی د مولم دی.

فائده: زجاج رح وایي چې دغه کسان چې ذکر یې تېر سو په وراندي آیتو کې احد الخصمین دۍ، وقال الله تعالی في بیان الخصم الآخر.

إِنَّ اللّٰهَ يُدْخِلُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ

په تحقیق خدای رح داخلوي هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي او عمل د صالحاتو یې کړی وي (یعني موافق د شریعت سره) و جنتو ته چې لاندي تر دوی (یعني تر قصورو ددوی) به بهېدي ویالې یعني څلور الماء، واللبن، والعسل والخمر.

فائده: سوق د کلام د مؤمنانو په باره کې تغییر ورکړی وسوق نسبت د کلام د خصم آخر چې کافران وه، ولي د هغو په باره کې یې داسي وویل (فالذین کفروا آه) او د مؤمنانو په باره کې جمله مؤکد په ان سره راوړه او نسبت د ادخال ددوی خدای پاک ځان ته وکړی لپاره د تعظیم د شان د مؤمنانو.

يُحَلَّوْنَ فِيْهَا مِنْ اَسَاوِرَ مِنْ ذَهَبٍ وَّلُؤْلُؤًا ۭ وَلِبَاسُهُمْ فِيْهَا حَرِيْرٌ ﴿۲۳﴾

چې دوی ته زېور په لاسو کې (دا جمله حال ده له موصول ځخه یعني الذین) په جنتو کې د هنګرو له قسم ځخه.

پوه سه: چې اساور جمع د اسورة ده، او اسور جمع د سوار ده، نو اساور پر صیغه د منتهی الجموع ده، په علم نحو کې وایي چې دا صیغه قائم مقام ده د دوو سببو د عدم انصراف ده، نو ځکه اساور سره د دخول د من جاره په فتح ویل کېږي لان غیر المنصرف لایقبل الجر کما تقرر في النحو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: (سوار) په پښتو بنګړي بولي او په فارسي دست برنجن بولي او په اردو يې کنګن بولي.

پوه سه: چې من اساور صفت د معفول محذوف دی، والتقدير حليًا كائنًا من اساور (من ذهب ولؤلؤًا) دا بيان دی د اساور يعنې د سرو زرو.

فائده: (لؤلؤًا) په نصب سره عطف دی پر محل د اساور چې محلاً منصوب دی كما هو القانون النحوي من ان الجار والمجرور مفعول بالواسطة وهو قرائت نافع رح وعاصم رح. او نور قاريان ټوله لؤلؤ په جر سره وايي عطفًا على ذهب، لكن كتابت د الف په اخير کې تائيد کوي د قرائت د نصب، ولي نحات وايي چې الف په پای کې د اسم منصوب نوشته کيږي لا المرفوع والمجرور كما في رئيت زيدًا لا في جائني زيد ومررت بزيد. قرطبي رح په خپل تفسير کې وايي چې قال المفسرون ليس احد من اهل الجنة الا وفي يده ثلث اسورة. سوار من ذهب وسوار من فضة وسوار من لؤلؤ.

فائده: الف د نصب چې په اخير کې لؤلؤًا نوشته دی د علماء اختلاف دی چې په امام کې چې مصحف د عثمان رضي الله عنه هم موجود ؤ او که نه، فقال الجحدري رح نعم وقال الاصمعي رح لا.

(ولباسهم فيها حرير) عطف دی پر يحلون باندې من عطف الجملة الاسمية على الفعلية كما جوزه اكثر النحاة ومن منع ذالک فعنده هذه الجملة حال من فاعل يحلون. ترجمه: کالي د جنتيانو سر ترپايه په جنت کې ورېښم وي يعنې د خالص ورېښمو څخه به جوړ سوي وي چې په دنيا کې يې اغوستل ونروته حرام دي.

الاحاديث الشريفة في باب ليس الحرير: بخاري او مسلم له عمر رضي الله عنه څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من لبس الحرير في الدنيا لم يلبسه في الآخرة، وجاء مثله من حديث انس والزبير رضي الله عنهما، او نسائي او حاكم له ابي هريره رض څخه روايت کړی دی چې نبي عليه السلام وويل که چا واغوستل ورېښم (يعني ورېښمينه جامه) په دنيا کې، لم يلبسه في الآخرة (اى في الجنة) او که چا شراب وڅښل په دنيا کې لم يشربه في الآخرة يعني في الجنة.

دروېش وايي: چې دا حديث والسابق واللاحق محمول على عدم التوبة منها والا فالتائب من الذنب كمن لاذنب له، حديث صحيح قريب الى حد الشهرة، ومن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرب في آنية الذهب والفضة لم يشرب بها في الآخرة، او بخاري او مسلم له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت کړی دی. قال سمعت رسول الله ﷺ لاتلبسوا الحرير ولا الديباج. ولاتشربوا في آنية الذهب والفضة ولاتاكلوا في صحافهما (په پياله کي) فانها لهم (ای للكفار) في الدنيا ولكم في الآخرة.

مسئله: د ورېښمينې جامې اغوستل په درې ځايه کي روا دي (۱) په غزا کي ولي چې توره يې ژر نه پرې کوي (۲) چې د سړي بدن جرب وي يعني خارش کوي ولي چې ورېښمين کالي دفع د جرب کوي (۳) چې د سړي بدن سپږي کوي، ولي چې ورېښمين کالي سپږي نه کوي، كما ثبت كل ذالک في الآحاديث الصحيحة.

مسئله: که د چا پر گريوان يا لستونې يا پر چپنه د ورېښمو کار سوی وي چې عرض يې درې گوتي وي يا کم روا دی، او طول ته يې اعتبار نسته.

مسئله: که د چا پر قميص يا چپنه متفرق ځايونه د ورېښمو کار سوی وي چې هر يو جلا جلا درې گوتي نه وي دا متفرقات نه سره جمع کېږي.

مسئله: ملبوس عام دی که قميص وي او که لنګ او که لنګوټه وي، ټوله ورېښمين حرام دي د نرو لپاره.

پوښتنه: د لباس په بيان کي يې جمله اسميه راوړه. داسي يې نه وويل ويلبسون فيها حريرًا، او د حلي په باره کي يې جمله فعليه راوړه يعني يحلّون آه، سر و نکته يې څه شی دی؟

ځواب: لان ثبوت اللباس امر محقق اذ لا يمكن العراء عنه حتى في الدنيا، بلكې حاجت وه دې ته دی چې لباس د جنتيانو د کوم نوع لباس ځخه دی، ولهذا جعل اللباس مبتداء وحرير خبره لان محط الفائدة هو الخبر كما تقرر في النحو، بخلاف التحلية يعني زيور پوشيدن فانها ليست من اللوازم الضرورية لاهل الجنة فلهذا جعل بيان الحلية مقصودًا بالذات في قوله تعالى ويحلون فيها آه، او دا هم نکته ده په تقديم بيان د تحليه پر بيان د حال د لباس. اوس هم په بيان کي د حال د اهل جنت د کالو، عن كعب بن مالک رضي الله عنه لو ان ثوبًا من ثياب اهل الجنة لبس في الدنيا لصعق (بېهوشه به سي) من ينظر اليه، وما حملته ابصارهم (ستر کي يې تحمل د ليدلو نسي کولای) واخرج مسلم عن ابي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يدخل الجنة فنعم فيها لا يباس ولا تبلى ثيابه ولا يفنى شبابه.

وَهُدُوٓا إِلَى الطَّيِّبِ مِنَ الْقَوْلِ ۚ

او دوی يعني جنتيانو ته به هدايت وکړل سي يعني الهام به ورکړل سي په جنت کي دبيو طيب او پاکيزه قول ته وهو قولهم الحمد لله الذي صدقنا وعده واورثنا الجنة، وهذا هو المروي عن ابن عباس ؓ. او بعض علماء وايي چي داغه کلمات خو دي نوري د جنتيانو تر منځ چي خبري اتري کيږي هم به طيب وي.

سوال: د جنت طيب قول خو تر اوسه نه دی واقع سوی، او هدوا ماضي صيغه ده؟

خواب: بعض مفسران وايي چي ماضي په معنی د مستقبل ده.

دروښ وايي: چي دا خواب ضعيف دی لانه يقطع الاحتمالات الآخر کما سيناتي بل الحق ان الامر المستقبل المتيقن الوقوع کالماضي، او بعض مفسران ماضي پر خپل حال بولي او دا هدايت په دنيا کي بولي، نو طيب قول د دنيا لا اله الا الله دی، وفي بعض الروايات ذالک مع زيادة والحمد لله وفي رواية ابن زيد والله اکبر ايضًا. او سدي ؒ وايي چي طيب قول قرآن مبارک دی وحکی الماوردي هو الامر بالمعروف والنهي عن المنکر دی، وقيل مايعم ذالک وسائر الاذکار والله اعلم.

الاعراب: هدوا چونکه ماضي ده او په قانون نحوي ماضي چي حال واقع کيږي لفظ د قد يا مذکور يا مقدر غواړي، نو دا جمله په تقدير د قد حال ده له هغه موصول څخه چي مفعول يدخلوٗ في قوله تعالى ان الله يدخل الذين آمنوا.

وَهُدُوٓا إِلَى صِرَاطِ الْحَمِيدِ ﴿٢٤﴾

که د دنيا حال بيانول وي، نو معنی د آيت داسي ده قد هدوا في الدنيا ولاري ته د حميد چي د خدای ﷻ نوم دی چي د هغه لارد اسلام لار ده، والمعنى الحميد المستحق للحمد لذاته وان لم يحمده احد، او که چيرې مراد په آيت کي حال د جنتيانو وي، نو معنی د آيت داسي ده چي دوی ته هدايت کړل سوی دی و جنت ته يعني مرد له صراط څخه جنت دی.

سوال: جنت ته لار څرنګه وويل سول؟

خواب: له دې سببه چي جنت لار ده د فوز بما لاعين رئت ولا اذن سمعت ولا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خطر على قلب بشر كما جاء في الحديث النبوي، او مراد له حميد څخه پر دې تقدير هم خداى پاک دى. ولي چې جنت د خداى ﷻ جوړ کړى کور دى د مؤمنانو لپاره، او يا اضافت د موصوف و صفت ته دى يعني هغه جنت چې محمود دى يعني مقام محمود دى.

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمَسْجِدِ الْحَرَامِ

په تحقيق هغه کسان چې کفر کوي او منع کوي له لاري څخه د خداى ﷻ (يعني له اسلام څخه او مفعول محذوف دى يعني هر څوک چې وي تنبيهًا على العموم)

پوښتنه: يصدون خو معطوف دى پر کفروا چې ماضي ده، او يصدون مضارع ده. وفي هذا العطف بشاعة عند النحاة؟

ځواب: مراد له مضارع څخه نه حال دى او نه استقبال بلکې استمرار د صد دى فيشمل الماضي ايضًا فحسن العطف المذكور ونظيره فلان يعطى ويمنع اى هذا عادته المستمرة (والمسجد الحرام) عطف دى پر (عن سبيل الله) باندې والمعنى يمنع الناس عن المسجد الحرام.

بوه سه: چې مراد له مسجد حرام څخه المسجد خاصة دى عند الشافعي ؒ. وعند الامام الاعظم ؒ الحرم كله، وحدود الحرم ممتد من كل جانب الى اميال فالمسجد بعض الحرم، والدليل عليه قوله تعالى (سبحان الذي اسرى بعبده ليلاً من المسجد الحرام مع ان الاسراء ليلة المعراج من بيت ام هاني بن ابى طالب، و بيت هاني خارجة عن المسجد، نعم هو داخل في الحرم، فهذا الاطلاق من قبيل ذكر الجزء واردة الكل، ووجه ذالک ان الغرض من تعمير مكة اقامة الصلوة كما قال الله تعالى حكاية عن قول ابراهيم ؑ رَبَّنَآ إِنِّيٓ أَسۡكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي (يعني اسماعيل ؑ مع امه هاجرة) بِوَادٍ غَيۡرِ ذِي زَرۡعٍ (اى وادي مكة) عِندَ بَيۡتِكَ ٱلۡمُحَرَّمِ (اى قريبًا منه) رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ ﴿٣٧﴾ الآية، ومعلوم ان الصلوة تكون بالمسجد، مفسرين وايي چې امام شافعي ؒ د خپل قول سابق څخه رجوع کړې ده حيث قال في تفسير قوله تعالى (انما المشركون نجس فلا يقربوا المسجد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحرام بعد عامهم هذا الخ، چي مراد دادی چي کفار ممنوع الدخول دي د ټولد داخل حدود الحرم څخه مطلقًا لاعن دخول المسجد فقط فافهم، وهذه الآية علی ماروی عن ابن عباس رضي الله عنهما نزلت في ابی سفيان والمشرکين من اهل مکة، ولي چي دوی منع کړی عليه الصلوة والسلام واصحابه رضي الله عنهم چي څورلس سوه يا پنځلس سوه کسه وه چي په نيت د عمرې احرام بنده روان وه د حديبيه په مقام کي له دخول څخه د مکې، او عليه الصلوة والسلام دا نه غوښتل چي ددوی سره دي جنګ وکړي لکونه واصحابه محرمين بالعمرة، اخير الامر يې صلح پر دې وکړه چي سږ کال به تاسي بيرته ځی حتی پر ائينده کال به مورږ تاسي ته د دخول د مکې اجازت د ذوالقعدة په مياشتې کي درې ورځي درکوو، نو مجبورًا عليه الصلوة والسلام او صحابه کرامو رضي الله عنهم ځانونه په حديبيه کي حلال کړل او د مدينې پر خوا رهي سول.

الَّذِي جَعَلْنَاهُ لِلنَّاسِ سَوَاءً ۨ الْعَاكِفُ فِيهِ وَالْبَادِ ۚ

الذي صفت دی د مسجد حرام يعني هسي مسجد حرام چي کرځولی دی مورږ د خلکو لپاره چي برابر دی په هغه کي مقيم او مسافر.

الاعراب: (سواء) په رفع سره خبر دی، او مبتداء يې (العاکف) ده، قدم الخبر عليه، او يا سواء من قبيل الصفة ای مستو مبتداء قسم ثاني ده او عاکف يې فاعل دی کما تقرر في علم النحو يعني المبتداء قسمان وتفصيله في الکافية وشروحها، والجملة مفعول ثاني ده د جعلناه، او للناس حال دی له ضمير څخه د جعلناه يعني من الهاء، والتقدير جعلناه کائنا للناس.

دروښ وايي: چي دا آيت دليل ددې دی چي مراد له مسجد حرام څخه ټوله مکه ده لان الاقامة لاتکون في نفس المسجد بل في الدور.

معذرة: ددې آيت په تفصيل کي مظهري، روح المعاني، تفسير کبير بلکي تقريبًا ټولو مفسرينو ډير طويل بحث پر لار اچولی دی او اختلافات د ائمة الاربعة يې ذکر کړي دي په باره کي د مځکو د مکې مکرمې چي بيع يې روا ده او که نه، او يا يې اجاره روا ده او که نه، په دې باره کي احاديث د هر مذهب ذکر کړي دي لکن چونکه دا مسئله په کتابو کي د فقه په تفصيل سره ذکر سوې ده، او د تفسير ايوبي د متعلمينو لپاره بېله حيرت او درد سره هيڅ فائده نه لري، نو ځکه مو له طويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بحث څخه لمن د بحث راټولد کړه. او که څوک تفصيل د فوق الذکر مسئلې غواړي کتابونه د فروع ذي مطالعه کړي. والعذر مقبول عند کرام الناس.

وَمَنْ يُّرِدْ فِيْهِ بِاِلْحَادٍ بِظُلْمٍ

که څوک اراده وکړي په مسجد حرام کې، سواء کان المراد منه المسجد او الحرم کله علی اختلاف القولين کما مر.

پوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې (الحاد) منصوب دی محلاً وان کان مجرور لفظًا. والباء زائدة. نو الحاد مفعول به د يرد دی. روح المعاني او مظهري پر زيادت د با دا قول د اعمش دليل ګرځولی دی .. ع: ضمنت برزق عيالنا ارماحنا فالباء زائدة. والتقدير ضمنت رزق عيالنا لان ضمنت متعدي بنفسه دی، او فاعل د ضمنت ارماحنا دی چې جمع د رمح ده په معنی د نيزې ده. يعني زامن د رزق د عيال زمونږ نيزې دي. او بظلم ظرف لغو متعلق په يرد پورې دی، يا ظرف مستقر دی صفت د الحاد دی. الحادًا متلبسًا بظلم، روح المعاني وايي د يرد مفعول يې نه راوړی ليتناول کل متناول ای من يرد فيه شيئًا ما او مرادًا ما. او ابن عطيه وايي چې مفعول يې ناس دی ای من يرد فيه الناس، ومعنی الالحاد العدول عن القصد والطريق المستقيم، والمعنی ارتکب فيه منهيًا عنه ولو شتم خادم، نو بالحاد او بظلم حالان مترادفان او الثاني بدل من الاول من الثاني باعادة الجار ای يلحد بسبب الظلم، کالاشتراک واقتراف الآثام قولاً کان او فعلاً، کذا في روح المعاني والمظهري.

نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ۝

موږ به په ده وځکو يعني ورته کړو عذاب مؤلم يعني درد دهنده، وفي حديث البخاري عن ابن عباس ؓ قال قال رسول الله ﷺ ابغض الناس الی الله ثلثة، ملحد في الحرم، ومتبع في الاسلام سنة الجاهلية، ومطلب دم امرء بغير حق ليريقه.

پوه سه: چې له دې حديث څخه دا معلومه سوه چې الحاد په حرم کې حرام دی که مسجد وي او که غير له مسجد څخه. مجاهد ؒ وايي تضاعف السيئات بمكة كما تضاعف الحسنات فيها، او عطاء ؒ وايي چې مراد د الحاد في الحرم کې دخول د حرم دی پېله احرامه وارتکاب شئ من محظورات الاحرام من قتل صيد او قطع شجرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروبش وايي: والتعميم في الالحاد اولى بالارادة ليشمل الكل من السيئات

حدود الحرم:

وللحرم التحديد من ارض طيبة.....ثلاثة اميال اذا رمت اتقانه
وسبعة اميال عراق وطائف....وجدة عشر ثم تسع جعرانة
ومن يمن سبع بتقديم سينه....وقد كملت فاشكر لربك احسانه

روى ان الامام الاعظم رحمه الله كان ياتى من بغداد مع بعض اصحابه كل عام للحج حتى تم له حجج كثيرة او هر وار چي ده به اركان د حج يعني افعال د حج من الفرائض والواجبات والسنن پر ځاى كړه، شاګردانو ته به يې وويل چي درځى چي ځو وطن ته، شاګردانو به ورته وويل چي ځو ورځو به نورې تېرې كړو نفلي طوافونه او نفلي عمرې به وكړو، امام اعظم رح به ورته وويل. نوافل د مكې كه مضاعف دي اما سيئات ولو كانت صغيرة يې هم مضاعف كبيرې انتهى قوله الشريف.

دروبش وايي: چي ددې تائيد كوي هغه قول د علماؤ چي په ماسوى كه د حرم كه سړى قصد د ګناه وكړي تر هغو نه نيول كېږي چي عمل يې ونه كړي. او كه يو سړى چي په حرم كي وي قصد د وژلو د يو چا وكړي چي هغه په عدن كي وي يا په بل لېرې وطن كي اذاقه الله بعذاب اليم (يعني الا ان يتوب كما قال السدي رح)

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ

(واذ) اى اذكر لهؤلاء الكفرة اى مشركى مكة الذين يصدون عن سبيل الله والمسجد الحرام) وقت جعلنا مكان البيت مبائة اى مرجعًا لجدهم ابراهيم يرجع اليه للعمارة والعبادة او مطهري رح وايي اى عينالله. او زجاج رح وايي اى بيناله مكان البيت ليبينه ويكون مبائة يعني ځاى د رجوع له ولعقبه (يعني پس مانده ګانو ته) يرجعون اليه ويحجونه. والاول مروي عن ابن عباس رض.

سوال: د ذكر له وخت څخه اصل مراد خو هغه حوادث دي چي په دې دنيا كي رونما سوي وي. نو ذكر د وخت يې څه فائده؟

ځواب: چونكه وخت ظرف دى د حوادثو، نو ذكر او پيادول د وخت يادولو لره د هغو حوادثو مستلزم دى، اصل لغوي معنى د بيت چي انسان د شپې هغه ځاى ته ورځي وروسته اعتبار دليل ځندي ساقط سو او جمع د بيت ابيات او بيوت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راځي لکن په عرف کي البيوت په مسکن پوري خاص دی، والابيات بالاشعار.

بوه سه: چې بيت د ډبرو يا د اومو خښتو يا د لوټو يا د پسو د وړيو يا د اوښ د وړيو يا د بزو د اجغونو وي، نو مراد له بيت څخه په دې آيت کي بيت الله ﷻ ده يعني الکعبة المکرمة.

بوه سه: چې تاريخ قديم وايي چې کعبة مبارکه پنځه واره جوړه سوې ده (۱) بناء د ملائکو عليهم السلام قبل آدم ؑ وکانت من ياقوتة حمراء، بيا دا بناء په وخت کي د طوفان نوح و اسمان ته پورته سوه (۲) بناء د ابراهيم عليه السلام. راويان وايي چې خداى چې ابراهيم ؑ امر کړى په بناء د بيت الله الشريف، ابراهيم ؑ ته نه معلومېدل چې چېرې يې جوړه کړم، نو خداى پاک يو باد پيدا کړى چې د حجوج په نامه يادېږي چې پر مکان کعبة الله سره څرخېدى او خاوري يې پاشلې يوې اوبلې خوا ته حتى چې هغه قديم تادای يعني اساس يې ښکاره کړى، پر هغه تادای ابراهيم ؑ د کعبة الله الشريف بناء وکړه (۳) بناء د قريشو په جاهليت کي هغه وخت چې دوی چنده جمع کړې وه پر اساس ابراهيم ؑ کعبة الله نه پوره کېدل، نو دوی د حطيم پر خوا شپږ ګزه کعبه کمه کړه او د ډېوال يې تېر کړى. نو د حطيم معنى محطوم ده يعني چې د کعبې څخه قطع سوی دی او نور دري ډېوالونه د کعبې يې پر اساس ابراهيمي بناء کړه. لهذا مسئله داده که سړی په طواف کي په حطيم کي تېر سي طواف يې نه دی صحيح بلکې وراء الحطيم به تېريږي.

فائده: علماء وايي چې که څوک اراده لري چې په بيت الله کي نفل وکړم متصل له ډېوال سره د کعبې مبارکې دې نفل وکړي ولې چې دا ځای جزء د کعبې ؤ.

پوښتنه: د حطيم شکل بايد مربع وای ▭ او سره ددې چې د حطيم شکل داسې ◠ دی؟

ځواب: چونکه شپږ ګزه وه هاخوا ته بعض قبرونه وه، والله اعلم لمن کانت تلک القبور، نو قريشو هغه قبور هم پکښې داخل کړه، نو شکل د حطيم کمامر وګرځېدى، او هم دا سر دی چې د کعبې په يو کونج کي چې حجر اسود دی ځلک يې مسح کوي، او په بل کونج کي چې رکن يماني دی بعض اهل مذهب والا يې مسح کوي، او د حطيم و خواته کونجيان هيڅ څوک نه مسح کوي، ولې چې دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کونجان اصلي کونجان د مکې نه دي کمامر. د قریشو د بناء په وخت کې علیه الصلوة والسلام هم شامل او حاضرؤ، خوانؤ پنځلس کاله تر بعثت دمخه ؤ.

فائده: قریشو چې کعبه جوړول حجر اسود یې یو ځای خوندي ایښې وه، څه وخت چې کعبه تکمیل سوه او د حجر اسود غار پاته ؤ، نو چې نوبت د حجر اسود د راختلو او په خپل ځای کې د ایښودلو ورسېدی. د قریشو د قبائلو په دې کې نزاع سوه چې کومه قبیله حجر اسود په خپل ځای کې ایږدي حتی چې نژدې ودې ته سوه چې قتل وقتال شروع کړي. اخیر مشرانو د قبائلو پر دې اتفاق وکړی چې هر سړی چې پر باب سلام راغلی د هرې قبیلې څخه چې وي حجر اسود به په خپل ځای کې ایږدي، نو ناګاه سرور کائنات محمد مصطفی ﷺ اول سړی چې پر دروازه د باب سلام وارد حرم سو د خلګو چکچکې سوې چې خیر سوه امین مکه راغلی، چې خلګو د مکې دمخه تر نبوت علیه الصلوة والسلام په دغه پاک نامه باله، خلګو موضوع د علیه الصلوة والسلام ته وړاندې کړه. د علیه الصلوة والسلام عقل نورانې وویل چې تاسې یو شړی چې مرط یې بلل راوړی او اواره یې کړه د حجر اسود د ځای سره او د ټولو قبائلو یو یو نفر دې پر دې شړی سره راجمع سي یعنې چې ټوله قبائل حصه پکښې واخلي. قریشو همداغسې وکړه او ډېر خوشاله هم سوه. علیه الصلوة والسلام حجر اسود پر شړی کښېښول خلګو ته یې وویل چې درواړه ځلی، علیه الصلوة والسلام پیاده ورسره روان ؤ چې د حجر اسود ځای ته ورسېدل صرف علیه الصلوة والسلام حجر اسود له شړی څخه پر خپل ځای کښېښول او قبائل د قریشو یې په خوشالی سره له جنګ وجدال څخه خلاص کړه.

دروښ وایي: چې دا ؤ کامل عقل د آنحضرت ﷺ، د تعجب ور خبره خو داده چې تر وخته پورې د رسالت د دعوې قریشو علیه الصلوة والسلام امین مکه باله یعنې د محمد په نامه یې نه باله، څه وخت چې د څلویښتو کالو پر عمر علیه الصلوة والسلام نبي سو او وحي پر نازلي سوې او د لا اله الا الله محمد رسول الله اعلان یې وکړی. هغه قبائل وه چې علیه الصلوة والسلام به یې کاهي کاهن باله کاهي شاعر او کاهي مفتر یعلمه البشر باله. او کاهي به یې مجنون باله او په قسم قسم ازارد علیه الصلوة والسلام یې لاسونه پورې کړه (ومن یضلل الله فما له من هاد)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۴) او څلورم وار بناء د کعبة الله عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه چې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه دلور بي بي اسماء رضی الله عنها چې د ام المؤمنین عائشة رضی الله عنها څور وه زوی ؤ.

پوښتنه: ددې بناء سبب څه ؤ؟

ځواب: د بخاري د روایت سره سم څه وخت چې علیه الصلوة والسلام مکه مکرمه فتح کړه، نو سیدتنا عائشة رضی الله عنها ته یې وویل که ستا قوم له کفر څخه تازه مسلمان سوی نه وای ما به مکه یعني کعبه نړولې وای او دوې دروازې به مي ورکړي وای یوه شرقي او بله غربي چې په یوه زائرین ورننوتلای او پر بله راوتلای او دروازه به مي په مځکه پوري کړې وای.

نکته: دا خبره علیه الصلوة والسلام ددې لپاره وکړه چې که زه داغسي وکړم دا نو مسلم قریش به مرتد سي. وایي به چې زموږ د پلرو او نیکه ګانو خونه یې راونړول، او علیه الصلوة والسلام وویل چې شپږ ګزه حطیم به مي هم په کعبه کې داخل کړی وای، بي بي عائشې رضی الله عنها دا خبره خپل خور بي عبد الله بن زبیر رضی الله عنه ته وکړه نو څه وخت چې دوره د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم وپای ته ورسېدل او د معاویه رضی الله عنه دوره د خلافت هم پر پوره کېدو وه، ده خپل زوی یزید خپل جای نشین وګرځاوه چې اهل عراق او شام وغیره هم ټولو بیعت ورسره وکړی الا اهل مکة، اهل مکه د عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه سره بعیت وکړی، عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه په اولین خلافت کې کعبه مبارکه ونړول او پر هغه نقشه چې علیه الصلوة والسلام یې تمنّی درلوده جوړه کړه کمامر

(۵) پنځمه بناء یې د حجاج بن یوسف ده، وهو الموجود الیوم.

پوښتنه: ددې بناء سبب څه ؤ؟

ځواب: یزید پلید چې خبر سو چې اهل مکه د عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه سره بیعت وکړی، نو درانه فوجونه د شام، مصر، عراق وغیره څخه په مشری د حجاج بن یوسف اظلم عباد الله د مکې وخوا ته راهې ګړل، فوجونه چې مکې ته رانژدې سوه او اهل مکه یې د مقابلې توان او طاقت نه درلودی، ټوله د مکې بنار یې خالي کړی په نژدې او لیرې غرو کې یې پناه ونیول او عبد الله بن الزبیر رضی الله عنه په حرم شریف کې پناه ونیول. حجاج بن یوسف چې راغلی پر جبل ابی قبیس یې منجنیق ورته ودراوه او عسکر یې امر کړه چې کعبة الله په منجنیق ولئ؛ عسکرو منع وکړه، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حجاج په خپله ليڅي راوغښتلې او په منجنيق يې کعبه مبارکه ويشتل هر وار چې به يې کعبه مبارکه وويشتل اور به يې تر اسمانه ورسېدی لکن ده غليظ القلب باک نه په کاوه خو چې کعبه مبارکه يې له بېخه ونړول او خلک يعني مسلمانان چې په حرم کې يې پناه اخستې وه هغو هم ځان پټ کړی. حجاج بن يوسف مسجد الحرام ته ورداخل سو او عبدالله بن الزبير رضي الله عنه يې گرفتار کړی او حکم يې وکړی چې د زمزم د ځاه د غاړې سره په چاړه قتل سي، راويان وايي چې په دغه وخت کې د عبدالله بن الزبير رضي الله عنه مور بي بي اسماء رضي الله عنها ژوندی وه چې عمر يې تخمينًا سل کاله ته رسېدی دا چې خبره سوه چې زوی مي ننه حلالېږي، لکړه يې راواخستل د حرم و خواته را روانه سوه دا چې راغله زوی يې وچاړې ته لاس تړلی پروت و، څه وخت چې ذابح دده پر غاړه چاړه کش کړه او د وينو تويدل يې مور وليدل. نو سمدستي حيض هم ورغلی او تر تيو يې شيدې وبهېدلې. نو دې دا قدر وويل چې زويه هغه چې ته اولاً پکښې ژوندی سوی يې (تعني الرحم) هغه درپسې وژړل. او هغه تيو چې تا شيدې ځندي رودلې هغو هم درپسې وژړل، زه نو نه درپسې ژاړم، انا لله وانا اليه راجعون يې ووايه کور ته راهي سوه، وروسته چې حجاج بن يوسف د عبدالله بن الزبير رضي الله عنه جوړه کړې کعبه رنګه کړه، نو يې بيرته د جاهليت پر نقشه جوړه کړه چې دا اوس هم ولاړه کعبه بناء د حجاج بن يوسف ده.

سوال: جواب طلب سوال: وروسته خو نور عادلان صالحان بادشاهان راغلي دي. نو په هغو کې ولي د عبدالله بن الزبير رضي الله عنه نقشه چې د عليه الصلوة والسلام تمثلي هم وه نه کړه تجديد؟

خواب: راويان وايي چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله چې د مرواني قبيلې پر سر قدرت سو چې ضرب المثل ؤ په عدالت کې. نو ده دا وغوښتل چې کعبه د عبدالله بن الزبير رضي الله عنه پر نقشه جوړه کړي. نو علماء يې د مشورې لپاره راغونډ کړه، علماؤ ورته وويل چې د خداى ﷻ بيته د سياست هدف مه ګرځوئ چې يو به يې پر يو دول بناء کوي بل سلطان چې راسي هغه به يې پر بل هيئت جوړوي، پرېږده پر داغه هيئت د حجاج بن يوسف، ولي چې بيت الله خپله شرافت ذاتي دی په باني پورې تعلق نه لري. نو پر هغه بناء د حجاج بن يوسف تر اوسه پاته ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: فقیر وویل چې حجاج بن یوسف په ظلم کې ضرب المثل ؤ. او عمر بن عبد العزیز رحمه الله په عدالت کې ضرب المثل دی. دلیل یې دادی چې عرب وایي کله د تولې نړۍ د ظالمانو ظلم په یوه پله کې د ترازو کښېښول سي او د حجاج بن یوسف ظلم په بله پله کې. نو دده ظلم پر درونده دی. او د عمر بن عبد العزیز رحمه الله په عدالت کې وایي. که د دنیا د عادلانو عدل په یوه پله کې کښېښول سي او د عمر بن عبد العزیز رحمه الله عدل په بله پله کې. نو دده عدل به پر راجح وي.

دروښ وایي: چې دا خبره مبالغه ده په ظلم کې د حجاج بن یوسف او د عدالت د عمر بن عبد العزیز رحمه الله، حتی چې بعض علماء وایي چې خلفاء راشدین پنځه دي، یعنې عمر بن عبد العزیز رحمه الله هم په خلفاء راشدینو کې شمار دی.

تاریخ قدیم د کعبې مبارکې وایي چې ارتفاع د کعبې د اسمان پر خوا (۲۷) گزه ده چې هر گزیې (۲۵) مضمومه گوتي دي، او طول د کعبې پر مځکه له رکن یماني څخه تر حجر اسود پورې (۲۵) گزه دی. وکذا مابین الرکن الیماني والرکن الغربي (۲۵) گزه دی. او عرض یې له رکن یماني څخه نیولې تر حجر اسود پورې شل گزه دی. او د کعبې د دروازې طول شپږ گزه او لس گوتي دی او عرض یې څلور گزه دی. او دروازه د کعبې په شرقي دېوال کې د کعبې ده، د کعبې دروازه د ساج د لرګي څخه ده چې یو قیمتي لرګی دی د سپینو زرو صفائحو پر مېخ سوي دي، او د دروازې د چارچوب ارتفاع د مځکي څخه څلور گزه او درې گوتي ده. او میزاب الرحمة په منځ کې د دېوال د حطیم له خوا څخه ده، او عرض د ملتزم شریف یعنې په منځ کې د دروازې تر حجر اسود پورې څلور گزه ده. او ارتفاع د حجر اسود له مځکې څخه درې گزه لوړه ده په سبع گز کم.

اَنْ لَّا تُشْرِكْ بِیْ شَیْـًٔا وَّطَهِّرْ بَیْتِیَ لِلطَّآىِٕفِیْنَ

متعلق بمحذوف ای عهدنا الی ابراهیم ان لاتشرک. وقوله بي ای بعبادتي هیڅ شی له بتانو څخه (وطهر بیتي) او پاکه ساته زما بیته په داخل او خارج کې له بتانو او له مردارو شیانو او قاذوراتو څخه.

بوه سه: چې اضافت د بیت چې خدای ﷻ و ځان ته وکړی لپاره د تشریف د مضاف. وبهذا المناسبة یسمی کل مسجد بیت الله یعني بیت عبادت الله وذالک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لعدم المكان لله عزوجل (للطائفين) لپاره د هغو کسانو چې پر بيت الله باندې طواف کوي (الجار و المجرور متعلق بطهر آه).

وَالْقَآئِمِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ ﴿۲۶﴾

(والقائمين) جمع د قائم ده (الركع) جمع د راكع ده او سجود جمع د ساجد ده.

پوه سه: چې مراد له درو سره وو څخه لمونځ دی تعبيراً عن الصلوة باركانها من القيام والركوع والسجود لان هذه الثلثة لم يعرف في الشرع عبادةً بدون الصلوة. روافض وايي چې طهارت په لمانځه کې يوازې د تندې د ځای شرط دی لاغيره. او په نهز د اهل السنة والجماعة هر عضو د مصلي چې پر مځکه لګيږي ولو في القعدة د ځای طهارت شرط دی فافهم.

وَاَذِّنْ فِى النَّاسِ بِالْحَجِّ

او اعلان او نداء وکړه په خلګو کې په حج کولو سره. ابن شيبه رح په خپل کتاب کې. او ابن جرير او ابن المنذر والحاكم او ده دا حديث صحيح هم بللی دی، او بيهقي په خپل کتاب سنن کې له ابن عباس رضی الله عنهما څخه داسې روايت کړی دی چې ابراهيم ع چې د بناء البيت څخه فارغ سو، نو يې وويل (رب قد فرغت) خدای ﷻ ورته ووېل اذن في الناس بالحج. ابراهيم ع وويل يا رب څوک به زما اواز خلګو ته ورسوي، خدای پاک ورته ووېل پر تا اعلان دی او پر ما يې رسول دي، ابراهيم ع ووېل څرنګه ووايم، قال عزوجل قل يا ايها الناس كتب عليكم الحج الى البيت العتيق، فسمعه اهل السماء والارض. او په بل روايت کې داسې راغلي دي چې ابراهيم د ابی قبيس غره ته وختی او ګوتې يې په غوږونو کې ورکړې وروسته يې ناره کړه يا ايها الناس ان الله تعالى كتب عليكم الحج فاجيبوه، نو خلګو يعني مؤمنانو تر قيامته په لبيک سره ځواب ورکړی من اصلاب الرجال وارحام النساء، واول من اجاب اهل اليمن. ولهذا اهل اليمن اكثر حجّا من غيرهم، راوي د مذکوره کتابونو وايي چې هيڅ څوک حج نسي کولای تر ورځې پورې د قيامت مګر نه هغه څوک چې په ورځ د نداء ابراهيم يې ځواب په لبيک سره ويلی وي (که يې يو وار ويلی وي يو حج به کوي که يې لبيک دوه واره ويلی وي دوه حجه به کوي وعلى هذا فقس)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مجاهد ؒ وايي چې ابراهيم ؑ د صفا، پر غره ودريدی نداء يې وکړه، او په بعض روايتو کې راغلي دي چې ابراهيم ؑ پر مقام ابراهيم ودريدی او هغه کرار کرار راپورته کيدی تر لوړ غره لوړ سو، نو ابراهيم ؑ نداء وکړه. علامه آلوسي ددې رواياتو جمع داسي کړې ده ويمكن الجمع بتكرر النداء انتهى. حاصل دادی چې دا نداء ابراهيم ؑ څو ورځې کړې ده ګاهي يو ځای ګاهي بل ځای وهکذا.

پوه سه: چې ظاهر دادی چې واذن في الناس عطف دی پر طهر بيتي آه. يعني مامور په دې نداء سره.

دروښ وايي: چې مظهري له بغوي ؒ څخه روايت کړی دی چې حسن ؒ وايي چې واذن في الناس کلام مستانف دی يعني کلمه د واو د عطف لپاره نه ده او مخاطب پدې ناد في الناس آه عليه الصلوة والسلام دی. بيا مظهري هغه حديث چې د حجة الوداع په وخت کې عليه الصلوة والسلام يوه خطبه وويل او خلک يې امر کړه په حج سره، روح المعاني وايي وهو خلاف الظاهر جدًا (ولي چې سوق د کلام من قوله واذ بوئنا آه. تولې د ابراهيم ؑ سره دی، دی وايي ولاقرينة عليه) انتهى قول روح المعاني، والله اعلم بالصواب.

يَأْتُوكَ رِجَالًا وَّعَلٰى كُلِّ ضَامِرٍ

دوی به راځي تاته يا ابراهيم ؑ (رجالاً) جمع د راجل ده يعني پياده، لکه قيام جمع د قائم ده او نيام جمع د نائم) او پر ډنګر اوښ باندې چې د لېرې والي د سفره ډنګر سوی وي.

فائده: ياتوک مجزوم دی جواب دی د امر يعني واذن في الناس.

سوال: حجاج خو د حج لپاره بيت الله الشريف ته ځي. د ابراهيم ؑ لپاره خو نه راځي؟

ځواب: چونکه ابراهيم ؑ د بيت الله باني ؤ، نو معنی د (ياتوک) داده ياتو بيتک الذي بنيته.

مسئله: د امام ابو حنيفه ؒ په نېز په پياده تګ حج کول افضل دی د هغه چا لپاره، چې پر پياده تګ قادر وي، لان الله قدم الاتيان راجلاً على الاتيان راكبًا او بل چې مشقت په مشي کې ډېر دی او خشوع او خضوع په پياده تګ کې ډېره ده، او په دې باره کې يو حديث مرفوع هم سته. ابن سعد او ابن مردويه ؒ وغيرهما له ابن عباس ؓ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه روایت کړی دی قال سمعت رسول الله ﷺ یقول ان للحاج الراکب (په هر قدم کې د دابې دده. اوویا نیکی. سته) وللماشي بکل قدم سبعمائة حسنة. او ابن ابی شیبة له مجاهد رح څخه روایت کړی دی ان ابراهیم و اسماعیل علیهما السلام حجًا ماشیین.

دروښ وایي: چې په اوسنی زمانه کې چې استراحت د خلګو ډېر سوه. او لوی او کوچني موټران هم ډېر سوه. شاذ او نادر سړی به حج پیاده کوي الا ان یکون في غایة القرب من مکة المکرمة بلکې د اوښانو سپاره هم په اوسنی زمانه کې نادر دي. لکن شعر:

یقدر الکد تکتسب المعالي ..... ومن طلب العلی سهر اللیالي
تروم العز ثم تنام لیلا ..... یغوص البحر من طلب اللآلي

یَأْتِیْنَ مِنْ کُلِّ فَجٍّ عَمِیْقٍ ۙ

(یاتین) صفة للضامر، والمعنی علی کل تقدیر یاتوک علی کل ضامر یاتین الی مکة لان یحج. روح المعاني وایي والمشهور جعل ضمیر یاتین راجع الی رجالاً ورکبانًا. فلا حاجة الی توجیه الجمعیة فافهم (من کل فج عمیق) د هرې لارې څخه چې بعیده وي.

سوال: یاتین صیغه د جمع ده او ضامر مفرد دی؟

ځواب: چونکه پر ضامر لفظ د کل داخل دی. نو هغه هم جمع دی. معنی او یا صفت د کل دی. او تانیث نظر و معنی ته دی.

لِّیَشْهَدُوْا مَنَافِعَ لَهُمْ

حرف جر متعلق دی باذن او بیاتوک. والثاني اقرب لفظًا ومعنًی. تا چې دوی په دې سفر کې حاضرین وي منافع دیني او دنیوي ته.

بوه سه: چې محمد بن علي بن الحسین بن علي الباقر رضی الله عنه او سعید بن المسیب رحمه الله وایي چې مراد عفو او مغفرت دی.

دروښ وایي: چې دا یوازې تفسیر د منافع دینیه وو دی. وعن ابي هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من حج لله فلم یرفث (بیکاره خبري) ولم یفسق (مراد مطلق فسق دی. الشامل لجمیع انواعه) رجع کیوم ولدته امه (یعني د صغائرو او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کبائرو ګنهو څخه پاک) متفق علیه، او سعید بن جبیر ؒ وایي چې له منافع دنیویه څخه مراد تجارت دی په موسم حج کې.

فائده: منافع چې یې نکره راوړه که څه هم تنوین نسته باندې لپاره د تعظیم او تکثیر دی. وخص مجاهد ؒ المنافع الدنیویة بالتجارة فهي جائز للحاج بلا کراهة اذا لم تکن التجارة مقصودة بالذات والحج بالتبع.

مسئله: علماء وایي چې که د سړي مقصود بالذات حج وۍ، لکن تبعًا یې بعض شیان ورسره یوړه لکه قالین وغیره چې په مکه مکرمه کې څه ګټه راوکړي. یا یې له مکې څخه بعض شیان راتیول چې په وطن کې به ګټه راوکړي، او که دغه تجارت نه وای هم دی حج ته راتلی. نو داسې تجارت مکروه نه دی، او که سړي د مکې په تلو سره د پر تجارتي اموال وړسره وړل یا یې د مکې له خوا راوړل، که دغه تجارت نه وای دی نه تلی یعني نفلي حج یې وۍ. نو دې سړي ته د حج کولو هیڅ ثواب نسته، او که فرضي حج وۍ سره د تجارت مذکوره د فرض غاړې یې خلاصیږي لکن ثواب یې نه یې نسته. وعلی هذا انعقد الاجماع.

وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ فِيْٓ اَيَّامٍ مَّعْلُوْمٰتٍ

ذکر د اسم الله کنایه ده له ذبح څخه د غنم او بقر یا نحر د ابل. ولي چې ذکر د اسم الله په ذبائح کې شرط دی، او بل په ذکر د اسم الله اشاره ده ودې ته چې مقصود په دغه ذبح او نحر کې التقرب الی الله تعالی دی (في ایام معلومات) په معلومو او مخصوصو ورځو کې. وهي ایام النحر کما ذهب الیه جماعة منهم ابو یوسف ؒ ومحمد ؒ.

پوه سه: چې ایام نحر درې دي، یوم العید و یومان بعده عند الحنفیة وعند الثوري وسعید بن جبیر وابن المسیب ؒ لما روی عن علي وعمر وابن عمر وابن عباس وانس وابی هریرة ؓ قالوا امام النحر ثلاثة افضلها اولها ولاشک انهم قالوا ذالک سماعًا عن رسول الله ﷺ. ولي چې عقل و تقدیر ته د شرعي مقادیر لار نه لري، مونږ وایو چې اخبار وارده په دې باره کې متعارض دي فاخذنا بالمتقین وهو الثلاثة، او امام شافعي، والحسن بن الفضل او عطاء ؒ وایي چې وایي چې ایام نحر څلور ورځې دي یوه د لوی اختر ورځ او درې ورځې وروسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استدلالاً بقوله عليه الصلوة والسلام ايام التشريق كلها ايام ذبح، ولاشک ان ايام التشريق اربع. او امام نخعي ؒ وايي ايام النحر يومان فقط يوم العيد ويوم بعده، وعند ابن سيرين ؒ يوم واحد.

دروښ وايي: چې دا دوه مذهبه له لفظ څخه د قرآن يعني في ايام معلومات بصيغة الجمع لېږي دي، وعند ابی سلمة وسليمان بن يسار ؒ ايام النحر ممتدة الى المحرم اوپه ذکر سره د لفظ د ايام دليل ويل سوی دی پر دې چې ذبح ليلاً نه ده روا. قال ابو حيان ؒ وهو مذهب مالک ؒ. او ابو حيان چې نسبت د عدم جواز د ذبح ليلاً و حنيفيانو ته کړی دی غلط دی، نعم يكره عند الاحناف ليلاً لاحتمال الغلط في ظلمة الليل.

دروښ وايي: چې مظهري ؒ د ايام معلومات ترجمه په لس ورځې د ذو الحجة کړې ده وقال وهو مذهب اكثر المفسرين انتهى والله اعلم بالصواب.

سوال: ذبح او نحر خو دمخه تر اختر نه روا دی. فكيف ذهب اكثر المفسرين بقول المظهري الى انه عشر ذی الحجة؟

ځواب: مراد له ذکر څخه د اسم الله پر دې تقدير نفس حمد او شکر تکبير دی، او پر اولو اقوالو د ذکر اسم الله څخه مراد قول د ذابح دی، بسم الله والله اكبر اللهم منک واليک عن فلان.

دروښ وايي: چې په تفصيل سره هغه غوټه هم ځلاصه سوه چې د ابو حنيفه ؒ مذهب په بعض کتابو کې هم عشر ذی الحجة ذکر سوی دی. وروی عن ابن عباس ؓ والحسن وابراهيم وقتاده ؒ وليكن ماقلنا من التفصيل ودفع الاشكال على ذكر منک لعلک لاتجده في غير التفسير الايوبي والتوفيق من الله والعلم عند الله.

دروښ وايي: چې علامه زمخشري په تفسير کشاف کې د هغه قول چې وايي ايام معلومات عشرة ذی الحجة دی داسې توجيه کړې په اعتبار د دې عشر ذی الحجة دی چې يوم النحر جزء د هغو ده. وهذا توجيه حسن.

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ ۚ فَكُلُوْا مِنْهَا

چې خدای ﷻ دوی ته په رزق ورکړي من بهيمة الانعام، نو تاسې خوراک د دغه بهيمة الانعام څخه کوئ يعني د غوښو څخه چې ذبح او نحر يې وسي.

پوه سه: چې انعام اوښ، غويي، بزې او پسه ته وايي، او اضافت د بهيمة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الانعام بیانیه دی، المراد منها الهدایا. والضحایا واجبة کانت او مستحبة لاطلاق النص، وتفصیل الواجب والمستحب یطلب من کتب الفقه.

مسئله: امر د خوراک استحبابًا دی ولیس للوجوب اجماعًا.

مسئله: اتفق العلماء چې هدیه که تطوع وه هدیه کونکو ته یې خورک د غوښو روا دی په دلیل د هغه حدیث طویل چې جابر بن عبد الله رضي الله عنه یې روایت کړی دی په قصه کې د حجة الوداع د آنحضرت ﷺ چې د هغه په یوه برخه کې داسې راغلی دی، وقدم علي رضي الله عنه ببدن من الیمن او علیه الصلوة والسلام د ځان سره سل اوښان راوستلي وه، نو علیه الصلوة والسلام په خپل مبارک لاس (۶۳) اوښان نحر کړه، بیا یې چاړه علي رضي الله عنه ته په لاس ورکړه ما بقي علي رضي الله عنه نحر کړه، او علیه الصلوة والسلام علي رضي الله عنه په ټولو هدایاوو کې شریک وګرځاوه، بیا علیه الصلوة والسلام امر وکړی چې د هر اوښ څخه یوه یوه ټوټه غوښې پرې کړئ او په دېګ یا کټوې کې یې یو ځای پخې کړئ، نو غوښې چې پخې سوې آنحضرت ﷺ او علي رضي الله عنه څه غوښې وخوړلې او ښوروا یې پسې غړپ کړه، رواه مسلم بطوله.

مسئله: دا حدیث دلیل دی پر استحباب د اکل من الهدی له دې جهته که چېرې مقصود په دې خوړلو کې سد الجوع وای، نو د یوې هدی څخه به یې کټوې پخ کړې وای. نو ولي علیه الصلوة والسلام امر کاوه چې له هرې هدي څخه لږ لږ غوښې پرې کړئ او په کټو کې یې پخې کړئ، او روح المعاني وایي چې دا امر د اباحت دی، ولي چې په اصول الفقه کې وایي چې هر فعل چې قبلاً منهي عنه وي او بیا امر په وسي هغه لپاره د اباحت دی، ویدل علی سبق النهي قوله علیه الصلوة والسلام کنت نهیتکم عن اکل لحوم الاضاحي فکلوا منها وادخروا.

دروښ وایي: چې په قول کې د روح المعاني نظر دی، ولي چې د اصول الفقه مسئله په هغه فعل کې ده چې قبلاً مطلق منهي عنه وي بیا امر په وکړل سي، او په هغه حدیث کې چې روح المعاني یوه جمله د هغه حدیث یې نه ده راوړې لان اصل الحدیث کما في کتب الصحاح کنت نهیتکم عن اکل الحوم الاضاحي (فوق ثلث) دا هغه ټوټه متروکه ده کما یدل علیها مابعد الحدیث فکلوا منها وادخروا فافهم. مطلب دا چې دا نهي خو مقید په فوق الثلاث سره دی، نو د اصول الفقه مسئله پر دې نه تطبیقېږي فالاستحباب هو الاولی بالقبول والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَطْعِمُوا الْبَآئِسَ الْفَقِيْرَ ﴿۲۸﴾

او ورکوئ دا اضحیه د غوښو څخه د خوراک لپاره و ډېر سخت فقیر ته والفقیر بدل عن البائس او عطف بیان له. او بعض علماء وایي چې فقیر تعمیم بعد التخصیص دی لان الفقیر اعم من البائس کما یظهر من تفسیر البائس فافهم.

ثُمَّ لْيَقْضُوْا تَفَثَهُمْ

وروسته دې زائل کي او لېرې دې کړي خپل، یعني سر دې وخریي برېتونه دې سم کړي. نو کان دې پرې کړي زېر ناف دې وخریي د بغل وېښتان دې وکاږي.

پوه سه: چې دا احلال اول دی دمخه تر طواف زیارت محرم ته هر ممنوع څه شیان رواسوه. یو نزدیکت (جماع) دمایني چې دمخه تر طواف زیارت نه دی ورته روا.

فائده: امر د (واطعموا) لپاره د ندب دی عند الامام. وهذا ماقاله الخفاجي مذهب ابی حنیفه رحمه الله.

فائده: یستحب کما في الهدایة ان لاینقص في الاضحیة مایطعم الفقیر من الثلث. ولي چې جهات درې دي (۱) الاکل بنفسه (۲) واعطاء البائس الفقیر (۳) والادخار.

فائده: اول وخت د رمي او حلق من طلوع الفجر الثاني یوم النحر عند الحنیفیة رح وعند الاکثر بعید نصف اللیل. والدلائل مذکورة في الفقه.

وَلْيُوْفُوْا نُذُوْرَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوْا بِالْبَيْتِ الْعَتِيْقِ ﴿۲۹﴾

او وفی دي وکړي په نذرو سره. او طواف وکړئ پر بیت الله شریف باندې.

پوه سه: چې بعض اهل التفسیر وایي چې مراد له نذر څخه ما اوجب الانسان علی نفسه مما لیس بواجب علیه قولیًا کان بدنیًا او مالیًا، نذر پر دوه قسمه دی، منجز یعني بالفعل لکه چې وایي لله علي رکعتین. او اتصدق بدرهمین او اختم القرآن في شهر مثلاً. ومعلق بامر ثم المعلق بالشرط ان کان مرضیًا للناذر لکه چې ووایي چې زما مسافر زوی وغیره که له سفره په سلامتیا راسي. یا که زما فلانی زوي خدای ﷻ راجوړ کړي فعلي ان اصوم یومًا او یومین مثلاً او اذبح بشاة. او اصلي عشر رکعات، فضلاً دې ته نذر تردد وایي. او که چېرې شرط مکروه وُ لکه چې ووایي که د ورور سره مثلاً ماخبري وکړې پر مایې روژه نذر الی غیر ذالک. دې ته نذر لجاج وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که منذور مکروه ؤ په هغه نذر نه لازمیږي.

دروښ وایي: چې د نذر ډیر صورتونه او احکام دي چې په کتابو کې د فروع او فقه مذکور دي. فلاحاجة الی تسوید اوراق التفسیر ببیانها کما فعلها المظهري فراجع الیه.

فائده: کعبه شریفې ته چې عتیق وایي سبب یې دادی. ابن عباس. ابن الزبیر، مجاهد او قتاده رضي الله عنهم وایي چې دا کعبه مبارکه خدای ﷻ ازاده ساتلې ده د جبابره وو الذین قصدوا تخریبها کما یشهد علیه سورة الفیل. أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَٰبِ ٱلْفِيلِ ﴿١﴾ الی اخیر السورة کماسیاتي قصته في تفسیر سورة الفیل من هذا التفسیر ان شاء الله عزوجل. او بعض مفسرین وایي اعتقه من الغرق في ایام الطوفان فانه رفع الی السماء. کمامر قریبًا فتذکر. او ابن زید او الحسن رحمه الله وایي چې دا اوله او قدیمه خونه ده چې پر مځکه جوړه سوې ده، نو عتیق په معنی د قدیم دی، کریمه ان اول بیت وضع للناس الذي ببکة الی اخیر الآیة، او بعض مفسرین وایي چې عتیق په معنی د کریم دی. لانه کریم عند الله الکریم.

عرب و بنو آسانو ته کرام الخیل وایي، او سفیان بن عیینه رحمه الله وایي چې عتیق په معنی د ازاد ده لانه غیر مملوک لبشر بل لم یملک ماحوله من الحرم.

فائده: طواف بالبیت عبادت معقولة مقصودة کالصلوة، بعض طوافونه فرض دي او رکن دي د حج او عمرې. او بعض واجب دي عند بعض الائمة وسنة عندنا لکه طواف قدوم او طواف وداع. او پرته له دغو اقسامو څخه تطوع دي. مراد دلته له طواف څخه طواف زیارت دی چې اخیر د حج دی او طواف افاضه یې هم بولي.

ذَٰلِكَ ۖ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَٰتِ ٱللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُۥ عِندَ رَبِّهِۦ ۗ

او که هغه څوک چې تعظیم وکړي د محرماتو د خدای رحمه الله یعني المعاصي، تعظیم د معاصیو دادی چې پرې سړي یې کول ډیر سخت پرېږدي، په حدیث صحیح کې راغلي دي چې مؤمن ته ګناه چې له دوه څخه صادره سي داسې ښکاري لکه تر څرهٔ لاندې چې ناست وي او بهرېږي چې راباندې را ایله به سي، او منافق ته ګناه داسې ښکاري لکه مڅ چې یې پر پزه کښېني دی لاس ورته وښوروي هغه ولاړ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي، او ابو الليث سمرقندي رح وايي چي مراد له حرمات څخه اوامر او نواهي د خداى ﷻ دي چي څوک به يې انتهاک نه کوي، او بعض علماء په قرينه د مقام د حرمات الله څخه مناسک د حج مراد بولي، او ابن زيد رح وايي چي مراد له حرمات الله څخه البلد الحرام والبيت الحرام والشهر الحرام دي (فهو خيرله) نو دغه تعظيم د حرمات الله خير دى ده لره په نيز د رب دده از روى ثواب.

وَأُحِلَّتْ لَكُمُ الْأَنْعَامُ إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

او تاسي ته حلال کړل سوي دي يعني له جانبه څخه د خداى ﷻ الانعام يعني لحوم الانعام (اى الابل والبقر والضان والمعز) مګر هغه حيوانات چې پر تاسي تلاوت کړل کيږي يعني في قوله تعالى (حرمت عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما اهل لغير الله به الآية) يعني تاسي ولي حرامي بولي غوښې د بحيره او د سائبه او د وصيله او حام (وقد مر تفسير هذه الأسامي) يعني دا خو په محرماتو کې د خداى ﷻ نسته، پوه سه! چې احلت لكم جمله معترضه ده.

فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ ﴿٣٠﴾

تاسي پرهيز وکړئ له مردار شي څخه چې هغه اوثان يعني بتان دي، او ځان ساتئ له ويلو څخه د درواغو، والمراد بقول الزور قولهم ان الملائكة بنات الله والاصنام شركاء الله وشفعائنا عند الله الى غير ذالك من اقوالهم المكذوبة.

پوښتنه: بتان خو ډبري دي، نو مردار يې څرنګه وبلل؟

ځواب: چونکه عقوله سليمه والطباع المستقيمة ددوى له عبادت څخه نفرت کوي، نو دوى لکه قاذورات داسي دي.

فائده: وفيه غاية المبالغة في النهي عن تعظيمها، او بعض مفسرين وايي چې رجس عذاب ته وايي، وسمى الاصنام رجسا لان عبادتها سبب للعذاب المؤبد.

فائده: لفظ د زور عام دى ټولو انواعو ته د درواغو في الحكايات والمعاملات.

پوښتنه: په آيت سابقه کې مايتلى عليكم په صيغه د مضارع راغلى دى او سره ددې چې آيت د حرمت عليكم الميتة الآية خو د مخه تېر سوى دى؟

ځواب: تعبير په مستقبل سره لپاره د احضار د صورة ماضية لمزيد الاعتناء به.

پوه سه: چې زور په لغت کې انحراف ته وايي، او درواغ هم منحرف له واقع څخه دي ويدخل فيه شهادة الزور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مظهري د احمد، ابو داؤد، ابن ماجه، طبراني او ابن المنذر رحمهم الله چې هغو د خريم بن فاتک رضی الله عنه څخه روايت کړی دی هغه وايي چې يوه ورځ عليه الصلوة والسلام د سهار لمونځ وکړی فلما انصرف قام قائما او داسې يې وويل عدلت شهادة الزور بالاشراک بالله، دري واره يې دا خبره مکرره کړه او بيا يې دا آيت تلاوت کړی (فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور الی اخير الآية. روح المعاني وايي چې په دې حديث کې خو دلالت پر دې نسته چې مراد په آيت کې له قول الزور څخه شهادة الزور دی کما هو مطلب المظهري رحمه الله. ولې چې روا ده چې آيت يعني قول الزور دي پر عموم حمل وي. او عليه الصلوة والسلام چې وروسته تر شهادة الزور دا آيت وويله لا لتخصيص الآية بشهادة الزور بل لان شهادة الزور نوع قبيح من الزور فافهم والله اعلم.

حُنَفَآءَ لِلّٰهِ غَيْرَ مُشْرِكِيْنَ بِهٖ ؕ

يعني مائل وه اوسئ له هر دين زائغ او باطل څخه و دين حق ته چې توحيد دی ولهذا قال الله تعالی (غير مشرکين به) چې نه به شريکوئ له خدای ﷻ سره هيڅ شی چې اوثان په دخول اولی پکښې داخل دي او که ملکي ورسره شريکوئ او عبادت يې کوئ لزعمکم الباطل انهن بنات الله.

دروښ وايي: چې دا رد دی ددې قول د مشرکانو د مکې چې زمونږ دين د ابراهيم[۴] دی، حاصل د رد يې دادی چې ابراهيم[۴] خو مائل له دين باطل څخه و حق ته ؤ او خدای ﷻ ته يې هيڅ شی شريک نه بالله فاين انتم منه.

پوه سه: چې دا دواړه حالات مؤکدتان من واو فاجتنبوا کذا في روح المعاني.

وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ

څوک چې خدای ﷻ ته شريک وايي مثال يې دادی لکه له اسمان څخه چې راولوېږي.

پوه سه: چې دا جمله تاکيد دهغه ماقبل يعني (حنفاء غير مشرکين به) او اسم جليل يعني الله چې په دې آيت کې يې ظاهر کړی يعني ضمير يې نه راوړی لپاره د کمال قبح د شرک بالله. ولې چې الله ﷻ خو وضع دی لپاره د واجب الوجود المستجمع لصفات الجلال والجمال فکيف يتصور له شريک!.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په دې آیت کې یې ایمان مشابه کړی د اسمان سره لعلوه الرتبي کما ان للسماء علو حسي والاشراک به بالسقوط من السماء، فالمشرک ساقط من اوج الایمان الی حضیض الکفر.

پوښتنه: دا تشبیه څو په مرتد کې صحیح ده چې له اسمانه راولوېدی یعنې ایمان یې پرېښود شرک و کړي ته ولوېدی. لکن مشرک اصلي څو ایمان له سره نه درلودی؟

ځواب: د هغه په باره کې فطرت اصلي دی کما قال علیه الصلوة والسلام کل مولود یولد علی فطرة الاسلام فابواه یهودانه الی اخیر الحدیث، پر منزله د فعلیت ده اسلام وکړځاوه چې مشرک هغه فطرت له لاسه ورکړی، نو ګویا له اسمان څخه راشوه سو. ومع قطع النظر عن الفطرة فالتمکن والقدرة علی الاسلام باعتبار النظر في عجائب مصنوعاته قائم مقام الفعلیة، شېرازي ؒ وایي:

برګ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردګار

فَتَخْطَفُهُ الطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ الرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ ﴿٣١﴾

نو ګډوډ کړي افکار دده هغه هوا وي چې په منځ کې د اسمان او مځکې وي، او یا وغورځوي دی باد په یو ځای کې چې لېرې له حق څخه وي.

پوه سه: چې په (فتخطفه الطیر) کې استعاره بالکنایة ده. یعنې مراد له طیر څخه اهویة مردعة دي.

پوه سه: چې مراد له ریح څخه استعارة شیطان دی چې پر سړي غالب سي هغه په سړي ورته کاروونه کوي.

دروښ وایي: چې په زړه پورې ترجمه د بیضاوي ده، هغه وایي چې کلمه د او په آیت کې لپاره د تنویع ده یعنې کافر دوې نوعې دی، یو هغه مشرک دی چې خلاصوالی له شرک څخه اصلاً نه لري لکه ابوجهل، ولید بن مغیره في مشرکي مکة مثلاً. د هغه مثال داسې دی لکه سړی چې له اسمانه رایله سي په لار کې یې مرغان د اسمان توته کړي او وه یې خوري فلم یبق منه شئ، او بل هغه مشرک دی چې د توبې لار ورته خلاصه وي. نو د هغه مثال داسې دی لکه یو سړی چې لېرې خای باد وغورځوي، نو دې سړي ته ممکنه ده چې دی له هغه لېرې خای څخه خپل کور ته راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې له تکلفاتو څخه خالي توجيه داده چې دا آيت استعاره تمثيليه ده على مابين في علم البيان. هغه دا چې د يو هيئت منتزعه من امور متعدده تشبيه وکړل سي د بل هيئت منتزعه من امور متعدده سره. ومثلوا لها بقول الرجل لآخر المتفكر في امر من الامور بافكار متنوعة رئيتک تقدم رجلاً وتؤخر اخرى. دلته هم تشبيه د حالت منتزعه له غلبه څخه د نفس او د شيطان ده پر مشرک باندې وايقاعه في الشرک وانواع المعاصي بالحالة المنزعة بحال من خر من السماء فتخطفه غوښې يې مرغانو څندي وخورلې. يا يې باد لېرې ځای وغورځوي چې هم د اهلاک سره مخامخ سي فتدبر غاية التدبر وخذ ما صفا ودع ماكدر والعلم عند الله بمراده بكتابه.

ذٰلِكَ ۚ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ ﴿۳۲﴾

ای الامر ذالک په حذف د مبتداء (دا جمله پوره ده وروسته جمله پر عطف ده يعني (ومن يعظم) څوک چې تعظيم وکړي د شعائرو د خدای ﷻ. ابن عباس ؓ وايي چې مراد اوښان او هدايا د بيت الله دي اصل د شعائر له اشعار و څخه دی يعني علامه دار دې کړي په يو شي چې يا چوتې يې په غاړه وروځړوي يا دې لږ بوک ورويني کړي تا چې خلک وپوهېږي چې دا هدايا د بيت الله دي. نو تعرض نه ورته کوي او د اوبو او وښو څخه به يې نه منع کوي. او له تعظيم څخه يې مراد دادی چې ښه به چاغې وي او په لوی قيمت به رانيول سوي وي. په صحيح حديث کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام سل (۱۰۰) هدايا له ځان سره راوستلي وې کمامر. او په يوه روايت کې راغلي دي چې په دغو اوښانو کې يو اوښ د ابو جهل هم ؤ چې په ورځ د بدر يې په غنيمت نيول سوی ؤ چې په پزه کې د هغه اوښ د سرو زرو نتۍ وه. او ابو داؤد روايت کړی دی چې عمر ؓ چې حج ته ځانلی يو داسې نجيبه اوښه يې له ځان سره راوستلې وه چې دده څخه خلکو په اته سوه (۸۰۰) دينار غوښتې وه.

بوه سه: چې مظهري ؒ ضمير د (انها) راجع و تعظيم ته کړ ځولی دی.

دروښ وايي: چې تانيث د ضمير يې په اعتبار د مضاف اليه دی ای تعظيم الشعائر فافهم. والعبارة بحذف المضافات ای من افعال (يو مضاف) ذوی (بل مضاف) تقوی القلوب. يعني چې زړونه يې له خدای ﷻ څخه ډېرېږي. او ذکر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قلوب په اعتبار ددې چې زړونه محل دی د تقوی او د فجور، وقد صح ان النبي ﷺ اشار الى الجانب الايسر من الصدر المبارک، وقال التقوى ههنا، دري واړه يې دا کلمات مکرر کړه.

دروښ وايي: چې روح المعاني په تفسير کې دا نها ډېري اوږدې خبرې کړې دي او نقض او ابرام يې راوړی دی، ولهذا فقير د هغو له راوړلو څخه ډډه وکړه لانه لافائدة في ايرادها لمتعلمي التفسير الايوبي الا لبعض العلماء المتبحرين.

لَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ إِلَىٰ أَجَلٍ مُّسَمًّى

* تاسي لره په دغو شعائرو کې نفع سته (يعني جاز الركوب عليها والحمل عليها عند الضرورة وشرب لبنهما) تر وخت معلومه پورې يعني چې حلالېږي.

مسئله: عطاء ابن رباح، امام مالک، امام شافعي، امام احمد او اسحاق رحمهم الله وايي چې روا ده سپرتيا پر هدي او بار پر باندې کول او څيښل د شيدو يې چې په درو سره کارو کې هدي ته ضرر نه رسېږي، او امام ابو حنيفه رحمه الله وايي چې نه ده روا سپرتيا يې ولا الحمل عليها ولا شرب لبنها الا لضرورة لکه چې هديه کونکی ضعيف وي او بار په شا نسي وړلای، يا يې ضرورت له تندي و شيدو څيښلو ته پيدا سي، د امام اعظم رح د مذهب دليل دادی چې دا هدايا وي تر وله د خدای ﷻ لپاره دي، نو ده ته نه ښايي چې يو شی د دغو هدايا وو دي د ځان لپاره استعمال کړي، ددې دليل څخه خو ظاهراً داسي فهمېږي چې مهدي ممنوع دی مطلقاً که يې ضرورت وي او که نه وي د نفع اخستلو د خپل ځان په هدايا وو کې، لکن چونکه په احاديث صحيحه وو کې جواز د رکوب راغلی دی، نو قول د امام اعظم رح چې منع ده، محمول دی په غير کې د ضرورت د حال، او احاديث شريفه محمول پر حال د ضرورت دي، والدليل على الانتفاع بالهدايا في حال الضرورة، ما روى الطحاوي رحمه الله چې اعلم الناس په مذهب د ابو حنيفه رحمه الله دی په دوه سنده سره عن حميد الطويل عن انس رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ راى رجلاً يسوق بدنة اى الهدى وقد جهد (دا سی په ډېر تکليف په هدي پسي روان ؤ يعني يا به مريض ؤ او يا به سپين ږيری ؤ) عليه الصلوة والسلام ورته وويل اركبها! هغه سړي ورته وويل يا رسول الله ﷺ انها بدنة يعني هدية، قال عليه الصلوة والسلام اركبها وان كانت (يعني وان كانت بدنة وهدية) وفي الحديث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المتفق علیه عن ابي هريرة رضي الله عنه ان رسول الله ﷺ رای رجلاً یسوق بدنة فقال علیه السلام ارکبها قال انها بدنة ای هدیة قال علیه السلام ارکبها قال انها بدنة، فقال رسول الله ﷺ ارکبها ویلک في الثانیة او الثالثة، نو زمونږ په نږدغه حدیث محمول دی پر حال د ضرورت. ولي که ضرورت نه وای. نو علیه الصلوة والسلام تهدید په ویلک سره نه ورته کاوه. ویدل علی ذالک ما روی مسلم عن ابی الزبیر رضي الله عنه قال سمعت جابر بن عبد الله رضي الله عنه چي چا پوښتنه وکړه د سپرتیا په باره کي پر بدنه یعني الهدي قال سمعت النبي ﷺ قال ارکبها بالمعروف اذا الجائت الیها (چي ته ورته مجبور سې کحال المرض او حال ضعف البدن) تر پایه پوري.

ثُمَّ مَحِلُّهَآ إِلَى ٱلْبَيْتِ ٱلْعَتِيقِ ﴿٣٣﴾

ژباړه: چي محل یا مصدر میمي دی په معنی د وجوب کما یقال حل ای وجب او یا ظرف زمان دی. ای وقت نحرها پر دواړه تقدیره مضاف محذوف دی وهو لفظ النحر. او کلمه د ثم یا لپاره د تراخي في الوقت ده فان وقت الانتفاع بالهدایا وهو الرکوب وغیره کمامر قبل وقت النحر. او یا لپاره د تراخي في الرتبة ده لان المراد بالمنافع المنافع الدنیویة کمامر ذکرها ونحرها من المنافع الاخرویة وهو الثواب في یوم الثواب.

ژباړه: چي (الی البیت العتیق) په موضع کي د حال دی ای منتهیة الی البیت آه. والمراد مایتجاور البیت العتیق. ولي چي نحر خو په خپله په بیت العتیق کي نه کیږي.

دروښ وایي: چي عرفي منحر مټی ده. لکن په صحیح حدیث کي راغلي دي چي وکل فجاج مکة منحر (هره کوڅه د مکې ځای د نحر دی، وکل فجاج مټی منحر.

مسئله: فضال رح وایي چي مراد دلته هغه هدایاوي دي چي مټی یا مکې ته رسیدلای سي، او هغه هدي تطوع چي هلاک ته نژدې سي تر بلوغ مټی، نو ځای د نحر یې هغه ځای دی چي هدي په هغه ځای کي د هلاکت سره مخامخ سوه.

مسئله: دا آیت دلیل دی پر جواز د نحر په ټولو ځایو کي د حدود د حرم محترم لان الحرم کله في حکم البیت في کونه عتیقًا غیر مملوک لاحد، او امام مالک رح وایي لاینحر الحاج الا بمټی ولا المعتمر الا بمروة لان النبي ﷺ نحر بمنی. والجواب ان النحر النبي ﷺ بمټی لاینفی جواز النحر في غیره اذا ثبت بالکتاب والسنة. اما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الكتاب فقوله تعالى الى البيت العتيق كمامر تفصيله. قال رسول الله ﷺ نحرت ههنا (اشار الى موضع معين من منى) وقال منى كلها منحر وكل فجاج مكة طريق ومنحر وكل عرفة ومزدلفة موقف. رواه ابو داؤد وابن ماجه من حديث جابر رضي الله عنه.

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا

يعني هر جماعت ته چې مؤمن وي. وقيد المؤمنة يفهم من المقام يعني تر تاسي مسلمانانو دمخه تير سوي دي.

پوه سه: چې منسَك بفتح السين كما هو قرائة الجمهور من القراء، په معنى د موضع النسك يعني صيغه د ظرف ده. يا مصدر ميمي دى اى موضع اراقة الدم او اراقة الدماء او قربانا يتقربون به الى الله تعالى.

پوه سه: چې دا جمله په نيز د روح المعاني عطف ده على قوله تعالى لكم فيها منافع وما بينهما معترضات.

فائده: مجاهد رح تفسير د منسك ههنا بالذبح واراقة الدم سره كړى دى على وجه التقرب الى الله تعالى فجعله مصدرًا.

پوه سه: چې نسك په اصل كي مطلق عبادت ته وايي وشاع في اعمال الحج خصوصًا في افعال الحج على عبادة خاصة من افعال الحج وهو الذبح واراقة على وجه التقرب الى الله تعالى كما فسره مجاهد رح به. خو قراء نحوي وايي چې منسك په كلام كي د عربو الموضع المعتاد في خير وبر كالمنى للذبح لكن علامه زمخشري په تفسير كشاف كي وايي چې تفسير منقول عن مجاهد رح كمامر عنقريب هو الاوفق. والمعنى عنده اى شرع لكل اهل دين ان يذبحوا له تعالى على وجه التقرب لا لبعض منهم. فتقديم الجار والمجرور يعني لكل امة على الفعل اى جعلنا منسكا لپاره د تخصيص دى فافهم.

دروښ وايي: چې دليل د شيوع د منسك په اعمالو كي د حج دادى چې هغه كتابونه چې علماؤ د دين كملا علي قاري وغيره رح من الاعلام په بيان كي د تولو اعمالو د حج او عمرې تصنيف كړي دي. هغه د مناسك په نامه يادېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِيَذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ

چې دوی ذکر کړي نوم د خدای ﷻ دون غیره په وخت کې د ذبح د نسیکې بان یقول عند الذبح بسم الله، الله اکبر اللهم منک والیک.

پوه سه: چې علت د جعلنا خدای ﷻ ذکر د اسم الله وګرځاوه تنبیهًا پر دې چې مقصود اصلي له جعل څخه د مناسکو تذکر د معبود ﷻ دی، له دې آیت څخه دا هم معلومه سوه چې ذکر د اسم الله خاصةً شرطًا للذبح کما هو معلوم بالنص واجماع الامة.

عَلٰى مَا رَزَقَهُمْ مِّنْۢ بَهِيْمَةِ الْاَنْعَامِ

پر هغه څه چې خدای ﷻ په رزق ورکړي دي، من بهیمة الانعام یعني نحرها وذبحها.

پوه سه: چې بهیمه یې په دې وبلل چې خبرې نسي کولای، او انعام ته یې مضاف کړی چې عبارت له ابل، بقر، معز او ضان دی، ولې داسې بهائم خو هم سته چې ذبح یې په قرابینو کې نه ده روا لکه آسان، غاطره او خره وغیرها.

مسئله: په قرابینو کې اهلي انعام شرط دی اجماعًا حتی ذبح د هوسی یا سوی یا ګوره خر نه ده روا، وان کانت ماکول اللحم.

فائده: په دې آیت یعني (ولکل جعلنا الآیة) باعثه کول دي د امت د علیه الصلوة والسلام چې دوی دي هم په دې باره کې اقتدا، په من سلف پسې وکړي.

فَاِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

ستاسې خدای ﷻ یو دی شریک نه لري

بوه سه: چې دا جمله تعلیل ده د (لیذکروا الله) یعني تاسې پر ذبائحو نوم د خدای وحده وایاست، ولې د هغو ستاسو معبود بالحق یو دی که متقدمین د مؤمنانو دي او که متاخرین که څه هم تاسې مؤمنان په ازمنه شتی وو کې یاست، مخاطب یې مؤمنان وګرځول که څه هم خدای پاک اله د ټولې عالم دی لان المشرک بجهله بوحدانیته تعالی بمنزل عن هذا الخطاب الکریم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَهٗۤ اَسْلِمُوْا ؕ وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِيْنَ ۙ﴿۳۴﴾

تقديم د جار او مجرور لپاره د حصر دی يعني خاص و خدای ته منقاد اوِ فرمان بردار ه اوسئ دون غيره يعني اخلصوا التقرب او الذكر لله ولاتشوبه بالاشراك. او زهری و كړه يا محمد (عليه السلام) و هغو كسانو ته چې ځانونه حقير بولي. والخبيت بالخاء المفتوحة والباء والمكسورة والياء الساكنة واخرها تاء مثناة على وزن فعيل في اللغة الشئ الحقير سوا كان في الواقع او بعد النفس حقيراً. نو ځكه يې ابن عباس او قتاده رضي الله عنهما تفسير په متواضعينو سره كړی دی. او اخفش وايي الخاشعين. او بعض اهل اللغة وايي چې خبت كښته ځكي ته وايي له دې كبله يې مجاهد رحمه الله ترجمه په مطمئنين الى الله ته كړی دی، او امام نخعي رحمه الله وايي چې خبت اخلاص ته وايي. نو ځكه تفسير يې په مخلصين سره كړی دی، او كلبي رحمه الله وايي هم الرقيقة قلوبهم او عمرو بن اوس وايي چې هم الذين لايظلمون او چې بل ظلم پر و كړي عفوه ورته كړي نه ځني اخلي.

دروښ وايي: چې دا ټوله تفسيرونه و يوه شي ته راجع دي هر مفسر چې د هغه په خيال بنه ورغلی دی په هغه يې تفسير كړی دی. هغه يو شی دا دی چې خدای عليه السلام په دې آيت كې ذكر كړی دی.

الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ قُلُوْبُهُمْ وَالصّٰبِرِيْنَ عَلٰى مَاۤ اَصَابَهُمْ

چې نوم د خدای عليه السلام ورته واخستل سي ډيريږي زړونه يې من هيبة الله ومعرفة عظمة الله عزوجل او صبر كونكي وي پر هغه شي چې دوی ته ورسيږي من المصائب كه په مال كې وي او كه په انفس كې وي او كه په عيال كې وي او كه في سبيل الله په جهاد كې وي.

دروښ وايي: چې چې دا ټوله اعمال قلبيه وه، اوس خدای عليه السلام اعمال بدنيه او ماليه ذكر كوي.

وَالْمُقِيْمِى الصَّلٰوةِ ۙ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ ﴿۳۵﴾

چې اداء كونكي د لمانځه وي په خپلو اوقاتو كې مع مراعات تعديل الاركان (ولهذا قالوا چې اقامة الصلوة والا لږ دي او لمونځ كونكي ډير دي) او د هغه مال چې موږ يې په رزق وركړو انفاق كوي فرضاً كان كالزكوٰة او واجباً كصلة ذی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرحم المحرم او نفلاً كاعطاء الفقير والسائل.

نكته: خداى پاک نسبت د رزق وخان ته وکړى تنبيهًا على انه لاينبغي البخل بما اعطاه الله من فضله بل يعطى بخلوص القلب ويقول عند الاعطاء منک واليک. يعني دا مال تا راکړى دى وتاته يې درکوم.

دروښ د تفسير ابوبي په باره کي خداى ﷻ ته وايي:

په حقيقت کي د تفسير توفيق خو ستا دى

ظاهرًا په انګشت نما عبيدالله دى

وَالْبُدْنَ

بوه بسه: چې (والبدن) منصوب على شريطة التفسير دى، بدن جمع د بدنة ده لکه خشب جمع د خشبة، امام جزري ؒ په نهاية کي وايي چې بدنة جمل (اوښ) او ناقه (اوښې) ته وايي او بقر او بقرة ته هم وايي وهي بالابل اشبه، سميت بدنة لعظمها وسمنها، في القاموس: البدنة په حرکاتو سره ابل او بقره دواړو ته وايي، وهذا مذهب امام الائمة ابو حنيفة عليه من الله تعالى الرضوان والرحمة. او عطاء او سدي ؒ هم وايي چې بدنه ابل، بقر ته وايي مېږي، بزې يا مېږ او زګرې ته نه وايي، او امام محمد بن ادريس الشافعي ؒ بدنه مخصوص په ابل پورې بولي، والدلائل والجوابات في كتب الفروع.

جَعَلْنٰهَا لَكُمْ مِّنْ شَعَآىِٕرِ اللّٰهِ لَكُمْ فِيْهَا خَيْرٌ ۖ

دروښ وايي: چې دا هغه فعل دى البدن يې منصوب دى، يعني البدن مفعول اول دى ددې فعل، او لكم مفعول ثاني دى اى كائنًا لكم وقوله من شعائر الله حال من المفعول الاول.

ترجمه: ګرځولى دى مو بدن له علاماتو څخه د دين د خداى ﷻ التي شرعها الله (وجه د تسميه په شعائر سره چې دوى په بوک کي لږ زخمي کوي او د بوک وړى يې په لږي تاچې خلګو ته دا معلومه سي چې دا هديه د مکې ده، نو کار نه په لږي. يا يې چوتې وړې په غاړه کړي کما مر من قبل فتذكر) تاسي لره په بدن کي خير دى د دنيا کما مر او د آخرت من الاجر والثواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا صَوَآفَّ

نو تاسي ذکر کوئ نوم د خدای ﷻ یعني په وخت کي د نحر که ابل وي اویاد ذبح که بقرؤ، په روایت کي د ابن ماجه او حاکم په مستدرک کي له جابر رضي الله عنه څخه روایت کوي (ان رسول الله ﷺ کان یقول اني وجهت وجهي للذي فطر السموات والارض علی ملة ابراهیم حنیفًا وما انا من المشرکین، ان صلاتي ونسکي ومحیاي ومماتي لله رب العالمین، لاشریک له وبذالک امرت وانا اول المسلمین، اللهم منک ولک بسم الله والله اکبر).

دروښ وایي: چي که د چا دا اوږده دعاء نه وه په یاد لکه عوام الناس هغوله ره بسم الله والله اکبر کافي دی (اذ لیس في الدین من حرج.

پوه سه: چي په قاموس کي وایي چي (صواف) په تشدید د فا فواعل دی په معنی د مفاعل یعني دوي پښې او یو راسته لاس به یې په صف ولاړ وي، او یو چپه لاس به یې د ورانه سره تړلی وي، نو په ولاړي به یې نحر وکړي کذالک روی البخاري عن ابن عمر رضي الله عنه وایضًا روی البخاري عن ابن عمر رضي الله عنه انه اتی علی رجل چي اوښه یې چوکه کړې وه او حلالوله یې، نو ابن عمر رضي الله عنه ورته وویل ابعثها قیامًا مقیدة (ای یدها الیسری) په صحیح حدیث کي چي روایت یې ابن المنذر او بیهقي د ابي ظبیان څخه کړی دی وویل سئلت ابن عباس رضي الله عنه عن تفسیر قوله تعالی (فاذکروا اسم الله علیها صواف) قال اذا اردت ان تنحر البدن فاقمها علی ثلاث قوائم معقولة یعني د مخ چپه پښه یې ورکت کړه د ورانه سره یې ور وتړه ثم قل بسم الله والله اکبر اللهم منک ولک ثم انحرها، او مجاهد رحمه الله وایي الصواف اذا عقلت رجله الیسری وقامت علی ثلاث قوائم.

دروښ وایي: چي په بعضې روایاتو کي که څه هم ید یمنی راغلی دی او په بعضو کي ید یسری راغلی دی ولافرق بینهما.

فَاِذَا وَجَبَتْ جُنُوْبُهَا فَكُلُوْا مِنْهَا وَاَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَّ

چي ولوېږي وروسته تر نحر بغل د بدن پر مځکه یعني مړه سي، تاسي خورک څندي کوئ (بعض علماء وایي چي دا امر اباحت دی یعني خورک یې مباح دی وعند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الفقير واكثر التفسير هو امر ندب واستحباب وقد مر تفصيله ودليله عنقريب) او غوښي د بدن ورکوئ قانع ته.

پوه سه: چې عکرمه، ابراهيم او قتاده رح وايي چې قانع هغه چاته وايي چې خپل کور ناست وي او قناعت يې کړی وي که چا خيرات ورکړی مګر سوال نه کوي، او معتر هغه ځوک دی چې د غوښو د سوال لپاره ورسي، او عوفي له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چې قانع هغه ته وايي چې نه ځان د خيرات ځای ته حاضروي او نه سوال کوي، يعني ولو بارسال الغير، او معتر هغه چاته وايي چې د خيرات و ځای ته ځان حاضر کړي په مصدق ځان وويني او صراحةً سوال نه کوي، او سعيد بن المسيب، حسن او قلبي رح وايي چې قانع هغه ته وايي چې سوال کوي، او معتر هغه ځوک دی چې ځان پيش کړي د صدقې و ځای ته مګر سوال نه کوي، نو پر دې تقدير قانع مشتق دی من قنع يقنع قنوعًا اذا سئل، او پر اول تفسير قانع مشتق د قناعت څخه دی يقال قنع قناعة اذا رضی بما قسم له، فتدبر.

كَذٰلِكَ سَخَّرْنٰهَا لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝

يعني لکه چې موږ مسخر کړي دي بدن کما مر من نحرها قيامًا، موږ مسخر کړي دي اوښان او منقاد مو کړ ځولي دي دوی يعني لپاره د رکوب او حمل سره د لوی والي دا بدانو ددوی او د قوت ددوی، حتی يو کوچنی هلک دوی چوکوي که څه هم په ځوزانو او ډبرو کې وي دوی منع نه ځندي کوي، دا تسخير ددې لوی حيواناتو صرف او صرف قدرت د خدای ﷻ دی ورنه تر اوښانو په جسم کوچني په قوت کم چې خدای ﷻ تاسي ته نه دي مسخر کړي ستاسي حکم او اطاعت نه قبلوي لکه کيدره، چغال وغيرهما (لعلكم تشكرون) لكى تشكروا الله انعامنا عليكم، بالتقرب اليه والاخلاص وعدم الاشراك ولو كان معنًى وضمنًا.

شان نزول: ابن ابی حاتم او ابن جرير وابن المنذر رح له ابن جريج رح څخه روايت کړی دی چې اهل جاهليت چې به اوښ خيرات کړی يعني هديه د کعبې مبارکې، نو غوښې او وينې د هغو مذبوحاتو به يې پر کعبه شريفه ورغورځولې او پر پاشلې به يې، نو اصحاب کرامو رض و عليه الصلوة والسلام ته وويل نحن احق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بذالک النفح فانزل هذه الآیة الآتیة. او ابن المنذر رح له ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چې مشرکینو چې به شی یعنې یو حیوان ذبح کاوه نو کعبې مبارکې ته به یې نژدې ذبح کاوه تا چه وینه د کعبې پریو دهوال ومنبلي فاراد المسلمون ان یفعلوا ذالک الفعل فانزل الله تعالی هذه الآیة.

لَنْ يَّنَالَ اللّٰهَ لُحُوْمُهَا وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ

نه رسېږي و ځای ته د قبول عند الله غوښې د بدن او نه وینې د هغو، لکن خدای پاک ته رسېږي بېره ستاسي له خدای ﷻ څخه، یعني الاعمال الصالحة المرتبة على التقوى والاخلاص بانیکون المراد بها وجه الله خالیًا عن الاشراک ظاهرًا وباطنًا کالریاء.

كَذٰلِكَ سَخَّرَهَا لَكُمْ لِتُكَبِّرُوا اللّٰهَ عَلٰى مَا هَدٰىكُمْ ۗ وَبَشِّرِ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

دا آیت تکرار د ماسبق دی تذکیرًا للنعمة وتاکیدًا له وتعلیلاً له بقوله (لتکبروا الله) یعني چې تاسي وپېژنی عظمت د قدرت د خدای ﷻ چې تاسي ته یې قدرت درکړی چې بېله خدایه دبل چا قدرت نه په رسېدی یعني په نتیجه کې تاسي خدای ﷻ واحد وګنې په کبریاء شکرًا علی ذالک النعمة العظمی. چې تاسي ته یې هدایت وکړی د شرائعو د دین او د مناسکو د حج او کیفیت د تقرب الی الله یې درو ښو (او بعض مفسرین وایي چې مراد له (لتکبروا الله) څخه تکبیر په وخت کې د نحر او ذبح دی کما مر بیانه) او ته زېرې وکړه یا محمد (ﷺ) ابن عباس رضی الله عنه وایي چې مراد له محسنین څخه مؤمنان دي، نو دا جمله عطف ده پر ماقبل یعني بشر المخبتین.

اِنَّ اللّٰهَ يُدٰفِعُ عَنِ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ۭ

په تحقیق خدای ﷻ دفع کوي له هغو کسانو څخه چې ایمان یې راوړی یعني د دوی د دښمنانو کافرانو.

پوه سه. چې دا جمله مستانفه ده لپاره د ارام د زړونو د مؤمنانو په دې سره چې خدای ﷻ ناصر دی د دوی پر اعداؤ.

دروښ وایي: چې دا وعده عامه ده، روح المعاني چې داسي ویلي دي بحیث

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لايقدرون على صدهم من الحج آه. په اعتبار د سياق د كلام چې د حج بعض احوال پكښې بيان سوي وه، او دا آيت چې يې مقدر كړې په ان د تحقيق لپاره د اعتنا، تام په مضمون د كلام يعني وعد النصر، او يدافع چې مضارع ده له بابه د مفاعلې او سره ددې چې فعل د دفع خو يوازې د خداى پاك له خوا دى يا لپاره د مبالغې، ولې علماء وايي چې مفاعلة مغالبه لره مستلزم دى نحو ضارب زيد عمروًا، والمغالبة يستلزم المبالغة، او يا لپاره د تكرار د دفع في الغزوات بين المؤمنين والكافرين، اهل صرف وايي چې كاهي باب د مفاعلې مجرد كيږي د وقوع الفعل من الجانبين فيبقى تكرره، وحاصل الآية ان الله يبالغ في دفع ضرر المشركين عن المؤمنين الذي من جملة الصد عن سبيل الله تعالى والمسجد الحرام مغالبة من يغالب كمامر، او يدفع ضررهم عنهم مرةً بعد اخرى، كريمه: كلما اوقدوا نارًا للحرب اطفائها الله.

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ ﴿٣٨﴾

پوه سه: چې دا آيت دليل دى د ما في ضمن وعد النصر يعني الوعيد للمشركين، په تحقيق خداى ﷻ محبت نه كوي كناية عن البغض اذ لا واسطة بين الحب والبغض في افعاله تعالى فاذا نفي الحب ثبت البغض فان الحب والبغض وان كانا مفهومين وجودين لكنهما على طرفا النقيضين في صفاته فافهم، د هر كثير الخيانة په امانات كې د خداى من الايمان وسائر الامور الشرعية او كثير الكفران وي د نعمتو د خداى ﷻ. قال ابن عباس ؓ خانوا الله كفار مكة فعجلوا له شريكاً وكفروا النعمة وهو رسول الله ﷺ، او زجاج ؒ وايي كه چا تقرب وكړى و بتانو ته بزبيحته وذكر عليها اسم غير الله فهو خوان كفور.

شان نزول: احمد، ترمذي، سدي او حاكم ؒ له ابن عباس ؓ څخه روايت كړى دى لما اخرج كفار مكة رسول الله ﷺ من مكة (يعني سبب د خروج د عليه الصلوة والسلام له مكې څخه) باحتيالهم في دار الندوة بقتله والا فهو عليه الصلوة والسلام خرج من مكة بامره تعالى قال ابوبكر ؓ اخرجوا نبيهم ليهلكن فانزل الله تعالى.

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ

(اذن) اى اذن الله ورخص في القتال اجازه كړې ده خداى ﷻ هغه كسانو ته چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وژل کيږي يعني للمؤمنين الذين يقاتلوهم المشركون، يعني اذن الله للمؤمنين في الجهاد وان يقاتلوا الكفار. محي السنة البغوي الشافعي المذهب وايي چي مفسرين رح وايي چي مشرکانو د مکې اصحاب د عليه الصلوة والسلام ډېر وهل او تکول بې او رقم رقم ازار بې ورکاوه همېشه به اصحابو رض د عليه الصلوة والسلام په مسلسله توګه سرګردان وه يو به راغلی رسول الله ﷺ ته به يې اثار د ضرب او کوب پر بدن خپل ښکاره کړل، بل به راغلی د سر ماتېدل به يې ښکاره کړه وهکذا روزانه دا سلسله جاري وه، عليه الصلوة والسلام به ورته وويل صبر وکړئ زه نه يم امر کړل سوی يعني د خدای ﷻ له خوا په قتال او جهاد سره فنزلت هذه الآية بالمدينة بعد الهجرة يعني اذن الى ان قال بانهم ظلموا (يعني اذن الله لهم في القتال بسبب انهم ظلموا) چې پر دوی تجاوز کړل سوی دی د مشرکينو له خوا.

پوه سه: چې عبد الرزاق، عبد بن حميد، ترمذي، نسائي، ابن ماجه وغيرهم من المحدثين له ابن عباس رض څخه داسې روايت کړی دی چې دا اول آيت دی چې نازل سوی دی په قتال (يعني په جهاد کې د کفارو سره) وروسته تر دې چې نهي د قتال تر اوويا (۷۰) څه بالا آيتونه راغلي دي انتهى.

وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ﴿٣٩﴾

او په تحقيق خدای ﷻ دوی پر نصر او مرسته باندې قادر دی.

پوه سه: چې دا وعد جميل دی د خدای جليل له خوا څخه پر نصر د مؤمنانو.

الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِم بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا أَن يَقُولُوا رَبُّنَا اللَّهُ

هغه کسان چې ايستل سوي وه له خپلو کورونو څخه چې په مکه مکرمه کې يې درلوده، بېله حقه د جلا وطنۍ ددوی، مګر دا چې دې مظلومينو به ويل چې رب زمونږ (معبود) الله دی (يعني وحده بلا شريک)

پوه سه: چې دا موصول مرفوع محلاً په حذف د مبتداء دی ای: هم الذين اخرجوا: يا منصوب محلاً دی په حذف د اعني يا په محل کې د جر دی بدل له موصول څخه د اذن للذين آه.

پوه سه: چې مفسرين دا استثناء متصل بولي او ان يقولوا آه په تاويل د مصدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي په محل کي د جريې بولي او استثنا۔ له حق څخه يې بولي، يعني دغه يو حق يې پر درلودی چې دوی ربنا الله وايه.

سوال: ان يقولوا ربنا الله خو حق د اخراج د مؤمنانو نه دی؟

ځواب: دا د مشرکانو پر زعم باطل بنا، ده چې توحيد د معبود چې څوک وايي دغه اخرج حق دی. فهذا نظير قولهم في ذم شخص فلان لاخير فيه الا انه يسئ لمن يحسن اليه. او غرض په دې استثنا، کي تنبيه ده پر ظهور د ظلم ده چې توحيد د خدای ﷻ حق دا اخراج وبالله، ونظيره في القرآن ما تنقم منا الا ان آمنا وفي كتب البلاغة قول النابغة:

لا عيب فيهم غير ان سيوفهم ..... بهن فلول من قراع الكتائب

مع ان قراع الكتائب اى عساكر المقابل في الحرب ليس بعيب بل هو شجاعة.

دروښ وايي: چې دا يو باب دی د بلاغت فافهم، او بعض مفسرين وايي چې دا استثنا، منقطع ده. فالمعنى لكنه اخرجوا بسبب قولهم ربنا الله وهذا قول حق فالاخراج اخراج بغير حق.

دروښ وايي: چې دا استثنا، منقطع له فهم څخه د متعلمينو د تفسير ايوبي ډېر اوفق او اسهل ده بخلاف الاول. فان فهمه شان العلماء المدرسين.

وَلَوْلَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّهُدِّمَتْ صَوَامِعُ وَبِيَعٌ وَّصَلَوٰتٌ وَّمَسٰجِدُ

که نه وای دفع کول د خدای ﷻ خلکو لره بعض ددوی چې کافران دي په بعض سره چې مؤمنان دي يعني بتسليط المؤمنين على الكافرين في الغزوات، له ثابت بن عرفجه څخه روايت دی چې ماته اووه ويشت (۲۷) نفرو له اصحابو څخه د علي رضي الله عنه وويل چې علي رضي الله عنه وويل چې دا آيت په اصحاب کي د محمد ﷺ نازل سوی دی، په دې آيت کي تاکيد پر قتال د کفره وو سره دی (لهدمت صوامع) جمع د صومعه ده يعني خلوت خانې د راهبانو د نصارى وو (وبيع) جمع د بيعة يعني عبادت ګاه د نصارى وو (وصلوات) کليساوي د يهودانو (ومساجد) او مسجدونه د مسلمانانو، من امة محمد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دمخه تا روایت د عرفجه ؓ وکړی چې اووه ویشت اصحابو انتهی، نو مسجد د مسلمانانو که په دفع سره د مؤمنانو د امت د علیه الصلوة والسلام محفوظ پاته دي، نو صوامع، بیع او صلوات د یهودانو څرنګه د مسلمانانو د امت د علیه الصلوة والسلام محفوظ پاته دي؟

خواب: ددې سوال خواب روح المعاني داسي وړکړی دی چې مسلمانان د اهل الذمة من النصاری والیهود د معبداتو هم حفاظت کوي لکه د خپلو مساجدو محافظه چې کوي، لکن په اخیره کې روح المعاني وایي ولیس بذالک یعني دا جواب صحیح نه دی انتهی.

دروېش وایي: چې وجه د عدم صحت یې داده چې ټوله متعبدات د نصاری او د یهودانو خو فقط د اهل ذمه نه دي. ولې چې بعض معبدات د نصاری وو او د یهودانو خو ددوی د حربیانو په بلاد وکي دي، نو د هغو حفاظت څرنګه د امت د علیه الصلوة والسلام په مرسته محفوظ پاته دي؟ فقیر وایي: والصحیح في ترجمة الآیة المذکورة ما اشار الیه روح المعاني وغیره من کتب التفاسیر المعتبرة (لولا دفع الله الناس لهدمت في کل شریعة نبي مکان عبادتهم فهدمت في زمن موسی ۴ الکنائس للیهود) لکن په قوت د مؤمنانو من قوم موسی ۴ دا کنائس محفوظ پاته سوې وفي زمن عیسی ۴ البیع والکنائس یعني په طاعت د مؤمنانو د عیسی ۴ بیع او کنائس محفوظ پاته سوې، او په زمانه کې د علیه الصلوة والسلام په مبرانه او غزواتو د امت د علیه الصلوة والسلام مساجد د مسلمانانو محفوظ پاته سوه او پاته دي او پاته به وي ان شاء الله تعالی حتی یاتي امر الله بخرابها وکان امر الله قدرًا مقدورًا.

دروېش وایي: چې دا تفصیل په توفیق سره د خدای ﷻ له خواصو څخه د تفسیر ایوبي دی وان کان ماخوذًا من متفرقات کتب التفاسیر المتعددة.

يُذْكَرُ فِيهَا اسْمُ اللَّهِ كَثِيرًا ۗ

چې ذکر کړل کهږي په دې ټولو متعبدات اربعه وو کې نوم د خدای ﷻ دهر.

پوه سه: چې کثیرًا صفت دی د مصدر محذوف ای ذکرًا کثیرًا.

وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ﴿٤٠﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(لام جواب د قسم محذوف دی) ای والله خدای ﷻ کومک کوي د هغه چا سره چې د خدای ﷻ کومک کوي (ای نصر دینه وشریعته النازل علی نبي من الانبیاء ۴ ویدخل في عموم الآیة نصرة المؤمنین الذین ینصرون دین الله النازل علی محمد ۴) په تحقیق خدای ﷻ قوي او قادر دی پر هر ما اراده او عزیز او غالب دی چې څوک مانع دده د ارادې نسي کېدای. هذا تاکید للوعد بالنصر.

اَلَّذِيْنَ اِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الْاَرْضِ اَقَامُوا الصَّلٰوةَ

(الذین) خبر د مبتداء محذوف دی یا صفت دی د الذین اخرجوا) هغه کسان که زه ودوی ته قدرت ورکړم په یوه مځکه کې. دوی به لمونځ برپای کوي یعني پر صحیح دول به یې کوي کما هو معنی الاقامة وقد مر ذالک. وهذه من العبادة البدنیة. وفي الحدیث الصلوة عماد الدین (یعني لمونځ د دین تنبه ده)

پوه سه: چې کلمه د ان لپاره د احتمال نه ده کما هو اصله بلکې په معنی د اذ ده الدال علی تحقیق مدخوله. والقرینة علیه الوعد بالنصر والدفع، نو دا وعده د تمکین ده.

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ وَاَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَلِلّٰهِ عَاقِبَةُ الْاُمُوْرِ ﴿۴۱﴾

او ورکوي زکاتونه د خپلو مالو. وهذه من العبادات المالیة وفي الحدیث السابق الزکوة قنطرة الاسلام. او امر به کوي په معروف سره من الفرائض والواجبات وغیر ذالک او نهي به کوي له منکر څخه من الزنی وشرب الخمر وغیرهما وهذه من العبادات القولیة (وقد ورد في الحدیث الصحیح من رئ منکرًا فلیغیره بیده فان لم یستطیع فبلسانه وان لم یستطع فبقلبه وذالک اضعف الایمان او کما قال علیه السلام) او د خدای ﷻ حکم او قضاء لره دي اخیر کار ته وله کارونه.

پوه سه: چې دا وصف پر خلفاء راشدینو (ابوبکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم) باندې صادق دی چې دوی اخرجوا من دیارهم وه او مکنة او اعلاء د کلمة الله ددوی په خلافت کې پر مځکه راغله، او معاویه رضي الله عنه خو د الذین اخرجوا څخه نه دی. ولې چې دده پلار ابو سفیان خو ده پرورسته ایمان راوړی دی، او بعض مفسرین وایي چې الذین ان مکناهم بدل دی له من ینصره څخه، نو معنی د آیت داده چې خدای ﷻ کومک کوي د هغه چا سره چې څوک دده د دین کومک وکړي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهذا المعنى عند الفقير انسب لان هذا المعنى يصدق على الخلفاء الراشدين وغيرهم من المهاجرين الاولين وعلى الانصار ﷺ. ولي چې خداى ﷻ دوى بمجموعهم مسلط كړه پر ټولو رئيسانو د عربو بلكې علاوه پر عربو د عجمو پر كسرى كانو من الفارس. او پر قيصر انو د روم او دوى ته خداى ﷻ په غنيمت كې وركړې مخكې او ديار ددوى او اموال ددوى بل سلطهم الله على اراضي اليهود كخيبر وادي القرى وغيرها.

وَإِنْ يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَثَمُودُ ﴿٤٢﴾

او كه تكذيب وكړي كفار د مكې ستا يا محمد ﷺ (جزاء محذوفه ده اى فلا تحزن او دليل د جزا، يې په څاى كې راوړى وهو قوله) فقد په تحقيق تكذيب كړى دى دمخه تر كفارو د مكې قوم د نوح، يعني د نوح ؑ تكذيب يې كړى دى او عاديانو د هود ؑ او ثموديانو د صالح ؑ.

وَقَوْمُ إِبْرَاهِيمَ وَقَوْمُ لُوطٍ ﴿٤٣﴾

او د ابراهيم ؑ قوم د ابراهيم ؑ تكذيب وكړى چې نمرود يان وه. او قوم د لوط د لوط ؑ تكذيب كړى دى او اصحابو د مدين د شعيب ؑ تكذيب كړى دى.

پوه سه: چې دا جمله معترضه ده لپاره د تسلي د عليه الصلوة والسلام يعني چې دا تكذيب د انبياء عليهم السلام بلاء عامه ده (والبلية اذا عمت هانت)

وَأَصْحَابُ مَدْيَنَ وَكُذِّبَ مُوسَىٰ

پوښتنه: د موسى ؑ په باره كې عنوان ته خداى ﷻ تغير وركړى يعني صيغه د مجهول يې راوړه يعني داسې نه ووېل سول وقوم موسى، حكمت يې څه دى؟

ځواب: د موسى عليه السلام قوم چې بنې اسرائيل وه دده تكذيب يې نه دى كړى، بلكې دده تكذيب قبطيانو قوم فرعون وكړى، او بل حكمت دادى چې معجزات د موسى ؑ چې ډېرې وې، ولي چې خداى ﷻ دده ته نهه معجزې چې اشهر يې عصا او يد بيضاء وه ورکړې وې. نو له دې څخه انكار ډېر اشنع او اقبح دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَمْلَيْتُ لِلْكَافِرِينَ ثُمَّ أَخَذْتُهُمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿٤٤﴾

نو ما مهلت ورکړی و کافرینو مذکورینو ته. یعني عذاب مي ځنډاوه (جمله د املیت عطف ده پر کذبت آه باندي) بیا وروسته تر امهال پر دوی نازل کړه قسم قسم عقوبات. څوک غرق سوه په دریاب کي، پر چا باد مسلط سو الی غیر ذالک کما مر في مواضعه (فکیف کان نکیر) کسره د یا دال ده پریا، محذوفه ای نکیري اوورش ؒ یې په اثبات د یا، وایي په وصل کي، یعني څرنګه ؤ انکار زما چي نعمت مي په عذاب وربدل کړی او ژوند مي په هلاک وربدل کړی او عمارات مي په خراب وربدل کړه.

پوه سه: چي دا استفهام یاد تعجب لپاره دی او یاد تهویل لپاره دی، او یاد تقریر لپاره دی ای هو واقع موقعه لاظلم فیه.

درویش وایي: چي په دې آیت کي علاوه تر تسلي د علیه الصلوة والسلام اشاره ودې ته ده چي یا محمد ستا د قوم عاقبة الامر به هم همدا غسي وي لکه د مذکوره اقوامو. وقد وفي الله ﷻ بهذه الاشارة الخفیة کما لایخفی.

پوښتنه: په قد کذبت کي تاء د تانیث راوړه او سره ددې چي فاعل یې قوم دی منوکر نکته یې څه ده؟

ځواب: ابو حیان ؒ وایي چي قوم په تاویل د قبیلې یاد امت دی چي قبیله یا امت دواړه مؤنث دي، لکن روح المعاني وایي چي ودې تاویل ته ضرورت نسته، ولي چي قوم اسم جمع دی تذکیر او تانیث دواړه یې په فعل مسند کي روا دي.

سوال: نو چي تذکیر او تانیث دواړه روا وه، نو مؤنث یې د څه حکمت لپاره راوړی؟

ځواب: د مکذبینو درجه یې په کښته کړه لان المؤنث ادون حالاً من المذکر فافهم.

فَكَأَيِّن مِّن قَرْيَةٍ أَهْلَكْنَاهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ

پوه سه: چي (کاین) په معنی د کم خبریه دی من قریة یې بیان دی او مرفوع محلاً دی مبتدا، د اهلکناها یې خبر دی، او یا کلمه د کاین منصوب محلاً ده په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهلكناها سره يعني منصوب على شريطة التفسير. په علم نحو كي وايي اصل د كلام داسي وُ اهلكنا كاين من قرية ثم حذف اهلكناها وفسره بما بعده، والنكتة في هذا الصنيع الاجمال اولاً ثم التفصيل ثانيًا ليكون اوقع في الذهن، جامي رح وايي:

چه خوش باشد كه بعد از انتظاری ..... باميد رسد اميد اوری

ومعنى اهلكنا: اهلكنا اهلها بحذف المضاف واقامة المضاف اليه مقامها (وهي) ايضًا بحذف المضاف اى اهلها.

پوه سه: چې ظلم وضع د شي ده بې ځايه. يعني عبادت چې اصل مستحق يې خداى جل جلاله وُ بې ځايه وكړ ځاوه يعني عبادت د بتانو كوي.

فَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَبِئْرٍ مُّعَطَّلَةٍ وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ ﴿٤٥﴾

(فهي) الضمير راجع الى القرية والمضاف محذوف اى حيطان القرية يعني د قريې دېوالونه (خاوية) اى ساقطة منهدمة. والمراد بالعروش السقف (يعني بام) يعني آبادي د قريې زړه سوه نو اول يې بام را ايله سو وروسته يې د ېوالونه پر بامو راغوځار سوه، نو على عروشها ظرف لغوه دى متعلق دى په خاوية پورې.

پوه سه: چې كه كاين منصوب على شريطة التفسير سي، نو دا جمله محل د اعراب نه لري (وبئر) عطف دى پر قرية اى كم من بئر كانت في تلك القرية اهلكنا اهل تلك الآبار فصارت كبئر معطلة يعني بوده نه پر اوبېرې لهلاک اهل تلك المواشي (وقصر مشيد) او ډېر د محكمو تعميرانو څخه چې په ګچو يې د ېوالونه پورته سوي وه يعني بناء يې په سبب د استحكام ولاړي وې لكن اهلكنا اهلها. نو كوټې او بنګلې روغې ولاړې وې مالكان يې نه وه د هلاک په څېړو كې تللي وه.

پوه سه: چې قتاده، ضحاک او مقاتل رحمهم الله وايي چې د مشيد معنى رفيع طويل من قولهم شاد البناء اذا رفعه، او سعيد بن جبير، عطاء او مجاهد رحمهم الله وايي د مشيد معنى ده په ګچو وهلي وه د ېوالونه يې او مشيد ګچوته وايي.

فائده: جمله د كاين من قرية بدل ده من قوله فكيف كان نكير ومن قصر عطف بالفاء، مظهري رح له محي السنة بغوي رح څخه نقلاً وايي چې البئر المعطلة والقصر المشيد په يمن كې دى چې قصر مشيد د يوه غره پر سر جوړ سوى دى او بئر معطلة د يوه غره په لاندې خواى كې دى. دې دواړو ځايو خپل قوم او اهل درلودل او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ فراوان نعمتونه ورکړي وه. نو دی د خدای ﷻ د نعمتو کفران وکړی نو دوی یې هلاک کړه او قصور او بشریې معطل پاته سوه یعنې خالي له اهل څخه. او بعض قدیم تاریخونه وایي چې دا قصور او بشر په یو ښار کې وه چې نوم یې حاصورا، ؤ چې نجات له عذاب څخه نازل سو پر قوم د صالح علیه السلام چې کافران وه پیدا کړی. نو حضرموت ته راغله چې حاصورا، یې نوم ؤ. نو صالح[۴] هورې وفات سو. نو پر هغې قریې یې نوم د حضرت موت کښېښو. له دې سببه چې صالح[۴] چې دلته حاضر سو مات. نو دا څلور زره کسه په دې قصوره کې او سېدل او د هغه ځاه اوبه یې څښلې. نو دوی په اتفاق آراء یو سړی آمر مقرر کړی. نو ډېره زمانه دلته وه چې نسل پر نسل ډېر سوه اخیر الامر یې په اغواء د شیطان بت پرستي شروع کړه. نو خدای ﷻ یو نبي ورته راواستاوه چې نوم یې حنظله بن صفوان ؤ. هغه نبي دوی ته تبلیغ د توحید شروع کړی او له بت پرستی څخه یې منع کوله دوی دا خپل نبي په بازار کې برسر عام په قتل ورساوه. نو خدای ﷻ دوی ټوله هلاک کړه او بشریې معطل پاته سوا او قصوریې ور خراب کړل. والله اعلم بالصواب.

أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ

آیا تګ نه کوي کفار د مکې په مخکه کې چې دغه دیار هلاک شده وویني او عبرت خندي واخلي.

قانون: په قرآن کریم کې هر ځای چې تر همزه د استفهام وروسته حرف عطف راسي که واو وي که فاء، که ثم. د هغه عطف پر ماقبل د همزه نه دی روا الفوات صدارة الاستفهام. نو معطوف علیه یې مقدر دی مناسب د مقام سره. نو دلته یې تقدیر داسي دی الم یخرجوا من بیوتهم فلم یسیروا في الارض.

پوښتنه: دا قانون خو تا څو ځایه نور په تفسیر ایوبي کې راوړی دی. نو تکرار یې څه فائده لري؟

ځواب: فائده یې شفقت دی پر متعلمینو د تفسیر چې تفصح ته د اوراقو مجبور نسي. والله یعلم السرائر.

فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا

وي دوی لره زړونه (یعقلون بها) دا جمله صفت ده د قلوب او مفعول ده،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعقلون محذوف دی يعني يعقلون بها حقية التوحيد وبطلان الشرک، سعدي شيرازي ؒ وايي:

پند گير از مصائب ديگران .... تا نگيرند ديگران ز تو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز .... چو ديگر مرغ بيند اندر بند

پوه سه: چي تکون منصوب دی په تقدير د ان عطف ده پر هغه مصدر چي تضمنًا د افلم يسيروا څخه وفهمېدی يعني الم يحصل منهم خروجهم من بيوتهم وسير في الارض وان تکون (او اذان) عطف دی پر قلوب يا غوږونه. چي په هغه غوږ سره اخبار د امم ماضيه وو اوري، او بيا د غوږ وله لاري عبارت ورته حاصل سي، او د شرک پر مټه جارو تېر کړي او د توحيد لمن ټينګه کړي.

فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ ﴿٤٦﴾

په تحقيق قصه داده چي سترګي خو نه دي رندې، بلکي رندې زړونه هغه زړونه چي په سينو کي دي.

پوه سه: چي ضمير د انها د قصه دی او وروسته جمله يعني لاتعمی آه تفسير د قصه دی.

پوه سه: چي په قرائت د عبدالله بن مسعود ؓ انه مذکر راغلی دی، نو هغه ته ضمير شان وايي او مابعد جمله تفسير د شان ده.

فائده: د قصه او د شان قصه يوه ده صرف په تانيث او تذکير کي يې فرق دی.

قاعده نحويه: که وروسته تر ضمير مؤنث نه وؤ، نو ضمير شان احسن دی نحو انه زيد قائم، او که وروسته مؤنث وؤ نو بيا ضمير قصه اولی دی نحو انها هند جائت. نو په دې آيت کي تانيث احسن دی لوقوع لاتعمی الابصار بعده فافهمؤ او مظهري ؒ دا احتمال هم راوړی دی چي انها ضمير دي ضمير مبهم وي او الابصار دي تفسير وي او ضمير د لاتعمی دي راجع و ابصار ته وي چي رتبةً مقدم دی.

فائده: ذکر د في الصدور لپاره د تاکيد او لپاره د نفي د مجاز في القلوب کي کما في قوله تعالی ولاطائر يطير بجناحيه، په دې آيت کي تنبيه ده پر دې چي عمي حقيقي عمي د زړه ده او مراد د عمي في قوله ولکن تعمی القلوب آه عمي متعارفه نه ده مراد چي په سترګو پوري خاص ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نکته: په ستر کو روند چې مسلمان وي ځای به يې جنت وي، او د زړه روند يعني الکافر که څه هم په ستر کو وينې ځای به يې دوزخ وي فلهذا قالوا العمي حقيقة عملي القلب، قال رسول الله ﷺ شر العمي عمي القلب، رواه البيهقي.

بوه سه: چې بيضاوي وايي چې دا آيت چې نازل سو ومن كان في هذه اعمى فهو في الآخرة اعمى: عبدالله بن ام مكتوم ﷺ چې په ستر کو روند و عليه الصلوة والسلام ته راغلی او داسې يې ورته وويل چې زه خو په دې دنيا په ستر کو روند يم نو په اخرت کې به هم په ستر کو روند يم؟ نو دا آيت نازل سو فانها لا تعمى الابصار ولكن تعمى القلوب التي في الصدور يعني رسول الله ﷺ ددغه آيت په نزول سره وابن ام مکتوم ﷺ ته دا بيان کړه چې ومن كان في هذه الدنيا اعمى فهو في الآخرة اعمى څخه عمي د قلب مراد ده چې عبارت له کفره څخه دی په هر ډول کفر چې وي.

وَيَسْتَعْجِلُونَكَ بِالْعَذَابِ

دوی طلب د ژر راتلو د عذاب کوي، بغوي وايي چې دا آيت په نضر بن الحارث کې نازل سوی دی چې ده به داسې ويل: ان كان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السماء: که وي دا قرآن يا دين د محمد (ﷺ) حق ستا له خوا نو پر موږ باران د ډبرو وکړې د اسمان له خوا، ولې چې موږ يې نه منو نو که حق وي نو موږ خو مستحق د ډبرو د باران يو، دده خبيث غرض په دې قول کې دا وو چې دا نو حق نه دی.

بوه سه: چې دا آيت دليل دی پر عمى القلوب د دوی ولې چې عاقل سړی استعجال د عذاب نه کوي.

وَلَنْ يُخْلِفَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ

او هرګز خلاف د وعدې نه کوي خداى ﷻ، ولې چې د خداى ﷻ د اخبارو کولو په ډول امر سره خلاف يې ممتنع دی للزوم الكذب، تعالى الله عن ذالك علوا كبيرا، نو د عذاب وعده چې خداى ﷻ د مشرکانو سره کړې ده خامخا رشتيا کېږي ولو بعد حين، ولې چې خداى ﷻ حليم او صبور دی لا يعجل بالعقوبة، نو دا تاخير د عذاب امهال دی اهمال نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بعض د عذاب موعود څخه پر مشرکانو د مکې په بدر کې راغلی چې اوويا رئيسان ددوی په شمول د ابو جهل قتل سوه.

پوښتنه: لکه چې په وعده کې يعني د نصر د خدای ﷻ تخلف ناروا دی، نو بايد په اخبار د وعيد هم تخلف ناروا سي او سره ددې چې پر اعمالو د مؤمنانو خدای ﷻ وعيد ويلی دی وهذا ينا في المغفرة برحمته العامة او بالشفاعة؟

ځواب: هيڅ منافات نسته ولې چې آيات د وعيد د مؤمنانو مخصوص دي بالآيات واجماع الامة بمن لايتدارکه المغفرة فافهم فهذا المقام دقيق.

وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ ﴿٤٧﴾

په تحقيق يوه ورځ په نېژد رب ستا لکه زر کاله د هغو کلو څخه چې تاسي يې شمېرئ.

پوه سه: چې ابن کثير، حمزه او کسائي رحمهم الله يعدون په يا تحتانيه وايي بقرينة قوله ويستعجلونک، او نور قاريان يې په تا، فوقانيه وايي لکن قرائة الجمهور اولی دی لان يستعجلونک خطاب للمستعجلين وما في هذه الآية خطاب للمستعجلين والمؤمنين جميعًا، وهذا خطاب للمتعجلين والمؤمنين جميعًا فلا يقاس احدهما على الآخر فافهم. قال ابن عباس رضي الله عنهما برواية عطاء رحمه الله ان معنى الآية ان يومًا عنده تعالى والف سنة في الامهال سواء لانه تعالى متى شاء اخذهم لايفوته شيئ بالتاخير فيستوي في قدرته وقوع مايستعجلون به من العذاب وتاخيره، او بعض مفسرين وايي چې معنا د آيت داده چې ورځ د عذاب له ايامو څخه چې کفار يې استعجال کوي په ثقل او وړدوالي کې او په شدت کې لکه زر کاله مماتعدون. نو ولې يې کفار استعجال غواړي.

مثل: پوهان خلګ وايي: ايام الهموم طوال وايام السرور قصار، او سره ددې چې ورځ خو په طول او قصر کې سره برابري دي او بعض مفسرين وايي چې ددې آيت معنی داده چې د خدای ﷻ صبر او امهال پای نه لري لکن بيا هم له وعدې څخه خلاف نه لري ومع هذا کله عذاب وځنډوي الى يوم هو عند ربک کالف سنة وهو يوم القيامة، مجاهد او عکرمه رحمهما الله دغه روايت او معنی پخلی کړی دی چې مراد يوه ورځ د آخرت ده چې هغه زر کاله ده مماتعدون. والدليل على ذالک ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روی عن ابی سعید الخدري ؓ قال قال رسول الله ﷺ بشروا یا معشر صعالیک المهاجرین بالنور التام یوم القیامة تدخلون الجنة قبل اغنیائهم (ای اغنیاء الناس) بنصف یوم، وان یومًا عند ربک کالف سنة رواه احمد والترمذي.

دروښ وایي: چي ددې قبلیت د دخول د مهاجرینو وجنت ته تر اغنیاء الناس له حدیث څخه د ابو هریره ؓ هم معلومیږي چي ابو هریره ؓ وویل چي رسول الله ﷺ ویل یدخل الفقراء الجنة قبل الاغنیاء، خمس مائة عام نصف یوم، رواه الترمذي.

دروښ وایي: چي که څه هم په اول حدیث کي تخصیص د فقراؤ د مهاجرینو کړه سوی ؤ لکن حدیث د ابو هریره ؓ عام دی فقراء د امت د علیه الصلوة والسلام ټول یکښي داخل دي الی یوم القیامة وهذا بشری حسن للفقراء والصابرین الی یوم القیامة فافهم.

وَكَأَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ

کاین په معنی د کم خبریه دی چي مفید د کثرت دی او من قریة په حذف د مضاف ای من اهل القریة مضاف حذف سو مضاف الیه یې په ځای کي ودرېدی في الاعراب.

پوښتنه: وروسته ضمائر یعني لها وهي اخذتها خو ټوله وقریه ته راجع دی وکذا الاحکام الآتیة؟

ځواب: هو! دا لپاره د مبالغې په تعمیم کي د اهل د قریه.

پوه سه: چي دا جمله معطوفه بالواو علی ویستعجلونک ولن یخلف بائدي دا شاهد دی د عدم تخلف في وعید الکریم او بیان ددې چي موعود د خدای ﷻ خو حتمًا واقع کېدونکی دی او تاخیر یې مبني پر عادت د خدای ﷻ دی کما یفهم من الآیة الآتیة.

أَمْلَيْتُ لَهَا وَهِيَ ظَالِمَةٌ ثُمَّ أَخَذْتُهَا ۖ وَإِلَيَّ الْمَصِيرُ ﴿٤٨﴾

ما مهلت ورکړی یعني عذاب مي ژر نه دی پر نازل کړی (لها) وهي قریة لکه تاسي ته چي مي مهلت درکړی یا کفار قریش (وهي ظالمة) لکه تاسي یا معشر قریش دا جمله حال ده له قریه څخه (ثم اخذتها) بیا دوی موږ نیولي یعني عذاب موعود مي پر مسلت کړی دی، په دې کي اشاره ودې ته ده چي ستاسي اخیر کار به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم داغسي وي يا اهل مكه (والي المصير) يعني زما و حكم او ارادې ته رجوع د
ټولو كافرو من التعذيب و الامهال و التنعيم.

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّمَآ اَنَا لَكُمْ نَذِيْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

وواية يا محمد (ﷺ) و كفارو ته د مكې اى خلګو نه يم زه مګر صرف او
صرف ښكاره ډار وونكى ستاسي له عذاب څخه د خداى ﷻ كه تاسي ايمان رانه وړئ،
وغرضه لست بقادر على اتيان العذاب. انما اتيان العذاب موكول الى ارادة
القادر المتعال في اى وقت شاء. فلم تستعجلوني باتيان العذاب كما يدل عليه
قوله تعالى ويستعجلونك بالعذاب (مبين) يعني زه تاسي ته برملا او علانيه
بيان كوم د مالا نذركم به.

پوښته: مخاطب په (قل) سره عليه الصلوة والسلام ؤ. نو عليه الصلوة والسلام
خو لكه نذير چې ؤ بشير خو هم ؤ. نو د څه حكمت لپاره يې نذير يوازې ذكر كړى.

ځواب: اصل كلام خو مسوق ؤ د هغه كسانو سره چې هغو استعجال د عذاب
كاوه هغه خو مشركان د مكې وه. نو هغه خو اهل د بشارت نه دي.

سوال: دمخه خو حال د مؤمنانو هم ذكر سوى دى بقوله تعالى ولينصرن الله
من ينصره، الذين ان مكناهم الى اخير الآية. نو مؤمنانو خو اهل د بشارت دي فلم
لم يذكر بشيرا؟

ځواب: د مؤمنانو حال يې له دې كبله نه كړى ذكر چې د مشركانو غيظ او
غصه يو څه په جوش كې راسي ورنه اصل كلام د مشركانو سره ؤ فلذالك ذكر
الانذار فقط، ونقل روح المعاني عن بعض المحققين ان الانذار يعم لمؤمن
ولكافر لانه ما من مؤمن الا وفيه ما لا ينبغي. نو د غه مؤمن هم پيرول كېږي له
ورځې څخه د قيامت چې دوى د وام پر د غه ما لا ينبغي نه كوي لانه لعله يحاسب
بذالك يوم القيامة وذالك توجيه حسن والله اعلم.

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

الفاء لتفصيل حال الفريقين من المؤمنين والكافرين. نو هغه كسان چې ايمان
يې راوړى وي بما جئت به من العقائد الحقة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا عقائد حقه مندرج دي په آمنت بالله الی اخیره کي، او اعمال صالحه کوي لکه چې ما امر کړي دي دوی په هغو سره من الفرائض والواجبات وغیر ذالک قولیة کانت او عملیة کانت او مالیة، نو هغه لره مغفرت دی د هغو کنهو چې د کفر په وخت کي یې کړي وي، قال رسول الله ﷺ ان الاسلام یهدم ماقبله. رواه مسلم عن عمرو بن العاص رضي الله عنه او ښه رزق یعني په جنت کي.

سوال: بعض مؤمنان اعمال صالحه ټوله کوي ومع ذالک یشرب الخمر او یزنی وغیر ذالک؟

ځواب: اعمال صالحه چې په کامله توګه څوک ادا، کوي هغه یې له کبائرو ګنهو څخه منع کوي، کریمه: ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر، واما الصغائر من المعاصي فیغفرها الله بما فعل من الصالحات کما جا، في الحدیث الصحیح ان الجمعة الی الجمعة یکفر ماینها من الصغائر لمن لم یغش الاکبائر او کما قال علیه السلام، وکذالک ورد في باب رمضان، والصلوة الجماعة والوضوء المسنون الی غیر ذالک من الحسنات مما وردت في الآحادیث الشریفات.

دروښ وايي: چې دا خو بیان ؤ د حال د مؤمنانو، اما حال الکفار فبینه الله بهذه الآیة.

وَالَّذِينَ سَعَوْا فِي آيَاتِنَا مُعَاجِزِينَ

او هغه کسان چې کوشش کوي په آیتو کي زمونږ یعني الآیات القرآنیة بالرد والابطال (معاجزین) حال دی من فاعل سعوا ای حال کونهم معاندین لآیات، او قتاده رح وایي چې دوی ګمان کوي چې موږ به خدای عزوجل عاجزه کړو بزعمهم الفاسد، یعني لایبعث بعد الموت یعني لایقدر الله علی ذالک ولاجنة ولانار، او یا معنی داده چې دوی د موږ څخه فوت سي فلانقدر علی تعذیبهم بالنار في الآخرة.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿٥١﴾

دغه کسان اصحاب دي د دوزخ یعني ملازمون النار یوم القیامة کما هو معنی الصاحب في اللغة.

قال البغوي رح قال ابن عباس رض ومحمد بن کعب القرظي وغیرهما من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المفسرين انه لما رئ رسول الله ﷺ تولى د قوم دده يعني اعراض، وشق عليه مباعدتهم عما جاء به من الله ﷻ من التوحيد و القرآن تمنى في نفسه ان ياتيه من الله ما يقارب بينه وبين قومه (په خپل زړه کي يې دا تمنا وکړه چې پر ما خداى ﷻ داسي شى نازل کړى واى چې ما او قوم سره نژدې سو)

دروېش وايي: چې بغوي رح خو تابعي نه دى چې دى وايي قال ابن عباس رض؟.

دروېش وايي: چې دا تمنى هيڅ معنى نه لري، ولي چې د عليه الصلوة والسلام دين توحيد وُ او د قوم دين شرک وُ، نو توحيد او شرک بينهما بعد المشرقين څرنګه سره نژدې کېداى سي فهذا افتراء على رسول الله ﷺ، وروسته بغوي رح وايي فجلس يومًا في مجلس من قريش فانزل الله سورة النجم فقرئها رسول الله ﷺ حتى بلغ افرئيت اللات والعزى ومناط الثالثة الاخرى، القى الشيطان على لسانه عليه الصلوة والسلام ماكان يحدث ويتمنى، دا تمنى چې عليه الصلوة والسلام په زړه کي درلوده او دا تمنى يې کوله يعني القرب الى القوم، تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى، د دغو لوى بتانو د شفاعت ددوى يعني په ورځ د قيامت اميد کړه کېږي.

دروېش وايي: چې معاذ الله چې عليه الصلوة والسلام دا د تعظيم د بتانو قرب و مشرکانو ته غوښتى وبعيد غاية البعد ان يقدر الشيطان على لسانه المباركة تلك العبارة التي يلوح عليها امارة الشرک ففيه توهين في الغاية لذاته الكريمة يعني ان يقدر الشيطان ان يلقى على لسانه الطاهرة تلك العبارة، او که داسي روا سي د خلکو د قرآن د نورو آيتو څخه اعتماد پورته کېږي يعني چې هغه به هم القاء الشيطان على لسانه وي، او سره ددې چې په صحيح حديث کي راغلي دي چې د عليه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه چې ستاسو سره هم شيطان ستة؟ مبارک عليه السلام ورته وويل نعم لكنه اسلم (على صيغة المعلوم يعني زما شيطان اسلام راوړى دى يعني خرق العادة، او أسلمَ على صيغة المجهول يعني زه دده له وسوسو څخه سالم يم) نو پر دواړه تقديره څرنګه دلته شيطان قدرت پيدا کړى چې دده پر مبارکه ژبه يې دا عبارت وروا چاوه؟ تلك الغرانيق العلى آه، ولي چې دا الفاظ مبني په شرک سره دي، فالعجب من البغوي حيث ينسب الى سيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المفسرين عبد الله بن عباس ؓ تلك الرواية وينسبها الى المفسرين ايضًا. ثم قال البغوي چي قريشو چي دا مدح د بتانو ددوی له عليه الصلوة والسلام څخه واوريدله د هر خوشاله سوه چي داسي يې وويل قد صالحنا محمد. بغوي وايي چي عليه الصلوة والسلام قرائت د سورت دوام ورکړی فقراء السورة كلها په اخير کي چي آيت : سجدې راغلی عليه الصلوة والسلام سجده تلاوت وکړه، نو مسلمانان چي دلته موجود وه هغو په متابعت د عليه الصلوة والسلام سجده وکړه. او سجده وکړه ټولو مشرکينو چي په مسجد حرام کي موجود وه فلم يبق في المسجد مؤمن ولا كافر مكر سجده يې وکړه، نو وليد بن المغيرة او سعيد بن العاص سجده ونه کړه. ولي چي هغه دوه شيخان کبيران وه د سجدې طاقت يې نه درلودی لکن بيا يې هم يو مټ خاوره د بطحاء د شپلې واخستل پر تندي يې کښېنول، بغوي ؒ وايي چي قريش سره متفرق سوه او دوی د هر خوشاله وه له ذکر څخه د خدايانو ددوی په بنه نامه ويقولون قد ذكر محمد آلهتنا باحسن الذكر او دا يې وويل چي موږ پوه سوو چي الله تعالى حي ويميت ويرزق ولكن آلهتنا هذه تشفع لنا عنده تعالى فاذا جعل لها محمد نصيبًا فنحن معه، نو موږ ددې ملګري يو، بغوي ؒ وايي چي ما بنام جبرئيل ؑ و عليه الصلوة والسلام ته راغلی فقال يا محمد ﷺ ماذا صنعت؟ تا څه وکړه؟ لقد تلوت على الناس ما لم اتك به عن الله ﷻ يعني تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى.

دروښ وايي: چي جبرئيل ؑ په نزول کي د ټولو سورتو موجود ؤ، نو دا ولي شيطان پر ښو چي د عليه الصلوة والسلام پر مبارکه ژبه دغه عبارت وروا چوي؟ دا القاء څو په منځ کي د سورت د جبرئيل ؑ خو تر اخيره د نزول د سورت موجود ؤ، نو شيطان څرنګه وکړای سوای چي سره د موجوديته د ملکي مقربي د عليه الصلوة والسلام پر ژبه غير موحى اليه عبارت وروا چوي؟ بغوي ؒ وايي چي ما بنام جبرئيل ؑ راغلی دا خبره يې و عليه الصلوة والسلام ته وکړه، نو جبرئيل ؑ په وخت کي د دغې خبرې کولو هم موجود ؤ لبقاء ايحاء الوحي للسورة، نو هغه وخت يې د دغې عليه الصلوة والسلام ولي نه خبراوه؟ بغوي ؒ وايي فحزن رسول الله ﷺ حزنًا شديدًا وخاف من الله ﷻ خوفًا كثيرًا فانزل الله تعالى هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا ډول شان نزول د سورت نجم په نېز د بغوي رح چې مظهري رح هم په دې پرېشد او مدعا سره راوړې دې.

پوه سه: چې مظهري رح دمخه وويل چې مانبام سو جبرئيل ع وعليه الصلوة والسلام ته آه، ددې معنى داده چې ددې القاء الشيطان په هغه مانبام بطلان معلوم سو، وروسته مظهري ليکلي دي چې هغه کسان د اصحاب د عليه الصلوة والسلام چې حبشې ته هجرت کړی ؤ خبر سوه چې قريشو ټولو سجده وکړه او داسې خبر هم ورغلی چې قريش او اهل مکه ټوله مسلمانان سوله رجع اکثرهم الى قبائلهم وعشائرهم بمكة، چې دوی مکې ته رانژدې سوه دوی ته دا معلومه سوه چې خبره د اسلام د اهل مکه سراسر درواغ وه الى اخيره.

دروښ وايي: چې د مکې او د حبشې تر منځ ډېر لوی مسافت ؤ، نو دوی څرنګه په هغه شپه خبر سوه په اسلام د اهل مکه، په هغه وخت کې خو نه تليفون ؤ، نه موبائيل ؤ نه بل کوم تخنيک چې چا د درواغو خبره و حبشې والو مهاجرينو ته رسولې وای او دوی سم دلاسه راستانه سوي وای؟.

دروښ وايي: چې وروسته به د مظهري رح نوري خبرې هم رانقل کړل سي، اوس واورئ عبارت د لوی محدث مصنف د شفاء قاضي عياض رح، لم يخرج حديث القاء الشيطان احد من العلماء واهل الصحة ولا رواه ثقة سليم متصل وانما اولع به وبمثله المفسرون والمؤرخين المؤلفون بكل غريب المتلفقون من الصحف كل صحيح والتفسير وتعلق بذالک الملحدون مع ضعف نقلته، واضطراب رواياته وانقطع اسانيده واختلاف كلماته، ثويبو قائل وايي چې دا القاء الشيطان په لمانځه کې د عليه الصلوة والسلام وه، او بعض وايي چې په مجلس کې د قوم وه کما مر يعني في وقت نزول سورة النجم، بل بيا وايي چې د عليه الصلوة والسلام په زړه کې دغه الفاظ وروګرځېدله يعني تلك الغرانيق آه، او بعض وايي چې القاء د شيطان وه پر ژبه د عليه الصلوة والسلام كما ذهب اليه البغوي. او بل بيا وايي چې عليه الصلوة والسلام خو قرائت د سورة النجم پر صحيح وجه وکړی يعني تلك الغرانيق العلى الخ نه وه پکښې. الى غير ذالک من اختلاف الرواة، قاضي عياض رح وايي وممن حكيت هذه الحكاية من المفسرين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والتابعين لم يسند ها احد منهم ولا رفعها الى صاحب. قال الخفاجي ؒ في نسيم الرياض ص ۸۶ ج ۲ اى الى صحابي من اصحاب الرسول الله ﷺ.

درويش وايي: چې له دې بيان څخه معلومه سو حال د ماقال البغوي ؒ قال ابن عباس ؓ فتامل.

قال القاضي عياض ؒ واكثر الطرق عنهم ضعيفة واهية والمرفوع فيه في حديث سعيد بن ابي بشر عن ابن عباس ؓ قال فما احسب الشك في الحديث ان النبي ﷺ كان بمكة وقال البزار ؒ هذا الحديث لانعلمه يروى عن النبي ﷺ باسناد متصل الا هذا ولم يسنده عن سعيد الا امية بن خالد وغيره مرسلة عن سعيد بن جبير وانما يعرف متصلاً عن الكلبي عن ابي صالح عن ابن عباس ؓ وقد بين ذالک ابوبكر انه لايعرف من طريق يجوز ذكره الا هذا وفيه من الضعف مافيه واحاديث الكلبي مما لايجوز الرواية ولا ذكره لقوة ضعفه وكذبه.

درويش وايي: چې دا وه ترجمه د آيت د بغوي. مظهري او نورو بعضې مفسرينو پر عقيده.

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ اِلَّآ اِذَا تَمَنّٰٓى

موږ نه دى استولى تر تا دمخه يو رسول يا نبي. (الا اذا تمنى) قال غير واحد التمنى القرائة وكذا الامنية كما في قول حسان ؓ في واقعة شهادة عثمان ؓ:.

تمنى كتاب الله اول ليلة ..... تمنى داؤد الزبور على رسل

درويش وايي: چې د نبي او د رسول فرق به ن شا، الله موږ وروسته بيان كړو لان في تفسيرهما اختلاف كثير.

اَلْقَى الشَّيْطٰنُ فِيْٓ اُمْنِيَّتِهٖ

اى في قرائته يعني ما يرضى به قومه من قوله تلك الغرانيق العلى آه.

فَيَنْسَخُ اللّٰهُ مَا يُلْقِى الشَّيْطٰنُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللّٰهُ اٰيٰتِهٖ

نو خداى ﷻ باطل كړى هغه شى چې شيطان يې القا، كړې وي په قرائت د عليه الصلوة والسلام، وروسته خداى ﷻ محكم كړى آيات خپل يعني على نهج ماانزل خاليًا عما غلط به الشيطان في قرائته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دقیق سوال: څرنګه روا دی الغلط په قرائت کي د قرآن پر نبي ﷺ، او سره ددې چې نبي "معصوم په اصل کي د دین دی. قال الله تعالی لایاتیه الباطل (الضمیر راجع الی علیه الصلوة والسلام او القرآن) والباطل من اسماء الشیطان. ولهذا قال العلامة البیضاوي ؒ ما ذکر في شان نزول القرآن یعني الآیة المذکورة والقاء الشیطان في قرائته مردود عند المحققین؟

خواب: ددې سوال په خواب کي اختلاف دی د علماؤ. بعض علماء وایي ان رسول الله ﷺ لم یقرء تلک الغرانیق العلی الخ. ولا سمع اصحابه لکن د قرائت په منځ کي علیه الصلوة والسلام لږ وقفه وکړه په دغه وخت کي شیطان په اسماع د مشرکانو دغه الفاظ وروا چول. نو د مشرکینو دا خیال سو چې دا الفاظ علیه الصلوة والسلام وویل.

درویش وایي: چې دا خواب د پر موذون او له غشه خلاص خواب دی. او قتاده وایي چې علیه الصلوة والسلام اغفلی اغفاء، فجری علی لسانه بالقاء الشیطان علی سبیل السهو والنسیان پدې رنګه خدای ﷻ تنبیه ورکړه.

درویش وایي: چې هذا الجواب غیر مناسب لمرتبة الجلیلة ای النبي علیه السلام.

سوال: په دواړو صورتو کي یعني که مذکوره الفاظ علیه الصلوة والسلام ویلي وي او د خلګ ګومان دا سوی وي چې علیه الصلوة والسلام وویل او که پر ژبه د علیه الصلوة والسلام جاري سوي په حال کي د اغفاء د قرآن کریم څخه وثوق او اعتماد د خلګو پورته کیږي؟

خواب: خدای ﷻ تکفل وکړی له وثوق څخه بقوله فینسخ الله ما یلقی الشیطان ای یبطله ویظهر علی الناس انه من القاء الشیطان ثم الله یحکم آیته المنزلة ای یحفظها من لحوق الزیادة من الشیطان.

وَاللّٰهُ عَلِیْمٌ حَكِیْمٌ ۝

او خدای ﷻ پر هر شي علم لري او په هر کار کي حکمت لري لان الجهل بشئ والعبث محالان علی الله. وفي البحر ان هذه القصة سئل عنها محمدًا ابن اسحاق جامع السیرة النبویة، نو محمد بن اسحاق ؒ وویل هذه القصة من وضع الزنادقة وصنف محمد بن اسحاق ؒ في ذالک کتابًا، وقال الامام ابو المنصور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الماتريدي ؒ في كتاب خصص الاتقياء الصواب ان قوله تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى من جملة ايحاء الشيطان الى اوليائه من الزنادقة حتى يلقوبها بين الضعفاء وارقاء الدين ليرتابوا في صحة الدين، وحضرة الرسالة بريئة من مثل هذه الرواية وذكر غير واحد من علماء الدين انه يلزم على القول بذالک النبي ؐ بسبب القاء الشيطان، امور منها تسلط الشيطان على النبي ﷺ وقد قال الله تعالى للشيطان ان عبادي ليس لک عليهم سلطان، وقال الله تعالى انه ليس له (اى للشيطان) سلطان على الذين آمنوا الى غير ذالک.

دروښ وايي: چې د عموم صالحينو د امت محمديه دا حال دی چې شيطان تسلط نه پرلري فكيف يكون له تسلط على سيد الصالحين وسيد المرسلين. ومنها النبي ﷺ في القرآن ماليس منه وذالک مستحيل على رسوله ﷺ لمكان العصمة، ومنها اعتقاده النبي ﷺ ما ليس بقرآن قرانا مع كونه بعيدا الالتيام متناقضا معترج المدح بالذم وهو خطاء شنيع لاينبغي ان يتساهل في نسبته الى رسول الله ﷺ ومنها اما انيكون النبي ﷺ حين نطقه بتلک الكلمات معتقدا اما اعتقده المشركون في مدح آلهتهم وهو كفر محال في حقه عليه السلام واما انيكون معتقدا معنى آخر مخالفا لما اعتقدوه ومباينا لظاهر العبارة او هغه معنى يې و خلگو ته نه كړه بيان مع فرح المشركين وادعائهم انه مدح لآلهتهم فيكون هو ﷺ مقرا لهم على الباطل وحاشاه الله وهو يستلزم كونه ﷺ على غير بصيرة فيما يلقى اليه من الوحي الى غير ذالک وقد اجتمعت الامة على ما قال القاضي عياض ؒ على عصمة النبي ﷺ فيما طريقه الابلاغ من الاقوال والاخبار بخلاف ماهو الواقع لاقصدا ولا سهوا.

دروښ وايي: چې د ما ذكرنا من الاستحالات الواردة على صحة القصة ذهب الى صحة القصة (۱) الحافظ ابن حجر العسقلاني الشافعي ؒ في شرح البخاري (۲) شيخ جلال الدين السيوطي ؒ من الشافعية (۳) البغوي الشافعي ؒ (۴) والمظهري ايضا مصر على صحة القصة متابعة للبغوي.

ع..... وللناس فيما يعشقون مذاهب.

دروښ وايي: چې و ممن ذهب الى عدم صحة القصة (۱) الشيخ الامام ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منصور الماتريدي ؒ امام الحنيفية في العقائد (۲) امام محمد بن اسحاق ؒ جامع الشريعة النبوية (۳) صاحب تفسير بحر الحلوم الامام السمرقندي ؒ (۴) السيد الآلوسي الحنفي ؒ صاحب روح المعاني فانه وان بين الاختلافات كما ينبغي لكن مال في الآخير الى عدم صحة القصة (۵) المحقق ناصر الدين البيضاوي الشافعي ؒ (۶) المحدث الكبير القاضي عياض ؒ في الشفاء وقد نقل قاضي عياض ؒ اجماع الامة على ذالک كمامر عنقريب (۷) والفقير الايوبي جامع هذه الاوراق (۸) صاحب التنقيح في الاصول (۹) والى عدم صحة القصة مال الشيخ ابو الحسن الاشعري ؒ وتفصيله في روح المعاني.

دروښ وايي: چي سيد آلوسي ؒ په روح المعاني کي يو داسي تفسير ددې آيت کړی دی چي د هغه ماقبل چون وچرا خلاص دی، حيث قال وفي هذه الآية تسلية للنبي ﷺ بان السعي في ابطال الآيات امر معهود وانه لسعي مردود، والمعنى على هذا وما ارسلنا من قبلک رسولاً ولانبيًا الا وحاله انه اذا قراء شيئًا من الايات القى الشيطان الشبه والتخيلات فيما يقرؤه (اى الرسل والانبياء) على اوليائه (پر خپلو دوستانو يعني د شيطان دوستان چي کافران او ملحدان دي) ليجادلوه بالباطل ويردوا ماجاؤا به (چي ناحقي بحث وکړي اولياء د شيطان د ماجاء من الله سره په باطل خبرو او رد کړي اولياء الشيطان هغه آيات چي رسل او انبياء راوړي دي) كما قال الله تعالى وانهم ليوحون الى اوليائهم ليجادلوكم، وقال الله تعالى: وكذالک جعلنا لكل نبي عدوًا شياطين الانس والجن؛ يوحي بعضهم الى بعض زخرف القول غرورًا. ومثل له بقولهم، اى اولياء الشياطين من المشركين عند سماع قوله تعالى حرم عليكم الميتة وقرئه عليه الصلوة والسلام على الناس. فاوحى الشياطين الى اوليائهم من المشركين. انه يحل ذبيحة نفسه ويحرم ذبيحة الله يعني الميتة يعني په داسي شيطاني خبره دوی د خداى ﷻ دين له منځه وړي، يا مثلاً چي دا آيت نازل سو: انكم وما تعبدون من دون الله حصب جنهم، نو شيطان دوی ته په زړو کي دا بنوونه وکړه چي عيسى ؑ خو هم عبد من دون الله او ملائكة ؑ خو هم عبدوا من دون الله دي.

دروښ وايي: چي پر دې تقدير ترجمه د آيتو داسي ده (فينسخ الله ما يلقى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الشیطان) خدای ﷻ دغه شبهې باطلوي او له منځه یې وړي یا په توفیق د نبي ﷺ لیږدها او په نازولو د ما یردها او ددې آیت ثم یحکم الله آیاته معنی داده چې د آئینده لپاره به خدای ﷻ داسي آیتونه نازلوي چې په هیڅ وجه به رد او شبهو د شیطانانو وخپلو اولیاؤ ته قابل قبول نه وي.

پوه سه: چې ثم په دې آیت کې لپاره د تراخي رتبي ده، ولي چې اولاً را استول اعلی رتبهٔ دی تر نسخ کولو. او صیغه د مضارع دواړه ځایه لپاره د استمرار تجددي دی.

فائده: په یحکم الله کې لفظ دال پر ذات جلیل یعني الله او سره ددې چې ځای خو د اضمار ؤ لذکره في الآیة السابقة لزیادة التقریر والاعلام بان الالوهیة من موجبات احکام آیاته تعالی الباهرة او د و الله علیم حکیم معنی پر دې تقدیر داده چې خدای ﷻ په هر شي خبر دی او په هر شي کې حکمت لري چې یو له هغو څخه په دې ځای کې تمکین د شیطان دی چې القاء د شبهو په زړو کې د اولیاء ددوی وکړي او دوی مجادله وکړي په هغو شبهو سره د علیه الصلوة والسلام سره او د مؤمنانو سره. او خدای ﷻ بیا و خپل رسول ته لار د رد د هغو شبهو وروښیي.

لِيَجْعَلَ مَا يُلْقِي الشَّيْطٰنُ فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْقَاسِيَةِ قُلُوْبُهُمْ ؕ

یعني چې خدای ﷻ وګرځوي هغه څه چې شیطان یې القاء وکړه یعني خدای ﷻ تمکین ورکړي شیطان ته چې دا مذکوره القاء یې وکړه (یعني وتلک الغرانیق العلی الی اخیر الآیة (فتنةً) مفعول ثاني دی د یجعل چې فاعل یې ضمیر راجع ؤ و لفظ الله ته او ما یلقی یې مفعول اول ؤ، د فتنةً معنی امتحان او بلا ده) د هغو کسانو لپاره چې په زړونو کې یې شک او نفاق وي (والقاسیة قلوبهم) عطف دی پر موصول چې زړونه یې سخت دي ای المشرکین.

وَاِنَّ الظّٰلِمِيْنَ لَفِيْ شِقَاقٍۭ بَعِيْدٍ ۝

په تحقیق ظالمان چې اهل نفاق او شرک دي په خلاف کې د حق سره او یا د رسول او مؤمنانو سره (بعید) چې ډیر سخت او لېرې دي، بغوي ؒ وایي چې دا آیت چې نازل سو قریشو وویل چې محمد (ﷺ) پښېمانه سو پر هغه خبره یعني چې هغه خو القاء د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شیطان وه یعني چې زمونږ د بتانو په منزله یې بیان کړه په نهږد خدای ﷻ، ددوی هغه خبره مراد وه وتلک الغرانیق العلی الخ. نو اوس یې تغیر ورکړی او هغه خبره چې منیه د شیطان وه د هر مشرک په خوله کې وه، نو نورهم د قریشو عداوت د علیه الصلوة والسلام سره د هر سو او پر مسلمانانو د مکې یې د هرډول او ازار ډول تر پخوا زیات کړه.

وَلِيَعْلَمَ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّكَ فَيُؤْمِنُوا بِهِ

(ولیعلم) عطف دی پر (لیجعل) واللام ههنا متعلق بمقدر محذوف یعني فعلنا تمکین الشیطان علی الالقاء ثم نسخ د ما یلقی الشیطان د دوو حکمتو لپاره اول لنجعل ما یلقی الشیطان الخ. دویم ولیعلم آه.

ترجمه: ولیعلم: یعني هغه کسان چې علم ورکړل سوی دی یعني بالله واحکامه (اند) یعني هغه چې خدای ﷻ محکم کړه له آیاتو څخه د قران او القاء الشیطان یې څندي نسخ او خارج کړی (الحق من ربک) یعني نازل له طرفه څخه د خدای ﷻ دي، نو دوی به ایمان راوړي پر قرآن ویعتقدوا انه من الله خصوصاً في هذا المقام او یا ضمیر راجع دی و خدای ﷻ ته یعني ایمان به راوړي پر خدای ﷻ او د هغه پر حکمت فیما یفعل.

فَتُخْبِتَ لَهُ قُلُوبُهُمْ ۗ وَإِنَّ اللَّهَ لَهَادِ الَّذِينَ آمَنُوا إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ

خشوع او عجز به مختاره کړي خدای ﷻ په زړونو ددوی بالانقیاد والاطمئنان بما فعل الله في هذا المقام، او په تحقیق خدای ﷻ هدایت کونکی دی هغه کسانو لره چې ایمان راوړي پر قرآن او د خدای ﷻ پر حکمو او مصالحو، یعني چې یو مشکل ورپیښ سي وسمي لازي ته راسي ای اعتماد صحیح و طریق سوی وهو الاسلام وحل المشکل الذي عرض لهم.

وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُ

او همیشه هغه کسان چې کفر یې مختار کړی دی په شک کې دي چې ناشي له قرآن څخه دي یعني ددوی په اذهانو فاسده ووکي، او یا ضمیر راجع دی و علیه الصلوة والسلام ته یعني دده په رسالت کې. او مما القی الشیطان في امنیته، یعني دا ګمان کوي چې دا ملقی صادق رشتیا وه وتلک الغرانیق العلی آه لکن محمد ﷺ بیرته رجوع څندي وکړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰى تَاْتِيَهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً اَوْ يَاْتِيَهُمْ عَذَابُ يَوْمٍ عَقِيْمٍ ﴿۵۵﴾

تر هغه وخته پورې به دا مريه په دوی کې باقي وي چې دوی ته راځي ساعت يعني وقت الموت بغتة نابيره، مفعول مطلق دی يعني اتيانا بغتة او يا راځي دوی ته عذاب د ورځې چې وچه وي يعني ورځ د قيامت.

پوه سه: چې ورځ د قيامت چې وچه بولي په دې سبب چې شپه نه پسې راځي لکه وچه بسځه چې نه لنګيږي، دا قول د عکرمه او د ضحاک[۲] دی. او بعض مفسرين وايي چې له ساعت څخه قيامت مراد دی، او له يوم عقيم څخه مراد د بدر ورځ ده چې په هغې ورځې کې کافرانو لره خير نه وو والعقيم في اللغة ما لا خير فيه ومنه الريح العقيم چې هغه باد دی چې خير د باران نه وي پکښې. او بعض مفسرين وايي چې ساعت او يوم عقيم دواړه سره يو دي وهو يوم القيامة، درويش وايي والافادة خير من الاعادة فافهم.

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ لِّلّٰهِ ؕ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ ؕ

بادشاهي او حکمراني په دغه ورځ چې هغه مريه له زړو څخه روځې (لله) يعني وحده، حکم به کوي خداى پاک په مجازات سره، بينهم ضمير راجع دی د مؤمنينو او کافرين ته يعني مؤمنان به مهمان سراى ته د جنت بوزي او کافران به د محبس ته د دوزخ تهله کړي، دا جمله مستانفه وه.

فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ فِيْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۵۶﴾

الفاء لتفصيل حكم الله في ذالك اليوم، نو هغه کسان چې ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې کړي وي په جنتو کې د نعمتو دي يتنعمون فيها.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا فَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿۵۷﴾

او هغه کسان چې کفر کوي او تکذيب کوي د آياتو زمونږ يعني قرآني آيات دروغ بولي، هغه کسان دوی لره عذاب دی د اهانت او سپکاوي.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چې د مؤمنانو د حال په بيانولو کې فاء د سببيه نه راوړه او د کافرانو د حال په بيانولو کې يې فاؤلئک فاء سببيه راوړه؟

ځواب: په دې کې اشاره ودې ته ده چې دخول د جنت تفضل او احسان دی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ددوی سره اعمال صالحه یې سبب نه دی لانهم کاجیر یاخذ الاجر قبل العمل یعني نعم الدنیا من الصحة وسلامة الاعضاء والرزق وغیرها، او عذاب مهین د کافر په سبب د کفر ددوی، وقد جاء في الحدیث ما یؤید ذالک حیث قال رسول الله ﷺ لن ینجی احد عمله (هرګز نجات نسي ورکولای یعني له عذاب څخه د خدای ﷻ عمل دده) قالوا ولا انت یا رسول الله (نه سي تاته نجات درکولای ستا عمل یا رسول الله؟) قال ولا انا الا یتغمدني الله برحمة وفضل منه (علیه الصلوة والسلام زیاته کړه نه ماته نجات راکولای سي عمل زما مګر نه چې ما پټ کړي خدای ﷻ په رحمت او فضل خپل) متفق علیه.

پوښتنه: د قرآن مبارک په بل ځای کې راغلي دي، ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون. ددې آیت څخه دا صراحةً معلومیږي چې دخول د جنت په سبب د عمل دی؟

ځواب: دا آیت محمول دی پر دې چې په جنت کې منازل متفاوته سته في الشرف چې هغو منازلو ته داخلیدل په سبب د اعمالو دی، واما اصل دخول الجنة والخلود فیها فضل الرحمن ﷻ.

الفائدة الموعودة في الفرق بین الرسول والنبي

درویش وایي: چې ما وعده کړې وه په تفسیر کې د هغه آیت (وما ارسلنا من قبلک من رسول ولانبي) چې زه په تاسي ته د رسول او نبي فرق بیان کړم، د ایفاء بالوعد وایم.

پوه سه: چې مشهوره داده چې رسول هغه چاته وایي یعني په شرع کې چې نوی کتاب لري، والنبي اعم منه یعني سواء کان له کتاب او یعمل بکتاب نازل قبله علی غیره لکه انبیاء د بني اسرائیلو چې عدد یې څلور زره ته بالغ ؤ، او د ټولو عمل په تورات ؤ چې نازل پر موسی علیه السلام ؤ، وفي هذا الفرق نظر قوي چې په حدیث صحیح کې راغلي دي چې د علیه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه کم عدد الانبیاء؟ ده ورته وویل مائة الف وعشرون الفًا، هغه سړي پوښتنه څنډي وکړه وکم الرسل منهم؟ قال (۳۱۳) جمًا غفیرًا او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې کتب منزله من عند الله (۱۰۴) کتابونه دي، نو که په رسول کې کتاب شرط سي نو پر (۳۱۳) باندي (۱۰۴) کتابونه څرنګه رسیږي، او هغه توجیه چې مولی شمس الدین الخیالي په حاشیه کې د شرح العقائد النسفي کړې ده یعني قول په تکرار د نزول (۱۰۴) کتابونه پر (۳۱۳)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باندي كما ان سورة الفاتحة نزلت مرتين مرة بمكة ومرة بالمدينة عند تحول القبلة فليس بشئ لان تكرار نزول الكتب لم يجئ في حديث من الاحاديث النبوية واما قياسها على تكرار الفاتحة فلا يصح لانه ثابت بالنص، او بعض علماء وايي چي د رسول او د نبي ترمنځ عموم خصوص من وجه دی نمثل موسی و عیسی و غیرهما مما نزل عليهم رسول او نبي دی، ومثل انبياء بني اسرائيل انبيا، لارسل ومثل جبرئيل رسول لانبي وفيه نظر من وجهين، الاول ان هذا الفرق مبني ايضًا على اشتراط نزول الكتب على الرسل وقد مر عن قريب ان هذا الفرق لا يصح، والثاني ان جبرئيل رسول بالمعنى اللغوي والكلام في الرسل بالمعنى الشرعي، والصحيح في الفرق بينهما ما قال المظهري ان الرسول من بعث بشريعة مجددة يدعوا الناس الهيا سواء معه كتاب املا، كه دا شريعت مجددة و كه الهامًا او كه منامًا مجدد وي، والنبي يعمه ومن بعث لتقرير شرع سابق كانبياء بني اسرائيل، او دا فرق روح المعاني هم راوړی دی.

درویش وایي: چي روح المعاني نوري معاني د رسول او د نبي هم ذكر كړي دي تركناها لحال الطول في التفسير والتعب على المتعلمين.

وَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ثُمَّ قُتِلُوْٓا اَوْ مَاتُوْا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللّٰهُ رِزْقًا حَسَنًا ؕ

او هغه كسان چي د خپلو وطنو او قبائلو څخه يې هجرت كړی وي (يعني لشدة اذى المشركين اياهم) په طلب كي د رضاء د خداى ﷻ بيا قتل كړل سوي وي په جهاد كي يا په خدايي مرګ مړه وي، والله چي خداى ﷻ به رزق ورکړي ودوی ته يعني في الجنة دار النعيم والسرور والخلود ښه رزق چي نه چا په ستركو ليدلی وي او نه چا په غوږو تفصيلاً اوريدلی وي او نه د چا پر زړه ورګرځيدلی وي.

وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ۝

خداى ﷻ ښه رزق ورکونکی دی چي نه قطع كيږي او نه يې مثل چا ليدلی دی.

لَيُدْخِلَنَّهُمْ مُّدْخَلًا يَّرْضَوْنَهٗ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَلِيْمٌ حَلِيْمٌ ۝

هر آئينه به داخل كړي دوی و داسي ځای ته چي راضي به وي دوی په هغه ځای لان فيها ماتشتهيه الانفس وتلذ به الاعين، په تحقيق خداى ﷻ په احوالو د دوی او د معاند ينو د دوی ښه خبر دی او حليم دی چي ژر عقوبت و د ښمن ته ورکوي، او دا حلم د خداى مشركان، كافران او عاصيان غولولي دي قالوا اعوذ بالله من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غضب الحليم لانه اذا اخذه لم يفلته چې په عذاب يې ونسي بيا يې نه پريږدي.

ذٰلِكَ وَمَنْ عَاقَبَ بِمِثْلِ مَا عُوْقِبَ بِهٖ

ای الامر ذالک يعني ذالک خبر د مبتداء محذوف دی. او که چا عقاب ورکړی و جاني ته په مثل د ماجنی عليه.

پوښتنه: ما وقع ابتداءً ته څرنګه عقاب وويل شو، سره ددې علماء ټولو وايي چې عقاب جزاء ته د جنايت وايي، وجه التسمية بالعقاب لانه يجی عقب الجناية او سره ددې چې د اول جاني دا خو عقيب الجناية نه دی بلکې ابتداء الجناية؟

خواب: يا دا مشاکله له سببه ددې چې د مجنی عليه دا خو عقاب ؤ او يا له دې سببه چې ابتداء د جنايت خو سبب ده عقوبت د هغه بل سړي له خوا او ګرځيدل، نو اطلاق يې وکړی د مسبب پر سبب مجازًا مرسلاً، او بعض محققين وايي چې نه مشاکله ته ضرورت ستة او نه مجاز ته ولي چې په عرف کې عقاب نفس عذاب ته وايي که څه هم جزاء د جنايت نه وي، نو د اول جاني دا خو هم عذاب ؤ که څه هم د جنايت جزاء نه ده فافهم، دا جمله مستانفه ده.

ثُمَّ بُغِيَ عَلَيْهِ لَيَنْصُرَنَّهُ اللّٰهُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ۝

بيا بغاوت او ظلم وکړل سو د ظالم اول له خوا څخه پر هغه مظلوم چې اول وار يې د ظالم څخه خپل کسات اخستی ؤ، خدای ﷻ حتمًا ددې سره کومک کوي يعني ددې مکافات خدای پاک اخلي د ظالم معاود بالظلم څخه، په تحقيق خدای ﷻ عفوه کونکی دی هغه چا لره چې اول وار يې د ظالم څخه کسات اخستی ؤ او بخښونکی ددې.

پوښتنه: مظلوم څه ګناه وکړه خو خپل کسات يې له ظالم څخه واخستی؟

خواب: ددې ګناه داده چې د نفس او شيطان په خوله يې وکړه چې انتقام يې واخستی او هغه کار يې پرېښو چې د خدای ﷻ خوښ ؤ قال الله تعالی ولمن صبر وغفر ان ذالک لمن عزم الامور، په تحقيق هغه څوک چې صبر وکړي پر عذاب ورکولو د بل چا او بخښنه ورته وکړي په تحقيق د عزيمت له کارو څخه دی، يعني کسات اخستل که څه هم رخصت دی لکن عفو او مغفرت عزيمت دی.

پوه سه: چې په دې آيت کې باعثه کول دي د مظلوم انو پر عفو او مغفرت و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظالم ته فانه تعالی مع کمال قدرته وعلو شانه لما کان یعفو ویغفر للظالمین فغیره اولی بذالک وتنبیه علی انه قادر علی العقوبة للظلمة اذ لایوصف بالعفو الا القادر علی العقوبة.

پوښتنه: د خدای ﷻ عفو و ظالم او کافر ته چې پر ظلم او کفر باندې باقي وي څه شی ده؟

ځواب: سره د کفر او شرک خدای ﷻ رزق او صحت وغیرهما ورکوي، سعدي شیرازي وایي:

ای کریمی که از خزانه غیب ..... گبر وترسا را وظیفه خوردای
دوستان را کجا کنی محروم ..... تو که با دشمنان نظر داری

ایضًا:

ادیم زمین سفره عام اوست ..... برین خوان یغما چه دشمن چه دوست

ذَٰلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ

دا نصرت چې خدای ﷻ کوي د مظلومانو سره سبب ددې چې خدای قادر دی پر هر شي چې یو له هغو څخه مداولت د اشیاء متعاندې وتر منځ چې داخلوي اللیل یعني ساعات د شپې نو شپه لنډه سي او ورځ اوږده سي، او داخلوي ساعات د ورځې په شپه کې نو شپه اوږده سي او ورځ لنډه، نو له اول سرطان څخه ورځ ډیره اوږده وي او شپه لنډه چې دوبی یې بولي او د منقلب صیفي څخه شروع کیږي رفته رفته پر منقلب شتوي ورځ پر کمیدو سي او شپه پر اوږدیدو سي او پر اعتدالینو شپه او ورځ په ساعات کي سره یو شی سي وهکذا.

وَأَنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ﴿٦١﴾

او بل دا چې په تحقیق خدای ﷻ اوریدونکی دی د اقوالو د ظالم او مظلوم، او یا معنی داده چې سمیع دی د دعاء د مؤمنانو په شدائدو کې نو خدای ﷻ قبلونه د دوی د دعاء کوي او له شدائدو څخه یې خلاصوي وامثال ذالک (بصیر) دانا دی په افعالو د ظالم او مظلوم نو مهمل یې نه پریږدي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ

یعني دغه اتصاف د خدای ﷻ په کمال قدرت سره کمایدل علیه قوله تعالی یولج اللیل في النهار آه او په کمال علم سره الدال علیه سمیع بصیر په سبب ددې ثابت دی چې خدای ﷻ حق یعني واجب لذاته دی الثابت بنفسه وحده وقد تقرر في علم الکلام بکمال التفصیل واتم بیان ان وجوب وجوده ووحدته یستلزمان انیکون هو سبحانه پیدا کونکی دی د ټولو مصنوعاتو ولابد في ایجاده کل مصنوع علی الوجه البدیع واحکمه من کمال عمله تعالی نو نتیجه دا سوه چې مستحق د عبادت او تضرع یوازي یوازي هم دی دی ما اشار الیه بقوله.

وَاَنَّ مَا يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖ هُوَ الْبَاطِلُ

او هغه شیان چې خلک یې عبادت کوي هغه باطل دي.

پوه سه: چې کلمه د ان لپاره د تحقیق د مضمون د مابعد ده او کلمه د ما موصوله ده او عائد یې محذوف دی ای یدعونه.

فائده: له باطل څخه که مراد باطل في حد ذاته یعني چې واجب الوجود نه دی نو ان مایدعون موجبه کلیه ده یا مراد داسي چې باطل الوهیة دی یعني وصف د معبودیت یې باطل دی، او که له باطل څخه مراد دا وي چې مایدعون من دونه غلط او بیکاره شیان دي، نو سوال دا پیدا کیږي چې بعض مشرکین د ملکو عبادت کوي او نصاری د عیسی ؑ عبادت کوي او دا خو غلط او بیکاره شیان نه دي، نو دا آیت قضیه مهمله ده په قوت کي د قضیه جزئیه یعني بعض مایدعون وهو اصنام المشرکین، باطل دي په معنی مذکوره والی هذا اشار السید محمود الآلوسي ؒ في روح المعاني بقوله ولعل الحصر غیر مراد آه.

وَاَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ ﴿۶۲﴾

هذه الجملة عطف علی قوله ان الله هو الحق د علي معنی داده چې خدای ﷻ بلند دی د ددې څخه چې ده لره شریک په معبودیت کي وي سواء کان من ذوی العقول کالملائکة وعیسی او غیرهم کاصنام المشرکین او د کبیر معنی داده لیس کمثله شئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً

پوه سه: چې استفهام انکاري دی او نفي د نفي اثبات دی یعني (تر) او مخاطب د (تر) هر څوک دی چې صالح د خطاب وي، او رؤیة یا بصري دی یعني ته نه وینې یا علمي دی یعني الم تعلم (ان الله انزل من السماء ماء) مفعول به د (تر) دی چې خدای ﷻ نازل کړی له اسمان څخه یا له وریځې څخه لان کل ما علاک سماء اوبه یعني د باران.

فَتُصْبِحُ الْاَرْضُ مُخْضَرَّةً ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَطِيْفٌ خَبِيْرٌ ۝

نو وګرځي مځکه زرغونه یعني په قسم قسم نباتاتو سره (لطیف) د لفظ لطف څخه ماخوذ دی په معنی د مهربانۍ یعني د خدای ﷻ لطف و هر شي ته شامل دی، او یا په معنی د دقیق دی یعني یصل علمه الی کل ما دق وجل ته او خبر دی په احوال ظاهره او باطنه وو سره د بندګانو او بما یحتاجون الیه من ثمار الارض وزروعها فلذا لک انزل من السماء ماء لان ذلک الماء سبب لارزاق العباد والحیوانات.

سوال: انزل ماضي صیغه وه نو تصبح یې مضارع ولې راوړه؟

خواب: لپاره د احضار د صورت ماضیه وهذه الآیة دلیل اخری پر کمال علم او قدرت ولي چې د مځکې لپاره دا لکه بعث بعد الموت دی د انسانانو لپاره.

لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَهُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝

هم دده لپاره دي هغه څه چې په اسمانو کې دي او هغه چې په مځکه کې دي ملکا وخلقا، او په تحقیق خدای ﷻ غني دی په ذات کې د هر شي څخه یعني د بندګانو عبادت ته محتاج نه دی، او مستحق د حمد دی په سبب د صفاتو کامله وو من الجلالیة والجمالیة او په سبب د افعالو چې مشتمل پر حکمت او عدالت دي کې څوک حمد وایي او کړه نه.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ سَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ

الرؤیة ههنا علمیة والمخاطب کل من یصلح للخطاب، آیا ته علم نه لرې (والاستفهام للتقریر ای حمل المخاطب علی الاقرار) چې خدای ﷻ مسخر کړ خولې دې ستاسې د نفع لپاره هغه شیان چې په مځکه کې دي یعني ذلیل یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گرځولي دي چي تاسي نفع پرواخلئ لکه اوښان، غوايي، پسونه وغيرها چي تاسي به پر سپرېئ پر بعضو او قوله کشي به په کوئ په بعضو، او غوښي به خورئ د ټولو مذکوره وو، او وړي به يې هم ستاسي په نفع کي تمامي وي.

فائده: که استفهام انکاري سي او نفي د نفي اثبات سي هم ر تقرير ته راجع کېږي.

وَالْفُلْكَ تَجْرِيْ فِي الْبَحْرِ بِاَمْرِهٖ

(والفلک) عطف دی پر مافي الارض، او مسخره يې گرځولي دي کښتيانې چي روانې دي په درياب کي په امر او قدرت د خدای ﷻ سره ددې په دې کښتيو کي د هر نفر سپاره وي او درانه بارونه ورسره وي يعني تجارتي اموال په دې کي هم ستاسي لپاره نفع ده چي د درياب تجارت چي له انفع تجاراتو څخه دی پکښې کوئ په اغلب اوقاتو کي خدای ﷻ له غرق څخه ساتلي دي او سره ددې چي يو کوچنی ډبره چي درياب ته وغورځول سي فوراً ډوبېږي.

پوه سه: چي ما ترجمه د فلک په کښتيانو سره وکړه چي جمع لفظ دی او داسي ترجمه مي ونه کړه کښتی چي مفرد لفظ ؤ ددې سبب چي په وروسته لفظ کي د تجري مؤنث ضمير و فلک ته راجع دی نو حتمًا به فلک جمع وي چي په تاويل د جماعت مؤنث ضمير ورته راجع سي.

فائده: په لفظ کي د فلک مفرد او جمع سره برابر دي او فرق يې صرف اعتباري دی، که له لفظ څخه د فلک مفرد مراد وي، نو ضمه د فاء لکه ضمه د قُفل ده چي مفرد دی. او که چېرې جمع مراد وي ضمه د فاء يې ضمه د اسد ده چي جمع د اسد دی فليکن هذه الفائدة علی ذکر منک تنفعک في مواضع شتّی.

وَيُمْسِكُ السَّمَآءَ اَنْ تَقَعَ عَلَى الْاَرْضِ اِلَّا بِاِذْنِهٖ

او ساتلی دی خدای ﷻ اسمان سره د غايته ثقل ان تقع ای من ان تقع چي راوه دي لوېږي پر مځکه، مگر نه په اراده د خدای ﷻ، بيضاوي ؒ وايي چي اسمانونه خدای ﷻ پر داسي صورتو پيدا کړه چي مقتضی د استمساک دي، او مظهري وايي چي له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي اجسام الفلکية لکه اجسام ارضيه ميل و ماتحت ته کوي وانما امسکها الله تعالی بقدرته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې روح المعاني او امام رازي په دې آيت کې اوږدې خبرې کړې دي چې د تفسير ايوبي د متعلمانو ترفهم لوړې دي الا من شاء الله.

پوه سه: چې الا باذنه استثناء ده له مضمون څخه د دې قول د خدای ﷻ يمسک السماء ان تقع على الارض، والتقدير لاتقع على الارض في حال من الاحوال الا متلبسًا باذنه وارادته. بيضاوي وايي وذالک يوم القيامة او امام آلوسي اول داغه خبره کړې ده چې اسمان په ورځ د قيامت سره تک تک سي او پر مخکه راولوېږي، وروسته يې ويلي دي وانا ليس في ذهني من الآيات والاخبار ماهو دال صراحة على ان السماء تقع على الارض وانما هي صريحة في المور، والانشقاق والطي والتبدل كما في الآيات القرآنية في مواضع شتى وكل ذالک لايدل على الوقوع على الارض فضلاً من ان تكون صريحة فيه انتهى بادنى تغيير، او مظهري هم ده روح المعاني پر لار روان سوی دی والله اعلم، الآيات القرانية: يوم تشقق السماء بالغمام، ويكون السماء كالمهل، اذا السماء انفطرت، يوم نطوى السماء كطي السجل الآية، والسماء وردة كالدهان.

إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ﴿٦٥﴾

په تحقيق خدای ﷻ پر خلکو کثير الرافة والرحمة دی چې دوی ته يې دلائل د قدرت او د وحدت خپل قائم کړي دي في الانفس والآفاق او دروازې د منافعو يې ورته خلاصې کړي دي، او دفع د مصائبو يې ځندي کړې ده الى غير ذالک.

وَهُوَ الَّذِي أَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ۗ إِنَّ الْإِنسَانَ لَكَفُورٌ ﴿٦٦﴾

خدای ﷻ هغه قادر ذات دی چې تاسي يې ژوندي کړي ياست په نفخ الروح سره په ارحامو کې د مينډو وروسته تر دې نطفې واست بيا علقې سواست بيا مظغې وګرځيدلاست وروسته اجساد بې روح واست، بيا يې روح درکړې ژوندي انسانان جوړ سواست، بيا وروسته تاسي وژني بقبض الارواح من اجسادكم، بيا مو ژوندي کوي په اخرت کې باعادة الاجسام او نفخ الارواح فيكم، په تحقيق انسان يعني المشرک المنكر للحيوة بعد الموت (كفور) صيغه د مبالغې ده يعني كثير الانكار والجحود دی د نعمتونو د خدای ﷻ بعد ظهورها رئ العين يعرف الانشاء بعد العدم في الدنيا وينكر الاحياء بعد الافناء في الآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِكُلِّ أُمَّةٍ جَعَلْنَا مَنْسَكًا هُمْ نَاسِكُوهُ

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده ولهذا لم يورد معها الواو العاطفة موقة لزجر معاصريه عليه الصلوة والسلام من اهل الاديان السماوية عن منازعته عليه الصلوة والسلام ببيان حال ماتمسكوا به من الشرائع، والمعنى هر امت لره دامم معينه وو څخه مورِ کړ ځولی دی شريعت خاصة وتقديم الجار والمجرور للحصر، يعني لا لامة اخرى وضميرهم راجع الى كل امة باعيانهم، فالامة من مبعث موسى الى مبعث عيسى عليهما السلام منسكهم مافي التورات چې دوی هغه شريعت چلاوه او هغه امت چې د عيسى ؑ وه تر مبعث د محمد ﷺ منسک او شريعت د هغو ما في الانجيل دوی هغه منسک چلاوه لاغيرهم، واما الامة الموجودة عند مبعث النبي ﷺ الى يوم القيامة منسک ددوی قرآن او شريعت يې ما في القرآن دی ليس الا هو.

دروېش وايي: چې مظهري ؒ يوه ترجمه د منسک په نقل د انس ؓ په شريعت سره کړې ده دا ترجمه د ټولو تفاسيرو سره برابره ده، بله ترجمه يې په عيد او اختر سره کړې ده چې ددې مقام سره هيڅ مناسبت نه لري، او بله ترجمه يې په ځای د ذبح د قرابينو کړې ده چې هم ددې مقام سره هيڅ مناسبت نه لري، او بله ترجمه يې په ځای د الفت سره کړې ده چې هغه هم ددې مقام سره هيڅ مناسبت نه لري، د دروېش مطلب دادی چې تفسير مظهري خو د لغتو کتاب نه دی چې دی د منسک ټوله معاني پکښې بيان کړي دا خو تفسير د قرآن مبارک دی، بايد د هر آيت هر څو معاني چې مناسبت لري هغه بيان کړي،، ع وللناس فيما يعشقون مذاهب.

فَلَا يُنَازِعُنَّكَ فِي الْأَمْرِ

دوی يعني الملل دي نزاع نه کوي د تا سره په امر کې د دين كلمة الفاء ههنا لترتيب النهي عن النزاع على ماقبله فان تعينه تعالى لكل امة من الامم التي من جملتها امت محمد ﷺ شريعت مستقله درلودی، تر دې اندازې پورې چې هر امت ګام نه اروي تر ماعين لها دا موجب ددې دی چې داغه امم دي متابعت د شريعت نبوي وکړي او په امر د دين دده دي رد نه کوي په ګمان ددې چې زمورِ شريعت خو مابين لآبائهم مما في التورات والانجيل فان ذالک الشريعة كان لمن مضى قبل الانتساخ وشريعة محمد ﷺ ناسخة لجميع الشرائع فيما عدا المعتقدات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي هغه کسان چي د عليه الصلوة والسلام سره يې نزاع کوله يا جاهلان وه يا اهل عناد وه لکه علماء د بني اسرائيلو، ولي چي حال د دين د عليه الصلوة والسلام و داسي مرتبې ته د ظهور رسېدلی دی چي قابل د نزاع نه دی لانه مؤيد من عند الله بالمعجزات الباهرة وکتابه العزيز معجزة باقية کر الازمان ومر الدهور لقوله تعالى ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فاتوا بسورة من مثله او هغه قرآن نازل پر محمد عليه السلام دا فيصله کړې ده چي محمد صلى الله عليه وسلم خاتم الانبياء والمرسلين دی.

درويش وايي: چي بغوي رح د دې آيت عامه ترجمه په يوه خاصه ماده سره کړې ده دی وايي چي دا آيت نازل سوی دی في بديل بن يرقاء او بشر بن سفيان او يزيد بن خنيس چي دوی و اصحابو ته د عليه الصلوة والسلام وويل مالکم تاکلون مما تقتلون بايديکم يعني تذبحونه ولا تاکلون مما قتله يعني الميتة.

ع: ببين تفاوت راه از کجا تا بکجا فافهم.

او زجاج وايي چي معنى د لاينازعنک داده چي لاتنازعهم انت چي نزاع مه ورسره کوه ته کما يقال لايخاصمنک زيد اى لاتخاصمه.

درويش وايي: چي دا معنى چي زجاج ذکر کړې ده معنى کنايي د لاينازعنک ده، ولي چي منازعه او مخاصمه خامخا دوو کسو ترمنځ وي نو هر يو چي نزاع ترک کړي نزاع له منځه ځي، نو چي عليه الصلوة والسلام چي د دوی نزاع صرف نظر کي خپل تبليغ ته بلا شاغل دوام ورکړي وهذا انسب بما بعد الآية يعني قوله تعالى.

وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ ۖ إِنَّكَ لَعَلَىٰ هُدًى مُّسْتَقِيمٍ ﴿٦٧﴾

ته خلک رابوله و خداى ﷻ ته يعني توحيده وعبادته، په تحقيق ته پر برابره لاريې وحق ته.

درويش وايي: چي روح المعاني په دې معنى کنايي کي د هر بحث کړی دی او سوال او ځواب يې راوړی دی ان شئت فارجع اليه.

وَإِن جَادَلُوكَ فَقُلِ اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿٦٨﴾

که دوی ناحقه بحث درسره کوي يعني بعد ظهور الحق ولزوم الحجة، ته ورته ووايه چي خداى ﷻ خبر دی په عمل ستاسي. نو کلمه د ما مصدريه ده، يا موصوله ده عائد يې محذوف دی اى تعلمونه من المجادلة الباطلة وغيرها يعني خداى ﷻ به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي ته مجازات درکړي، وهذه الجملة الشرطية معطوفة على قوله فلا ينازعنك.

بوه سه: چې په دې جمله کې وعيد دی سره د رفق وکان ذالک قبل الامر بالقتال. يعني منسوخة هذا ما قال المظهري وصاحب روح المعاني.

اَللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِيْمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۶۹﴾

او خدای ﷻ به حکم او فیصله وکړي يعني بين المؤمنين منكم والكافرين، نو خدای ﷻ سره جلا کوي په ورځ د قيامت حق او باطل چې مؤمنانو ته به دخول د جنت ثواب ورکړي او کافرانو ته به عذاب النار ورکړي، په هغه شي کې له امورو څخه د دين چې تاسي ايها المؤمنون والكافرون اختلاف درلودی يعني په دنيا کې چې مؤمنانو د توحيد الهي لار غوره کړې وه او کافرانو د شرک لار اختيار کړې وه.

اَلَمْ تَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ؕ

استفهام لپاره د تقرير دی ای حمل المخاطب على الاقرار يعني ته خبر يې چې په تحقيق خدای ﷻ خبر دی په هغه شيانو چې په اسمانو کې دي من الملائكة والنجوم وغيرها او په مځکه کې دي من الحيوانات والنباتات و المعدنيات. لانه لايخفى عليه شئ وان كان مثقال ذرة.

اِنَّ ذٰلِكَ فِيْ كِتٰبٍ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ﴿۷۰﴾

په تحقيق دا ټوله شيان من السماء والسمويات والارض ومافيها وعليها په لوح محفوظ کې دی بلکې ماکان وما سيكون ټوله مقصود تسلي ده عليه الصلوة والسلام ته چې ته يې غم مه کوه، په تحقيق دغه احاطه علمي او يا ثبت په لوح محفوظ کې او يا فيصله بين المحق والمبطل خدای ﷻ ته اسانه ده.

وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا

(ويعبدون) عطف دی پر مضمون ماسبق من الآيات الدالة على وحدانيته تعالى وكمال قدرته يعني يعلمون تلك الدلائل الواضحة والبراهين القاطعة في التوحيد وهم مع ذالک دوی عبادت کوي ماسوی له خدای ﷻ څخه د هغه شيانو چې بتان دي چې نه دی يعني خدای پاک د هغه شي په عبادت سره يو حجة واضحه په کتب مقدمه وو کې يعني چې د دې شيانو عبادت روا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا لَيْسَ لَهُمْ بِهٖ عِلْمٌ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ ﴿۷۱﴾

او نسته دوی لره په جواز د عبادت د هغو سره علم یا بدهي یا استدلالي یا نقلي من المخبر الصادق الذي دل علی صدقه المعجزات او یا علم متواتر چي منتهی یې یو حواس خمسه وي، او نسته مشرکانو لره چي دا ظلم ظاهر یې پرکار اچولی دی یو کومکي په دفع کي د عذاب له دوی څخه کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده کما لایخفی کمایدل علیه التنکیر ایضًا.

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا بَيِّنٰتٍ

چي تلاوت وکړل سي پر دوی له جانبه څخه د رسول الله ﷺ د آیاتو زمونږ یعني الآیات القرآنیة چي واضح الدلالة دي پر دې چي دا آیات من عند الله دي په دې سبب چي دوی یې په مثل سره دیوه سورت راتلک نسي کولای مع کونهم من العرب العرباء، یا معنی داده چي دا آیات واضحات الدلالة دي پر عقائد حقه وو او پر احکام الهیه وو.

تَعْرِفُ فِيْ وُجُوْهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا الْمُنْكَرَ ؕ

ته وینې د مشرکانو کافرانو په مخانو کي انکار (نو منکر مصدر میمي دی) یعني په مخانو کي ددوی اثار د انکار بنکاره کیږي یعني تندی ترش وګرځوي او د غضب اثار یې پر مخانو بنکاره سي.

پوښتنه: د مشرکانو ذکر خو د مخه تېر سو في قوله تعالی وما للظالمین آه، نو دلته وذکر ته د الذین کفروا څخه ضرورت دی چي خدای ﷻ داسي نه وویل في وجوههم بارجاع الضمیر حکمت یې څه دی؟

خواب: په اسم ظاهر راوړلو کي تنبیه ده پر دې چي باعث پر انکار شدت کفر ددوی لاغیر ذالک.

پوښتنه: چي جمله شرطیه یعني د واذا څخه نیولې تر تعرف في وجوههم آه چي جزاء د شرط معطوف دی پر یعبدون آه.

يَكَادُوْنَ يَسْطُوْنَ بِالَّذِيْنَ يَتْلُوْنَ عَلَيْهِمْ اٰيٰتِنَا ؕ

قریبه وي دا چي دوی حمله وکړي، پر هغو کسانو چي تلاوت د آیاتو یې پر دوی وکړي یعني محمد ﷺ واصحابه رضي الله عنهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې یکادون آه حال دی د الذین کفروا څخه او یا لاس وروغځوي په حمله کولو:

قُلْ اَفَاُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكُمْ ؕ

وواید ته یا محمد (ﷺ) آیا زه خبر درنه کړم تاسي ته په شر او مکروه تر دغه قرآن چې پر تاسي یې تلاوت وکړل سو او تاسي ته یې د پر غم او غصه پیدا کړه او پر تالي د آیاتو و حملې ته تیار سواست، او زړونه مو تنګ سوه او اثار د غضب مو په مخانو کې ښکاره سوه.

اَلنَّارُ ؕ وَعَدَهَا اللّٰهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ﴿۷۲﴾

(النار) خبر د مبتدا، محذفي دی ای هو النار، نو دا جمله استیناف بیاني دی کانه قیل ماهو ذالک الشئ، چې وعده یې کړې ده د هغه اور خدای ﷻ د هغه کسانو سره چې کفر یې اختیار کړی دی یعني په دنیا کې، د وعدې معنی داده چې د دوی مرجع به دغه اور وي، او بد ځای د ورتګ دی اور.

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ ؕ

اې خلګو (مراد څنډي کفار مکة من المشرکین وغیرهم ممن شرکوهم في الاشراک لعموم اللفظ) بیانېږي یو مثال یعني یوه قصه عجیبه، نو تاسي غوږ ونسی ودغه مثل ته، له غوږ نیولو څخه مقصد دادی چې فکر او غور پکښې وکړئ. او بعض مفسرین وایي چې معنی د آیت داده چې ګرځولی دی مشرکانو زما لپاره یو مثال چې مثل یعني مماثل په استحقاق کې د عبادت چې اصنام دي، نو تاسي غوږ ونسئ و حال ته د دغو بتانو او غور پکښې وکړئ چې آیا دا تماثیل ددوی صحیح دي.

اِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا

دغه شیان چې تاسي یې عبادت کوئ یعني بتان چې جمادات دي، ماسوی له خدای ﷻ څخه یعني بتان، هرګز دوی قادر نه دي پر خلق د یوه مچ مع صغره وقلته وخساسته.

پوه سه: چې یعقوب رح دا آیت په یا تحتانیه وایي یعني په صیغه د غائب او ضمیر یې راجع بولي کفارو ته، او نور ټوله قاریان یې په تاء فوقانیه وایي علی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الخطاب للكفار، او پر دواړه تقديره عائد و موصول ته محذوف دی يعني يدعونها او تدعونها.

فائده: ژباب مشتق دی من ذب فآب چې ته يې وشړې دی بيرته درته راځي كما هو المعتاد جمع قلت اذبة ده او جمع كثرت يې ذبان كغراب واغربة.

وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهٗ ؕ وَاِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ؕ

كه اصنام سره جمع سي پر خلق د ذباب يعني كه څه هم ټوله بتان سره غونډ سي لكيف اذا كانو منفردين، او كه حمله كړي له دې بتانو څخه مچ يو شی دوی يعني بتان هغه شی نسي څندي اختلای.

درويش وايي: چې د مشركانو عادت دا ؤ چې پر دې بتانو باندې به يې تعظيمًا زعفران او نوري خوشبوی ګاني مښلې او د تبرک لپاره به يې د دوی و مخ نه خواړه ايښوول، نو دوی چې په ولاړه مچان به پر راټول سوه او هغه خوشبويي ګاني به يې د دوی څخه خوړلې او پر هغه طعام به يې هم د اختر د خوشالی ورځ جوړه كړې وه، او د دوی بتانو دا توان نه درلودی چې دا مچان له ځانه يا له طعام موضع څخه وشړي او قدرت د مقاومت د مچانو يې نه درلودی.

درويش وايي: چې د دې مثل حاصل دا دی چې خدای پاک د بت پرستانو نهايت جهل او ناپوهي بيانوي چې دوی د خالق المخلوقات موجد السماوات القادر على الاطلاق هغه عاجزه شيان چې بتان دي چې د ادنى شي پر خلق چې مچ دی او د خپل ځان پر ساتنه قادر هم نه دي شركاء في العبادة يې ګرځولي او د الوهيت لونګی يې ورتړلې ده او وايي هؤلاء شفعائنا عند الله.

ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ۝

ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې طالب مچ دی چې د بتانو څخه خوشبويي سلبوي او مطلوب بت دی چې مچ له ده څخه سلب د خوشبويي كوي ولاشک ان الطالب ضعيف يعني مچ والمطلوب اضعف منه، ولي چې مچ خو حركت او طلب د رزق كوي او مطلوب چې بت دی پر هيڅ شي قدرت نه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖ ط

نه دی پېژندلی مشرکانو خدای ﷻ په حق پېژندلو سره او نه یې د خدای ﷻ تعظیم کړی دی په حق تعظیم سره. او نه یې خدای پاک په حقیقي وصف سره موصوف کړی دی. ولې چې دوی د خدای ﷻ سره په عبادت کې هغه جمادات بتان شریک کړه چې مچ غوندې ضعیف شی توان د مقابلې او مقاومت نه لري.

ع: ..... بدین علم و دانش باید گریست

اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ ۝

په تحقیق خدای ﷻ دارایعني مالک د قدرت کامله دی چې د ټولو ممکناتو خالق دی او غالب دی چې څوک یې نسي مغلوبه کولای او د دوی خدایان بتان عاجز العاجزین دي نو دوی څرنګه شرکاء الله په عبادت کې شریکان بولي. بغوي ؒ وایي چې دا وروسته آیت هلته نازل سو چې مشرکانو به ویل: اءنزل علیه الذکر من بیننا؟ آیا نازل سو پر محمد (ﷺ) ذکر یعني قرآن زمونږ په منځ کې یعني مونږ سرمایه داران د مکې یو او سرداران د قوم یو، او محمد ﷺ څونه سرمایه دار دی او نه د قوم مشر دی، نو که قرآن نازلېدلای پریوه زمونږ به نازل سوی وای مطلب یې دا ؤ نعوذ بالله من ذالک چې محمد ﷺ دا قرآن له ځانه جوړوي، نو خدای ﷻ د دوی په ځواب کې دا آیت نازل کړی چې حاصل یې دا دی چې د دې شیانو چې څوک نبي کړځوي اختیار د خدای ﷻ په مشیت کې دی یختار من یشاء من خلقه.

اَللّٰهُ يَصْطَفِيْ مِنَ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا

خدای ﷻ مختاره کوي چې بعض ملکي واستوي په منځ کې د خدای او د انبیا، په وحي سره کجبرئیل ؑ. او بعض ملکي په مابین د خدای او د نزع الروح په باره کې کعزرائیل ؑ او په مابین کې د خدای او د خلګو د رزقو په منځ کې چې باد او باران یې په تصرف کې دی لکه میکائیل ؑ. او بعض واسطه وي د خدای ﷻ او د خلګو د امانت او احیاء په مابین کې لکه اسرافیل ؑ په نفخه اولی او ثانیه کې. او نورې ملکي د نورو کارو لپاره لکه کرام الکاتبین د بندګانو د نېک عمل او بد عمل د نوشتې لپاره الی غیر ذالک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنَ النَّاسِ

ای یختار من الناس انبیاء ورسلاً چي خلک و حق او توحید ته رابولي، او د خدای ﷻ شرائع او احکام ورته بیان کړي چي اول د هغو انبیاؤ آدم ؑ او اخیري یې محمد ﷺ دی، بیضاوي وایي چي خدای پاک اول تقریر د وحدانیت خپل و کړی او نفي د مشارکت د غیر دده سره په الوهیت کي و کړی او په صفاتو د خلق وغیره، اوس په دې آیت کي بیان ددې کوي چي خدای ﷻ لره برګزیده بندګان سته د نبوت او رسالت لپاره چي د هغو څوک اجابت و کړي او اقتداء پسي و کړي په عبادت د خدای ﷻ وه اعلی مراتبو ته د قرب الهي به ورسېږي تقریراً للنبوة وردًا لقول المشرکین ما نعبدهم الا لیقربونا الی الله زلفی، او لقولهم الملائکة بنات الله ونحو ذالک من خرافاتهم.

إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ بَصِيرٌ ۝

په تحقیق خدای پاک عالم بالمسموعات والمبصرات دی یعني علیم بجمیع الاشیاء العلویة والسفلیة.

يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ ۗ

ابن عباس ؓ وایي ماقدموا من الاعمال الحسنة والسیئة وما خلفوا، قال رسول الله ﷺ من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الی یوم القیامة من غیر ان ینقص من اجورهم شیئًا، ومن سن في الاسلام سنة سیئة فله وزرها ووزر من عمل بها الی یوم القیامة من غیر ان ینقص من اوزارهم شیئًا، فلعل هو مراد ابن عباس ؓ بقوله وما خلفوا والله اعلم. او حسن ؒ وایي چي مراد د مابین ایدیهم څخه ما عملو دی او د ماخلفهم څخه مراد ما یعملون بعد ذالک.

وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ۝

وخدای ﷻ ته راجع کړل کېږي ټوله کارونه لانه تعالی مالک بالذات لایسئل مایفعل وهم یسئلون.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی رکوع کوئ او سجده کوئ مراد څنډي صلوات خمسه دي تعبیراً عن الکل وهو الصلوة بالجزء ای الرکوع والسجدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: لمانځه لره خو نور ارکان هم وه نو تخصیص د رکوع او سجدې یې ولي وکړی؟

ځواب: رکوع او سجده رکنان لازمان دي د لمانځه چې لمونځ بېله دوی نه صحیح کېږي بخلاف سائر الارکان. ولې چې قرائت ساقط دی له ګونګي څخه او قیامه ساقطه ده له هغه چا څخه چې پر ولاړه قدرت نه لري بلکې په ناسته به یې کوي او یا پر اړخ باندې کما بین في الفقه. له دې سببه امام اعظم ؒ وایي که چا قدرت نه درلودی چې په سر سره اشاره د رکوع او سجدې وکړي لمونځ ځنډي مؤخر دی الی وقت القدرة او د زړه یا د ستر ګو په اشاره سره یې لمونځ نه دی روا.

وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٧٧﴾

او تاسي عبادت کوئ د رب ستاسي په هغه دول چې د خدای د شان سره لائق وي وهو الاخلاص، او نور د خیر کارونه قال رئیس المفسرین عبد الله بن عباس ؓ چې د خیر کارونه صلة الرحم ومکارم الاخلاق، او مظهري وایي انه یعم الافعال کلها یعني اختاروا ماهو خیر واصلح آه.

پوه سه: چې لعل دلته لپاره د رجاء دی په معنی د کی تعلیل نه دی والجملة في محل النصب علی الحالیة یعني د خیر کارونه کوئ په داسي حال کي چې په امید د فلاح وي یعني یقین د فلاح مه کوئ او مه پر اعمالو د خیر تکیه کوئ، وورد في ذالک الاحادیث الصحیحة.

پوه سه: چې دا آیت د سجدې دی په نېز د امام شافعي، احمد، ابن المبارک او د اسحاق ؒ، بدلیل ظاهر الآیة وهو الامر بالسجود ولما روی عن عقبة بن عامر ؓ قال قلت یا رسول الله افضلت سورة الحج علی سائر القرآن بسجدتین؟ قال نعم فمن لم یسجد بهما فلا یقرئهما وبذالک قال عمر، عثمان، علي، ابن عمر، ابو الدرداء، و ابو موسی الاشعري ؓ. وذهب ابو حنیفة ومالک والحسن وابن المسیب وابن جبیر وسفیان الثوري ؒ الی انها لیست آیة سجدة تلاوة. قال ابن الهمام في فتح القدیر والدلیل علی ذالک انها مقرونة بالامر بالرکوع والمعهود في مثله من القرآن کونه امرًا بما رکن من الصلوة یعني مراد ارکعوا واسجدوا څخه دادی من ذکر الجزء واردة الکل کما مر آنفًا کما في قوله تعالی خطابًا لمریم اسجدي وارکعي وهو لیست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آية السجدة بالاجماع واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال في هذه الآية. والجواب مما روى من حديث عقبة رضي الله عنه فقد قال الترمذي اسناده ليس بقوي وكذا ابو داؤد وغيره.

وَجَاهِدُوا فِي اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهٖ

بوه سه: چې جهاد كما قال الراغب اللغوي الاصفهاني وايي خپل طاقت بتمامها صرفول دي په دفع كې د دښمن، دا جهاد درې قسمه دی (۱) مجاهدة العدو الظاهر كالكفار (۲) ومجاهدة الشيطان (۳) ومجاهدة النفس، او اخيره مجاهده اعظم ده تر مجاهده العدو الظاهر لكه د هغه حديث څخه چې فهمېږي چې بيهقي او نورو محدثينو روايت كړی دی له جابر رضي الله عنه څخه قال قدم على رسول الله ﷺ قوم غزاة يعني چې عليه الصلوة والسلام يوې غزاته استولي وه فقال قدمتم خير مقدم من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر. قيل وما الجهاد الاكبر قال مجاهدة العبد هواه (اى د خواهشات نفسانيه وو سره) والمراد ههنا عند الضحاك جهاد الكفار حتى يدخلوا في الاسلام ويقتضى ذالك ان تكون الآية مدنية لان الجهاد مع الكفار انما امر به بعد الهجرة، او عبد الله بن المبارك رح وايي چې مراد جهاد د نفس او د هوى دی، والاولى عند روح المعاني والمظهري ان يكون المراد به الضروب الثلاثة وليس هذا من الجمع بين الحقيقة والمجاز ولا من قبيل عموم المشترك كما يراد بالعين، الجارحة المخصوصة (يعني سترګه) وعين الماء (يعني چينه) دفعةً واحدةً لان لفظ الجهاد ذكر في الآية مطلقًا والمراد بذل الوسع والطاقة في دفع الاعداء وهذه الاقسام الثلثة اجزاء فيشمل الكل، نو معنى د آيت داده چې تاسي بذل الوسع والطاقة في سبيل الله او لله خالصًا من الاعراض الدنيوية (په آيت كې يا مضاف محذوف دی يا كلمه د في په معنى د لام د فافهم)

تنبيه: پر دې معنى عام دا آيت شامل دی جهاد لره مبتدعه وبزجرهم عن البدعة والفسقة بمنعهم عن الفسق فانهم اعداء ايضًا.

بوه سه: چې (حق جهاده) منصوب دی على انه مفعول مطلق، والتقدير جهادًا فيه (اى في سبيله حقًا حقًا فقدم حقًا واضيف الى الجهاد مثل جرد قطيفة وحذف حرف الجر واضيف جهاد الى الضمير الراجع اليه تعالى، قال صاحب الكشاف الاضافة في جهاده للاختصاص فلما كان الجهاد (يعني باى نوع كان) مختصًا بالله تعالى من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حيث انه مفعول لوجهه سبحانه ولاجل مرضاته تعالى صحت الاضافة اليه تعالى انتهى بزيادة يسيرة. او ابن عباس ؓ وايي چي د حق جهاد معنى داده استفراغ الطاقة فيه وان لايخافوا في الله لومة لائم، فقير وايي ولايكون فيه غرض دنيوي ايضًا.

هُوَ اجْتَبٰىكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ مِنْ حَرَجٍ ؕ

خداى ﷻ تاسي مختاره كړي ياست من الخلائق (لمصاحبة نبيه وحبيبه ﷺ فالمخاطب هو اصحاب رسول الله ﷺ. قال رسول الله ﷺ ان الله اختارني واختار لي منهم اصهارًا وانصارًا) نه دى گرځولى خداى ﷻ پر تاسي باندي په ديني كار وكي ضيق او تنگي وتكليف يشتد القيام به عليكم. كريمه: لايكلف الله نفسًا الا وسعها. بعض مفسرين داسي ترجمه كوي چي مؤمن چي په يوه گناه مبتلى سي خداى پاك هغه مخرج د هغې گناه څخه ورته ګاكلى دى اما بالتوبة كما في حقوق الله الخالصة. واما برد الظالم والقصاص كما في حقوق العباد، واما بانواع الكفارات مثل كفارة الصوم وكفارة اليمين وغير ذالك. والحاصل چي نسته په دين كي د اسلام مالا يجد العبد سبيلاً الى الخلاص من العقاب، وكان فيما سبق من الامم من الذنوب ما لاتوبة لها، او مقاتل ؒ وايي چي مراد له نفي څخه د حرج رخصت دى په وخت كي د ضرورت كقصر الصلوة الرباعية في السفر والتيمم عند عدم الماء والافطار في السفر والمرض، واكل الميتة عند الضرورة والصلوة قاعدًا ومستلقيًا عند العجز عن القيام او القعود وهو قول الكلبي ايضًا. وذالك معنى قوله ﷺ اذا امرتكم بشئ فاتوا ما استطعتم، او له ابن عباس ؓ څخه روايت دى چي مراد له حرج څخه هغه دى چي خداى ﷻ پر بني اسرائيلو باندي وضع كړي وه كقرض موضع النجاسة من الثوب وقتل الانفس في بعض المعاصي وعدم جواز مواكلة الحيض ومضاجعتها الى ان يطهرن، وعدم جواز التيمم عند عدم الماء وكون زكوتهم ربع المال وعدم جواز الصلوة في غير البيع التي مثل المساجد لنا وغير ما من الشدائد وقد وضعها الله عزوجل كلها عن هذه الامة المرحومة.

مِلَّةَ اَبِيْكُمْ اِبْرٰهِيْمَ ؕ

(ملة ابراهيم) منصوب على الاغراء (يعني باعثه كول) اى الزموا ملة ابراهيم (ابراهيم) عطف بيان دى د ابيكم. والظاهر انه خطاب للمؤمنين من قريش لان السورة مكية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: پر دې تقدیر د نورو مسلمانانو څه حال دی؟

ځواب: قال رسول الله ﷺ الناس تبع لقريش في هذا الشان الى الخير الحديث متفق عليه، وقيل خطاب لمؤمني جميع العرب من كانوا من نسل ابراهيم عليه السلام وقيل لجميع المسلمين من العرب والعجم لان ابراهيم كان جدًا للنبي ﷺ، او عليه الصلوة والسلام لكه اب د ټولو مسلمانانو لپاره فانه سبب لحيواتهم الابدية في الآخرة ولمصالح امورهم الدنيوية حسب ماجاء في القرآن الكريم والآحاديث النبوية او ددې سببه چې عليه الصلوة والسلام كالاب لجميع الامة حرم نكاح ازواجه المطهرة لجميع افراد الامة الى يوم القيامة، قال الله تعالى وازواجه امهاتهم، وقال عليه الصلوة والسلام انا لكم بمنزلة الوالد الى اخير الحديث.

هُوَ سَمّٰىكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ ۙ مِنْ قَبْلُ

خدای پاک پر تاسي امة محمدیه ۴ د مسلمینو نوم اینبی دی دمخه یعني تر نزول د قرآن في الكتب المتقدمة، او ابن الزيد وايي چې د هو ضمیر راجع دی و ابراهیم ته یعني ابراهیم ۴ تاسي مسمی کړي یاست په مسلمینو سره دده په دوره نبوت کې حیث قال ربنا واجعلنا مسلمين لک ومن ذريتنا امة مسلمة لک يعني اهل مكة.

درویش وایي: چې اوله معنی اولی او انسب ده لشمولها لجميع المؤمنين وفي هذا اى في القرآن سماكم المسلمين.

وَفِيْ هٰذَا لِيَكُوْنَ الرَّسُوْلُ شَهِيْدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُوْنُوْا شُهَدَآءَ عَلَى النَّاسِ ۚ

تاچې سي رسول یعني محمد (ﷺ) شاهد ستاسي پر اسلام (حرف جر متعلق دی په مضمون پورې د هو سماكم آه اى اعطاكم الاسلام وجعلكم مسلمين ليكون الرسول آه) او تاسي شاهدان سئ پر نورو کافرانو په دې سره چې رسولانو دوی ته تبلیغ کړی دی، دا هغه وخت چې کافران د نورو رسولانو منکر سي د تبلیغ د خپلو رسولانو ودوی ته، ابن المبارک ؒ په خپل سند صحیح سره روایت کړی دی چې اول سړی چې خدای پاک راوغواړي اسرافیل ۴ دی خدای پاک ورته ووایي چې تا ورساوه زما عهد او وصیت؟ هغه ورته ووایي نعم قد بلغته جبرئيل فيدعى جبرئيل فيقول هل بلغتک اسرافيل عهدي فيقول جبرئيل نعم، نو اسرافیل ۴ خوشي کړي، بیا جبرائیل ته خدای پاک ووایي ماصنعت في عهدي؟ تا څه وکړه زما په عهد کې،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جبرائیل ورته ووایي قد بلغت عهدک الرسل، بیا خدای ﷻ رسولان راوغواړي پوښتنه ځندي وکړي چي جبرائیل زما عهد تاسي ته رسولی دی؟ هغه ورته ووایي نعم، نو جبرائیل هم خوشي کړي، بیا رسولان مخاطب کړي چي تاسي زما په عهد څه وکړه؟ هغه هریو ورته ووایي چي ما ستا عهد تر خپل امت پوري ورساوه، بیا امم د رسولانو راوغواړي، چي تاسي ته دا زما رسولانو زما عهد درر سولی دی، نو مؤمنان د هر امت یې تصدیق وکړي او کافران یې تکذیب وکړي، نو رسولان ووایي چي مونږ پر دغو مکذبینو شاهدان لرو د تبلیغ، خدای پاک ورته ووایي چي څوک مو شاهدان دي؟ رسولان ورته ووایي امت د محمد ﷺ مو شاهدان دي، نو امت د علیه الصلوة والسلام راوغواړي، خدای پاک ورته ووایي اتشهدون ان الرسل قد بلغ الامم، فیقولون نعم، بیا د امم ماضیه کافران ووایي چي دوی څرنګه پر مونږ شاهدي اداء کوي دوی خو زمونږ زمانې نه دي نیولي، یعني زمونږ په زمانو کي خو امت محمدیه نه ؤ یعني دا شاهدي د دوی درواغ ده، خدای پاک وامت محمدیه ته ووایي چي تاسي څرنګه شاهدي پر اداء کوئ تاسي خو د دوی د زمانې خلک نه واست؟ امت محمدیه ورته ووایي یا ربنا ارسلت الینا رسولاً یعنون محمد ﷺ وانزلت الینا کتابًا یعني القرآن الکریم وقصصت علینا فیه ان الرسل قد بلغوا ولهذا قال الله وکذالک جعلناکم امة وسطًا (ای عدول) لتکونوا شهداء علی الناس ویکون الرسول (ای محمد ﷺ) علیکم شهیدًا، وقد مر تفصیل هذه المقام في تفسیر سورة البقرة عند هذه الآیة.

فَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

یعني همیشه توب کوئ پر لمانځه (ای الصلوة الخمس في اوقاتها مع ارکانها وواجباتها وسننها ومستحباتها مع الخضوع والخشوع) او ورکوئ زکوة د اموالو ای جمیع الطاعات وانما خص الصلوة والزکوة بالذکر لان الصلوة عماد الدین والزکوة قنطرة الاسلام کما جاء في الحدیث الصحیح، کریمه: ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر، یعني دا دوام پر طاعاتو شکرانه دي ده چي تاسي ته خدای ﷻ دومره شرف او فضیلت درکړی چي شهداء علی الناس یې وګرځولاست پر کفارو د امم سابقه ؤ في یوم القیامة کما مر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاعْتَصِمُوا بِاللّٰهِ

او تاسي، تکیه، توکل او اعتماد وکړئ پر خدای ﷻ باندي في جميع امورکم وحوائجکم او کومک مه غواړئ له غیر څخه د خدای ﷻ په هیڅ شي کي.

سوال: سړی چي ناجوړی سي مثلاً طلبِ د جوړوالي د طبیب او له دواء څخه کوي وهکذا یو سړی چي مظلوم وي د ظالم شکایت و حکومت ته کوي وعلی هذا فقس؟

ځواب: د مسلمان دا عقیده ده چي شافي الامراض خدای ﷻ دی او له ظالم څخه په خلاصون کي هم خدای ﷻ لکن په دار الاسباب کي اسباب هم ملغات نه دي لانه تعالی خالق الاسباب والمسببات.. ع: کشت کن پس تکیه بر جبار کن

قال ابن عباس ؓ سلوا ربکم یعصموکم من کل مایکره. او بعض مفسرین وایي چي خدای ﷻ ته خواست کوئ چي ثواب درکړي پر عبادت باندي.

هُوَ مَوْلٰىكُمْ ۚ فَنِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿٧٨﴾

خدای ﷻ ستاسي حافظ، ناصر او متولي د ټولو کارو دی (هو مولاکم) علت د اعتصام بالله تعالی دی).

فائده: کلمه د فا- لپاره د سببیت ده یعني اذا ثبت ان الله مولاکم کما مر فنعم المولی مولاکم ونعم النصیر نصیرکم، اذ لامثل له تعالی في الولایة والنصر بل لا مولی ولا نصیر في الحقیقة الا هو.

دروښ وایي: چي د اوولسم جزء تفسیر په فضل او توفیق د خدای ﷻ پریوه بجه د پنځشنبي د ورځي (۲۵) د رجب الخیر سنه (۱۴۳۰) هـ ق وپای ته ورسېدی او تفسیر د اتلسم جزء په پسي دی ان شاء الله تعالی.

ددي جزء تفسیر سره د یوي میاشتي تعطیل په سبب د عمرې او د زیارت د حرمینو شریفینو په څلور میاشتي تخمیناً وپای ته ورسېدی، وللہ الحمد والمنة.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعٰی فیه، آمین یارب العالمین

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثامن عشر

قد افلح ١٨

تفسیر ابی حنیف

خیر الاستغفار الاذکار

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتعويذ
كاسي روډ كوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْمُؤْمِنُوْنَ مَكِّيَّةٌ وَّهِيَ مِائَةٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَثَمَانَ عَشْرَةَ اٰيَةً وَّاَرْبَعُ رُكُوْعَاتٍ

رب يسر ووفق ولاتعسر علي

نبتيه د پيل په تفسير د جزء (۱۸) من القرآن المجيد يوم الجمعة (۲۵) شهر رجب الخير سنه (۱۴۳۰) هـ ق في كوئته في حجرتي في داري.

الحمد لله الذي وفقني لتفسير كتابه العزيز الى ان تم تفسير الجزء (۱۷) وارجوا من فضله العميم ان يوفق هذا العبد الذليل الجهول لتفسير جميع اجزاء قرآنه المجيد بفضله وكرمه القديم ليكون ذالک ثمرة حيوتي في هذا الدار الفاني ان تعالى على كل شئ قدير وبالاجابة جدير، كريمه: ادعوني استجب لكم والصلوة والسلام على من انزل عليه هذا القرآن العظيم رسوله الكريم شفيع المذنبين رحمة للعالمين. كريمه: وما ارسلناک الا رحمة للعالمين الذي جعل الصلوة والسلام عليه في كتاب رابطة قوية بين افراد امته وبينه عليه السلام، الحديث الصحيح من صلى علي في كتاب صلى عليه الملائكة مادام اسمي في ذالک الكتاب، والعبد الفقير حيث ما اتى على اسمه الجليل او على وصفه يعني النبي والرسول ما اكتفيى الى الصلوة باشارة ۳ او صلعم بل صليت عليه وسلمت كاملاً وعلى آله واصحابه الهاديين المهتدين الكاملين وعلى تبعهم وتبع تبعهم اجمعين.

احمد لمن قدر خيرًا وخبالاً ..... والشكر لمن ارسل الينا رسولاً
والحمد لمن انزل عليه قرآنا ..... والشكر لمن جعلني له مفسرًا

بغوي رح وايي قال ابو هريرة رضي الله عنه كان اصحاب رسول الله ﷺ يرفعون ابصارهم في الصلوة الى السماء (صحابه كرامو رضي الله عنهم به په لمانځه كي سترگې د اسمان و خوا ته پورته كولې) فلما نزل الذين هم في صلاتهم خاشعون (نو دوى به سترگې پر سجده گاه باندې نيولې وې)

قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ ۙ①

په تحقيق سعادت حاصل كړى هغو كسانو چې تصديق درلوونكي دي بما يجب الايمان به من توحيد الله عز وجل وجميع صفاته الجلالية والجمالية وايضًا بالبعث بعد الموت والجنة والنار وغيرها چې په امنت بالله وملائكته الى اخيره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ټوله بیان کړل سوي دي، وهذا هو مطلق الايمان لكن الفلاح الحقيقي لايحصل بمجرد الايمان زاد في هذه الآتية مايحصل به الفلاح الحقيقي الكامل.

فائده: لفظ د قد چې پر ماضي باندې داخل سي تثبت ماكان متوقعًا، نو چونکه مؤمنان اميدوار د فلاح بفضله تعالى وه، نو خداى ﷻ دا آيت مبتد ر په قد سره کړى بشارةً لهم، فلاح په قاموس کې وايي هو الفوز بالمقصود والنجاة من المرهوب والبقاء في الخير.

پوه سه: چې فلاح يو دنيوي ده من حصول المال والجاه والجلال وغيرها دا فلاح دلته نه ده مراد، بلکې مراد فلاح د آخرت ده په کامله توګه کمال يې دادى چې نه عذاب په قبر کې وويني او نه په ورځ د آخرت سختي په حساب کې وويني او نه سختي د تېرېدو د پل صراط وويني او بيا اعلى درجو د جنتو ورسېږي او مراتب د قرب الى الله ﷻ والرضوان الابدي منه تعالى، دا فلاح كامل منوط په فضل د خداى ﷻ او پر تكميل د صفات او افعال اتيه وو ده كما سيجئ، قال المحقق في شعره:

بقدر الكد تكتسب المعالي ..... ومن طلب العلى سهر الليالي

تروم العز ثم تنام ليلاً ..... يغوص البحر من طلب اللآلي

او يو فلاح في الجملة ده هغه موقوفه پر اتصاف بالصفات المذكورة نه ده والمراد بالفلاح المطلق دخول الجنة ولو بعد حين بلکې هغه په من قال لا اله الا الله محمد رسول الله لانه تعالى قال فمن يعمل مثقال ذرة خيرًا يره اى يرثوابه، او نفس ايمان او تصديق او توحيد وغير ذالک هم خير دى بلکې راس الخيرات فلابد ان يرثوابه ومحل الثواب هو الجنة ليس الا.

الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ ۝

هغه كسان چې دوى په لمانځه كې خشوع كونكي وي.

دروښ وايي: چې خشوع په اتفاق د مفسرينو الخوف او تذلل ته وايي ومع ذالک راغب اصفهاني په مفردات كې وايي واكثر مايوجد الخشوع على الجوارح الظاهرة كالنظر الى موضع السجود ووضع اليمين على الشمال وامثاله، والضراعة ويرادفه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الخضوع اكثر ما تستعمل فيما يوجد على القلب من العبادة على طريقة الاحسان يعني ان تعبد الله كانك تراه فان لم تكن تراه فانه يراك كما جاء في الحديث الطويل الذي رواه عمر ؓ وهو حديث متفق عليه، فالمقابل للخشوع (۱) اللعب بالثوب (۲) واللعب باللحية (۳) والالتفات في الصلوة يمينًا وشمالاً. وتفصيل ذالک ان الالتفات اما ايكون بمؤق العين (په کونج د سترګي) داخو مکروه نه دی لکن د کمال د لمانځه منافي دی، والالتفات بلي العلق (يعني غاړه يوه طرف ته وپېچي) داخو مکروه دی، وفي الحديث فان كان لابد ففي النفل، او بل التفات دی بلي الصدر (چې ځيګر له قبلې ځخه وپېچي دا مفسد د لمانځه دی) مطلقًا (۴) رفع البصر الى السماء كما روى البغوي ؒ عن ابي هريرة ؓ كان اصحاب رسول الله ﷺ يرفعون ابصارهم الى السماء في الصلوة فلما نزلت آية الخشوع رمي بابصارهم موضع السجود، وروى البخاري وابو داؤد والنسائي عن عائشة ؓ قالت سئالت رسول الله ﷺ عن الالتفات في الصلوة (تعني بلي العنق) قال هو اختلاس من الشيطان (يوه حمله ده د شيطان) يختلم (حمله کوي) من صلوة العبد (۵) اختصار في الصلوة (يعني لاس پرده وه ډي نيول) وقد ذكروا انه مكروه، وورد ان الاختصار في الصلوة راحة اهل النار والمعنى انه استراحة لليهود في الصلوة وانهم من اهل النار والا فاي استراحة في النار (۶) التمطى كشش کول په لمانځه کې (۷) والثباوب (اړمی) او ستړګي پټې نيول (۸) والتقليب الحصى من موضع السجود فان كان لابد فواحدة كما جاء في الحديث (۹) وتغطية الفم بالثوب (۱۰) والتشبيک يعني د ګوتو جار ايستل (۱۱) په ګوتو ټکان کول.

دروښ وايي: چې په دې کې اختلاف دی چې خشوع له فرائضو ځخه د لمانځه ده او يا د فضائلو ځخه د لمانځه او که د مکملاتو ځخه ده. والصحيح عندنا الثاني نعم الحق انه شرط القبول (نه ده روا والی د لمانځه) كذا في روح المعاني. واما الضراعة التي هي من الصفات القلبية ويراد فيها الخضوع دا ده چې لمونځ له ابتداء ځخه تر انتها پورې محضًا لرضى الرحمن والقرب بلا كيف اليه تعالى کوي، ولا يتفكر فيها في الامور الدنيوية فضلاً من المعاصي... بيت:

بر زبانت يا صمد پيدا و در دل ياصنم
اى بباطن كافر و ظاهر مسلمانى چه سود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مقابل د ضراعت دا شيان دي (۱) رياء وسمعة.

مسئله: د فرضي لمونځ په اداء کي رياء نسته البته په هيئت کي يې رياء ستد يعني د خلګو په حضور کي چې يې کوي په ښه تعديل الاركان او خشوع يې کوي او چې خلګ نه وي نه تعديل الاركان وي او نه خشوع، په دې صورت کي د نفس لمانځه ثواب خداى ﷻ ورکوي او د هيئت ثواب يې نسته لان الهيئة كانت لغير الله تعالى، او د نفلي لمانځه هم په اصل کي رياء سته او هم په هيئت کي مثلاً يو سړی وي چې په کور کي وي تهجد نه کوي او چې يو ځای مېلمه سي کور والا ته وايي چې ماته يو ګډوه اوبه راوباسه چې د تهجد لمانځه لپاره اودس په تازه کړم په دې صورت کي د اصل تهجد ثواب هم نسته لانه كان لغير الله.

حکايت: يو رياء کار پير چې يو مالدار سړی يې مريد ؤ يوه ورځ دا مريد و خپل پير ته وويل چې ما ښام ته او ستا زوی زما مېلمانه ياست، پير صاحب يې دعوت قبول کړی، نو مالدار سړي خپل د کور ښځو ته وويل چې ما ښام ښه مکلف خواړه پاخه کړئ ورځې، پوډنۍ او غورمه مثلاً پاخه کړئ چې پير صاحب مې ما ښام مېلمه دی، خير پير رياء کار صاحب د زويه د مالدار مريد کور ته ورغله، د دوډی پر وخت چې سترخوان اوار سو رقم رقم خواړه پر سترخوان کښېښوول سوه چې د مبالغې له کبله د سترخوان ساحه د لوښو له سببه تنګه سوه، خير دوډی چې شروع سوه پير صاحب له ښوروا څخه يو د رې ګولې وکړې وهکذا د ورځو وغيره څخه، نو ترشا سو يعني خوراک يې بس کړی، مالدار مريد ورته وويل چې صاحبه تا څونه لږ دوډی وخوړله د کور ښځو په قسم قسم خوراکي شيانو کې خوراز يار کښلی ؤ ته يو خو ګولې زما د زړه لپاره وخوره، پير صاحب ورته وويل چې زما داغه خوراک دی کفه دپره دوډی وخورم بيا خوب راځي او د شپې تهجد او اذکار نسم پوره کولای، خير د پير زوی ښه خان مور کړی، سترخوان چې تول سو مريد پير صاحب ته وويل چې د ماخستن لمونځ به تاسو دلې په مېلمه سرای کې په جماعت راکړئ تېر ګا، نو پير صاحب دمخه سو په دپره خشوع او تعديل الاركان سره يې لمونځ ورکړی، خير خو د مريد څخه يې رخصت واخستی، کور ته چې ورغلی ماښې ته يې وويل چې ته سترخوان او دوډی راواخله دپره وړی يم، ماښې ښې ورته وويل چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپل مالدار مرید په کور کي دي ولي ځان نه مړاوه؟ پیر صاحب ورته وویل بنځي ته ډېره ناپوه یې که ما د مالدار پرستر خوان د خپل نس په اندازه ډوډۍ خوړلې وای د مرید عقیده خرابېدل دده په زړه کي دستي دا وړلو بدل چې دا څرنګه نسور او خټور پیر دی، خیر ماینې یې ورته وویل چې په کور کي چې څه پخ کړی شی ؤ یعني ښورو اغوښي مثلاً هغه ځو ما او د کور کوچنیانو سره وخوړل وچه ډوډۍ خو سته، پیر ورته وویل چې وچه ډوډۍ او اوبه راواخله، نو پیر صاحب به ډوډۍ په اوبو پوري تېرول حتی دریاب نس یې تر پزې مور کړی، زوی یې ورته کتل، نو زوی یې ورته وویل چې بابا لمونځ هم راوګرځوه ولي چې تا خو په کور کي داسي لمونځ نه کاوه لکه د مالدار مرید په کور کي چې دي ادا، کړی انتهى القصة.

دروښ وایي: چې دا ؤ هیئت د ریاء د لمانځه... بیت:

بروی وریاء خرقه سهلست دوخت..... اگر باخدا درفروشی نکوست

په صحیح حدیث کي راغلي دي چې په ورځ د قیامت به خدای پاک و مشرکانو او ریاء کارانو ته ووایي چې انا اغنی الشرکاء عن الشرک یعني د شریکي عبادت څخه بې نیازیم، نو که چا زما سره په عبادت کي شریک نیولی وي هغه سړی دي د خپل عبادت ثواب د هغه چا څخه وغواړي چې ده زما سره شریک ګرځولی ؤ زه د هغه شریکي عبادت څخه بېزاریم.

مسئله: (۱) که یو سړي په ښه اخلاص او خلوص نیت لپاره د خدای په مسجد کي نفل لکه د تهجد لمونځ کاوه، وروسته مسجد ته څوک راغلی او دی په زړه کي خوشاله سو چې دې سړي ته د تهجد پر لمانځه ولیدلې، نو اعتبار اول نیت لره دی او د ریاء نه ده (۲) په دنیا وي شیانو کي لکه د کاندارۍ یا یې پر چا پور باندې وي او یا د یو تجارت فکر وهي یا د یوې ښځې د نکاح په اسبابو کي فکر وهي الی غیر ذالک الصلوة صحیحة وتلک الافکار الفاسدة مخلة لکمال الصلوة.

پوښتنه: په لمانځه کي بلا اختیار د سړي په زړه کي بعض خیالات راځي، نو ددې چاره یې څه؟

ځواب: سړی دې په لمانځه کي د داسي شي فکر وهي چې هغه في ذاته عبادت وي مثلاً په لمانځه کي د حج یا د عمرې یا د طواف الکعبة فکر دې وهي یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دیوې صدقې او زکوة فکر دي وهي یا د صلة الرحم د قریب سره الی غیر ذالک.

دروښ وایي: چې ابن ابی شیبة او احمد په کتاب الزهد کي والحاکم او حاکم د دې حدیث تصحیح هم کړې ده له حذیفه رضی الله عنه څخه یې داسي روایت کړی دی اول ما تفقدون من دینکم الخشوع واخیر ما تفقدون من دینکم الصلوة وتنتقض عُری الاسلام عروةً عروةً، له امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې ده به ویل چې زه پر لمانځه ودریږم د دې فکر راسره پیدا سي چې پر کوم طرف د کفارو به غزا، ته ځې یا به سریه یعني کوچنۍ دلګۍ د مسلمانانو به یو طرف د کفارو استوې، دا د دې سبب چې امیر المؤمنین د غزواتو دپر عاشق وُ، هم دا سبب وُ چې د تاریخ په پانو کي راغلي دي چې یوه وخت ده یوه سریه چې قومندان یې ساریه رضی الله عنه وُ پریوه خوا استولې وه، د جمعې ورځ وه امیر المؤمنین پر خطبه ولاړ وُ د خطبې په منځ کي یې په لوړ اواز وویل یا ساریة الجبل الجبل، یعني یا ساریه د غره له خوا څخه وببر پره، په دې وخت کي د مسلمانانو او کفارنو تر منځ جنګ د یو غره په لمن کي روان وُ او کافرانو دا حیله جوړه کړې وه چې یو څو نفر دي د غره له خوا پر مسلمانانو راشوه سي چې مسلمانان په منځ کي راولي او شکست ورکړي، امیر المؤمنین عمر رضی الله عنه د مدینې له منبر نبوي څخه دا حیله ولیدل او پر ساریه رضی الله عنه یې نارې وکړه یا ساریة الجبل الجبل یعني احذر الجبل یعني د غره څخه وببر پرېږئ، ساریه رضی الله عنه دا اواز د امیر المؤمنین واورېدی لښکر ته یې حکم وکړی چې غره ته پورته سئ امیر المؤمنین نارې وهي، نو غره ته چې پورته سوه د کفارو هغه حیله یې ښکاره کړه او خدای جل جلاله مسلمانانو ته فتح ورکړه.

سوال: له مدینې څخه د جنګ تر ځایه یعني نهاوند خو دیوې میاشتې د پښو مسافت وُ، نو عمر رضی الله عنه څرنګه خپل لښکر ولیدی او بیا د دومره لرې ځای څخه چې په هغه زمانه کي نه تلیفون وُ او نه هم موبائل، نو د عمر رضی الله عنه برغ څرنګه ورورسېدی؟ او بیا قومندان ساریه رضی الله عنه دا اواز څرنګه واورېدی؟

ځواب: دا سوال بناء دی د عقل پر قانون، لکن قدرت د خدای جلا شی دی، په حدیث صحیح قدسي کي راغلي دي لایزال العبد یتقرب الي بالنوافل (همیشه بنده یعني مسلمان ماته نژدې کیږي په قرب معنوي سره لابقرب المسافة په نفلي عباداتو سره) یعني ورو سته تر دې چې فرائض خمسه یې پر ځای کړي وي لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱) کلمة التوحيد (۲) صلواة خمسة مفروضة (۳) صيام شهر رمضان (۴) الحج (۵) والزکوة ان کان غنيًا في الآخيرين، په نفلي سره ددغو فرضي طاعاتو لکه کثرت تکرار د کلمة التوحيد او نفلي لمونځونه کالتهجد وغيره من الصلوة النافلة، ونوافل الصيام خصوصًا الايام البيض من کل شهر ۱۳/۱۴/۱۵ وعشر ذی الحجة وغيرها وبالحجج النفلية والصدقات النفلية المالية خصوصًا صلة الرحم وانفاق الغزاة في سبيل الله حتی اکون له سمعًا بي يسمع (يعني زما په قدرت سره دلبري ځای څخه اوري) وبصرًا بي يبصر (او زما په قدرت سره ده پر لبري وينې) ويدًا بي يبطش (او زې لاس سم په ما سره يعني تينګول کوي يعني زما په قدرت سره پر دښمن غالبه کيږي لکه په بدر کي چې ۳۱۳ مؤمنان خدای ﷻ غالبه کړه پر ټخمينًا (۱۰۰۰) کافرانو چې (۷۰) يې ځندي مړه کړه او (۷۰) ژوندي ونيول.

دروښ وايي: چې د دې حديث په رڼا کي د عمر رضی الله عنه خپل لښکر په ټهاوند کي ليدل او نعره ورته کول يا سارية الجبل، او د ساريه رضی الله عنه اورېدل حل سوه.

پوه سه: چې روح المعاني د دې آيت په تفسير کي وايي الذين هم صلاتهم آه هذا وما عطف عليه صفات مخصصة للمؤمنين يعني کمال فلاح او مقام د قرب الهي و دغو مؤمنانو ته حاصل ده چې دغه خواص پکښې موجود وي، ثم قال وفي بعض الاثار ما يؤيد کونها مخصصة، او مظهري رح وايي چې په قلت (يعني په خپل رايه تولې مؤمنان پکښې داخل کړي دي له سياق ځخه د آيت لږي خبره ده) والله اعلم.

وَالَّذِيْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ۝۳

او هغه کسان يعني کامل مؤمنان چې د لغوه ځخه اعراض کونکي وي، ابن عباس رضی الله عنه تفسير د لغوه په شرک سره کړی دی، او حسن رح وايي المعاصي، لکن بنه تفسير شامل دادی چې د هغه شي ځخه چې دوی ته په اخرت کي فائده نه وي که قول وي او که فعل او په مفردات کي وايي چې لغوه من الکلام هو الذي يورد لاعن روية وفکر (لغا) په اصل کي اواز ته د چوغکو او د نورو مرغانو وايي، او هر کلام قبيح ته لغوه وايي (معرضون) يعني اعراض کونکي، نو چې مؤمن کامل د لغوه قول او فعل ځخه ځان ساتي، نو ارتکاب د شرک او نورو کبيره معاصيو ځخه څرنګه ځان نه ساتي، او بعض مفسران تفسير داسي کوي چې مقابله د کفارو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ښکنځولو سره کوي کما في قوله تعالى واذا مامروا باللغو مروا كراما، يعني كلام قبيح واوري خپل د ځان عزت وساتي په كلام قبيح كي ګډون نه ورسره وكړي لكن مع هذه التفاسير الخاصة تفسير سابق اشمل اولى دى.

وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكٰوةِ فٰعِلُونَ ۝٤

پوه سه: چي مظهري رح وايي چي لفظ د زكوة پر قدر واجب الذي يخرجه المزكى عن ماله كېږي او پر ده فعل د مزكى يعني وركول د زكوة هم كېږي، والمراد ههنا الفعل لان الفاعل انما يفعل الفعل دون العين وهو المال انتهى.

دروښ وايي: چي له دې قول څخه دا معلومه سوه چي ده زكوة په معنى اصطلاحي ګرځولى دى، لكن پر ده دا سوال وارديږي چي دا سورت تولـه مكي دى او د زكوة فرضيت خو په مدينه كي سوى دى؟ ددې سوال په ځواب كي كه څه هم روح المعاني داسي توجيه كړې ده چي د زكوة فرضيت په مكه كي نازل سوى دى لكن تعيين د نصاب د سرو او سپينو زرو وكذا نصب زكوة المواشي په مدينه كي سوى دى انتهى.

دروښ وايي: چي فرضيت د زكوة شرعي بېله تعيين د نصابو څه فائده لري كما لايخفى، او روح البيان او تفسير خازن له زكوة څخه معنى اصطلاحي اخستې ده، ويرد عليه مايرد على المظهري وقد مر آنفًا.

دروښ وايي: چي د چون و چرا خلاص تفسير ددې آيت هغه دى چي ابو مسلم كړى دى، دى وايي چي مراد له زكوة څخه دلته عمل صالح دى كما في قوله تعالى خيرًا منه زكاة اى عملاً صالحًا، او راغب لغوي اصفهاني رح وايي چي مراد د زكوة څخه دلته په معنى د طهارت دى، واللام للتعليل والمعنى الذين يفعلون ما يفعلون من العبادة ليزكيهم الله او ليزكوا انفسهم، او طيبي د صاحب الكشف څخه روايت كړى دى قال صاحب الكشف ومعنى الآية الذين هم لاجل الطهارة وتزكية النفس عاملون الخير انتهى، او دې قول ته اشاره په دې آيت كي كريمه: وقد افلح من زكها وقوله تعالى قد افلح من تزكى وذكر اسم ربه فصلى.

دروښ وايي: چي باعث پر هغو مفسرينو چي د زكوة څخه معنى شرعي اخلي دادى چي په قرآن عظيم الشان كي چي هر ځاى اقيموا الصلوة وآتوا الزكوة راسي معنى له زكوة څخه معنى شرعي ده، والجواب عنه چي په دې ځاى كي متصل نه دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره دراغلي. اذ قال الله تعالى الذين هم في صلاتهم خاشعون وروسته يې والذين هم عن اللغو معرضون بيا يې ارشاد فرمايلى دى والذين هم للزكوة فاعلون. نو كه له زكوة څخه معنى شرعي مراد وايي. نو بايد په هغه آيت پورې الذين هم في صلاتهم خاشعون متصل دا آيت راوړى واى والذين هم للزكوة فاعلون. نو به دا نظير د قوله تعالى اقيموا الصلوة وآتوا الزكوة كرخيدلى واى فالفصل بقوله تعالى والذين هم عن اللغو معرضون، يشير ايضًا ان المراد بالزكوة ليس المعنى الشرعي.

دروښ وايي: هذا تحقيق هذه الآية بقدر الطاقة والله اعلم بمراده في كتابه، فقير دا تحقيق او مخالفت د مظهري او روح البيان د خپلي رايي څخه نه دى كړى بلكې د نورو اهل لغت او تفسير مي نقل كړى دى كما اشرنا اليه عنقريب فتدبر وخذ ما صفى ودع ماكدر.

وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حٰفِظُونَ ۙ﴿۵﴾

او هغه كسان دي كامل مؤمنان چې دوى ساتي يعني له حرام څخه، واللام في قوله لفروجهم للتقوية.

پوه سه: چې فرج او فرجة چاك ته وايي بين الشيئين كفرجة الحائط والفرج مابين الرجلين چاك ته وايي، او دلته كنايه ده د فرج او دبري څخه د ښځي او د ذكر او دبري څخه د نر، چونكه الذين مذكر دى او وروسته استثناء د على ازواجهم رائي. نو ځكه معنا كنايي په ذكر سره د نرو زېبا ده.

اِلَّا عَلٰٓى اَزْوَاجِهِمْ

مګر نه پر مايڼو.

پوه سه: چې زوج نر او ښځي دواړو ته وايي آية كريمه خطابًا لآدم عليه السلام اسكن انت وزوجك الجنة.

فائده: دا وصف دى بالعفة اى الكف عن الزنى واللواطة.

پوښتنه: په دمخه آيت كي راغله والذين هم عن اللغو معرضون، نو په لغوه كي زنى او لواطت هم داخل وه فما الحكمة في الاستثناء؟

ځواب: هو! الا انه صرح به اعتناءً بشان الكف عن الزنى واللواطة.

دروښ وايي: چې فراء وتبعه مالك وغيره رح وايي چې ان على ههنا بمعنى من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی ای الا من ازواجهم کما ان من بمعنی علی راغلی دی في قوله تعالی: ونصرناه من القوم ای علی القوم، فقیر وایي چي دا ډېره په زړه پوري ترجمه ده او تکلف هیڅ نسته پکښي، روح المعاني د علی زوجاتهم په باره کي ډېري اوږدې خبرې کړي دي فراجع الیه، او مظهري ؒ وایي چي علی متعلق په حافظون پوري دی په دلیل ددې محاورې احفظ علي عنان فرسي یعني زما د آس ملونې مه ایله کوه زما لپاره، نو دلته یې معنی داده چي د فروجو واګي دې نه ایله کوي مګر پر خپلو ماینو فافهم.

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ ۝٦

یا هغه مینځه چي په ملک یمین کي د چا وي (که خپله مینځه یې وه خو په ملک یمین یې وطي ورته روا دي او که د بل مینځه وه په نکاح یې وطي ورته روا دي لکن بعد النکاح یې و مالک ته وطي روا نه دي) د غه حافظون لفروجهم نه دي ملامت یعني په شریعت کي په جماع د ماینو او د مینځیانو.

فائده: ملک یمین که څه هم بنځي ته هم پیدا کېږي یعني چي یوه حُره بنځه وي نر مریی رانسي لکن په دې ملک سره بنځي ته نه دی روا چي ددې مریي سره وطي وکړي باجماع الامة، قتاده ؒ وایي چي په زمانه کي د خلافت د امیر المؤمنین عمر ؓ یوه بنځه وه چي مهره یې نه درلوده ی یو مریی یې ؤ چي له هغه څخه یې د وطي کار اخستی، چا ددې بنځي حال امیر المؤمنین عمر ؓ ته ورساوه، نو عمر ؓ راوغوښتل او ورته وه یې ویل چي تا د څه شي لپاره دا مریی ساتلی دی، هغې ورته وویل چي زما دا خیال ؤ لکه چي نر په ملک یمین د بنځي سره جماع کولای سي ماته به هم روا وي چي په ملک یمین سره وطي وکړم د څپل مریي سره، نو امیر المؤمنین ؓ د صحابه کرامو ؓ سره په دې باره کي مشوره وکړه، نو هغو ورته وویل چي دې بنځي ترجمه د کتاب الله یعني ما ملکت ایمانهم پر خلاف د ما انزل الله کړې ده، نو عمر ؓ ته ډېر درد ورغلی او بنځي ته یې وویل چي زه ستا د نکاح د حر سړي سره هم اجازه نه درکوم دا ستا عقوبت دی او مریي ته یې وویل چي بیا وطي ورسره ونه کړې.

پوښتنه: بنځي ته یې حد نه کړی ور؟

ځواب: لان الحدود یندرء بالشبهات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که یوه ښځه د مریي په نکاح کي وه او دا ښځه مالکه د زوج مریي سوله یعني دې رانیوی یا چا ورهبه کړی ښځي په حال کي د ملک هغه ازاد کړی نکاح یې فسخ سوه عند علماء الامصار. او مام نخعي، امام شعبي او عبیدالله بن عبدالله رحمهم الله وایي چې پر نکاح سابق سره پاته دي.

فائده: قاضي بیضاوي وایي چې کلمه د ما چې د غیر ذوی العقول لپاره ده یعني علی ماهو المشهور اجزاءً للمالیک مجری غیر ذوی العقول، ولي چې اصل ملک نو شائع په غیر ذوی العقول کالحیوانات. مظهري ؒ وایي چې مراد له مملکت څخه مینځیانې دي والنساء لقلة عقلهن ملحقات بغیر ذوی العقول ولذالک یستعمل ضمائر التانیث لغیر ذوی العقول، نو کلمه د ما چې یې راوړه لپاره د دلالت پر دې چې مراد له ما مملکت څخه ښځي دي نه مریان فلا یحل للنساء الاستمتاع بفروج عبیدهن کما مر عن قریب.

فَمَنِ ابْتَغٰى وَرَآءَ ذٰلِكَ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْعٰدُوْنَ ۝

که څوک طلب وکړي د ماسوا د ازواجو او د مینځیانو یعني چې ذکر په هغه کي استعمال کړي، نو دغه کسان دي کامل په ظلم کي او په تجاوز کي له حلاله و حرام ته. په ماسوی ذالک کي زنی، لواطت او استمناء بالید ده یعني په خپل لاس ځان ازالول فانه حرام عند العلماء، ابن جریج ؒ وایي چې ما پوښتنه وکړه له عطاء ؒ څخه په باره کي د استمناء بالید قال هو مکروه، ده وویل چې ما اورېدلي دي له علماؤ څخه چې یو قوم به حشر سي په ورځ د قیامت او لاسونه به یې حبالی وي یعني لکه ښځه امیدواره به وي زما دا خیال دی چې دا به دغه کسان وي چې استمناء بالید یې کوله، وعن سعید بن جبیر ؒ عذب الله امة کانوا یعبثون بمذاکیرهم چې په لاسو کي یې عبث کار کاوه یعني الاستمناء بالید به یې کوله.

پوه سه: چې دا آیت ناسخ دی لمتعة النساء چې شیعه ګان یې صیغه بولي، له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې متعه په ابتداء کي د اسلام رواوه، هغه داسي چې یو سړی بېګانه ښار ته ورغلی چې هلته به یې څوک نه پېژندی، نو به یې ښځه په نکاح کړه تر هغه وخته پورې چې دده به نیت دا اقامت وُ په هغه ښار کي، او ولور به یې هم ورکړی او دې ښځي به خپل کور درلودی د متعې د مېړه شیان به یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هوري ورخوندي کوله او ډوډۍ وغيره به يې هم ورپخوله، او دې سړي به ددې سره جماع کولې ترهغو پورې چې مده مشروطه به پوره کېدل. ابن عباس ؓ وايي چې دا آيت چې نازل سو (الا علی ازواجهم او ماملکت ایمانهم) فکل فرج سواهما حرام رواه الترمذي. دليل دادی چې د متعه د عقد بنځه خو نه د سړي مينځه ده ولي چې حره بنځه ده، او نه يې ماينه ده ولې که يې ماينه وای يو د بله بې ميراث سره ورلای ولاتوارث بينهما بالاجماع، حتی چې روافض چې متعه روا بولي توارث نه وايي، وقد قال الله تعالی ولکم نصف ماترک ازواجکم آه.

فائده: و حر سړي ته تر څلورو ماينو پورې روا دي او مينځيانې هر څو چې وي روا دي.

فائده: د حيوان وطي لکه د خرې مثلاً په ما وراء ذالکم کي داخل دي، نو وطي يې حرامي دي.

مسئله: د ماينې وطي که څه هم حلالي دي لکن په شرط ددې چې په حيض او نفاس او احرام کي يا فريضي روژه يې نه وي والا فوطيها حرام، په خلاصة الفتوی کي وايي که روژه دار سړي استمناء وکړه پر ده قضاء د روژې سته لکن کفاره نسته.

پوه سه: چې په صحيح حديث کي راغلي دي قال عليه الصلوة والسلام ومن لم يستطع (ای التزوج) فعليه بالصوم يعني نفلي روژې دي نسي لکسر شهوته، نو که استمناء روا وای. نو دا لار اسانه ده تر صوم وه کذا في انوار المشارق، بلکې بعض علماء وايي چې که پرچا استمناء ثابته سي قاضي دي تعزير ورکړي وکذا في وطي البهائم.

مسئله: که يو بنځي چې مينځه يې درلوده مېړه ته يې وويل چې زما اجازه ته که وطي ورسره کوې، جمهور علماء پر دې دي چې وطي د مينځي د ماينې په اجازه د ماينې نه دي روا، او دا په وراء ذالک کي داخل دی فيحرم، وهو قول الحسن وابن سيرين ؒ وروی ذالک عن ابن عمر ؓ دی وايي چې نه دي روا د غير څخه د فرج د ماينې الا فرجًا ان شئت بعت وان شئت وهبت وان شئت اعتقت، د ماينې مينځه خو داغسي نه ده، رواه ابن ابی شيبة وعبد الرزاق عن ابن عمر ؓ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ ﴿٨﴾

او هغه کسان دي کامل مؤمنان چې د امانانو يعني چې يو چا وده ته امانت کښښو دی مراعات کوي يعني عند الطلب يې و مالک ته سپاري او خيانت نه پکښې کوي او داغه رنګه هغه وعدې چې د دوی څخه اخستل سوي دي د هغو مراعات يعني هغه وعدې پر ځای کوي سواء کانت العهود من جانب الحق جل وعلى کالصلوة والصوم وغيرهما من العبادات التي اوجبها الله على عباده او من جهة الخلق کالودائع وما واعد الناس وعاقدهم فعلى العبد الوفاء بکلها. محمد بن الفضل رح وايي چې اې بنده ستا الدامونه تهوله امانات دي د خدای ﷻ په هر الدام کې خدای ﷻ امر کړی دی (۱) امانت د ستر گو دادی يعني په دې نعمت کې امر د خدای ﷻ دادی چې نا محارمو ښځو ته به په شهوت نه ګورې او په مخلوق کې د خدای ﷻ د ستر دلارې په عبرت ګورې... سعدي شيرازي رح وايي:

برگ درختان سبز در نظر هوشيار ..... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

(۲) په امانة السمع کې امر د خدای ﷻ دادی چې غوږونه به ساتي د لـه اوريدلو څخه د لغوه او رفثاو مجالس ته د ذکر قرائة القرآن او د تبليغ به حاضريږي هغه به په اوزي (۳) په امانت کې د ژبې امر د خدای ﷻ دادی چې قرائة د قرآن به په کوي او ذکر د خدای ﷻ به په کوي الى غير ذالک او غيبت د چا او بهتان به پر چا نه په وايي (۴) په امانت کې د پښو امر د خدای ﷻ دادی چې پر پښو به د عبادت لپاره مساجدو ته ځي چې لمونځونه په جماعت وکړي او پر پښو به غزواتو ته ځي او په حج او عمره کې به طوافونه سعي د صفا او مروه به په کوي الى غير ذالک من العبادات التي بالرجل (۵) په امانت کې د خولې امر د خدای رح دادی چې حلال خواړه به په خوري له حرامه به يې ساتي (۶) په امانت کې د لاسو امر د خدای رح دادی چې حرام ته به يې نه غځوي او د في الشرع کار څخه به يې نه سپموي (۷) او په امانت کې د زړه چې رئيس البدن دی خوف الهي ته به قرار پکښې ورکوي او همېشه به په حضور القلب عبادت د خدای ﷻ کوي ومراعات الحق على دوام الاوقات حتى لايشغل القلب الا بذکره ولايسکن الى غيره ولا يطمئن الا بذکره تعالى. (الا بذکر الله تطمئن القلوب) وفي الحديث الصحيح اشار رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی الجانب الایسر من الصدر وقال النقوي ههنا التقوی ههنا.

وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَٰتِهِمْ يُحَافِظُونَ ۝

او د کامل مؤمنانو یو خصلت به دا وي چې پر صلوة خمسه به دوام کوي او په خپلو اوقاتو به يې کوي بشرائطها وادابها.

سوال: الذين هم في صلوتهم خشعون: او دا آیت به تکرار نه وي؟

ځواب: لا! ولي چې خشوع په لمانځه کې غیر له محافظت څخه کما لایخفی.

نکته: خدای ﷻ ابتداء د اوصافو د کامل بندګانو په ذکر سره د لمانځه وکړه او ختم د اوصافو د کامل بندګانو به هم په لمانځه وکړي لپاره د تعظیم د شان د لمانځه کما ورد في الحدیث الصحیح الصلوة عماد الدین الی اخیر الحدیث.

پوښتنه: خدای ﷻ په خشوع کې لفظ د صلوة مفرد راوړی حکمت يې څه دی؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چې په جنس لمانځه کې له خشوع څخه چاره نسته که فرض وي او که واجب وي که سنت وي او که نفل وي لان لفظ المفرد یدل علی الجنس. او په محافظت کې د لمونځو يې لفظ د جمع راوړی لپاره د دلالت پر انواعو د لمونځو من الفرائض والواجبات والسنن وغیرها.

أُولَٰئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ ۝

دغه کسان چې موصوف په دغو صفاتو مذکوره سره وي، دوی دي وارثان وبس کمایدل علیه ضمیر الفصل حق داره ددې چې وارثان وبلل سي دون غیرهم.

پوه سه: چې دا جمله معترضه لپاره د مدح ده.

الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝

پوه سه: چې الذین یرثون الفردوس صفت کاشفه دی د الوارثون، یا يې عطف بیان دی یا يې بدل دی هر یو چې سي په دې کې بیان د مایرثونه.

فائده: وراثت يې اول مطلق ووایه یعني هم الوارثون بیا يې مقید ووایه یعني الذین آه لپاره د تعظیم د وراثة او د تاکید د وراثت.

فائده: فردوس اعلی د جنتو دی او اوسط د جنتو دی وافضلها پر دې تقدیر هغه حصر چې مورد ذکر کړی د جنت په دغو کسانو کې چې موصوف په دغو صفاتو سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هيڅ اشكال نسته پكښې، ولي هغه كسان چې موصوف په دغو صفاتو سره نه وي وان دخل الجنة يرث الفردوس التي هي افضلها (هم فيها خالدون) دوی به په فردوس كي همېشه وي والضمير راجع الى فردوس والتانيث باعتبار المعنى كما مر قريبًا.

فائده: ابن الشحنة وايي چې فردوس په اعتبار د لفظ مذكر دی او په اعتبار د معنی چې جنت دی مؤنث نو د مذكر او مؤنث دواړه ضمير ورته راجع كېږي.

فائده: په لفظ كي د ارث اشاره و تاكيد ته د استحقاق د دوی ده لان الارث من اقوى اسباب الملك الاترى انه لا يرد بالرد بخلاف الهبة والصدقة وغيرهما حيث يرد ان بالرد، اخرج سعيد بن منصور وابن ماجة وابن جرير وابن المنذر عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ چې نسته د تاسي (يعني نفس انسان كه مسلمان وي كه كافر) مگر هر يوه لره دوه ځايه سته يو ځای په جنت كي (اشاره ده و ډېرې فراخي ته د جنت يعني كه فرضًا ټوله انسانان مؤمنان وايي په جنت كي بې ځای وايي) ومنزل في النار (اشاره و فراخي ته د دوزخ ده يعني كه ټوله انسانان كافران واى په دوزخ كي به ځاييدله) نو يو انسان چې كافر وي او مړ سي او دوزخ ته داخل سي. ورث اهل الجنة منزله في الجنة فذالك قوله تعالى اولئك هم الوارثون.

دروېش وايي: چې وكذالك العكس يعني چې مؤمن مړ سي ودخل الجنة يرث الكافر منزله في النار.

فائده: د خلود معنى داده چې نه به دوی مړه كېږي او نه به له جنته ايستل كېږي.

فائده: دا چې ذكر سوه په دې آيتو كي چې لس خويه دي چې جامع د ټولو ابواب د خير دي ولهذا صحح عن النبي ﷺ انزل على عشر آيات من اقامهن (يعني عمل يې په وكړی) دخل الجنة ثم قرء قد افلح المؤمنون حتى ختم عشر آيات.

دروېش وايي: چې په تفسير د سورة الفاتحة للمولى الفناري رح راغلي دي چې جنتونه درې قسمه دي، الاولى: جنة الاختصاص يعني الفضل الالهى وهي التي يدخلها الاطفال الذين لم يبلغوا حد العمل، ددې اطفالو اندازه د اول زېږيدو څخه وېستل صار څا تر څو چې لس كاله عمر پر تېرېږي، او صحيح داده چې تر دې حده چې دنېك عمل او د بد عمل تميز كولای سي، ويعطى الله من جنات الاختصاص من شاء ماشاء او د جنت اختصاص اهل دي هغه لهونيان چې په شي نه پوهېږي، ومن اهل هذه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنة اهل التوحيد العقلي، ومن اهلها اهل الفترات ومن لم يصل اليهم دعوة الرسل كسكان شواهق الجبال، او دويم قسم جنة الميراث يرثها المؤمنون من المواضع التي عينت لاهل النار كمامر، او درييم قسم جنت الاعمال وهي التي ينزل فيها باعمالهم فمن كان افضل من غيره باعتبار الاعمال كان له من الجنة اكثر واكبر انتهى.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِّنْ طِينٍ ﴿١٢﴾

(اللام موطئة لقسم محذوف، والمراد بالانسان جنس الانسان في ضمن خلق آدم خلقا اجماليًا او المراد آدم ؑ) من سلالة من طين: اى من خلاصة چې پاک سوي د کدوراتو څخه د څټو دي، وكلمة من الاولى للابتداء وكلمة من الثانية لبيان سلالة اى سلالة هي طين، او يا صفت دى اى سلالة كائنة من طين.

پوه سه: چې آدم عليه السلام د مخكي د مخ هر قسم خاوره راتوله كړل سوې وه كه خوږه خاوره وه او كه تروه او كه ترخه او كه شيګلنه او كه پسته ولهذا جاء اولاده على طباع شتى كما جاء في الحديث الصحيح. او نور انسانان بيا له نطفو څخه پيدا سوي دي چې دا نطفې له غزايي موادو څخه د مخكي پيدا سوي دي، وفي الجلالين اى من خلاصة سلت من بين الكدر آه.

فائده: كلمه د واو في ولقد آ د استينافيه ده، وهذا الواو كثير في الهداية، ولقد تكلف المظهري ؒ في جعلها عاطفة متابعة لابن عطية وقال صاحب روح المعاني وفيه نظر فارجع.

ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿١٣﴾

بيا موږ وګرځاوه جنس الانسان باعتبار افراده المغايرة لآدم، نو ضمير مذكر راجع دى و جنس ته چې له ماقبله وفهميدى، او بعض مفسرين مضاف محذوف بولي اى نسله، نو ضمير انسان ته راجع دى، وما قال المظهري ؒ چې ضمير سلالة ته راجع دى په تاويل د مسلول فبعيد.

فائده: نطفه صافو اوبو ته وايي دلته تعبير دى له اوبو څخه د نر (في قرار) اى مستقر وهو رحم المرئة عبر عن الرحم بالقرار الذي هو مصدر مبالغة (مكين) يعني محكمه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چې مکين صفت دی د قرار چې مراد ځندي رحم ؤ لکن دا صفت په اعتبار د ما استقر فيها روح البيان.

فائده: څلوېښت ورځې صافي سپيني اوبه وي، تفسير حسيني بالترجمه.

ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً

وروسته يعنې تر څلوېښت ورځې موږ وګرځول نطفه چې سپيني اوبه وې (علقة) سرې جامدې وينې لکه د هينې توته، وروسته موږ وګرځول هغه علقه يوه توته د غوښو يعنې لکه سرې چې غوښې وژويي،

فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظٰمًا فَكَسَوْنَا الْعِظٰمَ لَحْمًا

موږ وګرځول هغه مضغه هډوکي يعنې لکه هډوکي يعنې هډوکي مو پکښې پيدا کړه، او موږ واغوستل په هغو هډوکو يعنې مما بقي من المضغة غوښې، او لحمًا منصوب په نزع د حرف جر ده اى كسون العظام بلحم.

فائده: عظام يې دواړه ځايه جمع راوړه په سبب د دې چې هډوکي په هيئت کې يعنې بعض پټه وي او بعض نرې بعض اوږده وي او بعض لنډه وي، بعض مستوي بعض کاږه وي او داغه رنګه په ټينګوالي او په سستوالي کې فرق سره لري بخلاف النطفة والعلقة والمضغة فانها متشابهة الاجزاء كما لايخفى.

ثُمَّ اَنْشَاْنٰهُ خَلْقًا اٰخَرَ

بيا موږ پيدا کړی ضمير راجع دی د انسان ته که مراد ځندي جنس وي او که آدم وي (خلقنا آخر) مفعول مطلق دی د انشاء نا من غير لفظه اى خلقناه خلقًا آخر.

بوه سه: چې ابن عباس، مجاهد، شعبي، عكرمه، الضحاك او ابو العالية رضي الله عنهم وايي چې مراد د خلق آخر څخه نفخ الروح فيه او مراد له روح څخه روح سفلي دی چې روح حيواني دی چې دده په نفخ سره وګرځېدی حيوانًا ناطقًا سميعًا بصيرًا او په هر عضو کې دده او په هره خبره کې دده غرائب د قدرت الهي مودع دی چې نطاق د بيان او شرح کامل د هغو د هر تنګ دی كما قال الشاعر:

وتزعم انک جرم صغير ..... وفيک انطوى العالم الاكبر

ولهذا قيل الانسان انموذج العالم الكبير الصوري، وقيل الخلق الآخر الروح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والمراد به النفس الناطقة والمعنى انشاله او فيه خلقًا والظاهر من انشاء الروح خلقها وظاهر العطف بثم يقتضى حدوثها بعد حدوث البدن وهو قول اكثر الاسلاميين واليه ذهب ارسطو قال ذالک صاحب روح المعاني، او که چېري له روح څخه روح انساني مراد سي كما قلت سابقًا فلا كلام في حدوثها بعد استكمال البدن وسريانها فيه فافهم.

فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ ۝

ای تعالی وتعظم من انيكون له شريک في الذات يعني الواجب الوجود او في امتثال اوامره او الانتهاء عن مناهيه، کلمه د فاء لپاره د سببيت ده، يعني چې خدای ﷻ دقيق او د حكمت سره برابر كارونه وكړه كما مر في الآيات المذكوره، نو دا دليل د كمال قدرت دده او د حكمت نو لازمًا دی موصوف په كبرياء او عظمت سره و علو شانه من انيكون له شريک.

پوه سه: چې احسن الخالقين بدل دی د لفظ الله څخه يا خبر د مبتداء محذوف دی ای هو او صفت يې نه دی كه څه هم مضاف و معرفه ته دی لانه نكرة معنًى لان اللام عوض عن من التفضيلية والتميز ههنا محذوف ای احسن الخالقين خلقًا، او روح المعاني وايي چې احسن الخالقين نعت دی د اسم جليل واضافة افعل التفضيل محضة فتفيده تعريفًا اذا اضيف الى المعرفة على الاصح.

فائده: تبارک ماضي ده نور تصرف نه دی پكښې راغلی من المضارع وغيره والاكثر اسناده الى غير مؤنث.

پوه سه: چې معتزله په دغه آيت سره دليل وايي چې بندګان خالق د خپلو افعال اختياره وو دي حتى يتحقق تفضيل الله عليهم في الخلق، لكن چونكه دلائل عقليه او شرعيه دال پر دې دي چې خلق په معنى د ايجاد دی يعني اعطاء الوجود وممكن ته خاصه ده خدای ﷻ ده كريمه: والله خلقكم وما تعملون، وانعقد عليه اجماع الصحابة ﷺ والتابعين ومن بعدهم، والجواب عن استدلالهم دادی چې مونږ اهل السنة والجماعة وايو چې د بندګانو په خپلو افعال اختياره وو كې يو نوع د اختيار او ارادې ستة چې هغه مناط د تكليف من الله ﷻ او سبب د ثواب او عقاب ده، او هم په دغه سبب اسناد د افعال اختياره و دوی ته كهربي من العبادات وغيرها مثل صلى زيد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وصام عمرو وضرب زيد وقام عمرو. او دې نوع ته موږ کسب وايو لکن دا قدر اختيار او اراده په ايجاد کې د معدوم کافي نه ده. که جوهر او که عرض ايجاد يعني اعطاء الوجود للمعدوم په قدرت کامله او په اراده شامله پورې د خداى ﷻ مربوط ده. ودې ته موږ خلق وايو وذالک التعلق کاف لايجاد کل معدوم جوهرًا کان او عرضًا لکن حکيم خداى ﷻ وکسب ته عبد دخل ورکړى دى په بعض افعالو اى الاختيارية لان تکليف العاجز من کل وجه يخالف مقتضى الحکمة والعدل، نو زموږ او د معتزله په منځ کې اختلاف دى، ولې چې دوى وايي چې قدرت د عبد او اراده د هغه کاف في ايجاد المعدوم ونحن لانقول به.

سوال: نو احسن الخالقين په صيغه د تفضيل څرنګه صحيح کېږي زموږ پر مذهب؟

ځواب: موږ دا منو چې د لفظ خلق اطلاق پر کسب د بنده صحيح دى او پر خلق د خداى ﷻ هم نو تفضيل صحيح دى.

دروښ وايي: چې په اسئلة مقحمة ؤکي وايي بعد ايراد سوال المعتزلة جوابًا عنه چې معنى د آيت داده احسن المصورين لان المصور يصور الصورة ويشکلها على صورة اى مخلوق شاء لکن مصور پر دې نه دى قادر چې تصوير دده و اندازې ته د خلق ورسېږي لان المصور لايقدر على نفخ الروح فيه، وقد ورد الخلق بمعنى التصوير في القرآن العزيز. قال الله مخاطبًا لعيسى ﷺ (واذ تخلق من الطين کهيئة الطير) اى اذ تصور کذالک ههنا اى احسن الخالقين.

دروښ وايي: چې د خلق او کسب فرق دقيق دى چې علامه تفتازاني ﷺ په شرح العقائد او شرح المقاصد کې دې پر په زړه پورې بيان مفصل کړى دى او په دې باب محب الله البهاري ﷺ په مسلم الثبوت کې هم پوره وندې اخستې ده.

فائده: راويان د صحيح احاديثو وايي چې عبد الله بن ابي سرح د عليه الصلوة والسلام د وحي کاتب ؤ، نو عليه الصلوة والسلام چې ودې ځاى ته آيت ورساوه (خلقًا آخر) عبد الله بن ابى سرح دمخه تر املاء و عليه الصلوة والسلام ته وويل (فتبارک الله احسن الخالقين) عليه الصلوة والسلام ورته اکتب هکذا انزلت، نو عبد الله ته شک پيدا سو فقال ان کان محمد ﷺ يوحى اليه فانا کذالک يعني ماته خو هم وحي وسوې، نو مکې ته ولاړى کافر سو، ثم اسلم يوم فتح مکة وقيل مات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علی کفره، او دا آیت چې علیه الصلوة والسلام یعني خلقًا آخر پر عمر رضي الله عنه تلاوت کړی عمر رضي الله عنه مبادرت وکړی فقال فتبارک الله احسن الخالقین، علیه الصلوة والسلام ورته وویل هکذا انزلت یا عمر فکان عمر رضي الله عنه یفتخر بتلک الموافقة.

درویش وایي: چې فکر وکړئ چې دا یوه واقعه سبب د سعادت د عمر رضي الله عنه وګرځېدل او سبب د شقاوت د ابن ابی سرح سوه کریمه، کریمه: یضل به کثیرًا ویهدي به کثیرًا ای بالقرآن.

سوال: قرآن پاک خو معجزدی، نو څرنګه عمر رضي الله عنه یا ابن ابی سرح دا آیت ووایي؟

ځواب: خارج د طوق د بشر خو مقدار د اقصر سورة دی وههنا لیس کذالک وما قال المظهري ان هذه القصة تدل علی ان مادون الآیة لیس بمعجز یقدر علیه البشر کما ههنا یخالف آیات التحدی في القرآن حیث قال الله تعالی: وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاءتوا بسورة من مثله، ای بسورة قصیرة کما قال اهل التفسیر.

بو دقیق سوال: بعضي خلګو پر قصه د ابن ابی سرح طعن ویلی دی له دې سببه چې دا سورت خو مکي دی کما مر في اوائل هذه السورة وکتابة ابن ابی السرح کان بالمدینة، واجاب عنه العلامة البغدادي رح بان الجمع ممکن لان السورة وتلک الآیة وان کانتا مکیتین لکن طلب د کتابت د آیت مذکوره د ابن ابی سرح څخه علیه الصلوة والسلام په مدینه کي وکړی فکان ما کان ای قصة ارتداده، او بل ځواب دادی چې سورت چې مکي دی په اعتبار د اکثر و اغلب او دا آیت مدني دی ولا عاءبت فیه انتهی.

تنبیه: په قصه کي د ابن ابی سرح راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام چې مکه مکرمه فتح کړه د ابن ابی سرح وژل یې مباح وګرځول، ابن ابی سرح و عثمان رضي الله عنه ته ورغلی، عثمان رضي الله عنه دده لپاره امان وغوښتی د رسول الله صلی الله علیه وسلم، نو علیه الصلوة والسلام ډېر ګړی پټه خوله ناست ؤ، اخیر یې عثمان رضي الله عنه ته وویل نعم! یعني امان مي ورکړی، نو عثمان رضي الله عنه چې ولاړی علیه الصلوة والسلام و خلګو ته وویل چې زه چې پټه خوله ډېره زمانه ناست وم له دې سببه چې ګوندي ابن ابی سرح به تر امان دمخه څوک قتل کړي، یو سړي ورته وویل چې موږ به دي د ستر ګو په اشاره کړې وای موږ به فورًا وژلی وای، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې نبي ته خیانت ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سترګو نه ښایي، راوي وایي چې ابن ابی سرح په دغه ورځ مسلمان سو وحسن اسلامه والله اعلم بحقیقة الحال.

ثُمَّ إِنَّكُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾

وروسته تر دغو احوالو ستاسي چې تېر سوه یعني من قوله تعالی: ولقد خلقنا الانسان الی ههنا، تر دې آیت پورې په تحقیق تاسي به مرئ عند انقضاء اجالکم وفي هذه الآیة التفات من الغیبة في الآیات السابقة الی الخطاب للتاکید. او هم ددې تاکید لپاره یې په سر کې جمله ان ده کید راوړې، او لام د تاکید په خبر کې، والوجه في التاکید چې خلګ پر کفر او معاصیو ټینګ دي، نو دوی یې نازل پر منزله د منکر من الموت والبعث بعد الموت. امام بغوي شافعي المذهب وایي چې میت بتشدید الیاء والمائت علی صیغة اسم الفاعل وهغه چا ته وایي چې تر اوسه خو مړی نه وي لکن په اینده کې به مړ سي ولهذا صح الخطاب معهم والمیت بتخفیف التاء من مات ته وایي. ولهذا لم یجز التخفیف ههنا لانه لایجوز الخطاب والنصح لمن مات ومن هذا القبیل قوله تعالی انک میت یعني ستموت وانهم لمیتون یعني ستموت الکفار ایضًا.

ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ تُبْعَثُونَ ﴿١٦﴾

وروسته یعني بعد الموت په تحقیق تاسي ژوندي کړل کېږئ په ورځ د قیامت، یعني د حساب او مجازات لپاره للمؤمنین بالجنة ونعیمها ولکفار بالنار وحرها.

درویش وایي:

چون بخاکم بگذری دامن کشان..... از سر اخلاص الحمدي بخوان

دا باران چې پر همه ؤ مخکو اوري..... مشرف یې کړی ذات د کبریا ولي

ارسال سلام به سید الانام علیه الصلوة والسلام:

بادصبا مدینے میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا

نہیں ہے کوئی بجز تمہاری بس میرا اتنا پیام کہنا

صبا بگلشن احباب گر همی گذری ... بگوی زحال غریبی بآن حبیب خبری

پوه سه: چې زما مراد له گلشن احباب څخه مدینه منوره ده او له غریب څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مي خپل ځان مراد دی او کلمه د یاء د وحدت ده، او د آن حبیب څخه مي سردار انبیاء علیه الصلوة والسلام مراد دی.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعَ طَرَآئِقَ ۖ وَمَا كُنَّا عَنِ الْخَلْقِ غٰفِلِيْنَ ۝

قسم په خدای ﷻ دی په تحقیق پیدا کړي دي موږ پر تاسي سربېره اووه اسمانونه چې لاري د ملکو یا د ستورو دي، او نه یو موږ له جنس مخلوق څخه خپل چې د هغو له جملې څخه اسمانونه هم دي غافله، یعنې چې موږ د مخلوق حفاظت مهمل پرې اینبی وي بلکې موږ یې ساتو، مثلاً اسمان پر محکه نه راشوه کېږي او نه یو اسمان پر بل راچپه کېږي.

پوه سه: چې لام لپاره قسم محذوف دی ای والله، او قد لپاره د تحقیق دی او د سبع طرائق څخه اووه اسمانه دي چې لاري د ملائکه ؤ دي یا د ستورو په خپل سیر کې او دا جمله عطف ده پر ولقد خلقنا الانسان باندې.

پوه سه: چې جمله د (ولقد خلقنا آه) عطف ده پر (ولقد خلقنا الانسان آه) باندې.

فائده: جمله ولقد خلقنا فوقکم آه په حکم کې د علت ده لقوله ولقد خلقنا الانسان آه یعنې موږ اووه طبقې اسمانونه یو پر بل سربېره پیدا کړي دي تاچې له هغو څخه پر تاسي ارزاق او برکات نازل سي کما سیئاتي في الآیة التالیة، ومن فوائد السموات طلوع الشمس والقمر والکواکب علیکم لان لکل واحد منها.

فائده: في نظام العالم مثلاً په مطالع پورې د شمس دوولس برجان مربوط دي چې په هرو درو برجانو پورې یو فصل د فصولو اربعه وو یعنې ربیع، صیف، خریف او شتا ترلې دي چې په هغو د انسانانو مصالح او فوائد نغښتي دي.

دروښ وایي: چې هکذا منافع د مېوو او کښتو د رنګ او خوند څخه خدای ﷻ په خپل قدرت په تناؤ سره د منازلو د قمر او د ستورو ترلې دی، ودلیل الکل لانا ماکنا عن الخلق خصوصًا الاناسي وعما یصلح لهم غافل نه یو.

وَأَنْزَلْنَا مِنَ السَّمَآءِ مَآءًۢ بِقَدَرٍ فَأَسْكَنّٰهُ فِي الْأَرْضِ ۖ

او راکښته کړي یعنې اورولي موږ له اسمان څخه اوبه یعنې باران (عطف علی خلقنا. داخل تحت ولقد والتقدیر ولقد انزلنا آه) بقدر: ای بمقدار ماعلمنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(په دې اوبو کي اصلاح د عالم او ځای مو ورکړی دی اوبو ته په مځکه کي یا په رود کي یا په کارېزو او چینو کي) صلاح نوع الانسان والحیوانات وغیرها (فاسکناه في الارض) ضمیر راجع دی و ماءً ته او دا جمله عطف ده پر انزلنا. نو موږ دا اوبو ته قرار ورکړو په مځکه کي. د قرار معنی داده چي خوضونه یې ډک دي او کارېزونه جاري سي او لوی لوی رودونه پر مستي راسي، او تر درختو لاندي ویالي بهېږي، نو ټولو اوبه د مځکي ماء السماء دي. او تجربه هم پر دې دلالت کوي چي څو کاله چي بارانونه په کافي اندازه نه ووري کارېزونه او چینې وچي ګرځي او رودونه یا وچ سي یا یې اوبه ډېري کمي سي او دود د وچ کالي پر اسمان پورته کېږي..... بیت:

تانګرید ابر کی خندد چمن ..... تا نګرید طفل کی جوشد لبن

وَإِنَّا عَلَىٰ ذَهَابٍ بِهِۦ لَقَٰدِرُونَ ﴿١٨﴾

او موږ پر تګ د دې اوبو یا د ګرمی په سبب بخار و ګرځي د اسمان و خواته ولاړسي، یا په اعماقو کي د مځکي ډېري کښته ولاړي سي چي خلک یې له طلب څخه په اساني سره عاجزه پاته سي.

پوه سه: چي ذهاب یې نکره راوړی اشاره ودې ته ده چي د ذهاب طریقې یې ډېري دي. نو دا مبالغه ده په بېرولو کي د خلګو، قال عز من قائل: قل ارئیتم ان اصبح ماؤکم غورًا فمن یاتیکم بماء معین.

فائده: دا آیت یعني و انا علی الخ اکثر مبالغه دی تر قل آه (۱) په دې سبب چي په قل آه کي لفظ د ان راغلی دی چي لپاره د شک دی او آیت د انا علی آه دال پر تحقیق د وعید و ان لم یقع (۲) په دې آیت کي تاکید په ان راغلی دی بخلاف قل آه (۳) په خبر کي لام د تاکید راغلی دی یعني لقادرون بخلاف قل آه (۴) الغائر من الماء کما في آیة قل آه قد یکون باقیًا في اعماق الارض بخلاف الذاهب کما في آیة وانا آه (۵) په تنکیر کي د دا ذهاب آه مبالغه ده (۶) نسبت د اذهاب خدای ﷻ وخپل ځان ته کړی دی بخلاف قل آه.

دروښ وایي: چي صاحب التقریب له دې قسمه ځخه اته ویشت وجهي د مبالغې راوړي دي... متل: مشت نمونه خروار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وحاصل الآیة خدای پاک وایي لکه موږ چې پر انزال د اوبو لله اسمان څخه قادر یو پر اذهاب یې هم نه ترا قادر یو، نو که دا اذهاب واقع سي تاسي به له تندي مړه سئ، او مواشي به مو هم له تندي مړه سي او مځکي او سرایونه به مو خراب سي:

فَأَنشَأْنَا لَكُمْ بِهِ جَنَّٰتٍ مِّن نَّخِيلٍ وَأَعْنَابٍ

نو موږ ایجاد کوو (فانشاء) عطف دی پر انزلنا) ستاسي د نفع لپاره په هغو اوبو سره باغونه د خورما وو.

درویش وایي: چې خورما یې تر ټولو د مخه راوړه له دې سببه چې په دې کي لوی غذائیت سته حتی چې که چاته خورما او اوبه رسېږي په میاشتو میاشتو له لوږې نه مري او نه ضعیف کېږي. کما روی عن امنا سیدتنا عائشة رضي الله عنها چې دې وویل چې موږ په حیوة پر برکات کي د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اب دري سپوږمی په دوو میاشتو کي ولیدی چې په دغه دوران کي په هیڅ کور کي د علیه الصلوة والسلام اور نسو بل، راوي ورته وویل چې ستاسي د ژوند په څه شي ګذاره وه؟ دې ورته وویل الماء والتمر، او په بل صحیح روایت کي راغلي دي چې لما فتح خیبر قلنا الآن نشبع من التمر. او بل دا چې خورما شرافت نسبي لري چې له فضله څخه د ختو د آدم علیه السلام خدای جل جلاله پیدا کړې ده، ولهذا قالوا التمر عمة اولاد آدم" (واعناب) عطف دی پر نخیل یعني باغونه د انګورو.

درویش وایي: چې د انګورو د باغو خزانه افغانستان دی بالخصوص قندهار خیر الامصار في الثمار. اعناب یې په صیغه د جمع راوړه ولي چې اقسام د انګورو دېر دي چې اته ویشت قسمه انګور ماته معلوم دي.

لَكُمْ فِيهَا فَوَٰكِهُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ ﴿١٩﴾

• تاسي لره په دغو باغو کي، او ددې نباتو د مېوو او د کښتو چې د اوبو سره تړون لري لکه غنم، جوار، ورجي، اوربشي او نور تاسي خوراک کوئ لپاره د تغذیې یا تفکه، او ددې باغو مېوې او ددې کښتو حاصلات ستاسي ماتحتا جون الیه هم پوره کوي یعني په دغو حاصلاتو د باغو او مځکو مذکوره شیان رانسئ لکه کالي، قالین، سپین زر، سره زر رانیول الی غیر ذالک.

درویش وایي: چې فواکه جمع د فاکهة ده، هغه مېوې ته وایي چې خلک یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صرف د خوند او مزې لپاره خوري يعني نه د غذائيت لپاره لکه مالټې، کېلې، سيب، شفتالو، الوبالو، کرنکيچ، انار زردالو، الو کردګو الى غير ذالک من انواع الفواكة المعلومة.

دروښ وايي: چې پر دې تقدير نخيل او اعناب ځندي مستثنى دي، ولې چې په هغو کې په زياته توګه غذائيت سته.

فائده: کلمه د من داخله پر منشاء ده قال المظهري وخص النخيل والاعناب بالذكر لانهما من اعز فواكه العرب انتهى.

دروښ وايي: چې په قول کې د مظهري له فواکه څخه معنى مذکوره نه ده مراد بلکې نفس خوراکي مواد مراد دي فافهم.

پوښتنه: خداى ﷻ په دې آيت کې لکم دوه ځايه ذکر کړى، نو سره د هغه خداى ﷻ پاک انسانان په زهد سره امر کړي دي چې له دنيا وي نعمتو څخه دي بې پروايي اختياره کړي الا بقدر الضرورة؟

ځواب: د يو چا په واده کې چې د زوم پر سر خلګ د نقلو او چاکلټو بلکې د روپو خونى وکړي زوم يې په خپله نه تولوي او حملې نه پروهي لعلو همته، او که يې چېرې زوم په خپله تولوي خلګ دده عيب بولي، نو اولياء الله هم په سبب د لوړ همت دده وى خپل ځانونه يې له طيباتو څخه د دنيا منع کړي دي بلکې په لږ څه يې قناعت کړي دي رجاء رفع الدرجات في النعيم المقيم، وجاء في الحديث النبوي[۴] اخترت جوع الدنيا على شبعها، وفي حديث آخر خطابًا لامته جوعوا انفسكم لوليمة الفردوس، پوهان وايي چې که د چا مېلمه سوې د بنورو اله کاسې څخه غټې غټې کولې مه پورته کوه يعنې چې په بنورو اڅان مور کړې، ولې چې غوښې هم را روان دي بلکې ورجي، پېرنې او مېوې هم را روانې دي نو هغه به بيا چېرې ځايوې نس خو (کاکښه) نه ده.

وَشَجَرَةً تَخْرُجُ مِن طُورِ سَيْنَاءَ تَنبُتُ بِالدُّهْنِ وَصِبْغٍ لِّلْآكِلِينَ ﴿۲۰﴾

(وشجرة) بالنصب عطف على جنات او دا درخته چې زېتون يې بولي چې خاص يې کړه په ذکر سره من بين سائر الاشجار، ولې چې په دې درخته کې منافع معروفه سته کما سيئاتي، تاريخ وايي چې زېتون اوله درخته ده چې وروسته تر طوفان نوح پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخکه شنه سوې ده، اوپه انسان العیون کي وایي چي درخته د زیتون دري ژره کاله طبعي عمر کولای سي چي څوک یې قطع نه کړي (تخرج من طور سیناء) چي شیند کیږي له طور سینا څخه، دا هغه غر دی په منځ کي د مصر او ایله موسی ؑ ته خدای ﷻ نداء وکړه، وقصة معروفة، دې غره ته طور سنین او طور سینا دواړه وایي، معنی یې الحسن والمبارک ده، قال اهل التفسیر اما انیکون الطور اسم الجبل وسیناء البقعة اضیف الیه الطور او المرکب منهما علم له کامرئی القیس وسیناء بالفتح علی وزن صحراء غیر منصرف للالف الممدودة القائم مقام السببین، او که سینا بکسر السین لکه اهل الحرمین چي وایي، نو فعال دی پر وزن د دیماس، نو عدم الصرف یې یا له جهته د علمیت او عجمه دی او للتعریف والتانیث بتاویل البقعة لا للالف.

دروېش وایي: چي مظهري او روح البیان طور سنین او طور سینا سره یو بولي. او روح المعاني د بعض علماؤ څخه روایت کړی دی چي طور سیناء په فلسطین کي دی من ارض الشام ویقال طور سنین والاول هو الاصح، او مظهري ؒ کما هو عادته قیل وقیل ډیر راوړی دی، لافائدة في ایرادها الاتشویش ذهن المتعلم لهذا التفسیر فافهم.

پوه سه: چي (تنبت بالدهن) بل صفت دی د شجرة ضمیر مؤنث راجع و شجرة ته دی، او کلمه د باء متعلق ده په محذوف پوري، حال دی له ضمیر څخه د تنبت، والتقدیر تنبت متلبسة ومصتصبحة بالدهن کما قال الراغب تنبت والدهن موجود فیها بالقوة، (وصبغ للآکلین) صبغ عطف دی پر الدهن، صبغ په لغت کي رنګ ته وایي او په اصطلاح کي د عربو هغه شي ته وایي چي ډوډۍ په پوري کیږي چي په فارسي یې نان خورش بولي. لکه دوښا. چټني، مستې وغیرها او په عربي یې ادام بولي یعني ډوډۍ په هغو غوړو کي د زیتون غوټه کړي بیا یې خوري لکه په سرکه کي ډوډۍ غوټه کړي بیا یې خوري، والمعنی چي د زیتون روغن هم دهن دی چي څراغ په بلیږي او هم د ډوډۍ د پوري کېدو ادام دی.

پوه سه: چي د ډوډۍ د پوري کېدو په شي رنګ نه دی شرط، ولي چي بعض ادام رنګ لري لکه دوښا او بعض رنګ نه لري لکه سرکه.

پوښتنه: زیتون یې ولي په طور پوري خاص کړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: اوله درخته د زیتون په طور کې پیدا سوې ده، ورنه د زیتون درختې په ډیرو ممالکو کې موجودې دي، حتی چې په جلال آباد کې چې د افغانستان یو ولایت دی هم ستې.

وَإِنَّ لَكُمْ فِي الْأَنْعَامِ لَعِبْرَةً

په تحقیق تاسې لره په انعامو کې چې مراد ځندې دلته ښځه اوښه، ښځه غوا، ښځه میږ او ښځه بزه ده بقرینة مابعد هذه الآیة، عبرت ستې یعنې تاسې د دغه حالاتو دلیل وګرځوئ پر کمال قدرت او حکمت د خدای ﷻ.

بوه سه: چې دا جمله عطف ده پر انشاء نالکم آه باندې.

سوال: په نحو کې دا یې چې لفظ د ان پر هغه جمله داخلیږي چې مخاطب ځندې منکروي، په ما نحن فیه کې څه ځای د انکار دؤ؟

ځواب: چونکه خلک ددې حکمت او قدرت الهي څخه غافل وه نو دوی یې لکه د منزلة المنکر کړه او ان د تحقیق یې راوړی.

نُسْقِيكُمْ مِمَّا فِي بُطُونِهَا

چې مونږ تاسې اوبه وو (مما في بطونها) چې عبارت له شیدو څخه دی.

بوه سه: چې دا جمله تر (وعلیها آه) پورې جمله مستانفه ده په جواب د سوال د سائل چې په انعام کې څه عبرت دی، وحاصل الجواب ان فیها عبرا لاعبرة واحدة کما تسمع من القران، کلمه د من په مما کې تبعیضي ده، ولي چې تولې مافي بطون الانعام خو د څیښلو شی نه دی کما لایخفی، یا عبارت له وښو او غذایي موادو څخه د انعام، نو کلمه د من ابتدائیه ده ولي چې منشاء د شیدو وانې دي.

وَلَكُمْ فِيهَا مَنَافِعُ كَثِيرَةٌ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ

او تاسې لره په انعامو کې نور هم ډیر منافع ستې (چې پر بعضو به سپږیږئ لکه اوښه، او د اوښي وړی چې په عربي یې وبر بولي او د میږي وړی چې په عربي یې صوف بولي، او پر وچغونو د بزې چې په عربي یې شعر بولي) او د دغو انعامو څخه تاسو خورک کوئ یعنې غوښې یې خورئ.

بوه سه: چې دا فائده مشترکه ده د ټولو انعامو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعَلَيْهَا وَعَلَى الْفُلْكِ تُحْمَلُونَ ﴿٢٢﴾

او پر دغو انعامو او پر کښتيو تاسي ورل کېږئ يعني سره د درنو درنو بارو.

فائده: بعض مفسرين وايي چي فائده خاصه په ابل او بقر پوري ده، ولي پر پسو او بزو باندي بار نه ورل کېږي، لکن صحيح داده چي مراد خُندي يو ازي ابل دی، ولي چي عرب يو ازي پر ابل بارونه وري نه پر بقر، او د فلک سره هم مناسب اوښان دي، ولي چي عرب وايي چي اوښان کښتی د بر يعني د وچي محکي دي او فلک د بحر دي، ذو الرمة چي يو شاعر دی وايي: سفينة بَرٍّ تحت خدي زمامها.

سوال: ضمير د عليها خو راجع و انعامو ته دی او تو له کمامر قابل د بارورلو نه دي؟

ځواب: هذا الضمير على منوال الضمير في قوله تعالى وبعولتهن احق بردهن ولي هوري ضمير د مؤنث راجع و مطلقاتو ته دی چي هغه عامي دی بائناتو رجعياتو دواړو ته شامل دی، لکن ضمير يوازي د مطلقاتو رجعيه وو ته راجع دی، ولي چي په بائن مخفف يا مغلظ کي خو رجوع کول يوازي د مېړه په اختيار کي نه ده فعلى هذا قياس کړه ضمير د عليها ههنا فتدبر.

پوښتنه: تا دمخه وويل چي مراد له انعامو څخه بنځينه ددوی دي او دا دي هم وويل بقرينة مابعد هذه الآية او سره ددې چي ولكم فيها منافع ومنها تاكلون الى اخيره خو نر او بنځه د انعامو برابر دی؟

ځواب: ما صرف د نسقيكم لپاره چي شيدې خُندي مراد دي دا خبره کړې ده لکن په وروسته ضمائرو کي صنعت استخدام دی.

پوه سه: چي صنعت استخدام د محسناتو د عربيت دی كما تقرر في علم البديع، دا صنعت دوه قسمه دی، يو دادی چي اسم ظاهر چي ذکر سي يوه معنی د لفظ خُندي مراد وي او چي ضمير ورته راجع سي بله معنی د لفظ مذکور خُندي مراد ده او بل دادی چي په يوه ضمير کي يوه معنی مراد وي او په بل ضمير کي بله معنی مراد وي، دلته هم چي انعام په اسم ظاهر ذکر سوه مراد خُندي بنځي د انعامو دي بقرينة نسقيكم او په ضمير کي ولكم فيها منافع او د غه رنګه په ضمير کي د منها تاكلون او د و عليها آه معنی عام ده چي شامل نر او بنځو دواړو لره ده فافهم هداك الله لدرک مضامين العربية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ

پوه سه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی اورده للاهتمام بقضیة نوح او دا آیت عطف دی علی قوله تعالی ولقد خلقنا الانسان.

پوه سه: چې خدای ﷻ په اول کې د سورت حال د مؤمنانو مطیعانو بیان کړی وروسته هغه دلائل وښوول چې مقتضی د ایمان او د طاعت هم دا اوس په ذکر د کفارو چې سرکښه بندګان د خدای ﷻ وه او اخیر کار ددوی بیان کړی وفي کل ذالک تحذیر لکفار قریش، بیت:

پند گیر از مصائب دیگران.... تا نگیرند دیگران زتو پند

نکته: شروع یې له قصې څخه د نوح وکړه ولې چې (۹۵۰) کاله د قوم په تبلیغ او دعوی په قسم قسم ربړولو تپر کړه، ترجمه: بالله چې استولی مو پر نوح و قوم ته دده.

فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۲۳﴾

نو ده ورته وویل چې ای قوم زما (کسره د میم عوض د یاء ده یعني قومي) توحید وکړئ د خدای ﷻ یعني خدای ﷻ په وحدانیت وپېژنئ او طاعت یې وکړئ.

پوه سه: چې په خطاب کې د مشرکانو مراد له عبارت څخه توحید دی او دا اول نصیحت دی د ټولو انبیاء علیهم السلام، نسته تاسي لره هیڅ معبود بالحق ماسوی له خدای ﷻ څخه (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده، نو ځکه ماهیڅ لفظ ووایه. دا جمله بیان د علت د امر بالتوحید ده) آیا تاسي له خدای ﷻ څخه نه ډارېږئ، استفهام په معنی د امر دی یعني باید وډارېږئ.

قانون نحوي: وروسته تر همزه د استفهام چې یو د حروف عاطفه راسي معطوف علیه به یې حتمًا محذوف وي لئلا یفوت صدارة الاستفهام، والتقدیر اتشرکون به فلا تتقون، له دې څخه چې خدای ﷻ خپل نعمتونه در څخه واخلي او په عذاب دنیوي د شرک به مو اخته کړي.

فَقَالَ الْمَلَؤُا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ مَا هٰذَاۤ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ

نو په ځواب کې د نوح علیه السلام وویل رئیسانو د قوم دده.

پوه سه: چې اول مقابل د هر نبي اشراف د قوم د هغه ګرځېدلي دي تکبرًا عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاطاعة للنبي فيما يامرهم به كما يدل عليه تواريخ الانبياء عليهم السلام.

پوه سه: چي دا خبره ماهذا آه دوی په خپل منځ کي سره وکړه او نوح ؑ يې مخاطب نه کړی چي داسي يې ويلي واى ما انت الا بشر مثلنا تكبرًا عن مخاطبة نوح ؑ ومعنى الآية نه دی دغه نوح مګر بشر په مثل ستاسي يعني ياكل ويشرب وينام الى غير ذالک من خواص البشرية، نو دی ځرنګه رسول د خدای ﷻ ځان بولي بناءً على زعمهم الفاسد ان الرسول لابد انيكون ملكا قاتلهم الله، دوی ځرنګه الوهيت او معبوديت چي ډېره عالي درجه ده وجماداتو، بتانو روا بلل او رسالت چي تر الوهيت ډېره کښته درجه ده وذوی العقل والعلم ته چي رسول دی روا نه بلل، ع؛ برين عقل ودانش ببايد گريست.

يُرِيدُ أَن يَتَفَضَّلَ عَلَيْكُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَأَنزَلَ مَلَائِكَةً ۖ

اراده لري په دعوی کي د رسالت چي پر تاسي تفضيل پيدا کړي او تاسي خپل تابع وګرځوي او دی سردار وګرځي.

پوه سه: چي دا جمله يا صفت بعد الصفت دی لبشر او يا جمله مستانفه ده في جواب ماقيل مايريد بادعاء الرسالة.

پوه سه: چي مفعول د شاء محذوف دی، والتقدير که اراده وايي د خدای ان لايعبد غيره نازل کړي به يې واى ملکي د رسالت په حيث دا مفعول محذوف دی.

مَّا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي آبَائِنَا الْأَوَّلِينَ ۝

مورِ نه دی اوربدلی دغه چي نوح ؑ دعوی کوي (من توحيد المعبود ورسالة الانسان والبعث بعد الموت) زمورِ په نيکه ګانو کي چي تر مورِ د مخه وه، وذالک اما لفرط عنادهم او بطول زمانهم في فترة الرسل.

پوه سه: چي جمله د ما سمعنا نه فاعل څخه د يريد حال ده، والجملة الشرطية معترضة بين الحال وعامله.

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّىٰ حِينٍ ۝

نه دی نوح مګر يو سړی دی چي دده سره مرض د جنون موجود دی (يعني چي دعوه د رسالت د خدای کوي د ځان لپاره، دا جمله تاکيد د نفي د رسالت ده له نوح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه لان المجنون لایکون رسولاً) تاسي انتظار وکړئ تر یو وخت پورې چې یا پر سه کېږي او یا په دغه جنون کې مري، وانما قالوا ذالک لان المجنون یجب ان لایتعجل في تعذیبه و الانتقام منه لان المجنون معذور واذا زال جنونه فالغالب ترک هذه الدعوی لانه کذب بحت في زعمهم الفاسد والمفیق یتبرء عن الکذب البواح. حافظ شیرازي رح وایي:

در راه منزل لیلی که خطرهاست درو ..... شرط اول قدم آنست که مجنون باش

درویش وایي: چې نوح ؑ طویل العمر د عمر په اوږدو کې دېر نصائح و قوم ته وکړه او د قوم د خوایي ډېر کړاوونه پر ځان یوړه اخیر الامر رب العزت وه ده ته د نا امیدۍ خبره د قوم له ایمان څخه واوروله بقوله جل ذکره انه لن یؤمن من قومک الا من قد آمن، نوح ؑ چون این خبر ایاس از رب العزت شنود دست انابت بدرگاه رب العزت بالا نمود و گفت.

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾

نوح ؑ وویل اې ربه زما زما سره کومک وکړه یعني باهلاکهم وبانزال العذاب الموعود علیهم، کلمه د باء سببیه ده او کلمه د ما ء مصدریه ده او کسره د نون عوض د مضاف الیه ده یعني بسبب تکذیبهم ای ما.

فَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِ أَنِ اصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا

نو موږ وحي وکړې وده ته (هذه الجملة معطوفة علی مقدر یعني استجبنا دعائه فاوحینا الیهم) چې جوړه کړه کښتی (باعیننا) ای په حفاظت سره زموږ یا له خطاء څخه په جوړېدو کې او یا دا چې څوک به د تخریب لار نه ورته لري (ووحینا) ای امرنا وتعلیمنا کیف تصنع.

فائده: چونکه مطلب د نوح ؑ په دغه عبارت مجمل کې یعني رب انصرني استیصال د دوی ؤ نو د ټولو په یوه وار هلاکول کما جاء في موضع آخر رب لاتذر علی الکافرین دیارًا، نو له دې کبله خدای ﷻ د عذاب د استیصال لپاره سبب ورته بیان کړی.

پوه سه: چې ایحا او وحي په لغت کې خبر ته وایي په خفاء کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِذَا جَاءَ أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ

نو چې راسي امر زمونږ په نزول سره د عذاب موعود یا امر بالرکوب فیها (وفار التنور) دا علامه د رکوب په کښتی کې یعنې چې اوبه راووتلې له تنور څخه د دوډی پخېدلو، نو ته او من معک من المؤمنین به کښتی کې سپاره سئ.

درویش وایي: چې ځای دد غه تنور هغه ځای وُ چې اوس مسجد کوفه هلته جوړ دی پر راسته جانب د داخل وه مسجد کوفه ته د باب کندة له خوا څخه، په تفسیر حسیني کې وایي: وبجوش شد تنور بوقتیکه زن تو نان پزد از میان آتش آب برآید، والفور الغلیان في النار چې لصبې یې پورته سي وفي الماء اذا جائت، وفي الغضب اذا بلغ النهایة، نو د نوح مایني چې پر تنور دوډی وهلې په منځ کې د اوریې اوبه ولیدلې، فوراً یې نوح ته خبر ورکړی، نو دوی په کښتی کې سپاره سوه.

فَاسْلُكْ فِيهَا مِنْ كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ

نو داخل کړه ته یا نوح په فلک کې (تانیث په اعتبار د معنی د سفینة دی).

درویش وایي: چې په اتفاق د روح المعاني، روح البیان، مظهري، بیضاوي وغیرها من التفاسیر سلک لازمي هم راغلی دی کما یقال في العربیة سلکت في سکة کذا ای دخلت فیها، وهذا مثال اللازمي وقال الله تعالی ماسلککم في سقر وهذا مثال المتعدي (من کل زوجین اثنین) له هر صنف څخه د حیوانانو (نو تنوین د کل عوض د مضاف الیه دی ای کل صنف) دوه جوړ یعنې نر او ښځه، نو اثنین یې تاکید دی، مفسران وایي چې خدای ﷻ په خپل قدرت سره ټوله درندګان او مرغان وغیر ذالک، والحاصل چې هغه نر او ښځه چې ولادت پیدا کېږي او یا له هګۍ څخه پیدا کېږي لکه خر او خره، اوښ او ښه، چرګ چرګه الی غیر ذالک، او هغه حیوانات چې د تعفن څخه پیدا کېږي لکه غوما شه، مچ، چینجی هغه یې نه دی پکښې داخل کړی، داغه رنګه غاطره یې هم نه ده پکښې داخل کړې، ولي غاطره له نسل څخه د آس او خرې پیدا کېږي، نو هغه خو حمل کړه سوه فلا حاجة الی حمل البغال.

حکمت: چې امر ورکړل سو نوح ﷺ ته د حمل د نر او ښځي د هر صنف تا چې دا نوع ختم نسي، ولي بیا به خلق جدید غواړي کما في ابتداء الامر کذا في روح المعاني، او په تفسیر تیسیر کې هم ودغه مضمون ته اشاره ده، درکشتی نیاورد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مگر آنها را که می زانید یا بیضه می نهد انتهی، تفاسیر په یوه خوله وایي چې نوح ؑ په دوارلاسه وهري نوح ته ور وغځول په راسته لاس کي به یې نر ورغلی او په چپه لاس کي به یې ښځه هغه به یې کښتی ته پورته کړه.

وَاَهْلَكَ اِلَّا مَنْ سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ مِنْهُمْ

او ستا اهل بیت و من آمن معک (الا من سبق) یعني په ازلي علم کي د خدای ﷻ له مغرقین څخه به ؤ (علیه القول) بالاهلاک لکفره (منهم) ای من اهل بیتک چې د نوح ؑ ماینه کافره وه او یو زوی کنعان کافر ؤ، نو د نوح ؑ درې اولاد حام، سام و یافث او د هغو زوجاتي مؤمناتي په کښتی کي سپاره کړه سوه. بیت:

سگ اصحاب کهف روزی چند ..... پی مردم گرفت مردم شد
پسر نوح (علیه السلام) باید ان بنشست ..... خانه نبوتش گم شد

وَلَا تُخَاطِبْنِيْ فِي الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ۚ اِنَّهُمْ مُّغْرَقُوْنَ ﴿۲۷﴾

او ته ماته خواست مه کوه د هغو کسانو په باره کي چې ظلم یې پر خپلو ځانو کړی دی په کفر سره (انهم مغرقون) دا دلیل دی د لاتخاطبني و معنی انهم مغرقون یې دوی محکوم په اغراق سره بسبب شرکهم.

بوه سه: چې (ولاتخاطبني) عطف دی یا پر اصنع الفلک یا پر فاسلک من عطف الانشاء علی الانشاء، و ان اختلف الانشاء ان امرًا و نهیًا لان ذالک یجوز في النحو.

فَاِذَا اسْتَوَيْتَ اَنْتَ وَمَنْ مَّعَكَ عَلَى الْفُلْكِ فَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ نَجّٰىنَا مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۸﴾

هغه وخت سم سوې ته او هغه څوک چې ستا سره دي په کښتی کي، نو ووایه یعني د شکر ددې نعمت حمد دي وي خدای ﷻ لره هغه خدای چې نجات یې راکړی موږ ته له هغه قوم څخه چې ظالمان وه یعني مشرکان وه.

بوه سه: چې انت تاکید دی د ضمیر متصل د استویت دا تاکید ددې لپاره دی چې په علم نحو کي وایي چې عطف پر ضمیر مرفوع متصل نه دی روا بیله تاکیده به ضمیر منفصل سره یا په فصل په منځ کي د معطوف او معطوف علیه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: څه حکمت دی چې نوح ؑ خدای پاک امر کړی په حمد سره پر نجات د قوم ظالمین او داسي نه وویل سول الحمد لله الذي اهلک القوم الظالمین؟

ځواب: که څه هم حمد پر انجا متضمن دی حمد لره پر اهلاک د ظالمانو، ولي نجات د نوح ؑ ومن معه خو نه کېده پېله اهلاک د ظالمانو لکن مع هذا نعمت د انجاء اهم دی، او خفاجي ؒ وایي چې په حمد کي پر نعمت د انجاء دون اهلاک الاعداء الظالمین اشاره ودې ته ده چې انه لاینبغي المسرة بمصیبة احد ولو کان عدواً من حیث کونها مصیبة له بل ینبغي الحمد علی السلامة من ضرره وهو بالانجاء یا پر دې باندې چې محکمه پاکه سوه له خیرو څخه د شرک او اضلال د عدو فافهم فانه دقیق.

وَقُلْ رَّبِّ اَنْزِلْنِیْ مُنْزَلًا مُّبٰرَكًا وَّاَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِیْنَ ﴿۲۹﴾

اې خدایه نازل کړې ما (یعني ومن معي) بعد الرکوب في السفینة او بعد الخروج من السفینة (منزلاً) مصدر میمي ای انزالاً (مبارګا) چې برکت د دنیا او د اخرت پکښې وي (نو د کښتی په سپرېدلو کي برکت د دنیا دادی چې له مصاحبت څخه د ظالمانو خلاص سوم او د اخرت برکت یې دادی چې زړه مي ستا و عبادت ته فارغه سو، او برکت د خروج له کښتی څخه دنیاوي برکت کثرت النسل والرزق الحلال او اخروي برکت یې دادی چې د خدای ﷻ په عبادت زه او من معي فارغ البال مشغول یو) ته اې خدایه خیر د منزلینو یې، په جلالین کي وایي چې دا دعاء د نوح ؑ قبوله سوه حیث قال الله تعالی: اهبط بسلام وبرکات علیک، فبارک فیهم بعد انزالهم من السفینة. ولي چې ټوله د مخکي خلک له نسل څخه د نوح ؑ ومن کان معه في السفینة دي.

پوه سه: چې دا جمله ثناء د خدای ﷻ ده د نوح ؑ له خوا څخه مطابق لدعائه بقوله فقل رب انزلني آه، نکته: په دعاء کي یوازي نوح ؑ خپل ځان یاد کړی، یو خو له دې سببه چې دا امر الهي دی کما یدل علیه وقل او بل د دې لپاره چې په دعاء کي دده کفایة لمن معه یعني خدای ﷻ په دغه سره امر کړی کما یدل قوله وقل رب انزلني آه.

اِنَّ فِیْ ذٰلِكَ لَاٰیٰتٍ وَّاِنْ كُنَّا لَمُبْتَلِیْنَ ﴿۳۰﴾

(ان في ذالک) ای الذي فعلنا بقوم نوح (لایات) دلائل علی کمال قدرته تعالی ورافته بالمؤمنین وغضبه علی الظالمین یعتبر بها اولو الابصار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي په اتفاق د اړاء د مفسرین په (وان کنا آه) کي کلمه د ان مخففه له مثقل څخه ده چي کلمه لام په خبر کي یې فارقه ده په منع کي ان مخفف د مثقل او د ان نافیه لکن مظهري یې تقدیر داسي وایي: وانا بتشدید النون کمنا آه وهو خلاف المتعارف في کلمة ان مخففه عن المثقلة، او روح البیان داسي وایي چي اصل انه والضمیر للشان ای وان الشان، او روح المعاني وایي: والجملة حالیة ای وان الشان کنا لمصیبین قوم نوح ببلاء عظیم وعقاب شدید، او مختبرین بهذه الآیات عبادنا لننظر من یعتبر ویتذکر.

سوال: اختبار خو امتحان ته وایي خدای ﷻ خو عالم الغیب والشهادة دی، نو امتحان ته څه ضرورت دی؟

ځواب: تعامل معاملة المختبر لا حقیقة الاختبار.

درویش وایي: چي ومثل هذا کثیر في القرآن کما في قوله تعالی (ولقد ترکنا آیة فهل من مُدکِر)

پښتو زباړه: په تحقیق په دغه کي چي د قوم د نوح ؑ سره مو وکړه یعني په طوفان مو غرق کړه او نوح ؑ او دده سره مؤمنان مو د کښتی په ذریعه له غرقه وساتل دلائل دي د کمال قدرت د خدای ﷻ او د کمال مهرباني د خدای ﷻ پر مؤمنانو او لوی غضب پر ظالمانو او په تحقیق شان دادی چي مونږ لویه بلا رسونکي یو قوم نوح ؑ ته او یا امتحان کونکي یو د بندګانو.

درویش وایي: چي مظهري ؒ یو قول په قیل رانقل کړی دی چي کلمه د ان نافیه ده او لام په معنی د الا دی یعني وما کنا بارسال نوح ؑ و وعظه وتذکیره الا مبتلین قومه آه، لکن روح المعاني دا وجه رد کړې ده حیث قال ولیست ان نافیة واللام بمعنی الا انتهی.

درویش وایي: چي دلیل د رد یې دادی چي داسي توجیه هلته روا ده چي نوري لاري تولي بندي وي او دلته خو د توجیه لار خلاصه ده کما مر من قبل قریبًا.

نبصره: پوه سه! چي علماء راشدین وایي ان العطایا علی متن البلایا، والا لما حصل الفرق بین الصدیق الاکبر ؓ وبین ابی جهل فرعون هذه الامة، وایضًا قالوا البلاء کالملح في الطعام بقدر الحاجة وقد ورد في الحدیث الصحیح اشد الناس بلاءً الانبیاء ثم الاولیاء ثم الامثل فالامثل او کما قال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې سرګزشت د انبياء عليهم السلام او د اولياء کاملينو رحمهم الله کې په تواريخ اسلاميه وو کې مطالعه کړل سي د دې خبرو تصديق به وکړل سي. بيت:

بر فلک بر تر بود اسرار او ..... شيئًا لله شيئًا لله کار او

حکايت: له حسن بصري رح څخه نقل دی چې زه په کاروان کې د حج د بيت الله شريفې راهي وم، په کاروان کې اوښان آسان موجود وه، يوه ورځ تر کاروان دمخه يو انسان چې د نر او ښځې فرق يې نسوای کېدای پياده روان دی، نو آس مې پسې ورچابک کړی چې وروررسېدم يوه عمر رسيده ښځه ده په لاس کې يې لکړه ده او په بله لکړه پورې يوه کوزه يا مشکوله د اوبو او څه د خورک شی په يوه سر او بل سر پورې خړپړې او پروړه يې هغه لکړه اچولې ده، نو ما پوښتنه وکړه ايا تريد يا اماه؟ دې راته وويل مکة ان شاء الله تعالى، ما دراهم ورته راوکښل او بوډی ته مې وويل چې دلته وده ربړه کاروان د حاجيانو را روان دی او د کرايې بوده پکښې سته يو بوده به کرايه کړې او د قافلې سره به را راهي سې، دې راته وويل چې د حج تر وخته زمانه ډېره باقي ده ان شاء الله پر خپلو پښو به ورسېږم، حسن رح وايي چې ما اصرار پر وکړی چې دغه دراهم به اخلې، دې راته وويل چې زما سره دراهم سته لکن د پښو سفر و حج ته مې خوښ دی، ما ورته وويل که رشتيا ستا سره دراهم موجود وي ته يې ماته رابنکاره کړه نو زه به مطمئن سم، دې لاس پورته کړی وه يې ويل خدايه ته دراهم راکړه چې حسن يې ومني، وروسته يې په لاس کې د دراهمو په ځای کې دنانير وه رابنکاره يې کړه، حسن رح وايي فتعجبت لاخلاصها في عبادة الحج مع القرب مع الله عزوجل.

ثُمَّ أَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٣١﴾

بيا مورږ پيدا کړه (ثم انشأنا) عطف دی پر مقدر باندې تقديره فاغرقناهم ثم انشأنا) وروسته تر دوی بل قرنًا چې ظاهره داده چې مراد ځندې قوم عاد دی.

فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ

نو مورږ واستاوه په رسالت په دوی کې يو رسول د دوی له قوم څخه چې دوی اخلاق او عدالت ښه پېژندی وهو هود ؑ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې اَن مفسر د اَرسلنا دی ای قلنا الهم علی لسان الرسول وحدوا الله کما هو معنی د عبادت ده په خطاب کې د مشرکانو.

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ۝

نسته تاسي لره یو معبود بالحق غیر له خدای ﷻ څخه آیا تاسي له خدایه نه ېېرېږئ چې ده لره شریک وایاست یعني له عذابه د خدای ﷻ وېرېږئ (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده)

وَقَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

وویل هغو اشرافو له قوم څخه دده چې کافران وه.

پوښتنه: په قصه کې د نوح ؑ فقال الملاء آه کې یې کلمه د فاء راوړه او دلته یې کلمه د واو راوړه، حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې دادی چې دلته کلام د ملاء القوم متصل نه دی بکلام الرسول، ولې چې په منځ کې مالکم من اله غیره آه واقع سو بخلاف کلام نوح ؑ، نو کلمه د واو چې لپاره د مطلق جمع دی راوړه سو ای اجتمع في الحصول هذا القول الحق وهذا القول الباطل کذا قال روح البیان والمظهري فتدبر.

وَكَذَّبُوْا بِلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ وَاَتْرَفْنٰهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۙ

او دوی کاوه په ملاقات د ورځ د قیامت ای البعث بعد الموت وکذا بما في هذا الیوم من الثواب والعقاب، لان تکذیب الظرف یستلزم تکذیب المظروف، او موږ نعمتونه یعني اموال او اولاد ورکړي وه دوی ته ددې دنیا په ژوند کې وهم المراد بالملاء من قومه.

مَا هٰذَآ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ ۙ

بوه سه: چې دا مقوله د قول د اشرافو ده، والمعنی نه دی دغه چې دعوی د نبوت کوي مګر نه بشر په مثل ستاسي په صفاتو کې د بشریت.

يَاْكُلُ مِمَّا تَاْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُوْنَ ۝ۙ

خورک کوي له هغه شي څخه چې تاسي خورک څندي کوئ او څیښل کوي د هغه شي څخه چې تاسي څیښل څندي کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي کلمه د ما په مما تشربون کي موصوله ده عائد يې محذوف دی بقرينة ماقبله ای مما تشربون منه کما في الموصول السابق، وعائد محذوف منصوب ای تشربونه.

وَلَئِنْ أَطَعْتُمْ بَشَرًا مِّثْلَكُمْ إِنَّكُمْ إِذًا لَّخَاسِرُونَ ﴿٣٤﴾

او که تاسي اطاعت وکړئ د بشر چي مثل ستاسي دی نو په تحقيق سره تاسي په سبب د متابعت دده به په خسران کي واقع سي.

پوه سه: چي کلمه د لام موطئه د قسم محذوف ده ای والله لئن اطعتم. ددوی له خسران څخه مراد دادی چي ځانونه موسره ددې چي اشراف او رئيسان د قوم ياست ذليل کړه و مثل ته خپل بلکي په ژوندانه چارو کي ترتاسي کم دي.

دروښ وايي: چي دا ددوی غايت حماقت ونهايت جهالت دی د مثل متابعت نه کوي او جماداتو بتانو ته سجدې کوي او خپل آلهه يې بولي.

أَيَعِدُكُمْ أَنَّكُمْ إِذَا مِتُّمْ وَكُنتُمْ تُرَابًا وَعِظَامًا أَنَّكُم مُّخْرَجُونَ ﴿٣٥﴾

آيا دی وعده درکوي تاسي ته (استفهام لپاره د انکار دی يعني دا وعده څو ډېره غلطه ده) چي تاسي چي مړه سئ او وګرځئ خاوري يعني غوښي مو خاوري سي او پلي ورګونه مو وشکېږي او صرف هډوکي به پاته سئ (چي هغه به هم په مرور د زمانو خاوري سي) انکم مخرجون: يعني من القبور مع اللحم والعروق ونفخ الروح فيكم كما في الدنيا.

هَيْهَاتَ هَيْهَاتَ لِمَا تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾

هيهات اسم فعل دی په معنی د بعد و فاعله الضمير المستكن فيه ای بعد وقوع هذا الوعد عن العقل والتصور، او يا معنی داده بعد التصديق والايمان بهذا الموعود من العقل (هيهات) دا تاکيد دی للاول لاجل المبالغة في الانکار.

پوه سه: چي لماتوعدون خبر د مبتداء محذوف في دی ای هذا الاستبعاد لما توعدون چي د تاسي سره وعده کړل کېږي چونکه دوی او از پورته کړی په کلمه د استبعاد يعني هيهات، نو ګويا چا له دوی څخه پوښتنه وکړه فما له هذا الاستبعاد فاجابوا لما توعدون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنْ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا

نه دی جنس د حیوٰة هیڅ شی، کلمه ان نافیه ده والاستثناء متصل، ومعنی الدنیا القربی الفانیة من الدنو وهو القرب او من الدنائة ای الخسائسة لکونها فانیة زائلة.

پوه سه: چې اصل د کلام داسي وُ ان الحیوة الا حیوة آه، نو ضمیر د هي یې په ځای کې د حیوٰة راوړی لدلالة الحیوٰة المذکورة في الاستثناء علیه دفعًا لشاعة التکرار.

فائده: ان النافیة دلته لکدلا د نفي جنس دلالت پر نفي د جنس کوي.

نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ﴿٣٧﴾

موږ مرو یعني بعض زموږ او ژوندي کیږو یعني بعض زموږ زیږي او د ژوند په لړ کې راځي (بغوي رح یوه د تعجب وړ خبره کړې ده او دده لوی معتقد مظهري رد کړې ده فارجع الی تفسیر المظهري) او نه یو موږ چې ژوندي دي سو بعد الموت کما یقوله الرسول.

إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا وَمَا نَحْنُ لَهُ بِمُؤْمِنِينَ ﴿٣٨﴾

نه دی دغه څوک چې دعوه د رسالت کوي او د بعث بعد الموت او د جنت او دوزخ خبرې کوي، مګر نه سړی دی چې پر خدای ﷻ درواغ وایي یا په رسالت کې او یا په بعث بعد الموت کې (کذبًا) تاکید دی د معنی د افتراء) موږ نه یو چې دده د خبرې تصدیق دي وکړو، دا جمله تاکید ده د هغه قول ددوی ما هذا الا بشر.

دروښ وایي: چې ددوی جهل د افسوس وړ دی، ولي چې دوی خو مشرکین وه خدای یې منی کما یدل علیه قولهم علی الله او دا یې هم منل چې خالق زموږ خدای ﷻ دی: ولئن سئلتهم من خلقکم لیقولن الله، او سره ددې چې تر ابتدائي خلق خو اعاده اسانه ده، نو هغه ذات مقتدر جلت قدرته چې دوی یې له کتم ځخه د عدم بحت میدان ته د وجود راویستل او بیا یې تر وجود وروسته په خونه د عدم بالموت ننه ایستل هغه قادر پر اعاده ددوی دی بعد الموت.

قَالَ رَبِّ انْصُرْنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾

(قال) وویل رسول هود ؑ اې زما ربه ته زما سره کومک وکړې پر دوی باندې او زما انتقام له دوی څخه واخلې. په سبب (د نه منلو) ددوی مالره، نو با سببیه ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او کلمه د ما مصدریه ده او کسره د نون دال پریاد متکلم ده والمعنی بسبب تکذیبهم ایاي.

قَالَ عَمَّا قَلِيلٍ لَّيُصْبِحُنَّ نٰدِمِيْنَ ۝

قال: ای الله تعالی اجابة لدعائه وعدة بقبوله (پوه سه! چي کلمه د ما مدغمه فیه النون لان اصله عن ما، کلمه د ما زائده ده په منځ کي د جار او مجرور د تاکید ده په معنی د قلت او مراد له قلیل څخه زمان قلیل دی) وبه ګرځي کفار مکذبین پښېمان پر خپل کفر او تکذیب ستا یعني چي عذاب نازل سي پر دوی، لکن په هغه وخت کي پښېماني دوی ته فائده نه کوي.. بیت:

تو پیش از عقوبت دری عفو کوب ..... که سودی ندارد فغان زیر چوب

فَاَخَذَتْهُمُ الصَّيْحَةُ بِالْحَقِّ

پوه سه: چي مظهري ؒ د صیحة معنی په هلاک سره کړې ده، لکن قاموس والا وایي: الصیحة والصیاح الصوت باقصی الغایة، او مظهري وایي چي د صیحة معنی دلته عذاب دی ددې سبب دادی چي قصه خو دلته د عادیانو ده او هلاک د عادیانو خو په ریح عقیم سره تر سره سو کما سیأتي في القرآن او په صیحه د جبرئیل ؑ خو ثمود هلاک سوه، ولله در صاحب روح البیان حیث قال فان قلت هذا یدل علی ان المراد بالقرن المذکور في صدر القصة ثمود قوم صالح ؑ فان عادًا اهلکوا بالریح العقیم قلت لعلهم حین اصابتهم الریح العقیم اصیبوا في تضافها بصیحة هائلة ایضًا انتهی.

دروښ وایي: چي د روح البیان پر دې جواب دا سوال وارد ږغي چي د هلاک د عاد په بل ځای کي د قرآن ورېځ عقیم ته ولي یوازي کړی دی؟

ځواب: چونکه معظم حصه د هلاک د قوم عاد ریح عقیم ؤ نو ځکه یې نسبت و هغه ته وکړی او صیحه جزوي سبب د هلاک ده والله اعلم.

دروښ وایي: چي صاحب د روح المعاني هم دا سوال راوړی دی، او ځواب یې داسي ورکړی دی چي جبرئیل ؑ پر عادیانو چغه هم وکړه د ریح عقیم په دوران کي کما روی في بعض الاحادیث انتهی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په ذکر کي د ریح عقیم او د صیحة دواړو څه فائده ده؟

ځواب: روح المعاني وایي چي اشاره ودې ته ده چې هریو ذ ریح عقیم او د صیحة د جبرئیل ؑ کافي وه په هلاک د عادیانو فافهم انتهی.

بالحق: ای بالوجه الثابت الذي لادافع له (او یا یې معنی داده بالعدل یعني خدای ﷻ پر دوی ظلم نه دی کړی بلکې دوی د دغه عذاب مستحق وه)

فَجَعَلْنٰهُمْ غُثَآءً فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾

نو موږ وګرځول دوی ټوله هلاک.

پوه سه: چي غثآء د سیل د اوبو پساؤ ته وایي چي په عربي ږې حمیلة السیل هم بولي. عربي محاوره د دوی و هغه چاته چي هلاک سي صار حمیلة السیل.

پوه سه: چي بعدًا مصدر دی د بعد بمعنی هلک، قالوا ان بعدًا مصدر وجب اضمار فعلها في الاستعمال او دی سادمسد د فعل دی، او القوم الظالمون فاعل دی د مصدر چي بعدًا دی چي پر ځای ده فعل ولاړ دی، او کلمه د لام لپاره د تقویة د عمل د مصدر ده کما في قولهم اعجبني جلوس لزید وقیام لعمرو.

سوال: بعدًا لهم یې ولي نه ووایه اسم ظاهر یې راوړی؟

ځواب: لپاره د تعلیل د بعدًا چي دوی ظلم ؤ.

فائده: دا جمله یا اخبار دی یا بنبرا ده، ترجمه: لېرې والی دی له رحمت څخه د خدای ﷻ قوم ظالمینو لره چي قوم هود ؑ وه چي هلاک سوه، درحال ظالمان ګفته اند:

چو منعم کند سفله را روزه گار ..... نهد بر دل تنګ درویش بار
چو بام بلندش بود خود پرست ..... کند بول و خاشاک بر بام پست

ثُمَّ اَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قُرُوْنًا اٰخَرِيْنَ ﴿۴۲﴾

بیا موږ پیدا کړي دي یعني وروسته تر هلاک د قرون مذکوره ؤ (وهم عاد علی الاشهر کعامر، عطف علی جعلناهم) وروسته تر عاد نور قرنونه وهم قوم صالح و لوط و شعیب و غیرهم علیهم السلام.

مَا تَسْبِقُ مِنْ اُمَّةٍ اَجَلَهَا وَمَا يَسْتَاْخِرُوْنَ ﴿۴۳﴾

نسي وړاندي کېدای (اجلها) یعني الوقت المقدر لهلاکها، معنی دا چي هیڅ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امت تر وقت مقرر لهلاکهانه هلاکيږي، او نه تر وقت مقرر دمخه هلاکيږي ای لايبقى بعد الاجل.

پوه سه: چې کلمه د من زائدة لاستغراق النفي او امة محلاً مرفوع دی فاعل د تسبق دی.

فائده: ضمير يې مذکر راوړی په يستاخرون کې او دمخه ضمائر مؤنث وه نظرًا الى معنى الامة يعني القرن، ماتسبق جمله معترضه ده.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا

وروسته راواستل رسل زمونږ پرله پسې.

پوه سه: چې اصل د تترا وتراؤ من الوتر بمعنى ضد الشفع بيا يې واو په تاء بدل کړی لکه په تراث کې چې اصل يې وراث دی، او لفظ د تترى منصوب محلاً دی حال من مفعول ارسلنا وهو رسلنا.

پوه سه: چې تترا مشتق له متواترة څخه دی وهو التتابع مع فصل ومهلة كذا قال الاصمعي واختاره الحريري ؒ في الدرة. او په صحاح کې د جوهري ؒ وايي چې مواترة بين الاشياء نه ويل کيږي بېله دې چې په مابين کې فصل او مهلت وي، ولې چې فصل نه وي هغه ته مدارکة وايي ومثله في القاموس، او له ابو علي څخه روايت دی چې مواترة ان يتبع الجز الجز والكتاب الكتاب ولا يكون بينهما فصل كثير ومنه حديث ابى هريرة ؓ لاباس بقضاء رمضان تترى اى متفرقًا غير متتابع كذا في النهاية.

دروښ وايي: وما نقل في البحر عن بعض ان المواترة التتابع من غير مهلة انتهى فلايصح تفسير هذه الآية بهذا المعنى، وفي تفسير الحسيني پى درپى يعني يکى درعقب ديگرى آه، وهو معنى المهلة، مظهري ؒ وايي چې له دې سببه چې په تواتر معنى کې مهلت شرط دی علماء محدثينو په خبر متواتر کې يعني په حديث متواتر کې دا شرط کړی دی چې روايت به يې له جهات شتّى وُ څخه وي، او راويان د حديث متواتره به سره مجتمع نه وي بحيث لايتصور اتفاقهم على الكذب انتهى.

فائده: اکثر قاريان لفظ د تترا په الف مقصوره د تانيث وايي پر وزن د سکرى بېله تنوينه لانه غير منصرف لما تقرر في كتب النحو ان المؤنث بالالف الممدودة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او المقصورة للزوم التانيث قائم مقام السببين لعدم الانصراف.

فائده: تترا مؤنث راورل سو لان الرسل بتاويل الجماعة مؤنث، قرونًا آخرين جمع دی، او رسلنا هم جمع دی ففيه مقابلة الجمع بالجمع بارادة انقسام الآحاد على الآحاد كما في ركبوا دوابهم ولبثوا ثيابهم، ن و معنى د تراخي اوس لازم سوه كانه قال ثم انشانا قرنًا ثم ارسلنا فيه رسولاً ثم انشانا قرنًا ثم ارسلنا فيه رسولاً وهكذا، ولي چي بې تقسيمه د احاد پر احاد خو معنى د آيت داسي كېږي ثم انشانا قرونًا كثيرةً وبعد القرون ارسلنا رسلاً وهذا المعنى غير صحيح في الآية فافهم هداك الله.

فائده: ابن كثير، ابو عمر، قتاده، ابو جعفر، شعبه، ابن محيص او امام شافعي رحمه الله تترلى په تنوين وايي وهو لغة بني كنانة، په تفسير بحر العلوم كي د سمرقندي رح وايي چي هغه څوک چي تترىً په تنوين وايي الف يې د تانيث نه بولي بلكې د الحاق يې بولي لكه الف د ارضى وغلقى انتهى.

كُلَّمَا جَآءَ أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ

هر وخت چي په ورغلى يو امت ته رسول د هغه امت، دوى په نسبت د كذب وكړى و هغه ته.

سوال: تولو خو نسبت د كذب نه كاوه بلكې د امت بعض وګړو پر هغه ايمان راوړى؟

ځواب: نسبت د تكذيب يې و تول امت ته په دې سبب وكړى چي اكثرو خلګو د هغه امت به يې تكذيب وكړى وللاكثر حكم الكل.

پوه سه: چي جمله د كلما جاء آه استيناف دى لپاره د بيان د حال د مجئ هر رسول و امت ته او چي له امت څخه څه شى صادر سو عند تبليغ الرسول، حسين كاشفي رح په تفسير حسيني كي وايي: تكذيب كردند اورا وآنچه گفت از توحيد ونبوت وبعث وحشر دروغ پنداشتند وبتقليد پدران ولزوم عادات ناپسنديده از دولت ايمان وتصديق محروم ماندند.

فَأَتْبَعْنَا بَعْضَهُمْ بَعْضًا وَجَعَلْنَاهُمْ أَحَادِيثَ

تابع وګرځول موږ بعض د دې قرون د كفر د نور بعض (يعني په هلاك چي يو د بل پرله پسې مو هلاك كړه لكه په انشاء كي د بعث د رسولانو يو په بل پرله پسې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دوی تـه ورتلـه، فائـده: دا جملـه عطف ده پر کـذبوه) وجعلنـاهم احادیـث: وګرځول موږ دوی صرف حکایات یعني بل اثر یې نسو پاته.

پوه سه: چې احادیث جمع د احدوثة ده وهو مایتحدثه الناس لپاره د ساتېرې چې په عربي یې سمر هم بولي او په پښتو یې د پخوانیو خلګو نقلونـه لکن بعضې خلګو به له دې حکایاتو څخه عبرت اخستی او بعضو به تعجب ورته کاوه. بیت:

ټرود مرغ سوی دانه فراز .... چو دیگر مرغ بیند اندر بند

فائده: اخفش ؒ وایي چې استعمال د کلمه د احدوثة او هغه د جمع آحادیث په شر کې کېږي واما في الخیر فلا یقال جعلتهم آحادیث و احدوثة، وانما یقال صار فلان حدیثًا یعني د خیر په کارو کې ومن ذالک آحادیث النبي علیه السلام.

فَبُعْدًا لِّلْقَوْمِ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٤١﴾

لېرې والی دی له رحمت څخه د خدای ﷻ هغه قوم لره چې ایمان پر رسولانو نه راوړي.

فائده: دا جمله اخبار هم کېدای سي او بنېرا هم. حسین کاشفي ؒ په بنېرا ترجمه کړې ده حیث قال: پس دوری باد از رحمت حق مر گروهی راکه نمی گردند بانبیاء وتصدیق ایشان نمی کنند آه. اذ لو کان اخبارًا لکان معناه بالفارسیة پس دوری بود از رحمت حق مر گروهی را انتهی.

سوال: ایوبي ته خو پښتون یې، نو ولي ته موږ پښتنو ته پښتو فرق د اخبار او د بنېرا نه بیانوې؟

ځواب: ستاسي سوال پر ځای لکن پښتو ژبه ډېره تنګه ژبه ده حتی چې پښتو ویل غالبًا له ګډون څخه د بعض عربي الفاظو یا فارسي الفاظو چاره نه لري. لکن زه به ددې آیت په ترجمه د اخبار او د بنېرا فرق درته بیان کړم (لېرې والی دی له رحمت څخه د خدای ﷻ هغه ډلې لره چې د انبیاء تصدیق نه کوي او ایمان نه پر راوړي) دا ترجمه د اخبار په ددې آیت کې (یا لېرې والی دی وي هغو کسانو لره الخ) دا د بنېرا معنی ده په ددې آیت کې.

فائده: تاریخ پوهان وایي چې فراخه د ژبو چې د بلې ژبې د الفاظو و ګډون ته ضرورت نه لري عربي ده او وروسته تر عربي فراخه ژبه فارسي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبيه: الفاظ او نومان د بعض شيانو چې انګليسي وي مستثنىٰ دي.

دروښ وايي: چې دغه رنګه اردو او هندي ژبه لکه پښتو د عربي يا فارسي الفاظو ګډون ته ضرورت لري والتجربة شاهدة لصدق ما قلنا.

ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَىٰ وَأَخَاهُ هَارُونَ ۙ بِآيَاتِنَا وَسُلْطَانٍ مُّبِينٍ ﴿٤٥﴾

وروسته راواستاوه موږ موسىٰ ؑ (ثم ارسلنا موسىٰ) عطف دی پر ثم ارسلنا رسلنا آه) او ورور ده هارون ؑ (هٰرون عطف بيان يا بدل دی له اخاه څخه) په معجزاتو سره (چې نهه (۹) وې په اوږدو کې د تبليغ د موسىٰ و هارون ؑ و فرعون او ډډه و قوم ته) وسلطان مبين: يعني حجت واضحه په خوله د دوی چې د خصم فرعون الزام لپاره کافي ؤ، او دا هم احتمال سته چې مراد دي له سلطان څخه عصاء وي.

پوښتنه: په آياتنا کې عصا هم داخل وه، نو بيرته د تخصيص بالذکر حکمت يې څه دی؟

ځواب: وجه يې دا ده چې عصىٰ اوله معجزه وه د موسىٰ ؑ، او ددې په ضمن کې سوی د نهه معجزو څخه نوري معجزې هم وې (۱) د ساحرانو مقابله چې فرعون راغونډ کړي وه د موسى ؑ لکړي د هغو ټولي لکړي او رسۍ وخوړلې (۲) موسىٰ ؑ چې له مصر څخه سره د بني اسرائيلو ووتی او په مخ کې يې بحر راغلی موسىٰ ؑ هم په دغه لکړه دریاب وواهه، دریاب وچه لار ورکړه (۳) موسىٰ ؑ سره د بني اسرائيلو وروسته تر غرق د فرعون و قومه چې د تيه په دښت کې يې سفر کاوه چې قصه يې ډېره اوږده ده چې د اوبو ضرورت به يې پيدا سو هم په دغه لکړه به يې ډېره ووهل فانفجرت منه اثنتى عشرة عينًا كما جاء في موضع آخر من القرآن العزيز (۴) چې موسىٰ ؑ به ټيرته په هغه لکړه چې د اوبو ضرورت به د دفع سو هغه ډبره ووهل د اوبو چينې به وچې سوې (۵) او دا لکړه به د شپې څراغ ګرځېدله (۶) او که به پريو ځاى رسۍ وه سولاغه به نه وه دا لکړه به سولاغه سوه (۷) که پر ځاى به سولاغه وه مرانده به نه وه دا لکړه به مرانده سوه الى غير ها مما جاء في كتب التفاسير المعتبرة. پوه سه: چې تفصيل د آيات نهه په تفسير کې د سورة البقرة تر سوی دی.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَمَلَإِيْهِ فَاسْتَكْبَرُوا وَكَانُوا قَوْمًا عَالِينَ ﴿٤٦﴾

و فرعون او ډډه د قوم و اشرافو ته، نو دوی کبر وکړی له ايمان راوړلو څخه پر رسول د خداى ﷻ موسىٰ ؑ، او دوی وه پر خلګو بلند يعني پر خلګو يې ترفع کول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کبرًا او په دوی یې خدمتونه کول ظلمًا خصوصًا بني اسرائیل، فرعون خو ځان خدای باله، کریمه: مالکم من اله غیري او قوم دی په خدایي هم منلی ؤ.

فَقَالُوٓا۟ أَنُؤْمِنُ لِبَشَرَيْنِ مِثْلِنَا وَقَوْمُهُمَا لَنَا عَٰبِدُونَ ﴿٤٧﴾

نو فرعون او دده اشرافو وویل، آیا موږ به ایمان راوړو (استفهام لپاره د انکار دی یعني نه موږ اقرار کوو او نه موږ تصدیق کوو په فضل او نبوت سره) د دوو انسانانو چې زموږ رنګه دي، او ددوی دوو قوم یعني بني اسرائیل زموږ خادمان لکه مریان دي (والعرب تسمّی کل من اطاع وتذلل لاحد انه عبدله)

پوښتنه: مثلنا خو صفت د بشرین دی، نو ولي یې تثنیه نه راوړی؟

ځواب: نحات وایي چې مثل وغیر یوصف بهما الواحد والمثنّی والجمع والمذکر والمؤنث فحکم مثل حکم المصدر.

فائده: دا خبره انؤمن آه دوی په خپل منځ کې مشوره وکړه.

فائده: وقومهما لنا عٰبدون: حال دی له فاعل څخه د نؤمن لپاره د تاکید د انکار له ایمان څخه اشاروا لعنهم الله دې ته چې موسی او هارون ؑ ذلیل خلک دي.

فَكَذَّبُوهُمَا فَكَانُوا۟ مِنَ ٱلْمُهْلَكِينَ ﴿٤٨﴾

دوی تکذیب وکړی د موسی او هارون علیهما السلام (عطف دی پر ارسلنا باندي) نو دوی وګرځېدل له هلاک شده ګانو څخه یعني بالغرق کما مر مرارًا قصته تفصیلاً.

پوښتنه: چې ځای د هلاک د فرعونیانو بحر القلزوم دی.

سوال: په نحو کې وایي چې کلمه د فاء عاطفه لپاره د تاخیر ده بلا فصل او سره ددې چې ددوی تر تکذیب وروسته فلا فصل زمان دوی نه دي هلاک سوي؟

ځواب: د کذبوهما معنی داده چې فرعونیانو استمرار پر تکذیب وکړی کریمه: واصروا واستکبروا استکبارًا، نو اخیره زمانه ددوی د تکذیب ممتد سنوات متصل سوه د اهلاک سره ددوی فلا فصل زمان، واجیب ایضًا ان معنی فکانوا من المهلکین انهم صاروا بعد التکذیب فلا فصل زمان محکوم علیهم بالاغراق، او حکم د اغراق من الله ﷻ مقدم علی الاغراق، واجیب ایضًا ان الفاء ههنا لیس للعطف بل لمجرد السببیة ای صاروا بسبب التکذیب للرسولین من المهلکین فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ لَعَلَّهُمْ يَهْتَدُوْنَ ﴿۳۵﴾

لام موطئه د قسم حذوف دی، موږ ورکړی و موسٰی ته کتاب یعني التوراة وروسته تر غرق د فرعون وقومه ونجات بني اسرائیل من تسلطهم، لعل: په معنٰی د لام کی دی او ضمیر د هم راجع دی و قوم ته د موسٰی ؑ لا الی فرعون وقومه لان التوراة انما نزل بعد غرق فرعون وقومه.

فائده: پوه سه! چي اعطاء د تورات و موسٰی علیه السلام ته لپاره د هدایت د قوم وُ کما هو شان الکتب الالهیة، نو اعطاء و قوم ته ده، نو حُکمه یې داسي وویل لعلهم یهتدون، والمعنٰی ددې لپاره چي قوم د موسٰی ؑ و حق ته لار پیدا کړې علمًا وعملاً. ولي په تورات کي اعتقادیات او عملیات دواړه ستة.

وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗٓ اٰيَةً

او وګرځول موږ زوی د مریم او مور ده آیة یعني دلیل د قدرت تامه د خدای ﷻ بسبب ولادتها ایاه من غیر مسیس شخص.

سوال: عیسی ؑ او مور ده خو دوه آیته دي، نو آیة یې ولي مفرد راوړی؟

خواب: آیة د قدرت خو یو دی مضاف دی و دواړو ته یعني زېږول د مریم عیسی ؑ پېله مسس د چا، دویم خواب دادی چي په آیت کي تقدیر سته یعني وجعلنا بن مریم آیة بان تکلم في المهد وظهر منه معجزات اخر وامه آیة بان ولدت من غیر مسیس، تکلم في المهد یې حذف کړی لدلالة الثانیة علیه، کذا في روح البیان، روح المعاني، قرطبي، تفسیر الرازي، مظهري وغیرهما.

وَّاٰوَيْنٰهُمَآ اِلٰى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَّمَعِيْنٍ ﴿۵۰﴾

او خای مو ورکړی دوی دوو ته په یو مکان مرتفع کي د مځکي، عبد الله بن سلام ؓ وایي چي مراد دمشق دی وهو قول سعید بن المسیب ومقاتل ؒ، او صحاک ؒ وایي چي په غوطه کي د دمشق چي قریب بنار دی د دمشق کذا في مجمع البحار، او ابو هریرة ؓ وایي چي رمله ده، عطاء له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چي مراد بیت المقدس دی وهو قول قتادة وکعب ؓ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي اطلاق د ربوة چي لوړي مځکي ته وايي پر بيت المقدس ډېر زېبا دی، ولي کعب ؒ وايي چي بيت المقدس اته ميله تر نوري مځکي و اسمان ته نژدې دی، او ابن زيد وايي مصر دی او سدي وايي فلسطين دی، حسين کاشفي وايي مادر و پسر را وقتيکه از يهود فرار کردند وباز آوردیم بسوی ربوه از زمين بيت المقدس، حسين کاشفي ؒ په تفسير حسيني کي وايي اورده اند که مريم با پسر خود وپسر عم خود يوسف بن ماهان ۱۲ سال در آن موضع بسر بردند وطعام عيسی ومادروی از بهايي ريسمان بود که مادرش می رشت وعيسی ؑ دربازار ميفروخت لکن اين ريسمان از قطن وکتان بوده انتهی.

(ذات قرار) چي هغه مځکه ځای د قرار وه، يعني سمه اواره مځکه چي شيګي او ډبري نه وي پکښې او اوسېدونکي يې په ارامه پر اوسېدل، او بعض مفسرين وايي چي ځای د مېوو او د کښتو وۀ چي خلګ د مېوو او کښتو له سببه پکښې اوسېدل (معين) اوبه او ويالې جاري يې درلودې، عرب وايي: معن الماء اذا جرى، نو د معين وزن د فعيل دی په معنی د فاعل ای ظاهر جار.

فائده: جاري اوبو ته ولي معين وايي؟ ددې لپاره چي په ستر ګو ليدل کېږي بخلاف القنوات (کاريزونه)

يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ

پوه سه: چي دا حکايت دی و عليه الصلوة والسلام ته علی وجه الاجمال د هغه شي چي په هغه مخاطب سوی دی هر رسول په عصر کي، غرض زما دادی چي داسي خطاب نه دی چي ټوله په مخاطب سوي دفعةً واحدةً، ولي چي رسولان خو په متفرقه زمانو کي راستول سوي وه فلا يمكن الخطاب الى الكل دفعةً في زمان واحد بلکې هر رسول په خپله زمانه کي په هغه وروستني آيت کي داسي مخاطب سوي وه امراً تکليفًا يعني مکلف وه په ما سيئاتي سره (كلوا من الطيبات) يعني تاسي خوراک کوئ د حلالاتو شيانو څخه دون المحرمات ولذا قلت امراً تکليفيًا له دې څخه دا معلومه سوه چي خورک د حلالاتو شرع قديم ده.

فائده: مظهري ؒ د طيباتو په حلالاتو مقابل د محرماتو سره کړی دی، نو ځکه مورد دا وويل چي دا امر تکليفي دی، او روح البيان د طيباتو تفسير داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی مایستطاب ویستلذ من مباحات المکائل والفواکه، نو ځکه یې داسي ویلي دي چې په دې آیت کې بیان دی د اباحت د لذائذو او فواکه ورسولانو ته، او په دې آیت کې دا هم اشاره ودې ته ده چې اباحت شرع قدیم ده، او بعض مفسرین وایي چې دا خطاب دی و رسول الله ﷺ ته، پر قانون د عربو چې یو سړي ته خطاب د جمع کوي تعظیمًا (لکه په پښتو کې هم ورته الفاظ ستا لکه یو شاګرد چې استاذ ته ووایي چې تاسي نن چېرې تللي واست مثلاً په ځای کې ددې چې ته نن چېرې تللی وې) وهکذا خطابات الادب بین الابن والاب فافهم، نو په دې آیت کې اظهار لفضله ﷺ وقیامه تمام الکل في حیازة کمالاتهم.

ع:..... آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

فائده: پر تقدیر د اراده د مستلذاتو او فواکهو خو امر ترفیه دی، په دې رد دی د رهبانیه وو چې ترک د مستلذاتو کوي د بزرګۍ لپاره کما في رهبان النصاری، کریمه: ورهبانیة ابتدعوها ماکتبناها علیهم الآیة، او بعض مفسرین وایي چې د طیبات معنی ده الحلال الصافي القوام، نو د حلال مراد دادی چې معصیت د خدای ﷻ نه وي پکښې چې ضد یې حرام دی، او د صافي معنی داده چې خدای پاک په هغه کې نه هېرې او ضد یې هغه دی چې سړی چې په انهماک کې د شهواتو اخته کوي لکه بعض پېړۍ الانو چې مختار کړی دی چې پرستر خان د نعمتو د کاسو او غابو سره جنګ وي، او د قوام معنی داده چې دومره خوراک کول چې قوام د نفس او حفظ د عقل او د قوی ظاهره او باطنه په وسي، او ضد د قوام خوراک دی فوق الشبع.

حکایت: زما یو شاګرد ؤ چې ډېخي ډېره ډوډی یې پریږده ځای خوړله، نو ده ماته وویل چې ما هیڅ کله تېغ (اربی) نه دی کښلی! ما ورته وویل چې تېغ خو هلته سړی کاږي چې په معده کې خالي ځای وي، ته خو ډوډی تر ستوني پورې خورې، نو تېغ به په کوم ځای کې پیدا سي، دا وه فاکهه د تفسیر ایوبي چې په عین حال کې منع د خورک څخه فوق الشبع.

وَاعْمَلُوا صَالِحًا ۖ إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾

او تاسي عمل کوئ صالح.

فائده: صالح عمل هغه دی چې مراد ځنډي وجه الله وي پر موافق د امر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ خالصًا له تعالی چي نه شرک جلي لکه بت پرستي پکښې وي او نه شرک خفي چي ریاء ده پکښې وي (اني بما تعملون علیم) تعلیل ده د (واعملوا) یعني فاجازیکم حسب اعمالکم.

بوه سه: چي کلمه د ما که مصدریه وي، نو معنی یې داده اني بعملکم علیم او کلمه د ما که موصوله وي، نو عائد و موصول ته محذوف دی، والتقدیر اني بالذي تعملونه علیم فتدبر.

وَإِنَّ هٰذِهٖٓ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَّاحِدَةً وَّأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُوْنِ ﴿۵۲﴾

ای اکل الطیبات والعمل بالصالحات شریعت او ملت دی ستاسي ټولو یعني مؤمنانو (ملةً واحدةً) وهي الاسلام چي یو دی په معتقداتو کي او په اصولو کي د شرائعو والعمل بالفروع علی حسب ما امر الله به.

فائده: جمله د وان هذه آه محلاً منصوب ده حال ده له فاعل څخه د کلوا، قوله امة واحدة حال مؤکده دی لقوله امتکم مثل زید ابوک عطوفًا او عامل د حال معنی د اشیر ده چي د هذه څخه وفهمهد له کما في قوله تعالی وهذا بعلي شیخًا.

(وانا ربکم فاتقون) او زه خدای ﷻ مربي ستاسي یم، نو زما څخه وبېرېږئ، والفاء للسببیة یعني زه مو رب یم، نو زما د عذاب څخه وبېرېږئ.

پوه سه: چي اکل د لقمه حلال په انسان کي علم او حکمت پیدا کوي کما في المثنوي:

علم وحکمت زاید از لقمه حلال ..... عشق ورقت آید از لقمه حلال

فائده: کان رزق نبینا ﷺ من غنائم الکفار وهذا الرزق اطیب الطیبات.

فَتَقَطَّعُوْٓا أَمْرَهُمْ بَيْنَهُمْ زُبُرًا ؕ

نو سره ټوک ټوک کړی هغو کسانو چي دوی ته رسل وراستول سوي وه وروسته تر ارسال امر د دین خپل یعني د هر دینونه یې څندي جوړ کړه چي مختلفه وه په اصول کي د دین، نو بعضو له دوی څخه ایمان راوړی پر ټولو رسولانو او په ټوله ما ارسل الیهم وهم اهل الحق في کل قرن، او بعض ایمان راوړي پر بعض رسولانو او پر بعضو کتابو کالیهود آمنوا بموسی ﷺ وبالتورات دون غیره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کالانجیل وعیسی ؑ، او نصاری چې ایمان یې پر عیسی ؑ او انجیل دون غیره ای موسی ؑ و تورات، او بعضو کفر وکړی په ټولو کتابو او په ټولو رسولانو لکه مجوس او بت پرستان.

فائده: باب د تفعل په معنی د تفعیل دی. ضمیر د تقطعوا وه مرسل الیهم ته راجع دی المذکورین في القصص المذکورة حیث قال الله تعالی: ولقد ارسلنا نوحًا الی قومه وانشاء قرونًا فارسلنا فیهم رسلاً تتری وغیر ذالک، نو جمله د تقطعوا عطف ده پر ارسلنا في قوله تعالی ولقد ارسلنا آه (زبرًا) جمع د زبور ده بمعنی الفرقة یعني دوی فرقه فرقه او طائفه وګرځېدل کما مر آنفًا.

فائده: زبرًا یا منصوب دی مفعول مطلق د تقطعوا من غیر لفظه نحو انبته الله نباتًا، او عین ممکنه ده چې زبرًا دي په معنی د کتبًا وي من قولهم زبرت الکتاب اذا کتبته کتابةً غلیظةً وکل کتاب یکون غلیظ الکتابة یقال له زبور، نو معنی داده چې دوی خپل دین وګرځاوه کتابونه کتابونه چې تحریفات یې پکښې وکړه بعد ماکان کتابًا واحدًا من الله منزلاً علی رسوله.

كُلُّ حِزْبٍۭ بِمَا لَدَيْهِمْ فَرِحُونَ ﴿٥٣﴾

هره ډله ددې متفرقو ډلو څخه په هغه دین کې که څه هم في الواقع باطل او مبني پر هوا نفسي وي خوشاله وي او عقیده یې دا وي چې موږ پر حق یو.

بوه نه: چې دا جمله مستانفه ده او څرنګه هره فرقه وایي چې زه خدای پېژنم او پر حق یم، شیخ مصلح الدین شیرازي ؒ وایي:

عاکفان کعبه جلالش بتقصیر عبادت معترفند که ما عبدناک حق عبادتک، وواصفان حلیه جمالش بتحیر منسوب که ما عرفناک حق معرفتک.

گر کس وصف ز من پرسد ..... بیدل از بی نشان چه گوید باز
عاشقان کشته گان معشوقند ..... بر نیاید ز کشتگان او از

فَذَرْهُمْ فِى غَمْرَتِهِمْ حَتَّىٰ حِينٍ ﴿٥٤﴾

پریږده ته یا محمد ﷺ دوی په خپل کفر او ضلال کي او په غفلت او جهالت کي جهلاً مرکبًا یعني چې نه په حق پوهیږي او نه په خپل جهل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې د جهل مرکب والا ته هدايت دهر مشکل کار دی، ولې چې دی ځان پر حق بولي ... بيت:

آن کس که ندند وبداند که بداند ..... درجهل مرکب ابد الدهر بماند

البته هغه څوک چې پر خپل جهل علم ولري د هغه هدايت ته لار سته ... بيت:

آن کس که نداند وبداند که نداند ..... او اسپ خود از گنبد پيروزه جهاند

پوه سه: چې غمرة هغو ابو ته وايي چې د سړي قامت پکښې پټيږي، نو ددوی جهالت او کفريې مشابه کړی د هغو سره ولې چې دوی هم په خپل کفر او ضلالت کې پټ دي تر وخته پورې د قتل يا موت پر کفر باندې پرې نږدې فهذا وعيد لهم بعذاب الدنيا والآخرة وتسلية لرسول الله ﷺ ونهي عن استعجال عذابهم والجزع من تاخير العذاب.

أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ۝

آيا گمان کوي هغه کسان چې په مالديهم دوی خوشاله دي او متابعت د رسولانو نه کوي، بلکې تکذيب يې کوي (والهمزة للانکار الواقع يعني دا گمان دي نه کوي)

پوه سه: چې کلمه د ان لپاره د تحقيق ده او کلمه د ما موصوله ده يعني په تحقيق هغه شی چې موږ يې دوی ته ورکوو او دوی ته کومک ورکوو په هغه شي، ضمير د به عائد دی و ما موصوله ته.

سوال: کلمه د ما چې موصوله ده ولې په ان متصل نوشته کړې ده، قانون د نحو فصل دی يعني هکذا ان ما؟

ځواب: دا اتصال په سبب د رسم د مصحف عثماني دی چې امام يې بولي وان لاتعلم حکمته، هکذا في روح المعاني.

(من مال وبنين) بيان د ما موصوله دی يعني مال او زامن.

فائده: مال يې تر زامنو دمخه کړی مع ان البنين اعز من الاموال باعتبار الوجود، ولې چې په مال سره ماينه پيدا کيږي او د هغې نفعه وروسته بنين او بنات پيدا کيږي.

سوال: چې اولاد ويل سوی واى بنين او بنات دواړو ته به شامل واى. حکمت يې څه دی؟

ځواب: دا مخاطبه قرآنيه ده د کفارو سره او هغو ته بنات سر درد وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ﴿٥٦﴾

(نسارع لهم آه) دا جمله خبر د ان ده او عائد پکښې محذوف دی ای نسارع به او ان سره د اسم او خبره قائم مقام د مفعولي د یحسبون دی، ترجمه: آیا دوی دا گمان دی چې دوی ته مو ورپه دنیا کې اموال او بڼین ورکوو دا مبادرت دی زمونږ د خوا دوی ته په خیر سره او اکرام او اعزاز د دوی دی یعنې ثواب د دوی د عملو او عقائدو دی چې خدای ﷻ له دوی څخه راضي دی، نو ځکه دوی په خوشاله دي و معنی الاستفهام ان الامر لیس کذالک (بل لایشعرون) بلکې دوی شعور نه لري یعنې حیوانات یې لري، کریمه: هم کالانعام بل هم اضل، ولي دوی که فطنة، فهم او شعور درلود ای دا به ورته معلومه سوې وای چې عقائد او اعمال زمونږ خو مستوجب د ثواب او د مرضات الهي نه دي بلکې دا استدراج دی مبادرت الی الخیرات نه دی.

فائده: په آیت کې رد دی پر معتزله وو چې دوی وایي چې هر شی چې اصلح وي د بنده گانو په دین کې هغه پر خدای ﷻ واجب دی چې د بنده سره به یې کوي، په شرح العقائد کې وایي چې شیخ ابو الحسن الاشعري و خپل استاذ الجبائي المعتزلي ته وویل چې هغه ددې مسئلې چې اصلح پر خدای ﷻ واجب دی بیان کاوه، چې ته څه وایه په هغو دروو رنځو کې چې یو مؤمن تقي وي مړ سي او بل کافر فاجر مړ سي او بل په کوچني والي مړ سي؟ جبائي ورته وویل چې مؤمن تقي به په جنت کې وي خدای ﷻ خپل واجب دده سره پای ته ورساوه، او کوچنی که خدای ته ووایي چې زه دي ولي په کوچني والي مړ کړم زه به دي لوی کړی وای او دین به دي پر ما عرض کړی وای چې ما ایمان راوړی وای اوس به زه په استحقاق سره په جنت کې وای، خدای ﷻ به څه جواب ورکوي؟ جبائي ورته وویل چې خدای به ورته ووایي چې زه په تا خبروم چې ته که لوی سوی وای ته کافر کېدې او په دوزخ کې به وای، نو اصلح ستا دغه وه چې په کوچني والي مي مړ کړې، شیخ اشعري ؒ وویل چې هغه کافر ورور چې په دوزخ کې دی که یې خدای ﷻ ته وویل چې په ما خو هم خبر وې چې زه کافر کېږم، نو ما لره خو هم اصلح دا وه چې په کوچني والي دي وژلی وای، له دوزخ څخه به خلاص وای، خدای ؒ به څه جواب ورکوي؟ فتحیر الجبائي وترک الاشعري ﷺ مذهبه انتهی بتغیر فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ هُم مِّنْ خَشْيَةِ رَبِّهِم مُّشْفِقُونَ ﴿٥٧﴾

په تحقیق هغه کسان چې له ډېرې څخه له عذابه د خدای ﷻ ځان ساتي د اسبابو څخه د عذاب د خدای ﷻ من المعاصي. قال الحسن البصري رح المؤمن جمع احسانًا (ای العمل بالاخلاص کما في الحدیث الطویل المتفق علیه الاحسان ان تعبد الله کانه تراه فان لم تکن تراه فانه یراک) او بېره د خدای ﷻ څخه سره د عمل بالاحسان لري، والمنافق جمع اساءة (ای الکفر المبطن) وامنًا او بېغمه دی.

وَالَّذِينَ هُم بِآيَاتِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿٥٨﴾

او هغه کسان چې پر آیاتو قرآنیه د رب د دوی یې ایمان وي (دا عطف دی پر الذین) او یا مراد له آیاتو څخه علامات منصوبه دي في الانفس والافاق الدالة علی وجود الصانع وتوحیده وکمال علمه وقدرته یعني پر دې آیاتو یې ایمان راوړی وي.. بیت:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار .... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وَالَّذِينَ هُم بِرَبِّهِمْ لَا يُشْرِكُونَ ﴿٥٩﴾

او هغه کسان چې دوی د رب سره د دوی شریک نه وایي.

سوال: په مخني آیت کې داسي راغلي والذین هم بآیات ربهم آه، چې د تفسیر سره تېر سو چې توحید د خدای ﷻ پکښې ذکر سو فما الحکمة في ذکر هذه الآیة؟

ځواب: مراد په دې آیت کې عام دی که شرک جلي وي که خفي کالریاء، نو توحید د خدای ﷻ مستلزم عدم شرک لره نه دی کالعلماء المرائین.

وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَّقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ

او هغه کسان چې ورکوي هغه شی چې دوی یې ورکوي من الزکوة والصدقات وصلة الرحم وتوسلوا بها الی مرضات الله.

پوه سه: چې صیغه د مضارع لپاره د استمرار ده، یعني همېشه یې دغه کار وي او صیغه د ماضي یعني ماآتوا لپاره د دلالت پر تحقق ده (وقلوبهم وجلة) الواو للحال عن فاعل یؤتون او زړونه د دوی بېرېږي چې دا صدقات به زموږ نه وي قبول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي، ولي چي دوی پر خپل ځان دا یقین نه لري چي دا عمل دي په اخلاص کړی وي یا یې دا خیال وي چي دا زما عمل به شایان د شان د خدای ﷻ نه وي، نو زه به په عمل ونیول سم یعني بالعذاب، او یا پر دې بېرېدي چي دا اعمال زما په سبب د خلاصون زما د اوره نه وکړځي لکثرة الخطایا، سید طایفة الصوفیة بایزید البسطامي رحمه الله په خپل یوه مناجات کي وایي:

چار چیز اورده ام شاها که در گنج تو نیست
عاجزی و مسکینی فقر و گناه اورده ام

په عمل به غرور مغرور کوي،

تکبر عزازیل را خوار کرد ..... بزندان لعنت گرفتار کرد

انا خیر منه خلقتني من نار وخلقته من طین. قاله ابلیس علیه اللعنة حین امره الله تعالی بالسجود لآدم وقد مر تمام تفسیره في سورة البقرة.

أَنَّهُمْ إِلَىٰ رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ﴿٦٠﴾

ای لان رجوعهم الی الله وهو یعلم ما یخفی، او حسن بصري رح وایي چي دوی عبادت کوي او په عبادت کي ډېر کوشان وي او بېرېدي چي رابانديږدنه سي، د سیدتنا ام المؤمنین عائشة رضي الله عنها څخه روایت دی. دا وایي چي ما پوښتنه وکړه ددې آیت په باره کي (والذین یؤتون ما اتوا وقلوبهم وجلة) چي دا هغه کسان دي چي شراب څیښي (ویسرقون قال علیه السلام لا یا ابنت الصدیق ولکنهم یصومون) یعني روژې نسي او لمونځونه کوي او زکوا تونه ورکوي او دوی بېرېدي چي را څخه قبول به نه سي (اولئک یسارعون في الخیرت) رواه احمد والترمذي، د بعض صوفیه کبارو څخه روایت دی چي بېره د عارف بالله خپل د طاعت څخه ډېروي تر معصیت لان المعصیت یمحو بالتوبة والطاعة یطلب بتصحیح ارکانها وغیرها والاخلاص والصدق في کل ذالک وتلک امور الدقیقة قلما یدرکها صاحبها.

دروښ وایي: چي فاذا کان فاعل الطاعات فائقا مضطربا فکیف حال العاصي المتوغل في العصیان، سعدي شیرازي وایي:

در ان کز قول پرستار و فعل ..... اولوا العزم را تن بلرزد زهول
بجای که دهشت خورد انبیاء ..... تو عذری گناه را چه داری بیا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: موصوفات متعاطفه ټوله اسم دان دي او خبريې راتلونکی آيت دی.

أُولَٰئِكَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَهُمْ لَهَا سَابِقُونَ ﴿٦١﴾

دغه کسان چې موصوف په دغو صفاتو سره وي رغبت کوي اشد الرغبة في الطاعات او مبادرت کوي په کولو کي د طاعاتو مذکوره وو وغيره کي چې را څخه فوت نسي. او يا معنی داده چې تلوار کوي په نيل کي د خيراتو الاخروية من الجنات ورضى الله الرحمن وبشارة في ذالک ان لاخوف عليهم ولاهم يحزنون چې د خيرات موعود پر کولو د طاعاتو مذکوره وو. او دا احتمال هم سته چې مراد له خير اتو څخه دي خيرات دنيويه وي چې موعود دي پر صالح اعمالو په دنيا کي کما قال رسول الله ﷺ (لايرد البلاء الا الدعاء، ولايزيد في العمر الا البر اى صلة الرحم مع الاقارب) آية کريمه: فاتاهم الله ثواب الدنيا وحسن ثواب الآخرة.

پوښتنه: په آيت متلوه کي موصول يعني الذين يې مکرر راوړل سو، او که يې د اول موصول پر صله نوري صلات عطف کړي واى او موصول يې نه واى راوړى مثلاً داسي ويل سوي واى ان الذين هم من خشية ربهم مشفقون وهم بآيات ربهم يؤمنون وهم بربهم لايشرکون، ويؤتون ما اتوا الى اخيرها، نو اختصار به هم واى نو حکمت د اعاده د موصولاتو څه دی؟

ځواب: په اعاده کي د موصولاتو تنبيه پر دې ده چې هريو ددې صفاتو مستقل دی په ثبوت کي د خبر يعني يسارعون في الخيرات، او که يې صلات سره عطف کړي واى او موصولات يې نه واى راګرځولي نو هم به ددې کبداى چې دا مجموع الصلات سبب دی د مسارعت الى الخيرات فتامل غاية التامل.

پوه سه: چې لام په (وهم لها سابقون) کي لپاره د اجل او د سابقون مفعول محذوف دی، والمعنى دوى اى المتصفون بالصفات المذکورة لاجل الخيرات المذکورة چې ددوى دخول دمخه دی تر خلګو و جنتو ته او دا هم احتمال سته چې دوى له سببه د خيراتي کارو چې ذکر سوه سابقون دي و خيراتو ته ددې دنيا قبل الآخرة کمامر ذکرها، او بعض مفسرين وايي چې لام په معنى د الى دی، نو معنى داده چې دوى د خير و کارو ته سابقون دي تر نورو امتو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

او موږ تکليف نه کوو (مضارع لپاره د استمرار ده يعني دا عادت مستمره زمونږ دی) پر نفس مګر په هغه شي چې هغه نفس يې توان او طاقت لري (ولي چې زکوات يې پر اغنياؤ فرض کړی دی دون الفقراء، او لمونځ قياماً پر هغه چا فرض دی چې طاقت د قيام لري والا فقاعداً والا فمضطجعاً او روژه يې پر هغه چا فرض کړې ده چې طاقت يې لري او شيخ فاني يې له روژې څخه په فديه د نصف صاع خلاص کړی وهكذا مسافر او مريض يې له روژې څخه په قضاء د عدة من ايام اخر معاف کړی دی الی غير ذالک من التكاليف الشرعية) او دا هم احتمال ذکر کړل سوی دی چې دا جمله مستانفه ده يعني واو استينافي دی كما في كثير من مواضع الهداية، لپاره د باعثه کولو د مؤمنانو پر اعمال مذکوره وو په دې معنی چې تاسي خپل سعي مبذول کړي د اخيرات مذکوره له دائره څخه د توان او طاقت نه دي وتلي.

وَلَدَيْنَا كِتٰبٌ يَّنْطِقُ بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۶۲﴾

او په نېږ زمونږ ديو کتاب سته چې مراد څنډي لوح محفوظ دی (نو تنوين د کتاب لپاره د تعظيم دی ای کتاب عظيم الشان، او يا مراد څنډي صحائف د اعمالو دي چې کرام کاتبين د هر بنده اعمال پکښې ثبت کړي دي، نو پر دې تقدير تنوين لپاره د تكثير دی ای صحائف كثيرة محفوظة تحت العرش كما يقول الرجل افتخاراً عندي دراهم ودنانير ای كثيرة) چې خبرې کوي يعني په هغه کتاب کې ثبت دي فالنطق كناية په حق متحقق في الواقع يعني اعمالهم ثابتة لدينا لايضيع منها شئ، او پر بندګانو ظلم نه کړل کېږي يعني نه يې په حسناتو کې نقصان راځي عما فعلوا، او نه يې په سيئاتو کې زيادت راځي پر ما فعلوها. كريمه: فمن يعمل مثقال ذرة خيراً يره ومن يعمل مثقال ذرة شراً يره.

فائده: د لقد ارسلنا نوحاً څخه بيان د حال د کافرانو ؤ الی قوله تعالی بل لايشعرون، او په اثناء کې د حال د کافرانو چې حكمت يې انذار ؤ، د هغه قول څخه د خدای ﷻ ان الذين هم من خشية ربهم څخه الی قوله تعالی وهم لايظلمون، پر طور د جمل معترضه بيان د حال د مؤمنانو ؤ بشارة لهم، اوس بيرته حال د کفارو ذکر کوي يعني بقوله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ قُلُوبُهُمْ فِي غَمْرَةٍ مِّنْ هٰذَا

تر پایه پوري نو دا آیات متصل دی بقوله تعالی بل لایشعرون (في غمرة) یعني زړونه د هغو کفارو چي پر هغو تاپه د لایشعرون ولګول سوه په غمره یعني غفلت غامره کي دي (من هذا) یعني د خپل عدم شعور څخه نو دوی لکه چي شعور نه لري پر خپل عدم شعور هم شعور نه لري. وهذا معنی الجهل المرکب کمامر تفصیلا.

وَلَهُمْ أَعْمَالٌ مِّن دُونِ ذٰلِكَ هُمْ لَهَا عَامِلُونَ ﴿۶۳﴾

او دوی لره یعني مشرکي مکة لره عملونه دي یعني خبیث (من دون ذالک) ای کائنة من آه بیله هغه عملو چي په هغه سره مؤمنان موصوف وه کمامرت یا معنی داده چي زائد تر شرک نور خبیث عملونه لري، چي دوی د هغو اعمال خبیثه وو عمل کونکي دي یعني چي دوی پر هغو عملو عادت نیولی دی.

پوه سه: چي وهم لها آه صفت دی د اعمال.

حَتَّىٰ إِذَا أَخَذْنَا مُتْرَفِيهِم بِالْعَذَابِ

پوه سه: چي حتی غایة ده لاعمالهم المذکورة او شروع عده د وروسته لپاره چي مضمون د شرطیه دی کذا في روح المعاني وتفسیر الکشاف، ترجمه: تر هغه وخته دوی هغه عملونه کوي چي ونسو موږ رئیسان د دوی چي متنعمین وه مشتق من الترف بمعنی النعمة (بالعذاب) ابن عباس رضی الله عنه وایي وهو السیف یوم بدر، او ضحاک رح وایي چي مراد له عذابه لوړه وه چي پر دوی مسلطه سوه په سبب د بېراد علیه الصلوة والسلام اللهم اشدد وطئتک علی مضر (ته سخت کړې عذاب خپل پر مضر یعني قریش) واجعلها علیهم سنین کسني یوسف (او وګرځوې پر دوی کلونه د کاختی لکه کلونه د کاختی د یوسف ؑ) فابتلاهم الله بالقحط حتی اکلوا الکلاب والجیف والعظام (نو دوی مبتلاء کړه خدای پاک په کاختی او لوړه سره حتی چي د سپو غوښي به یې خوړلې او نور مردار شیان او هډوکي به یې ایشول هغه غوړي او به به یې څیښلې، کما في البخاري ومسلم بروایة ابن مسعود.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذَا هُمْ يَجْـَٔرُونَ ﴿٦٤﴾

كلمة اذا للمفاجئة والجئر رفع الصوت بالاستغاثة. دا جمله جواب د شرط ده يعني اذا اخذنا آه.

فائده: اذا للمفاجات پر جمله اسميه قائم مقام د فاء جزائيه دی كما في كتب النحو.

لَا تَجْـَٔرُوا الْيَوْمَ ۖ إِنَّكُم مِّنَّا لَا تُنصَرُونَ ﴿٦٥﴾

مقدر بقيل يعني د ملكو د خوا به ورته وويل سوه چي تاسي استغاثې او نارې مه وهئ نن ورځ ای حين نزول العذاب (انكم منا لاتنصرون) علت دی د نهي د جوار څخه يعني د تاسي سره زمونږ د خوا كومك نه كول كېږي فلا ينفعكم الجوار لعدم الفائدة ولي چي زمونږ نصرت او كومك نه درسره كېږي په دفع د عذاب وارد، ولهذا قيل:

تو پيش از عقوبت درى عفو كوب..... كه سودى ندارد فغان زير چوب

قَدْ كَانَتْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

په تحقيق وه آيات القرآن چي پر تاسي تلاوت كېدله.

پوه سه: چي جمله (تتلى عليكم) تر پايه پوري علت دی د لاتنصرون.

فَكُنتُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ تَنكِصُونَ ﴿٦٦﴾

نو تاسي به واست حين تلاوة آيات القرآن عليكم د پند و پر خوا يعني د شا پر خوا به مو رجوع كول يعني وسماع الآيات ته به مو شا ورګرځول نه مو اورېدی او نه مو تصديق پر كاوه او نه هم عمل.

مُسْتَكْبِرِينَ بِهِ سَامِرًا تَهْجُرُونَ ﴿٦٧﴾

(مستكبرين) كبر به مو كاوه له متابعت څخه د عليه الصلوة والسلام چي تاسي به څانونه لوړ بلل له متابعت څخه د عليه الصلوة والسلام.

پوه سه: چي مظهري ؒ وايي چي (به) ضمير راجع دی وغير مذكور لفظ ته وهو الحرم، نو تاسي كفر كاوه په حرم سره يعني دوی به ويل چي مورږ د حرم اوسېدونكي يو او جيران د بيت الله يو، لايظهر علينا احد ولانخاف احدًا كذا قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابن عباس ؓ ومجاهد وجماعة ؒ، ولما كان افتخارهم واستكبارهم بالبيت الشريف مشهورًا اغنى عن ذكر المرجع. وقال روح البيان به حالكونهم مكذبين بكتابي الذي عبر منه بآياتي، نو تكذيب مبني على تضمين الاستكبار معنى التكذيب ولهذا عبر عن التكذيب بالاستكبار. نو ضمير په نهزد روح البيان راجع دی قرآن ته چې د هغه دليل ذكر د آياتو دی. او روح المعاني د مظهري د توجيه سره موافقت کړی دی والله اعلم بالصواب وعنده علم الكتاب

(سامرًا) حال دی له فاعل څخه د مستكبرين ای حال كونكم تسمرون (خبري كوې د شپې) في مجالسكم حول البيت، والسمر في اللغة الحديث بالليل والسامر اسم جمع كالبقر للباقر، والحاصل يقال سمر القوم يسمرون فهم سمار (دا جمع دد) وسامر دا اسم جمع ده كذا في النهاية (تهجرون) ای تفحشون وتسبون النبي ﷺ واصحابه، حاصل دادی چې قريش چې به د شپې حول البيت سره جمع سول عام مجلس او خبري ددوی به بد ويل وه پر عليه الصلوة والسلام بكونه شاعرًا كاذبًا مجنونًا كاهنًا او قرآن يې شعر او كهانت باله او د عليه الصلوة والسلام د خوا يې باله.

فائده: كان عليه الصلوة والسلام يصلي العشاء الى ثلث الليل ويكره النوم قبلها والحديث بعدها، قرطبي په خپل تفسير كي وايي اتفق العلماء پر كراهيت د خبرو وروسته تر ماخستن د لمانځه، دی وايي چې لمونځونه حد دی د بخښني د خطايا وو د انسان (يعني الصغائر) فينام على سلامة وقد ختم الكرام الكاتبين صفحية بالعبادة وهي صلوة العشاء. فان سمر بعدها فقد لغا وجعل خاتمة صحيفة اللغو والباطل، تاريخ وايي چې امر المؤمنين عمر ؓ لايدع سامرًا بعد العشاء ويقول ارجعوا فلعل الله يرزقكم صلوة وتهجدًا، لكن فقيه ابو الليث سمرقندي ؒ په بحر العلوم كي وايي چې سمر يعني بعد صلوة العشاء خبري درې قسمه دي (۱) چې په مذاكرة كي د علم دين وي فهو افضل من النوم وليس بمنهي عنه، او پر دې قياس دی مذاكره په يو امر كي چې په هغه كي خير د مسلمانانو وي لكه غزوات وغيره، او په صحيح حديث كي راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام سمر كاوه بعد العشاء في بيت ابی بكر ؓ ليلاً في الامر الذي يكون من امر المسلمين (۲) مايكون اساطير الاولين (يعني د پخوانيو خلكو د دروغو قصې) دروغ او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مسخري، تو کي ټکالي او خنداوي فهو مکروه جداً (۳) چې د الفت لپاره خبري سره کوي يا مېړه او مايند د جماع په باب کې خبري سره کوي. ويجتنبوا الكذب وقول الباطل فلا باس به، او وروسته بايد ذکر د خدای ﷻ تسبيح او تهليل ووايي حتى يكون رجوعهم بالخير، وفي الحديث الصحيح كان رسول الله ﷺ اذا اراد القيام من مجلسه (ليلاً كان او نهاراً) قال سبحانک اللهم وبحمدک اشهد ان لا اله الا انت استغفرک واتوب اليک وروسته به يې وويل چې دا کلمات ماته جبرئيل رانبوولي دي، وفي روضة الاخيار من قال تلک الكلمات قبل ان يقوم من مجلسه كفر الله ما كان في مجلسه (من اللغو) كذا في الحديث.

تنبيه: دروېش وايي چې چونکه بحث د سمر منهي عنه راغلی او اوس د شعبان د مياشتي (۲۱) نېټه (۱۴۳۰ هـ ق) ده، نو د مبارکي مياشتي د روژې سمر منهي عنه ته به نظر وکړو، نو پوه سه! چې يوه طبقه د ځوانانو خلګو، نو د هغو طريقه کار دا دی چې په يوه جامع مسجد کې د الم تر کيف آه تراويح کېږي هورې تراويح وکړي، وروسته په يوه کوټه يا يو کور کې ډش چالان کړي چې عريان نمايش د خارجيانو دی يا کېبل چالان کړي، بله بيا يوه ميانه طبقه عوام دي هغه په دکان يا کوټه کې پټي يا کتار کوي يا شترنج او کم از کم تي وي خو ورته چالان وي، دا دواړي طبقې د پېښلمي تر وخته پورې په دا فسق او فجور اخته وي سحري يا پېښلمي چې وکړي بيده سي د سهار لمونځ قضاء کړي ځانښت راکښېنې مخ پر همېنځي هر کار چې يې کاوه په هغه کار پسې روان سي، يوه د بعض ملايانو طبقه ده هغه چې تراويح وکړي يو مقتدی ورته ووايي راځه مولوي صاحب يا قاري صاحب يا مفتي صاحب زمونږ سره اچې ته به ولاړ سو چای، مېوه وغيره به وخورو او يو ګړی به باندې ارام وکړو، خير مذکوره ملا صاحبان ورسره ولاړ سي هورې قهقهه خندا، تو کي ټکالي او غيبت د يو چا سره وکړي نژدې پېښلمي ته کور ته راسي لږ بيده سي يا نه پېښ لمی وکړي يو څو رکعته نفل يا تلاوت د قرآن کريم وکړي سپېدو ته منتظر وي، څرنګه چې سپېدې راوچوي د سهار لمونځ مقتديانو ته ورکړي سمدستي په يوه حجره کې د مسجد يا په کور کې تلتک پر ځان واچوي چونکه د شپې بيداري پر تېره سوې وي نه په عبادت بلکې په لهو لعب کې، نو تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پاخه څابنته بیده وي، که څوک پوښتنه څندي وکړي چې د سهار لمونځ ولې په سپېدو کې کوې؟ دی ورته ووایي چې علیه الصلوة والسلام د سهار لمونځ په اول کې د صبح صادق کاوه، لکن پرده دوه سوالـه بلا امکان الجواب وارد ېږي، اول دا چې علیه الصلوة والسلام یوازي په روژه کې داسې وخت د سهار لمونځ کاوه که تولـه عمر؟ چاره نسته چې دی به وایي چې همېشه د علیه الصلوة والسلام داغه عادت وُ کما ثبت في الاحادیث الشریفة الصحیحة، نو د ملا صاحب څخه دا پوښتنه کېږي چې ته چې داغسې د سیرت النبوي عاشق یې، نو ته ولې ګرده کال دغسې عادت نه لرې؟ دویم د ملا صاحب څخه پوښتنه کېږي چې په کوم حدیث کې راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام په روژه کې یا په نورو میاشتو کې د سهار تر لمانځه متصل به بدبدی؟ بلکې احادیث صحیحه د شیخانو بخاري او مسلم پر دې شاهد دي چې علیه الصلوة والسلام وایي چې څوک د سهار لمونځ وکړي او هوړې په تسبیح او تهلیل سره مشغوله وي تر څو چې لمر یوه یا دوې نېزې مقدار راپورته سي، نو هلته صلوة الاشراق دوه یا څلور رکعته وکړي کان له کذا وکذا من الاجر والثواب او کما قال رسول ﷺ، نو مذکوره ملایان به د دغو دوو سوالو څه جواب وایي، حاصل دادی چې د بعض ملایانو طریقه داده چې دین یې تابع د خپل هوا او هوس ګرځولی دی ... ع: بدین علم ودانش باید گریست

ع: چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

دروېش وایي: چې مـاه رمضان د برکت او د مغفرت او د عبادت خصوصي میاشت ده باید حتی الوسع سړی په عبادت یومًا ولیلاً صرف کړي تر بلې روژې ژوند معلوم نه دی ... بیت:

تو گوئی آنچه دانی سخنند سود مند ..... اگر هیچ کس را نیاید پسند

أَفَلَمْ يَدَّبَّرُوا الْقَوْلَ أَمْ جَاءَهُمْ مَا لَمْ يَأْتِ آبَاءَهُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٦٨﴾

پوه سه: چې همزه لپاره د انکار دی او انکار د نفي اثبات دی، او اصل د (یدبروا) یتدبروا ؤ تاء یې په دال کې مدغمه کړه، او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر والتقدیر الم یسمعوا فلم یدبروا، او مراد له قول څخه قرآن کریم دی یعني لام لپاره د عهد دی لانه المفهوم من الکلام مع کفار مکة یعني القول الذي جاء به محمد ﷺ،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والحاصل چي دوی واورېدی قرآن او دوی فکر هم پکښې وواهه پدامید د معارضة القرآن لکن دوی قادر نه سوه پر اتیان د مثل د اقصر سوره، نو علیه الصلوة والسلام پر دوی غالب سو په دعوه کي د رسالت، او ددې چي قرآن کریم کلام الله المعجز دی ولیس من کلام البشر کما زعموا ان محمداً ﷺ دا قرآن په خپله جوړوي او خلکو ته بې د کلام الله په نامه معرفي کوي لانه لو کان ک لما عجزوا عن اتیان مثل اقصر سورة فضلاً عن اطول سورة کسورة البقرة مثلاً، او روح البیان او روح المعاني وایي چي همزه لپاره د انکار ده واقع من المشرکین واستقباحه والفاء للعطف علی مقدر یدل علیه الآیات السابقة، والتقدیر افعلوا ما فعلوا من النکوس کما یدل علیه تنکوصون والاستکبار کما یدل علیه مستکبرون، والهجر کما یدل علیه تهجرون، نو همزه لپاره د انکار د دغو افعالو ددوی دی یعني دوی باید دغه افعال نه وای کړي ولم یتدبروا القرآن تاچي دوی په بلاغت کامله د قرآن او قصص د امم ماضیه مطابقًا لمایدل علیه التواریخ القدیمة مع کونه ﷺ امي، نو که دوی دغه فکر وهلی وای، نو په دې به پوه سوي وای چي قرآن حق او له جانبه ځخه د خدای ﷻ دی نو بې ایمان پر قرآن او پر علیه الصلوة والسلام راوړی وای.

دروښ وایي: چي دا ؤ تفصیل د روح البیان او روح المعاني د دوو لیکو د بیان فارجع الی التفسیرین المذکورین وادع لي لما عانی الفقیر في هذا التفسیر

پوه سه: چي ام په معنی د بل او همزه دی یعني منقطعه دی، بل لپاره د انتقال دی او همزه لپاره د انکار دی، والمعنی بل لم یجئهم مالم یات آبائهم الاولین یعني بل جاء هم ما اتی آبائهم اسماعیل علیه السلام او وروسته تر ده من الرسول والکتاب محمد ﷺ مثل ابراهیم واسماعیل علیهما السلام ولا شقاق في ذالک.

بوه سه: چي ددې کلام مبنی پر دې ده چي قریش په نبوت د ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام واعقابهما قائل وه، نو تاسي ولي د محمد ﷺ له نبوت ځخه انکار کوئ، او یا معنی داده چي راتګ د رسولانو له جانبه ځخه د خدای ﷻ دی او انزال د کتبو پر هغو لپاره د انزار د خلکو سنت او عادت قدیمه د خدای ﷻ دی کما لایخفی علی من طالع التواریخ القدیمة، فلیس نزول القرآن علی محمد علیه السلام موضع التعجب والانکار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمْ لَمْ يَعْرِفُوا رَسُولَهُمْ فَهُمْ لَهُ مُنْكِرُونَ ﴿٦٩﴾

درويش وايي: چي دلته هم كلمه د ام منقطعه ده په معنى د بل للانتقال من توبيخ الى آخر، والهمزة للانكار عن عدم معرفة رسولهم يعني قد عرفوا رسولهم محمداً ﷺ في حال صغره وكبره وعرفوا نسبه بانه من بني هاشم من قريش، او صدق دده او پښه اخلاق او كمال علم و ادب دده او وفاء بالعهد دده او امين والى دده حتى چي قريشو به عليه الصلوة والسلام ته قبل دعوى النبوة په نامه نه ويل بلكي امين مكه به يې باله او سره ددې چي عليه الصلوة والسلام نه په حال كي د صغر او نه د كبر و كوم بشر ته د شاگردي په توگه كښېنستلى دى وهذا معنى كونه اميّا. نو سره ددې تولو معلوماتو ستاسي په احوال كي د عليه الصلوة والسلام څرنگه دى ساحر بولئ يا شاعر يا مجنون يا يعلمه البشر يې بولئ.

ع...: بدين علم ودانش بايد گريست..... بيت:

آفاقها گرديده ام مهر تبان و رزيده ام
بسيار خوبان ديده ام اما تو چيزى ديگرى

(فهم له منكرون) نو دى وروسته تر معرفت تامه دده د نبوت (نو په كلام كي مضاف و ضمير ته محذوف دى) اى لنبوته منكر ياست.

درويش وايي: چي په صحيح حديث كي راغلي دي چي ابو طالب په ورځ د نكاح د نبي عليه السلام يوه بليغه خطبه په حضور كي د رئيسانو او مشرانو د مضر او قريش په دې الفاظو وويل: الحمد لله الذي جعلنا من ذرية ابراهيم* (اى اولاده ولو بالوسائط) وزرع اسماعيل* (له كښته څخه د اسماعيل* چي د ابراهيم* مشر زوى ؤ) وضئضئ معد وعنصر مضر (او له نسل څخه د معد بن عدنان او له اصل څخه د مضر د قبيلې) وجعلنا من حضنة بيته (موږ يې گرځولي يو له ساتونكو څخه د خپلي خوني يعني كعبې) وجعل لنا بيتاً محجوجاً (موږ ته يې راكړى يو عظيم الشان بيت چي خلك يې حج ته راځي) وحرماً آمناً (او حرم يې كړى دى چي ذات امن دى له قتل او غاراتو څخه) وجعلنا حكاماً على الناس (او موږ قريش يې حاكمان پر خلكو گرځولي يو) ثم ان ابن اخي محمد بن عبد الله (ﷺ) لا يوزن برجل الا رجح به (نه اندازه كېږي دى په يو سړي سره مگر زما وراره به پر درولد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي) فان كان في المال قل فان المال ظل زائل (كه وي په مال كي زما لږوالی يعني پرواه نه لري ولي چې مال خو لكه سايه زائلېږي) ومحمد (ﷺ) من قد عرفتم قرابته (او محمد ﷺ هغه څوک دی چې تاسي يې په قرابت يعني زما سره چې وراره مي دی خبر ياست) وقد خطب خديجة بنت خويلد وبذل لها من الصداق ماعاجله وآجله من مالي (او ده مرکه کړې ده و خديجې بنت خويلد ته او دې ته ولور اينبی دی چې عاجل او آجل يې زما له مال څخه دونه دی "هغه مقدار يې په حديث کې نه دی بيان کړی" وهو والله بعد هذا له نباء عظيم وخطر جليل (او ده لره يعني عليه الصلوة والسلام لره وروسته تر دې قسم په خدای ﷻ يو خبر سته لوی او يو حال سته دبرد ويار ډک انتهى خطبة ابی طالب.

وفي هذا دليل واضح على انهم عرفوه صلى الله عليه وسلم بغاية الكمال والا لانكروا قول ابی طالب.

دروښ وايي: چې دا حديث روح المعاني نقل کړی دی ما سره د عربي زبيا عبارته وتاسي ته ترجمه کړی.

اَمْ يَقُوْلُوْنَ بِهٖ جِنَّةٌ ؕ

او که دوی وايي چې د محمد (ﷺ) سره ليونتوب ملګری دی يعني انه مجنون.

پوه سه: چې دا ام دلته هم منقطعه ده بل آه کلمه د بل لپاره د انتقال ده وبل توبيخ ته ددوی او همزه لپاره د انکار ده واقع يعني جنون نسته ولي قريش په دې بله پوهېدل چې عليه الصلوة والسلام ارجح ددوی دی عقلاً او دوی خبري د عليه الصلوة والسلام لاسيما القرآن بعيد من كلام المجانين بمراحل لكن بيا هم دوی نسبت د جنون ورته کاوه عناداً وتكبراً.

بَلْ جَآءَهُمْ بِالْحَقِّ وَاَكْثَرُهُمْ لِلْحَقِّ كٰرِهُوْنَ ۝

بل سبب د عناد او د مكابره ددوی د عليه الصلوة والسلام سره دادی چې عليه الصلوة والسلام دوی ته راتګ وکړی په حق سره چې توحيد دی چې ددوی د تقليدي دين شرک څخه خلاف دی او د توحيد صدق ظاهر دی عقلاً ونقلاً وذالک ميراث الانبياء عليهم السلام من لدن آدم عليه السلام الى يوم ظهور محمد ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(واكثرهم للحق كرهون) الواو للحال من مفعول جائهم يعني جائهم الحق وهو له كارهون عناداً وطلباً للرياسة واتباع الشهوات وعبادة الجمادات تقليداً لآبائهم الجهال.

فائده: قيد د اكثريي ووايه، ولي چي بعض د كفارو دين اسلام يې د كراهت د حق د سبب نه ؤ پرې اينبى بلكې د بېرې د تو بيخ د قوم يا د عدم فكر له سببه يا د حماقت له كبله.

وَلَوِ اتَّبَعَ الْحَقُّ أَهْوَآءَهُمْ لَفَسَدَتِ السَّمٰوٰتُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ

بعض مفسرين وايي چي معنى د دې آيت داده كه چېرې حق مطابق سي د خواهشاتو سره د مشركينو بان في الواقع آلهة متعددة (لفسدت السموات آه) يعني پر عالم به نه واى پاته هيڅ شى د اسمانو او د مځكي او چي په اسمانو كي د ي من الشمس والقمر والنجوم والملائكة او په مځكه كي من الحيوانات والنباتات وغيرها، يعني هيڅ چي به د كتم د عدم و عرصه ته د وجود نه واى راوتلاى لدلالة برهان التمانع عليه، وهو قوله تعالى لو كان فيها آلهة الا الله لفسدتا كما مر تفصيله في تفسير سورة الحج، او ابن جريج او مقاتل وجماعة من المفسرين رحمهم الله يې داسي تفسير كوي چي الحق هو الله تعالى، او فراء اوزجاج وايي چي مراد له حق څخه قرآن دى، نو معنى د آيت داسي ده كه متابعت وكړي خداى ﷻ د مراد د مشركانو يعني على فرض المحال چي ځان لره شركاء وگرځوي او يا نازل كړي قرآن پر موافق د شهواتو د دوى ونطق القرآن بالقبائح والشرك لم يكن الله الهًا فان الالوهية لايحتمل الشركة والله لايامر بالفحشاء والمنكر، ولي چي امر بالفحشاء يو رزيل كار دى والالوهية يقتضى التنزه عن الرزائل وكذا القرآن تو اتبع اهوائهم من الشرك والقبائح لم يكن كلام الله واذا خرج الله من البين لبطل وجود الممكنات لانها تقتضى الصانع الحق.

دروښ وايي: چي دا تولي خبري بناء پر فرض المحال دي تبكيتًا للمشركين القائلين بان الله شريكا وكذا يقولون للنبي ﷺ ائت بقرآن غير هذا او بدله يعني بحيث لم يكن فيه ذم آلهتهم وغير ذالك.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا تفسيرونه فقير د دغو تفاسيرو څخه راانقل کړي دي روح المعاني، روح البيان، تفسير مظهري، تفسير قرطبي، بحر العلوم للسمرقندي والبيضاوي بعضها عن بعض وبعضها عن بعض لكن اقول الله اعلم بمراده في كتابه.

بَلْ أَتَيْنَٰهُم بِذِكْرِهِمْ فَهُمْ عَن ذِكْرِهِم مُّعْرِضُونَ ﴿٧١﴾

عطف على قوله بل جائهم بالحق الآية، وجملة لو اتبع الحق آه معترضة بين المعطوف والمعطوف عليه لبيان بطلان اهوائهم (بذكرهم) يعني هغه کتاب چې خداى ﷻ ودوى ته وعظ په هغه کوي، او يا مراد له ذکر څخه وعظ دى، او يا مراد هغه ذکر دى چې کفارو د قريشو دمخه تر نبوت د عليه الصلوة والسلام تمنى کوله، کريمه: لو ان عندنا ذكرًا من الاولين لكنا عباد الله المخلصين: ترجمه که واى زمونږ په نېز ذکر يعني کتاب د اولو امتو لکه يهود او نصارى يعني مثل د هغو، او رئيس المفسرين عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما يې داسي تفسير کړى دى بما هو ذكرهم اى بما فيه فخرهم (اى قريش) وشرفهم لان القرآن نزل بلسانهم العربية والمنزل عليه يعني رسول الله ﷺ من قومهم ولا شرف اعظم من هذا الشرف، کريمه: لقد انزلنا اليكم كتابًا فيه ذكركم (اى شرفكم الى يوم القيامة) کريمه: وانه (اى القرآن) لذكر لك ولقومك، وذالک ان القرآن نزل بلغة قريش وجعل الله الناس تبعًا لقريش كما جاء في الحديث الصحيح.

(فهم عن ذكرهم معرضون) او دوى د خپل شرف څخه مخ اړوي يعني ددې شرف شکر نه وايي والا لآمنوا جميعًا.

أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ خَرْجًا فَخَرَاجُ رَبِّكَ خَيْرٌ ۖ وَهُوَ خَيْرُ الرَّٰزِقِينَ ﴿٧٢﴾

عطف على قوله ام به جنة.

پوه سه: چې ام منقطعه دى، نو په معنى د بل توبيخ دى د قريشو او معنى د همزه انكار دى، يعني ته سوال نه کوې ددوى څخه پر وعظ او تبليغ ودوى ته د مزدورى او اجرت نو له دې سببه که تا مزد رسي غوښتلاى دوى به ويلاى چې ستا اجرت پر موږ دروند دى نو ځکه موږ ايمان نه راوړو، کريمة: فهم من مغرم مثقلون (فخراج ربك خير) اى ثوابه تعالى الذي يعطيك على التبليغ في الآخرة خير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اضافت د خراج چې يې ربک ته وکړی تنبيه ده پر کثرت کمّا وکيفًا لان خراج العظيم عظيم کثير.

فائده: دا جمله يعني فخراج آه علت ده د نفي د سوال اجرة عنهم الذي هو معنى د همزة الاستفهام الانکاري الذي تضمنه کلمة ام (خير) يعني بهتره ده د دوی تر عطاء او خراج، ولي چې د خدای ﷻ اجرت دائم او فراخه دی کما مر آنفًا. نو د خدای ﷻ په ثواب سره ته د دوی و خراج ته ضرورت نه لري.

(وهو خير الرازقين) او خدای ﷻ خير د رازقانو دی، عطف على قوله فخراج ربک.

سوال: رازق خو يوازې خدای ﷻ دی فما معنى جمع الرازقين؟

خواب: د رزاق څخه مراد په عموم مجاز سره يعني نفس المعطي عام دی که رازق مجازي وي او که حقيقي، يقال فلان يرزق عياله وايضًا يقال رزق فلان في زمتي الى غير ذالک من امثال الرزق المجازي.

وَإِنَّكَ لَتَدْعُوهُمْ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٧٣﴾

او په تحقيق ته رابولې دوی وهغې لاري ته يعني التوحيد والاسلام چې هغه سمه برابره لاره چې عقول سليمه چې عناد او تکبر نه لري د هغې لاري په استقامت شاهدي ورکوي.

پوه سه: چې علامه زمخشري رح او امام مظهري رح په شريکه تو ګه داسي ويلي دي او روح المعاني د زمخشري د کلام تاکيد کړی دی وحاصل عباراتهم المختلفة دادی چې خدای ﷻ اول بيان کړه چې هغه اسباب د انکارد قريشو د نبوت څخه د عليه الصلوة والسلام د هغه اسباب خو نسته البته په قريشو کې کراهة الحق، تکبر او عناد او ناپوهي سبب د عدم تسليم د نبوت د عليه الصلوة والسلام موجود ؤ او دی، وروسته خدای پاک باعث د ايمان راوړلو بيان کړی وهو کون المدعو اليه يعني التوحيد صراط المستقيم ده چې مرغوبه ده ټولو اهل عقل سليم من العناد والتکبر، او بل باعث دادی چې نزول د قرآن په ژبه د دوی شرف د دوی دی او داعي د اسلام ته قريش دي بالخصوص، فظهر ان انکارهم لم يکن الا لکراهة الحق عندهم عنادًا وقلة فهمهم وخفة عقولهم وعدم التدبر في احواله عليه الصلوة والسلام واحوال النازل عليه من القرآن انتهى محصل عباراتهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ عَنِ الصِّرَاطِ لَنَاكِبُونَ ﴿٧٤﴾

او په تحقیق هغه کسان چې ایمان نه لري پر ورځ د آخرت یعنې بعث بعد الموت د لاري څخه یعنې مستقیم هر آئینه مائلین دي بسوء استعدادهم فیکرهون الحق بعد ظهوره حبًا لدین آبائهم.

وَلَوْ رَحِمْنَاهُمْ وَكَشَفْنَا مَا بِهِم مِّن ضُرٍّ لَّلَجُّوا فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿٧٥﴾

او که رحم وکرم پر دوی او لېرې کړم له دوی څخه هغه ضرر او عذاب چې پکښې واقع وه، بعض مفسرین وایي چې مراد له ضرر څخه هغه قحط او لوږه وه چې پر دوی مسلط سوه په سبب د بېرا د علیه الصلوة والسلام (رب اعني علیهم بسبع کسبع یوسف) او ابن عباس ؓ وایي چې ضر مسلط پر دوی قتل د اشرافو ددوی په شمول د فرعون الامة ابو جهل په بدر کې.

پوه سه: چې لجاج دوام ورکول دي وعناد ته او تمادي ورکول دي و هغه فعل ته چې دوی به څندي زجر کېدل (في طغیانهم) په سرکښي کې یعنې په استکبار کې د قبول څخه د حق او ترحد تجاوز په کفر کې او په عداوت کې د علیه الصلوة والسلام (یعمهون) دا جمله حال ده له فاعل څخه د لجوا.

پوه سه: چې عمه په بصیرت او عقل کې لکه عمي په بصر او سترګو کې یعنې لکه څوند د بصر چې لاړ نه وینې څوند د بصیرت هم حق لاړ نه وینې بلکې څوند د سترګو بهتر حالاً دی تر پرانده د بصیرت، ولې د سترګو څوند که بل سړی تر لکړه ونسي چې چېرته پسې روان وي. او د بصیرت څوند لکه کفار د قریشو که څه هم آنحضرت ﷺ و صراط مستقیم ته راوبلل دوی ترشا تپالي وهلې د عصاکش پر لاړ نه تله اعاذنا الله من العمي والعمه.

سوال: د بدر ضرر چې و کفارو ته د مکې ورسېدی، نو د هغه کشف به څرنګه وسي؟

ځواب: کشف یې دادی چې علیه الصلوة والسلام وروسته تر اوویا کسه مقتولینو امر وکړی چې نور قتل بند کړئ په سبب لاسونه پورې کړئ نو هغه باقي مانده اشراف له قتله خلاص سوه، او روح المعاني وایي چې کشف د ضر د بدر دادی چې کله فرضًا علیه الصلوة والسلام خدای ﷻ ته زاړئ وکړي او ددوی اشراف وروسته تر قتل راژوندي هم کړي للجوا الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: دغه ښپړا د علیه الصلوة والسلام په قحط د سبع سنین سبب یې څه وُ چې دونده درد و علیه الصلوة والسلام ته ورغلی؟

ځواب: ابو حیان وایي چې سبب ددې ښپړا د علیه الصلوة والسلام دادی لکه ابن عباس ؓ او ابن جریج ؒ چې ذکر کړی دی چې علیه الصلوة والسلام په حرم محترم کې د څانښت په وخت کې پر لمانځه ولاړ وُ او هوړې یعني دباندې ترمسجد یو چا اوښه حلاله کړې وه، نو ابو جهل د قصابی خلګو ته وویل چې څوک به دغه د اوښي لړی سره د خوشیو او پېروان د اوښي ورو اخلي او محمد (ﷺ) ته مهلت ورکړي چې دی پر سجده پرېږدي دا لړی او پېروان په مغزي کې ورکښېږدي فقام اشقاهم یعني عقبه بن ابی محیط او ولید بن مغیره او غیرهما فاخذ النجاسات المذکورة فطرحه بین منکبی رسول الله ﷺ ساجداً، په یوه روایت کې راغلي دي چې فاطمه ؓ چې په دغه وخت کې کوچنۍ وه راغله هغه نجاسات یې د خپل پلار د وږو څخه وغورځول وجعلت تسب القریش الذین هنالک، راوي وایي چې په هغه وخت کې دا نجاسات د علیه الصلوة والسلام په مغزي هغه اشقی القوم وغورځول، نو د قصابی سره ناست کافران به له ډېرې خندا څخه یو پر بل غوڅاربدل، نو څه وخت چې علیه الصلوة والسلام سر مبارک راپورته کړی هغه ښپړا یې وکړه اللهم اعني علیهم بسبع کسبع یوسف آه، نو خدای ﷻ بارانونه بند کړه، نو کفار مکه به مردار شیان خوړل او وړی به یې په وینو کې ووهلې چې علهز یې په عربي بولي په اوبو که به یې وه ایشول هغه به یې څیښلې الی غیر ذالک.

سوال: په مکه کې خو د کښت مځکه نه وه خشک سالي دوی ته ولي تاوان ورورساوه؟

ځواب: دا خشک سالي عامه سوه اطرافو ته د مکې یې هم تجاوز وکړی، نو هغه کسان چې مکې ته یې خوارکې مواد واردول هغو خپل دغه تجارت بند کړی، ولي چې په لارو کې به اوبه نه وې چې دوی د تندي په وخت کې د هغو اوبو څخه استفاده کړې وای، راوي وایي چې ابو سفیان و علیه الصلوة والسلام ته راغلی چې ته خلګ په صلة الرحم سره امر کوې او ستا قوم له قحط سره لاس او ګریبان دی ته خواست وکړه که دا قحط پورته سو موږ به ایمان راوړو. علیه الصلوة والسلام په امید د ایمان د قریشو دعاء وکړه قحط د دفع سو لکن قریشو ایمان نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړی. کریمه: انا کاشفوا العذاب قلیلاً انهم عائدون الی اخیر الآیة.

او روح البیان او روح المعاني شان نزول د آیت داسي بیان کړی دی چې دا آیت د جوع د اهل مکه په سبب د منع د ثمامة بن اثال چې د بني حنیفه له قوم څخه وه چې هغه تجار منع کړه د واردولو څخه د خوارکي مواد و اهل مکه ته، وقصته چې علیه الصلوة والسلام چې په مدینه منوره کې ؤ یوه کوچنۍ ډله چې په عربي یې سریه بولي په مشرۍ د محمد بن مسلمة[۴] و بني بکر بن کلاب ته استولې وه چې هغې سریه ثمامه بن اثال بندي راوستلی ؤ، علیه الصلوة والسلام وویل چې ثمامه په یوه تنبه پوري وتړئ، علیه الصلوة والسلام چې له کوره راووتی ثمامه ته یې وویل ماعندک یا ثمامه؟ ثمامة وویل ان تقتلني تقتل ذا دم (که تا مه مړ کړې زه ویښو والا یم یعني زما قوم زما د قتل کسات کاوي) وان تمنن تمنن علی شاکر (او که ته احسان وکړې یعني ما مفت خوشي کړې زه شاکریم یعني ستا د احسان عوض به په شکر سره درکړم) وان کنت تبتغي مالاً فقل اعطک مالاً (او که نقود غواړې وایه چې زې درکوم) او کما قال رسول الله ﷺ، نو علیه الصلوة والسلام نور څه ورته ونه ویل، نو دا بله ورځ بیا علیه الصلوة والسلام دا غه د مخه خبره ثمامه ته تکرار وکړه، ثمامه هم هغه مذکوره قبلاً جواب ورکړی، بیا علیه الصلوة والسلام څه نه ورته وویل، درېیمه ورځ بیا دو طرفه خبري سره تکرار سوې، څلورمه ورځ علیه الصلوة والسلام و اصحابو ته وویل اطلقوا ثمامه یعني مفت- یې خوشي کړئ، ثمامه چې یې خوشي کړی نو دی نژدې یو باغ ته د خورما ولاړی چې هوړې اوبه وې، نو غسل یې وکړی راغلی کلمه یې وویل (لا اله الا الله محمد رسول الله) مسلمان سو بیا د عمرې په قصد مکې ته ولاړی بطن مکه ته چې ورغلی تاریخ وایي چې ثمامه اول سړی ؤ چې مکې ته په نیت د عمرې بهله اجازې د اهل مکې ورغلی. د بني حنیفه ؤ یو شاعر وایي:

ومنا الذي لبي بمکة معلنا ..... بزعم ابی سفیان في الاشهر الحرم

قریشو دی وښوی چې تا دېره دلاوري وکړه پر موږ یعني چې زموږ بې اجازې عمرې ته راغلې او موږ خبر یو چې قد صبوت یا ثمامه یعني ته مرتد سوې دین د آباؤ دي پرې ایښی دی، ثمامه ورته وویل اسلمت و اتبعت خیر دین دین محمد[۴]،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ثمامه و اهل مکه ته وویل: والله لا یصل الیکم حبة من الیمامة حتی یاذن فیها رسول الله ﷺ او اکثره خوراکي مواد و اهل مکه ته د یمامه د لاري راتله، بیا ثمامه و یمامه ته ورغلی او دوی یې منع کړه چې مکې ته به خوراکي مواد نه صادروي حتی چې د یمامه خوراکي مواد منع سوه اهل مکه ډېر د لوږي سره لاس و ګرېوان سوه حتی چې قریشو به العلهز خوړی کما مر تفسیره عن قریب، نو قریشو و علیه الصلوة والسلام ته خط ونوشته کړی چې تا دا نه وه ویلي چې زه رحمت للعالمین مبعوث یم فقد قتلت الاباء بالسیف یعني في بدر و الابناء بالجوع وانک تامر بصلة الرحم وانت قطعت ارحامنا؟ فکتب علیه الصلوة والسلام الی ثمامه ؓ خل بین قومي وبین مریتهم (یعني خوراکي مواد چې د یمامه څخه یې صادروي ففعل ثمامه ؓ ذالک) وفي روایة ان ابا سفیان جائه الی المدینة فقال الست آه.

دروښ وایي: چې د دغو دوو روایتو تر منځ منافات نسته، وجه الجمع ان قریش بعثوا بالمکتوب مع ابی سفیان وکان هذه الواقعة قبل فتح مکة بقلیل من الزمان.

پوښتنه: سورة المؤمنین کما مر مکیة و واقعة ایمان ثمامه بن اثال ؓ خو په مدینه کې وؤ، نو روح البیان او روح المعاني دا واقعه د ثمامه ؓ څرنګه شان نزول د دې سورت بللې ده؟

ځواب: احتمال سته چې دا آیت دي دوه واره نازل سوی وي اولاً في مکة کما مر ان رسول الله ﷺ دعلی علیهم (یعني و اهل مکه ته یې بښرا وکړه اللهم اعني علیهم بسبع کسبع یوسف الخ) ومرة ثانیة في المدینة عند واقعة ثمامة بن اثال ؓ کما قالوا في سورة الفاتحة انها نزلت اولاً بمکة ثم نزلت بالمدینة عند تحویل القبلة نحو الکعبة، او بل ځواب دادی چې عنقریب قصه د ثمامه ؓ و فتح ته د مکې واقع سوه، نو ګویا قصه د یمامه هم مکي ده فافهم.

وَلَقَدْ أَخَذْنٰهُمْ بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ﴿۷۶﴾

ای بالله په تحقیق موږ قریش د مکې ونیول په عذاب سره یعني یوم بدر او الجوع، نو دوی رجوع و خدای ﷻ ته ونه کړه بالتوبة من الشرک بلکې پر خپل عتو او سرکښي او تمرد و عناد ثابت قدم وه.

پوه سه: چې استکانة خضوع او ذلت ته وایي، والتضرع اظهار الضراعة ای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الضعف والذلة، او وزن د استكان استفعل دی مجرد يې كون دی لان الخاضع ينتقل من كون الى كون آخر كما يقال استحال ای انتقل من حال الى حال.

حَتَّىٰٓ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُمْ فِيهِ مُبْلِسُونَ ﴿٧٧﴾

تر هغه وخته پورې چې خلاصه کړه موږ پر دوی دروازه د عذاب سخت.

پوه سه: چې د عذاب څخه مراد عذاب د لوږې دی که چېرې مراد په هغه آیت کې حتی اذا اخذنا مترفیهم آه مراد ځندې عذاب د قتل او اسر وي په بدر کې کما قاله ابن عباس ؓ لان عذاب الجوع اشد و ادوم تر قتل او اسر.

(اذا هم فیه مبلسون) ناګاه دوی نا امیده وه له هر خیر څخه، حتی چې ابو سفیان تاته در غلی مدینې ته ستا عطف او مهربانې یې غوښتله کما مر في قصة ثمامه بن اثال ؓ، او که مراد له عذاب څخه فیما سبق عذاب الجوع وي کما قاله الضحاک، نو مراد په دې آیت کې له عذاب څخه عذاب القبر دی او یا قیام د قیامت او عذاب النار دی.

سوال: اذا فتحنا آه خو ماضي ده او عذاب النار مستقبل في يوم القيامة؟

ځواب: فتحنا چې ماضي په معنی د مستقبل ده لان الامر المستقبل اذا كان متحقق الوقوع كالماضي كما في قوله تعالى اذا الشمس كورت مع ان تكوير الشمس مستقبل عبر منه بالماضي.

وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْأَبْصَارَ وَالْأَفْئِدَةَ ۖ قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾

او خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چې ستاسي د نفع لپاره یې تاسي ته پیدا کړې ده سمع.

پوه سه: چې سمع عبارت دی له یو قوت څخه په غوږو کې چې په هغه قوت سره اورېدل کېږي د اصوات او نفس اورېدلو ته هم سمع وایي، او ګاهې غوږ ته سمع وایي (یعني ګوش) (والابصار) جمع د بصر ده چې جارحة ناظرة ته وایي (یعني چشم) او قوة موضوعة في البصر ته هم وایي (والافئدة) جمع د فواد ده بالفارسية (دل) په (قليلاً ما تشكرون) کې کلمه د ما زائده ده لتاكيد القلة ای شكرًا قليلاً، تشكرون تلك النعم الجليلة او یا قليلاً منصوب دی على الظرفية ای زمانًا قليلاً تشكرون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای پاک انسان ته نور اعضاء هم ورکړي دي، نو ددې درو تخصیص یې د څه حکمت لپاره وکړی؟

ځواب: اکثره منافع دینیه او دنیویه مربوط دي په دغو درو سره کما لایخفی علی المتفکر.

پوه سه: چې شکر د نعمت ددې اعضاء ثلثه ؤ استعمال د هغو دی په طاعت کې منعم و عبودیت ته، نو شکر د سمع ان لایسمع الا لله وبالله وعن الله وحفظه عن استماع المنهیات... بیت:

گذرگاه قرآن وپندست گوش ..... بباطل وبهتان شنیدن مکوش

وشکر البصر حفظه عن النظر الی المحرمات وان ینظر بنظر العبرة في الآیات المنصوبة في الانفس والافاق... بیت:

دوچشم ازپی صنع باری نکوست ..... زعیب برادر فرو گیر و دوست

وقال الشیرازي رح:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار .... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وشکر القلب ساتل د زړه د خیرو څخه د اخلاق ذمیمه ؤ کالکبر والریا. والعجب وحب الشهوات والحسد الی غیر ذالک او قطع د تعلق د زړه په غیر الله سره فلایشهد بقلبه الا الله ولایحب الا الله.

وَهُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۹﴾

او خدای ﷻ هغه والا قدرت دی چې تاسي یې پیدا کړي یاست په مځکه کې او سره پاشلي یې یاست په تناسل بمرور الایام والازمنة. او خاص و خدای ﷻ ته وروسته تر تفرق جمع کیږي یعني په ورځ د قیامت للمجازات.

وَهُوَ الَّذِیْ یُحْیٖ وَیُمِیْتُ وَلَهُ اخْتِلَافُ الَّیْلِ وَالنَّهَارِ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۸۰﴾

او خدای ﷻ هغه ذات دی چې ژوندي کوي نطفې د بنځو په رحمو کې بعد الاطوار العدیدة او بیا یې وژني بعد انقضاء الآجال.

او د خدای ﷻ په تصرف کې دی اختلاف د شپې او د ورځې بالسواد لیلاً والضیاء نهاراً وبالطول والقصر صیفاً وشتاءً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په (افلا تعقلون) کې همزه د استفهام توبخي دی او فا عطف ده پر مقدر بعد الاستفهام ای اترون تلک الاختلافات فلا تعقلون.

فائده: تعقلون یا منزل منزلة اللازم دی ای فلا عقل لکم لتدرکوا به آیات قدرته تعالی او یا یې مفعول محذوف دی ای لا تعقلون تلک الاختلافات لتعرفوا بها صانعها.

پوښتنه: په قرآن کریم کې همېشه لیل تر نهار دمخه راوړې حکمت یې څه دی؟

ځواب: قرآن مبارک پر اصطلاح د عربو نازل دی. عرب ابتداء د میاشتو او د هفتو له شپې څخه کوي کما هو الظاهر (۲) شپه وخت د وصل ده د محب د محبوب سره او ورځ زمانه د فراق ده، ولهذا وقع معراج النبي ﷺ لیلاً (۳) شپه وخت د ارام ده د تعب څخه د ورځې نو شپه نمونه د جنت ده چې په جنت کې هیڅ تعب او تکلیف نسته او ورځ وخت د سرګردانی ده په امورو کې د دنیا او تعب ده نمونه د دوزخ ده، ځای د سرګردانی او عذاب دی (۴) شپه پرده الهي ده پر بر او فاجر باندې د خدای ﷻ دوستان په شپه کې په عبادت د تهجد او په عجز او نیاز او په طلب د مغفرت بوخت وي، او د خدای ﷻ ګمراهان په شپه کې په طلب د زنی او غلا او راه زني الی غیر ذالک مبتلا وي، ولهذا قال العلماء افضل النوافل صلوة اللیل ای التهجد لکونها ابعد من الریاء واقرب الی الاجابة الی غیر ذالک من حکم اللیل والنهار.

فائده: من قوله تعالی هو الذي انشانکم الی ههنا جمله معترضه ده لپاره د بیان د نعمتو د خدای ﷻ او شکایت دی د خدای ﷻ له کافرانو څخه چې سره د دې چې دوی دغه نعمتونه د خدای ﷻ وینې بیا هم پر خپل شرک او کفر ولاړه دي.

بَلْ قَالُوا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُونَ ﴿٨١﴾

عطف دی پر هغه قول د خدای ﷻ بل آتیناهم بذکرهم. والمعنی ههنا چې کفار مکة مثل د ما قال الاولون یعني کفار الامم الماضیة.

قَالُوا أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ ﴿٨٢﴾

وایي کفار مکه (پوه سه! چې دا جمله بدل د قالوا مثل آه یعني د کفارو د امم سابقه وو چې اهل مکه یې هم کوي داده) آیا چې مور مړه سو او مور وګرځو خاوري آیا بیا به مور ژوندي کېږو لکه چې محمد (ﷺ) وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې همزه ثاني لپاره د استفهام انکاري دی يعنې دوی بعث بعد الموت د هر بعيد شی و ګڼه او ځندي منکر وه لکن ګاشکي دوی فکر وهلی وای په ابتداء کې د خلق خپل چې د دوی جد امجد آدم عليه السلام هم خاوري ؤ وروسته انسان جوړ سو او دوی هم قبل الحيوة الدنيوة صرف نطف وه چې جماد شی ؤ خدای ﷻ دوی احياء ځندي پيدا کړه، کريمه: اليس ذالک بقادر ان يخلق مثلهم بلی وهو الخلاق العليم.

لَقَدْ وُعِدْنَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا هٰذَا مِنْ قَبْلُ

په تحقيق وعده کړل سوې ده د موږ سره (لفظ د نحن تاکيد دی د ضمير د نا تاجي عطف و آبائنا پر صحيح سي، ولي چې نحات وايي چې عطف پر مرفوع متصل که څه رفع يې په سبب د مفعول مالم يسم فاعله وي کما في مانحن فيه بيله تاکيد وه په ضمير منفصل سره چې دلته نحن يا بيله فصله نه ده روا) او زموږ د پلرو يعنې نيکه ګانو سره د دغه بعث بعد الموت.

پوښته: قائم د دغه قول خو کافران د مکې دي، نو دوی څرنګه نحن و آبائنا وايي سره د دې چې وعده بعث بعد الموت خو د دوی سره فقط عليه الصلوة والسلام کړې ده، او عليه الصلوة والسلام د دوی د آباء په وخت کې نه ؤ؟

ځواب: معنی د آيت داده چې وعدها قوم ذکروا انهم رسل الله، د مخه زموږ تر زمانې او سره د دې چې زموږ د نيکه ګانو تر دا اوسه په سلهاؤ کلونه تېر سوي دي او هيڅ بعث بعد الموت نه دی واقع سوی.

اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۸۳﴾

نه د د دغه وعده د بعث بعد الموت مګر د درواغو نوشته ده د اولو خلګو چې خانونه به يې رسولان معرفي کول.

فائده: اساطير جمع د اسطار ده، او مبرد ؒ وايي چې اساطير جمع د اسطورة ده نحو احدوثة واحاديث واعجوبة واعاجيب واضحوكة واضاحيک، واستعمالها فيما يكتب كذبًا يتلهى به، ولهذا فسروه بالاكاذيب.

دروښ وايي: چې په نامه د احمد جان يو نفريو کتاب په پښتو تصنيف کړی دی چې اکثره يې کذب بحت دی، نمونه مشت خروار، يوه خبره ده پکښې ليکلې ده چې سيدنا وسيد الشهداء حمزه رضي الله عنه چې له صوره پيدا کېدی نهه ګزه يې د سينې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عرض ؤ. او دده په باره کي يې ليکلي دي چي اوويا خرواره دده ګرز ؤ يعني سندان چي کفار به يې په وهل الى غير ذالک من الاکاذيب الصرفة.

دروښ وايي: چي هم دا سبب دی چي ملايان د پښتو کتابو څخه بد وړي که څه عين صواب وي، نو دا افراط او تفريط دی والحق بينهما.

فائده: جمله د لقد وعدنا الخ دليل دی د کفارو د مکې چي انکاريې د بعث بعد الموت څخه کاوه بقولهم ءانا لمبعثون آه.

قُلْ لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَنْ فِيهَآ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٤﴾

ته ورته ووايه يا محمد (ﷺ) چي چا لره دي يعني خلقًا وملكًا مځکه او هغه مخلوق چي په مځکه کي دي من ذوی العقول والحيوانات وغيرها (نو په کلمه کي د من تغليب دی د ذوی العقول پر نورو باندي)

پوه سه: چي دا جمله مستانفه ده ګويا رسول ﷺ له خدايه څخه پوښتنه وکړه چي دوی انکار د بعث بعد الموت وکړی، نو زه څه ورته ووايم؟ فقال الله تعالى: قل آه.

پوه سه: چي دا استفهام لپاره د تقرير دی ای حمل المخاطب على الاقرار (ان کنتم تعلمون) ای ان کنتم من اهل العلم، نو تعلمون منزل منزلة اللازم دی او يا يې مفعول محذوف دی يعني انت کنتم تعلمون ای جواب هذا السوال.

فائده: په (ان کنتم تعلمون) کي بيان د غايت جهل دی د دوی چي د داسي بدهي شي پوښتنه يې څنډي وکړه چي د هغه په جواب لهونيان صبيان هم پوهيږي او دا انکار هيڅ لار ورته نسته او د هغه سره دوی ملزم په انکار کي د بعث بعد الموت سوه، نو ځکه دوی بلا توقف کما اخبر الله.

سَيَقُولُونَ لِلَّهِ ۚ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٨٥﴾

ژر دی چي دوی به وايي چي مذکوره شيان خداى ﷻ لره دي يعني خالق يې خداى ﷻ دی مالک يې خداى ﷻ دی بلا شرکة احد في ذالک (قل) ته ورته ووايه وروسته تر اعتراف د دوی، والاستفهام للانکار والفاء عطف على محذوف، والتقدير اتعرفون فلا تذکرون ان من خلق الارض وما فيها قادر على الاعادة ثانيًا فانکارکم عن البعث بعد الموت منکر جدًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ مَنْ رَّبُّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿۸۶﴾

ته ورته ووايه چې څوک خالق د اسمانو او خالق د عرش عظيم دی.

پوه سه: چې دا استيناف آخر دی لپاره د تلقين د الزام آخر بعد الالزام الاول يعني تلقين و عليه الصلوة والسلام ته دی.

دروښ وايي: چې اول سوال خو په لمن الارض په لام جاره د دوی څخه سوی ؤ نو ځکه د دوی په څواب کې لله په لام جاره راغلی په موجوده ايت کې خو لام جاره نسته، نو حق د څواب خو دا ؤ.

سَيَقُوْلُوْنَ لِلّٰهِ ؕ قُلْ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۸۷﴾

(سيقولون لله) بدون الجارة بلكې بالرفع بايد ويل سوی واى كما في مصحف اهل البصرة، لكن نور تهوله مصاحف په لام جاره نوشته دي كالاول فما توجيه اللام الجارة في هذه الآية؟

څواب: روح المعاني وايي چې څواب بغير اللام كما هو قرائة ابو عمرو يعقوب مبني پر ظاهر د سوال لعدم اللام في السوال او قرائت باللام مبني دی پر معنى وكلا الامرين جائزان مثلاً كه يو څوک بل چاته ووايي من صاحب هذه الدار؟ فقيل زيد، كان جوابًا عن لفظ السوال، ولي چې دواړه بغير اللام دي، ولو قيل لزيد كان جوابًا مبنيًا على المعنى لان السوال بمن صاحب هذه الدار ولمن هذه الدار واحد، او صاحب د روح المعاني پر دې باندې عربي محاوره په يو شعر كې شاهد راوړې ده، او مظهري هم دغه جواب ته اشاره كړې ده، او روح البيان هم په اختصار سره و هغې توجيه ته اشاره كړې ده.

(قل افلا تتقون) ته ورته ووايه چې سره د دغه اعترافه ستاسي چې خالق السموات السبع الخ خداى ﷻ دی لاغيره نو تاسي د هغه خداى ﷻ له عقابه نه بېرېږئ حيث تشركون بعض مخلوقاته معه وتنكرون قدرته على بعض مقدوراته كالبعث بعد الموت.

قُلْ مَنْۢ بِيَدِهٖ مَلَكُوْتُ كُلِّ شَيْءٍ

پوه سه: چې د ملكوت وزن فعلوت دی واو او تاء يې د مبالغې لپاره دي، نو معنى يې غاية ما يتصور من الملك والسلطان له دې سببه ملكوت خاص دی په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملک پوري د خدای ﷻ وکذا الجبروت فعلوت مختص بکبریائه ﷻ.

وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيْهِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٨٩﴾

نو دی دی ساتونکی او امن ورکونکی ومن یشاء ته (ولایجار علیه) عطف علی ماسبق او نه منع کړه کیږي پر خدای ﷻ هغه څوک چې خدای ﷻ د سوء اراده ورته وکړي، او یا معنی داده لایقدر احد پر دې چې خدای ﷻ ته دي ضرر ورسوي حتی یجار علیه یجار چې متعدي یې په علی سره کړی لتضمنه معنی النصرة.

سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ فَأَنَّىٰ تُسْحَرُونَ ﴿٨٩﴾

ژر دی چې دوی به ووایي په جواب کې د قُل من بیده آه چې خدای ﷻ لره دي.

دروښ وایي: چې وړاندې نژدې تېره سوه وجه د راورلو د لام په نقل د روح المعاني، روح البیان او مظهري (قل فانی تسحرون) ته ورته ووایه دوی ته چې سره د اعتراف مذکوره له کومه ځایه څخه تاسي غولېدلي یاست او له حق څخه مصروف سوي یاست، او څرنګه حق باطل درته معلومېږي او جمادات د خدای ﷻ شریک بولئ.

بَلْ أَتَيْنَاهُمْ بِالْحَقِّ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ ﴿٩٠﴾

کلمه د بل لپاره د انتقال ده د الزاماتو مذکوره وو څخه او ددوی د اعترافاتو څخه و بیان ته د اصل منشاء ددوی د انکار، یعني راتګ کړی دی موږ دوی ته په حق سره چې توحید د خدای ﷻ دی او وعده د بعث بعد الموت ده او جزاء د شرک په دوزخ سره ورکول دي.

فائده: دا جمله عطف ده علی قوله تعالی: بل قالوا مثل ماقال الاولون، او اضراب دی د هغه څخه، او په منع کې د معطوف او معطوف علیه جمل معترضه دی لپاره د الزام ددوی فافهم.

(وانهم لکاذبون) في انکارهم من التوحید وانکارهم عن البعث والنشور تقلیداً الآبائهم الاولین وعناداً وتکبراً عن اطاعة الرسول ﷺ.

مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِن وَلَدٍ

خدای ﷻ نه دی اخستی یعني د ځان لپاره من ولد (من زائد لپاره د استغراق د نفي دی) کما یقول النصاری ان عیسیٰ ابن الله والیهود ان عزیر ابن الله یا بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشرکان د مکي ان الملائکة بنات الله لتقدسه تعالى عن المماثلة والمجانسة لاحد والولد لابد ان يكون مماثلاً ومجانسًا للوالد ومع ذالک لم يكن له صاحبة، دا جمله علت دی د وانهم لكاذبون يعني درواغ خو يي دغه دي.

وَمَا كَانَ مَعَهٗ مِنْ اِلٰهٍ

او نسته سره د خدای ﷻ مشارک په معبوديت کي لا في الذات ای وجوب الوجود كما يقوله الثنوية ای المجوس ان خالق الخيرات والنور واجب الوجود اسمه يزدان وخالق الشرور والظلمات واجب الوجوب اسمه اهرمن، او نه په استحقاق د عبادت لکه وثنيه چي وايي يعني پرستان د بتانو.

اِذًا لَّذَهَبَ كُلُّ اِلٰهٍۢ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ

(اذا) جواب لمن اشرک وجواب لشرط محذوف تقديره لو كان معه اله اذا (لذهب آه) تګ به کړی وای هر خدای په ما خلق سره خپل يعني استقلالاً بې د خپل مخلوق تصرف کولای ومنع غيره من التصرف فيه، او غلبه به غوښتلای هر خدای پر هغه بل خدای که ددوی تر منځ مخالفت راغلی وای او جنګ ته مفضي سوي وای كما يقع بين ملوک الدنيا لامكان ذالک التمانع والاختلاف، نو په صورت کي د حرب به حتمًا يو مغلوبه کړ ځېدی فلا يكون المغلوب الهًا لانه امارة العجز والحدوث.

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يَصِفُوْنَ ۙ﴿۹۱﴾

پاک دی خدای ﷻ (من الولد والشريک) چي کفار توصيف د خدای ﷻ په کوي يعني خدای پاک ته يې نسبت کوي.

پوښتنه: د ثنويه پر مذهب چي دوارې خدايان واجب والوجود بولي خو دا برهان تمانع جاري کېږي، اما د وثنيه يعني بت پرستانو پر مذهب خو دا دليل نه جاري کېږي. ولي دوی خو خپل بتان خالق د هيڅ شي نه بولي، واذا قيل لهم من خلقكم ليقولن الله؟

ځواب: د هغو ځواب د نومورې آيت ځخه نهميږي لان العاجز من كل الوجوه لا يستحق العبادة مع المعبود بالحق كما هو ظاهر للصبيان بدون البيان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۹۲﴾

پوه سه: چې مراد د غیب والشهادة څخه نسبت و موږ ته دی، ولې چې خدای پاک ته علم د غیب والشهادة علی السواء دی.

فائده: قراء د اهل مدینې او د کوفې عالم په رفع سره وایي او خبر د مبتداء محذوفي یې بولي، او نور قراء یې په جر سره وایي چې صفت د لفظ الله یې بولي او یا بدل دی من لفظ الله في قوله سبحان الله.

پوه سه: چې دا بل دلیل دی پر امتناع د شریک خدای ﷻ لره ولې علم د غیب او شهادت بالاتفاق مخصوص په خدای پورې دی ځکه وروسته یې فاء د تفریع راوړې یعني (فتعالي عما یشرکون) کلمه د ما یا مصدریه ده والمعنی تعالی الله عن اشراکهم او یا موصوله ده والعائد محذوف والتقدیر تعالی عما یشرکونه به ومعنی تعالی تعاظم.

قُلْ رَّبِّ اِمَّا تُرِيَنِّيْ مَا يُوْعَدُوْنَ ﴿۹۳﴾

ته ووایه ای ربه زما یا ته به ووینې په ما هغه شی چې د کفارو سره یې وعده کړل کیږي یعني العذاب.

پوه سه: چې اصل د ترینني ترینني ؤ فاد غم النون في المیم کما هو القانون الصرفي او نون الوقایه یې حذف کړی کراهة توالي النونات ان ما وهذا شرط اکدت بما المزیدة فالمعنی ان کان لابد ان ترینني (مایوعدون) چې د دوی سره یې وعده کړل کیږي یعني د کفارو سره من عذاب الدنیا والآخرة.

رَبِّ فَلَا تَجْعَلْنِيْ فِي الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۹۴﴾

(رب) یعني یا رب ما مه ګرځوې قرین لهم في العذاب.

پوه سه: چې د (قل رب) څخه تر دې ځایه پورې جمله معترضه ده تلقین د دعاء او تکرار د نداء او تصدیر د هر واحد د شرط او جزاء په نداء د یارب لزیادة العجز والتضرع.

فائده: خدای ﷻ چې ښوونه د دعا پر داسي وجع ابلغ و سید البشر ﷺ ته وکړه اشارة الی وجوب الخوف وهضم النفس، او اشاره ودې ته هم ده چې عذاب د ظالمانو ګاهي غیر ظالم هم په لپیټ کې نسي، کریمه: واتقوا فتنة لاتصیبن الذین ظلموا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منكم خاصة، والمراد من الدعاء اخرجني حين نزول العذاب عليهم سالمًا من بينهم.

وَإِنَّا عَلَىٰ أَن نُّرِيَكَ مَا نَعِدُهُمْ لَقَادِرُونَ ﴿٩٥﴾

او موږ پر دې باندې چې په تا وويني هغه عذاب چې موږ وعده کړې ده د دوی سره هر ځيښه قادر يو، لکن موږ عذاب د استيصال پر دوی نه نازلوو يا له دې سببه چې ته په دوی کې موجود يې، کريمه: وما كان الله ليعذبهم وانت فيهم، او يا له دې سببه چې بعض د دغو کافرانو به وروسته ايمان راوړي لکه ابو سفيان، يا په اولاد کې د هغه کافر به مؤمن پيدا سي لکه عکرمه ؓ بن ابی جهل اسلم عام فتح مکة.

پوه سه: چې په دې جمله رد دی پر دوی چې دوی به انکار کاوه له عذاب څخه يا استعجال د عذاب يې کاوه استهزاءً، کريمه: ان كان من عندك فامطر علينا بحجارة او ائتنا بعذاب اليم، قاله الوليد بن المغيرة.

اِدْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ السَّيِّئَةَ

ته دفع کوه يا محمد (ﷺ) په هغه خصلت سره چې هغه احسن لخصال وي چې صفح او اعراض دی والعبر والاحسان دی (السيئة) مفعول د ادفع دی، يعني ادفع بسبب احسان منک شرهم، نو دا آيت تعليم د صبر دی پر اذيت ددوی يعني جنګ مه ورسره کوه، نو دا آيت منسوخ دی په آيت السيف سره لا کما يقوله بعض معلوم الحال کسان چې وايي عليه الصلوة والسلام ته د توري چلولو اجازه نه وه، او بعض مفسران وايي چې له حسنه څخه کلمة التوحيد مراد ده او له سيئه څخه کلمة الشرک مراد ده.

دروښ وايي: چې له امثله وو څخه د دفع سيئه په حسنه سره يو په زړه پوري مثال دادی چې يو سړی وبل ته ووايي چې ته خوزاني يې مثلاً، هغه بل ورته ووايي که به ته کاذب يې خو خدای ﷻ دي تا ته بخښنه وکړي او که به ته صادق يې خدای ﷻ دي ما ته بخښنه وکړي.

نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَا يَصِفُونَ ﴿٩٦﴾

که کلمه د ما موصوله وي، نو عائد يې محذوف دی، نو تقدير يې داسي دی نحن اعلم بما يصفونک به من انک شاعر، او کاهن، او مجنون الی غير ذالک، او که کلمه د ما مصدريه وي، نو يې معنا داده نحن اعلم بتوصيفهم اياک ما الاسماء المذكورة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقُل رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ﴿٩٧﴾

اوته ووایه یا محمد (ﷺ) پناه غواړم په تا سره او اعتصام کوم په تا سره.

پوه سه: چې همز دفع د شدت سره ای من دفع الشیاطین بالاغواء والوساوس الی المعاصي.

وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ﴿٩٨﴾

او پناه غواړم په تا سره اې زما ربه چې شیطانان دي ماته حاضرسي په یوشي کي زما ذکارو من الصلوة والصوم وغیر ذالک، ولي شیطانان چې حاضرسي د عبادت په وخت کي سړي ته قسم قسم وسوسې وراچوي او ذوق د عبادت له سړي څخه په تاراک وړي.

پوه سه: چې جمله د "وقل رب آه" عطف ده علی قوله وقل رب اما ترینې آه.

فائده: اجمعت الامة علی عصمت النبي ﷺ، ولي چې دده ملګري شیطان ایمان راوړی ؤ کما في البخاري، ولي چې دده زړه مبارک په هغه وخت کي چې دی نبي کېدی، د وسوسې وینه د شیطان یې دده له زړه څخه ایسته کړه سوې وه کما رواه الشیخان فامره علیه الصلوة والسلام تحذیر امته من شر الشیطان او هضمًا لنفسه المطهرة علیه الصلوة والسلام والتحیة.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ ﴿٩٩﴾

هغه وخت چې راسي ویوه ته ددې کافرانو مرګ یا سکرات الموت وایي به اې زما ربه ما وبدنیا ته بیرته واستوه چې زه ایمان راوړم او عمل صالح وکړم

پوه سه: چې حتی ابتدائي ده متعلق بقوله یصفون او بقوله کاذبون (قال) نو دی ووایي چې دی وویني ځای خپل په جنت کي که دی مسلمان وای او ځای خپل یې په اور کي او دا ورته وویل سي چې هغه د جنت ځای دی په دغه ځای د اور بدل کړی (رب ارجعون) مقوله د قال ده یعني ما بیرته راجع کړه و دنیا ته چې زه ایمان راوړم او د اور ځای په جنت بدل کړم.

پوه سه: چې جمعیت ارجعون سره ددې چې خطاب د خدای ﷻ کما یدل علیه رب لپاره د تعظیم ده. او بعض مفسرین وایي چې صیغه د جمع لپاره د تکریر د فعل ده اصله ارجعني ارجعني کما قیل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَعَلِّيْ اَعْمَلُ صَالِحًا فِيْمَا تَرَكْتُ كَلَّا ؕ

شاید زه به عمل صالح وکړم (صالحًا منصوب علی المفعولیة) في ما ترکت: یعني في الایمان الذي ترکته في الحیوة الاولی، ومراده چي اولاً به ایمان راوړم وروسته به اعمال صالحه د ایمان وکړم، په حدیث شریف کي راغلي دي ابن جریر له ابن جریج څخه روایت کوي چي حضور اکرم ﷺ وویل چي مؤمن چي ملائکة الموت ووینې ملکي ورته ووایي چي نرجعک الی الدنیا، دی ورته ووایي الی دار الهموم والاحزان بل قدومًا الی الله، واما الکافر فیقول رب ارجعون الخ. (کلا) منع د طلب د رجعت و دنیا و استبعاد ای لا رجعة.

اِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَآئِلُهَا ؕ

(انها) یعني دا قول دده چي رب ارجعون آه تانیث یې په اعتبار د خبر دی کما تقرر في النحو اذا دار الضمیر بین المرجع والخبر یعني یو مذکر وي بل مؤنث لکه دلته چي مرجع مذکر دی وهو القول او خبر یې مؤنث دی فرعایة الخبر اولی لانه محط الفائدة.

بوه سه: چي مراد له (کلمة) څخه دلته کلمه نحویه نه ده ای لفظ وضع لمعنی مفردٍ کما في الکافیة وغیرها لانها عرف مستحدث للنحاة بل المراد الکلمة اللغویة فان الکلمة في اللغة طائفة من الکلام المنتظم بعضها الی بعض فهو بهذا المعنی لایقع الا علی الجملة المرکبة المفیدة (هو قائلها) چي کافر ویونکی دی د دغې کلمې لتسلط الحسرة والندامة علیه ومخافة العذاب.

وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۰۰﴾

(ومن ورائهم) او په مخ کي د دې د کافرانو (برزخ) مجاهد ؒ وایي چي حجاب بینهم وبین الرجعة، او دا جمله عطف ده پر مضمون د کلا ای لایکون مایطلبون من الرجعة ومن ورائهم برزخ فانهم (الی یوم یبعثون) یعني دا حجاب ممتد دی تر هغه ورځي پورې چي انسانان بعث کېږي، قتاده ؒ وایي چي برزخ بقیة عمر الدنیا فانه لارجوع الی الحیوة مالم ینته عمر الدنیا، او ضحاک ؒ وایي چي برزخ مابین الموت الی البعث او بعض مفسرین وایي چي برزخ قبر دی وهو فیه الی یوم یبعثون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي تفسير د قيل ليس بشئ لان القبر لبعض الناس، ولي هندوان د لويي وچي د محکي خپل مړي په اور سوځي، او بعض انسانان ماهيان خوري چي کښتی غرقه سي، او بعض انسانان لپويان او حيوانات وخوري، فالتفسير ان الاولان هما المقبولان فافهم.

فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿١٠١﴾

يعني چي قيامت سي په قرن کي پوه کړل سي يعني اسرافيل ؑ پکښي پوه کړي.

دروښ وايي: چي سعيد بن جبير له ابن عباس ؓ څخه روايت کړی دی چي مراد نفخة اولی ده چي د نفخة الصعق په نامه يادېږي، لکن روح البيان وايي چي دا نفخه د عندها البعث والنشور، او مظهري وايي والصحيح چي دا نفخه د بعث او نشور ده، وهو المروي عن ابن مسعود ؓ وقال صاحب روح المعاني وهي النفخة الثانية التي يقع عندها البعث والنشور.

نو نسبونه نسته په منځ کي ددوی، ولي يو وبل ته د فائدې طمع قطع سي، والمعنى لايتفاخرون بينهم بالانساب كما يتفاخرون بها في الدنيا، او يا معنى داده چي انساب نفع نه ورته کوي، ولي چي دهشت او حيرت دومره پرسرې غالب سي كما قال الله تعالى يوم يفر المرء من اخيه وامه وابيه وصاحبته وبنيه لكل امرء شان يغنيه.

فائده: ضمير د بينهم راجع دی و کفارو ته لذکرهم فيما سبق.

سوال: نفي د انسابو څرنګه صحيح دی مثلاً کافر زوی او پلار نسب خويي باقي دی؟

ځواب: بقاء د نسب چي فائده نه کوي کالعدم ده... ع:

په قيامت نسته داسي پوښتنه ..... چي د چا زوی يې د کوم وطنه.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن کريم راغلي دي: واقبل بعضهم على بعض يتسائلون؟

ځواب: د قيامت ورځ ذو احوال ده يو وخت دوی د دهشت په درياب کي غرق وي فلا يتسائلون وفي موطن په هوش کي راسئ او حيرت او دهشت کم سي فيتسائلون.

فائده: مورِ د مخه وويل چي ضمير د بينهم و کافرانو ته راجع دی، د دې تفسير فائده څه ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: د مؤمنانو حال دغسي نه دی، لما روی ابن ابی الدنیا عن عبد الله بن عمرو اللیثي ؓ قال قال رسول الله ﷺ اذا کان یوم القیامة خرج ولدان المسلمین بایدیهم الشراب. نو خلک ودوی ته ووایي چي مورد ته اوبه راکړئ! دوی وړته ووایي ابوینا ابوینا یعني مورد خپل مور او پلار په طلب کي یو چي اوبه وړکړو حتی السقط بباب الجنة یقول لا ادخل الجنة حتی یدخل ابوي (سقط د کم عمر ولد ته وایي چي مړ پیدا سي)

پوښتنه: په صحیح حدیث کي چي روایت یې ابن عساکر د ابن عمر ؓ په صحیح سند سره کړی دی کل نسب وصهر ینقطع الا نسبي وصهري، له دې حدیث څخه خو دا معلومیږي چي د عمومي مؤمنانو نسب فائده نه لري بلکي دا فائده مخصوصه په نسب پوري د علیه الصلوة والسلام ده نظر و مؤمنانو ته د اقرباؤ د علیه الصلوة والسلام؟

ځواب: نسبه د ټولو مؤمنانو داخل دي په نسب کي د علیه الصلوة والسلام وازواجه امهاتهم (ای المؤمنین) اذا کانت ازواجه المطهرات امهات المؤمنین فهو علیه الصلوة والسلام ابوهم الرحیم فافهم.

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿١٠٢﴾

پوه سه: چي موازین یا جمع د موزون ده، یعني د چا چي دپر سي او راجح سي موزونات دده یعني اعمال صالحه من عقائد واعماله الصالحة الموزونة (چي تلل کیږي) یا جمع د میزان ده (ترازو یعني پله د حسناتو پر پله د سیئاتو).

سوال: پر دې تقدیر یې موازین جمع ولي راوړه ترازو به یو وي؟

ځواب: بعض علماء وایي چي د هر انسان جلا ترازو دی، او بعض علماء وایي چي تعدد د میزان په اعتبار د تعدد وزن دی یعني څو واړه به له سره تلل کیږي، موصول سره د صلې مبتداء خبریه ده (فأولئک هم المفلحون) نو هم دغه کسان دي خلاصون موندونکي له عذاب څخه او سر شال په نجات دي او درلودونکي د درجاتو دي په دار الثواب کي.

مسئله: ټوله اهل السنة والجماعة اجماع کړې ده چي میزان او تلل د اعمالو حق دی. وانکر ذالک المعتزلة والخوارج والروافض واکثر اهل الاهواء، نو دوی په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحیح حدیث چي روایت یې بیهقي په باب البعث کي له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت کړی دی په هغه حدیث طویل د جبرئیل علیه السلام چي د علیه الصلوة والسلام څخه یې پوښتنې کولې چي یوه په هغو کي داوه، قال ما الایمان یا محمد صلی الله علیه وسلم؟ قال الایمان ان تؤمن بالله (بالوجود والتوحید) وملائکته (چي عباد مکرمون دي ولیست بنات الله تعالی) ورسله (چي ټوله رسولان چي رسالت یې په معجزاتو ثابت وي حق دي) وتؤمن بالجنة والنار والمیزان (چي جنت، دوزخ او ترازو سته) وتؤمن بالبعث بعد الموت، وتؤمن بالقدر خیره وشره من الله تعالی .. بیت:

ټوله اندازه د خیر و شر بوله د خدایه څخه
کله پیښیږي نیک و بد د خپلي رایي څخه

قال جبرئیل علیه السلام فاذا فعلت ذالک فانا مؤمن؟ قال نعم، قال صدقت.

فائده: صاحب المیزان جبرئیل علیه السلام دی.

پوه سه: چي احادیث مبارکه په باره کي د میزان متواترة المعنی دي.

پوښتنه: اعمال حسنه او سیئه خو اعراض دي، نو څرنګه تلل کیږي؟

ځواب: بعض علماء وایي چي صحیفې د اعمال حسنه او سیئه سره تلل کیږي؛ او بعض وایي هر عمل حسن او سیئ لره خدای پاک جسد ورکوي هغه اجساد سره تلل کیږي، والله اعلم.

فائده: کافر لره وزن نسته، ولي د کفره سره حسناتو لره دده لکه صلة الاقارب او اطعام الطعام للاضیاف وغیر ذالک اعتبار نسته، کریمه: فلانقیم لهم یوم القیامة وزنًا.

فائده: کلمه طیبه د هر چا نه تلل کیږي یعني اشهد الا اله الا الله واشهد ان محمدًا عبده ورسوله، بدلیل حدیث ابن عباس رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم والذي نفسي بیده (الواو للقسم) لو جیئ بالسموات والارض وما فیهن وما بینهن وما تحتهن ووضعت في کفة من المیزان ووضعت شهادة ان لا اله الا الله الی اخیره في الکفة الاخری لرجحت (غالبه به سي پله د کلمه شهادت پر هغه اسمانو او مځکو باندي، رواه الطبراني.

دروښ وایي: چي ما وویل چي د هر چا کلمه شهادت نه تلل کیږي، له دې کبله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي بعض مؤمنانو ته چي خدای پاک اراده د مغفرت وکړي نو کلمه شهادت وروتلي، بدليل حديث ابن عمر ؓ الذي رواه الترمذي وابن ماجه وابن حبان والحاكم رضي الله عنهم ابن عمر ؓ قال رسول الله ﷺ يو سړی به راوستل سي زما د امت څخه په حضور د حاضرينو يوم القيامة، نو ده ته خلاص کړل سي نهه نيوي (۹۹) اوږده اوږده خطونه چي د سجلات په نامه يادېږي او هر سجل دومره اوږد دی لکه ستر کي چي ديد کوي، خدای پاک ورته وايي چي ته د دې سجلاتو څخه له يوه څخه منکر يې؟ آيا کرام کاتبون پر تا ظلم کړی دی يعني زائد ګنهونه يې په تا پسې نوشته کړي دي؟ فيقول لا يارب. نو خدای ﷻ ورته ووايي چي تالره زما په نيزيوه حسنه سته وانه لاتظلم اليوم فيخرج له بطاقة يعني رقعة صغيرة فيها اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله، او ده ته ووايي چي ورسه په ميزان کي يې سره وتله، نو هغه بنده مؤمن ورته ووايي يارب ما هذه البطاقة مع هذه السجلات، خدای پاک ورته ووايي انک لاتظلم، نو هغه مؤمن هم ورسي سجلات تولې په يوه پله کي کښېږدي او بطاقه په بله پله کي، نو هغه سجلات په هواء وي او د بطاقه پله پر مځکه پرته وي، قال العلماء: به بها نمی بخشد و ببهانه می بخشد.

او ابن عبد الرزاق په فضيلت کي د علم داسي وايي په روايت د ابراهيم النخعي ؒ چي د يو سړي د حسناتو کاغذ به راوړل سي په يوه پله کي د ميزان به کښېښول سي او د سيئاتو دا به په بله پله کي حسنات يې د هر سپک وي، وروسته په شکل د سپيني وريځي يو شی په پله کي د حسناتو ور ولوېږي، نو يې د حسناتو پله درنه سي، نو دې سړي ته وويل سي ما تدري ما هذا؟ فيقول لا! فيقول هذا فضل العلم الذي كنت تعلم الناس، او امام ذهبي ؒ په فضل کي د علم په روايت د عمران بن حصين ؓ وايي قال قال رسول الله ﷺ يوزن يوم القيامة مداد العلماء (يعني هغه سياهي چي دوی خط په کاږي د وينو سره د شهداؤ) فيترجح مداد العلماء عن دماء الشهداء.

دروښ وايي: چي زما په عقيده به دا حال د هغو علماؤ وي چي لله في الله يې تعليم وي او لله في الله يې تصانيف وي، اللهم اجعلني منهم بجاه نبيک الكريم ﷺ وبحرمة اصحابه الكرام المهاجرين والانصار ؓ... بيت:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چون فرو آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر دافعی

قال العلماء لكل شيئ آفة وللعلم آفات.

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ

ای خفت اعماله الحسنة او كفة حسناته بحيث لايكون له ثقل اصلاً وهو الكافر لامحالة كمايدل عليه مابعده من الآية، بزار او بيهقي رح د انس رضي الله عنه څخه روايت كړی دی عن النبي صلى الله عليه وسلم قال يؤتى ابن آدم يوم القيامة فيوقف بين كفتي الميزان ويوكل به ملك فان ثقلت موازينه نادى الملك بصوت يسمع الخلائق سعد فلان فلا يشقى بعده ابداً.

دروښ وايي: وهو المؤمن الكامل وان خفت موازينه نادى الملك بصوت يسمع الخلائق شقي فلان فلا يسعد بعده ابداً.

دروښ وايي: چې مراد له خفت څخه په دې حديث کې هغه خفت دی چې هيڅ ثقل نه لري وهو الفاجر الكامل يعني الكافر.

پوښتنه: د مؤمن كامل او د فاجر ای الكافر حال خو معلوم سو، لكن د عصات المؤمنين حال خو نسو معلوم فما حاله؟

ځواب: د عصات المؤمنين اعمال دوه واره تلل کېږي کله يې په حسناتو کې يو نوع خفت ؤ او يو چا يې شفاعت وکړی ګنهونه وروبخښل سول او يا شفاعت يې ونه کړل سو دوږخ ته واستول سو او ګنهونه يې په اور توی سو او له ګناه څخه پاک سو پر دواړه تقديره هغه ملک نعره کوي سعد فلان سعادةً لايشقى بعده ابداً فتدبر.

فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُمْ فِي جَهَنَّمَ خَالِدُونَ ۝

دا هغه کسان دي چې په کامل توان يې خپل ځانونه په خسران کې اچولي وه (يعني په دنيا کې بالكفر والمعاصي) چې په دوږخ کې ابد الآباد به پاتې وي.

پوښتنه: چې کلمه د من موصوله متضمن معنی لره د شرط ده او فاؤلئک آه يې خبر قائم مقام د جزاء دی،

پوښتنه: چې في جهنم يا خبر د مبتداء محذوف في دی تقديره وهم في جهنم خالدون، يا بدل دی د خسروا څخه چې صله د الذين وه، او يا خبر ثاني د اولئک آه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ ﴿۱۰۴﴾

ورسوخي مخان ددوی اور د دوزخ ددې معنی داده چې مؤمن عاصي که څه هم دوزخ ته واچول سي لکن مخ يې اور نه ورسوځي په دليل د هغه حديث چې مسلم يې روايت کړی دی له جابر بن عبدالله ﷺ څخه قال قال رسول الله ﷺ يدخل قوم النار من هذه الامة فتحرقهم الا داراة وجوههم (يعني شاوخوا دمخ) ثم يخرجون منها.

پوه سه: چې جمله (وهم فيها كالحون) حال ده له ضمير مجرور څخه د وجوههم، والمعنى په داسي حال چې دوی په نار کې شنه ان به يې له غاښو څخه لېرې وي لکه د پسه سر چې په اور له وېښتانو څخه پاک کړي.

دروښ وايي: چې روح المعاني، روح البيان او مظهري يو حديث د ترمذي چې ده د صحيح حکم هم پر کړی دی په روايت د ابی سعيد الخدري ﷺ راوړی دی چې عليه الصلوة والسلام په تفسير کې ددې آيت وهم فيها كالحون وويل چې د کافر سر اور ورسوځي حتی چې لوړه شونډه يې وسط الراس ته ورسېږي او کښته شونډه يې له نامه (نو) څخه منښلي.

أَلَمْ تَكُنْ آيَاتِي تُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ فَكُنْتُمْ بِهَا تُكَذِّبُونَ ﴿۱۰۵﴾

آيا نه وه (استفهام د توبيخ لپاره دی او دوی ته سبب ددې عذاب چې دوی ورسره لاس وګرېبان دي بيانول دی. والتقدير يقال لهم من جانب خزنة جهنم الم تكن) زما آيتونه يعني په قرآن کريم کې چې تلاوت به يې کېدی پر تاسي او تاسي به يې تکذيب کاوه يعني دروغ به مو بلله يعني ددې عذاب سبب ستاسي تکذيب د آيات القرآن دی.

قَالُوا رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ ﴿۱۰۶﴾

دوی ووايي په ځواب کې د الم تكن، يا رب غلبه وکړه پر موږ زموږ شقاوت او بدبختي حتی حال زموږ د سوء العاقبة سره مخامخ سو.

رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ ﴿۱۰۷﴾

اې زموږ ربه ته موږ وباسه له اور څخه يعني د دنيا ته، نو که موږ بيا عود وکړی وتکذيب ته، نو په حق چې موږ ظالمان يو يعني پر خپلو ځانو، بيا مو نو له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب څخه د اور مه باسه، قال يعني خداى پاک ورته ووايي يعني په ذريعه د خزنة النار په خواب کي د سوال ددوى.

قَالَ اخْسَـُٔوْا فِيْهَا وَلَا تُكَلِّمُوْنِ ﴿۱۰۸﴾

يعني پټه خوله سئ، د سپکاوي پر ډول چي دا ځاى د سوال نه دى دا ځاى د مکافات او جزاء دى.

پوه سه: چي اصلاً دا کلمه ماخوذ ده له خساء الکلب څخه (يعني چغه کړى سپى) کما في القاموس، او دا قول صاحب قاموس لازمي هم راوړى خساء الکلب برفع الکلب چغه سو سپى، او متعدي هم خسئا الکلب بنصب الکلب چغه يې کړى سپى (ولاتکلمون) او خبري مه کوئ زما سره په دفع کي د عذاب، ولي چي زه ستاسي څخه عذاب نه پورته کوم، نو په دې وخت کي ددوى د اميد تناؤ وشکېږي، قال الحسن رح هذا اخير الکلام يتکلم به اهل النار ثم لايتکلمون بعدها الا الشهيق والزفير او لکه سپى غاپي او انګولي کذا قال القرطبي.

اِنَّهٗ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْ عِبَادِيْ

په تحقيق شان دا ؤ يعني په دنيا کي چي وه به يوه ډله زما د بندګانو يعني المؤمنين.

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾

دوى به ويل اې زمونږ ربه مونږ ايمان راوړى دى مونږ ته بخښنه وکړه يعني زمونږ د ګنهو او پر مونږ رحم وکړه او ته يعني يا الله خير او بهترين د مهربانانو يې، پښتانه وايي: اې ترمور او پلار مهربانه خدايه پر ما رحم وکړه.

فَاتَّخَذْتُمُوْهُمْ سِخْرِيًّا

نو تاسي په دوى پسخند واهه.

پوه سه: چي اهل مدنيه، حمزه او کسائي سخريا په ضمه د سين وايي او نور قراء يې په کسره د سين وايي.

فائده: کسائي او فراء وايي چي سخريه په کسره د سين استهزاء او پسخند ته په خوله وايي او په ضم السين تسخير او مربي ګرځولو ته وايي، او خليل رح وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي سخرى بضم السين وسخريًا بكسر السين دوه لغته دي چي معنى يې يوه ده چي مترادف په عربي ورته وايي، نحو بحر لجي بضم اللام وكسرها وكوكب دري بضم الدال وكسرها، وفي القاموس نحو ذالك پر هر تقدير سخريًا مصدر دى ياد نسبت پر زياته سوې ده للتاكيد والحمل مبالغة.

فائده: په دې آيت سره رد دى د دعاد كافرانو يعني تاسي څرنګه په ربنا غلبت آه خواست كوئ او سره ددې چي په دنيا كي پر ربنا آمنا آه مسخرې كولې او پسخند مو په واهه.

حَتّٰۤى اَنْسَوْكُمْ ذِكْرِىْ وَكُنْتُمْ مِّنْهُمْ تَضْحَكُوْنَ ﴿۱۱۰﴾

كلمه د حتى ابتدائيه ده نحو مرض فلان حتى لايرجونه يعني تر دې اندازې چي هېر كړى ؤ مسلمانانو له تاسي څخه زما ذكر يعني چي خوف وكړي او ايمان راوړي او زما په عبادت څانونه مشغوله كړي او تاسي واست چي پر مسلمانانو به مو خندل، مقاتل ؒ وايي چي دا آيت په فقراؤ كي د مسلمانانو نازل سوى دى لكه عمار بن ياسر سلمان فارسي او بلال حبشي او صهيب وغيرهم رضى الله تعالى عليهم اجمعين چي كاهي به دغه فقراء پر مجلس د قريشو تېرېدل يوه به و هغه بل ته وويل چي دادي جنتيان حورو او غلمانو والا راغله، نو دومره قهقهه خندا به يې كول چي يو به پر بل غوڅارېدل.

فائده: په آيت كي شريف كي نسبت يعني اسناد د انساء وذوا تو ته د مسلمانانو كړى مجازًا ولي چي اصلي سبب د انساء د ذكر الله اشتغال د كفارو ؤ په استهزاء د مسلمانانو او په سخريه او خندا پر مسلمانانو.

اِنِّىْ جَزَيْتُهُمُ الْيَوْمَ بِمَا صَبَرُوْۤا اَنَّهُمْ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

په تحقيق ما جزاء يعني ثواب بالجنة ونعيمها سره هغو مسلمانانو ته وركړى چي تاسي به پسخند په واهه او پر خندل به مو تنه ورغ يعني يوم القيامة په سبب د صبر د دوى ستاسي پر ازار او استهزاء باندې (نو باء سببي ده او ما مصدري دى اى بسبب صبرهم على اذاكم اياهم) په تحقيق دغه ډله د مسلمانانو دوى دي بري پيدا كونكي پر مطالب اخرويه ؤ، نو ضمير ثاني د هم لپاره د تاكيد د حصر نه دى فتامل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قٰلَ كَمْ لَبِثْتُمْ فِي الْاَرْضِ عَدَدَ سِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾

(قال) یعني خدای ﷻ ووایي و کفارو ته یعني په ورځ د قیامت په واسطه د بعض ملائکه ؤ، کلمه د کم استفهامیه ده، یعني څو مده او زمانه تاسي درنګ په مځکه کي یعني یا ژوندي پر مخ د مځکي او یا په قبر کي، په شمېر د کلو، دا کلمه تمیز د کم ده.

قَالُوْا لَبِثْنَا يَوْمًا اَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ الْعَآدِّيْنَ ﴿۱۱۳﴾

وایي کافران په جواب کي موږ درنګ کړی دی په مځکه کي یوه ورځ یعني د ایام د دنیا او یا بعض د ورځي.

پوښتنه: کافرانو خو په مځکه کي ډېر عمرونه او کلونه تېر کړي وه حتی بعض کافرانو په سلها وو کلونه ژوند کړی دی، نو دوی ولي یومًا او بعض یوم ووایه، او بیا وروسته خدای ﷻ چي ته پوښتنه د شمېرونکو څخه زمونږ د عمرو یعني هغه ملکي چي د بندګانو اعمال نوشته کوي، ولي چي هغه ملکي زمونږ د لبث په مده نه خبر دی، او مظهري چي دا احتمال هم ذکر کړی دی چي نورو انسانانو چي حساب د عمرو ورته معلوم وي فلیس بشئ، ولي نور انسانان خو په خپل درنګ د دنیا خبر وي، نو د کفارو کلونه خو یې نه حسابل؟

ځواب: روح البیان، روح المعاني، مظهري او بیضاوي په ګډه توګه وایي بعض اجمالاً بعض تفصیلاً چي کفار چي د لبث في الدنیا یې لنډه بیان کړل ددې سببه چي دوی خو معذب بالنار دي، دا قانون طبعي دی چي د سختی او عذاب ورځي او شپې د سړي معذب په خیال ډېرې اوږدې ورځي، او ورځي او شپې د راحت ډېرې لنډې په خیال ورځي.

تجربه: یو سړی چي ډېر سخت مریض وي شپه دومره ورته اوږده سي چي اخیر دده ګمان سي چي ستوري ځای پر ځای ولاړ دي او شپه د صحت که څه هم د ژمي شپه وي ډېره ژر تېره سي، او بل خواب دادی چي ایام د دنیا کلونه د دنیا بلکي تولـه عمر د دنیا چونکه مقضي دی یعني تېرېدي والمقضی کالمعدوم، او بل خواب دادی چي مدت د حیواة الدنیا د کافرانو که هر څو طویل وه لکن بالنسبت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی مدة الحیوة الاخرویة چي غیر متناهي دي لکه یوه ورځ بلکي یو ساعت ی، بل ځواب دادی چي دا مقوله دائره ده پر ژبو د خلکو وایي: ایام السرور قصار وایام الغموم طوال. قال ای الرب جل وجلا وایي.

قُلْ اِنْ لَّبِثْتُمْ اِلَّا قَلِيْلًا لَّوْ اَنَّكُمْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

تاسي درنګ نه دی کړی په دنیا کي یعني که څه په سوو کلونه وه مګر زمانًا قلیلاً نو قلیلاً منصوب علی الظرفیة دی او شیئًا قلیلاً نو منصوب علی المفعولیة دی نسبت و هغه زماني ته عذاب چي تاسي یه په مخ کي لرئ، ولي چي عذاب ستاسي خو دائم لاینقطع دی.

پوه سه: چي کلمه د لو پر فعل داخلیږي نو دلته یې تقدیر داسي دی لو ثبت انکم چي تاسي وای، و کلمة لو لپاره د تمنی او توبیخ ده یعني کاشکي تاسي په دې پوهیدلای چي عمر ستاسي په دنیا کي لږ دی، نو دا عمر ګرانمایه به مو په ملاهي او شهواتو نه تېرولای او د ورځي د قیامت سره به مخامخ کیده په نظر کي وایي، نو بعث بعد الموت به مو په دنیا کي منلای، روی البخاري عن ابن عمر ؓ قال رسول الله ﷺ کن في الدنیا کانک غریب (ای مسافر) او عابر السبیل (یا پر یو لار تېریږئ) وزاد احمد والترمذي وابن ماجه وعد نفسک من اهل القبور، بیت:

هردم از عمر گرامی هست گنجی بی بدل ... میرود گنجی چنین هر لحظه برباد آه آه

دوه بیتونه عربي:

الا انما الدنیا کظل سحابة ..... اظلتک یومًا ثم عنک اضمحلت
فلاتک فرحًا بها حین اقبلت ..... ولاتک جزعانًا بها حین ولت

شیخ سعدي شیرازي قدس سره وایي:

کنون وقت تخمست اگر پروری ..... گر امید واری که خرمن بری
بشهر قیامت مرو تنګدست ..... که وجهی ندارد بغفلت نشست
غنیمت شمر این گرامی نفس ..... که بی مرغ قیمت ندارد قفس
مکن عمر ضائع بافسوس وحیف ..... که فرصت عزیز است والوقت سیف

قال العلماء الرجوع الی الله بالموت الاختیاري احب الی الله من الرجوع بالموت الاضطراری ولذا قیل موتوا قبل ان تموتوا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: بهلول چې د هارون الرشید د زمانې سړی وُ چې خلګو به بهلول مجنون باله لترکه الدنیا بالمرة لکن دی په حقیقت کې بهلول دانا وُ، دی واي چې زه په بعضو کښو کې د بصرې تېرېدم دېر نابالغه کوچنیان وه چې په جوزو او بادامو یې سات سره تېراوه او بازی یې سره کولې، یو بل کوچنی ولاړ دی او دا نورو کوچنیانو ته ګوري او ترسترګو یې اوښکې بهېږي، زما خیال دا سو چې دا کوچنی لکه چې پر دې ژاړي چې جوز و بادام نه لري چې د دا نورو کوچنیانو سره سات په تېر کړي. نو زه ور نژدې سوم هغه کوچني ته مي وویل: یا بني مایبکیک؟ زه جوز او بادام در رانسم چې د کوچنیانو سره سات په تېر کړې؟ ده سر راپورته کړی ماته یې وکتل او داسي یې راته وویل یا قلیل العقل صوبه خدای ﷻ د بازیو لپاره نه یو پیدا کړي، ما ورته وویل چې نو دغه شي لپاره یې پیدا کړي یو؟ ده راته وویل للعلم والعبادة. ما ورته وویل ته په څه دلیل دا خبره کوې ای بارک الله نیک؟ قال قوله تعالی افحسبتم آه. چې وروسته راتلونکی آیت دي بهلول وایي، ما ورته وویل ای بني اراک حکیمًا (ای زویه زه تا دېر پوه سړی بولم) ماته نصیحت وکړه. او کوتاه کوچني دا بیتونه راته وویل:

ارى الدنیا تجهز بانطلاق ..... مشمرة علی قدم و ساق
فلا یبا قیة لحي ..... ولا حي علی الدنیا بباق
کان الموت والحدثان فیها ..... الی نفس الفتی فرسا سباق
فیا مغرور بالدنیا رویدًا ..... ومنها خذ لنفسک من وثاق

یا ده کوچني سر د اسمان و خوا ته پورته کړی او لاسونه یې د اسمان و خوا ته پورته کړه او اوښکې یې پر بار خوګانو لکه باران اوربدلې او داسي یې وویل:

یا من الیه المبتهل ..... یا من علیه المتکل

دا بیت چې یې ووایه په خاورو کې غوځار سو بهوشه سو. بهلول وایي ما یې سر راپورته کړی په غېږ کې مي ونیوی او د مخ څخه مي خاوري وړپاکړي کړې په لستوني، او د دې د ژړا له کبله زما پر سترګو هم وریځ راپورته سوه او باران د اوښکو پر اوربد و سو. وروسته چې هغه کوچنی په هوش کې راغلی ما ورته وویل یا بني ما نزل بک وانت صبي لم یکتب علیک ذنب، ده راته وویل الیک عني یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بهلول، راځخه ايسته سه اې بهلوله ما خپله مور ليدلې ده چې لوی لرګي چې د اور د بلېدلو لپاره سره کړېږدي هغه چې اور نه اخلي، نو دا کوچنې کوچنې لرګي لاندې ورته کښېږدي او هغو ته اور واچوي او هغه لرګي په بل کړي، زه ېږېږم چې په ورځ د قيامت به زه له صغارو ځخه د اور د دوزخ وګرځم، نو ما پوښتنه وکړه چې ما ته خپل نسب راوښيه، ده راته وويل من اولاد الحسين بن علي بن ابي طالب[۱۵] بهلول وايي ما ورته وويل چې زما تعجب دفع سو، ولي چې د دې پاکې درختې دغسې پاکه مېوه وي.

دروښ وايي: چې اوس نو د دې آيت په معنى کې فکر وکړه.

اَفَحَسِبْتُمْ اَنَّمَا خَلَقْنٰكُمْ عَبَثًا وَّاَنَّكُمْ اِلَيْنَا لَا تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۱۵﴾

(همزه لپاره د انکار او توبيخ دی، او کلمه د فاء عطف ده پر مقدر کما هو القانون النحوي الذي ذکرته مرارًا، والتقدير انکرتم فحسبتم ای ظننتم.

پوه سه: چې کلمه د ما کافه ده د عمل ان، فدخلت على الجملة الفعلية وهي مع جملتها قائم مقام المفعولين فحسبتم، او عبثًا يا مفعول له دی ای لاجل العبث او يا مفعول مطلق دی د خلقنا په حذف د موصوف ای خلقًا عبثًا، والمعنى چې ما تاسي د ساتېرې لپاره يا عبث نه ياست پيدا کړي بلکې لپاره د معرفت او د علم او عبادت مې پيدا کړي ياست.

(وانکم الينا لاترجعون) دا جمله عطف ده پر انما خلقناکم والمعنى احسبتم عدم رجوعکم الينا للجزاء يوم البعث والنشور يا دا حسبان هم غلط دی لکه د معطوف عليه حسبان چې غلط ؤ.

فَتَعٰلَى اللّٰهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ ۚ

لوړ دی ذات دده له مماثلت ځخه د مخلوقاتو که علوي وي او که سفلي في ذاته وصفاته الجلالية والجمالية وافعاله تعالى عن افعال المخلوقين لان في افعاله من الحکم والمصالح والفوائد الجليلة (الملک الحق) يعني حقدارد ملک او سلطنت دی على الاطلاق يعني ايجادًا واعدامًا بدءً واعادةً احياءً واماتةً واثابةً وعقابًا، او تهوله ماسوی دده مخلوق دی مقهور تحت ملکه العظيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ ﴿١١٦﴾

نسته په عالم فراخه کي وجود معبود بالحق مګر يو ذات متعال دده.

پوه سه: چي عرش يې په کريم سره وستايه لانه مقسم فيض کرم الحق ورحمته منه تنقسم اثار رحمته وکرمه الى المخلوقات.

وَمَن يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ

څوک چي عبادت سره د خداى د بل معبود لکه کفار د مکې، هيڅ دليل ده لره نه وي معبوديت د هغه نه عقلي نه نقلي دا بل صفت د اله دا صفت د تاکيد لپاره راوړه سولان الباطل لا دليل به بلکې دلائل عقليه او نقليه دال پر بطلان د هغه دي.

فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِندَ رَبِّهِ ۚ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ ﴿١١٧﴾

حساب د هغه په نېز د خداى ﷻ دى يعني چي خداى و هغه جزاء ته په قدر د جرم د هغه ورکړى وهو الخلود في النار (پوه سه: چي په فانما آه جزاء د من شرطي ده) شان دا دى چي فلاح او خلاصون نسي پيدا کولاى له عذاب څخه د ورځې د قيامت کافران. دا بيان د جزاء ددوى دى. ولي چي فلاح د ورځې د قيامت په نجات د اور او په دخول پوري د جنت مربوط دى. له دې څخه کافر محروم دى.

فائده: ابتداء ددې سورت په فلاح سره د مؤمنانو وسوه يعني قد افلح المؤمنون آه او ختم يې پر نفي د فلاح د کافرانو وسوې نو په منځ کي د فاتحة السورة وختمها صنعة التضاد وهو من المحسنات.

دروښ وايي: چي په راتلونکي آيت کي خداى پاک امر کړى رسول خپل چي زما څخه طلب د بخښې وکړه او طلب د رحم تا چي په تا پسي به اقتداء امت وکړي او دوى به هم فلاح يا بنده ګان سي، نو خداى ﷻ داسي وايي:

وَقُل رَّبِّ اغْفِرْ وَارْحَمْ وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ ﴿١١٨﴾

پوه سه: چي جمله د وانت آه حال ده له فاعل څخه د ارحم.

فائده: مفعول د اغفر او ارحم يې حذف کړى لانهم قالوا ان التعميم بالمغفرة متكفل لسلب جميع المضرات وبالرحمة لجلب جميع المنافع، بغوي ؒ په خپل تفسير کي وايي چي مصاب پر ابن مسعود ؓ چا تېراوه يعني پېراني يا چي اعصاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې خراب وه يا لپونی. نو ابن مسعود ؓ په دوارو غوږو کې دغه آيت څخه نيولې يعني: افحسبتم انما خلقناكم تر پايه پورې د سورت ووايه هغه چې رسو. نو عليه الصلوة والسلام و ابن مسعود ؓ ته وويل چې تا يې په غوږ کې څه شی ووايه ابن مسعود ؓ حال ورته ووايه، فقال رسول الله ﷺ والذي نفسي بيده (زما دي قسم وي په هغه ذات چې زما روح د هغه په قدرت کې دی) لو ان رجلاً موقنًا (يعني چې د خدای ﷻ پر قدرت يې يقين وي) پريوه غره يې ووايي لزال (ای عن موضعه)

دروښ وايي: چې تفسير د سورة المؤمنين په وخت کې د ځانښت پر پنځه د شهر المبارک رمضان من شهور سنه (۱۴۳۰) هجري پای ته ورسېدی، ولله الحمد والمنة على توفيقه اياى لذالک والصلوة والسلام على رسوله سيدنا محمد وآله وصحبه اجمعين.



تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝ وَهِيَ اَرْبَعٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّتِسْعُ كَلِمَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

رب سهل وتممه بالخير آمين

ابتداء په تاريخ (۵) د شهر المبارک رمضان من شهور سنه (۱۴۳۰) هجري قمري من هجرة النبي ﷺ.

قرطبي رحمه الله وايي چي مقاصد د دې سورت ذکر دي د احکامو د عفاف (ای الکف عن الزنی) والستر ای للنساء کتب عمر رضي الله عنه في دورة خلافته الی اهل کوفة. علموا نسائکم سورة النور. عن عائشة رضي الله عنها قال رسول الله ﷺ لاتنزلوهن في الغرف (تاسي بنځي مه اوسوئ په بالا خانو کي، ولي دوی تر دریچو د بالاخانو د کوټې یا سړک و رجالو ته ګوري) ولاتعلموهن الکتابة (خط مه ورزده کوئ، ولي په ذریعه د خط د زنی لار ځان ته خلاص کړي) وعلموا هن سورة النور.

دروښ وایي: چي په ټوله اسلامي نړۍ کي د بنځو لپاره بنونځي سته، او دغه بنځي پر لوي لوي ځوکیو باندي ناستي وي بلکې په بعض اسلامي مملکتو کي پر منصب د قضاء ناستي وي چي هغه مملکت والا یې جج بولي بلکې کافري مملکتونه وایي چي شریعت محمدي د بنځو حقوق پای ماله کړي دي په سبب د امر بالحجاب، او په اوسنۍ زمانه کي د بنځو چي زنی زړه وغواړي د موبایل لار خلاصه ده، ځای، وخت او نقود عوض د زنی ټوله د موبایل په ذریعه سره فیصله کړي. حمید الله الغزنوي رح وایي:

چو بینم دین احمد (ﷺ) در غریبی ..... دلم سوزان ز چشمم خون جاری

سُوْرَةٌ اَنْزَلْنٰهَا وَفَرَضْنٰهَا وَاَنْزَلْنَا فِيْهَآ اٰيٰتٍۢ بَيِّنٰتٍ لَّعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ ۝

(سورة) خبر د مبتداء محذوفي دی ای هذه سورة. (انزلناها) صفت للسورة، یعني مونږ نازل کړی دی او مونږ فرض او لازم قطعي ګرځولی دی ما انزلنا فیها من الاحکام یعني عمل پر مسلمانانو په هغو احکامو سره. او بعض مفسرین وایي قدرنا مافیها من الحدود، او بعض مفسرین وایي چي معنی د فرضناها فصلناها وبینا مافیها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: جمهور قراء يې په تخفيف د راء وايي، او ابن كثير او ابو عمر رح يې په تشديد د باب د تفعيل وايي لپاره د تكثير، ولي په دې سورت كي فرائض او احكام ډېر دي او تر قيامة الساعة پورې ټوله مسلمانان په مكلف دي.

اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ

دروښ وايي: چې دا شروع ده په هغه احكام چې په فرضنا كي اشاره ورته سوې ده.

پوه سه: چې سيبويه رح وايي چې خبر د الذانية والذاني محذوف دی، تقديره سنذكر حكمهما وذهب الفراء والمبرد والزجاج رح ان الخبر جملة فاجلدوا آه، راوړل د فاء سببيه پر دې تقدير د سبب د تضمن د مبتدا ء دی معنی لره د شرط ده فان اللآم بمعنی الذي دی، والتقدير التي زنت والذي زنی.

پوه سه: چې زنی وطي دي د بنځې بېله عقد شرعي او بېله ملک يمين.

پوښتنه: په دې آيت كي د زنی بنځه د مخه ترنر راوړه سوه او په آيت د سرقة السارق والسارقة نر د مخه راوړل سوی دی حكمت يې څه دی؟

ځواب: يا سبب دا دی چې زنی د بنځو په مينځيانو كي د عربو په جاهليت كي ډېره شائع وه حتی چې بعض اهل جاهلية به ډېرې مينځيانې رانيولې، هرې يوې ته په مناسبت د بنائست يا د ځوانی و هغې ته يو څه مقدار د روپو مقرر كړی ؤ چې ته د ورځې د خلګو سره زنی كوه ما بنام په ما بنام ماته به د ومره روپی راوړې، نو هغو مينځيانو به خلګو ته دعوت كاوه چې زه به جماع د رسره وكړم د ومره اندازه روپی به راكوې، نو د هر څو نرو په زنی سره چې به د بادار مالیه برابره سوې وای هغومره وارونه به د وی زنی كوله، او يا سبب دا دی چې اصل په فعل كي زنی بنځه ده، ولي كه بنځې قدرت ونرته پر جماع نه وای ورکړی نر په زوره دا كار نسوای كولای، ولي چې فرج د د ډېر محفوظ ځای دی، او يا دا سبب دی چې د بنځې شهوت تر نر ډېر دی يعنې نهه حصې شهوت د بنځې بالا دی تر نر والشهوة هي الداعية الى الجماع.

مسئله: په مفردات كي وايي چې زانيه هغې بنځې ته وايي چې په جماع راضي وي او نر ته قدرت پر ځان ورکړي كما يدل عليه صيغة اسم الفاعل لا المزنية كرها،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او د سرقه په آیت کي چې یې نر د منځه کړی له دې کبله چې علت د سرقه شجاعت دی او شجاعت په نر کي تر ښځه ډېر بالا دی کما هو الظاهر.

فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ

نو تاسي ایها الحکام په درو ووهئ هریو د دوی یعني ښځه او نر سل درې.

فائده: علماؤ د امت مرحومه اجماع پر دې کړې ده چې زانیه او زاني چې حرین وي (احتراز د مینځي او مریي څخه چې د هغو حد نصف د حد د حر دی) او عاقلان وي (ولي چې پر لهوني حد نسته) او بالغان وي (ولي چې پر نابالغه حد نسته) حد یې د هریوه سل درې وهل دي بحکم هذه الآیة، او یو کال د وطنه فراره کول مختلف فیه دی. امام اعظم ابو حنیفه رح وایي چې تغریب عام په حد کي نه دی داخل، او امام شافعي رح او احمد رح تغریب عام جزد حد د دوی بولي.

دروښ وایي: چې دلائل د هر مذهب او نقض او ابرام په کتابو کي د فقه شریف د هر مذهب مفصل ذکر سوی دی، په روح البیان او د فقه په کتابو کي وایي چې د اسلام د محصن او غیر محصن دوارهٔ وروسته دا حد د جلد درې حد په ابتداء کي د اسلام د محصن او غیر محصن دوارهٔ وروسته دا حد د جلد په حق کي محصن او محصنة منسوخ سو په ځای کي یې رجم و درول سو، دلیل په هغه حدیث مشهور دی چې ماعز الاسلمي رض چې محصن ؤ رجم کړی، وتفصیل هذا النسخ في کتب الفقه والسوال علیه والجواب عنه ایضًا مذکور في کتب الفقه.

فائده: شرائط د احصان په باب کي د رجم په نهز د ابو حنیفة رح شپږ دي (۱) الاسلام پر اهل ذمه رجم نسته (۲) حریت دی پر مریي مینځه رجم نسته (۳) عقل دی پر لهوني رجم نسته (۴) بلوغ دی پر کوچني رجم نسته (۵) نکاح صحیح ده که نکاح فاسده وه لفقد شرائطه هم رجم نسته (۶) او جماع به یې هم کړې وي، که یو د دغو شرطو څخه نیستي شي رجم نسته.

مسئله: د زانیه او زاني څخه که یو محصن ؤ او یو نه ؤ محصن نو محصن دي په رجم سي او غیر محصن ته د جلد حد ورکړي کذا في کتب الفقه بحوالة المظهري ص ۴۲۴.

وَلَا تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ

او تاسي ته دي نسي در پښې پر زانیه او پر زاني باندي زړه سوی په دین کي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ یعني په اجراء کي د حد او جلد پر دوی چي حکم د دین د خدای ﷻ دی ،حتی چي د زړه سوی له سببه حد نه کړی پر جاري، دا تفسیر دی د مجاهد، او عکرمه او عطاء او د سعید بن جبیر او د نخعي، او د شعبي رحمهم الله بخاري او مسلم روایت کړی دی، د عائشې رضي الله عنها څخه چي یوې بنځي چي د بني مخدوم د قبیلې وه چي د قریش د قبیلې یو بناځ دی غلا یې کړې وه، نو دوی په اجراء د حد السرقة پر دې ډېر فکر جن وه یعني چي علیه الصلوة والسلام یې د لاس پرې کېدو حکم نه کړی جاري، نو دوی په خپلو کي سره چي څوک به ددې بنځي به پاره کي د علیه الصلوة والسلام سره خبري وکړي، نو دوی سره وویل چي هیڅ څوک دومره دلاوري پر علیه الصلوة والسلام نسي کولای مګر اسامه بن زید رضي الله عنه چي پر علیه الصلوة والسلام ډېر ګران ؤ، نو اسامه رضي الله عنه یې واسطه کړی، نو اسامه رضي الله عنه په دفع کي د سرقې د هغې بنځي څخه د علیه الصلوة والسلام سره خبري وکړې، رسول الله ﷺ ورته وویل یعني اسامه رضي الله عنه ته: اتشفع في حد من حدود الله؟ (ته ماته شفاعت کوې په دفع کي حدود د خدای ﷻ؟ نو همزه د استفهام لپاره د توبیخ دی) بیا علیه الصلوة والسلام خطبه وویل او داسي یې وویل: انما اهلک الذین قبلکم انهم اذا سرق فیهم الشریف (یعني سردار) ترکوه واذا سرق فیهم الضعیف اقاموا علیه الحد، وایم الله (قسم په خدای دی) لو ان فاطمة بنت محمد سرقت لقطعت یدها (یعني حکم د قطع الید مي پر جاري کاوه) او بعض مفسرین وایي چي معنی ددې آیت داده چي تاسي د رحمت له سببه وهل یعني ضرب الجلد کرار کوئ یعني برای نام حد پر جاري کړئ بلکې داسي چي خوږ سي.

فائده: امام اعظم رحمه الله وایي: یجتهد في حد الزنی ثم في حد شرب الخمر ویخفف في حد القذف لان سببه محتمل لاحتمال کونه صادقا، یعني یو سړي که بنځي ته وویل چي تا زنی کړې ده او شاهدان د زنی یې نه درلوده پر دې سړي حد قذف جاري کېږي، لکن دا احتمال خو سته چي دا سړی دي په نسبت کي د زنی ودې بنځي ته صادق وي ده دي پر زنی دلیدلې وي، که څه هم له شاهدانو څخه عاجزه سو، محي السنة بغوي رحمه الله وایي چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه وویل چي د عمر رضي الله عنه مینځه وه چي زنی یې کړې وه جلاد په درو ووهله، نو عمر رضي الله عنه وجلاد ته وویل اضرب ظهرها ورجلیها، نو زوي یې یعني عبدالله رضي الله عنه ورته وویل لاتاخذکم بهما رافسة في دین الله؟ نو عمر رضي الله عنه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وویل یا بني ان الله لم یامرني بقتلها وقد ضربت و اوجعت.

دروښ وایي: چي له دې سببه بعض فقهاء وایي چي جلاد دي دره تر سر نه لوړوي چي ضرب و قتل ته مفضي نه وکړي.

إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

که تاسي یاست چي ایمان لرئ پر خدای او پر ورځ اخیره باندي چي قیامت دی، دا شرط دی مستغني له جزاء څخه لظهوره والتقدیر ان کنتم آه فسارعوا الی امتثال امره تعالی واجتهدوا في اقامة حدوده فان الایمان یقضتی ذالک، په صحیح حدیث کي راغلي دي چي په ورځ د قیامت یو حاکم چي یوه دره په حد زنی کي کمه کړه وه د باز پرس لپاره به یې خدای پاک حاضر کړي او ورته وه به وایي چي تا ولي دا یوه دره کمه کړې وه هغه حاکم به ورته ووایي رحمةً لعبادک، خدای پاک به ورته ووایي انت ارحم مني؟ انطلقوا الی النار الی اخیر الحدیث.

پوښتنه: د قیامت ورځي ته ولي یوم آخر وایي؟

ځواب: تر دغې ورځي وروسته شپه نسته فیصیر کله کیوم واحد، او بعض اهل علم وایي چي انوار ټوله سره جمع سي او په جنت کي یوه ورځ ځندي جوړه سي نو پر جنتیانو شپه نه راځي، او ظلمات ټوله سره جمع سي او پر دوزخ واچول سي، نو ددوی لپاره لکه یوه شپه سي، والله اعلم بالصواب.

وَلْيَشْهَدْ عَذَابَهُمَا طَائِفَةٌ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۝

حاضر دي سي و حد ته د زانیه او زاني یوه ډله د مؤمنانو، فقهاء وایي چي دا امر ندب او استحباب دی، په دې حاضرېدلو کي غرض مزید رسوایي ده د زانیه او زاني، ولي بعض خلک چي اهل عزت او جاه وي تر درو وهلو په دې رسوایي کي ډېر د معاودة الزنی څخه ډېرېږي.

فائده: طائفة مشتق ده له طوف څخه چي شاوخوا راګرځېدلو ته پر هر شي وایي ومنه طواف بیت الله الشریف، نو بعض علماء وایي چي اقل مرتبه څلور کسه دي هر یو بغل پر بغل تر مخ او تر شاء او بعض مفسرین وایي چي طائفه جمع د طائف ده او اقل د جمع یې درې کسه دي، او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اقل مرتبه د طائفة يو سړی دی فما فوقه وبه قال الامام احمد ؒ والنخعي ؒ، او بعض وايي چې اقله مرتبه يې دوه کسه دي فصاعدًا، وبه قال عطاء وعكرمه و اسحاق ؒ، وقال الامام مالک ؒ اقله اربعة بعدد شهود الزنى، وقال الحسن البصري ؒ عشرة فصاعدًا.

دروښ وايي: چې دا قول لپاره د تشهير او تنكيل او تفضيح دپر موذون او په ژړه پوري قول دی.

اَلزَّانِیْ لَا یَنْكِحُ اِلَّا زَانِیَةً اَوْ مُشْرِكَةً ۫ وَّالزَّانِیَةُ لَا یَنْكِحُهَاۤ اِلَّا زَانٍ اَوْ مُشْرِكٌ ۚ

زنا کار يعني نر نه په نکاح کوي مګر زنا کاره او مشرکه ښځه، او زنا کاره ښځه نه په نکاح کوي مګر زنا کار يا مشرک سړی.

پوښتنه: چې په مخ کې آيت کې يې زانيه مقدمه کړه تر زان يعني نر، او په دې آيت کې زان يعني نر يې مقدم کړی تر زانيه، حکمت يې څه دی؟

ځواب: ورځندي تېره سوه چې دواعي د زنا په ښځه کې ډېر دي او شهوت يې هم غالب دی ولهذا قدمها في الزنى، واما في باب النكاح فالرجل طالب والمرئة مطلوبة، والفاعل مقدم على المفعول ولهذا يذكر اسم الرجل مقدم في خطبة النكاح على اصطلاح العرب على اسم المرئة.

مسئله: امام احمد ؒ په دې آيت سره او په نورو احاديثو چې بيان به يې راسي ان شاء الله تعالى دليل وايي چې نکاح د زاني او زانيه نه ده روا تر هغه وخته پورې چې توبه يې نه وي کښلې، او توبه چې وکاږي بيا خو زانيه او زان يې نه بولي، او نور ائمه الثلثة رحمهم الله وايي چې نکاح د زان او زانيه روا ده.

سوال: نو ددې آيت ځواب به څه ورکوي؟

ځواب: مفسرين وايي چې ددې آيت معنى اخبار دی كما هو ظاهر الصيغة، يعني زاني سړی په سبب د فسق خپل غالبًا رغبت نه کوي په نکاح د صالحاتو ښځو، او زانيه ښځه رغبت نه کوي ددې نکاح ته صالح سړی سره، له دې کبله چې هم جنسي سبب د الفت او د ښې ګذارې او مخالفت سبب د نفرت او د جلا والي دی... بيت:

کند هم جنس با هم جنس پرواز .... کبوتر با کبوتر و باز با باز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د انسان طبع ده چې په کوم لوښي کې سپی اوبه وڅيښي په هغه لوښي کې اوبه نه څيښي. نو زانيه ښځه په فعل د زاني راضي سوه او د فرج لوښي ته يې سپی د شهوت د زاني ور پرښو چې اوبه پکښي وڅيښي لاينكحها من حيث انها كذالك الا من هو مثلها يعني زاني يا تر زاني بد تر وهو المشرك، او صالح مسلمان خو لکه اسد داسي دی د بل چا پسخورده نه خوري، نو بنا پر دغه تاويل چې مراد اخبار سي، نو تحريم په دې آيت کې دی.

وَحُرِّمَ ذٰلِكَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

ترجمه يې ظاهرًا داسي ده چې حرام کړل سوې نکاح د زانيه پر مؤمنانو محمول دی پر تنزيه عند اکثر العلماء.

سوال: د تعبير د تحريم نکته يې څه ده؟

ځواب: نکته يې مبالغه ده چې مسلمانان د داسي فعل څخه يعني له نکاح څخه د زانيه ځان ساتي، ولي چې په دې نکاح کې مفاسد سته (۱) مؤمن صالح د فساقو له مشابهت څخه ځان ساتي (۲) سوء المعاشرة بين العبد المؤمن الصالح والزانية (۳) او که له دغې زانيه څخه دده عيال پيدا سي مشکوک النسب يعني مجهول النسب دی. او امام مالک رح وايي مکروه تحريمي دی، او ابن مسعود رض وايي چې نکاح د زانيه حرام ده او وايي که زاني د زانيه سره نکاح وکړه فهما زانيان ابدًا.

دروښ وايي: چې پر مذکوره تاويل دا آيت يعني و حرم آه منسوخ نه دی، او سعيد بن المسيب رح او نور ګڼ شمېر علماء وايي چې په ابتداء کې د اسلام نکاح د زانياتو سره حرامه وه، نو دا آيت وروسته منسوخ سو په هغه آيت سره وانكحوا الا يامى منكم فدخلت الزانية في ايامي المسلمين.

دروښ وايي: چې شان نزول د قوله تعالى الزاني لا ينكح الآية د احاديثو صحيحه وو د نکته نګاه داسي راغلی دی، ابو داؤد، ترمذي، نسائي او حاکم روايت کړی دی عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده چې يو سړی مسلمان په نامه د مرثد چې بنديان د مکې ځخه مدينې ته راوستل او په مکه کې يوه ښځه وه چې نوم يې عناق وُ، او د مرثد د زنی اشنايه وه په جاهليت کې، نو مرثد د عليه الصلوة والسلام څخه اجازه وغوښتل چې زه عناق په نکاح کړم؟ عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هیڅ څواب ورنه کړی حتی چې فوق الذکر آیت نازل سو، نو علیه السلام و مرشد ته دا آیت تلاوت کړی الزاني لاینکح تر پایه پوري او مرشد یې منع کړی له نکاح څخه د عناق. او نسائي له عبد الله بن عمرو ؓ څخه روایت کړی دی چې یوه ښځه چې د ام مهزول په نامه یاد ېدل او کسب یې زنی وه نو یو سړي د اصحابو د علیه الصلوة والسلام دده څخه اجازه وغوښتل چې ام مهزول په نکاح کړم، نو دا آیت نازل سو. او سعید بن منصور له مجاهد ؒ څخه داسي روایت کړی دی چې زنا چې حرامه سوه نو څو ښځي زانیات چې ښائسته وې او کاروبار د زنا یې په تپه ودرېدی. نو بعض مسلمانانو وغوښتل چې دغه ښائسته زانیات په نکاح کړي فنزلت الآیة المذکورة، او محي السنة بغوي ؒ وایي چې قدم قوم المهاجرین المدینة. او بعض ددوی مسکینان وه چې نه یې مال درلودی نه یې عزیزان او په مدینه منوره کې ښځي وې زانیات مشرکات چې پر زنا یې ډېر نقود جمع کړي وه او په هغه زمانه کې مالداری د مدینې دوې وې، نو بعض فقراء د مهاجرینو دا قصد وکړی چې د دغو ښځو سره نکاح وکړي تاچې دغه ښځي به موږ ته نفقه راکوي فاستاذنوا رسول الله ﷺ فنزلت هذه الآیة، وحرم ذالک علی المؤمنین.

دروښ وایي: چې پر دې تقدیر حرمت پر خپل معنی باقي دی لان نکاح المشرکات لایجوز للمؤمن، او نور ورته شان نزول هم راغلي دي والله اعلم بالصواب وعنده علم الکتاب.

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ

او هغه کسان چې ویشتل وکړي یعني نسبت وکړي د زنی هغه په صریح الفاظو سره نحو زنیت یعني یا امرئة او یا ورته ووایي یا زاني في الرجل.

پوه سه: چې په نسبت کولو کې د زنی مقید کول د آیت مجمع علیه دی د علماء التفسیر او د علماؤ د فقه په قرینه ددې چې وروسته چې څلور کسه شاهدان غواړي څلور کسه خو په زنی کې مشروط دي، که دا قرینه نه وای رمی خو مطلق ښکنځلو ته وایي او قذف هم نفس ښکنځلو ته وایي، نو که یې مثلاً داسي ورته وویل څه شراب خوره یا خمار بازه یا غله وغیر ذالک لایجب علیه حد القذف بالاجماع، لکن قاضي یا حاکم دي په قدر د مایری تعزیر ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که يې تعريضًا نسبت د زنی و چاته وکړی مثلاً د يو چا په مخ کې يې وويل زه خو نه يم زنی کاره، نو په نېز د امام الائمة ابو حنيفة والامام الشافعي والامام احمد وسفيان الثوري وابن سيرين او الحسن بن صالح رحمهم الله حد قذف نشته باندې، او په نېز د امام مالک رح په دې تعريض سره هم حد قذف لازمېږي، دی وايي چې که سړی په پوه سي چې مراد يې نسبت د زنی دی تعريضًا نو دا خو لکه تصريح ده، نو ځکه قذف پر جاري کېږي، والجواب عنه چې په فقه کې وايي چې که ښځه په عده کې وي يعني مېړه يې مړ وي تعريضي مرکه په عده کې ورته روا ده، لکه ورته ووايي مثلاً ورېندارې دېره ښائسته يې، او يا ورته ووايي ستا د نکاح شائقين دېر دي وامثال في ذکر في کتب الفق الشريف، قال الله تعالى لاجناح عليكم فيما عرضتم من خطبة النساء، او سره ددې چې تصريح يې نه ده روا کريمه: ولكن لاتواعدهن سرًّا.

فائده: رمي او قذف په لغت کې ويشتلو ته په غشي يا په ډبره يا بل ثقيل شی، او الفاظو کې کنايه د مطلق ښکنځلو څخه او په شرع کې نسبت د زنی وتړ يا وښځي ته.

نکته: په دې تعبير کې قذف يا د رمي اشاره ودې ته ده چې نسبت د زنی و يو چاته داسي درونه نسبت دی لکه سړی چې په غشي وولي.

(المحصنٰت) پوه سه: چې دا آيت يعني والذين يرمون شروع په حکم آخر وروسته تر ذکر د زنی چې په دې کې نسبت د زنی وبل ته دی وهو وجب التناسب ني اتصالهما.

پوه سه: چې حصن په لغت کې قلعه ته وايي بيا مجازًا په هر ده تحرز په شي مستعملېږي كما يقال درع حصينة اى محكمة، ولي چې زغره د لابس بدن ساتي له تاثير څخه د غشي، وفرس حسان هغه آس ته وايي چې راکب ته تکليف نه ورکوي.

فائده: محصنات په صيغه د اسم معفول ده يعني دې خپل فرج له زنی څخه ساتلی وي.

فائده: مراد له محصناتو څخه اجنبيات دي ولي چې خپلي مايني ته قذف يعني نسبت د زنی کول د هغه حکم بل دی چې وروسته به په قرآن کريم کې راسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مراد له احصان څخه په دې آیت کې په اجماع د علماؤ (۱) انیکون حرًا (نو په قذف کې د مریې یا مینځې حد قذف نسته) (۲) عاقلاً (نو ولپوئې ته نسبت کول د زنۍ حد قذف نه لري) (۳) بالغًا (نو کوچنې ته نسبت د زنۍ کول حد قذف نه لري) (۴) مسلمًا (کافر ته نسبت د زنۍ حد قذف نه لري (۵) عفیفًا (چې زنۍ یې نه وي کړې.

تفریع: که یو چا په عمر کې یو وار زنا کړې وه او بیا یې صحیح توبه کښلې وه او دې عمر پر توبه د هغې زنا تپر سوی وؤ، بیا یو چا و هغه ته قذف د زنۍ وکړی هغه قاذف نه په حد کیږي، ولي قاذف صادق دی په کې چې زنۍ دي کړې ده، لکن حاکم دي دغه قاذف ته تعزیر ورکړي لما ورد في الحدیث ان التائب من الذنب کمن لاذنب له.

اعراب: علامه سعد الدین التفتازاني ؒ په تلویح کې وایي چې دا موصول یعني والذین یرمون آه منصوب محلاً دی په فعل سره چې وروسته امر دلالت پر کوي ای اجلدوا الذین یرمون آه.

دروښ وایي: چې اسانه اعراب دادی چې دا موصول مرفوع مبتداء سي وروسته فاجلدوهم دي خبر وي فافهم.

فائده: دا آیت په ماینه کې د عویمر ؓ نازل سوی دی کما في صحیح البخاري، او سعید بن جبیر وایي چې دا آیت په سبب د قصه د افک د ام المؤمنین عائشه ؓ نازل سوی دی.

ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

وروسته نه راولي قاذفین څلور شاهدان پر زنۍ د مقذوف.

پوه سه: چې یاتوا په صیغه د جمع راوړي لان القاذفون في المؤمنین کثیر لکن دا راتګ د شاهدانو هلته غواړي چې مقذوف له زنۍ څخه منکر وي، او که مقذوف په خپله په زنۍ اقرار وکړي یا قاذف څلور شاهدان د زنۍ پر تپر کړه نود قاذف څخه حد قذف ساقط دی.

مسئله: که دا څلور شاهدان د زنۍ متفرق یې د زنۍ شاهدي ادا کړه د دوی په شاهدي سره حد زنۍ پر مقذوف نسته عند ابی حنیفة ؒ لاشتراط الاجتماع في شهود الزنۍ احتیالاً لدرء حد الزنۍ عن المشهود علیه لکن حد قذف له قاذفه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ساقط سو، ولي چې نصاب پوره او اجتماع د شاهدانو خو ددې لپاره چې پر قاذف حد قذف لازم سي.

مسئله: که مقذوف یو وار وویل چې ما زنۍ کړې ده ځلور واره یې نه وویل پر مقذوف حد زنۍ نسته او پر قاذف یې حد قذف نسته. ولي قاذف خو رشتیا ورته وویل چې تا زنۍ کړې ده.

مسئله: که ځلور کسه چې فاسقان وه په ګناه کبیره سره هره کبیره چې وي پر مقذوف یې شاهدي د زنۍ ادا کړه. نو مقذوف نه په حد کېږي په حد زنۍ سره، ولي د فساتو شاهدي مردوده ده.

سوال: چې ددوی په شاهدي سره زنۍ نسوه، نو خو دوی قاذفان سوه فینبغي ان یحدوا القذف؟

ځواب: فساق شرعًا خو د تحمل د شاهدي دي او هم اهل د اداء د شاهدي دي لکن په اداء کې نوع د قصور سته په سبب، نو که حقیقت زنۍ نسوه لکن کم از کم شبهه د زنۍ پیدا سوه، نو له دوی څخه حد قذف په شبه د زنۍ پورته سو. لما قال الفقهاء رح الحدود یندرء بالشبهات (حدود دفع کېږي په سبب د شبهاتو)

فائده: له دې آیت څخه دا ثابته سوه که درو کسانو پر مقذوف باندې د زنۍ شاهدي اداء کړه ځلورم شاهد نه سو پیدا، نو دغو درو کسانو ته دې حد قذف ورکړي، ولي ددوی درو په شاهدي سره خو پر مقذوف زنۍ نسوه ثابته، نو خو دوی هم قاذفان سوه فیجب حد القذف علیهم.

دروښ وایي: چې په باب کې د حد قذف نوري ورته مسئلې د فقه شریف په ټاوو کې او په شرح کې سته، نو په استیعاب کې به لوی بوج پر متعلم وي لکن مالایدرک کله لایترک کله.

فَاجْلِدُوهُمْ ثَمٰنِيْنَ جَلْدَةً وَّلَا تَقْبَلُوْا لَهُمْ شَهَادَةً اَبَدًا ۚ

نو تاسي ای حاکمانو او قاضیانو ووهئ دا قاذفان یعني امر ورکړئ د عسکرو ته د حد قذف لکن دا هلته چې مقذوف طلب د حد قذف په اتفاق د ائمه اربعه رحمهم الله، ولي حد قذف حق العبد دی ولي چې مقذوف د خپل څخه پیغور د زنا دفع کوي لکن اتیا (۸۰) درې حد هلته ورکول چې قاذفان حر کسان او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مریان بیا یې حد څلویښت (۴۰) درې باجماع الفقهاء رح لما ورد في الحديث الذي رواه البيهقي ومالک في الموطاء ان عبدالله بن عامر بن ربيعة قال ادركت ابابكر و عمر وعثمان ومن بعدهم الخلفاء رضی الله تعالی عنهم اجمعين فلم ارهم يضربون المملوک اذا قذف الا اربعين سوطًا.

او تاسي ای حکامو مه قبلوئ شاهدي د قاذفانو په هر شي کي شاهدي تر ابدي پوري.

پوه سه: چي ولاتقبلوا الخ عطف دی پر مدخول د فاء په فاجلدوا کي، نو معطوف عليه او معطوف دواړه جزاء دی، ولي چي موصول د والذين يرمون آه مبتداء متضمن معنی لره د شرط ده، مطلب دادی چي عدم قبول د شاهدی ابدًا ده د قاذفانو زمونږ احنافو په نېز تتمه د حدق قاذف ده. ولي فاجلدوا او لا تقبلوا دواړه جملې انشائيه دي او دواړې يې مفوض و حکامو ته کړې، نو معلومه سوه چي جلد او عدم قبول الشهادة دواړه حد د قاذف دي.

وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ۝

او دغه قاذفان دوی دي قاذفان او د فاسق مردود دی شرعًا كما تقرر في الفقه.

إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن بَعْدِ ذَٰلِكَ وَأَصْلَحُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝

مګر نه هغه کسان چي نه دي فاسقان، يعني د بل وار قذف څخه د چا، وروسته تر دې وار قذف، خپل اعمال او احوال د شريعت سره برابر کړي (يعني چي د بل کار په کولو سره ماسوی له قذف څخه لان الفسق لاينحصر في القذف) په تحقيق خدای ﷻ بخښونکی او مهربان دی، يعني له قذف څخه د توبې په سبب يې د فسق عفوه ورته وکړه.

پوه سه: چي امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله وايي چي دا استثناء يعني الا الذين آ راجع ده و اخيري جملې ته يعني و اولئک آه او محلاً منصوب ده، ولي چي په اصول الفقه کي دده مذهب وايي چي استثناء چي تر څو جملو چي يو پر بل عطف وي لکه په ما نحن فيه کي يرجع الى الجملة الآخيرة مالم يكن هناک قرينة صارفة عن الجملة الآخيرة بصرفها الى الكل. له دې سببه راجع استثناء راجع و اخيرته ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې په اخيره جمله پوري استثناء متصل ده، او بل دليل دادی چې جمله اخيره دلته د ماقبل جملو څخه جلا ده په اعتبار د حکم ولي چې ماقبل جملې انشائيه دي او اخيره جمله خبريه ده که څه هم په اعتبار د اسم اشاره يعنې اولئک او په اعتبار د ضمير يعنې هم د هغو سره شريک ده، او بل دليل دادی چې نحات وايي چې په استثناء کې اتصال شرط دی په مستثنی منه پوري، او جمله اخيره په دې سبب چې په نسق کې د اخبار او انشاء د ماقبل جملو څخه جلا ده. نو دا جمله اخيره فاصل ده په منځ کې د استثناء او د ماقبل جملو. نو شرط د اتصال د استثناء د نورو جملو سره نه لري، او بل دليل دادی چې استثناء په سبب د عدم استقبال و ماقبل ته ضرورت لري، او ضرورت په جمله اخيره سره دفع سو فلاحاجة الی صرف الاستثناء الی الجمل الاخری قبل الآخيرة.

دروښ وايي: چې په کتابو کې د فقه حنفي نور دلائل هم موجود دي فطالع في هذا المبحث فتح القدير شرح الهداية.

فائده: قذف د زنی و چاته له دې سببه پېښېږي چې قاذف د خلګو عورات او پټ کارونه لټوي، او بل دادی چې قاذف پر مسلمان پرده د ستر نه اچوي، او عليه الصلوة والسلام په ډېرو سختو الفاظو هغه چا چې تلاش د عوراتو د خلګو کوي داسي ويلي دي: يا معشر من آمن بلسانه ولم يؤمن بقلبه (اې هغه ډله چې ايمان يې نه په خوله راوړی دی او نه په زړه.

دروښ وايي: چې وداسي چا ته خو منافق وايي، نو په حديث شريف کې اشاره ودې ته ده لټول د عوراتو د مسلمانانو په عصر نبوي کې د منافقانو کار وو، نو په اوسنۍ زمانه کې که دغسي سړی پيدا سي، نو لږ تر لږه منافق عملي خو دی (لاتتبعوا عورات المسلمين (تاسي مه لټوئ پټ عيبونه د مسلمانانو) فان من يتبع عوراتهم يفضحه الله يوم القيامة على رؤس الاشهاد (که څوک دا تتبع کوي د هغه عيبونه به خداى ﷻ رسوا کړي په ورځ د قيامت په حضور د حاضرينو او په بارو کې د ستر د مسلمانانو د عيب رسول کريم ﷺ داسي ويلي دي: من ستر على مسلم ستر الله عليه في الدنيا والآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ

او هغه کسان چې نسبت د زنۍ و خپلو ماینو ته وکړي، یعنې ماینې ته ووایي چې تا زنۍ کړې ده.

بوه سه: چې والذین مبتداء ده خبر یې وروسته آیت څخه شهادة آه تر اوسه بیان د حکم وُ د نسبت د زنۍ وبهګانه بنځه ته چې رمي او قذف دواړه چې پکښې استعمالېده اوس بیان دی د حکم د قذف د ماینې، که داسې ورته ووایي زنیت او داسې یا زانیة یا رئیتک تزنی.

شان نزول: بخاري له ابن عباس ؓ څخه روایت کړی دی چې هلال بن امیه و خپلې ماینې ته نسبت د زنۍ وکړی د شریک بن سمحا سره په مخ کې د نبي علیه السلام، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ا لبینة او حد في ظهرک یعنې یا څلور کسه شاهدان د زنۍ راوله او یا دي پر شا د قذف په درو وهم، نو هلال بن امیه ورته وویل چې یو سړی چې بل سړی پر ماینه سپور وویني، نو دی به ځي څلور شاهدان به راولي او سړی به یې پر ماینه سپور وي؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل البینة والا حد في ظهرک، هلال ورته وویل والذي بعثک بالحق اني لصادق فلینزلن الله مایبرئي ظهري من الحد فنزلت جبرئیل وانزل الله والذین یرمون ازواجهم الی اخیر الآیة، نو علیه الصلوة والسلام دا آیت تر ان کان من الصادقین پورې هلال ته تلاوت کړی، نو هلال راغلی هغه خپلې څلور واړه چې وروسته په قرآن کریم کې به راسې او نبي علیه السلام به ویل ان الله یعلم ان احد کما کاذب یعنې خدای خبر دی چې یو ستاسې څخه درواغ وایي) فهل منکما تائب (نو یو ستاسې توبه نه کاږي یعنې چې اقرار په ګناه وکړي بنځه چې هو مازنۍ کړې ده یا مېړه ووایي چې ما درواغ ویل سړی یعنې زاني مي پر ماینه نه دی لیدلی، تاچې په اول صورت کې به بنځې ته حد زنۍ ورکړه سي او په دویم صورت کې به نر ته حد قذف ورکړل سي، بیا بنځه ولاړه سوه فشهدت یعنې دلعان الفاظ یې استعمال کړه چې وروسته به راسي، پینځم وار بنځه ورسېدل حاضرینو ورته وویل چې ته یو وار صبر وکړه ته پنځم لفظ مه وایه، ولي چې دا موجب د غضب دی که دي درواغ وویل، بنځې یو څه توقف وکړی اویو څه تر شا سوه، د خلګو دا خیال سو چې د کلماتو چې دې وویل رجوع به وکړي یعنې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اقرار بالزنى به وكړي، بيرته ښځي سمدستي وويل لا افضح قومي زه خپل قوم نه رسوا كوم او نه يې شرموم يعني خلګ به پېغور ورکوي چې ستاسي د قوم ښځي خو زنى كړې وه، هغه پينځمه شاهدي يعني غضب الله عليها يې هم پوره كړه، وقال النبي ﷺ ابصروها تاسي ګورئ په دې پسي يعني حامله وه كه يې عيال وزېږاوه، اكحل العينين چې توري سترګي يې وي سابغ الاليتين لوى كوناټي يې وه خدلج الساقين لويي پنډې يې وې فهو لشريک بن سمحا يعني د زاني دى، فقال النبي ﷺ لو لا مضى من كتاب الله كه نه واى تېر سوى حكم د خداى ﷻ چې شهادت وچې رابه سي لكان ولها شان زما و ددوى تر منځ به يو حال واى، والله اعلم بما اراد رسول الله ﷺ بقوله لكان لي ولها شان.

دروښ وايي: چې د هلال بن اميه د شان نزول د ايت مذكوره هغه حديث هم كوي چې احمد ؒ يې له عكرمه او هغه له ابن عباس ؓ څخه روايت كړى دى چې څه وخت چې دا آيت نازل سو: والذين يرمون ازواجهم الى اخير الآية، سعد بن عباده ؓ چې سيد او رئيس د انصارو ؤ هكذا نزلت يا رسول الله ﷺ، نو عليه الصلوة والسلام وويل يا معشر الانصار الا تسمعون مايقول سيدكم، يعني چې ددې آيت و نزول ته تعجب كوي، انصارو وويل يا رسول الله ﷺ لاتلمه (ته يې ما ملامتوه) فانه رجل غيور، دوى وويل چې ده تر اوسه داسي ښځه نه ده په نكاح كړې چې باكره نه وي، او نه ده يوه مايڼه طلاقه كړې ده چې بل چا زمور د لاوري كړې وي چې دده طلاقه كړې مايڼه دي په نكاح كړي من شدة غيرته، قال سعد: بابى انت وامي (زما مور او پلار دي تر تا قربان وي) والله اني لاعرف انها حق وانها من الله (زه په دې پوهېږم چې دا آيت حق دى او د خداى ﷻ له خوا نازل سوى دى، لكن زه ودې ته تعجب كوم چې زه دي پر مايڼه يو سړى چې ددې ورنونه دي وريږورته كړي (كنايه ده له جماع څخه) زه به هيڅ كار نه په لرم او نه به يې ښوروم تر څو څلور شاهدان راولم، ولي قسم په خداى ﷻ دى چې زه څلور شاهدان راولم زاني به خپل كار پاى ته رسولى وي او تللى به وي، ابن عباس ؓ چې ددې خبرو اترو د سعد ؓ او د عليه الصلوة والسلام دېره زمانه نه وه تېره سوې چې هلال بن اميه (چې دى يو د هغو درو كسانو څخه دى چې په غزاء كي د تبوک بېله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذره د علیه الصلوة والسلام سره و جنګ ته د تبوک نه وه تللي خیر خو اخیره د هغو درو کسانو چې قصه یې اوږده ده توبه یې قبوله سوه او ددوی د توبې په قبلېدلو کې قرآني آیتونه نازل سو) او دا هلال له قوم څخه د سعد بن عباده ؓ، هلال مذکوره چې ماخستن د محکي له کاره کوونکو ورغلی پر مایند یې سړی ولیدی په خپلو سترګو، نو یې هیڅ کار نه په ودرلود، نو سهار و علیه الصلوة والسلام ته راغلی فقال یا رسول الله ﷺ وجدت اني جئت اهلي عشاء فوجدت عندها رجل، فرئیت بعیني وسمعت باذني فکره رسول الله ﷺ ماجاء به واشتد علیه، او انصار سره جمع سوه فقالوا قد ابتلینا بما قال سعد بن عبادة الآن یضرب رسول الله ﷺ هلال ابن امیة، ولي چې ده خو د مایني د زڼی شاهدان نه درلوده، نو پرده حد قذف ثابت ؤ، ویبطل شهادته في الناس کما هو حکم حد القذف علی مامر قریبًا، هلال بن امیه وویل چې زه صادق یم په خپله خبره کې والله لارجوا ان یجعل الله لي مخرجًا منها (یعني هم له وهلو څخه په درو او هم له بطلان څخه د شهادت ابدًا) ابن عباس ؓ وایي چې قسم په خدای دی چې د علیه الصلوة والسلام اراده وه چې امر د ضرب ورکړي لکن په عین حال کې پر ده وحي نازلي سوې خلګو ضرب معطل کړی فنزلت والذین یرمون ازواجهم الآیة، چې وحي ختمي سوې علیه الصلوة والسلام وویل ابشر یا هلال فان الله قد جعل لک فرجًا (یعني د حد قذف څخه خلاص سوې او حکم ستا ؤ د مایني د لعان نازل سو کما سیأتي في القرآن. هلال ورته وویل چې زما د مخه هم همدا امید ؤ له خدای ﷻ څخه یعني مابه له حد قذف څخه وساتي، یعني له دې سببه چې خدای ﷻ خو زما په حال خبر ؤ چې زه صادق وم) نو د هلال مایند یې هم راوغوښتل پوره قصه یې ټوډې تېره سوه چې لعان ددوی ختم سو، علیه الصلوة والسلام ددوی تر منځ علاقه د زوجیت ورقطعه کړه، او وه یې ویل چې د ولد نسبت دي و هلال بن امیه ته نه کوي بلکې مور ته دې کوي، اخیر بنځي زوی راوړی، تاریخ وایي چې دا زوی یې لوی سو په یو وخت کې امیر ؤ په مصر کې لایدري من ابوه.

دروښ وایي: چې په بعضې روایاتو د ابن عباس ؓ چې بغوي یې نقل کړی دی هغه خبره چې په دمخه قصه کې د هلال بن امیه و سعد بن عبادة ؓ ته نسبت کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوی ذ کمامر آنفًا مثل د هغې خبري و عاصم بن عدي الانصاري ﷺ، راوي وايي چې علیه الصلوة والسلام چې آیت متلوه پر منبر نبوي ووایه، نو عاصم ﷺ ور ولاړ سو داسي یې علیه الصلوة والسلام ته وویل جعلني الله فلاک ان رای رجلاً منامع امرته رجلاً، نو که هغه سړی ددې خبري اظهار وکړي یعني پر مایني یې سړی ولیدی خو دي اتیا (۸۰) درې وهل کېږي ولي چې شاهدان نه وي خو حد قذف ورکول کېږي او مسلمانان یې فاسق هم بولي او شاهدي یې هم ابدًا نه قبلېږي فکیف لنا بالشهداء، نو موږ شاهدان له کومه کړو، ولي که موږ په شاهدانو پسې ګرځو زاني به خپل کار خلاص کړی وي او تللی به وي، او ددې عاصم یو د اکا زوی ؤ چې عویمر یې نوم ؤ او دده مایني وه چې خولة بنت قیس یې نوم ؤ، نو عویمر مذکوره د اکا زوی عاصم ته راغلی او ورته وه یې ویل چې ما شریک بن السهماء پر نس د خپلي مایني خولة ولیدی مراد یې جماع او زنی وه، نو عاصم استرجاع ووایل یعني انا لله وانا الیه راجعون د تعجب لپاره چې ما هغه درنه خبره و علیه الصلوة والسلام ته وکړه، اوس زه د اکا د زوی عویمر په باب کې په هغه خبره مبتلا، سوم، نو عاصم مذکوره یې له مدینې منورې څخه دباندې ؤ یعني چې هر لمانځه ته یا هره ورځ د علیه الصلوة والسلام په حضور کې نه مشرف کېدی، را نوې د جمعې ورځ علیه الصلوة والسلام ته راغلی فقال یا رسول الله ﷺ ابتلیت بالسوال الذي سئالت في الجمعة الماضیة في اهل بیتي (یعني په خپلو قریبانو کې) ولي چې عویمر او خوله او شریک درې سره اولاد د اکا د عاصم وه، نو علیه الصلوة والسلام ټوله راوغوښتل و عویمر ته یې وویل: د خدایه وېرېږه په باره کې د تهمت د زنا پر مایني خپلي خوله چې ستا د اکا لور هم ده یعني لا تقذفها بالزنی، عویمر ورته وویل یا رسول الله ﷺ اقسم بالله اني رئیت شریکا علی بطنها او ما دا څلور میاشتي ددې سره جماع نه دي کړي او دا اوس د څو میاشتو حمل لري، وروسته علیه الصلوة والسلام و خوله ته وویل اتقي الله د خدایه وېرېږه او ماته هغه کار چې تا کړی وي ووایه! خوله ورته وویل چې عویمر یو غیور سړی دی ده زه ولیدم چې د شریک سره مې مجلس کاوه، نو خپل غیرت پر دې باعثه کړی چې پر ما یې د زنی تهمت ووایه، بیا رسول الله ﷺ و شریک ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وويل چې ته څه وايه! شريک ورته وويل چې زما هم هغه خبره ده چې خوله وکړه، نو عليه الصلوة والسلام امر وکړی الصلوة جامعة د عصر لمونځ يې وکړی، بيا يې امر وکړی اول پر عويمر دروسته پر خوله چې هغه د شهاداتو چې ورو سته به په قرآن عزيز کې راسي هر يوه پر خپل نوبت وويلې يعني نه عويمر ووېل چې ما درواغ ويله او نه خوله ووېل چې ماڼځی کړې ده، الی اخير الحديث، حافظ ابن حجر ؒ په شرح کې د بخاري وايي چې ما د امامانو د دين په دې اختلاف چې دا آيت آيا د هلال بن اميه په باره کې نازل سوی دی که د عويمر، بعض يو ته ترجيح ورکوي بعض بل ته، او امام قرطبي په خپل تفسير کې ميل وجمع ته کړی دی چې احتمال سته چې آيت دې دوه واره نازل سوی وي کما يقال في الفاتحة چې دا سورة يو وار په مکه مکرمه کې نازل سوی دی او بل وار په مدينه منوره کې چې تحويل د قبلې و کعبې ته وسو، او بعض امامانو يې داسې جمع کړې ده چې اوله واقع د هلال واقع سوه او نژدې و هغه ته واقعه د عويمر پېښه سوه فنزل في شانهما معًا، ودې جمع ته امام نووي ؒ او تر ده د مخه خطيب البغدادي ؒ او حافظ ابن حجر ؒ داسې جمع کړې ده چې نزول د آيت د مخه راغلی ؤ په سبب د واقعې د هلال، لکن عويمر چې خپل د ماينې راپور راوړی هغه په دې نه ؤ خبر چې هلال ته هم ورته واقعه پېښه سوې ده، نو عليه الصلوة والسلام عويمر ته هغه د هلال حکم بيان کړی، او هم دا سبب دی چې د هلال په قصه کې داسې راغلي دي فنزل جبرئيل ؑ او په قصه کې د عويمر قد انزل الله فيک ای فمن له مثل ماوقع لک، دا جواب ابن صباغ په خپل کتاب شامل کې راوړی دی.

مسئله: امام اعظم ابو حنيفة ؒ وايي لايجوز اللعان مالم يکن الزوج اهل للشهادة يعني حرًا عاقلاً بالغًا مسلمًا، وتکون الزوجة ممن يحد قاذفها يعني حرة عاقلة بالغة مسلمة غير متهمة بالزنی، او د امام اعظم ؒ پر مذهب په دې څلورو مسئلو کې لعان نسته (۱) چې مېړه حر وي ماينه مينځه وي قاذف نه په حد کېږي (۲) چې مېړه مريض وي او ماينه يې حره وي، ولي مېړه اهل د شهادت نه دی په سبب د مريض والي (۳) چې مېړه مسلمان وي ماينه يهوديه وي، ولي د يهوديه قاذف نه په حد کېږي په سبب د دې چې شرط د اسلام په دې کې نسته (۴) چې مېړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بې مسلمان وي ماينه يې نصرانيه وي په دې سبب چې په نصرانيه کې شرط د اسلام نسته. نو قاذف يې نه په حد کېږي.

دروښ وايي: چې اسناد د دغو څلورو مسئلو و عليه الصلوة والسلام ته ډېر سشکل دی. ولي چې اسناد چې هر څو دی له ضعفه خالي نه دی.

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ إِلَّآ أَنفُسُهُمْ

او نه وي دغو قاذفينو لره شاهدان يعنې څلور کسان پر زنی ددوی د ماينو مګر ځانونه ددوی.

پوښتنه: تاسې وويل چې اسناد د دغو څلورو مسئلو و عليه الصلوة والسلام ته ډېر مشکل دی، نو ابو حنيفة رح په کوم دليل اسناد کوي؟

ځواب: يوه طريقه د حديث چې سبط ابن الجوزي رح راوړې ده. دی وايي چې دغه حديث چې عليه الصلوة والسلام وايي چې په مذکوره مسئلو کې لعان نسته، الاوزاعي و ابن جريج رح وهما امامان، روايت کړی دی له عمر بن شعيب عن ابيه عن جده څخه که څه هم و عليه الصلوة والسلام ته يې نه دی پورته کړی ابن الهمام صاحب د فتح القدير وايي وانت علمت ان الحديث الضعيف اذا تعدد طرقه كان حجة وهذا الحديث كذالک وقد اعتضد بروايۃ الامامين المذكورين موقوفا على جد عمرو بن شعيب فيجوز الاستدلال لمذهب ابی حنيفة رح بالحديث المذكور.

سوال: دا دومره دا خبره تر تحقيق لاندې ونيوله سبب يې څه دی؟

ځواب: د حنفي مذهب دښمنان او عيب ګويان په پخوانی زمانه کې او په اوسنی زمانه کې ډېر دي که سلفيان دي که وهابيان دي او که اصحاب ظواهر الحديث دي وغيرهم حتی چې په خولو د دغو دښمنانو دا خبره مشهوره ده چې حنيفيان اصحاب الرای بولي معاذ الله، حتی بعض د اوسنی زمانې کتاب ګروشان په تنقيد کې برخه اخلي لکن دروښ وايي چې حنيفي کاروان په خير او عافيت روان دی او روان به وي الی زمن المهدي عليه السلام ان شاء الله العزيز.

فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَٰدَٰتٍۭ بِٱللَّهِ ۙ إِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝

بوه سه: چې فشهادة احدهما آه مرفوع دی خبر د مبتداء محذوفي دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والتقدير فالواجب شهادة آه، او يا مبتداء د خبر يې محذوف دی والتقدير فعليهم شهادة آه. او دا ټوله جمله خبر د والذين يرمون آه ده چې موصول متضمن معنی لره د شرط و خبر ده، ولهذا اورد الفاء ههنا.

پوه سه: چې شهادات په دې آيت کې په معنی د ايمانو (قسمو) دي. والدليل عليه قوله بالله لانه نص في القسم لايستعمل في الشهادة.

سوال: په دې آيت کې خو د شهادت لفظ هم راغلی دی؟

ځواب: هو! لکن د شهادت لفظ احتمال د يمين هم لري، په فقه شريفه کې مسئله ده که سړي وويل چې اشهد اني افعل کذا او نيت يې د يمين، کان يميناً. نو موږ په دې آيت کې محتمل چې لفظ د شهادت ؤ پر محکم چې لفظ د بالله دی حمل کړی کما هو القانون في الفقه الشريف.

وَالْخَامِسَةُ اَنَّ لَعْنَتَ اللّٰهِ عَلَيْهِ اِنْ كَانَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝

او پينځمه شاهدي.

پوه سه: چې الخامسة مبتداء ده او (ان لعنة الله عليه) خبر دی، لفظ منصوب دی اسم د ان دی او عليه يې خبر دی، او ټوله جمله په تقدير د حرف جر يعني والشهادة الخامسة بان لعنة الله (ان كان من الكاذبين) دا جمله شرطيه ده جزاء له ماقبل (لعنة الله) څخه فهمېږي يعني فعليه اللعنة يعني که به زه يم له درواغ ويونکو څخه يعني پر ماينه چې دې زنی کړې ده بلکې دا خبره زما رشتيا ده.

وَيَدْرَؤُا عَنْهَا الْعَذَابَ اَنْ تَشْهَدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍۭ بِاللّٰهِ ۙ

او تاسي دفع کړئ له ماينې څخه د قاذف عذاب يعني حد د زنی (والحاصل چې په صرف شهاداتو سره د مېړه ودې ته حد الزنی مه ورکوئ) يعني څلور واره قسم په خدای ﷻ وقد مر تحقيقه عن قريب.

اِنَّهٗ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ۝

چې دا زما مېړه د کاذبينو له ډلې څخه دی چې په ما پوري يې درواغ ترلي دي يا په زنيت يا په نفي د ولد يعني و ماته يې د زنيت لفظ ووايه يا يې وويل چې دا او حمل يا ولد له ما څخه نه دی چې هم يې معنی زنی ده (ان تشهد) منصوب دی په کلمه د ان مصدري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالْخَامِسَةَ اَنَّ غَضَبَ اللّٰهِ عَلَيْهَآ اِنْ كَانَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ۝٩

پينځم وار به مايينه وايي چې غضب د خداى ﷻ دي پر دې وي که دى تعني زما ميړه له رشتيا ويونکو څخه دى پر ما باندې چې دې زنى کړې ده.

دروښ وايي: چې ترکيب او اعراب ددې آيت لکه د ماقبل دى چې ترڈې تېر سو.

فائده شرعيه: پوه سه! که مايينه ته سړى نسبت د زنى وکړي او هغې طلب ځندي وکړى په موجب د قذف، نو پر ميړه لعان واجب دى، انما قلنا چې مايينې طلب ځندي وکړى لانه حقها فيجب طلبها فان سكتت عن طلب حقها لا شئ على الزوج، او که مايينې طلب ځندي وکړى ميړه منع ځندي وکړه په نېز د امام اعظم رح حاكم الوقت دې بندي کړي چې يا به لعان کوې او يا به وايي چې ما دروغ ويلې پر مايينه باندي، نو به ميړه ته حد قذف ورکړي، او که ميړه راتګ په لعان سره وکړى مايينې منع د لعان څخه وکړه، د امام اعظم رح مذهب دادى چې بنځه دي بندي کړي لان اللعان حق مستحق عليها فتحبس فيه تر هغو به بندي وي چې يا لعان کوي او يا د ميړه تصديق کوي چې دى رشتيا وايي، که مايينې تصديق د ميړه وکړى يعني دا قدريې وويل چې دى رشتيا وايي، نو سبب د وجوب لعان پر دې خو پورته سو، لكن سوال دادى چې نو پر مايينه حد د زنى لازميږي که څه رنګه؟

ځواب: پر مايينې حد زنى نسته لان التصديق ليس قصداً بالزنى فلا يعتبر في وجوب حد الزنى فيندفع به اقرار اللعان عنها، او که څوک ووايي چې دې خو په زنى اقرار وکړى، نو ولې حد نسته باندي؟ د هغه ځواب دادى چې په نېز د امام اعظم رح يو وار اقرار د زنى کافي نه دى بلكې څلور واره به اقرار په زنى کوي فافهم.

فائده: لعان د ميړه په باره کې قائمقام د حد قذف دى او د مايينې په باره کې قائمقام د حد زنى دى.

فائده: دا فرقت او جلال والى چې وروسته تر لعان د ميړه او مايينې تر منځ لازمي دى، حكم د طلاق بائن لري عند ابو حنيفة رح ومحمد رح او ابدي حرمت نه فائده کوي، حتى که وروسته تر لعان ميړه د ځان تكذيب وکړي او حاكم حد قذف ورکړي دوى کولاى سي چې نوې نكاح سره وکړي، او په نېز د ابو يوسف، زفر، حسن بن زياد او امام شافعي رحمهم الله دا فرقت بلا طلاق دى چې حكم د لعان او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحریم یې مؤبد دی، بیا ددې دوو اجتماع ابداً نه سي کېدای.

دروښ وایي: چې امام مظهري رح په دې ځای کې دده تر مرتبه وېره لوړه خبره کړې ده. که فرضًا دروښ دا خبره کړې وای خلګو او ملایانو به د ځولې په خبرو سنګسار کړی وای، دا دی د مظهري تفسیر عبارت جزء (۱۸) ص (۴۶۲) سورة النور. والعجب من الشافعي ومن معه ان اللعان عندهم یمین. بیا ده دا تعجب ځېرلی دی. وروسته یې ویلي دي: والعجب من ابی حنیفة رح بیا ده ددې تعجب دلیل ویلی دی آه.

دروښ وایي: چې اعتراض خو پر بعض مسئلو د امامانو رحمهم الله امکان پذیر او عادي خبره ده. لکن دا عبارت دده قلت والعجب آه الی اخیره کمامر د تعجب وړ خبره ده، او میدان کار او میدان.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ تَوَّابٌ حَكِيْمٌ ۝

که نه وای فضل د خدای ﷻ پر تاسي یعني یا امة محمد ﷺ، (ورحمته وان الله تواب) بنده چې رجوع له معصیت څخه وکړي چې د توبې معنی ده او اظهار د ندم او پښېمانی وکړي او طلب د مغفرت د خدای ﷻ وکړي، نو خدای ﷻ رجوع د تعذیب څخه د بنده په دنیا او په اخرت کې رجوع ورحمت او مغفرت ته کوي کما هو معنا التوبة اذا نسب الی الله تعالی (حکیم) حکمت لري فیما فرض علیکم من الحدود وغیرها من الاحکام الشرعیة، وجواب لولا محذوف یعني لفضحکم یعني تاسي به یې رسوا کړي وای، یا لعاجلکم بالعقوبة یعني في الدنیا، یو محقق شاعر وایي:

گر توبه مدد کار گناه کار نبودی ..... او را که بسرحد کرم راه نمودی
ور توبه نبودی که در فیض کشودی ..... زنگ غم از آئینه عاصی که زدودی

اِنَّ الَّذِيْنَ جَآءُوْ بِالْاِفْكِ

په تحقیق هغه کسان چې راتنګ یې کړی دی په ابلغ د مایکون کذبًا او افتراء یې هم بولي، او بعض اهل لغت وایي چې افک مطلق درواغو ته وایي او بعض علماء وایي چې افک نابېره بهتان ته وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مراد په آیت کي هغه درواغ دي پر صدیقه بن الصدیق ام المؤمنین عائشة رضی الله تعالی عن ابیها وعنها، یعني بهتان د زنی کما سیأتي في التفسیر، نو لام لپاره د عهد دی.

فائده: په لفظ کي جاؤا اشاره ده چي دغو خلکو دا درواغ د خپله ځانه ترلي وه هیڅ اصل یې نه درلودی.

دروښ وایي: چي تفصیل د قصې د افک مذکور په تولو تفاسیرو کي راغلی دی، بعض مفسرینو ډیر اطناب کړی دی او بعضو قدر الحاجة اقتصار کړی دی، فتفصیل القصة ما اخرجه البخاري وغیره عن عروة عن عائشة رضی الله عنها، دا مبارکه وایي چي د علیه الصلوة والسلام عادت مبارک دا ؤ چي په یو سفر به روانیدی د ازواج مطهراتو ترمنځ به یې قرعه اندازي وکړه چي په پښتو یې اسکه اوچه بولي.

دروښ وایي: چي قرعه اندازي په تولو نړۍ کي رواج لري او د مختلفو کارو لپاره یې خلک کوي مثلاً د حج په موسم کي چي حاجیان ډیر وي حکومت قرعه کشي کوي.

پوښتنه: په فقه شریفه کي وایي چي څوک چي متعدد زوجاتي لري او دی په سفر ځي هره یوه چي دده خوښه وه ورسره بودې ځي، ولي چي په سفر کي حقوق د شب ګزاري ساقط دی، نو علیه الصلوة والسلام د څه لپاره قرعه کوله؟

ځواب: علیه الصلوة والسلام د تطییب د زړو د ازواجو مطهراتو رضی الله عنهن کوله، بي بي عائشه رضی الله عنها وایي چي علیه الصلوة والسلام چي قصد د غزوه بني المصطلق وکړی چي غزوه د مریسیع یې هم بولي، بني المصطلق یوه برخه وه د خزاعة قبیلې څخه او مریسیع د یو ځاه نوم دی چي بني المصطلق پر پراته وه او دا غزا په پنځم کال د هجرت نبوي واقع سوه، د حجاب او ستر تر نازلېدلو وروسته ولي چي نزول د حجاب په سنه درې هجري کي واقع سوی دی، نو علیه الصلوة والسلام چي قرعه وکړه زما سهم یعني نوبت وختی، نو زه د علیه الصلوة والسلام سره ووتم سفر ته لکن زه په کجاوه کي پر اوښ بارول کېدم او راکښته کېدم به یعني هغه کسان چي پر دې کار علیه الصلوة والسلام ګمارلي وه، دا وایي چي علیه الصلوة والسلام چي فارغه سو له نوموړي غزاء څخه او د مدینې منورې پر لور په حال د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستنبد و ؤ او مدیني منوري ته هم رانژدې سوي ؤ، یو شپه یې اعلان وکړی د کوچ وبار، زه راهي سوم لپاره د قضاء الحاجة حتی چې تر لښکر ووتم، نو چې له حاجت څخه فارغه سوم او د کجاوې ځای ته راورسېدم چې پر ځیګر مي لاس تېر کړی زما غارګی له غاړې څخه شکېدلې وه چې داغارګی د جزع ظفار وه.

(دروښ وایي: چې ظفار بالفتح پر وزن د قطام نوم د یو بنار په یمن کې نژدې و صنعاء ته، او جزع بالفتح وسکون الزای، الحزر یعني دانې یماني چې بنځي یې وپېي په غاړه کوي یې تور او سپین رنګ ددې دانو مشابهت د سترګو سره دی کما في القاموس) نو قیمت د هغې غارګی په هغه وخت کې دوولس درهمه ؤ یعني قیمتي غارګی وه)

نو زه پېرته په توره شپه د هغې غارګی په تلاش پسې ووتم او لاس مي تېراوه، نو له دې کبله ډېره وځنډېدم، نو هغه کسان چې زما کجاوه یې پر اوښ باندې کوله هغه راغلي وه زما کجاوه یې پر اوښ باندې کړې وه.

سوال: هغو څرنګه خالي کجاوه پر اوښ باندې کوله، په کجاوه کې چې انسان وي هغه خو درنه وي، نو دوی ته دا درک ولي نسو معلوم چې کجاوه خالي ده؟

ځواب: ددې سوال مقدر په جواب کې عائشه رضي الله عنها داسي ویلي دي وهم یحسبون انې فیه (ددوی دا ګمان ؤ چې عائشه پکښې سپره سوې ده ولي چې اعلان د کوچ وختي سوی ؤ، او بل د تلوار کار ؤ، دا وایي چې بنځي عموماً په دغه وخت کې خفیف اللحم او ډنګري وې، ولي قلیل د طعام ورسېدی، و عادي خبره ده چې چاغ والی و کثرة اللحم د کثرت خوراک څخه پیدا کېږي او په عین حال کې هغه هم چرب لکه غوښې وغیره، کما في انسان العیون چې د کتاب نوم دی) فلم یستنکروا خفة الهودج حین رفعوه، او بل علت دې دا هم ووایه وکنت جاریة حدیثة السن، تعني بنځي چې چاغېږي وکذالک الرجال چر تر عنفوان شباب ورتېرسي کما یدل علیه التجربة الغالبة في الرجال والنساء.

نو ډېر وخت وروسته چې ما غارګی پیدا کړه چې راغلم لښکر ټوله بار سوی ؤ او پر میدان نه داعي او نه مجیب پاته دی، نو ورغلم هغه د کجاوې د ځای سره نژدې کښېنستم یعني زه دمخه هم دالته وم په دې ګمان چې لښکر هر وخت چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قيلولې لپاره تم سي زما تلاش به وکړي زه به نه يم نو حتمًا تر دغه منزله چې پيغاه شپه مو پر وو عليه الصلوة والسلام به سړی را واستوي، صديقه عائشه رضي الله عنها وايي چې يو ګړی پر هغه ځای ناسته وم (غلبتني عيني) يعني سترګي مي غالبه او پټې سوې، نو بيده سوم.

دروښ وايي: چې دغه دی قوي زړه چې په تور دښت کې بې کسه ناسته او بيده سوه.

دا وايي چې صفوان بن المعطل السلمي ثم الذکواني رضي الله عنه د لښکر وروسته راروان ؤ امام قرطبي په خپل تفسير کې وايي وکان صاحب ساقة رسول الله صلى الله عليه وسلم وکان من خيار الصحابة انتهى، يعني د صفوان رضي الله عنه عادت قديمه دا ؤ چې په هر لښکر کې به دی شامل ؤ دی به يوازې ؤ که به لښکر د شپې پريو ځای اړولې وه ده به سهار هغه ځای ته ځان راورساوه که به کوم شی له لښکره پاته سوی ؤ ده پسې ورتېولاوه، وهذه الوحدة لغاية الشجاعة، دا وايي چې صفوان رضي الله عنه په تاريکه کې د اول د صبح زما د خوب ځای ته ځان راورساوه، نو چې ده يو شخص بيده وليدی، نو ماته رانژدې سو زه يې وپېژندلم ولې چې زه يې قبل الحجاب ليدلې وم، فاستيقظت باسترجاعه، زه له خوبه راويښه سوم په انا لله وانا اليه راجعون، نو ما خپل مخ په پورنې پټ کړی.

پوښتنه: چې کلمه د استرجاع د مصيبت په وخت کې ويل کېږي، دلته څه مصيبت نازل ؤ؟

خواب: تر دې به لوی مصيبت چېرې وي چې د عليه الصلوة والسلام حبيبه ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها په تور دښت کې يکتنها شپه تېره کړې وه، دا وايي: والله ماکلمني کلمة ولاسمعت منه کلمة غير استرجاعه (يعني دومره احتياط کار کامل مسلمان ؤ چې د صورت حال د پوښتنې څخه يې حجاب د دوو شوندانو راوځړاوه) اوښه يې چوکه کړه او پر زنګانه يې پښه ورکښېښوله، نو زه ولاړه سوم پر اوښ سپره سوم ده تر مهار ونيوی او راهي سو، نو موږ لښکر ته وروررسېدلو په داسي حال کې چې نحر الظهيرة يعني په وسط کې د غرمې چې لمر پر غاية ارتفاع ؤ يعني نصف النهار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې د عبدالله بن ابي بن سلول چې په دې غزاء کې سره د منافقينو ملګرو شامل ؤ دا يې عمري او دائمي عادت ؤ چې د نور لښکر چې صادق مسلمانان به وه دوی به کوښښ وطاق نيوی، ولي چې د منافقانو دا عادت ؤ چې بهتان او درواغ به يې پر عليه الصلوة والسلام ويل الى غير ذالک كما نص به القرآن المجيد في مواضع عديدة ونزلت فيهم سورة المنافقين علحدة، دا وايي فهلک من هلک وكان اول من تولى الافک عبدالله بن ابي بن سلول رئيس المنافقين، ولي پر هغه اوښ چې زه سپره وم او صفوان رضي الله عنه يې مهار کشاوه پر منافقينو چې تهريدله عبدالله بن ابي خلګو ته وويل چې دا ښځه څوک ده چې پر اوښ سپره ده؟ خلګو ورته وويل عائشه رضي الله عنها. ابن ابي وويل: "فجربها ورب الكعبة يعني صفوان زڼی ورسره کړي ده په رب د کعبې مي دي قسم وي، عائشه رضي الله عنها وايي چې مدينې منورې ته زه راغلم زه يوه مياشت ناجوړ سوم والناس يضيفون في قول الافک (او خلګو بحثونه کول په خبرو کې د افک يعني د درواغو د زڼی زما) او زه په هيڅ نه وم خبره په دې موضوع د افک پر ما مګر يو شي زه په شک کې اچولې وم په دې ناجوړی کې هغه دا چې عليه الصلوة والسلام هغه د مهربانۍ پوښتنه پر ما نه کوله لکه پخوا چې به زه ناجوړ سوم ده به په ډېره مهربانۍ سره پر ما پوښتنه کوله لکن په سبب يې نه پوهېدم، صرف به عليه الصلوة والسلام زما حجرې ته راغلی سلام به يې ووايه دا قدر به يې وويل کيف تيکم څرنګه يې بيرته به ووتی، نور په سر د عدم لفظ د عليه الصلوة والسلام نه پوهېدم حتى خرجت هغه چې جوړه سوم فخرجت مع ام مسطح وه صحرا ته لپاره د قضا حاجت وبيابان ته او هغه زموږ د ښځو د قضا حاجت ځای ؤ او موږ ښځي نه وتلو و هغو صحراؤ ته لپاره د قضا حاجت مګر د شپې له خوا او دا هغه وخت ؤ چې د قضاء حاجت ځايونه نژدې وکورو ته موږ نه درلوده، او زموږ د قضاء حاجت رواج دا اول عربو ؤ چې د حاجت لپاره به صحراء ته تلو، او موږ ته يې خوند نه راکاوه چې کنف يعني د قضاء حاجت ځايونه نژدې و بيټو ته جوړ کړو، نو لکه عرب اول صحراء ته به تلو، قالت رضي الله عنها فانطلقت انا وام مسطح وهي ابنة ابي رهم بن عبد مناف او مور د ام مسطح بن صخر بن عامر خاله د ابوبکر الصديق رضي الله عنه وه چې قضاء حاجت مو وکړی او د کور پر خوا را

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روانې ؤ د ام مسطح پښه په پورنې کې بنده سوه او غځاره سوه، دې داسې وویل
تعس مسطح هلاک دي و مسطح یعني خپل زوی ته یې بښرا وکړه.

دروښ وایي: چې دا د عربو عادت ؤ چې یو تکلیف به ورپېښ سو هغه چا ته به
یې بښرا کول چې دده به بد ځندي راتله، عائشه رضي الله عنها وایي چې ما ورته وویل بښ
ماقلت، ولي تا بښرا او نا سزا وویل و هغه چاته چې هغه له غازیانو ځخه د بدر ؤ
یعني مسطح؟ دې راته وویل ای هنتاه الم تسمعي ما قال؟ تا نه دي اورېدلي چې
مسطح په تا کې څه خبري کړي دي؟ قلت ماذا؟ نو ام مسطح د افک موضوع بیان
کړه یعني خلکو پرتا الزام د زڼی لګولی دی د صفوان سره او مسطح هم په دغه الزام
کې ګډون درلود لی دی، عائشه رضي الله عنها وایي فازددت مرضًا الی مرضي، یعني د پخوا
پر ناجوړې مي بله ناجوړي بالا سوه چې دا خبر مي واورېدی فلما رجعت الی بیتي
او علیه الصلوة والسلام حجرې ته راغلی او د دمخه پوښتنې پر لهجه یې وویل
کیف تیکم، ما ورته وویل چې ته اجازه راکوې چې د پلار او مور کور ته ولاړه سم؟
دا وایي چې زما اراده دا وه چې زه د مور او پلار ځخه د دغه افک پوره معلومات
وکړم، نو علیه الصلوة والسلام اجازه راکړه ویل ولاړه سه، فجئت ابوي فقلت لامي
یا امتاه ما یتحدث الناس؟ یعني په ما کې دا خلګ څه خبري کوي؟ دې راته وویل
یا بنیة هوني علیک پر ځان دا خبره سپکه کړه، فوالله لقلما کانت امرئة وضیئة
(بنائسته) عند رجل یحبها (یعني علیه الصلوة والسلام) ولها ضرائر (یعني نورې
مایني چې په پښتو یې بوڼي بولي) الا کثرن علیها (نو پر هغې به بوڼي ډېرې خبرې
کوي) یعني مور یې نسبت د ډېر والي ددې افک د بنو له خوا ویاله، که څه اصل
مؤسس د افک ابي واصحابه وه) نو عائشه رضي الله عنها مور ته وویل سبحان الله (کلمة
یستعمل في مقام التعجب) وقد تحدث الناس بهذا) بې بي عائشه رضي الله عنها وایي چې دا
ټوله شپه ما سترګې په خوب نه کړې توري او نه مي اوښکې درېدلې حتی تر سهاره
پورې او سهار مي هم ژړله، نو علیه الصلوة والسلام علي بن ابي طالب او
اسامة رضي الله عنهما راوغوښتل یعني د مشورې لپاره چې وحي وځنډېدلې (یوه میاشت)
اما اسامة بن زید فاشار علی رسول الله ﷺ بالذي یعلم من برائة اهله (یعني چې
دده وجدانًا دا یقین ؤ چې اهل دده مبارک له زڼی ځخه پاک دی) وبالذي یعلم له في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفسه من الود (او په دې هم پوهېدی چې په زړه کې د علیه الصلوة والسلام نه عائشې رضي الله عنها سره محبت سته) اسامه رضي الله عنه داسې وویل: اهلک ای الزم اهلک وما نعلم الا خیرًا (یعني الزم اهلک موږ په عائشه رضي الله عنها کې علم نه لرو مګر نه د خیر یعني البرائة من خبث الزنی) واما علي بن ابي طالب رضي الله عنه فقال یا رسول الله لم یضیق الله علیک (خدای پاک پر تا تنګي د ښځو یعني د ماینو نه ده جوړه کړې) والنساء سواها کثیرة وان تسئل الجاریة یعني البریرة هغه به د رښتیا حال درته ووایي، نو علیه الصلوة والسلام بریرة راوغوښتل فقال اي بریرة هل رئیت شیئًا یریبک؟ تا یو شی لیدلی دی یعني پر عائشه چې تاته یو څه شک درواچوي یعني په باره کې د میلد عائشه رضي الله عنها واجنبي سړي ته؟ بریره ورته وویل لا والذي بعثک بالحق، ما نه دی لیدلی یو شی په دې کې چې زه په عیب جنه سم غیر له دې څخه چې دا جاریه حدیثة السن ده، ګاهي چې د کور اوړه اغږي په دغه حال کې دا بیده سوې وي، کورنی میږه راغلې وي اوړه یې ټول څنډي خوړلي وي، نو په دغه ورځ علیه الصلوة والسلام ودرېدی او داسې یې وویل یا معشر المسلمین، څوک به زما سره مرسته وکړي د یو سړي په باره کې چې دده له خوا ازار ماته زما د اهل بیت په باره کې رارسېدلی دی (غرض یې عبدالله بن ابي بن سلول ؤ، او له اهل بیته یې عائشه رضي الله عنها مراد وه، او له ازار څخه یې مراد درواغ د زنی پورې تړل وه د صفوان رضي الله عنه سره) فوالله ما علمت علی اهلي الا خیرًا (یعني العفة عن الزنی) وقد ذکروا رجلاً ما علمت علیه الا خیرًا یعني صفوان، وما کان یدخل بیتي علی اهلي الا معي (یعني نه داخلیدی زما کور ته مراد یې بیت د عائشه رضي الله عنها ؤ مګر زه به ورسره وم یعني په وخت کې د عدم الحجاب) فقام سعد بن معاذ الانصاري رضي الله عنه سید الاوس، فقال یا رسول الله ﷺ انا اعذرک منه ان کان من الاوس ضربت عنقه وان کان من اخواننا من الخزرج امرتنا ففعلنا امرک (د هغه په باره کې به ته حکم راکړې موږ به هغسې وکړو) فقام سعد بن عبادة وهو سید الخزرج وکان قبل ذالک رجلاً صالحًا دمخه دی سم سړی ؤ یعني منافق نه ؤ لکن دلته یې غیرت د قومیت پر جوش راغلی داسې یې وویل یعني و سعد بن معاذ رضي الله عنه ته کذبت لعمر الله (درواغ وایه زما دي په خالق د عمر زما قسم وي) لا تقتله ولا تقدر علی قتله، یعني که زما له قوم څخه وي نه یې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وژلای سي او نه هم قدرت پر وژلو دده لري، فقام اسید بن الحضیر چي د سعد بن معاذ رضي الله عنه د اکا زوی وُ فقال لسعد بن عبادة ته دروانغ وایه که ستا له قومه وي لعمر الله لنقتلنه یعني که علیه الصلوة والسلام امر وکړي فانک منافق متجادل عن المنافقین، مراد یې له منافقینو څخه عبد الله بن ابي او دهغه ملګري وه چي دوی له قومه څخه د سعد بن عباده وه، یو وار دغه دواړه قومه پر قومیت سره ولاړ سوه چي ټوډي وه چي په کشت و خون سره اخته سي، او علیه الصلوة والسلام پر منبر ولاړ وُ او دې دوو قومونه یې نصیحت کاوه چي پرپردئ قوم ګلوي او ارام سئ ناري مه وهئ حتی سکتوا وسکت رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چي قصه د سعد بن معاذ رضي الله عنه او سعد بن عباده رضي الله عنه او د قومو ددوی یو جمل معترضه وې اوس بیرته د ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها وبیان ته غوږ ونسئ:

دا وایي: فمکثت یومي ذالک لا یرقاء لي دمع (په دغه ورځ نه ودریدلې زما اوښکي) ولا اکتحل بنوم (او نه مي د خوب په رنجو ستړګي توري کړې) نو سهار زما مور او پلار راته ناست وه او زما د ژړا دوې شپې او یوه ورځ پوره سوه چي زما نه اوښکي ودریدلې او نه یوه دقیقه بیده سوم، د مور او پلار مي دا خیال سو چي ناګاه دا دېره ژړا یې هینه ورو وه نه چوي، او یوه بله ښځه د انصارو راغله اجازه یې وغوښتل او ما هم اجازه ورکړه، نو هغې ښځي هم زما د ژړا په سبب ژړا شروع کړه، عائشه رضي الله عنها وایي چي موږ پر دا غه حال وُ چي علیه الصلوة والسلام راغلی سلام یې ووایه او زما د څنګه سره کښېنستی، وروسته علیه الصلوة والسلام وویل اما بعد یا عائشه رضي الله عنها انه قد بلغني عنک کذا وکذا (اشاره یې و قصې ته ددې او د صفوان ترمنځ) که ته د ددې زئی څخه پاکه وې خدای پاک به دي پاکي بیان کړي او که دا کار کړی وي فاستغفري الله وتوبی الیه، ولي بنده چي په ګناه سره اقرار وکړي بیا توبه وخدای ﷻ ته وکاږي خدای پاک یې توبه قبلوي، دا وایي چي علیه الصلوة والسلام چي خبري پای ته ورسولې زما اوښکي ودریدلې حتی چي یو څک مي ترستړګو نه راتوپېدی. نو پلار ته مي وویل اجب رسول الله ﷺ فیما قال، پلار مي وویل والله ما ادري ما اقول لرسول الله ﷺ بیا مي مور ته وویل چي زما یو جواب و علیه الصلوة والسلام ته ووایه، مور مي راته وویل چي زه پوهېږم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې رسول الله ﷺ ته زه څه ووایم، دا وایي چې زه و خبرو کولو ته مجبوره سوم. نو ما وویل: اني والله لقد علمت انکم سمعتم هذا الحدیث یعني قصه زما او د صفوان تر منځ د زنۍ کولو، حتی چې دې قصې ستاسي په زړو کي قرار نیولی دی او تاسي یې تصدیق هم کړی دی فلئن قلت اني بریئة والله یعلم اني بریئة (او خدای پاک په ما خبر دی چې زه له دې کار څخه پاکه یم تاسي زما تصدیق نه کوئ. بلکې وایاست چې درواغ یې وویل ولئن اعترفت بامر (یعني الزنۍ مع الصفوان) والله یعلم اني بریئة منه لتصدقوني (تاسي تصدیق کوئ زما د اقرار) والله لا اجد لي ولکم مثلاً الا قول ابی یوسف فصبر جمیل والله المستعان علی ماتصفون.

دروښ وایي: چې ددې له ابي یوسف څخه مراد یعقوب ؑ ؤ هغه وخت چې زامنو ورته وویل چې یوسف لیوانو وخوړی، یعقوب ؑ ورته وویل بل سولت لکم انفسکم امرًا فصبر جمیل.

پوښتنه: عائشې ؓ ولي یعقوب علیه السلام نه ذکر کاوه پر ځای د ابي یوسف؟

ځواب: ددې عذر عائشې ؓ په خپله ویلی دی، ولي دې وویل وانا جاریة حدیثة السن لا اقرء کثیرًا من القرآن یعني د یعقوب ؑ نوم یې نه ؤ زده او یا ځندي هېر سو او په قصه د یعقوب ؑ او د زامنو خبره وه.

دروښ وایي: چې سیدتنا عائشة ؓ چې په حال کي د غایت مجبوریت او د نهایت عجز په حال کي کومک (مرسته) د خدای ﷻ څخه وغوښتل، خدای پاک هم د هر ژړ کومک ورسره وکړی..... بیت:

چون فرود آید بلا بی دافعی ..... جز تضرع نبود دیگر مانعی

بي بي عائشه ؓ وایي ما چې دا خبري وکړې پر خپل ځای پرېوتم او زما په عین حال کي دا یقین ؤ (سل په سله کي مي دا یقین ؤ) چې زه خو له زنۍ څخه پاکه یم خدای پاک به زما پاکي و علیه الصلوة والسلام ته بیان کړي، لکن زما دا ګمان نه ؤ چې خدای پاک به زما په شان کي وحي نازل کړي چې په قرآن کي به یې تلاوت کېږي، ولي چې ما خپل په زړه کي ځان د هر حقیر باله تر دې چې خدای ﷻ دي زما په برائت وحي نازل کړي، بلکې دا مي ګمان ؤ چې علیه الصلوة والسلام ته به په خوب کي زما برائت معلوم سي یعني زما د برائت خوب به وویني، دا وایي والله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې علیه الصلوة والسلام له خپل خایه چې پر ناست ؤ بنورېدلی هم نه دی او نه چې په خونه کې ناست وه یعنې مور او پلار وغیرهم څوک وتلي له خونې څخه حتی چې پر علیه الصلوة والسلام علامات د نزول وحي بنکاره سوه یعنې په ریږدیدلو سوه، او پر مخ مبارک به یې لکه ملغلري داسې خولې راتلې د ژمې په ورځ په سبب د ثقل د وحي الذي ینزل علیه، چې د بخاري په اول کې داسې وحي ته صلصلة الجرس ویل سوی دی، دا وایي: فلما سری الوحي عن رسول الله ﷺ، دا وایي د علیه الصلوة والسلام چې وحي قطع سوې کنبښتی و دیې خندل او اوله خبره یې دا وکړه یا عائشه اما والله قد برئک، دا وایي چې مور مې راته وویل چې ورولاړه سه و علیه الصلوة والسلام ته، تعنې یا یې لاس ورمچ کړه مثلاً یا سلام ورته ووایه الی غیر ذالک، دا وایي ما ورته وویل چې والله لا اقوم الیه ولا احمد الا الله، دا له ډېره درده څخه، نو خدای ﷻ نازل کړی ان الذین جاؤا بالافک تر لس آیته پورې تولې په دغه باره کې دي،

عُصْبَةٌ مِّنكُمْ

یوه ډله متعصب ده ستاسې څخه.

یوه سه: چې عصبه او عصابه لسو ته تر څلوېښتو پورې وایي چې مفرد له لفظه نه لري.

یوه سه: چې الذین جاؤا آه اسم د ان دی او عصبة یې خبر دی.

سوال: ځای د فائدې خو خبر وي، نو په دې اخبار کې څه فائده؟ ولي چې دا اظهر من الشمس ده چې عصبة منکم د جن وغیره نه ده؟

ځواب: تنوین د عصبة لپاره د تحقیر او تقلیل دی یعنې حقیرة وهم عبد الله بن ابی واتباعه وان کانوا کثیرًا عددًا، او لږ مسلمانان عددًا هم پکښې سته لکه مسطح بن اثاثة وحمنة بنت جحش چې د زینب بنت جحش خور وه او د علیه الصلوة والسلام خوښینه وه، عائشه رضی الله عنها وایي چې زینب رضی الله عنها چې د علیه الصلوة والسلام کور والا وه او د عائشې رضی الله عنها بن وه خدای پاک د خپلې تقوی په سبب له شمول څخه په ډله کې د اهل افک وساتل لکن د هغې خور برخه پکښې واخستل، او بل حسان بن ثابت رضی الله عنه چې شاعر د علیه الصلوة والسلام ؤ لکن د حسان په شمولیت کې اختلاف دی، او بل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب دادی چي عصبة کي مقصود تسلي و علیه الصلوة والسلام ته ده په دې معنی چي دا خبره یوه مجمع علیه خبره نه ده بلکې یو شرذمه منکم ده.

دروښ وایي: چي دا ځواب و اول ته راجع کېږي کما لا یخفی.

فائده: که څه هم په حدیث کي د بخاري حسان بن ثابت ؓ پکښې حسابل سوی ؤ یعني په دله کي د اهل افک، لکن په تفسیر روح المعاني کي وایي چي حسان ؓ د زړه له کومي په نسبت کي د زټی و عائشي ؓ ګډون نه دی کړی بلکې دی ناقل ؤ له ابن ابی لعنة الله علیه څخه. روح المعاني وایي چي حسان بن ثابت ؓ خپل عذر په ګډون کي د اهل افک په دې خوږو بیتو ووایه:

حسان رزان ما تزن بریبة.....وتصبح غرثی من لحوم الغوافل
حلیلة خیر الناس دینًا و منصبًا .....نبي الهدی ذی المکرمات الفواضل
عقیلة حی من لوئی بن غالب.....مهذبة قد طیب الله خیمها
کرام المساعي مجدهم غیر زائل .....فان کنت قلت الذي قد زعمتموا
فلا رفعت سوطی الی انامل.....وکیف و ودی ما حییت ونصرتی
لآل رسول الله زین المحافل

ابن سعد په خپل تاریخ کي د محمد بن سرین څخه نقل کړی دی چي عائشي ؓ و حسان ته اجازه د ملاقات ورکول یعني مع الحجاب، او دا به یې هم ویله لاتؤذوا حسانًا فانه ینصر رسول الله ﷺ بلسانه، په حدیث کي د بخاري راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام به منبر کښېښو و حسان ته یعني د منبر نبوي د کښېښتو اجازه بې ورکړه چي د کفارو د مکې هجو وکړي، ابن جریر په خپل سند سره د عائشي ؓ څخه نقل کړی دی: دې ویلي دي چي ما نه دی اورېدلی یو شی چي احسن دي وي تر شعر د حسان ؓ، دا وایي چي هر وخت چي ما دا شعر ویلی دی زما خدای ﷻ ته قوي امید دی چي حسان به خدای ﷻ بخښلی وي او ده لره به جنت وي، هغه دغه بیتونه دي چي مخاطب یې ابي سفیان بن الحارث بن عبد المطلب ؤ چي هغه د علیه الصلوة هجو کړې وه حسان یې داسي جواب ورکړی:

هجوت محمدًا واجبت عنه.....وعند الله في ذاک الجزاء
فان ابی و والدتی وعرضی.....لعرض محمد منکم وقاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ا تشتمه و لست بكفو.....شر كما لخير كما فداء
لسانی صا رم لا عيب فيه.....و تجری لا تكدره الداء

پوښتنه: عبدالله بن ابی سره د هم فکرانو لويه برخه په افک کي درلوده، نو په منکم کي څرنګه داخل کړی دی کافرؤ؟

ځواب: لسانًا و ظاهرًا خو دوی مسلمانان وه وان کانوا کفرةً باطنًا.

مسئله: که څوک نسبت د زنا وکړي و عائشې رضي الله عنها ته هغه کافر دی باجماع اهل السنة والجماعة لکه غلات الروافض چې دا نسبت کوي، ولي په دې نسبت کې انکار دی لس (۱۰) آیتونه د قرآن عزیز کما سیئاتي بعض تفاسیر وایي چې څلور په څلور شی له تهمت څخه د یو عیب خلاص سوی دی یوسف علیه السلام له تهمت څلور په څلور شی له تهمت څخه د یو عیب خلاص سوی دی یوسف علیه السلام له تهمت څخه د زلیخا په وړاندې د عزیز مصر چې ده ماته قصد د زنا کړی ؤ په شاهدې د طفل شیرخوار د قریبانو څخه د زلیخا خلاص کړی، کریمه: وشهد شاهد من اهلها الآية. او موسی علیه السلام له تهمت څخه د اذره یعني چوره چې بني اسرائیلو لګولی ؤ په فرار سره د دبرې چې موسی علیه السلام لپاره ځای په ویاله کې لمبېدی او کالي یې پر دبرې هوړې اینبي وه ففر الحجر بثوبه فناداه ثوبی حجر ثوبی حجر پر دبرو دبرو مجلسو د بني اسرائیلو تپر سو هغو ولیدی چې چوره نه دی، نو دبره ودرېدل، او مریمه له تهمت څخه د زنا په سبب د ولادت د عیسی علیه السلام بغیر اب په خبرو راوستلو د عیسی علیه السلام خلاص کړه کما في نص القرآن، او عائشه رضي الله عنها په نزول د دغو آیتو د خدای ﷻ له تهمته د زنا خلاصه کړه.

لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُمْ ۖ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ

تاسي ګمان مه کوئ (والخطاب للنبي ﷺ والمؤمنين غير العصبة، ولي چې پېښځل د عائشې رضي الله عنها راجع ګرځي و رسول الله ﷺ ته خو دی په غمجن کېږي او غم د نبي علیه السلام راجع دی و ټولو مؤمنانو ته لانه ابوهم لان ازواجه ﷺ لما كانت امهات المؤمنين حيث لايجوز نكاحهم لاحد من امته كان هو ﷺ ابوهم)

چې ستاسي لپاره دا شر ده، بلکې دا واقعه چې پېښه سوه ستاسي لپاره خير سوه (۱) تاسي ته خدای پاک څومره ثواب عظیم درکړی لانه بلاء مبين ومحنة ظاهرة (۲) کرامت ستاسي چې پر خدای ﷻ یې لرئ ښکاره سي چې خدای پاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په پاکي د عايشه رضي الله عنها په قول د روح البيان (۱۸) آيت نازل سوه او په قول د مظهري لس آيته نازل سوه (۳) خداى پاک څومره لوى عذاب وپاکى كما سيئاتي (۴) آيتونه د نزاهة د عايشې رضي الله عنها به تر ورځي پورې د قيامت په محرابو کي د مساجدو ويل کېږي او پر منابرو د واعظانو به ويل کېږي.

پوه سه: چې جمله د لاتحسبوه جمله معترضه لپاره د تسلي د عليه الصلوة والسلام او د ابوبکر رضي الله عنه او د عائشې او د صفوان او د مور د عائشې رضي الله عنها او د نورو مؤمنانو د هغه وخت.

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ مَّا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ ۚ

(منهم) اى العصبة الكاذبة. ما اكتسب اى جزاء. بحذف المضاف د هغه څه چې ده يې فعل کړى وي د ګناه.

فائده: د افک اوږدونکي څو قسمه وه (۱) هغه کسان چې لويه برخه يې پکښې اخستې وه او دا يې هم خوښه وه چې دې ډېره شيوع پيدا کړي، وهم عبدالله بن ابى او دده هم فکران يعنې منافقان چې تعداد د نرو او ښځو يې (۳۰۰) ته بالغ وو (۲) داسې کسان چې د بل د خولې به يې واوږدل او په خوله به يې ويل من تکرار (۳) بعضو به وخندل په خوله به يې هيڅ نه ويل (۴) داسې کسان چې تکلم به يې هم نه په کاوه او رد به يې هم نه کاوه. بغوي رح وايي چې په حديث کي داسې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام امر وکړى چې هغه چاچې رمي د عائشه رضي الله عنها بالزنى کړې وه ټوله دې اتيا اتيا درې ووهل سي، دا خو يې د دې دنيا رسوايي وه او جزاء ددوى د رب العزة په ارادې پورې تعلق لري.

وَالَّذِي تَوَلَّىٰ كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾

او هغه څوک چې لويه برخه يې پکښې وه او افک ته يې ډېره شيوع ورکوله (له جهته د عداوت د عليه الصلوة والسلام او لپاره د پېغور د مؤمنانو) په دې عصبه کي هغه لره عذاب دى لوى، له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى چې له الذين تولى كبره څخه مراد عبدالله بن ابى دى رواه البخاري وعلى ذالك المحدثين والمفسرين رح.

دروښ وايي: چې په حسان بن ثابت کي ډېر لوړ اختلاف دى لكن قد مر انه ليس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

برامي الافک بل ناقله، او حديث منقول د بخاري څخه دا ثابتوي چي حسان د من تولى كبره له جملې څخه دى، والله اعلم بالصواب والتفصيل في روح المعاني وكذالک تفصيل من حدوكم حد في روح المعاني من الاختلاف فيه فتدبر.

لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا

لولا حرف تخصيص دى، ومعنى ولي چي تاسي حديث د افک د منافقينو څخه اورېدلى واى ايها العصبة المؤمنة يعني مخاطب په ضمير د تم سره عصبة مؤمنة، عقيده به درلودای هر يوه د مؤمنون يعني رجال او مؤمنات يعني النساء په خپلو ځانو باندي، مراد له خپلو ځانو اهل دين خپل دي چي دلته سيدتنا عائشة رضي الله عنها او صفوان رضي الله عنه دي.

دروښ وايي: چي اهل دين ته انفسكم ويل ځو ځايه په قرآن كريم كي راغلي دي كريمه: لا تلمزوا انفسكم يعني عيب مه وايه پر ځان يعني پر اهل دين خپل كريمه: لاتقتلوا انفسكم مه وژنئ خپل ځانونه يعني اهل دني خپل مه وژنئ، كريمه: وسلموا على انفسكم او سلام وايا ست تاسي پر خپلو ځانو يعني پر اهل دين خپل، وذالک لان اهل كل دين من الاديان كنفس واحدة.

(خيراً) د خير ولي چي ايمان مقتضى د حسن ظن دى پر مؤمنانو او مؤمناتو، او ايمان باعث بايد وي پر ځان ساتلو له طعن څخه پر مؤمنين او مؤمناتو بلكې لكه سړى چي دفع د طعن له خپل ځانه كوي بايد د ديني وروڼو او خوندو څخه يې هم وكړي.

وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ

ويلي به واى عصبة مؤمنة چي دا خبره دروغ ده بنكاره.

سوال: په سمعتموه كي خو عصبة مؤمنة مخاطب ده نو د وروسته عبارت حق داؤ ظننتم بانفسكم؟

ځواب: هو! په عدول كي له خطاب څخه وغيبت ته چي په ځاى كي د ضمير د مخاطب لفظ د مؤمنون والمؤمنات ذكر سوؤ او په نحو او معانيو كي وايي چي تعليق د حكم په مشتق سره دلالت كوي پر علتيت د مبدء الاشتقاق د هغه لپاره حكم معلق بالمشتق يعني ظنوا وقالوا آه فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: له دې آیته دا معلومه سوه چې حسن ظن پر مؤمنینو او مؤمناتو واجب دی تر هغو چې په دلیل شرعي سره خلاف د هغه نه وي ظاهر سوی.

لَوْلَا جَآءُوْ عَلَيْهِ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ

ولي دوی یعني قائلانو د افک پر دې خپله دعوه څلور شاهدان نه راوستل حتی پر مقذوف به حد زنی ثابت سوی وای.

فَإِذْ لَمْ يَأْتُوا بِالشُّهَدَآءِ فَأُولَٰئِكَ عِندَ اللَّهِ هُمُ الْكَٰذِبُونَ ﴿١٣﴾

نو چې دوی راتګ نه وکړی په شاهدانو یعني څلور، نو دوی په نېږ د خدای ﷻ درواغ ویونکي دي، نو پر دوی اتیا درې حد د قذف لازم سو کمامر. ددې دلیل دادی چې دعوه کونکی د زنی پر چا چې څلور شاهدان راولي او هغه مقذوف ته حد زنی ورکړه سي، نو دی ویلای سي چې ما دغه دعوه د زنی سره د شاهدانو وکړه غرض مي ثواب وُ تاچې له منهیاتو څخه لکه زنی خلک پرهېز وکړي او چې شاهدان نه لري، نو دی چې دعوه د زنی پر مؤمن کوي غرض یې اشاعة د فاحشة الزنی دی پر مسلمانانو دون اقامة حد شرعي پر مقذوف، نو دی دا نه سي ویلای چې ما دا اظهار حسبة لله وکړی تاچې مسلمانان دي زجر سي، ولي دده په دغه دعوه صرف سره د زنی پر یو چا بېله شاهدانو خو پر هغه حد زنی نه جاري کېږي تا زجر د نورو خلکو وکړل سي، نو چې دده هدف صرف او صرف اشاعت د فاحشه وُ پر مؤمن نو دی مستحق د اتیا درو حد قذف دی، بغوي ؒ له عائشې ﵂ څخه روایت کړی دی انه لما نزلت هذه الآیة حد النبي ﷺ اربع نفر. عبدالله بن ابي (بعض وایي دوه حده یې وکړه، بعض وایي یو حد یې ورکړی و حسان بن ثابت ته ومسطح بن اثاثة وحمنة بنت جحش.

دروښ وایي: چې له دې آیت څخه دا ثابتېږي چې حسان بن ثابت په قاذفانو کې صراحةً داخل وُ، وهذا مایقتضیه حدیث البخاري ایضًا، او که حسان بن ثابت که د ناقلانو څخه د قذف وُ د منافقینو د خولې کمامر نو ده ته حد قذف ورکول مشکل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ

که فضل د خدای ﷻ نه وای پر تاسي الايمان بنبي عليه السلام، او رحمت د خدای ﷻ په دنیا کي په قسم قسم نعمتو سره چي اعلی د تولو نعمتو يې توفيق د اسلام دی او بل نعمت عظمی په شرف د صحبت د نبي عليه السلام چي هغه مانع د نزول دی او سبب د امهال دی تر توبې پوري (والآخرة) عطف دی پر دنيا فالتقدير ولو لافضل الله عليكم آه.

پوه سه: چي فضل د آخرت يې عفو او مغفرت د ګناه دی او الجنة الحسنی دی.

لَمَسَّكُمْ فِي مَآ اَفَضْتُمْ فِيْهِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝

تاسي ته به رسېدلی وای ايها العصبة في الدنيا والآخرة په سبب د هغه چي تاسي خوض پکښي کاوه، وقيل افاضة په معنی د اشاعت ده لکه چي د حديث مشهور په باره کي چي وايي خبر مستفيض ای شائع (عذاب عظيم) لکه عاد او ثمود او قوم لوط في الدنيا وفي الآخرة ما لا انقطاع او هيڅ عذاب تر دغه بالا نه وي.

پوه سه: چي دا آيت په شان کي د مؤمنيونه د اهل افک چي وړاندي تېره سوه چي په افک کي بعض مؤمنان هم داخل وه، او هغه دمخه آيت والذي تولّى كبره منهم له عذاب عظيم هغه خاص دی په اهل نفاق پورې وهو عبد الله بن ابی بن سلول ومن معه.

پوه سه: چي په علم معانيو کي وايي چي لو لا لامتناع الشئ لوجود غيره نحو لو لا زيد لقتل عمرو يعني که نه وای وجود د زيد عمرو به وژل سوی وای، يعني علم وژل د عمرو په سبب د وجود د زيد دی، نو په دې آيت دلالت پر دې دی چي عذاب ممتنع وګرځېدی يعني نسو نازل په سبب د وجود د فضل او رحمت د خدای. بعض مفسران وايي چي د لمسكم په خطاب کي ابن ابی هم داخل دی هغه سهوه ده، ولي چي ابن ابي خو د فضل او د رحمت په دنيا او آخرت کي اهل نه دی.

اِذْ تَلَقَّوْنَهٗ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَتَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِكُمْ مَّا لَيْسَ لَكُمْ بِهٖ عِلْمٌ

پوه سه: چي اذ ظرف دی د مسكم يا د افضتم، اصل د تلقونه تتلقونه وُ و حذف احدی التائين، يعني تاسي چي دا حديث الافک يو له بله څخه به مو پوښتنه کول په ژبه مثلاً يوه وبل ته به ويل چي ما خو داسي اوربدلي دي يعني د عائشه رضي الله عنها په باره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي دغه اوس څرنګه قصه وه حتی چې د دغو پوښتنو ګروېږونو په سبب به داسي کور په مدینه منوره کي نه وُچي د افک خبري دي نه پکښي کېدې په بعضو کي به استفهامًا کېده او په بعضو کورو کي انکارًا کېده او په بعض کورو کي تعجبًا کېده او په بعضو کي تصدیقًا کېده لکه د ابن ابي او دده د اتباعو کورونه.

او تاسي په خولو یعني په ژبو هغه خبري کولې چې تاسي علم نه پر درلودی یعني د افک موضوع صرف د خولې خبري هیڅ مصداق یې نه درلودی، نو خو د ستاسي پر هغو علم نه وُ لان العلم بالشئ فرع وجوده.

وَّتَحْسَبُوْنَهٗ هَيِّنًا ۖ وَّهُوَ عِنْدَ اللّٰهِ عَظِيْمٌ ۝

او تاسي به ګمان کاوه چې په حدیث الافک کي خبري اتري یو عادي مجلس دی او آسانه کار دی بانړپرس به په اخرت کي نه لري او حال دادی چې دا خوض او بحث کول لویه ګناه ده او موجب د غضب الهي ده، ولي چې قذف کمامر في الکلام المجید من کبائر الذنوب التي یصدر من الالسن.

پوه سه: چې د زڼی جرم (یعني جسم) کوچنی دی او جرم بالضم، او ګنهونه دپر دي کالغیبة والبهتان والکذب وکلمات الکفر والشتم القبیح والنمیمة وغیر ذالک، او قذف المحصنات فیما نحن فیه خصوصًا چې په هغه هتک د حرمت د رسول الله ﷺ وي اعاذنا الله عن امثال ذالک.

دا هم د ژبې په باره کي حدیث نبوي ﷺ د معاذ بن جبل ؓ څخه روایت دی چې ما و علیه الصلوة والسلام ته وویل یا رسول الله ﷺ اخبرني بعمل یدخلني الجنة ویباعدني عن النار، علیه الصلوة والسلام راته وویل د لوی عمل پوښتنه دي وکړه وانه یسیر علی یسر الله علیه (۱) تعبد الله (۲) ولاتشرک بالله شیئًا (۳) تقیم الصلوة، ای الخمسة (۴) وتؤتی الزکوة (۵) وتصوم رمضان (۶) وتحج البیت یعني ان ستتطیع الیه سبیلاً، بیا علیه الصلوة والسلام راته وویل الا ادلک علی ابواب الخیر، دروازې د خیر نه دروښیم، هغه دادي الصوم جنة (روژه سپر دی د ګنهو) والصدقة تطفئ الخطیئة کما یطفی الماء النار (او صدقه که فرضي وي او که نفلي وي ګناه وژني یعني نیستي کوي یې لکه چې وژني اوبه اور) وصلوة الرجل في جوف اللیل (او لمونځ د شپې په منځ کي چې تهجد یې بولي چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث صحیح کې راغلي دي چې بهترین د نفلي لمونځو صلوة التهجد دی.

درویش وایي: چې هم دا سبب دی چې په حرمینو شریفینو کې د تهجد لپاره علحده او باقاعده آذان کېږي.

او بیا علیه الصلوة والسلام پر طور د لیل پر فضیلت د صلوة التهجد دلیل راوړی تتجافی جنوبهم عن المضاجع حتی بلغ یعملون، معاذ بن جبل[۱۵] وایي چې بیا ماته علیه الصلوة والسلام وویل: الا ادلک براس الامر وعموده راس الامر الاسلام وعموده الصلوة وذروة سنامه (او بوک سریې یعني د اوښ د بوک سر چې ترټوله جسد د اوښ لوړ ځای دی) الجهاد یعني في سبیل الله مع الکفرة. ثم قال اخبرک بملاک ذالک کله یعني زه خبر نه کړم تا په مدار او موقوف علیه سره د دغو ټولو شیانو او اعمالو چې ذکر سول؟ قلت بلی. راته بیان یې کړه دا املاک یا رسول الله. نو علیه الصلوة والسلام خپله ژبه مبارکه په ګوتو ونیول. وقال کف لیک هذه. دغه ژبه دي منع کړه یعني له قبائحو څخه چې تعلق لري په ژبه پورې لکه دروېش چې انموذج د هغو آنفًا بیان کړی. قلت و انا مواخذون بما نتکلم به، علیه الصلوة والسلام راته وویل ثکلتک امک یا معاذ نیستي دي کړي تا موز ستا یعني مور دي دریاندي بوره سي دا یې پښتو ژباړه ده.

درویش وایي: چې دا جمله په عربي ژبه کې د ملامتیا په وخت کې پر چا استعمالیږي او حقیقت ښېرا نه ده ځندي مراد. چې په پښتو کې هم ورته الفاظ او جمل سته چې حقیقت یې نه وي مراد بلکې ملامتیا پریو چا. مثلا پلار چې زوی ته وایي ملا دي ماته سه، کور دي خراب سه، په ستر ګو روند سې. د بابا مینه دي ونږېږه وامثال ذالک. بلکې په هره ژبه کې ورته الفاظ سته کما لایخفی علی المتتبع.

وهل یکب الناس في النار علی وجوههم او علی مناخرهم الاحصائد السنتهم رواه احمد والترمذي وابن ماجه: ترجمه: علیه الصلوة والسلام د معاذ[۱۵] د سوال په ځواب کې چې ده ورته وویل وانا مواخذون داسې وویل: هل یکب کلمة د هل استفهام انکاري دی یعني نه غورځوي خلک په اور کې یعني په دوزخ کې پر مخانو باندې او یا پر پزو باندې (د راوي شک دی) مګر نه هغه شی چې ددوی ژبو ږېلي وي لکه د غنمو درختي چې په لور خلک ږېي یعني ددوی د ژبو څخه صادر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوي الفاظ او خبري لكه كلمات د كفر، درواغ، بهتان، نميمه، شتم وغيرها.

وَلَوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُم مَّا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّتَكَلَّمَ بِهَٰذَا

ولي تاسي په هغه وخت كي چي د افک او باطل خبره مو له منافقانو څخه اورېدلې وای (مخاطب مؤمنان دي) تاسي مؤمنانو به د منافقانو د قول په رد كي ويلي وای موږ لره نه ښايي او موږ لره صحيح او جائز نه ده چي موږ دي خبري وكړو په دې افک كي د عائشه رضي الله عنها. ولي چي متهمول د صديقه بنت الصديق حرم رسول الله ﷺ په زڼی سره ډېر سخت اثر كوي پر نفسو سليمه وو چي مؤمنان دي. ولي چي متهمول په زڼی سره د مطلق پاكي ښځي حرام دی شرعًا او موجب د جلد دی أو د رد شهادت د قاذف ابدًا فما حال قذف سيدة النساء عائشة رضي الله عنها.

سُبْحَٰنَكَ

پاكي ده خدای ﷻ لره له دې څخه چي حرم د نبي محترم دي فاجرة وي، ولي چي فجور د زوج النبي ﷺ په حقيقت كي سب دی د رسول الله ﷺ، او حال دا دی چي د مطلق نبي د بعثت و كفارو ته حكمت الهي دا دی چي هغه و كفارو ته دعوت ورکوي د ايمان، نو بايد د نبي سره د نفرت د خلګو شی نه وي موجود، وهو فجور زوجته، البته دا روا ده چي د نبي ماينه دي كافره وي لكه د نوح[۴] يوه ماينه يا د لوط[۴] ماينه، ولي چي كفر په نېز د كافرانو عيب نه دی او فجور او فحاشي عيبٌ عند الناس كلهم.

هَٰذَا بُهْتَٰنٌ عَظِيمٌ ﴿١٦﴾

هذا داخل تحت قلتم، چي دا نسبت د فجور و عائشي رضي الله عنها ته بهتان دی يعني بې ځايه درواغ دي او ډېر لوی بهتان دی. ولي چي د دې بهتان اثر پر سيد البشر[۴] او د ده پر حرم اطهر او پر صديق اكبر[۴] بلكې على سائر المؤمنين واقع كېږي.

يَعِظُكُمُ ٱللَّهُ

خدای ﷻ تاسي ته وعظ كوي.

پوه سه: چي وعظ په لغت عربي كي زجر دی د يو چا د يو بد كاره څخه چي بيرول د عذاب هم ورسره ملګري وي. او خليل نحوي وايي چي وعظ تذكير بالخير فيما له القلب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَنْ تَعُودُوا لِمِثْلِهِ أَبَدًا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿١٧﴾

دې وعظ درته کوي چې ومثل ته دې قول قبیح په شان کې د عائشې رضي الله عنها مه ورګرځئ نه په قول سره او نه په اوربدلو دیو چا څخه تر ابده پورې یعني تر څو چې ته ژوندی یې. په شرط دې که تاسي مؤمنان یاست.

فائده: دا شرط جزاء نه غواړي ولي چې جزاء یې له ماقبل څخه فهمېږي یعني ان تعودوا لمثله.

دروښ وایي: چې دې شرط فائده داده چې ایمان وال خو دا سب (بنکنځل اوبد ویل) نه کوي، ولي چې ایمان د داسي سب ثقیل مانع دی بالکلیة.

مسئله: روافض چې دا سب جائز بولي او افک واقع بولي مؤمنان نه دي لمخالفتهم لصریح القرآن.

وَيُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۚ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١٨﴾

او بیانوي خدای جل جلاله ایات چې دلالت پر شرائع الاحکام کوي، او خدای جل جلاله بنه علم لري پر هر شي او پر تولو احوالو د بندګانو چې له جملې څخه د هغو احوالو حال د برائت د عائشې رضي الله عنها او حال د کذب د قاذفینو دی (حکیم) په هر کار کې حکمت لري.

إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۙ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ۚ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿١٩﴾

په تحقیق هغه کسان چې محبت لري وهم المنافقون ههنا چې شائع کړي فاحشه (یو لوی ډېر بد کار لکه دلته قذف د عائشې رضي الله عنها) په هغو کسانو کې چې ایمان یې راوړی وي دوی لره دی عذاب درد ورکونکی په دنیا کې په حد قذف سره یعني اتیا درې وهل چې د خوږېدلو سره سره د دنیا رسوایي هم ورسره ملګرې ده او په اخرت کې په اور سره.

(والله یعلم) بالامور الظاهرة للناس والغائبة منهم او ببرائة عائشة رضي الله عنها وکذب القاذفین، نو ځکه به خدای جل جلاله و قاذفینو ته عذاب شدید ورکړي او مقذوفینو ته به اجر عظیم ورکړي، او تاسي اې خلګو نه یاست خبر، نو تاسي باید ظاهر الامر وګورئ نو که یو چا بل نر یا ښځه متهم په زنی کړه او ځلور شاهدان یې هم پر تېر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه، نو تاسي پر ده ښه ګمان وکړئ چې دې سړي د ثواب لپاره دا کار کړی دی چې یو خو اقامت د حدود د خدای ﷻ راسي او بل د خلګو زجر له ژڼی څخه، او بل عامل به د شر او فساد څخه د ژڼی خلاص سي، او که یې قذف وکړی لکن شاهدان یې نه درلودل، نو دی د هغې جملې څخه وبولئ چې اشاعت د فاحشه په مؤمنانو کې غواړي، نو ده ته عذاب ورکړئ په حد قذف وهو في حكم القرآن من الكاذبين حتى الزم عليه حد المفترين وان كان في الواقع من الصادقين لان مبنى الاحكام القرآن على الظواهر وعند الله علم السرائر.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ وَاَنَّ اللّٰهَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ۝

که نه وای فضل او احسان د خدای ﷻ پر تاسي یعني المؤمنين الخائضين في امر عائشة ﷺ او رحمت د خدای ﷻ او دا چې خدای پاک بخښونکی دی د مؤمن د ګناه یعني بعد التوبة او قبل التوبة ان شاء.

ګر تو به مدد کار ګناه کار نبودی ..... که اورا بسر حد کرم راه نمودی
ور توبه نبودی که در فیض کشادی ..... زنګ غم از آئینه دل که زدودی

پوه سه: چې جواب د لولاء محذوف دی ای لفضح کم یعني تاسي به یې رسوا کړي وای بالعقوبة في الدنيا وفي الآخرة بالنار المؤبدة لكن خدای ﷻ تاسي ته مع ارتكابكم الجرم العظيم غفرلكم ذالك ببركة صحبة نبيه ﷺ مع الايمان، وانما قيدنا بقوله مع الايمان لان صحبة المنافقين لا تثمر لهم ثمرة المغفرة: ولي چې کفر د ژړه مانع د مغفرت دی.

فائده: جواب د لولاء یې حذف کړی استغناء عنه بذكره مرة.

پوښتنه: خدای ﷻ بېرول د مؤمنانو چې په افک کې د عائشې ﷺ یې ګډون کړی وُ او احسان پر دوی یې مکرر راوړی حکمت یې څه دی؟

ځواب: حکمت یې اشاره ده ولوی والي ته د جرم د دوی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ۭ

اې هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی تاسي متابعت مه کوئ د ګامونو د شیطان.

دروښ وایي: چې دا تمثیل دی د کمال متابعت د شیطان لکه یو سړی چې په بل سي ګام پر ګام روان وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّتَّبِعْ خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ فَاِنَّهٗ يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ وَالْمُنْكَرِ

او څوک چې متابعت وکړي د ګامو د شیطان، نو دا شیطان (قوله تعالی فانه یامر علة د نهي د متابعت دده) امر کوي خپل تابعان (نو مفعول محذوف دی) په فحشاء سره یعني هغه عمل قبیح عقلاً و شرعًا لکه زنی لواطت وغیرهما. او په منکر سره چې شرعًا ممنوع وي فقط کترک الصلوة والصوم والزکوة وغیر ذالک.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ مَا زَكٰى مِنْكُمْ مِّنْ اَحَدٍ اَبَدًا ۙ

که نه وای فضل د خدای ﷻ او رحمت د خدای، نه به یې وای پاک کړی له ګناه څخه د افک له تاسي څخه هیڅ څوک (نو من زائد دی لپاره د استغراق د نفي، نو احد مرفوع دی محلاً) تر ابد پورې.

پوه سه: چې مخاطب په دې آیت کې هغه بعض مؤمنان او مؤمنات دي چې د افک په موضوع کې ګډون کړی ؤ، نو فضل او رحمت د خدای ﷻ دادی چې توفیق د توبه عاجله یې درکړی ددې ګناه د افک په باره کې او حدود چې مکفر ددې ګناه دی درته مشروع یې کړه.

وَّلٰكِنَّ اللّٰهَ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝

لکن خدای پاکوي د ګناه هره ګناه چې وي هغه څوک چې د الله تعالی مشیت ورته وسي یعني چې په زړه کې یې توبه وروا چوي او توبه یې هم قبوله کړي، خدای پاک اوربدونکی دی ددوی د خبرو او خبر دی په باطني او قلبي حالاتو ددوی.

دروښ وایي: چې بخاري او مسلم او نور ائمة الحدیث رح روایت کړی دی چې مسطح بن اثاثه رض چې مهاجر ؤ او بدري او فقیر ؤ او د ابوبکر رض قریب ؤ، بعض وایي چې د خاله زوی یې ؤ او نفقه ابوبکر ورکوله، نو چونکه د قذف د عائشه رض موضوع پیښه سوه مسطح هم په هغه کې برخه واخسته او په خیر د عائشه رض پر برائت باندې تمامه سوه، نو ابوبکر رض قسم واخستی چې زه به ددې وروسته چې ده زما پر لور الزام د زنی ولګاوه وه مسطح ته به نفقه ورکوم، نو دا آیت نازل سو.

وَلَا يَاْتَلِ اُولُوا الْفَضْلِ مِنْكُمْ وَالسَّعَةِ

قسم دي نه اخلي دا کلمه باب د افتعال دی مجرد یې الیة په معنی د قسم دی کذا في تاج المصادر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې دا لفظ په معنی د تقصیرهم راغلی دی کما في خطبة التلخیص ولا آلو جهداً آه (اولو الفضل) درلودونکي د فضیلت هم په دین کې لاں ابی بکر ؓ افضل جمیع الصحابة ؓ کریمه: ثاني الاثنین اذهما في الغار، او هم د مال له لحاظه لکن چونکه وروسته د سعة لفظ راځي چې یه معنی د غنی دی، نو له فضل څخه فضیلت في الدین مراد ول ډه ښه زیبا دی تاچې تکرار رانسي، او بله خبره دا هم ده چې که فضیلت د دین مراد نه سي، نو عامو خلکو ته څپل انفاق په مقابل کې د ازار د منفق علیه حرام او سبب د ګناه نه دی (منکم) یعني ابابکر وامثاله وفیه دلیل علی فضل ابی بکر ؓ وشرفه (والسعة) یعني الغناء في الدنیا فان النفقة عن ظهر غني.

اَنْ يُّؤْتُوْٓا اُولِي الْقُرْبٰى وَالْمَسٰكِيْنَ وَالْمُهٰجِرِيْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۖ

یعني في ان یؤتوا روح البیان یې داسي ترجمه کړې ده: علی ان لایؤتوا ولایحسنوا، له خاوندانو څخه د قرابت او د مساکینو او مهاجرین په لار کې د خدای ﷻ یعني هجرت یې لپاره د رضی د خدای ﷻ وي لکه په دې ځای کې مسطح بن اثاثة، نو دا ټوله الفاظ صفات دي، موصوف د ټولو یو دی یعني مسطح وامثاله.

فائده: ذکر ددې صفاتو لپاره د باعثه کولو د ابوبکر ؓ دی پر اعاده د نفقې ومسطح ته ولي چې هم یې قریب ؤ او هم مهاجر ؤ او هم مسکین.

پوښتنه: موضوع خو یوازي د مسطح او د ابوبکر تر منځ وه، نو جمع د الوا او منکم او یؤتوا او مساکین آه ته څه ضرورت ؤ؟

ځواب: فائده یې تعمیم دی ددې حکم اسلامي لپاره د ټوله امت محمدیه فافهم.

وَلْيَعْفُوْا وَلْيَصْفَحُوْا ۭ اَلَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَكُمْ ۭ

اوذوی الفضل دي عفوه وکړي وهغو قریبانو ته چې له دوی څخه تقصیر سوی ؤ د قرابت په پاملنه کې، او روی ګرداني او سترګې پټول دد وی له بد و څخه، آیا ستاسي نه ده خوښه یا اولی الفضل چې بخښنه وکړي خدای ﷻ تاسي ته لکه تاسي چې خپلو قریبانو ته چې له یوه څخه ګناه صادره سوي وي بخښنه ورته وکړئ؟ او سره ددې چې د خدای ﷻ نعمتونه پر بنده ګانو بې ښي ډېر دي، کریمه: وان تعدوا نعمة الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاتحصوها، او د بندګانو مخالفتونه تر اندازه وتلي دي او خداى ﷻ پر انتقام اختلو د قدرت څښتن دى. بخاري او مسلم چې په شپځانو سره شهرت لري په لږ قصې د افک داسې ويلي دي چې هغه وخت چې دا آيت نازل سو: الا تحبون؟ ابوبکر ؓ وويل بلى والله اني احب ان يغفرلي ربي. او نفقه د مسطح يې جاري وساتل او داسې يې وويل والله لا انزعها عنه ابدًا. قسم مې په خداى دى چې زه نه قطع کوم نفقه خپله له مسطح څخه تر ابده يعنې چې زه ژوندى يم او دى ژوندى وي.

وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲﴾

او خداى ﷻ بخښونکى او مهربان دى.

پوه سه: چې دوارې صيغې د مبالغې دي اى کامل المغفرة وتام الرحمة دى. بيت... من کان يرجو عفو من فوقه..... فليعف عن ذنب الذي دونه

اِنَّ الَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ الْغٰفِلٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

په تحقيق هغه کسان چې نسبت کوي د زنى و پاکو بنځو ته (الغافلات) چې دوى غافله وي له فاحشه څخه چې هرګز يې فاحشه په زړو کې نه وي واقع سوې (المؤمنات) چې ايمان يې پر خداى او پر رسول وي.

پوه سه: چې اصل د رمي ويشتل دي د يو چا په کلک شي سره لکه کانى وغيره لکن چونکه په کلک شي ويشتلو سره بدن خوږيږي او په نسبت سره د زنى وپاکې بنځې ته ددې روح او زړه خوږيږي فلهذا اطلق الرمي على نسبة الزنى الى المرئة العفيفة فافهم.

لُعِنُوْا فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۳﴾

پر دوى لعنت کړل سوى دى يعنې له جانبه د خداى ﷻ په دنيا او آخرت کې په سبب ددې چې طعن کذبًا يې ووايه پر عفيفه بنځه باندې، او دوى لره عذاب دى لوى په اور کې د جهنم.

درويش وايي: وهذا حكم كل قاذف قذف محصنة اى عفيفة پاکه له زنى څخه چې مؤمنه هم وي او غافله هم وي يعنې په زړه کې يې د زنى خيال نه وي ورګرځېدلى، او هغه آيت چې خداى ﷻ وايي: والذين يرمون المحصنت ثم لم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاتوا باربعة شهدآء فاجلدوا الآیة وعدم قبول شهادتهم ابدًا حکم دی د هر قاذف سواءٌ کان في قذفه صادقًا لکن لم یجد الشهود او کاذبًا ایضًا واللعن مختص بمن قذف کاذبًا، ولي چي مقذوفه غافله ده بالکیة قلبًا له زنی څخه چي ودې ته قاذف نسبت وکړی فان جریمة هذا القاذف اعظم واکبر.

پوښتنه: د لعنت معنی داده چي دی یعني قاذف نو کافر سو؟

ځواب: یا هیڅ کله یې دا معنی نه ده، ولي لعنت په بعض کبائرو ګنهو کي هم راغلی دی چي تر کفر کمي دي کقتل النفس المؤمنة عمدًا، او مقاتل وایي چي دا لعنت خاص دی په عبدالله بن ابي واصحابه کي، دده غرض دادی چي لعنت خاص په کفارو دی ولي چي د علماؤ اختلاف دی په لعنت کي د یزید بن معاویة قاتل الحسین ؓ یعني کان یزید آمرًا لقتله وان کان مباشر القتل عبید الله بن زیاد، بعض علماء وایي چي لعنت نه دی پر روا لانه مؤمن غایته انه ارتکب ذنبًا کبیرًا في الغایة، او بعض علماء په دې لعنت کي توقف کوي، او علامه ثاني سعد الدین التفتازاني ؒ هم لعنت پر روا بولي بناء پر کفر دده بولي حیث قال في شرح العقائد ونحن لا نتوقف في شانه بل في ایمانه فلعنة الله علیه واعوانه، او بعض علماء وایي چي لعنت خاص دی په قذف پوري د عائشې ؓ له دې سببه نه چي قاذفین د عائشې ؓ ټوله کافران دي ولیس بشئ لان فیهم مسطح بن اثاثة وحمنة وحسان بن ثابت عند بعض المفسرین وهؤلاء لا ریب في ایمانهم، او له ابن عباس ؓ څخه روایت دی اللعنة مخصوص بقذف عائشة وسائر ازواج رسول الله ﷺ خاصةٌ لیس لهذا القاذف من توبة لکن من قذف امرئة مؤمنة غیر ازواج النبي ﷺ کما في هذه الآیة ان الذین یرمون الآیة الی قوله تعالی الا الذین تابوا، فجعل لهؤلاء التوبة ولم یجعل لاؤلائک یعني د عائشې ؓ قاذفانو لره توبه، بعض مفسرین وایي چي عبرت عموم لره د لفظ دی خصوص لره د سبب نه دی چي دا آیت یعني ان الذین یرمون آه په شان کي د قذف د عائشې ؓ وقیاس سائر ازواجه ؓ علیها، نو ددې مفسر غرض دادی چي دا آیت عام دی، لکن لعنت مخصوص په کافر پوري نه دی لورود اللعنة کما مر في قاتل المؤمن عمدًا مع انه لیس بکافر بهذه الکبیرة یعني قتل المؤمن عمدًا والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: په دې آیت کې یعني ان الذین یرمون الآیة ذکر د مغفرت او د توبې نه دی کړل سوی؟

خواب: عدم ذکر د توبې او مغفرت خو مستلزم نه دی عدم قبول التوبة وعدم المغفرة، ولې چې ددې آیت د قاذفینو قبول د توبې او مغفرت تر هغه عام آیت قرآني لاندې دی قال عز من قائل ان الله لایغفر ان یشرک به (یعني اذا مات علی الشرک) ویغفر مادون ذالک لمن یشاء (یعني ولو مات بلا توبة).

درویش وایي: چې صاحب د روح البیان وایي والمراد بها عایشة رضي الله عنها رمي لسائر امهات المؤمنین رضي الله عنهن لاشتراک الکل في العصمة والنزاهة عن ارتکاب الزنی.

درویش وایي: چې جواب سابق آنفًا داهم تائید کوي چې په افک د عائشه رضي الله عنها او مسطح او په ښزد بعض اهل الحدیث حسان بن ثابت رضي الله عنهم ؤ او دوی تولو توبه وکښل، نو که د قاذف د عائشه رضي الله عنها توبه نه قبلېدای او دوی ته دا معلومه وایي نو یې ولې توبه کښل څه فائده؟

المحاکمة بین المتخاصمین في جزاء قذف عائشه رضي الله عنها بل سائر امهات المؤمنین چې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی کما مر قریبًا چې د قاذف د عائشه رضي الله عنها بلکې د نورو ازواجو مطهراتو د علیه الصلوة والسلام ورضی الله عنهن توبه نه قبلېږي. او په منځ کې د هغو کسانو چې د قاذف د عائشه رضي الله عنها توبه قبلېږي کما تاب حسان بن ثابت رضي الله عنه ومسطح بن اثاثه رضي الله عنه وحمنة. فتاب علیهم یعني قبل توبتهم داده چې هغه کسان چې وایي چې توبه یې قبلېږي دغه آیت ته ګوره چې په اول کې د سورت تپر سو (والذین یرمون المحصنات الی ان قال في اخیرها الا الذین تابوا الی ان قال فان الله غفور رحیم) ولې چې دا آیت عام دی، یا و هغه آیت ته وګورئ (ان الله لایغفر ان یشرک الآیة کما مر آنفًا، او هغه څوک چې وایي چې د قاذف د عائشه رضي الله عنها توبه نسته کما روی عن ابن عباس رضي الله عنهما وغیره هغه خارج مخرج المبالغة دی في تعظیم الامر في افک عائشة وسائر امهات المؤمنین رضي الله عنهن.

درویش وایي: وهذه المحاکمة قد ذکرها العلامة الآلوسي البغدادي رحمه الله في روح المعاني ولمثل هذه المبالغة نظائر في تحذیر الناس عن ترک بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العبادات، كما ورد في الحديث لاصلوت لجار المسجد الا في المسجد. وورد ايضًا لاصلوة لمن لازكوة له، و ورد ايضًا لا وضوء لمن لم يسم (يعني چې په ابتداء کې د اوداسه بسم الله ونه وايي) الى غير ذالک مما يطول بذكرها الكلام.

يَوْمَ تَشْهَدُ عَلَيْهِمْ اَلْسِنَتُهُمْ وَاَيْدِيْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ بِمَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝

هغه ورځ چې شاهدي به اداء کوي پر کافرانو او منافقانو چې د ماقبل آيتو څخه وفهمېدل ژبې ددوی او لاسونه ددوی او پښې ددوی په هغه څه چې دوی وو په دنيا کې هغه کارونه يې کوله.

پوه سه: چې يوم ظرف دی د معنی د استقرار چې له مجرور مقدم څخه وفهمېدی يعني قوله فلهم لا لعذاب كما قال به الحوقي لان عذاب مصدر موصوف بعظيم وفي اعمال المصدر الموصوف اختلاف (تشهد) يعني اختيارًا منهم او دا شاهدي دمخه تر هغه ده چې ددوی پر خولو مهر وهل کېږي فلا تعارض بين هذا وبين قوله تعالى اليوم نختم على افواههم.

پوه سه: چې ابن جرير او ابن ابی حاتم له ابی موسی الاشعري ؓ څخه داسي روايت کړی دی چې مسلمان لپاره د حساب په ورځ د قيامت ورطلب کړل سي، نو خدای ﷻ ورته ورپېش کړي عمل دده فيما بينه تعالى وبينه، نو مؤمن اقرار په عملو او ګنهو وکړي او بنده ورته ووايي عملت عملت يا رب فيغفر الله ذنوبه او هغه ګنهوله دده پټ کړي فما على الارض (اى ارض القيامة) خليقة يرى من تلك الذنوب شيئًا او ښکاره کې حسنات دده (يعني يعطى كتاب حسناته) فيرون الناس كلهم حسناته (ودې ته حساب يسير وايي كما ورد في الاحاديث النبوية) اللهم اجعلنا منهم، واما الكافر والمنافق فيدعى للحساب، نو خدای ﷻ ورپېش کړي عمل دده يعني کفر او شرک او نفاق او معاصي دده. دی پر هغو ټولو منکر سي او داسي ووايي لقد كتب علي هذا الملك مالم اعمل يعني حفظه په ما پسي ناحقه دا اعمال ليکلي دي، ملک ورته ووايي اما عملت كذا وكذا وكذا في يوم كذا وكذا في مكان كذا وكذا، فيقول منافق او كافر لا وعزتک فاذا فعل ذالک پر خوله يې مهر وولګوي يعني ژبه يې وربنده کړي، ابو موسی الاشعري ؓ وايي چې زما ګمان دادی چې اول راسته وروڼ شاهدي پر اداء کړي يعني د زټی او لواطت، وروسته ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی ﷺ دغه آیت ووایه الیوم نختم علی افواههم الی اخیرها، او په بل روایت فخذه من الرجل الشمال، ولامنافات بین شهادة الفخذ الیمنی والشمال لان کلیهما یشهدان علیه، وفي روایة فخذه وکفه ولم یعترف بما فیه وجحد وخاصم فیشهد علیه جوارحه بسیئاته (یعني شاهدي چي اداء کوي اعضاء د سړي هغه پر هغه چا دي چي عملنامه ووایي دی اقرار د مکتوب په لیکلو نه کوي او منکر سي او د حفظه کرام سره جدال شروع کړي، نو باره پر هغه د اعضاء دده په ګنهو سره په هر عضوه چي ګناه کړې وه هغه عضوه پر ده شاهدي اداء کړي.

دروښ وایي: چي احوال د قیامت غالبًا تر عقل لوړ دي کشهادة الجوارح بالمعاصي والسیئات لکن لما نطق بها الکلام المعجز لابد من الایمان بها لانه تعالی علی کل شیئ قدیر لان من انطق اللسان في الدنیا بالنطق المظهر عما في الجنان مع انه لحم صرف یقدر علی ان ینطق الفخذ والکف وکلما جاء في الأحادیث الشریفة بما فعل من السیئات والمعاصي.

یَوْمَئِذٍ یُّوَفِّیْهِمُ اللّٰهُ دِیْنَهُمُ الْحَقَّ وَیَعْلَمُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِیْنُ ﴿۲۵﴾

په دغه ورځ به پوره ورکړي خدای ﷻ دوی ته جزاء د عملو ددوی چي حق او واجب وي، او بعض مفسرین وایي چي د حق معنی عدل ده.

دروښ وایي: چي ددې دوو ترجمو مآل ویوه شي ته دی، ولي چي د واجب معنی داده چي د ګناه سره مناسب وي هغه جزاء حتمًا ورکول کیږي وهو معنی العدل، فافهم ولا تظنن الوجوب علیه تعالی، او ددوی به یقین سي چي خدای ﷻ حق او ثابت دی یعني موجود واجب الوجود دی یا ذو الحق المبین ای الظاهر عدله او هغه توهمات د دهیره ژبه دفع سي چي دوی د صانع الواجب له وجود څخه منکروه او استناد د امور د دنیا یې و دهر ته کاوه یعني الحیوة والموت والفقر والغنی والعزة والذلة ټوله د دهر او زماني کار دی هیڅ صانع نسته.

دروښ وایي: چي وهذا انکار منهم عن الامر البدهي الاولی کما ثبت في مقره.

اَلْخَبِیْثٰتُ لِلْخَبِیْثِیْنَ وَالْخَبِیْثُوْنَ لِلْخَبِیْثٰتِ ۚ وَالطَّیِّبٰتُ لِلطَّیِّبِیْنَ وَالطَّیِّبُوْنَ لِلطَّیِّبٰتِ ۚ

پوه سه: چي دا کلام مستانف په برائت کي د عائشه ﵂ له فحشاء څخه بنایې پر عرف ده.. بیت:... کند هم جنس با هم جنس پرواز .... کبوتر با کبوتر باز با باز

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حتى ورد في الحديث ان الله يسوق الاهل الى الاهل.

دروېش وايي: چي روح المعاني او روح البيان اول تفسير ددې آيت داسي کړی دی چي خبيثات له ښځو څخه ای الزانيات د خبيث نرانو دي يعني زنا کارانو لره، لکه ابن ابی المنافق چي ماينديې انيه وه او دی ديوث ؤ په خبر هم ؤ، او ناپاکی کسان نر د ناپاکو ښځو لپاره دي، او پاکي ښځي له زنی څخه لکه عائشه رضي الله عنها د پاکو خلګو لپاره دي لکه رسول الله ﷺ، او پاک خلک لکه رسول الله ﷺ د پاکو ښځو لپاره دي لکه عائشه رضي الله عنها، نو له دې آيت څخه دا ثابته سوه چي چونکه رسول الله ﷺ اطيب الاطيبين دی و خير الاولين و الاخرين دی تبين کون الصديقة عائشة رضي الله عنها اطيب الطيبات بالضرورة و انتفع بطلان مافيها من الخرافات كما قال الله ﷻ.

أُولَٰئِكَ مُبَرَّءُونَ مِمَّا يَقُولُونَ ۖ

پوه سه: چي اشاره په اؤلئک کي و اهل النبوي ۴ ته ده رجالاً و نساءً او په هغو کي صديقه عائشه رضي الله عنها په دخول اولی پکښي داخله ده، او بعض وايي چي اشاره: اولئک وه رسول الله ﷺ او عائشه رضي الله عنها او صفوان رضي الله عنه ته ده يعني دغه کسان پر هر تقدير پاک دي د مايقول اهل الافک في حقهم من الاکاذيب الباطلة، روح المعاني وايي چي دمخه آيت پر هر تقدير مبني دی پر تغليب يعني العادة الاکثرية هي کما ذکر في الآية لکن يتحلف في بعض المواد، او مظهري وايي چي اکثرو مفسرينو معنی د آيت داسي کړې ده (دروېش وايي چي دا تفسير چي مظهري يې قول د اکثرو مفسرينو بولي روح المعاني او روح البيان په لفظ د قيل راوړی دی، نو زه نه پوهيږم چي د اکثرو مفسرينو څخه د مظهري خوک مراد دي؟!) چي خبيثات د خبرو يعني کلمات الذم والتحقير والشتم ونحو ذالک مستحق يې خبيث کسان دي لکه ابن ابی او دده ملګري، او خبيث د خلګو لکه ابن ابی مستحق د ذم او تحقير دي، او طيبات د خبرو من المدح والثناء والدعاء مستحق يې طيبون دي لکه عائشه رضي الله عنها او صفوان رضي الله عنه، او طيبون کسان مستحق دي د طيبانو خبرو فعائشة رضي الله عنها مستحق د ثناء او د الصلوة والسلام او د دعاء ده دون ماقيل فيها من الافک، او دغه کسان يعني عائشه رضي الله عنها وامثالها من اهل البيت النبوة پاک دي مما يقولون چي خلګ خبري کوي په دوی کي بالکلية يعني اهل الافک من الکلمات الخبيثة من الفحشاء والمنکر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي زجاج رح وپر بنائسته، شامل او په زړه پوري تفسير کړی دی: وايي چي خبيثات د خبرو لکه کلمه د کفر والکذب وسب الصحابة وسب اهل بيت النبوة وقذف المحصنات والبهتان وامثال ذالک د خلکو خبيثان يې کوي، لکه ابن أبی واصحابه لايتكلم بها الطيبون. او خبيثان د خلکو جبلوا وخلقوا لتلک الكلمات الخبيثة، والطيبات من الكلمات كذكر الله وتلاوة القرآن والصلوة والسلام على النبي واهل بيته والدعاء بالمغفرة للمؤمنين والمؤمنات الى غير ذالک خداى ﷻ اسانه کړي دي للطيبين من الناس والطيبون من الناس خداى ﷻ پيدا کړي دي مستعدين لتلک الكلمات الطيبات. اولئک يعني الطيبون من الناس كعائشة وسائر الازواج المطهرات رضی الله عنهن وايضًا صفوان رض مبرون من جميع القبائح التي قالها اهل الافک.

نتيجه: فهو ذم للقاذفين ومدح للذين برئهم الله تعالى، لنه هند بن ابي هالة رض څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وويل ان الله ابى عن اتزوج چي زه به نکاح کوم، او أزوج او يا به زه په نکاح ورکوم خپل لور (يعني بعد النبوة فلا يرد مايتوهم) الا اهل الجنة رواه ابن عساکر رح.

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ۝

دوی يعني عائشه رض وامثالها من المؤمنين الطيبين والمؤمنات الطيبات بخبه د کنهو ده او بنه رزق دی يعني في الجنة يوم القيامة. مسروق چي به روايت کاوه له عائشې رضی الله عنها څخه داسي به يې ويله حدثتني الصديقة ابنت الصديق حبيبة رسول الله ﷺ، وقال البيضاوي رح لو فتشت وعيدات القرآن لم تجد اغلظ مما نزل في افک عائشة رض (که تلاش وکړئ د عذابو چي په قرآن کي د ګناه کارانو لپاره ذکر سوي دي، نه به کړئ پيدا سخت تر هغه وعيد چي په شان کي د قاذفانو د عائشه رض ذکر سوي دي.

درويش وايي: چي هغه وخت چي ام المؤمنين خديجة الكبرى رضی الله عنها وفات سوه (چي د آنحضرت ﷺ تولې اولادونه که نر دي او که ښځي د دغي بي بي صاحبې له نسل څخه دي، سوی له ابراهيم چي د ماريه رض له نسل څخه وُ) نو د عليه الصلوة والسلام فکر په بله کوزده کي وُ، نو په بخاري او مسلم کي له عائشې رضی الله عنها څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت دی چي علیه الصلوة والسلام ما ته وویل چي ته درې شپې پرله پسې په خوب کي په ما ولیدل سوې چي ملکو به په ورښمینه توپه کي پیچلي وې، نو ملکو به ماته وویل چي دا ستا زوجه ده فکشفت عن وجهک الثوب فاذا هي انت، نو علیه الصلوة والسلام وویل چي که دا خوبونه د خدای ﷻ له خوا وي خدای دې اجراء وکړي، عن عائشة ؓ قالت قال رسول الله ﷺ هذا جبرئیل پر تا سلام وایي، قلت وعلیه السلام ورحمة الله وهو یرئی ما لا اری (ده هغه څوک لیدی چي ما نه لیدی یعني جبرئیل ؑ) محي السنة بغوي ؒ وایي چي عائشې ؓ به فخر په خوشیه سره کاوه چي دې ته ورکړل سوي وه چي بلي بنځي ته له ازواجو مطهراتو څخه نه وه ورکړل سوي (۱) هغه د خوب د لیدلو قصه چي عنقریب تپره سوه (۲) علیه الصلوة والسلام بله باکره بنځه نه ده په نکاح کړې بله عائشې ؓ (خدیجة الکبرئی وسائر ازواج ؓ ټوله کونډیاني علیه الصلوة والسلام په نکاح کړې دي) (۳) علیه الصلوة والسلام چي وفات کېدی سر مبارک یې د عائشې ؓ په غېږ کي وُ (۴) قبر انور د علیه الصلوة والسلام ددې مبارکې په حجره کي دی (۵) علیه الصلوة والسلام به ددې سره په یوه لحاف کي پروت وُ وحي به ورته راتلې، او د نورو ازواجو مطهراتو دا حال نه وُ (۶) ونزلت برائتها من السماء، یعني په وحي قرآني سره کما مر تفصیلاً (۷) دا د رسول الله ﷺ د خلیفه اول لور وه یعني ابوبکر الصدیق ؓ (۸) دا صدیقه طیبه وه (۹) ددې سره وعده د مغفرت او رزق کریم په قرآن کي کړل سوی کما مر.

دروښ وایي: چي که زه ټوله مناقب د سیدتنا عائشه ؓ ذکر کوم ډېرې اوراقي ددې تفسیر به په پره کي ونسي..... بیت:

تا طبع شریفت نه پزیرد ملالتی ..... آن به که نامه را بدعاء مختصر کنم

دروښ وایي: چي مذکوره مناقب خو ددې شخصي مناقب وه لکن مع هذا په اتفاق اراء عائشه ؓ فقیهة الامت وه، حتی چي له ابو موسی الاشعري ؓ څخه روایت دی چي پر موږ اصحابو د علیه الصلوة والسلام یوه مشکله مسئله نه ده راغلې چي په هغه کي موږ رجوع و عائشې ؓ ته نه وي کړې او ددې سره سره ټوله هغې څخه ددې مشکلې مسئلې حل نه وي موندلی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: تاریخ خبري کوي او وایي: چې الحسن بن زیاد بن یزید الساعي چې له اهل څخه د طبرستان وۀ او ډېر مالدار او رئیس د قوم وۀ چې په خپله به یې د وړیو کالي اغوستل او نوکران او مریان یې درلودل او امر بالمعروف یې هم کاوه او هر کال به ده شل زره طلا وي بغداد ته استولې چې پر اولاد د صحابه کرامو ؓ چې په بغداد کې مقیم وه وېشل کېدلې. یوه ورځ ده ته یو علوي راغلی یعنې چې د حضرت علي ؓ له اولادې څخه وۀ، لکن وروسته تر وفات د فاطمة الزهراء ؓ چې علي ؓ بله مانینه وکړه ودې کسانو ته علوي وایي، نو هغه علوي ذکر د عائشې ؓ په بد نامه وکړی. الحسن المذکور و مریي ته وویل یا غلام اضرب عنق هذا (یعنې سر یې په توره غوڅ کړه) نور علویان چې د حسن ؒ په مجلس کې حاضر وه حسن ؒ ته یې وویل هذا رجل من شیعتنا (یعنې دا زموږ د علویانو د ډلې سړی دی) ده ورته وویل معاذ الله هذا طعن علی رسول الله ﷺ فان کانت عائشة ؓ خبیثة کان زوجها ایضًا کذالک.

دروېش وایي: کما مر في القرآن الخبیثات للخبیثین وحاشاه ﷺ من ذالک بل هو ﷺ طیب وطاهر و عائشة طیبة طاهرة چې مبرء وه په وحي اسماني سره، وروسته بیا حسن ؒ و مریي ته وویل یا غلام اضرب عنق هذا الکافر فضرب عنقه انتهی.

دروېش وایي: چې یوه مبتدعه ډله چې په نامه د خوارجو یاد ېږي دا قصه د افک د عائشه ؓ په ډېر شد ومد ه سره رشتیا بولي. نو دا ډله ټوله کافران دي من قدر علیهم قتلهم وهم کلاب جهنم لانهم منکرون من صریح الآیات النازلة في براءة عائشة ؓ اعاذنا الله من ذالک.

فائده: له انس بن مالک ؓ څخه روایت دی چې د سیدتنا عایشة ؓ برائة چې نازل سو، دا وایي چې د غم په څپو کې زه یوه شپه نهایته وډېر او تږې وم په حال کې د فکر وهلو په درياب کې د خوب غرقه سوم بلا اختیاره، یو غیبي زېبا ځوان مي په خوب ولیدی ماته یې وویل مالک؟ څه حال دي دی فقلت حزینة مما ذکر الناس، ما ورته وویل غمجنه یم د خلګو له خبرو څخه چې زما په باره کې یې کوي، دې ځوان راته وویل چې ته دغه دعاء وکړه خدای ﷻ به دي غم دفع کړي، دعاء داده:

یا سابغ النعم ویا دافع النقم ویا فارج الغمم ویا کاشف الظلم یا اعدل من حکم یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَسْبُ مَنْ ظَلَمَ يَا اَوَّلُ بِدَائَةٍ وَيَا آخِرُ بِلَا نِهَايَةٍ مَنْ لَهُ اِسْمٌ بِلَا كُنْيَةٍ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لِّيْ مِنْ اَمْـرِيْ فَرَجًا وَّمَخْرَجًا، دا وايي چې زه د خوب له دريابه پر سر سوم، نو ډېره وېرې بيده سوې وم ډېره مړه راپاڅېدم او ډېره تږې په دريابكي د خوب لوېدلې وم يكلخته مي تنده ماته سوې وه. او ټډې چې ما هغه د خوب دعاء وكړه زما برائت په قرآني آياتو كې نازل سو.

دروښ وايي: چې دې دعاء ته دعاء الفرج وايي په حال كې د كرب او غم هر سړی كولای سي چې وه يې وايي. ما اعراب يعني زېر و زور وركړه كه څه هم په منقول منه كې نه وه تاچې څوك چې يې وايي پر صحيح ډول به يې وايي لان المعاني تتبدل باعتبار ابدال الحركات والسكنات.

پوه سه: چې دا دعاء په تاريخ بغداد كې راغلې ده.

فريابي او ابن جرير له عدي بن ثابت ؓ څخه روايت كړی دی چې د انصارو يوه ښځه راغله دې وويل يا رسول الله زه ګاهي په خپل كور كې پر داسي حال يم چې پر دغه حال دي ما يو څوك ووينې يعني هغه اعضاء مي ښكاره وي چې ستر يې لازم وي او زما د قريبانو زما كور ته بېله اجازې راسي او زه پر هغه حال غير مناسب يم نو زه څه چم وكړم، نو دا آيت نازل سو.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ بُيُوْتِكُمْ حَتّٰى تَسْتَاْنِسُوْا

اې هغه كسانو چې ايمان يې راوړی دی تاسي مه تنوځئ په كورو يعني دبل چا ماسوا د خپلو كورو څخه. الاضافت لملابسة السكنى يعني تاسي پكښې اوسېږئ لا للملك ددې لپاره نه ده چې ستا ملك وي كه څه كرايه والا پكښې اوسېږي يا ده په عاريت چا ته وركړی وي. ولي چې مؤجر او معير كور ته هم دخول بغير الاجازة د اوسېدونكي سړي ته روا نه دی (حتى تستانسوا) يعني تر هغه چې تاسي طلب د اجازې د ساكن الدار څخه نه وي اخستې.

پوښتنه: استيناس خو طلب ته د الفت وايي نو تا يې ولي ترجمه په طلب د اجازې سره وكړه؟

ځواب: په سبب ددې چې له ابن عباس ؓ په قرائت حتى تستاذنوا راغلى دى وكذالك يقرء ابي بن كعب ؓ.

پوه سه: چې اُنس ضد د وحشت دی او ابصار او احساس او علم ته هم وايي، له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابو ایوب ؓ څخه روایت دی قلت یا رسول الله ﷺ هذا السلام، یعني د سلام معنی خو راته معلومه ده د استیناس معنی څه ده؟ علیه الصلوة والسلام راته وویل چي اجازه غوښتونکی دي یا سبحان الله ووایي یا الحمدلله یا دي وتو خېږي، نو اهل بیت به اجازه ورکړي د دخول.

وَتُسَلِّمُوا عَلٰٓى اَهْلِهَا

او سلام ووایاست پر اهل د بیوتو یعني چي پکښي اوسېږي یعني یقول السلام علیکم ورحمة الله.

دروښ وایي: چي سلام ته سلام د استیذان وایي یعني طلب الاذن، نو که کور والا اجازه د دخول ورکړه، نو دی چي ورسي هوړې به سلام وایي هغه ته سلام د تحیة وایي او بیا چي ځنډي راوځي بل سلام به وایي چي دې ته سلام الوداع وایي فتذکر.

مسئله: که د یو کور سړي په چا پسي سړی واستاوه چي زموږ کره راسه او هغه سړی د استولي سړي سره یو ځای راغلی بیا استیذان ته ضرورت نسته، په حدیث کي د ابو هریره ؓ چي روایت یې ابو داؤد کړی دی راغلي دي ان رسول الله ﷺ قال اذا دعي احدکم فجاء مع الرسول فان ذالک له اذن.

پوښتنه: یو سړی د مور کور ته ورځي چي یو ازي مور یې په هغه کور کي اوسېږي. آیا د اجازې غوښتنې ته ضرورت سته؟

ځواب: نعم ولي چي د عطاء بن یسار ځخه روایت دی چي یو سړي علیه الصلوة والسلام ته ووېل چي د مور کور ته ورځم هم به اجازه غواړم؟ علیه الصلوة والسلام ورته ووېل استاذن علیها، هغه سړي ورته ووېل چي زه د مور خادم یم، یعني هر کړی وځم ننو ځم، علیه الصلوة والسلام ورته ووېل استاذن علیها اتحب ان تراها عریانة. قال ؓ لا قال علیه السلام فاستاذن علیها، رواه مالک.

فائده: د استیذان پر محرماتو لکه مور، خور وغیرهما من المحرمات معنی داده چي سړی وړځي یا دي غاړې په زوره تازه کړي یا دي په چوتو تربې وکړي، یا دي لو نارې وکړي او دې چېرې یې، نو که دا ټې ستړه وه چاپک به ځان سنبال کړي، له انس ؓ خادم رسول الله ﷺ ځخه روایت دی قال ان رسول الله ﷺ قال لي یا بني اذا دخلت علی اهلک (یعني مایني ته) نو سلام وماینې ته کوه، په پښتنو کي تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عوامو ترخواصو پوري مايني ته سلام ښځي ناروا جه دی، بلکي مېړه چي راسي پداولو کلو کي د واده مايند ولاړ وي او مېړه ته سلام وايي. او چي څو کلونه تېر سي بيا يو بل ته سلام نه وايي. البته کا مايند د پلار کره تللې وه مثلاً چي راسي کور ته مېړه ته سلام وايي.

الاختلاف: بعض علماء وايي چي استيذان دي تر سلام دمخه وي، ولي چي په قرآن کريم کي استيذان تر سلام دمخه دی، لکن دا تقدم لفظي علت د تقدم فعلي نه کرځي لان کلمة الواو العاطفة لمطلق الجمع يعني لا للترتيب. او سره د دې چي په مصحف کي د ابن مسعود ؓ داسي راغلي دي حتى تسلموا على اهلها وتستاذنوا. او د اکثرو علماؤ رايه داده چي سلام تر استيذان دمخه دی، لحديث كلدة بن حنبل ؓ قال دخلت على النبي ﷺ نه مي سلام ويلى يعني قبل الدخول او نه مي اذن غوښتی دی. نو عليه الصلوة والسلام راته وويل ارجع (ووځه) فقل السلام عليكم اءدخل. رواه ابو داؤد والترمذي. او د جابر ؓ څخه روايت دی چي نبي عليه السلام وويل لا تاذنوا لمن لم يبدء بالسلام رواه البيهقي.

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿۲۸﴾

دا دخول بالسلام والاستيذان بهتر دی تاسي لره تر دخول نابېره، چي په عربي بغته ورته وايي او په اردو اچانک ورته وايي. شايد چي تاسي به د قرآن له وعظ څخه عملي پند واخلئ.

فَإِن لَّمْ تَجِدُوا فِيهَا أَحَدًا فَلَا تَدْخُلُوهَا حَتَّىٰ يُؤْذَنَ لَكُمْ ۖ

که تاسي نه کړی پيدا په هغو بيو تو کي چي تاسي دخول غوښتی هيڅ څوک چي تاسي ته اجازه درکړي، نو هم مه داخليږئ تر هغو پوري چي اجازه درکول کيږي، ولي چي امکان لري چي په کور کي به نر نه وي چي اجازه درکړي ښځه چي نامحرمه وي د دخول اجازه نه لري يا دي مېړه او مايند او اهل بيت دي تو له بيده وي لکه د روژې په مياشت کي د سهار تر لمانځه وروسته چي هغه ملا خړ د سهار لمونځ په سپيدو کي کوي تو له کور والا بيدېږي تر څابښت پوري الى غير ذالك من موانع الاذن.

مسئله: که په يو کور کي يو خوني يا منا اور واخستی يا غله ورلوېدلي وه چي د استغاثې نارې د کوره وهل کېدې فلا حاجة الى الاستيذان لان الحال تدل على الاستيذان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ

او که تاسي ته وویل سول د کور والاد طرفه چي ولاړ سئ پس بلا درنکه ولاړ سئ یعني پر دخول ډ پر تینګار مه کوئ. دغه رجوع ستاسي لپاره ښه کار دی تر الحاح في الدخول او یا په دروازه کي وروسته تر جواب د ارجعوا ولاړیې، ولي چي دا وقوف پر صاحب الدار تکلیف دی او بل د مروت او غیرت څخه خلاف کار دی. علماء وایي چي دا خو امر د رجوع په قول سره او بعض وخت امر د رجوع بالحال هغه دا چي درې واره سړی طلب د اذن وکړي له کوره هیڅ جواب د لا یا نعم نه راووتی، نو دا حال دلالت پر دې کوي چي ولاړ سه. له انس ؓ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د سعد بن عباده ؓ کور ته ورغلی د استیذان لپاره یې داسي وویل السلام علیکم ورحمة الله، سعد به کرار وویل چي په علیه الصلوة والسلام یې نه اوریدل وعلیکم السلام ورحمة الله، خو علیه الصلوة والسلام درې واره سلام د استیذان ووایه جواب یې نه واوریدی، نو راهي سو. سعد بن عباده ؓ پسي راووتی فقال یا رسول الله بابي انت وامي ما سلمت تسلیمة الا هي في اذني او ما یه هم جواب درکاوه لکن جواب مې پدتا نه اوریدی له دې کبله اني احببت ان استکثر من سلامک البرکة ودعاء الرحمة. بیا د سعد کور ته سره ولاړو هغه وځکي ورته کښېښولې او علیه الصلوة والسلام وخوړلې. په اخیر کي یې ورته ووېل اکل طعامکم الابرار وصلت علیکم الملائکة وافطر عندکم الصائمون (شاید د علیه الصلوة والسلام نفلي زړوه وه) رواه البغوي في شرح السنة.

مسئله: که یو سړی ورسي د بل چا کور ته او استیذان ونه کړي بلکې په دروازه کي منتظر ورته ناست وي تاچي صاحب البیت طبعًا راوځي، نو به خپل مطلب خندي حاصل کړي دا روا ده او ډېره زېبا ده او د صاحب البیت احترام کول دي، ولي چي ابن عباس ؓ د یو انصاري کور ته ورتلی لپاره د طلب د بعض احادیثو نبویه وو نو به په دروازه کي ناست ؤ حتی چي هغه انصاري به طبعًا راووتی ابن عباس ؓ به یې ولیدی داسي به یې ورته ووېل یا ابن عم رسول الله ﷺ کاشکي زه دي په خپل راتګ خبر ولای یعني بالاستیذان یا بالسلام او بقرع الباب ابن عباس ؓ ورته ووېل چي مونږ دغسي امر کړل سوي یو چي سړی یعني صاحب البیت او خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طبعیت به سره پریږدو هر وخت چې راووتی تر هغو به انتظار وکړته کوي یعني علیه الصلوة والسلام مورته دا امر راکړی دی. د ابن عباس ؓ د خبرې سند دا حدیث هم کېدای سي: ولو انهم صبروا حتی تخرج الیهم لکان خیراً لهم.

مسئله: که د چا کور ته یو سړی ورسي د یو کار لپاره که پر دروازه پرده ځړېدل، نو مخامخ و پردې ته دي نه درېږي. یو بغل ته دي ودرېږي او طلب د اذن دي وکړي. او که دروازه تړلې وه د دروازې تر چوله دي د صاحب البیت کور ته ننه ګوري، په حدیث کې د عبدالله بن بشر ؓ څخه داسي راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام چې به د چا دروازې ته ورغلی مخامخ درزاې ته نه درېدی، بلکې یا پر راسته یا پر چپه جانب د دروازې به درېدی فیقول السلام علیکم یعني الاستیذان، راوي وایي چې په هغه وخت کې پر دروازو پردې نه وې. رواه ابو داؤد.

وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ عَلِيْمٌ ﴿۲۹﴾

شان نزول: ابن ابی حاتم له مقاتل بن حیان ؒ څخه روایت کړی دی چې دا آیت د استیذان في البیوت چې نازل سو. ابوبکر ؓ وویل یا رسول الله ﷺ فکیف بتجار قریش الذین یختلفون بین مکة والمدینة والشام ولهم بیوت معلومة علی الطریق چې په پښتو کې یې پخوا ریاطونه بلل فکیف یستاذنون ولیس فیها سکان، فانزل الله ﷻ هذه الآیة.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا غَيْرَ مَسْكُوْنَةٍ فِيْهَا مَتَاعٌ لَّكُمْ

نسته پر تاسي ګناه په دې کې چې داخلېږئ یعني بغیر استیذان په داسي خونو چې څوک سکونت نه پکښې لري، چې په هغو خونو کې ستاسي یو منفعت وي یعني د شپې تېرول یا د ګرمي یا د باران څخه ځان پکښې ساتل.

پوه سه: چې دا جمله حال ده له بیوتا څخه، بغوي ؒ وایي چې په دې خونو کې اختلاف دی، بعض وایي چې دا هغه خوني او منازل دي چې خانات یې بولي، چې د قافلې والو لپاره جوړې سوي وي تا چې دوی په هغو خونو کې ځانونه او سامانونه خوندي کړي یا یوه شپه او ورځ یا زائده تر هغه په قدر د حاجت د قافلې والو. نو منفعت د غه مذکوره نزول او متاع پکښې خوندي کول بقدر الحاجة، نو ودې خاناتو (یا ریاطو) ته بېله استیذانه دخول روا دی. او ابن زید ؒ وایي چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددې خونو څخه مراد دکانو نه د تجارانو دي په بازارو کي چې خلک ورځي د بیع او شراء لپاره دغه منفعت دی. نو په دې دکانو د بازارو اسیتذان ته ضرورت نسته لانها معدة للبیع والشراء، ابراهیم نخعي ؒ وایي چې په دکانو کي د بازار اذن ته ضرورت نسته، او ابن سیرین ؒ وایي چې یو سړی چې یو دکان ته ورسي په بازرا کي دکاندار ته به السلام علیکم وایي، دکان دار ته به وایي اء دخل؟ که هغه اجازه ورکړه نو دي ورننوځي.

درویش وایي: چې وهذا الاستیذان خلاف العرف في جمیع حانات الاسواق في جمیع البلاد الا ان یقال کان ذالک عرفًا في زمن ابن سیرین ؒ في اسواقهم والله اعلم، او عطاء ؒ وایي چې دا هغه خرابه سرایونه دي چې خلک د بولو او غائطو لپاره ورځي.

وَاللّٰهُ یَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ۝

او خدای ﷻ خبر دی په هغه څه چې تاسي یې بنکاریا پټ کوئ یعني چې ستا څه غرض دی په دخول کي د بیت د بل، آیا اطلاع پر عوراتو د خلکو یعني د سړي د کور یا بنځي یا قالین وغیره یا دده عیش و عشرت وویني لپاره د فساد، دا خو د ماتکتمون معنی وه، او ماتبدون خو هغه دی چې دی وایي زما دا غرض وُ په دخول کي د بیت یعني الدار د فلان چې دده سره مي یوه مشوره کول.

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَیَحْفَظُوْا فُرُوْجَهُمْ ؕ

ووایه و مؤمنانو ته چې پټي دي کړي ستر کي د هغه چا د لیدلو څخه چې ده ته یې لیدل نا روا وي،

درویش وایي: چې دا شروع ده په بیان د احکام عامه وو چې شامل دي تولو مؤمنانو ته، یندرج فیها حکم المستاذنین عند دخلوهم البیوت اندراجًا اولیاء، او خطاب یې و علیه الصلوة والسلام ته متوجه کړی، له دې سببه چې دا احکام خبریه دي او کثیرة الوقوع دي، نو باید چې تفویض د هغو اومر او نواهي و داسي مهیمن اعظم او حافظ مکرم ته وسي لکه علیه الصلوة والسلام، د دې آیت شان نزول ابن مردویه ؒ د حضرت علي ؓ څخه په روایت داسي بیان کړی دی چې یو سړی په حیات کي د علیه الصلوة والسلام په یوه لاره کي د لارو د مدینې را روان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژبه هغو لارو کي يوه ښائسته ښځه را روانه وه. نو دې نر وښځي ته وکتل او ښځي ودې ته وکتل. نو شيطان دواړو ته په زړه کي وسوسه وروا چول چي ښه په ماړه نظر دي نه ورته وکتل، نو دا سړی روان دی سترګي يې په ښځه کي دي مخ ته يې فکر نسته چي ناګاه يې پزه له دې والله ومښتل او چاک سوه وينې پرې راايله سوې. د خانه سره يې وويل چي قسم په خدای ﷻ دی که زه دا وينې پاکي کړم چي په عليه الصلوة والسلام مي ليدلي نه وي، نو وينې يې له پزې څخه بهېږي چي عليه الصلوة والسلام ته ودرېدی او ټوله قصه يې ورته وکړه، عليه الصلوة والسلام ورته وويل هذا عقوبة ذنبک وانزل الله تعالى (قل للمؤمنين آه)

پوه سه: چي يغضوا صيغه د امر ده په حذف د لام الامر الغائب نحو ليضرب او کلمه د من زائده ده پر قول د الاخفش ؒ، ولي چي دی زيادت د من په کلام موجب کي هم روا بولي، کما في کتب النحو، او په نېږد سيبويه ؒ کلمه د من زائده نه ده ولي چي دی زيادت د من په کلام موجب کي روا نه بولي، نو دی وايي چي کلمه د من لپاره د تبعيض ده لان المؤمنين غير ما مورين بغض الابصار مطلقا بل بالغض عما لا يحل لهم النظر اليه، وفيه بحث لان كلمة من داخلة الابصار والتبعيض ليس في الابصار بل في فعل الابصار وهو النظر والجواب ان تبعيض النظر كانه تبعيض للبصر، او داسي دي څوک توهم نه کوي چي ابصار جمع د بصر ده په معنى مصدري يعني کتل، فالتبعيض في الابصار نفسها، ولي چي دلته ابصار چي مفرد يې بصر دی په معنى د عضو مخصوص ده لان الغض لايكون الا للعضو د دې سبېه روح البيان تفسير د غض داسي کړی دی: الغض اطباق الجفن بحيث يمنع الرؤية انتهى.

فائده: منهي عنه دويم وار په نامحرمه پسي کتل دي په اراده سره نه اول وار کتل بلا اختياري لحديث بريدة ؓ چي عليه الصلوة والسلام و علي ؓ ته وويل لا تتبع النظرة النظرة (ته تابع مه کړخوه يو وار کتل يعني دويم وار کتل د بل وار کتلو يعني اول وار) فان لک الاولى دون الآخرة، رواه احمد والترمذي وابو داؤد والدارمي ؒ، له ابي امامه ؓ څخه روايت دی عن النبي ﷺ قال ما من مسلم ينظر الى محاسن امرئة ثم يغض بصره الا احدث الله له عبادة يجد حلاوتها، رواه احمد، والمعنى والله اعلم چي خدای ﷻ به هغه ته د داسي عبادت توفيق ورکړي چي دی به يې په خوږوالي پوه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مفعول د قول محذوف دی، ولي چي جواب د امر یعني قل دلالت کوي وهو یغضوا ابصارهم.

(ویحفظوا فروجهم) ای ولیحفظوا چي دوی دي وساتي خپل اعضاء مخصوصه للجماع د ما لایحل لهم من الزنی واللواطة.

پوښتنه: دا آیت خو مطلق دی بېګانه او مایني دواړو ته شامل دی بلکې مینځي ته هم، نو یې هغه یې ولي نه کړه ځنډي استثناء؟

ځواب: هغه استثناء چي په بل آیت کي راغلې ده هغه معلومه وه بالضرورة عقلاً او نقلاً، نو ځکه یې دلته نه کړه ذکر، قال الله تعالی الا علی ازواجهم او ماملکت ایمانهم فانهم غیر ملومین.

فائده: فرج په لغت کي چاک ته وایي کفرج الحائط یعني د دېوالې چاک او په عرف کي د عربو د دوو پښو منځ ته وایي که د نر وي او که د ښځي که قبل که دبره له جهته ځکه د کثرت استعمال په معنی مذکور لکه تصریح ګرځېدلې ده، او یا مراد لفظ الفرج له کتلو ځکه د بل چا دی چنانچه په حدیث کي د بهز بن حکیم عن ابیه عن جده راغلی دی، قال قال رسول الله ﷺ احفظ عورتک الا عن زوجتک اما ملکت یمینک، راوي وایي ما ورته وویل اذا کان الرجل خالیًا (یعني یوازي وي نو هم به عورت نه لګوي) علیه الصلوة والسلام راته وویل: فالله احق ان یستحي منه رواه، رواه الترمذي وابو داؤد وابن ماجه.

دروښ وایي: چي له دې حدیث ځکه ځایونه د ضرورت د نظر مستثنی دي لکه حلق العانة (زېرناف خریل) یا هغه و مسلمان سي ځان په ډاکټر وغیره سنتوي او په نېږد د غائط او بولو چي بې اختیاره نظر پرې ذکر واقع کېږي فافهم.

ذٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ ﴿٣٠﴾

دغه غض البصر او حفظ الفرج فائده مند دی او پاکونکی دی، ولي چي د زنی ځکه مو لېرې کوي، په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په هغه څه چي دوی یې فعل کوي چي ستر کي د نامحرمو وخواته وراړوي، یا لاسونه وبېګانه ښځو ته ورورې وما یقصدون بذالک من فعل الزنی، نو چي خدای ﷻ په ټولو اعمالو د دوی خبر دی، نو دوی باید له خدایه وېرېږي او له ورته عملو ځکه توبه وکاږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقُلْ لِّلْمُؤْمِنٰتِ يَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ

ته ووايه اې رسوله د خداى ﷻ مؤمنانو ښځو ته چې پټوي دي ستركي (كلمه د من زائده ده تفسير كي دمخه تېر سو)

پوه سه: چې ښځي ممنوع دي له كتلو څخه وداسي ځاى ته كه د نر وي او كه د ښځي چې دوى ته يې كتل ناروا وي لكه مابين السرة والركبة چې هغه عورت دى ستر يې واجب دى پر نر او ښځو دواړو او نظر د بل ورته حرام دى، په كتاب الزواجر كي د ابن حجر المكي راغلي دي كما يحرم نظر د نر وښځه ته مطلقًا دغه رنګه حرام دى نظر د ښځي ونر ته ولو بلا شهوة ولا خوف فتنة اى الزنى.

دروښ وايي: چې په دې مبحث كي هرڅه حرمت چې ذكر كېږي كه مطلقًا وي او كه و عورات غليظه ته وي مراد ځندي لځ اندام دى، نعم كه په منځ كي د نر او د ښځي محرميت وي لكه زوى او مور، ورور او خور الى غير ذالك كه محرميت د نسب وي كما ذكرنا او كه محرميت د رضاع وي لكه رضعي مور او خور او يا محرميت د مصاهرة لكه زوم او خوابنې، نو كتل كه د نر وي او كه د ښځي وماسوى ته د مابين السروة والركبة لكه مخ، پندي، مړوندونه وغير ذالك په شهوت سره حرام دى او بېله شهوته حرام نه دى، نعم ښځي لره غض البصر د بېګانه سړي و هر ځاى ته چې وي اولى او احسن دى كه په شهوت وي او كه بلا شهونه وي، په دليل د هغه حديث چې ابو داؤد، ترمذي، نسائي او بيهقي په خپل سنن كي راوړى دى، ټولو روايت د ام سلمة زوج النبي ﷺ څخه كړى دى، دا وايي چې زه او مېمونه د عليه الصلوة والسلام سره ناستي ؤ چې عبد الله ابن ام مكتوم كور ته راغلى يعني د عليه الصلوة والسلام د ملاقات لپاره، نو عليه السلام موږ ته وويل احتجبا منه، مخ پټ كړئ، ام سلمه ﷺ وايي ما ورته وويل يا رسول الله ﷺ هو اعمى لايبصر، دى خو په ستركو ړوند دى نه وينې؟ عليه الصلوة والسلام راته وويل، آيا تاسي ړندي ياست، الستما تبصرانه، تاسي دى نه وينئ؟

دروښ وايي: چې دا دليل د هغه چا دى چې وايي حرام دي كاته د ښځي د بېګانه سړي مطلقًا لان اعضاء الرجل كلها محل شهوة النساء والشهوة فيهن اكثر و اوفر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: نظر د بنځي و بنځي ته په ماسوئ کي د مابين السرة والرکبة که په شهوت سره وُ هم حرام دی.

سوال: بنځه به د بنځي و يو انډام ته څرنګه په شهوت ګوري؟

ځواب: دا شهوت په هغه بنځو کي پيدا کيږي چي په عمل د سحاق والعياذ بالله مبتلی وي، سحاق دا بولي چي يوه بنځه پر بلي پرېوځي او پښې پورته ونسي هغه بله بنځه خپل فرج پوري مړي يو ګړی وروسته دواړې انزال سي او لکه د نر د جماعو خوند ورته حاصل سي، کذا في روح المعاني.

درويش وايي: چي چونکه د بنځي شهوت ډېر دی او تقوئ د حرمت د زنئ په ډېرو بنځو کي کمه ده خصوصًا په اوسنی زمانې کي، نو زوم بايد د خوابنې څخه که څه هم حرمت ابدي لري ډېر احتياط کوي، ولي چي ماته ډېر کسان راغلي دي د فتوئ غوښتلو لپاره، بعض وايي چي زه د خپلي مايني سره پروت وم چي ما جماع وکړې د مايني سره او موږ به بيده وُ خوابنې به مي ترشا راته پرته وه او لاس به يې رابانديې اچولی وُ ټينګ به يې نيولی وم چي زه به راويښ سوم کرار به يې راته وويل مخ راواړوه ما چي به مخ ور واړوی دې به لا ترمخه پرتوګ کښلی وُ اخير به پر ما شهوت غالب سو جماع به مي ورسره وکړې الی غير ذالک من حيل النسوة، او د رضعي خور وغيره سره دي سړی ډېر احتياط کوي، ولي دا حرمت خو عارضي دی د شهوت مانع نه دی په ډېرو بنځو کي، نو نر دي احتياط کوي چي ددوی د شهوت په سبب دي ودام ته د زنئ واقع نه سي.

درويش وايي: چي مظهري د فوق الذکر آيت شان نزول داسي بيان کړی دی په روايت د ابن ابي حاتم له مقاتل څخه دی وايي چي موږ ته دا خبر رسېدلی دی چي جابر بن عبد الله رضي الله عنه وويل چي اسماء بنت مرثد خپل د خورما په باغ کي وه نوري بنځي به هم هغه باغ ته د مجلس او باندار لپاره ورتلې پرتوګان به يې نه وه اغوستي يعني قميصان به يې اوږده وه، نو د پښو پازېبونه به يې معلومېدل او سينې به يې هم بنکاره وې او کوڅی به يې معلومېدلې، نو اسماء رضي الله عنها وايي چي ما اقبح هذا الفعل منهن فانزل الله تعالی في ذالک، وروسته مظهري رح اختلاف د ابو حنيفة او د شافعي او د يوه او بل دلائل يې ذکر کړي کما هو ديدنه في تفسيره وان موضع ذکر هذه الاختلافات وذکر الدلائل من الجانبين کتب الفقهاء رح ... مصرع:

وللناس فيما يعشقون مذاهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې بخاري او ترمذي روايت کړی دی له ابن عباس ؓ څخه چې يوه ښځه د خثعم د قبيلې و عليه الصلوة والسلام ته راغله په داسي حال کې چې فضل بن عباس ؓ د عليه السلام تر شا سپور وُ په کال کې د حجة الوداع. دې ښځې دا پوښتنه کوله يا رسول الله ان فريضة الله على عباده في الحج ادركت ابي شيخًا كبيرًا يعني حج چې فرض سو زما پلار په داسي حال کې دی چې شيخ کبير دی حسی چې پر اوښ باندې يوازې نسي سپرېدای فهل يقضى عنه ان احج عنه؟ قال ؐ نعم، ابن عباس ؓ وايي چې فضل ودې ښځې ته ډېر کتل ولې چې ښځه هم ځوانه وه او هم ښائسته وه او ښځې به فضل ته ډېر کتل ولې چې فضل ؓ ډېر ښائسته ځوان وُ نو عليه الصلوة والسلام به د هغې ښځې په دوران کې د خبرو به يې د فضل مخ هغه بل طرف ته اړاوه يعني چې دا ښځه وه نه وينې، نو عباس ؓ ورته وويل چې په دغه وخت کې حاضر وُ، لم لويت عنق ابن عمک (ولي دې وه پېچل غاړه خپل د اکا د زوی يعني الفضل) عليه الصلوة والسلام ورته وويل رئيت شابًا (ای الفضل) وشابة (يعني المرئة الخثعمية) فلم آمن عليها الشيطان (يعني ما امن نه درلودی پر دوی له شيطان څخه چې په شهوت به سره گوري)

سوال: ولي عليه الصلوة والسلام هغې ته نه وېل چې مخ پټ کړه؟

ځواب: ابن القطان ؒ وايي چې د دې حديث څخه دا فهمېږي چې کتل و ښځې ته په وخت کې د امن د فتنې يعني الزنی روا دی او په دې مجمع عام د حجة الوداع هيڅ امکان د زنی محسوس نه وُ.

وَلْيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا

او دوی دي خپل فروج يا د زنی څخه يا دي نه ښکاره کوي. او دوی دي نه ښکاره کوي د ښائست شيان خپل لکه بنګړي يا جامې. قميص او پر توګ يا په نکروزو سره لاسونه.

تفريع: چې د زينت ښکاره کول نه دی روا، نو د ځايو د زينت چې ابدان ددوی دي ښکاره کول يې په طريقه اولی ناروا دی مګر نه هغه د زينت چې ښکاره کېږي په وخت کې د کار کولو يا د تګ لکه گوتمی يا د قميص کښته خوا، ولي ددې شيانو په وجوب الستر کې حرج دی والحرج مدفوع في الدين. او بعض مفسرين وايي چې د زينت مواضع د زينت بحذف المضاف.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مواضع د زینت که خلقي وي لکه بنائسته اعضاء یا اختیاري وي.

پوه سه: چې په استثناء سره مخ او ورغوي او په یوه روایت کې پښې تر بجلکو پورې خارج سوه عند ابو حنیفة ومالک واحمد والشافعي رحمهم الله، لما جاء في حدیث الترمذي عن ابن عباس وعن عائشة رضي الله عنها ایضًا ان تلک الاعضاء لیست بعورة.

وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ

یضربن په معنی د اچولو دی ماخوذ من قولهم ضرب یده علی الحائط ای وضعها خپل پورنی دي پر خپلو ګریوانو اچوي تاچې وښتان یې پټ سي او خیګرونه یې پټ سي او غاړې یې پټې سي او غوږوالي چې په عربي یې قرط بولي او په فارسي یې ګوشواره بولي (ولایبدین آه) او دوی دي نه بنکاره کوي هغه زینت چې ماظهر ځندي مستثنی سو، نو اضافت د زینتهن لپاره د عهد ده، نو مراد خفي زینت دی لکه غوږوالي، بنګړي، پای زېبونه وغیر ذالک.

سوال: له استثنی څخه د ما ظهر خو دا معلومه سوه چې غیر د ماظهر یعني پټ زینت نه دی بنکاره فما الفائدة في التکرار؟

ځواب: مقصود دلته بیان دی د من یحل لهن ابداء الزینة الخفیة له ومن لایحل (بعول) جمع د بعل ده یعني مېړه، مګر نه مېړه ته دي زینت خفیه بنکاره کوي، ولي چې مقصود د ماینو ځان بنائسته کول دي و مړو ته، نو مېړه ته د ماینې د ټوله اعضاؤ لیدل او کتل روا دی حتی الفرج لکن نظر و فرج ته یې مکروه دی لقوله علیه الصلوة والسلام اذا اتی احدکم اهله (یعني ماینې ته د جماع لپاره) نو دي پټ کړي ځان او ماینه یعني دوه عضوه مخصوصه د دواړو، رواه الشافعي والطبراني عن ابن مسعود رضي الله عنه، او له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی: ماریٔ مني ولا رئیت منه (نه دي لیدلي علیه الصلوة والسلام د ماځخه او نه ما لیدلي دده څخه یعني العضو المخصوص وقت الجماع) او بعض علماء وایي چې نظر و فرج ته د ماینې خلاف الاولی دی وهو علی ماقال الخفاجي مذهب الحنیفیة رح وتفصیله في الهدایة.

مسئله: که مېړه ضعیف الشهوة ؤ جداً چې د ماینې و فرج ته یې په کتلي نه وای شهوت نه پورته کېدی، نو دا عذر دی نر ته یې کتل روا دی او ماینه دي هم ځان نه سپموي او پر مېړه دي دا پېرزوینه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: میږه چې په هر زینت د مایني خوشاله کېدی او شهواني قوت ته یې زیادت رسېدی پر مایئه واجبه ده چې زینت به کوي لکه ستر کې تورول لاسونه او پښې په نکروزو سره کول او شونډان سره کول او سرخې او سفېدی کول او نور ورته افعال.

أَوْ آبَآئِهِنَّ أَوْ آبَآءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَآئِهِنَّ أَوْ أَبْنَآءِ بُعُولَتِهِنَّ

یا پلرونو ته ددوی وکذا آباء الآباء وابناء الامهات وان علو یعني نیکه ګان کهد پلار د خوا وي او که د مور د خوا وي بدلالة النص واجماع الامة، یا پلرونه د مړو چې خسران یې بولي یا تر هغه پسې لور نیکه ګان د مړو وان علون (وابنآئهن) یا زامن د بڅو یا زامن د زامنو چې لمسیان یې بولي وهلم جرا وکذا بناتهن (زامن د لونو ایضًا بدلالة النص واجماع الامة المرحومة) یا زامن د مړو ددوی یعني چې د بلي مایني څخه یې وي چې په پښتو یې بونځیان بولي.

دروښ وایي: چې ما بونځیان ددې لپاره وویل چې د بڅې خپل زامن خو دمخه ذکر سول یعني و ابنآئهن.

أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِيٓ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِيٓ أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَآئِهِنَّ

یا ورونه ددوی که د پلار او د مور د دواړو یې وي او که یوازي د پلار یا یوازي د مور د خوا یې وي، یا زامن د ورونو ددوی چې په پښتو یې ورېرونه بولي وفي حکمهم بالنص والاجماع زامن د زامنو د ورېرو او زامن د لونو د ورېرو، یا زامن د خوندو ددوی چې خوریان یې بولي یا زامن د زامنو د خوندو ددوی وان سفلوا بدلالة النص والاجماع.

حکمت: خدای ﷻ مباح کړی و بڅو ته بڅکاره کول د محاسنو خپل و دغو رجال مذکورینو ته ولي چې د دوی تر منځ مخالطت ډېر دی او تل راتل او یوله بله حاجت غوښتنه. او بل داده چې ډېره د فتنې ځای د ژڼی د دغو رجالو له خوا نسته الا نادرًا جدًا، او په طبائع د رجالو نفرت کېږي چې دغو بڅو ته د شهوت په نظر وګوري، نو خدای ﷻ مباح کړی ودوی ته یعني مذکورینو نرو ته چې دوی وګوري و هغه اعضاء ته د دغو قریبانو بڅو چې په وخت کې د کالو پرېولو، د دوډۍ پخولو، د ځای د جارو کولو او د نورو کورنۍ کارو بڅکاره والی یې مالابد منه وي وهو والوجه والراس والصدر والساقان والعضدان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: نه دی روا و مذکوره نرو ته کتل و شاته د ددوی او نسو ته ددوی او نه و منځ ته له نو (چې په عربي يې سرة بولي او په فارسي يې ناف بولي او په پښتو يې نو بولي) څخه تر زنګانه ددوی لعدم الضرورة لانها لاتنکشف عادة عند الخدمة فلا وجه لاباحة النظر الی هذه المواضع والاعضاء منهن.

مسئله: هم دغه حکم مذکور في القرآن الکریم دی د هغه نر او ښځي تر منځ چې نکاح يې ابدي سره نا روا وي که په نسب سره وي کالمذکورین والمذکورات في هذه الایات یا په رضاع سره لکه رضعي مور یا خور او یا په مصاهرة سره لکه خوابنې د خوابنې مور د خوابنې خور.

پوښتنه: خدای ﷻ د اکاګانو او د ماما ګانو ذکر په آیت کې نه و کړی؟

ځواب: ولي چې اکاګان په معنی کې د بني الاخوان دي او ماما ګان په معنی کې د بني الاخوات دي بدلالة النص والاجماع، ولي چې عمه ته ابداء د زینت وزوی ته د ورور روا دی، نو بنت الاخ ته ابداء د زینت و اکاته هم روا دی للمساوات، او چې خاله ته ابداء د زینت وخوریې ته روا سو نو بنت الاخت ته ابداء د زینت و ماما ته هم روا دی.

مسئله: روا دی نر ته چې مسه ګړي د ښځي هغه عضوه چې ده ته يې نظر روا وي، ولي ګاهي چې په سفر کې دغه نر او ښځه سره ملګري سي و دغه مسه ته ضرورت پیدا کېږي، او بل دا چې د محرمیت ابدي په سبب په مسه کې د دغو اعضاؤ بېره د شهوت نسته، البته د کتلو و یو اندام ته د ښځي او د مسه کولو د هغه اندام فرق ښکاره سته، نو که نر پر خپل شهوت د مذکور اتو ښځو بېرېدی نو دي اعضاء مذکوره نه مسه کوي او د حدیث د ابن مسعود چې احمد او طبراني روایت کړی دی په یوه برخه کې راغلي دي: والیدان تزنیان وزناهما البطش ای اللمس بالشهوة.

مسئله: که په نظر او کتلو کې د بعض نرو چې شهوت يې په انتهائي درجه کې وي او یا يې پر قریبه ښځه دا شک راتلی چې کتل به يې ماته سبب د شهوت زما یا ددې و ګرځي، نو هغو اعضاؤ ته چې تو هم د شهوت پکښې کېږي نه دي ګوري، ولي چې د حدیث مذکور د ابن مسعود رضی الله عنه په یوه برخه کې راغلي دي چې رسول کریم ﷺ وایي: والعینان تزنیان وزناهما النظر (یعني بالشهوة)

پوه سه: چې په (اونسائهن) کې معنی د اضافت المجانسة دی في الانوثیة، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر دې تقدیر روا ده مؤمنه ښځي ته چې خپل محاسن ښکاره کړي وبلي ښځي ته کد مؤمنه او که کافره وي که حره وي او که مینځه، ددې جواز دلیل دادی چې ښځي سره یو جنس دی او شهوت د یوې وبلي ته غالبًا نه کېږي (د غالبًا د قید فائده دادە که یوه ښځه په مرض د سحق مبتلا وه، نو هغه بله ښځه دي هغه ځای ځندي پټوي چې داعي د شهوت د سحق ګرځي وقد مر معنی السحق بالتفصیل) نو ځکه له امام اعظم رح روایت دی چې نظر د ښځي و ښځي ته لکه نظر الرجل الی محارمه آه، او بعض مفسران وایي چې مراد له نسائهن څخه مؤمناتي ښځي دي، نو پر دې تقدیر نه ده روا مسلمانانو ښځو ته چې کشف د محاسنو و کافراتو ښځو ته وکړي، ولي چې کافرات ښځي ددې پرهېز نه کوي چې خپل مېړه ته دي ووایي چې د فلاني مسلمان داسي ښائسته ماینه یا لوروه او د هغې د حسن اوصاف دي پر مېز ورته کښېږدي چې د غائبانه شهوت باعث وګرځي. وجاء في الحدیث المتفق علیه لاتباشر المرئة المرئة فتنعتها لزوجها کانه ینظر الیها (دروېش وایي که څه هم دا حدیث خو عام دی کافره او مؤمنه دواړو ته شامل دی لکن المؤمنة یتحرج عن وصف المؤمنة لزوجها والکافرة لایتحرج) بغوي رح وایي چې خلیفة المؤمنین عمر بن عبد العزیز رح (که څه هم عمر رض المذکور له صحابه وو څخه نه دی لکن له جهته د عدالت دده کما جاء في تواریخ الاسلام حتی چې بعض تواریخ وایي چې عمر بن عبد العزیز په درجه کې د پنځم د خلفاء راشدینو دی، نو ځکه فقیر رضی الله عنه ووایه) نو ده و خپل والي عبیده بن الجراح ته نوشته کړه چې منع کړه ښځي د اهل کتابو یعني یهودیات یا نصرانیات چې یو ځای د مسلماتو ښځو سره حمام ته داخلېږي.

أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ

او یا چې په ملک یمین کې دي د ښځو.

دروېش وایي: چې دا آیت معرکة الآراء دی، ابن جریج رح وایي چې مراد د نسائهن چې وراندي تېر سو سره د تفسیره او اختلافه مؤمنات حرائر دي، او مراد د ماملکت ایمانهن څخه مینځیانې دي ولوکان کوافر، مریان نه دي مراد فلایحل لامرئة مسلمة ان تتجرد بین یدي مشرکة الا اذا کانت المشرکة مملوکة لها فعلی هذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

التاويل نه دی روا و ښځي ته انکشاف د محاسنو ومخ ته د خپل مريي او نه دی روا مريي ته چې د مالک ښځي ته به ګوري مګر هغه اعضاء ددې چې بېګانه سړي ته يې ديد روا دی، وبه سيد الطائفة ابو حنيفه رح، وبه قال بعض اصحاب الشافعي، چناچه ابو حامد محمد الغزالي من الشافعية وايي الصحيح عند اصحابنا ان العبد لايكون محرمًا لسيدته، وقال النووي من الشافعية رح و هو الصواب؟ بل ينبغي ان لايجري فيه خلاف والقول بانه محرم لها ليس له دليل ظاهر وان الصواب في تاويل انه نزلت في الاماء المشركات انتهى قول النووي رح، صاحب هدايه وايي چې زمور دليل دادی چې مريی فحل يعني نر دی غير محرم ولا زوج او دوطرفه شهوت موجود دی او نکاح يې ورته روا ده وروسته تر زوال د ملکي ددې، او مجبوري په داخل کې د کور مريي ته نسته په خارج او دباندې دي خدمت په کوي، او کور ته چې راځي لکه بېګانه سړی داسي دي راځي، يعني لکه بېګانه سړي ته چې کتل دده و باداري ته روا وه ده ته هم هغو ځايو ته کتل جائز دی، والمراد بهذه الآية الاماء انتهى قول صاحب الهداية مع تغيير يسير، قال سعيد بن المسيب والحسن وغيرهما رح لاتغرنكم تاسي دي نه خطاباسي سورت نور فانها في الاناث دون الذكور، او مالک رح وايي چې مامملکت ايمانهن شامل دی مريانو او مينځيانو دواړو ته، نو امام مالک رح وايي يجوز للسيدة الانكشاف عند عبده كسائر المحارم ويجوز له يعني مريي ته روا دی و خپلي باداري ته لکه خپلي محرمي ته چې ګوري. او امام شافعي رح په نېز د جمهورو د اصحابو دده پر دغه رايه دی چې مريی محرم دی.

دروښ وايي: چې نور دلائل د طرفينو په محرميت کې د مريي او د عدم محرميت دده و کتابو ته د فقهاؤ پرېږدو، فقير وايي بېله تعصب مذهبي انصاف دادی چې مريی په کور کې لکه محرم د باداري پرېښول لوی خطر دی د کورنۍ ژغ، ولي محرميت د نسب يا د رضاع علحده شی دی چې د شهوت ملا ورماتوي او مريان چې عموماً پياوړي ځوانان وي او په کور وځي ننوځي او د ښځي مېړه روزانه خپل دکان يا تجارت يا اجرت ته تللی وي بلکې ګاهي مېړه د ښځي په سفر د تجارت ولاړ سي چې ځوان د ښځي مريی په کور کې د ځواني سيدي سره بلا ستر ولامانع موجود وي دا به عجبه وي چې ژغ نه سره وکړي که څه هم ښځه د پره عفيفه وي، والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ

او یا هغه نر چې تابع وي د غني سړي چې په صرف نس د ډوډۍ ورسره وي چې هیڅ حاجت و ښځو ته نه لري یعني آله یې ملګرتیا نه ورسره کوي.

دروښ وایي: چې دا هغه ښځي کلان ساله زاړه ښځي دي سماهم تابعین لدې سببه چې دوی پر کسب او مزدورۍ قدرت نه لري. نو د یو چا سره ورسره وي که څه هم دروازه واني په کوي او یا له بازاره پیاز و پټاټې او داسي نور په راوړي او هغه کالي او ډوډۍ ورکوي، نو ددې سړي څخه دي ستر نه کوي او لکه محرم داسي معامله دي ورسره کوي. او حسن ؒ وایي چې داسي درجې ته رسېدلی وي چې ذکر یې هیڅ حرکت نه لري او نه پورته کېږي او ده په خپله هم جماع ته هیڅ شوق نه کېږي، او له ابن عباس ؓ څخه روایت دی چې له غیر اولی الاربة څخه عنین مراد دی، او سعید بن جبیر وایي چې مراد څنډي معتوه دی یعني چې اعصاب او دماغ یې خراب وي یعني که څه هم سلیم البنیة وي لکن د جماع یې سر نه خلاصېږي او نه یې فکر په رسېږي. لکه په اوسنۍ زمانه کې هغه سړی چې د هېرویدنو نشه کوي، او عکرمه ؒ وایي چې مراد څنډي مجبوب دی. مجبوب هغه سړي ته وایي چې ذکر او خایه یې څنډي پرې کړي وي، او مشتق له جب څخه دی چې معنی یې قطع ده، او بعض وایي چې مراد خصي دي چې فقط خایه یې څنډي کښلې وي، لکن روح المعاني، روح البیان او مظهري وایي چې عنین او مجبوب او خصي په کتلو کې بېګانه ښځي ته لکه منده سړی داسي دی، ولي چې خصي احتمال د جماع لري چې کامل خصي نه وي او د مجبوب په زړه کې پوره اشتها د جماع سته لکن اله یې نسته، نو چې د ښځي په فرج پورې دا خپل مخصوص ځای مړي چې سحق یې بولي هم دی انزالېږي او هم ښځه، وکذا المخنث في ردي من الافعال یعني دی و خپلې دبرې ته خپلګ ورپېږدي چې په پښتو یې کوني بولي او په اردو یې ګانډو بولي، فانه فحل فاسق، نو ترقل للمؤمنین یغضوا من ابصارهم آه او ترقل للمؤمنات آه چې محکم آیتونه دي چې مجبوب، عنین، خصي او مخنث ته شامل دي. او دا آیت والتابعین غیر اولی الاربة شمول او دخول یقیني دی.

دروښ وایي: چې په کفایه شرح هدایه کې وایي چې هدایه مخنث مقید کړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به ردي من الافعال وهو ان يمكن غيره من نفسه (كما بينت معناه بالافغانية) احترازًا عن المخنث الذي في اعضائه لين وفي لسانه انكسار في اصل الخلقة لايشتهى النساء ولا يكون مخنثًا في الردي من الافعال كفاية وايي فانه قد رخص بعض مشائخنا في ترك مثله في النساء لانه من غير اولى الاربة من الرجال انتهى.

اَوِ الطِّفْلِ الَّذِيْنَ لَمْ يَظْهَرُوْا عَلٰى عَوْرٰتِ النِّسَآءِ

چې طفل اسم جنس دی په ځای کې د جمع راغلی دی، نو له دې سببه الذين يې صفت سو او ضمير د جمع ورته راجع سو. او يا هغه کوچنيان چې نه وي رسېدلي وخت ته د قدرت د جماع د ښځو. له دې محاورې څخه ماخوذ دی ظهر على كسب كذا ای قوي وقدر عليه. او يا يې معنى داده چې دوی عورات د ښځو نه وي لځ کړي بالجماع معهن. نو حاصل دا دی چې حد ته د شهوت نه وي رسېدلي. وقال مجاهد ؒ معناه لم يعرفوا العورة من غيرها لاجل الصغر وعدم التمييز.

مسئله: که مميز وٗ لكن حد ته د شهوت نه وٗ رسېدلی، رواه ده ښځو ته چې انكشاف د ټولو اندامو دده و مخ ته وكړي الا من السرة الى الركبة. ولايجوز كشف ماتحت السرة عنده، او که چېرې طفل هيڅ تمييز نه درلودی فهو كالجمادات والبهائم لاباس لو كشفت عنده ماتحت الازار ايضًا.

مسئله: که طفل مراهق وٗ يعني بلوغ ته نژدې وٗ او اشتهاء يې کېدل او عضو مخصوص به يې عند الشهوة ولاړه سوه فحكمه حكمه الرجال للظهور على عورات النساء.

وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ

او ښځي دي پښې په قصده د مځكي نه وهي تاچې معلوم كړل سي چې دوی پټ كړي وه د زينت له شيانو څخه ددوی چې په عربي يې خلخال بولي او په پښتو يې پازېبونه او په فارسي يې پای برنجن بولي، بغوي ؒ وايي چې د بعضو ښځو به دا عادت وٗ چې پای زېبونه به يې په پښو وه خلكو خو به نه ليدل نو چې پريو مجلس د نرو به راغله پښې به يې د مځكي ووهلې د پای زېبو به يې شرينګی سو، نو دوی ته په دغه آيت كې نهي وسوې له دغه كاره، ولي چې دا شرينګی په نرو كې ميل پيدا كوي و دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته، او د خلکو دا خیال کېږي چې مورږ ته یې په پټه خوله ووېل چې زه ستاسي شوقي یم، بیضاوي وایي چې نهي د ضرب الارجل ابلغ دی تر ابداء الزینة، ولي چې په دې کې یو قسم تنبیه او اشاره ده ددې د خوا څخه، وادل علی المنع من رفع الصوت، ځکه په نوازل کې وایي چې نغمې او بدلي د ښځو چې په ودو کې یې وایي عورت دی باید نر غوږ نه ورته ونسي، ابن الهمام په فتح القدیر کې وایي که کومه ښځه په لمانځه کې جهري قرائت ووایي لمونځ یې فاسد دی دا موجه خبره ده، ولهذا قال رسول الله ﷺ التسبیح للرجال والتصفیق للنساء، یعني چې امام سهوه سي نر دي په تسبیح فتح ورکوي او ښځه دي د راسته لاس ورغوې د چپه لاس پر شا وتکوي، او له هم دې سبب ته فقهاء اذان د ښځې مکروه بولي لان الاذان یحتاج الی رفع الصوت.

دروېش وایي: چې په اوسنۍ زمانه کې بعض ښځې د سپینو زرو رنګونه جوړوي یعني په زرګر او ټه منځ کې د مري شنې داني وراچوي، نو هغه چې پښه د مځکې نه ووهي هم شرینګی کوي، خصوصًا چې پښه د مځکې ووهي یا پښه کلکه پر مځکه کښېږدي.

سوال: ددې قسم خلخال یې څه چاره چې ښه ضرب الرجل شرینګی کوي؟

خواب: دا قسم خلخال و ښځې ته ممنوع دی چې په پښو یې کړي.

دروېش وایي: چې د ښځو کنټرول نه ورځ تر طاقت بالا دی.

مصرع: ..... آنچه مردم میکنند بوزینه هم.

ښځې لیلامي زنانیي کالي د یهودو او نصارىٰ وو وینې پر هغه قسم خپل کالي جوړوي (۱) لنډ قمیصان تر کوناتو پوري (۲) نازک تنګ پرتوګان چې بدن یې تر معلومېږي (۳) سینه لخ ګرېوان یعني ځیګر یې د تیو تر سرو پوري تر ګېروان معلومېږي (۴) د امریکایانو نرو او ښځو وېښتان په تلوېزون کې وډیني چې سره دي، نو د مسلمانانو ښځې پر خپلو سرو سرې نکرېزي ایږدي تاچې وېښتان یې امریکایي ډوله سي، من تشبه بقوم فهو منهم حدیث صحیح (۵) په راډیوګانو او تلوېزونو کې مسلمانان د ښځو نغمې او بدلي اوري.

تنبیه: زد کړه د قرآن د محرمي ښځې څخه چې قاریه د قرآن وي ډېر زېبا دی، ولي چې د ښځې لهجه طبعًا خوش اوازه ده، نو قرآني صوت یې ډېر زېبا او مؤثر پرېوځي او نغمه هم نه ده فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتُوبُوٓا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٣١﴾

او توبه وکاږئ و خدای ﷻ ته د ټولو ګنهو څخه ای مؤمنانو.

درویش وایي: چې مؤمنات تبع د مؤمنانو دي په اکثرو احکامو کې د قرآن کریم بلکې د احادیثو نبویه وو هم تبع دي.

پوښتنه: مؤمنان یې عموماً مخاطب کړه په توبه سره حکمت یې څه دی؟

ځواب: اشاره ودې ته چې هر مؤمن که هرڅومتقي وي لکن په اتیان کې د اوامرو د خدای ﷻ او په ځان ساتلو کې د منهیاتو د څه ناڅه تفریط څخه خالي نه دی. قال رسول الله ﷺ کل بني آدم خطاء وخير الخطائين التوابون، رواه الترمذي وابن ماجه، او بعض مفسرين ددې آیت ترجمه داسې کوي رجوع وکړي وطاعت ته د خدای ﷻ فيما امركم ونهاكم يعني الاداب المذكورة في هذه السورة سورة النور.

پوه سه: چې لعل په معنی د لام کی دی ای لکی تفلحون ای فائزون بالمطلوب في الدنيا والآخرة، ولې چې سعادت د دنیا او د عقبیٰ په توبه پورې مربوط دي، قال رسول الله ﷺ طوبىٰ لمن وجد في صحيفته استغفارًا كثيرًا (خوش بختي دي وي د هغه چا لپاره چې پیدا کړي په عمل نامه کې خپل دپر استغفار) له ابن عمر ؓ څخه روایت دی چې ما واورېدل له رسول الله ﷺ څخه چې وه یې ویل یا ایها الناس توبوا الى ربكم فاني اتوب في كل يوم مائة مرة، وعن ابي هريرة ؓ قال قال رسول الله ﷺ والله لاستغفر الله واتوب اليه في اليوم اكثر من سبعين مرة، رواه البخاري.

درویش وایي: چې که خدای ﷻ د بندګانو او ګناه کارانو توبه نه قبلولای او په استغفار ویلو یې عفوه او بخښنه نه ورته کولای، نو ولې یې دوی ته د توبې امر کاوه او پر توبه باندې ددوی یې ولې لعلكم تفلحون مرتب کاوه لان الكريم اذا وعد وفي والله تعالى اكرم من ان يرد ايدي التائبين والمستغفرين صغرًا، یو محقق شاعر وایي:

چو رسوا نکردی بچندین خطاء.....درین عالم پیش شاه وگدا
درآن عالم هم بری خاص و عام.....بیامروز رسوا مکن والسلام

عرب وایي: التوبة صابون الاوزار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنْكِحُوا الْاَيَامٰى مِنْكُمْ وَالصّٰلِحِيْنَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ

خدای ﷻ چې په دمخه آیاتو کې بندګان د مایوجب الزنی والسفاح څخه منع کړه په دې آیت کې امر د نکاح ورکړی، ولې چې نکاح سترګې د نر او د ښځې کښته کوي یعني د بل نامحرم و کتلو ته او لوی مانع د سفاح یعني زنی دی.

پوه سه: چې الایامٰی جمع د ایم ده مقلوب له ایایم څخه دی ایم په لغت کې نرو ښځې دواړو ته وایي چې جفت نه لري، او امر د انکحوا و اولیاؤ ته د نر چې ماینه نه لري او د ښځې چې میړه نه لري (والصالحین آه) عطف دی پر ایامٰی او دغه رنګه نکاح ورو کړئ و صالح مریانو ته خپل او خپلو مینځیانو ته.

پوه سه: چې دا امر د استحباب دی او د مریانو او مینځیانو نکاح یې په صلاح پورې مقید کړه چې مراد څنډې معنی شرعي ده چې هغه مریی یا مینځه چې صالح نه وي ګوښه دی د دې مرتبې څخه چې باندار دي دده په شان او نکاح کې غم خوري و کړي او شفقت دي پرو کړي او د نکاح مصارف شرعًا و عادةً یعني بذل المال و اساس البیت پر غاړه واخلي. خو بیا هم صلاح قید احترازي نه دی یعني چې غیر صالح ته دي نکاح نه ورکوي، بلکې دا قید لپاره د مزید اهتمام په شان کې د صالحینو فافهم.

اِنْ يَّكُوْنُوْا فُقَرَآءَ يُغْنِهِمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝

که دی وي فقیران یعني توان د مهر او نفقې د زوجې نه لري خدای ﷻ به غنی ورکړي یعني د فضل او احسان څخه یعني قادر بې پر مهر او نفقه وګرځوي، او خدای فراخه دی قدرت دده او ښه خبر دی په حال د بندګانو.

پوه سه: چې په دې آیت کې یې رد وکړی د مانع د نکاح ای الفقر یعني لایمنعکم من النکاح الفقر، ولې چې خدای ﷻ متکفل د ارزاقو د عباد کلهم او مال په باور نه دی سهار نه وي مابنام پیدا سي وبالعکس فهذه الآیة وعد من الله بالاغناء للناکح، له ابو ابکر صدیق ؓ څخه روایت دی اطیعوا الله فیما امرکم به من النکاح. خدای ﷻ به پوره کړي خپله وعده یعني الغناء کما قال الله تعالی ان یکونوا فقراء الآیة، او له قتاده ؒ څخه روایت دی چې موږ ته رسیدلې ده دا خبره چې عمر بن الخطاب ؓ ویلي دي ما رئیت کرجل لم یلتمس الغناء من الباءة ای النکاح وقد وعد الله فیها ای الباءة ما وعد یعني قوله تعالی ان یکونوا فقراء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الآية، او له عمر بن الخطاب ؓ څخه روايت دی ابتغوا الغناء في البائة تاسي طلبوئ غناء په نکاح کي واطلبوا الفضل في البائة، او تاسي طلبوئ فضل د خدای ﷻ په نکاح کي، اوعمر ؓ دغه آیت تلاوت کړی یعني ان یکونوا فقراء الآیة بغوي ؒ وایي چې عمر ؓ وویل عجب لمن یبتغی الغناء بغیر النکاح والله تعالی یقول ان یکونوا فقراء یغنیهم الله الآیة، او بزار، خطیب او دار قطني ؒ له عائشه ؓ څخه روایت کړی دی قالت قال رسول الله ﷺ تزوجوا النساء فانهن یاتین بالمال رواه ابو داؤد.

دروښ وایي: چې ائمة الدین ؒ متفق دي پر دې چې نکاح په حال کې د اعتدال د قوت شهواني وعدم التوقان والخوف عن الوقوع في الفاحشة ای الزنی سنة لقول النبي ﷺ من احب فطرتي فلیسن بسنتي ومن سنتي النکاح، وقال رسول الله ﷺ النکاح سنة من سنتي فمن رغب عن سنتي فلیس مني، وقال رسول الله ﷺ تناکحوا وتناسلوا فاني اباهي بکم الامم ولو بالسقط او کما قال علیه السلام، وقال رسول الله ﷺ یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة (ای النکاح) فلیتزوج فانه اغض للبصر واحسن للفرج ومن لم یستطع فعلیه بصوم (ولي چې نکاح د سړي ستر کې پټوي له حرام څخه او بنه ساتونکې ده له فاحشه څخه د فرج، او که څوک وس نه لري د نکاح نو نفلي روژې دي ډېرې ونسي) فانه له وجاء (چې روژې دده لپاره یو نوع د خصي والی دی) فان کان شدید الاشتیاق الی الوطي یخاف العنت وهو الزنی وجب علیه (یعني النکاح) عند ابی حنیفة ؒ و احمد ؒ، وقال مالک والشافعي ؒ هو مستحب لمحتاج الیه یجد اهبة (ای کارسازي من المهر والنفقة) او که توقان او خوف له زنی څخه نه وي فقال احمد و ابو حنیفة ؒ نکاح له افضل من نفل العبادة لانه فیه تکثیر الامة المرحومة فانکاح عبادة متعدیة والعبادة النفلیة عبادة لازمیة، وقال المالک والشافعي ؒ بعکسه.

مسئله: اختلاف الائمة في ترویج المرئة نفسها یعني من غیر ولي، لقوله تعالی فلا تعضلوهن ان ینکحن ازواجهن (حیث نسب النکاح الیهن ومنع الاولیاء عن عضلهن عن النکاح) او ائمه ثلاثه ؒ وایي چې د ښځې نکاح بېله ولي ممنوع دی والتفصیل في کتب الفقها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: که یو سړی د مایني په مهر، نفقه او کالو کي پاته راغلی یعني نه یې سوای اجراء کولای آیا ماینه د نکاح د نسخ حق لري؟

ځواب: امام ابو حنیفه رح وایي حق د فسخ نه لري لکن قاضي دي دې ته لائق د حال سره ددې او د مېړه نفقه وضع کړي او بنځي ته دي ووایي چې د نفقه او د نورو ضروریاتو لپاره پورونه کوه، او د پورو حواله پر مېړه کوه او قاضي دي مېړه مجبور کړي چې ته دا حوالې قبلوه، نو که دی یو وخت په قدرت د خدای ﷻ من حیث یحتسب او من حیث لایحتسب غني سو خو د پورو د حواله غاړه به وباسي او که یې قدرت نه کړی پیدا او مړ سو دده له ترکه څخه به د پورورو د حوالې غاړه وباسي، تاریخ وایي چې جعفر بن محمد صادق رح ته یو سړی راغلی شکایت د فقر یې ورته وکړی ده ورته وویل چې نکاح وکړه هغه سړي نکاح وکړه، څو ورځې وروسته راغلی بیا یې شکایت د فقر ورته وکړی ده ورته وویل چې ماینه دي طلاقه کړه، نو یو چا د جعفر بن محمد څخه پوښتنه وکړه چې یو وار دې سړي د فقر شکایت وکړی تا په نکاح سره امر ورکړی، هغه چې نکاح وکړه بیا یې د فقر شکایت وکړی، تا امر د طلاق ورکړی، ددې دوو متضادو امرو سر څه دي؟

جعفر بن محمد رح ورته وویل چې ما چې په نکاح سره ورته وویل زما خیال دا ؤ چې ددې آیت اهل به وي: ان یکونوا فقراء یغنیهم الله الآیة.

دروښ وایي: چې کما مر في تفسیر هذه الآیة: جعفر رح وایي وروسته تر نکاح چې بیا ده شکایت د فقر وکړی، نو زما ګمان داسو چې دی اهل ددې آیت وان یتفرقا (که مېړه او ماینه سره خلاص سي یعني بالطلاق) یغني الله کلا من سعته.

دروښ وایي: چې پر دې قصه هغه قول د بعض علماؤ بناء کېدای سي چې دوی وایي چې ګاهي نکاح واجب الترک وي چې دا نکاح یې سبب د معصیت وګرځي لکه چې مېړه د مایني د ولور یا نفقې لپاره غلا یا کسه بري یا په یو بل مفسد اخته سي، نو ماینه دي طلاقه کړي تا چې له عصیان څخه خلاص سي، نو ځکه په صحیح حدیث کې راغلي دي چې: یاتي علی الناس زمان لاینال في المعیشة الا بالمعصیة فاذا کان ذالک الزمان حلت الغروبة (نو چې هغه زمانه درسېږي و مسلمانانو ته روا دی ترک د نکاح او اشتغال په عبادت سره چې تبتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې هم بولي او رهبانيت يې هم بولي، وفي الحديث على ماذكر في تفسير الكواشي اذا اتى على امتي مائة وثمانون سنه.

(دروېش وايي: والله اعلم لعل المراد سنه (۱۸۰) بعد مضى قرن صحابة او بعد مضى خير القرون كما ورد في الحديث الصحيح خير القرون قرني ثم الذين يلونهم الى اخير الحديث الطويل) حلت الغروبة والترهب على رؤس الجبال انتهى ونقل عن امير المؤمنين علي رضي الله عنه اذا نفذ عدد حروف بسم الله الرحمن الرحيم فانه يكون اوان خروج المهدي عن بطن امه انتهى (دروېش وايي والله اعلم بصحة النقل) دا قول د علي رضي الله عنه شيخ اكبر محي الدين ابن العربي رح په دې دوو بيتو کې راوړی د.

اذا نفذ الزمان على حروف ..... بسم الله فالمهدي قامًا

(الف د قامًا لپاره د اشباع دی او مراد د قيام ولادت دی لا دعوى المهد ويت كمامر) ولو لا الحسد لظهر سر العدد انتهى قول ابن العربي، صاحب د روح البيان د علي رضي الله عنه د قول او د شعر ابن العربي داسي توجيه کړې ده، حيث قال يقول الفقير که هره کلمه د راء په بسم الله کې مکرر يعني دوې راءيې وبولي په اعتبار د دې چې په تلفظ او په صفت کې د راء تکرار سته، نو حساب د حروفو د بسم الله په حساب د ابجد الف ومائة وست وثمانين ته رسېږي (۱۱۸۶ هـ) وروسته دی وايي فالظاهر من حديث الكواشي المراد في الحديث مائة وثمانون بعد الالف.

دروېش وايي: چې په دې تاويل د حديث معنى د حديث بيخي صحيح ده، ولې چې وروسته تر (۱۱۸۶) زمانه د نهايت فساد او معاصيو ده، نو ځکه عليه الصلوة والسلام الغروبة يعني ترک د نکاح او ترهب پر سرو د غرو روا کړی دی، لکن خبره په دې کې ده چې عدد (۱۱۸۶هـ) خو دهر دمخه پوره سوی دی، ولې چې اوس سنه (۱۴۲۰ هـ) ده او د مهدي هيڅ درک نسته، ويمكن ان يقال ان سنة (۱۱۸۶) خو د مهدي د ولادت تاريخ دی لازمان الدعوى وفيه نظر.

دروېش وايي: چې له دې سببه په نقل کې د قول د علي رضي الله عنه ما داسي وويل والله اعلم بصحة النقل وفي ختم المبحث المذكور يقول الفقير لله غيب السموات والارض والله تعالى اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلْيَسْتَعْفِفِ الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ نِكَاحًا حَتَّىٰ يُغْنِيَهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ

او طلب د عفت دي کوي او کوشش په دفع کي د شهوت دي کوي په روژه سره یا په قلة الطعام یا په اشتغال د اذکارو یا د افکارو في خلق السمٰوات والارض یا په مطالعه د کتابو د صوفیه او غیر ذالک، هغه څوک چي نه لري اسباب د نکاح ومالابد منه للناکح لکه ولور چي اوله ورځ د نکاح غوښتل غواړي والنفقة وملبوسات الزوجات في العادات وفوات غیرها من حقوق النکاح.

درویش وایي: چي وفي مثله قال رسول الله ﷺ ومن لم یستطع (ای النکاح) فعلیه بالصوم فانه له وجاء، وقد مر هذا الحدیث مع الترجمة.

(حتی یغنیهم آه) حتی غایة للعفة، تر هغه وخته پوري چي غني کوي خدای ج دوی د فضله او رزقه څخه یعني کوشش ته په عفت کي حاجت نسته بلکې ماینه او نکاح وکړه او دفع د غلبه د شهوت په هغې سره وکړه، له یوې څخه نیولې تر څلورو ماینو پوري کما جاء في القرآن الکریم.

درویش وایي: چي په ترجمه کي د فتوحات مکي داسي راغلي دي: بعض از صالحان را چیزی نبود و زن خواست، وفرزند آمد وما یحتاج ان نداشت پس فرزند راگرفت وبیرون خانه آمد ودرمردم نداء کرد که این جزای آن کس است که فرمان حق نبرد، مردم گفتند زناء کرده اید؟ گفت نی ولکن حق تعالی فرموده بود: ولیستعفف الذین لایجدون نکاحًا الی اخیر الآیة ومن فرمان حق نبردم وقبل الغنٰی المذکور في الآیة تزوج کردم وبرائ من هنوز فضیحت و رسوایی شد، مردمان بروی شفقت کردند، هرکس قدری امداد همراه او کرد وباخیر تمام بخانه خود بازگشت یعني فکان التزوج سببًا للغنٰی کما في الآیة الاولی ان یکونوا فقراء یغنیهم الله الآیة.

وَالَّذِينَ يَبْتَغُونَ الْكِتَابَ مِمَّا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ فَكَاتِبُوهُمْ

او هغه مریان چي غواړي ستاسي مالکانو څخه عقد د کتابت، نو کتاب مصدر دی په معنی معروف سره نه دی بلکې په معنی د عقد د کتابت نو مصدر دی، د باب د مفاعله نحو کاتبه یکاتبه کتابًا مکاتبةً، نو دا یو عقد معاوضه دی گویا مربی له بادار څخه خان رانصي بما یؤدیه من کسبه فیجب فیه الایجاب والقبول من الجانبین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وليس اعتاقًا معلقًا باداء المال نو نا بالغ مريي سره عقد د كتابت روا دی چي په بيع او شراء پوهيږي لتحقق الايجاب والقبول لان الصبي العاقل من اهل التصرف چي هغه تصرف دده په نفع کي تمام وي والكتابة نفع له لانها نوع حيوة له.

تفريع: د صبي لايعقل او مجنون سره عقد د كتابت نه دی روا، د عقد كتابت الفاظ په نږ د ابو حنيفه رح دادي چي مولی يعني مالک و خپل مريي ته ووايي كاتبتک على مال كذا (يعني دومره اندازه روپی) ويقول العبد قبلت، نو چي مريی هغه مقدار روپی ورکړي بس دی په خپله ازاد سو لان العتق موجب هذا العقد فيثبت من غير تصريح به.

فائده: په عقد کي كتابت شرط ده مال حالاً او مؤجلاً يعني پر يوه ځای لکن په مدت معينه يا يوه يا دوې مياشتي يا کاله وغيره (ومنجمًا) يعني په قسطو، او شافعي او احمد رح چي شرطول د مال حالاً خو نه دی صحيح لانه عاجز مطلقًا او کم از کم دوه قسطه خو غواړي لانه عاجز من اكثر من النجمين في الزمان القليل، او زمور دليل دادی چي آيت خو مطلق راغلی دی، او بدل الكتابة لكه ثمن په بيع کي دی او مبيع نفس د عبد دی او دا اجماعًا خبره ده چي په بيع کي قدرت د تسليم د مال شرط نه دی، ځکه مفلس سړی د پر اموال عظيمه رانيولای سي، او بله خبره داده چي امکان لري چي عبد مکاتب دي دوستان او قريبان لري چي و اداء ته د بدل الكتابة به تيار سی وي يا په زکوة کي يا په هبه.

فائده: كلمة الفاء للتضمن الموصول لمعنى الشرط، كاتبوهم امر استحباب دی عند جمهور العلماء او په هدايه کي وايي چي دا مر ايجاب نه دی باجماع بين الفقهاء وانما هو امر ندب وهو الصحيح، په هو الصحيح کي غرض د هدايه دادی چي امر اباحت نه دی لكه زمور بعض مشائخ چي وايي.

إِنْ عَلِمْتُمْ فِيهِمْ خَيْرًا

كه ستاسي باور او يقين ؤ په دوی کي د خير، ابن عمر رض وايي چي قوت پر كسب يې درلودی وهو قول مالک وسفيان الثوري والحسن والضحاک رحمهم الله، او مجاهد رح وايي چي له خير څخه مراد مال دی ومعنی که دوی لره مالونه وه، او دا قول ضعيف دی اذ العبد ومافي يده من المال ملک المولی، او اجماعًا وشرعًا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مريى اهل د ملكيت د مال نه دى للمنافات بين المالكية والمملوكية، ابن عباس رضي الله عنه وايي امانة و وفاء (يعني امين او وفادار سړى وُ) امام شافعي رحمه الله وايي چې اظهر د معانيو د خير په مريي كې اكتساب او امانت دى، او صاحب هدايه وايي چې مراد له خير څخه حريت دده دى يعني بعد اداء بدل الكتابة وه مسلمانانو ته ضرر نه وي لكه دغه عبد چې كتابت له مولى څخه غواړي كافر وي كه ازاد سي معاون د كفارو به وګرځي، نو پر دې تقدير يې كتابت مكروه دى لكن مع هذا كه عقد د كتابت مولى ورسره وكړي دى صحيح لازم دى په حق د مولى.

مسئله: كه د مريي هيڅ كسب نه وُ زده لايكره كتابته عند ابى حنيفة ومالك والشافعي رحمهم الله في رواية.

مسئله: مكروه دى كتابت د مينځي چې هيڅ كسب يې نه وي زده اجماعًا، ولي چې شايد دا به بدل الكتابة په زښتى پيدا كوي.

وَّاٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِيْٓ اٰتٰىكُمْ

او تاسي ورکوئ و دوى ته يعني و مكاتبانو ته له مال څخه د خداى جل جلاله چې تاسي ته يې درکړى دى.

بوه سه: چې دا امر الهي باعثه كول دي د ټولو مسلمانانو پر كومك د مكاتبينو سره كه په فرضي زكوة سره وي او كه په نفلي خيرات سره وي، او حسن او زيد بن اسلم رحمهما الله وايي چې مراد سهم ددوى دى چې خداى جل جلاله دوى ته ورکړي په صدقاتو مفروضاتو كې بقوله وفي الرقاب، لكن ددې كلمات د مفروضه مال سره فقط مناسب نه دى ولي چې دا توهم دا مر هم لپاره د استحباب دى لكه امر د كاتبوهم. نو څرنګه به په فرضي سهم پورې خاص سي د بادار كه څه هم زكوة و مكاتب ته خپل نه دى روا لكن دده لپاره بيا مستحب داده چې د بدل كتابت يو قسط دي مثلاً ورپرېږدي، او بعض وايي چې پر مولى دا حط واجب دى وهو قول عثمان و علي والزبير وجماعة من الصحابة رضي الله عنهم وبه قال الشافعي رحمه الله، او مظهري وايي چې تفسير د ايتا په حط سره نه دى صحيح يعني په آيت كې (غرض دادى چې تفسير د ايتاء د لفظ په حط سره نه دى روا كه څه هم حط المولى خو مستحب كار دى لكن ليس مدلول الآية دليل د ندب دادى چې عبد الله بن عمر رضي الله عنه خپل مريى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکاتب کړی (۳۵۰۰۰) درهمًا په اخیرو کښتو کي یې (۵۰۰۰) حط وکړی، لان الایتاء یدل علی التملیک، په حط کي خو تملیک نسته بلکې حط اسقاط دی ومن ههنا قال ابو حنیفة رح لایجب علی المولی شیئًا من البدل اعتبارًا بالبیع (ولي چې عقد کتابت خو هم عقد معاوضه دی لکه بیع کمامر) او حط په هیڅ معاوضه کي که مستحب وي لکن واجب نه دی، فکذا في عقد الکتابة لیس شئ من الحط بواجب علی المولی، حسین کاشفي رح وایي، حویطب صبیح را بصد دینار مکاتب ساخته بود بعد از سماع این آیت بست دینار باو بخشید یعني ازان صد دینار بست دینار باو هبه نمود باقی (۸۰) دینا رصبیح بروقت مقرر ادا نمود، وقتل صبیح یوم حنین في الحرب، قال الشاعر:

بشنو از من نکته ای زنده دل ..... و زپس مرگم به نیکی یاد کن
گه بلطف ازاده رابنده ساز ..... گه با حسان بنده ازاد کن

شان نزول: مسلم او ابو داؤد له جابر بن عبدالله رض څخه روایت کړی دی چې د عبدالله بن ابي بن سلول یوه مینځه وه چې مسیکه یې نوم ؤ او بله مینځه وه چې امیمه یې نوم ؤ ابن ابی دوی مجبوره کولې پر زنۍ (یعني د خلګو سره زنۍ کوئ روپی څندي اخلئ ماته یې راوړئ چې دې ته په عربي ضریبة وایي، نو دې دوو مینځیانو شکایت وکړی و علیه الصلوة والسلام فنزلت هذه الآیة، او په روایت کي د سدي رح راغلي دي چې عبدالله بن ابی یوه مینځه درلوده چې نوم یې معاذه ؤ چې ابن ابی ته به مېلمه راغلی ده به دغه مینځه معاذه وروا ستول چې جماع ورسره وکړي دا د ابن ابی احسان او نازول د مېلمه وه، نو دې مینځي شکایت و ابوبکر الصدیق رض ته وکړی، ابوبکر رض دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسول، علیه الصلوة والسلام امر وکړی چې مینځه څندي راوګرځوي، ابن ابی یوه ناره وکړه یعني خپل قوم ته من یعذرنا (څوک به زما کومک وکړي) من محمد (ﷺ) یغلبنا علی مماليکتنا (چې قبضه کوي زمو پر مالو او مینځیانو) فنزلت، او په بعض روایاتو کي راغلي دي چې دده لعین شپږ مینځیانې وي، معاذه مسیکه، امیمه، عمره، اروي او قتلیه چې ده به پر زنۍ مجبوره کولې، او پر هري یوې د خال سره د هغې د ښائسته او په څوانی مالیه یعني ضریبه اچولې وه روزانه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي ددې روایاتو چي په عدد کي تفاوت ستنه منافات نسته ولي د ابن ابی دغه دنده وه چي رفته رفته شپږو مینځیانو ته ورسېدې.

وَلَا تُكْرِهُوا فَتَيَاتِكُمْ عَلَى الْبِغَاءِ

تاسي مه مجبوره کوئ خپل مینځیانې بر زنۍ.

پوه سه: چي فتیات جمع د فتاة ده چي مینځي ته وایي لکه فتیة چي جمع د فتۍ ده چي مریي ته وایي که څه هم په لغت کي فتۍ نر ځوان ته وایي او فتاة ځواني ښځي ته وایي، لکن دا دوه مشهور لفظه کنایه ده له مریي او مینځي څخه که څه هم کلان سال سپین ږیري او سپین سري وي، وتوجیه تلک الکنایة ان العبد والامة مالکان ددوی خدمت په کوي لکه په ځوان نر او ځوانه ښځه تر اخیره د عمر.

فائده: د فتیات د لفظ مناسبت د بغاء د لفظ سره دی چي زنۍ ده ولي چي زنۍ خو ځوانه ښځه کوي غالبًا نه سپین سري ښځي او نه نابالغه نجونې.

فائده: اکراه پر زنۍ هلته بلل کېږي چي دا وېرووي په قتل یا په پرېکولو د یو اندام او په لږ خوشکه او پېښرو مکره نه بلل کېږي.

إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا لِّتَبْتَغُوا عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

که دوی اراده درلوده د عفت او پاکی له زنۍ څخه.

پوه سه: چي بعض مفسرین وایي چي ان په معنی د اذا ظرف دی شرط نه دی، والکلام ههنا کذالک لمطابقة شان نزول کمامر چي مینځیانې تحصن غوښتی چي دا شکایت و علیه الصلوة والسلام ته ورساوه.

سوال: چي ان په معنی د اذا دی، نو صراحتًا یې اذا ولي نه ووایه؟

ځواب: چونکه ان په مشکوک افعالو کي استعمالېدی او دلته اراده د تحصن د مینځیانو لکه شاذ او نادر کار دی، ولي چي دوی سره نقصان د عقل او دین او کثرة الشهوة الی الجماع اراده د تحصن لري غرض یې توبیخ دی. او سرزنش او اظهار د بې غیرتی د مالکانو د مینځیانو یعني تاسي خو نران یاست او ځانونه غیرتمند بولئ تر ښځو، ښځي تحصن غواړي بې غیرته او بې ناموسه یې پر زنۍ مجبوره کوي، محقق بیضاوي ؒ وایي چي ارادة د تحصن قید او شرط د اکراه نه دی، ولي چي اکراه پر زنۍ خو بهله ارادې د تحصن د مینځیانو د خوا نه پیدا کېږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولي که دوی اراده د تحصن ونه کړي نو طوعًا زنی کوي بدون الجبر والاکراه لکه سړی چې جماع د خپلي مايني سره کوي فافهم.

پوه سه: چې دا قيد د نهي هم نه دی يعني تخصيص النهي بصورة ارادتهن التعفف عن الزنی، واخراج ماعدی الارادة عن الحکم ای الاکراه، ولي چې اکراه پيله ارادة د تعفف هم پيدا کېږي، ولي چې شايد دې مينځي به د هغه سړي څخه چې بادار وايي زنی ورسره وکړه بد ـه يې راځي چې يا به سپين ږيری وي او يا به نور مخی الی غير ذالک، نو بادار يې مجبوره کړي چې حتمًا به زنی ورسره کوي، او يا مينځه په سبب د دې چې تازه يې جماع کړې وي وبل وار ته يې فعلاً شوق نه کېږي او بادار يې بيو پيدا کړي چې پر جماع د مينځي ډېر مبلغ ورکوي بادار مينځي ته وايي ورسه کوټې ته ما سړی راوستلی دی جماع ورسره وکړه سره د دې چې په مينځه کې خو اراده د تحصن نسته لکن اوس يې شوق نه پر راځي، نو يې بادار مجبوره کړي کوټې ته يې ور راستوي او هغه سړی زنی ورسره وکړي که څه هم د دې شوق نه پر راځي، يا بادار متعدد کسان په يوه شپه د مينځي د زنی لپاره راوستلي وي مينځي ته ووايي چې د دغو متعدد و کسانو سره په نوبت جماع وکړه په مينځه کې په يوه شپه د دومره جماع توان نه وي لکن مولی يې مجبوره کړي چې که توان لري که يې نه لري دا جماع به کوي.

(لتبتغوا) چې تاسي طلبوئ ای مالکانو د مينځيانو په اکراه سره د دوی پر زنی، د متاع سريع الزوال. له کسبه څخه د مينځيانو وبيع اولادهن يعني د زانيه مينځي چې به يې اولاد پيدا سو هغه به يې هم خرڅاوه.

پوه سه: چې عرض په لغت عربي کې هغه شي ته وايي چې مستقل ثبوت نه لري له دې سببه متکلمون او حکماؤ عرض د داسي شي لپارة استعمال کړی دی چې قائم په جوهر سره وي کاللون والطعم او هم له دې سببه خلک وايي الدنيا عرض حاضر تنبيهًا علی انها لاثبات لها. فائده: لتبتغوا قيد للاکراه لا للنهي فافهم.

وَمَنْ يُّكْرِهْهُّنَّ فَإِنَّ اللّٰهَ مِنْۢ بَعْدِ إِكْرَاهِهِنَّ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٣٣﴾

او چې څوک يعني مالکان د مينځيانو دوی مجبوره کړي پر زنی باندې، نو خدای ﷻ وروسته تر اکراه د دوی بخښونکی د ګناه دی مينځيانو لره او مهربان دی، يعني ګناه د زنی بعد الاکراه د مالک مکره په غاړه ده، راوي وايي چې الحسن بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الفضل ؓ چې به دا آیت ووایه نو داسې به یې ویل: لهن والله لهن والله او په مصحف کې د ابن مسعود ؓ داسې نوشته وه من بعد اکراههن لهن غفور رحیم.

فائده: پر تاویل من یکرههن مبتداء ده خبر یې محذوف دی، ولې چې فان الله الآیة خبر نسې کېدای لعدم العائد الی المبتداء، نو تقدیر داسې دی ومن یکرههن (فعلیه وزره) دا یې خبر مقدم دی فان الله من بعد اکراههن غفور رحیم نو فان الله آه تعلیل د جمله سابقې دی. لکن دوی ته خو مغفرت او رحمت ثابت سو او مالکانو ته لکه ابن ابی ته نه مغفرت سته او نه رحمت لقوله تعالی في حق ابن ابی المنافق واتباعه من المنافقین سواء علیهم استغفرت لهم ام لم تستغفر لهم لن یغفر الله الآیة.

سوال: د زانیاتو خو و مغفرت ته ضرورت نسته ولې چې مغفرت خو د ممخه ګناه غواړي. نو دوی خو ګناه نه ده کړې زنۍ خو مالک په زوره په وکړه؟

خواب: مینځیانې که څه هم مالک په زوره زنۍ ته مجبوره کړې دي لکن د زنۍ د فعل په جریان کې له مطاوعت څخه په اعتبار د طبعیت بشري خالي نه دی.

دروښ وایي: چې په تفسیر کواشي کې وایي المغفرة ههنا په معنی د عدم الاثم دی لانها لا اثم علیها اذا اکرهت علی الزنۍ بقتل او ضرب مفض الی التلف او تلف العضو انتهی. فقیر وایي چې تفسیر کواشي للعلامة السمرقندي که څه هم د پر قدیم تفسیر دی لکن مغفرت په معنی د عدم الاثم په لغت عربي کې نه دی راغلی.

سوال: په هغه آیت کې چې مخاطب یې علیه الصلوة والسلام دی لیغفرنک الله ماتقدم من ذنبک وما تاخر آه خو اثم او ګناه نسته، نو ولې د مغفرت لفظ راغلی دی؟

خواب: د هغه آیت ترجمه خو بعض مفسرین په ترک د عزیمت یا په ترک د اولی یا د زلت کوي یا په حسنات الابرار سیئات المقربین سره په معنی د عدم الاثم خو یې هیڅ چا ترجمه نه ده کړې فتدبروا والله اعلم بالصواب.

پوښتنه: آیا نر که چا مجبور کړی پر زنۍ بقطع عضوه او تلف نفسه بان لم یزنۍ او ده هم زنۍ وکړه هغه هم مغفور دی او ګناه یې د مکره په غاړه ده؟

خواب: لا! هرګز نه الفاعل للزنۍ باختیاره لان انتشار آلته لایکون بالاکراه والاجبار بل بسبب الطوع والاختیار، او په ښځه کې خو ظاهرًا علامات د طوع والاختیار نسته فرج یې پر خپل سابق حال دی، بخلاف الرجل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ وَّمَثَلًا مِّنَ الَّذِيْنَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

لقد آه ځواب د قسم محذوف دی چې لام موطئه للقسم المحذوف يې بولي، والمخاطب هو النبي ﷺ واصحابه ؓ بل جميع امته الى يوم القيامة يعني نازل کړی دی موږ په دې سورت کې يعني سورة النور (آيات مبينات) داسې آيات چې بيان د احکامو او حدودو پکښې ستد، يا معنی داده واضحات دي چې عقول سليمه او کتب قديمه يې مصاعدت کوي.

پوه سه: چې د مثل معنی قصه عجيبه ده او په عبارت قرآني کې مدخول د من محذوف دی ای قصة عجيبة من جنس الامثال (وهذا هو مدخول كلمة من) د هغو کسانو چې تر تاسي دمخه تېر سوي وه، نو قصه عجيبه د سورت نور قصه عجيبه د عائشې ؓ ده چې منافقينو متهم بالزنی وګرځول لکه يوسف ؑ چې زليخا متهم په قصد د زنی خپل وګرځاوه. يا مريم ؓ په سبب د ولادت د عيسی ؑ بلا اب متهمه يې په زنی وګرځول (وموعظةً للمتقين) عطف دی پر مثلاً، يعني په دې آيتو وعظ او نصيحت کړل سوی دی د تقوی داره خلګو لپاره.

پوه سه: چې تخصيص د متقين (که څه هم مواعظ د قران عام دی) له دې سببه وکړی چې پر مواعظ د قرآن متقين فائده اخلي، ولې چې متقين له حکاياتو څخه د امم ماضيه وو چې د انبياء ؑ موعظة او تبليغ به يې نه مانه اخير الامر به په عذاب دنيوي مبتلا سوه کفرعون و نمرود وغيرهما، نو متقين عبرت ځندي اخلي او د خپل نبي او د قرآن و موعظت ته په احترام ګوري خوفًا من ان ينزل بهم ما نزلت على الامم الماضية، سعدي شيرازي ؒ وايي:

پند گير از مصائب ديگران.... تا نگيرند ديگران ز تو پند
نرود مرغ سوی دانه فراز.... چو ديگر مرغ بيند اندر بند

اَللّٰهُ نُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكٰوةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ ؕ

پوه سه: چې نور يو کيفيت دی چې په ستر ګو ليدل کېږي اولاً او په کيفيت سره نور قابل ديد شيان ليدل کېږي (قابل ديد ما ددې لپاره ووايه چې په نور سره اجسام کثيفه ليدل کېږي مثلاً مځکه، اوبه، درختي، ډبري وغيرها او هواء نه په.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لیدل کیږي، لکه د لمر نور یا د سپوږمۍ نور چې پر مځکه واقع سي، یا د شپې په تاریکه خونه کي برق (یعني بجلي) ولګول سي د خوني ټوله شیان ولیدل سي، په دې معنی سره یې اطلاق پر خدای ﷻ نسي کیدای لانه تعالی لیس بجسم له کیفیة ظاهرة علی الاجسام الکثیفة فهو لیس علی ظاهره فالنور المضاف الیه تعالی في قوله مثل نوره، یا مضاف محذوف دی ای خالق نور السمٰوات والارض یا ذو النور السمٰوات، او یا محمول پر مبالغه دی نحو زید عدل وزید کرم کانه نفس العدل والکرم مبالغة، او یا نور مصدر دی په معنی د فاعل دی ای منور السمٰوات والارض بالشمس والقمر والکواکب حسًا وظاهرًا، او بالملائکة والانبیاء والمؤمنین معنًی وباطنًا او یقال منور (یعني ښائسته کونکی دی) الارض بالنباتات والاشجار، وقیل معنی الآیة الا نوار کلها منه تعالی کما یقال فلان رحمة ای منه الرحمة، وقیل معنی الآیة الله مدبر السمٰوات والارض لکه یو مشر د قوم چې صاحب د لوی تدبر وي چې قوم دده په تدابیرو سره لارښوونه کوي فلان نور القوم، او سلطان المفسرین عبدالله بن عباس ؓ معنی داسي کړې ده ای هادي اهل السمٰوات والارض.

پوه سه: چې مثل په معنی د صفت عجب دی د نور د خدای ﷻ (ای النور المعنوي وهو الهدایة) چې په زړه کي د مؤمن سته چې په هغه نور د هدایت مؤمنلار پیدا کړي ومعرفت ته د صانع العالم او و صفاتو ته د خدای ﷻ من العلم والقدرة والخلق وغیر ذالک او په هغه نور سره یې تصدیق د کلام الله وکړي، او په هغه نور سره حق حق ورته معلوم سو او باطل باطل یې وپیژندی قال الله تعالی فهو علی نور من ربه، بعضي وایي چې ابن مسعود ؓ دا آیت داسي وایه مثل نوره في قلب المؤمن، او بعض مفسرین وایي چې ضمیر مجرور د نوره راجع دی و مؤمن ته، ابی بن کعب ؓ به داسي قرائت کاوه مثل نور قلب من آمن چې هغه داسي بنده دی چې خدای راسخ او محکم کړي وي ایمان او قرآن دده په سینه کي، او حسن او زید بن اسلم ؒ وایي اراد بالنور القرآن، او بعض علماء وایي چې مراد له نوره طاعت د خدای ﷻ دی چې خدای پاک ځان ته مضاف کړی لتشریف المضاف.

دروښ وایي: چې مرجع د غو ټولو تفاسیرو دې ته دی چې مراد له نور څخه نور معنوي دی لا النور الحسي، پر هر تقدیر دا آیت یوٓ تمثیل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مشکوة په لغت کې هغه غار ته وایي چې بلې خوا ته منفذ نه لري چې په پښتو یې تاخچه بولي، او که یې منفذ درلودی هغ کوة بولي چې په پښتو یې کلکین بولي یعني هغه ځای دی چې کلکین پکښې نصب وي، روح البیان وایي چې دا حبشي لغت دی، حسین کاشفي ؒ وایي مانند روزنه ایست در دیواری که او بخارج راه ندارد چون طاقی (فیها مصباح) په دې طاق کې یو غټ څراغ وي (مراد له څراغ څخه فلیته ده چې اور پکښې وي یعني بله وي)

فائده: له مشکوة څخه مطلب دادی چې رنا پکښې جمع وي.

اَلْمِصْبَاحُ فِیْ زُجَاجَةٍ اَلزُّجَاجَةُ كَاَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّیٌّ

او هغه فلیته د یوې ښېښې په منځ کې وي چې صافه روښانه ښیښه وي.

دروښ وایي: چې فائده د جعل د مصباح په زجاجه کې او زجاجه په تاخچه کې ښه روښنایي ورکول دي لان المکان کلما تضایق کان اجمع للضوء بخلاف الواسع فان الضوء ینتشر فیه (الزجاجة کانها کوب دري) صفت د زجاجه دی چې دمخه ذکر سوه یعني في زجاجة.

سوال: نحات وایي چې جمله چې صفت واقع سي عائد و موصوف ته غواړي نو په دې جمله کې عائد څه شی دی؟

ځواب: عائد یې وضع د ظاهر یعني الزجاجة په ځای کې د عائد (ای هي کانها) وقس علی هذا المصباح في زجاجة چې هغه جمله خو هم صفت د مصباح وه فافهم. والمعنی دا زجاجه چې فلیته پکښې بله وي لکه ستوری چې راوخېژي او ښه راپورته سي.

پوه سه: چې لفظ د دُرِّيٌّ په تشدید د راء او یاء منسوب الی الدر یعني ملغلره په صفا والي او حسن کې.

پوښتنه: د ستوري رنا خو د ملغلري تر رنا ډېره ده فما وجه النسبة ای نسبة الکوکب الی الدر، ولي چې مقصود له نسبت څخه زیادت توضیح د منسوب ده مثل زید قندهاري؟

ځواب: معنی د عبارت داده چې دا کوکب احسن او ښه روښانه وي په ستورو کې لکه ملغلره چې روښانه ده تر هغو دانو لکه عقیق، مرجان، شنې دانې وغیرها خصوصًا اذا کانت الدرة فریدة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې کوکب دري یو دی د پنځو غټو ستورو ځخه یعني زحل، مشتري، زهره، عطارد او مریخ. دا ستوری زهره ده چې تر ټولو دغو پنځو ستورو ښائسته او روښانه ستوری دی.

پوښتنه: تشبیه یې د لمر او سپوږمی سره ولې نه کړه ور، او سره ددې چې لمر او سپوږمی تر زهره بالا دي په ضوء کې؟

ځواب: چونکه لمر د کسوف په تاریکه کې واقع کېږي او سپوږمی د خسوف په دام کې راتله بخلاف الکواکب الخمسة المذکورة، نو ځکه یې لمر او سپوږمی مشبه به ونه ګرځول.

فائده: خسوف او کسوف دواړو ته په پښتو تندره وایي او زیات تفصیل ددې مبحث په کتابو کې د هیئت یعني الریاضي چې په اوسنی زمانه کې یې بولي.

كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبٰرَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ

(یوقد) خبر ثان للمصباح یا حال دی له هغه ضمیر ځخه چې مستکن دی په ظرف مستقر کې اعني في زجاجة چې راجع دی و مصباح ته، یوقد پر صیغه د مجهول غائب ده چې ضمیر راجع و مصباح ته دی، والمعنی چې بلول کړه کېږي دغه مصباح (من شجرة) یعني چې ابتداء یوقد المصباح من شجرة، نو کلمه د من لپاره د ابتداء ده، او یا کلمه د من سببیه ده په حذف د مضاف ای من دهن شجرة.

پوه سه: چې اول یې شجرة مبهم راوړه بیا یې توصیف د هغې وکړی په مبارکة سره بیا یې بدل د هغې راوړی لقوله (زیتونة) دا ټوله د تعظیم د شان د هغې درختي. او ددې لپاره چې دا درخته په اذهانو کې د سامعینو سره قرار پیدا کوي، ولي هر شی چې وروسته تر انتظار و سامع ته بنکاره سي هغه په ذهن کې د سامع ښه قرار مومي، جامي قدس سره وایي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... با امید رسد امیدواری

ددې درختي د تعظیم وجه داده چې درخته د زیتون کثیر البرکة ده او په ددې درخته کې فوائد کثیرة ستة، ولي چې روغن ددې درختي په څراغانو کې بلول کېږي او دا روغن د څراغ لپاره تر ټولو روغنیاتو صفا او رڼا یې ډېره ده، ډوډۍ په پوري کېږي، او ددې د روغن رایستلو ته باقاعده رایستونکی نه غواړي بلکې هر سړی یې استخراج کولای سي، بغوي ؒ وایي چې په حدیث شریف کې راغلي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې ددې درختي روغن د ناسور دوا ده، او دا داسي درخته ده چې له اعلی څخه
ښکتې تر اسفل پورې څیراغان په بلهږي، یعني له اعلی څخه تر اسفل پورې د
روغنې موادو مالامال ده. بغوي ؒ له اسید بن حضیر او اسید الانصاري ؓ څخه
روایت کړی دی چې رسول الله ﷺ وویل: چې تاسي روغن زیتون خورئ او
څانونه په غورئ فانه شجرة مبارکة (ای من شجرة مبارکة) و روی ابو نعیم في
الطب عن ابي هریرة ؓ قال چې رسول الله ﷺ وویل خورئ زیتون او څانونه په
غورئ فانه شفاء من سبعین داء منها الجذام (ولي چې زیت شفاء د اوویا (۷۰)
مرضو دوا ده چې یو له هغو څخه اتشک دی، او ابن ماجه او حاکم روایت کړی دی
له ابو هریره ؓ څخه کلوا الزیت وادهنوا به فانه طیب مبارک.

یوه سه: چې لفظ (لاشرقیة) صفت دی د (زیتونة) او حرف نفي جزء د محمول
دی چې په منطقو کې یې معدولة المحمول بولي، والمعنی چې دا درخته د زیتون
یه داسي ځای کې واقع وي چې همېشه لمر پر دې نه راخېژي ولي بیا یې حرارت د
لمر سوځي (ولاغربیة) او نه په مغرب کې د باغ واقع وي چې لمر همېشه څنډي
غائب وي او حرارت د لمر نه ور رسېږي، نو که داسي وي مېوه به یې اومه وي، دا
قول د سدي ؒ دی، او بعض مفسرین وایي لاشرقیة تطلع علیها الشمس عند
طلوعها فقط، ولاغربیة تقع علیه الشمس عند غروبها دون طلوعها فعلی
الحالین دانې یې بنه نه پخېږي بلکې یا پر لوړ ځای وي یا په فراخه صحراء کې وي
چې همېشه لمر پر برابرېږي، نو مېوه یې بنه پخه وه او روغن یې ډېر صاف وي، او
بعض مفسرین وایي چې نه درخته د زیتون شنه وي په مشرق او نه په مغرب کې د
څکې بلکې په منځ کې د شرق او غرب چې ملک شام دی، فان زیتون الشام
اجود. حسین کاشفي ؒ وایي: که زیتون را هفتاد پیغمبر دعا کرده ببرکت و از
جمله ایشان ابراهیم علیه السلام، او بعض مفسرین وایي لانابتة في شرق المعمورة نحو
کنکدژ و دیار الصین (ای چین) وخطا، ولا في غرب المعمورة نحو طنجة
وطرابلس ویار قیروان بل في وسط المعمورة وهو الشام، ولي چې د شام زیتون تر
ټولو اجود دي کمامر، او یا په خط استواء کې بین المشرق والمغرب ویقال له قبة
الارض، وسط الارض عامرها وغامرها وخرابها وهو مقام تعتدل فیه الازمان في
الحر والبرد ویستوی فیه اللیل والنهار ابدًا ویکون کل منها اثنا عشر ساعة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چي دا يو غريب تفسير دی چي ډير تعلق يې په رياضي پورې دی، او وجود د زيتون په داغسي ځای کې مشکوک دی والله اعلم بالصواب، او حسن بصري ؒ وايي که اصل اين شجره از بهشت بدنيا آورده اند پس از اشجار اين عالم نيست ودرختهای جنت رانه شرقی و نه غربی توان گفت.

يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيٓءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ ۚ نُّورٌ عَلَىٰ نُورٍ

قريب دی چي روغن د زيتون روښان دي سي په خپله له جهته د غايت برښېدلو او د ډير صفايي که يې څه هم اور نه کړي مسه، ولايخفى ان فيه مبالغة في بيان زيت الزيتون وبياضه. او کلمه د يکاد لپاره د تصحيح د دغه مقال ده.

پوه سه: چي دا جمله بل صفت دی د شجرة الزيتون، واو عاطفه دی معنی يې داده: لو مسته نار ولو لم تمسسه نار ای يضئ كائنًا على كل حال متى وجود الشرط چي مماست د نار دی وعدم وجوده (نور على نور) نور دی پر نور، يعني هو نور متضاعف فان نور المصباح زاد في انارته صفاء الزيت وزهرة القنديل وضبط مشكوة لامنفذ فيه كمامر، محي السنة بغوي شافعي المذهب ؒ وايي چي اهل علم په معنی کې د دې تمثيل اختلاف لري. بعض علماء وايي چي دا مثال دی د قرآن عظيم الشان چي دی په هر حال کې روښن معجز کتاب دی که يې څوک منې او که يې نه منې. گفته اند الشمس شمس ولو لم يرها الضرير (چي سترګې يې پر لمر برښې او لمر ته نسي کتلای) والعسل عسل ولم لم يجده طعمه فاه المرير (يعني چي صفرا، يې غالبه وي او خوله يې ترخه وي همېشه په سبب د غلبه د خلط الصفراء نو دده په خوله کې شيريني د عسلو دده په خوله کې نه احساسېږي. نو نه په لمر کې د رڼا خلل سته بلکې تاوان او خلل د ضرير په سترګو کې دی او نه د عسلو په شيريني کې نقصان سته بلکې نقصان د مرير په خوله کې دی، نو قرآن کريم داسې روښانه او خوږ شيرين کتاب دی که څه هم کفار د مکې نه منې... بيت

نقصان ز قابليست وگرنه على الدوام
فيض سعادتش به همه کس برابر است

قال ابن عباس ؓ وكعب الاحبار ؒ اخبرني عن قوله تعالى مثل نوره الآية قال كعب هذا مثل ضربه الله لنبيه ﷺ يعني فالمشكوة صدره والزجاجة قلبه، والمصباح فيها النبوة، يكاد نور محمد ﷺ ونبوته وصدقه في دعوى الرسالة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يتبين للناس ولو لم يتكلم بانه بني كما كاد ذالک الزيت يضئ ولو لم تمسسه نار (ای قبول اهل مکة) نور علی نور.

درويش وايي: چي دېره زېبا ترجمه کعب رضي الله عنه ددې آيت وکړه، نو اوس واورئ هغه معجزې د عليه الصلوة والسلام چي قبل النبوة او بعثت دده رونما سوی دی، په خلاصة السير کي چي يو جامع کتاب د سيرة النبي ﷺ وايي چي د عليه الصلوة والسلام مور وايي چي محمد ﷺ چي زما په حمل راغلی نو ما خوب وليدی چي زما څخه يو نور جلا سو چي په هغه نور کي ما بنګلې د بصرئ من ديار شام وليدې، او چي دی زما څخه وزېږيدی پر مځکه پروت ؤ سر يې د اسمان و خوا ته پورته کړی، او حافظ ابن حجر رح وايي چي مور د عليه الصلوة والسلام وايي چي دما څخه چي عليه الصلوة والسلام جلا سو يعني وه زېږيدی ما يو نور وليدی چي قصور د شام ما په هغه نور کي وليدل. ابو نعيم په دلائل النبوة کي وايي چي انه ﷺ چي وزېږيدی مور يې وايي چي يو سړی راغلی (چي هغه په حقيقت کي ملکه وه) نو عليه الصلوة والسلام يې په اوبو سره چي د مځکي يې را ويستلې دري واره پرېولی، بيا يې يوه وربښمينه کټوره د سپينو وربښمو چي په هغه کي يو مهر ؤ دا مهر يې ولګاوه په مابين کي د اوږو کالبيضة لکه هګی چي برېښېدله يا لکه د زهره ستوری.

بيهقي، ابن الدنيا و ابن السکن روايت کړی دی چي په شپه د ميلاد د رسول الله ﷺ بنګلهٔ کسرئ فارس به زلزله درآمد چهار منارهٔ آن قصر درافتادند و کسرئ بسيار ترسيده سبب آن نمی دانست ....ع: تزلزل درايوان کسرئ فتاد.

او اور د آتش پرستانو چي زر کاله مسلسل نه ؤ مړسوی په ولادت د عليه الصلوة والسلام مړ سو. او د بحيرة سلوه اوبه په مځکه کي کښته ولاړې وجاء في حديث عائشة رضي الله عنها.

درويش وايي: چي که څه هم عائشه رضي الله عنها په شپه د ميلاد النبي ﷺ په عالم دنيا کي نه وه لکن د رسول الله ﷺ يا د بل راوي څخه د عليه الصلوة والسلام دا قصه اوربدلې وه) چي يو يهودي ؤ په مکه شريفه کي د تجارت لپاره اوسېدی، وه يې ويل يامعشر قرش په هغه شپه چي ميلاد النبي ﷺ کېدی ولد في هذه الليلة نبي هذه الامة (يعني الملة والامة الآخيرة) بين کتفيه شعرات علامة (يعني مهر نبوة) فيها شعرات متواترات (سوال: يهودي نو په غيب څه خبر ؤ؟ ځواب: يهودي عالم التورات ؤ وفي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاریخ ولادة النبي ﷺ بمکة موجود) قریشو چي تلاش وکړی چي په دې شپه به کومه
ښځه د قریشو لښکه سوې وي، خو خبر سوه چي د عبدالله پس مرګي زوی د
عبدالمطلب لمسی زوکړی دی، نو قریشو یهودي د ځان سره راهي کړی حتی چي
عبدالمطلب ورسره، مورته د علیه الصلوة والسلام یې وویل چي هغه د تنی شپې نو
مولود راوباسه، مور د علیه الصلوة والسلام خپل زوی ورته راویستی، او قریشو چي
یهودي هم ورسره ؤ شایې ورلځه کړه هغه علامه چي یهودي دوی ته بیان کړې وه پرشا
د علیه الصلوة والسلام وبرېښېدله (یعني خاتم النبوة) یهودي چي هغه علامه ولیدل
بېهوشه سو، یهودي ورته وویل ذهبت والله النبوة من الیهود و بني اسرائیل الی
العرب رواه الحاکم في المستدرک، او په مواهب اللدینیة چي کتاب د سیرة
النبي ﷺ دی قصه د عمیصا الراهب (یعني چي خلوت نشینه صوفي د نصاری ؤ) ده
وه اهل مکه ته وویل چي قریب د هغه زمانه چي په تاسي کي به یو مولود پیدا کیږي یا
اهل مکة چي د هغه مولود په دین به سي ټوله عرب (دروېش وایي: چي کتابو کي د
احادیثو شریفه وو راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام چي وفات کېدی ټوله عرب د
لږو بر په دین د اسلام مشرفه سوي وه) ویملک العجم فلما ولد قال الراهب لعبد
المطلب جده[۴] قد ولد لک المولود الذي کنت احدثکم عنه (یعني ستا لمسی) او له
عباس بن عبدالمطلب[رض] څخه روایت دی چي ده و علیه الصلوة والسلام ته وویل یا
رسول الله[۴] ماته دعوت راکړه د دخول په دین کي ستا یو علامې د نبوت ستا چي ماته
ولیدلې په زانګو کي چي تاد سپوږمی سره سات تېراوه او تا به اشاره کول و سپوږمی
ته سپوږمی به هر هغه خوا ته مېلان کاوه علیه الصلوة والسلام ورته وویل چي د
سپوږمی سره خبري کولې دې به زه له ژړا څخه منع کولم او ما به اواز اوریدی د
سپوږمی چي تحت العرش به یې سجده کوله.

پوښتنه: که دا قصه د ابن عباس[رض] صحیح وایي، نو خو عباس[رض] به له اول څخه
د مؤمنانو د مکې وای، ولي داعي الی الایمان ي ده بیان کړی دا خو ده په وخت
کي د طفولیت د علیه الصلوة والسلام عباس[رض] لیدلی، نو وروسته لوی سو او
څلوېښت کاله عمر ته ورسېدی او نبي سو، نو باید اولین د قریشو عباس[رض] وایي
چي ایمان یې پر راوړی وای او سره د دې چي په دیارلس کاله د اقامت او دعوت د
علیه الصلوة والسلام چي تېر سوه په مکه کي عباس[رض] ایمان رانه وړی حتی د بدر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په غزایاوو کي (۷۰) اوویا کسانو څخه د بندیانو چي مدینې ته علیه الصلوة والسلام د خانه سره بوتلې یو پکشي عباس ؓ هم وُ. لکن بیا یې هم ایمان رانه وړی بلکې په فدیه یې څار خلاص کړی؟

ځواب: مذهب د اهل السنة والجماعة دادی چي کفر او اسلام طاعت او عصیان په تقدیر او خلق د خدای ﷻ پورې مربوط دی. نو په تېرو کلو کي چي ذکر سوه تقدیر د خدای ﷻ نه وُ رسېدلی نو هغه چشم دید واقعه یې له دماغه څخه وتلې وه وکان لم یکن شیئًا مذکورًا وګرځوله چي تقدیر د رب العزت ورسېدی هغه فارینه یعني زړه قصه خدای ﷻ سبب د اسلام د عباس ؓ وګرځوله. ولله في کل مایفعل حکم ومصالح، او بله معجزه قبل النبوة د علیه الصلوة والسلام چي موریې په یو کار اخته وه. نو دده زانګو به په خپله په حرکت کي وه (یعني ملکو به زنګوله) وروی بروایة صحیحة چي علیه الصلوة والسلام په اول کي د ولادت په توحید سره د خدای ﷻ او په عبودیت خبري وکړې لکه عیسی علیه السلام چي وکړې کما ثبت بنص القرآن.

قصة ارضاعه ﷺ في بني سعد: د تاریخ په پاڼو کي راغلي دي چي د قریشو داعادت وُ چي خپل شیرخوار زامن به یې صحرایانو ښځو ته په لاس ورکول که به یې خپلي مور شیدې درلودې او که نه، په دې کي ددوی غرض دا وُ چي د صحرایانو عربي له عجمي الفاظو څخه خالي وي او په ښار کي عرب او عجم دواړه اوسېږي عرب قح له طفل څخه نه جوړېږي، چي په صحراء کي به یې رضاء تکمیل سوه او ژبه به یې زده کړه بیا مرضعې و خپل مور او پلار ته تسلیم کاوه، البته په دوران کي ددې کلو به مرضعاتو خپل مور او پلار ته یوه شپه او ورځ راوستی بیرته به یې بېوی. تاریخ وایي چي په دغه کال کي چي ولادت باسعادت د علیه الصلوة والسلام منځ ته راغلی، د بني سعد قبیلې ښځي سره د خپلو ازواجو به مکې ته پر اوښانو یا آسانو یا پر خرو راتلې، چي په مکه کي د ثروت والا سړي زوی تر لاسه کړي، ولي چي دا قبیله مسکینان وه او د بزو او میږو په شیدو وغیره یې خپل ګذاره کول او د طفل پلار به ډېر کومک ورسره کاوه، یعني مالي نقود او جامې به یې ورکولې، نو په هم دې کال د مولود د علیه الصلوة والسلام ددې خلکو په جمله کي چي مکې ته به راتله د کوچنیانو د حاصلولو لپاره حلیمه سعدیه یوه غریبه ښځه هم وه، او یو ډنګر خریې درلودی د خپل میږه سره را روانه سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چونکه ددې مرکب ډېر کرار ؤ هغه نوري ښځي وختي رارسېدلي وې او د سرمایه دارانو زامن يې قبضه کړي وه. حليمه چې راغله هيڅ طفل بل نه ؤ ښکله محمد ﷺ چې نورو ښځو ميل نه ورته درلودی، ولي دوی به ويل چې دا طفل بې پلاره يتيم دی مور ته به يې څه کومک راورسېږي، نو حليمه چې راغله بل کوچنۍ خو نه ؤ، نو د بي بي آمنه (چې د عليه الصلوة والسلام مور مبارکه وه) کور ته ورغله چې زه دا طفل د رضاع لپاره غواړم، مور يې هر څه عذر ورته وکړی چې زما زوی يتيم دی څه کومک مالي به زه ستا سره وکړم، نو آمنه چې خپل زوی ورته را واخستی حليمې چې وليدی .... ع: برو عاشق شده بصد دل نی به يک دل.

نو حليمې دی و چپه تي ته واچاوه، عليه الصلوة والسلام خولي ځندي دوري دوري ځندي کول يعني نه يې رودی، بيا يې و راسته تي ته واچاوه عليه الصلوة والسلام هغه تی په مينه او محبت سره ورودی ځان يې په مور کړی وهذا معجزة اخرٰی کما لايخفٰی، حليمه خپل زوی چې غمرة يې نوم ؤ په چپه تي مور کړی، نو دواړه بيده سوه، او عليه الصلوة والسلام ترتي رودلو دمخه نه بيدېدی، حليمه وايي چې تر مخه زما په دواړو تيو يوازي زما خپل زوی نه مړيدی لقلة الغذاء المولدة للبن، نن دواړه په ډک نس په مارړه سوه، وهذه معجزة اخرٰی، خير له مکې څخه ټولي د بني سعد ښځي په اتفاق سره روانې سوې، نو د حليمه خر چونکه نهايت ډنګر ؤ، نو دی عليه الصلوة والسلام په خپل غېږ کې واخستی او غمرة پلار په غېږ کې واخستی خر يې پسې شاړه، لکن ټوله د کاروان که اوښان وه که اسانه وه او که غښتلي خره وه يو هم د حليمې تر ډنګر خره نه دمخه کېدل، ولي چې پر ډنګر خره سردار عالم سپور ؤ، وهذه معجزة اخرٰی، ټوله کاروانيان په تعجب کې غرق وه، خير تر کوره پوري ورسېدل، هلته حليمې يو څو ډنګري مېړي او بوزې درلودې، ددې نور زامن وه چې هغه به يې مهار چراګاه ته ايستلې کلونه د کاختی وه يعني بارانونه نه وه سوي چراګاه بې نباتاتو وه، په صبا ورځ چې د حليمې زامنو خپل مېړي ويستلې يو ځای پر ښه شنو وښو خدای ﷻ برابر کړه مېړو او پسو په ښه ډک نس هغه غيبي وانښه وخوړل او غولانځي يې د شيدو ډکې کورته راوستلې، حليمې چې ورته وکتل کونجی يا دکی يې پر راواخستل مېړه او پزو په شيدو ټولي کونجيانې او دکی ورډکې کړې، نو حليمې زامنو ته وويل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې نن ولي دا مېرۍ او بزې په ډک نس راغلې؟ هغوورته وويل چې پر داسي شنو وښو او مرغو پېښې سو چې مېرۍ او بزې په ډک نس په مړې سوې، وهذه معجزة اخرى، حليمې خپلې دکې ته تومنه واچول چې مستې ځندي جوړې سي، نو سهار يې غړکه پر وشړېل، دا سلسله جاري وه، د قريې خلک خبر سوه چې حليمې ته دا نادر د عقل لهړي نعمت د کومي خوا پيدا سو. نو د حليمې او د مېړه يې او د ټولو کلي والو دا يقين سو چې ددې سبب اصلي هم دغه طفل دی چې حليمې له مکې څخه راوړی دی، نو کلي والو خپل زامنو ته وويل چې تاسي خپلې مېرۍ او بزې د حليمې د زامنو په مېړو او بزو پسې روانوئ هر ځای چې دوی چراګاه پيدا کړه تاسي هم خپلې مېرۍ او بزې هلته څړوئ، اخير الامر د ټولې کلي بزې او مېرۍ به په ډکو نسو او د کو غولانځو کور ته راتلې حتى دا ټوله کلي والو د محمد ﷺ يعني د حليمې رضعي زوی بېمحابا پر ګران او معزز سو، حليمه سعديه وايي چې اول وار چې ما رسول الله ﷺ له تي څخه پرې کړی يعني وخت د رضاع دوه کاله يې پوره سوه، نو عليه الصلوة والسلام دا خبرې وکړې الله اکبر کبيرًا والحمد لله کثيرًا وسبحان الله بکرةً و اصيلاً رواه ابن عباس ؓ.

او له حضرت عباس ؓ څخه روايت دی چې څه وخت چې عليه الصلوة والسلام د حليمې په کور کې دومرې عمر ته ورسېدی چې د کوچنيان سره بې سات ټبر کړی وای. له کوره به راووتی کوچنيان به سات سره ټبر اوه عليه الصلوة والسلام به ګوښه ورته ناست ؤ د هلکانو سات ټبرولو ته به يې کتل، ابن عباس ؓ وايي چې حليمې دی ته پرېښو چې له کوره لهړي ولاړ سي، يوه ورځ د حليمې فکر نه ؤ نو عليه الصلوة والسلام د خپلې مرضعې خور يعني د حليمې د لور سره چې شيماء يې نوم ؤ دباندې ګوښه تللی ؤ، د حليمې فکر سو پسې راووتل پسې ګرځېدل خو عليه الصلوة والسلام يې سره د خوره وليدی، وخت د دوبي د غرمې ؤ، نو يې پر لور منت وکړی چې تا ولي محمد دې سرې ګرمی ته رايستلی دی، شيماء ورته وويل: يا امه ما وجد اخي حرًا رئيت غمامة تظله (ګرمي يې نه ده سوې زما د ورور ما وريځ وليدل چې پر ده يې سايه کول چې دی به ودرېدی وريځ به هم دده پر سر سايوان ودرېدل چې دی به راهي سو وريځ به هم ورسره روانه سوه) وهذه معجزة اخرى.

وفي الشمائل المجديه چې د يو کتاب نوم دی چې شمائل د عليه الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام يې په ښه تفصيل سره بيان کړي دي، د حليمې د خولې څخه يې روايت کړی دی چې دې وويل چې مور خراغ ته د شپې نه يو محتاجه سوي د کومې ورځې څخه چې ما محمد کور ته راوړی دی لان نور وجهه الکريم کان انور من کل سراج فاذا احتجنا الی السراج في البيت المظلم جئنابه[۴] فتنورت الامکنة بنور وجهه[۴] وهذه معجزة اخرٰی ..... بيت:

حسن يوسف قدر عنا روی زيبا داری ..... آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

له حليمې څخه روايت دی چې ما چې ارضاع د عليه الصلوة والسلام شروع کړه زما شيدې دومره ډيرې سوې چې دده او دده د ورور غمره سره سره ما لسو شيرخوارو ته د کلي او ترلس بالا کوچنيانو ته ورکولې، وهذه معجزة اخرٰی، او حليمه به ګاهې د عليه الصلوة والسلام سره صحرا ته ووتل دا وايي چې پريوه وچه شپله به ورغلو هغه به في الوقت سرسبزه او شاداب سوه، او دې وويل چې د ډيرو خبرې ما اوريدلې چې سلام به يې و عليه الصلوة والسلام ته وراچاوه، او د درختي ښاخلې به ورته راکړيدلې، وکان النبي ﷺ يخرج مع اخيه الاکبر رعيان الغنم فقال اخوه ان اخي الحجازي القرشي اذا وقف بقدميه علی الوادي ينحفر لوقته واذا جاء الی البئر ونحن نسقی الاغنام، نو رالوړي به سوې اوبه د څاه (کوهي) و خولې ته، وهذه معجزة اخرٰی، او چې په لمر کې به ودريدی وريځې به سايه پرو کړه او دی به ولاړ وُ وحشي حيوانات به ورته راځغاستل پښې به يې ور مچولې، وهذه معجزة اخرٰی، دا وايي چې يوه ورځ ما محمد[۴] د نيکه او د مور ملاقات ته ورو ستلی وُ، چې د مکې حرم ته داخل سو هُبل چې يو لوی بت وُ سر يې ورته کښته کړی وکذا جميع الاصنام من اماکنها تعظيمًا له، او حجر اسود ته چې مي وروستی چې مچ يې کړي حجر اسود له خپل ځايه ورته راووتل حتی التصق بوجهه الکريم ﷺ وهذه معجزة اخرٰی.

دروښ وايي: چې عليه الصلوة والسلام چې تخمينًا د اتو (۸) کالو په سن کې سو مور يې هم وفات سوه، او څلور کاله وروسته يې نيکه عبدالمطلب هم وفات سو، عبدالمطلب د وفات په وخت کې خپل مشر زوی ابو طالب راوغوښتی چې وصيت ورته وکړي، يو وصيت يې دا وُ چې د عبدالله د يتيم محمد[۴] سره چې ستا وراره کېږي فوق العادة شفقت به پر کوې، رشتيا دا چې ابو طالب په حق کې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوة والسلام په ښه وجه د پلار وصیت پر ځای کړی، خیر دا قصه یې پر دې ځای پاته، نور به د علیه الصلوة والسلام حال و څېړو د حلیمې په کور کې.

چونکه علیه الصلوة والسلام د خپل رضعي ورور سره د مواشیو پوه ول مختاره کړه که څه هم د حلیمې نه وه خوښه لکن د علیه الصلوة والسلام د اصرار په سبب یې مجبورًا ومنله. خیر علیه الصلوة والسلام د خپل رضعي ورور سره چراګاه ته د مواشیو تلی و راتلی، په خلاصة السیر کې وایي چې حلیمې وویل چې زه په کور کې وم چې زما د زوی ضمرة ساه لنډه لنډه کېدله کور ته راغلی او وه یې ویل چې زما ورور قریشي دوو کسو چې سپینې جامې یې اغوستې وې د غره خواته بوتلی نس یې ورځیري کړی، حلیمه وایي چې زه او میړه دواړه په وچ تاخت پسې ووتلو علیه الصلوة والسلام مو پیدا کړی چې ولاړ ؤ رنګ یې ډېر متغیر ؤ، حلیمه وایي چې په غېږ کې مې ټینګ کړی او ما و میړه ورته وویل مالک؟ علیه الصلوة والسلام راته وویل: جائني رجلان علیها ثیاب بیض، نو زه یې ستوني ستغ پرې ایستلم نس (یعني ځیګر مبارک یې تر مراق البطن پورې راځیرې کړی په یو شي پسې ګرځېدل لا ادري ماهو) (دروېش وایي: چې وروسته روایت کې به مفصل راسي) وفي روایة ابی یعلی وابي نعیم وابن عساکر داسي راغلي دي چې درې کسان راغله چې ددوی سره یوه لګنچه ورسره وه د سرو زرو او په هغه کې واوره وه په ډکه پیمانه، یوه زه پر مځکه پرې ایستلم وروسته یې سینه او نس راځیرې کړی زما د نس کلمې یې راوکښلې په هغه واوره یې ښه پاکې پرېولې بیرته یې و ځپل ځای ته رد کړې، دویم سړی راغلی هغه بیا زما زړه راوکښی علیه الصلوة والسلام وایي ما ورته کتل زړه یې چاک کړی یو څه اندازه توره وینه یې ځندي وکښل وه یې غورځول (په بل روایت قال هذا لرجل هذا حظ الشیطان منک) بیا دې سړي په خپل ځان کې راسته او چپه خوا لاس کړاوه (لکه په یو شي پسې چې ګرځي) نو یوه نوراني ګوتمۍ یې راوکښل زما د زړه چاکونه یې په هغه واوره راوک کړه هغه مهر یې پر ولګاوه، فامتلاء قلبي نورًا وذالک النبوة والحکمة ثم اعاد مکانه فوجدت برد ذالک الخاتم في قلبي دهرًا، وروسته هغه درېیم سړي ورته وویل چې ته ایسته سه، نو هغه درېیم سړي پر هغه تې او ځیرې ځای د مفرق الصدر څخه زما بیا تر منتهی پورې د برخو لاس تېر کړی هغه ځیرې ځای سره پیوند سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې مراد د لاس تېرېدلو څخه ګنډل د هغه ټپ دي کما في حديث انس ؓ لقد كنت ارى اثر المخيط في صدره عليه الصلوة والسلام. وفي هذه معجزة اخرى.

پوښتنه: په شق الصدر والبطن کي به پر عليه الصلوة والسلام څومره تکليف تېرېدی. او څومره وينه به ځندي بهېدل؟

ځواب: دا قدرتي کارونه وه صرف په اشاره د ملائکه دا کار تر سره کېدی. نه وينه بهېدل او نه ژړا و تکليف پر عليه الصلوة والسلام تېرېدی.

سوال: په مخني روايت کي دوه کسه ذکر سوه او په اوسني روايت کي درې کسه ذکر سول؟

ځواب: دوه کسه کارکونکي د شق البطن والقلب وه او يو نفر ګنډونکی د شق وه فلا منافات. صرف فرق دادی چې په مخني قصه کي يواځي شق البطن ذکر کړی ؤ وعدم الذکر لايقتضی عدم وجوده لمکان الاختصار في الحديث.

فائده: شق القلب د عليه الصلوة والسلام درې واره واقع سوی دی، يو دغه ؤ چې ذکر سو چې په حال کي د طفوليت دده واقع سو چې بعض توره وينه يې ځندي لېرې کړه. ددې څخه مطلب او حکمت د خدای ﷻ دا ؤ چې عليه الصلوة والسلام د نورو کوچنيانو پر طبعي حالت په لهو او لعب کي نه سي مبتلا وکان کذالک لانه عليه الصلوة والسلام لم يلتفت الى اللهو واللعب للصبيان، او دويم وار شق القلب په هغه وخت کي واقع سو چې کله ده مبارک ته امر د تبليغ د کلمة التوحيد ورکړل سو. په دې وار شق کي حکمت الهي دا ؤ چې تحمل د اثقال د رسالت توان ولري او پر اذيت د قريشو صبر وکړای سي وکان کذالک، درېيم وار چې معراج ته بېول کېدی جبرئيل ؑ دده شق القلب وکړی او د زمزم په اوبو يې زړه مبارک ور پرېولی، او بعض وينه يې ځندي ايسته کړه په ځای کي د هغه شي چې په مثل د واوري ؤ ور واچاوه، په دې شق القلب کي په زړه کي د عليه الصلوة والسلام دومره طاقت پيدا سو چې د ثم دنی فتدلی فکان قاب قوسين او ادنی توان ولري او د جبرئيل ؑ په ځپل صورت اصلي کي او د جنت او دوزخ د ليدلو او د سدرة المنتهی او انبياء عليهم السلام د ليدلو په اسمانو کي الی غير ذالک تحمل وکړای سي وکان کذالک.

له بي بي حليمې څخه روايت دی چې په وخت کي د حيوة د عبد المطلب ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد ﷺ دده د ملاقات لپاره بوتلی چې په هغه وخت کې ډېر کوچنی ؤ، نو مکې ته ورسېدم علیه الصلوة والسلام مې په حطیم کې کښېناوه ما طواف شروع کړی په هر شوط کې مې علیه الصلوة والسلام په حطیم کې لیدی په اخیري شوط کې چې د حطیم برابر ته راغلم علیه الصلوة والسلام نه ؤ خیر طواف مې پوره کړی دباندې راووتم قریش ناست وه، ما ورته وویل چې زما رضعي زوی د عبدالمطلب یتیم نه راووتی او تاسې نه ولیدی؟ هغو راته وویل چې له حرم څخه هیڅ کوچنی نه دی راوتلی، ما بغاړې کړې چې زما کران رضعي زوی څرنګه راڅخه ورک سو، نو د قریشو په مجلس کې یو سپین ږیرې سړی ناست ؤ چې نوم یې عبدالعزیٰ ؤ، هغه راته وویل چې حلیمې ته ژاړه مه زه به دې زموږ خدای ته چې عزیٰ یې نوم دی بوځم هغه په دې ورکو شیانو ښه خبر دی، مولانا جلال الدین الرومي قدس سره په مثنوي کې ددې قصې په بیان کې ډېر زړه پورې خواږه ابیات ویلي دي، نو په ګډه به یې واورو.

برد او را پیش عزیٰ که صنم ..... هست در اخبار غیبی مغتنم
پیر کرد اورا سجود و گفت زود ..... ای خداوند عرب وی بحر جود
این حلیمه از و طفلی گم شده است ..... نام آن طفل محمد آمده است

حاصل دادی چې نوم د محمد چې عبدالعزیٰ ذکر کړی ټوله بتان پر سجده پرېوتل او عبدالعزیٰ ته یې وویل چې دا ته څه وایې تلاش د محمد کوې چې د ټولو بتانو محوه کېده به ددغه طفل له لاسه څخه وي، عبدالعزیٰ او حلیمه حیرانی واخستل اخیر حلیمه د ځانه سره فکر وواهه چې ورسه نیکه عبدالمطلب په خبر کړه چې د خپل لمسي تلاش وکړي، دا چې ورغله علیه الصلوة والسلام د خپل نیکه په غېږ کې ناست ؤ یعنې یو سړي چې په واقع کې ملکه وه راوستلی ؤ تاچې د بتانو د سجدو او ویښا ؤ معجزه ښکاره سي.

دروېش وایي: چې په دې قصه کې معجزه نه بلکې معجزات باهرات دي.

پوښتنه: دغه درې ملکي څوک وې چې د علیه الصلوة والسلام او زړه اپریشن یې ورو کړی؟

خواب: جبرئیل، میکائیل او اسرافیل علیهم السلام، په حدیث کې د انس رضی الله عنه راغلي دي: لقد کنت اری اثر المخیط في صدره ﷺ.

قال ابن عساکر رح: ابو طالب حین قحط الوادي (ای وادي مکة چې بارانونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر بند وه استسقاء یې وکړه ومعه النبي ﷺ فاخذ ابو طالب النبي ﷺ والصق ظهره (او چسپه یې کړه ملا د علیه الصلوة والسلام په کعبه پوري، او ورته وه یې ویل چې خواست د قحط وکړه، نو علیه الصلوة والسلام اشاره په کوته سره و طرف ته د اسمان وکړه او په اسمان کې یوه ټوټه د وریځې نه وه فاقبل السحاب من ههنا ومن ههنا، او ډېر په شړپ باران شروع سو او وادي د ملکې مالامال وبهېدلې. وفي ذالک قال ابو طالب شعر، یعنې په شان کې د محمد ﷺ:

وابیض یستسقی الغمام بوجهه ..... ثمال الیتامٰی عصمة للارامل

(پریا درس دی د یتیمانو او کونډیانو ښځو) په خلاصة السیر کې وایي چې علیه الصلوة والسلام دوولس کاله عمر ته ورسېدی خرج معه عمه ابو طالب الی الشام للتجارة، نو چې دوی ورسېدل بصرٰی ته بحیرا الراهب من النصاری علیه الصلوة والسلام ولیدی عرفه بصفته، نو بحیر الراهب راغلی او علیه الصلوة والسلام یې تر لاس ونیوی او داسې یې وویل هذا رسول رب العالمین یبعث الله رحمةً للعالمین چا راهب المذکور ته وویل ته په دې د څه درکه پوه سوې، ده ورته وویل ستاسې قافله چې تر دغې غونډۍ را واوښتل ظلم یبقی حجر ولاشجر الا خر ساجداً الله تعالی، او سجده نه کوي دغه شیان مګر په استقبال کې د نبي، او موږ ته په خپلو کتابو کې دا خبره معلومه ده چې نبي اخیر الزمان په عربو کې پیدا کېږي چې حلیه د هغه به کذا وکذا وي چې هغه حلیه په دغه شخص محمد (ﷺ) کې ښکاره کېږي، او ابو طالب ته یې وویل چې که ته دغه ستا وراره شام ته درسره بوزې چې هورې یهودان آباد دي، نو یهودان یې هم پر حلیه پېژني نه باید د څخه مړ یې نه کړي، نو ابو طالب علیه الصلوة والسلام سره د ابوبکر او بلال ؓ له بېرې بیرته مکې ته ردکړه.

دروښ وایي: چې خدیجه ؓ یوه متموله ښځه وه چې د پلار د خوا ه پر مال ورپاته سوی ؤ او هم د مېړه د خوا، او ډېر لوی تجارت یې کاوه په مزدورانو او مربانو، نو ابو طالب دې ته ورغلی چې دا زما وراره ستاسره مزدور کړه، چونکه علیه الصلوة والسلام په مکه کې ډېر پر قریشو ګران ؤ حتی چې امین مکه یې بالله، نو خدیجه په ډېر محبت او اعزاز علیه الصلوة والسلام ته فوق العاده تنخواه مقرره کړه او د مکې ټوله تجارت یې دده پر ذمه ورکړی او نور مربان یې دده زیر دست وګرځاوه، خیر شپې او ورځې تېرېدلې میاشتې او کلونه تېرېدله چې د علیه الصلوة والسلام عمر پنځه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ویشت (۲۵) کاله ته ورسېدی، خدیجې علیه الصلوة والسلام د شام په تجارت واستاوه او خپل مریی میسره یې ورسره کړی، شام ته چې دوی ورغله د یو راهب د یهوداڼو صومعة ته نژدې د یوې درختي تر سایه لاندې یې اوطاق ونیوی، راهب چې خبر سو د خپلې صومعة څخه راووتی، میسره ته یې وویل اشاره یې و علیه الصلوة والسلام ته وکړه چې دا سړی څوک دی، میسره ورته وویل رجل من قریش من اهل الحرم المکي، راهب ورته وویل چې تر دې درختي لاندې بېله نبي هیڅ څوک نه دی کښېنستلی، او راهب و علیه الصلوة والسلام ته راڼژدې سو او داسې یې وویل امنت وانا اشهد انک الذي ذکره الله في التورات، وروسته یې و علیه الصلوة والسلام ته وویل چې ته لمن د شا څخه پورته کړه، علیه الصلوة والسلام چې لمن پورته کړه راهب خاتم ولیدی او مچ یې کړی او داسې یې وویل اشهد انک رسول الله النبي الامي العربي الهاشمي المکي صاحب الحوض الکوثر والشفاعة (یعني الکبرٰی) ولواء الحمد، میسره وایي چې څه وخت چې غرمه سوه لمر به تود سو دوې ملکي به د اسمان څخه راکښته سوې پر علیه الصلوة والسلام به یې سایه وکړه وهو یسیر علی بعیره، خیر دا سفر چې پای ته ورسېدی او میسره و خدیجې ته دا ټوله ماجری قصه وکړه، نود خدیجې شوق وسو چې دده سره نکاح وکړي چې د دې عمر په دې وخت کي څلوېښت کاله ؤ او د علیه الصلوة والسلام عمر پنځه ویشت کاله ؤ، نو خدیجې ابو طالب راوغوښتی او ورته وه یې ویل چې ستا د وراره سره زه نکاح کوم که ستا منظور وي، ابو طالب ورته وویل ته چې مالداره ښځه یې او زموږ کورنۍ غریب او بې وسه خلک یو حتی چې زما وراره ستا سره مزدوري دی، خدیجې ورته وویل چې هرنګه چې دی زه ستا د وراره سره نکاح کوم که ته مي قبلوې، ابو طالب هم په دې نکاح راضي سو، نو خدیجې لویه مهماني جوړه کړه او د اهل مکه او د قریشو ټوله سرداران او سرمایه داران یې راغونډ کړه وروسته، د مهمانۍ د پای ته رسېدو وروسته خدیجه[۳۵] راووتل او وه یې ویل چې تاسي زما څخه پوښتنه وکړئ چې د دې مهمانۍ سبب او باعث څه ؤ، نو دی ورته وویل چې باعث د دې مهمانۍ دا ؤ چې زه د ابو طالب د وراره محمد سره نکاح کوم ټولو په یوه خوله ووېل ولنعم ذالک النکاح، په پښتو وایي ډېر ښه ډېر ښه، په اردو وایي بهت اچها بهت اچها په فارسي وایي بسیار خوب بسیار خوب، نو ابو طالب یوه بلیغه خطبه ووېل او ایجاب و قبول یې وکړی او عقد د نکاح بسته سو، علیه الصلوة والسلام او خدیجه[۳۵] سره کور او کهول سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبيه: د عليه الصلوة والسلام تولـه عيالونه كه نارينه وه كه بنځينه د دغي بيبي صاحبې خديجې ؓ له نسل څخه پيدا سوي دي، يو ابراهيم چې د ماريه قبطيه څخه خداى ﷻ ورکړى.

فائده: د عليه الصلوة والسلام تولـه زامن په کوچني والي کي وفات سوي دي حتى چې ابراهيم د شپارسو ميانشتو په عمر کي وفات سو، والله اعلم شايد سربه يې دا وي چې تر عليه الصلوة والسلام وروسته نبي نسته، مګر لونې يې تولي ژوندۍ پاته سوې حتى چې د مړو خاوندانې وګرځېدلې، او خداى ﷻ په هر کار کي حکمتونه لري.

دروښ وايي: چې دا ؤ تفصيل د مولود د عليه الصلوة والسلام چې د معتبره کتابو څخه فقير نقل کړى دى، ماسوى د دې څخه کوم د مولود مجالس او محافل چې پيران د کوتې د ښار او د شاوخوا چې انعقاد کوي مبني پر خود بيني يا د جهل د پير صاحب دى، او بعض کارنامې د هغو مفضي و اهانت ته د عليه الصلوة والسلام دي، نوم اخستل د هغو محافلو مناسب نه دي.

دروښ وايي: چې اوس بيرته د قرآن عزيز د تفسير پر لور.

يَهْدِي اللّٰهُ لِنُوْرِهٖ مَنْ يَّشَآءُ ؕ

او هدايت کوي خداى ﷻ و نور ته خپل چې ايمان او قرآن دى او رسول عليه السلام دى و هغه چاته چې د خداى ﷻ ورته اراده سي يعني بحسب استعداده لقبول ذالک النور.

وَيَضْرِبُ اللّٰهُ الْاَمْثَالَ لِلنَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ۝

او خداى ﷻ بيانوي په قرآن کي داسي امور چې د حواسو د هغو وده فهم ته لاره نه وي په امثال محسوسه وو سره تاچې خلګو ته په واضح توګه معلومه سي، او خداى ﷻ په هر شي ښه خبر دى، دا جمله حال ده له فاعل څخه د يضرب.

فِيْ بُيُوْتٍ اَذِنَ اللّٰهُ اَنْ تُرْفَعَ

پوه سه: چې کلمه د في متعلق ده په وروسته يسبح پورې او بيوت جمع د بيت ده، په مفردات کي وايي چې بيت ځاى ته د انسان وايي د شپې تېرولو لپاره که د ډبرو څخه وي که د خټو څخه وي او که د وړيو څخه د پسو وي او که د وجغونړ څخه د بڼې وي او که د وبر څخه د اوښانو وي. او مراد له بيوت څخه مساجد دي لقول ابن عباس ؓ المساجد كلها بيوت الله في الارض تفئ (چې برېښي) و اهل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السماء ته لکه ستوري و اهل الارض ته چي اجازه او اعلام کړی دی خدای ﷻ اذان ترفع په تقدیر د باء ای بان ترفع تلک البیوت، دا جمله تهوله صفت ده د بیوت. او مجاهد ؒ وایي چي معنی د ترفع په صیغه د مجهول ان تبنّی، قال رسول الله ﷺ من بني لله مسجداً بني له بیتاً في الجنة متفق علیه (چي چا جوړ کړی مسجد یعني خالص د خدای ﷻ لپاره نه د ریاء او نه د اضرار د بل مسجد لپاره، نو هغه چاته کور جوړیږي په جنت کي) وقال الحسنؒ معناه تعظیم لایذکر فیها القبیح من القول ولا النجس من الاشیاء ولا الجنب والحیض والنفساء، بغويؒ وایي چي هر یو یونبي بناء کړی دی (۱) الکعبة بناها ابراهیم و اسماعیل علیهما السلام (۲) ومسجد بیت المقدس بناها داؤد و سلیمان علیهما السلام (۳) ومسجد القباء (۴) ومسجد المدینة بناهما رسول الله ﷺ.

دروښ وایي: چي صحیح قول د ابن عباس ؓ دی چي له بیوتو څخه عام مساجد مراد دي ولا وجه لتخصیص هذه الاربعة وان کانت هذه الاربعة افضل من المساجد الاخر.

وَيُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ ۙ يُسَبِّحُ لَهُ فِيهَا بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ ۙ

او ذکر کړه کیږي په هغو مساجدو کي نوم د خدای ﷻ (یعني تلاوة القرآن وغیرها من الاذکار في الصلوة وخارجها) لمانځنه کیږي خاص د خدای ﷻ لپاره بلا ریاء وسمعة په دغو مساجدو کي (یسبح) صفة اخرى لبیوت.

پوه سه: چي (غدو) جمع د غدوة ده چي اول د ورځي ته وایي، او آصال جمع د اصل ده بضمتین چي هغه جمع د اصیل ده کذا في مجمع البحار.

فائده: اهل التفسیر وایي المراد به الصلوة المکتوبات لان المساجد بنیت في الاصل للمکتوبات، نو صلوة الغدو صلوة الفجر دی، او دا نور څلور لمونځونه په آصال کي داخل دي، نو پر دې تقدیر مراد له آصال څخه مابعد الزوال الی العشاء الآخیرة، او بعض مفسرین وایي چي له غدو څخه مراد صلوة الصبح دی او له آصال څخه د مازدیګر لمونځ مراد دی خصها بالذکر لکمال الاهتمام بهما لان الصبح وقت النوم والغفلة خصوصاً په لنډو شپو کي، او عصر وخت د تجارت او د خرید و فروخت دی په بازارو کي. ولهذا قال رسول الله ﷺ من صلی البردین دخل الجنة. رواه مسلم (یعني چي چا وکړه د خنګ وخت دوه لمونځونه چي د سهار او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مازديگر لمونځونه دي) او بغوي ؒ وايي چې له ابن عباس ؓ څخه روايت دی چې د تسبيح الغدو تفسير په صلوة الغداة او صلوة الضحى (يعني د څاښت لمونځ) سره کړی دی، او دا حديث د ابو يمامه ؓ کما رواه الطبراني عنه قال رسول الله ﷺ من مشى الى صلوة مكتوبة وهو متطهر (له صلوة مكتوبه څخه مراد صلوة الغداة دی ما يدل عليه مابعده) فاجره لا جر الحاج المحرم ومن اتى الى صلوة الضحى لاينصبه الا اياه فاجره كاجر المعتمر الى اخير الحديث.

فائدة لابدمنها: علماء په يوه خوله وايي چې افضل د نوافلو صلوة التهجد دی چې ادنى يې څلور او اعلى يې دوولس رکعته دی او منجى له عذاب القبر څخه او له دهشت څخه د قيامت د ورځې هم دغه د تهجد لمونځ دی، او علماء دا هم وايي که څوک له فقره بهر يږي صلوة الضحى دي څلور رکعته وکړي لکن پر دې ترتيب چې په اول رکعت کې به والشمس والضحى وايي او په دويم رکعته کې به والليل اذا يغشى آه وايي، بيا به په قعده اولى کې علاوه تر التحيات به اللهم صل اللهم بارک کما هو قانون جميع النوافل الرباعية، او په دريم رکعت کې به سبحانک اللهم آه وايي كما هو قانون الفقه في النوافل الرباعية او وروسته تر الحمد لله به سورة الضحى آه وايي او په څلورم رکعت کې به الم نشرح لک صدرک آه وايي، وقت صلوة الضحى د بعض عوامو دا خيال دی چې لمر دوې يا دريې نيزې قدر راپورته سوه د صلوة الضحى وخت دی، لکن دا خبره غلطه ده هغه ته صلوة الاشراق وايي او د صلوة الضحى وخت ډېر وروسته دی، له نهه (۹) بجو څخه نيولې بيا تر ديوولس نيمو (۱۱/۵۰) بجو پورې دی.

رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَّلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ اللَّهِ

داسې خلک چې دوی نه مشغوله کوي تجارت چې بيع او شراء دواړه ته شامل دی.

پوه سه: چې تخيص د رجال د دې کبله دی چې غائب په نښځو کې جهل او غفلت دی، ولې چې ناقصات العقل والدين بلل سوي دي (رجال) رجال فاعل د يسبح دی.

پوښتنه: په تجارت کې خو بيع او شراء دواړه داخل وه، نو بيع يې ولې بيا راوړه؟

ځواب: له دې سببه چې د ګټې يعنې ربح درک په بيع سره معلوميږي يعنې چې څوک شى رانسې او بيرته يې خرڅ کړي دا معلوميږي چې ما ګټه وکړه، او بعض مفسرين وايي چې مراد له تجارت څخه شراء ده که څه هم د تجارت د لفظ اطلاق پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیع هم کړي، نو د تجارت څخه يې شراء مراد څرنګه وګرځول، جواب لان الشراء مبدء التجارة كما هو المعتاد.

بوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې مراد له ذكر الله څخه حضور دی مساجدو ته لپاره د اقام الصلوة، سالم له ابن عمر ؓ څخه روايت کړی دی چې زه په بازار کې وم چې اذان وسو د اقام الصلوة دکانداران ټوله ولاړ سوه د دکانو دروازې يې وتړلې فدخلوا المساجد ففيهم نزلت هذه الآية. قاله البغوي ؒ.

بوه سه: چې تجارت صفت د تاجر دی من بيع وشراء. او روح البيان وايي چې مراد له ذكر الله څخه تسبيح وتحميد وتمجيد دی يعني سبحان الله والحمد لله والله اكبر.

وَإِقَامِ الصَّلٰوةِ وَإِيتَآءِ الزَّكٰوةِ ۙ

له اداء کولو څخه د لمانځه په خپلو اوقاتو کې، او ابن الشيخ وايي چې مراد له اقام الصلوة څخه اتمام د لمانځه دی، برعاية جميع ما اعتبره الشرع من الاركان والشرائط والسنن والاداب والمتكاسل في شئ منها ليس في شئ من اقامة الصلوة.

دروېش وايي: چې دا تفسير انسب دی د لفظ سره د اقام الصلوة چې په ځای کې د مدح ذکر سوی دی، يعني بايد مؤمن کامل سره د شغل په معاملاتو کې من البيع والشراء لايشغل التجارة قلبه عن ذكر الله يعني يكون ظاهر مع الناس وقلبه وباطنه مع الله، ولهذا الصوفي كائن اى في الناس بائن عن الناس.

فائده: پوه سه چې اصل د اقام اقوام وُ واو متحرک ماقبلش حرف صحيح ساکن چې قاف حرکت د واو يې و قاف ته ورکړی وروسته واو چې متحرک وُ في الاصل او ماقبل يې مفتوح وُ يعني بالفعل په الف يې بدل کړی دوه ساکنه سره جمع سوه الف د عين يې ساقط کړی عوض يې تاء راوړه په اخير کې اقامة سو وروسته يې کلمة د تاء حذف کړه په عوض کې يې اضافت راغلی اقام الصلوة سو وهذا هو المراد بما اجمل في المظهري وروح البيان وغيرهما حيث قالوا عوض فيه الاضافة من التاء المعوضة من العين الساقط بالاعلال.

(وايتاء الزكوة) او ورکړه د زکوة کوي يعني المفروضة (ابن عباس ؓ وايي اذا حضر وقت الزكوة لم يحبسوها. يعني چې پر مال کال تېر سو مه يې منع کوئ، او بعض مفسرين وايي چې مراد له زکوة څخه معنى لغوي ده چې ټولو اعمال صالحه وو ته شامل دی)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ ﴿٣٧﴾

او دوی سره ددې چې اعمال مذکوره هم کوي بېرېږي (یخافون، حال دی له فاعل څخه د یسبح او یا له فعوله څخه د تلهیهم)

پوه سه: چې له یومًا څخه مراد ورځ د قیامت ده او تتقلب صفت د یومًا دی. والعائد الی الموصوف الضمیر في تتقلب، والمعنی تضطرب وتتغیر من الهول زړونه د اهل محشر او سترګې ددوی.... بیت:

درآن روز کز فعل پرسند وقول ..... اولو العزم راتن بلرزد زهول

او بعض مفسرین وایي تتقلب فیه قلوب الکفار کما کانت علیه في الدنیا من الکفر والشک في یوم الحساب وتنفتح ابصارهم من الاغطیة فتبصر مالم تکن تبصر ولم تتحسب وتتقلب قلوب المؤمنین وابصارهم عما کانوا علیه من القناعة بمشاهدة الامثال فیرون الله سبحانه کالقمر لیلة البدر وکالشمس في رابعة النهار وقیل تتقلب القلوب یوم القیامة من الخوف والرجاء تخشی الهلاک ویطمع النجات.

لِيَجْزِيَهُمُ اللَّهُ

متعلق بیسبح او یا په یخافون پورې، نو پر دې تقدیر لام د عاقبت دی نحو لدو للموت وابنو للخراب، لام غایه نه دی، ولي چې لام د غایت او د علتیت خو افعال اختیاره وله وي او خوف خو له افعال اختیاره وو څخه نه دی.

أَحْسَنَ مَا عَمِلُوا وَيَزِيدَهُمْ مِنْ فَضْلِهِ ۗ وَاللَّهُ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ﴿٣٨﴾

بنه جزاء دده ما عملوا في الدنیا من الطاعات یعني الجنة چې ددوی سره وعده کړل سوې وه په دنیا کې. او دوی ته به زیادت وکړي پر جزاء موعود باندې (او یا به یې ثواب د اعمالهم الحسنة ددوی دومره زیات کړي چې پر زړو ددوی به نه ورګرځېدل) د خپل فضل څخه او خدای ﷻ رزق ورکوي و چاته چې اراده یې سي بې حسابه.

پوه سه: چې بغیر حساب کنایه ده له فراخی څخه د فضل او احسان د خدای ﷻ یقال فلان ینفق بغیر حساب ای یوسع کانه لایحسب ما ینفقه یعني و ما ینفق ته حساب نه کوي.

فائده: امام راغب اصفهاني وایي چې آیت لاتلهیهم الآیة پر دې دلالت نه کوي چې تجارت حرام یا مکروه دی بلکې نهي د استغراق في التجارة وترک الصلوة والطاعات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: روایت سوی دی چي ملک حسین چي بادشاه د هرات ؤ د حضرت قطب الاقطاب خواجه بهاؤ الحق والدین محمد نقسبندي څخه یې پوښتنه وکړه که: درطریقت شما ذکر جهر وخلوت وسماع میباشد فرمودند که نمی باشند، ملک حسین گفت که مبنای طریقه شما برچیست؟ فرمود خلوت درانجمن یعني ظاهرًا بامخلوق باش وقلبًا باخدا، وسفر دروطن خود مسافرباش.... بیت:

بر فلک برتر بود اسرار او ..... شیئًا لله شیئًا لله کار او

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَعْمَالُهُمْ كَسَرَابٍ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ الظَّمْآنُ مَاءً

(والذین کفروا) هذه الجملة الی اخیرها معطوفة علی مضمون الکلام السابق تقدیره المهتدون بنور الله یجزیهم الله احسن ماعملوا والذین کفروا لاینفعهم اعمالهم (اعمالهم) یعني هغه عملونه چي له قسم څخه د خیر د کارو وي لکه صلة الارحام وعتق الرقاب د قریبانو سره احسان کول، او د مریانو ازادول) وعمارة البیت (او خدمت کول د بیت الله شریف) وسقایة الحاج (او اوبه ورکول له ځاه څخه د زمزم و حاجیانو ته) وقری الاضیاف (او ډوډی ورکول و مېلمنو ته) واراقة الدماء (او ویني بهیول د اوښانو د فقراؤ لپاره) او ټور ورته ښه کارونه کول که ایمان ورسره ملګری ؤ لوی لوی ثوابونه به خدای ﷻ ورکړي لکن که ایمان ورسره ملګري نه وي، نو اعمال ددوی (کسراب).

بوه سه: چي سراب و هغه شي ته وایي چي غرمه د دوبي په وخت کي خصوصًا په صحراء کي چي شګنه مځکه وي لکه اوبه چي بهیږي د کتونکي په نظر کي ورځي (بقیعة) البقیعة والقاع المستوي من الارض ته وایي (یحسبه الظمان ماء) دا جمله صفت د سراب ده او ضمیر منصوب یې راجع دی و سراب ته، او ضمان ډېر تږي سړي ته وایي یعني ګمان کوي پر سراب یعني د لېرې څخه چي اوبه دي.

سوال: پر دې سراب که تږی وي که نه وي ګمان د اوبو کوي، نو تخصیص د ضمآن یې ولي وکړی؟

ځواب: د تخصیص سبب یې دادی چي تشبیه د کافرورسره صحیح سي؛ یعني لکه کافر چي د خپلو ښو کارو کمامر محروم سو په وخت کي د سخت احتیاج د هغو ثواب ته یعني في یوم القیامة و دغه رنګه ظمآ په وخت کي د سختي تندي محروم سو له اوبو څخه چي ددې په توهم کي سراب اوبه وي په منډه منډه وررسوان ؤ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لكن اوبه نه وي، او په بل عبارت ابتداء يې مطمع وه كه د كافر د ښو عملو ابتداء مطمع دده وه چې هر وخت د حاجت به ماته په كار سي، او د سراب د ليدونكي هم ابتداء مطمع وه يعني زه به خپل سخته تنده په ماته كړم. او انتهاء يې مؤيس سوه يعني نا اميدي ته منجر سوه هم د كافر دا په ورځ د اخيرت او هم د ظمئا طمع نا اميدي ته منجر سوه چې دى د سراب و ځاى ته ورسېدى.

حَتَّىٰ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا وَوَجَدَ ٱللَّهَ عِندَهُۥ فَوَفَّىٰهُ حِسَابَهُۥ ۗ

تر دې اندازې چې ظمئان سراب ته ورغلى (يعني ځاى ته د سراب چې دده په ګمان اوبه وې) ده نه كړى پيدا سراب هيڅ شى يعني هغه شى چې دده ګمان پر كېدى يعني اوبه، او ده پيدا كړى عذاب د خداى ﷻ اى اعطاه الله جزاء اعماله كامله وافره على حسب عمله.

سوال: وجد الله خو عطف دى پر لم يجده يا پر جآئه والضمير المرفوع في كل منهما راجع الى الظمئان، نو څرنكه ده معنى ددې چې ظمئان عذاب د خداى ﷻ عند السراب پيدا كړى؟

ځواب: چې ورځ د قيامت سي كافر دې پر سخت تږى وي پر دوزخ يې د سراب خيال راسي، نو چابك ور روان سي چې ځان به ښه په اوبه كړي لم يجده يعني دوزخ هيڅ شى د ماظنه څخه دده و وجد عذاب الله عنده (په نېږ د سراب مرئي دده) يعني النار.

دروېش وايي: چې بې تكلفه او مناسب ځواب دادى چې كلمه د حتّى عاطفه نه ده بلكې ابتدائيه ده، متصل ده په قول سره د اعمالهم كسراب والمعنى حتى اذا جاء الكافر عمله في الآخرة لم يجده شيئًا ووجد الله عنده، نو ضمير مرفوع په جائه په تاويل د كل واحد وكفارو ته راجع دى لا الى الظمئان كما يتوهم من الظاهر وصار منشاء السوال المذكور والضمير المنصوب في جائه وعمل ته د كافر راجع دى لا الى السراب فتدبر غاية التدبر.

وَٱللَّهُ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ۝

او خداى ﷻ ژر دى حساب دده، لانه تعالى لايشغله حساب شخص او قوم عن حساب شخص اخر او قوم آخر. له عارفينو څخه روايت دى چې حساب د ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کافرانو او مسلمانانو سره دا یوه خبره ده. من ترا بودم تو کرا بودی، یعني من خالق تو ورازق تو وشافی تو ومشکل کشای تو بودم تو عبادت کرا کردی و اعمال ریائی برای که میکردی.

أَوْ كَظُلُمَٰتٍ

(او کظلمات) عطف علی قوله کسراب و کلمة او للتخییر یعني مخاطب مخیر دی په تشبیه کي د اعمال حسنه ؤ د کفارو کمامرت کي د سراب بقیعة سره کوي په دې اعتبار چې دوی ته نفع په ورځ د قیامت او سبب د نا امیدی دي په هغه ورځ او د غم دی لانعدام شرط نفعها في یوم القیامة وهو الایمان فیهم. او یا یې تشبیه ده د ظلمات متراکمة من لج البحر والامواج والسحاب په دې اعتبار چې دغه اعمال ددوی له نوره څخه د حق خالي دي چې ایمان دی. او یا کلمه د او لپاره د تنویع ده په دې لحاظ چې اعمال ددوی که حسنات وي کالصدقة وصلة الرحم ونحوها کمامرت بالتفصیل فهي کالسراب في عدم النفع یوم القیامة لعدم الشرط ای الایمان او که اعمال ددوی قبیحه وي کالکفر وسائر المعاصي، نو لکه ظلمات آتیه دي، او یا تنویع یې په وخت کي ده، ولي اعمال ددوی لکه ظلمات وه په دنیا کي او لکه سراب دي په آخرت کي.

دروښ وایي: چې دا احتمالات د نهایت بلاغت د کلام الله دي.

فِي بَحْرٍ لُّجِّيٍّ يَغْشَىٰهُ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ مَوْجٌ مِّن فَوْقِهِۦ سَحَابٌ

کائن وي دا ظلمات په یو دریاب کي چې ژور وي او کثیر الماء وي، بیضاوي وایي چې لجئ معظم حصې ته د ابو وایي کما في النهایة والقاموس، او بعض مفسرین وایي چې د لجي معنا داده چې یو په بل پسې مسلسلې څپې وهي (یغشاه) صفة اخرى دی د بحر چې پټ کړي وي دا بحر (موج) څپو.

فائده: سبب د څپو اضطراب د بادو دی والموج مایعلو من الماء.

(من فوقه موج) چې لوړي تر هغې څپې نوري څپې وي، والحاصل چې امواج یو په بل پرله پسې چې یوه تېرېږي بله یې نه وي تېره سوې نوري څپې پر راسي چې اول قسم ته یې امواج مترادفه وایي او دویم قسم ته یې امواج متراکمه وایي (من فوقه) سر بېره پر موج ثاني دریځ وي چې د سپوږمۍ او ستورو نور یې پټ کړی وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظُلُمٰتٌۢ بَعْضُهَا فَوْقَ بَعْضٍ ؕ اِذَاۤ اَخْرَجَ يَدَهٗ لَمْ يَكَدْ يَرٰىهَا ؕ

(ظلمات) خبر د مبتداء محذوفي دی، بعض ددې تاریکیو یو پر بل سربېره وي، چې دی لاس راوباسي چې ده ته نژدې عضوه ده چې دی ورته وګوري.

سوال: د یده ضمیر خو راجع و شخص واقع في البحر دن او هغه خو دمخه نه دی ذکر سوی. نو اضمار قبل الذکر به نه وي؟

ځواب: ذکر د مرجع عام دی که لفظًا وي او که حکمًا وي، دلته ذکر حکمي سته. ولي خبري د کفارو په باره کې رواني دي.

(لم یکد یرٰها) قریبه هم نه وي چې ودي ویني فضلاً عن ان یراها، وحاصل التشبیه چې ورته ودغه مثال ته اعمال د کفارو دي من الکفر والمعاصي وانکار الحق تاریکي دي پر زړو ددوی بعضها فوق بعض چې هغه ظلمات مانع د اهتداء څخه د زړو ددوی ده او د ادارک څخه د حق چې اسلام دی.

فائده: نو کفر او انکار الحق چې له اعمالو څخه د زړو دی کالبحر اللجي المظلم یغشاه ظلمات المعاصي کالاستهزاء بالنبي ﷺ وقولهم انه ساحر او مجنون او مفتر او یعلمه البشر کالامواج التي بعضها فوق بعض، او ختم او طبع پر زړه د کافر لکه وریځ پر امواج ده، نو چې کافر اراده وکړي د فکر وهولو په امورو کې د اسلام او د قرآن او د نبي ﷺ چې د اجلی بدهیاتو څخه دی لم یکد یری تلک البدهیات الاولیات والشاهد علی ذالک چې کافر د انبیاء علیهم السلام خصوصًا النبي الانور محمد المصطفی ﷺ مع تواتر معجزاتهم خصوصًا معجزاته علیه السلام کشق القمر، وکلمة التوحید للحجارة في ید فرعون هذه الامة ابوجهل وغیر ذالک، او له غایت جهل څخه ددوی اعتقاد د الوهیة او د استحقاق د عبادت ومصنوعه ددوی په لاسو جوړ سوو بتانو ته لري فحق القول.

وَمَنْ لَّمْ يَجْعَلِ اللّٰهُ لَهٗ نُوْرًا فَمَا لَهٗ مِنْ نُّوْرٍ ۧ

چې چاته خدای ﷻ نه وي ورکړی نور د زړه، نو نسته هغه نور د بلي خوا څخه.

فائده: هدایت امر وهبي د خدای ﷻ دی، پر خدای ﷻ واجب نه دی، بلکې حصول د علم بالنتیجة بعد ترتیب الصغرٰی والکبرٰی علی الشرائط المنطقیة امر عادي وهبي دی ولیس بواجب علی الله عند اهل الحق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: یو بادشاه ؤ چې خپل زوی یې یو عالم الرمل ته سپارلی ؤ چې ده ته علم الرمل ورزده کړه چې پر پټو شیانو علم ولري، نو عالم الرمل د بادشاه د زوی سره ډېره جان فشاني وکړه او قواعد د علم رمل یې پوره په زده کړه، نو بادشا ته یې راوستی چې زوی دي پوره علم الرمل زده کړی، نو بادشاه لپاره د امتحان د زوی په جیب لاس چې کړی او ګوتمی چې په منځ کي یې غمی ؤ په موټه کي ونیول زوی ته یې وویل چې زما په لاس کي څه شی دی، زوی چې یې قواعد د علم رمل پر کار واچولې پلار ته یې وویل یو ګردی شی دی، پلار یې ورته وویل صحیح ده، نور؟ زوی یې ورته وویل چې په دې ګردي شي کي خلاف د جنس د ګردي شي بل شی سته (یعني غمی د ګوتمی چې ګوتمی خو د زرو وه او غمی یو قسم قیمتي ډبره وه) پلار یې ورته وویل نور بیان؟ زوی یې ورته وویل چې د ژرندي پل دی (یعني د ژرندي پل خو هم ګردی دی او په منځ کي د لاندي پله لرګی دی) نو ځکه ده ورته وویل د ژرندي پل دی، نو بادشاه رملي عالم ته وویل چې دا وه ستا د علم رمل ښوونه؟ رملي عالم ورته وویل چې د رمل علم صرف نښاني د شي پوره بیانوي لکن نوم د شي نه اخلي، وروسته به عامل فکر ورته وهي چې دغه نښاني چې پکښې وي هغه به فلانی شی وي، ستا زوی چې په علم رمل پوري اړه درلوده پوره یې بیان کړی لکن د فکر ځای ته چې راغلی کوټه سو، ولي عقل یې نه درلودی چې پلار له جېبه څخه شی راوکښی او په موټه کي یې هم تینګ نیولی دی، نو باید ویلي یې وای چې ګوتمی ده.

دروښ وایي: چې دا حکایت ما ددې لپاره راوړی چې علم پر شي وروسته تر تهیه د اسبابو د هغه هم موهبي شی دی لکن عادي واجب نه دی.

تنبیه: د هر کسان داسي سته چې په امورو کي د دنیا یعني په تجارت وغیرها کي د هر ناپوه وي لکن په امورو کي د آخرت د هر هوشیار وي، او د هر داسي کسان هم سته چې په امورو کي د دنیا من البیع والشراء د هر پوه وي چې خاوري یې په لاس کي زر ګرځي (دا یو مثل دی د سړي د دنیا پوهني په باره کي) لکن هغه سړی په امورو کي د آخرت د هر کوټه وي یعني خیر او شر د آخرت نه پېژني.

ع:... دا باران چې پر همه وو مځکو اوري ... مشرف کړی ذات د کهیا ولي (کهیا یو بوټی دی د یو لرګي نوم دی) بغوي ؒ وایي چې مقاتل ؒ ویلي دي چې دا آیت یعني ومن لم یجعل الله له نورًا الآیة په شان کي د عتبه بن ربیعه بن امیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نازل سوی دی چې دی په دین حق پسې ګرځېدی او د ګراستې کالې به یې اغوستې وه فلما جاء الاسلام کفر به.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُسَبِّحُ لَهٗ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَالطَّيْرُ صٰٓفّٰتٍ ؕ

پوه سه: چې مراد له رؤیت څخه رؤیت علمي دی او تعبیر په رؤیت سره له دې سببه دی چې دغه علم چې حاصل سې په وحي سره هغه مشابه دی د علم حاصل بالمشاهده سره في الوثاقة فالمعنى الم تعلم يا محمد علمًا حاصلاً بالوحي يشبه الرؤية البصرية په وثاقت کې.

فائده: علم حاصل بالاستدلال الصحيح العقلي او په کشف صريح سره هم داغسې محکم علم دی.

ترجمه: آیا ته نه وینې چې د خدای ﷻ تسبیح وایي (یعني شاهدي اداء کوي پر تنزیه د خدای ﷻ د ټولو نقائصو څخه) هغه څوک چې په اسمانو کې دي، من الملائكة والنجوم وغيرها او هغه څوک چې په مځکه کې دي من الانس والجن وغيرهم والمقصود جميع المخلوقات. او صیغه د من چې په ذوی العقول پورې خاص ده را یې ورډل تغلیبًا لذوی العقول على غيرهم، والقرينة على ارادة جميع المخلوقات قوله تعالى (والطير صآفات) او مرغان چې غوړولي یې وي خپل وزرونه په هغوا کې یعني هغه هم د خدای ﷻ تسبیح وایي (ان الله يسبح له) مفعول د ترلې دی.

فائده: د صآفات قید یې ددې لپاره وو ایه چې هغه مرغان چې پر مځکه وي هغه خو په من في الارض کې داخل وه (الطير) عطف دی پر من چې فاعل د يسبح دی. طير جمع د طائر ده لکه رکب جمع د راکب ده، والطائر كل ذي جناح يسبح (چې ګذاره کوي په هوا کې)

فائده: استفهام د الم تر لپاره د تقریر دی ای قد علمت يا محمد وبعبارة اخرى استفهام لپاره د انکار دی پر حرف نفي داخل سو. نو نفي د نفي اثبات دی فيرجع الى التقرير.

كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهٗ وَتَسْبِيْحَهٗ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِمَا يَفْعَلُوْنَ ۝

ای کل واحد من جماعة المسبحة. په تحقیق خبر دی خدای ﷻ (صلاته) ای دعائه او په تسبیح د هغه. او خدای ﷻ ښه خبر دی په هغه څه چې دوی یې فعل کوي من الطاعة والصلوة والتسبيح فيجازيهم على اعمالهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آیت کې توبیخ او وعید دی د کافرانو د انس او جن حیث لا یسبحون الله اختیارًا.

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۚ وَاِلَى اللّٰهِ الْمَصِيْرُ ۝

او خاص خدای ﷻ لره دی سلطنت د اسمانو او مځکې (لانه خالقهما ومالکهما. او دغه هغه شیان دي چې په اسمانو او مځکې کې دي من الذوات کالملائکة والنجوم وغیرهما، او یا په مځکه کې ذوات د انس او جن او د جمیع انواع الحیوانات والنباتات الی غیرها) او خاص خدای ﷻ ته ده رجوع د ټولو فیجازي کل واحد علی مقدار عمله. وقد جاء في الحدیث الصحیح: حتی یقتص للشاة الجماء من الشاة القرناء. (کسات به اخلي د بې ښکره بزې د ښکرورې بزې څخه) چې پر جماء یې ظلم کړی وي.

پوښتنه: وروسته تر کسات اخستلو نو په جماء او قرناء څه کیږي؟

ځواب: ثم یقول الرب تعالی کونوا ترابًا. ولي دا حیوانات عجم خو مکلف نه دي چې جنت یا دوزخ ته یې واستوي.

اَلَمْ تَرَ اَنَّ اللّٰهَ يُزْجِيْ سَحَابًا ثُمَّ يُؤَلِّفُ بَيْنَهٗ

ته نه وینې (ددې استفهام او رؤیة تفسیر نژدې تېر سو) چې خدای ﷻ سوق کوي د وریځې.

فائده: اصل معنی د تزجیه دفع الشئ ومنها البضاعة المزجات (یعني بېکاره) کما في سورة یوسف لانها یدفعها کل احد یعني دفع کوي اونې اخلي.

پوه سه: چې ضمیر د بینه راجع دی و سحاب ته والمضاف محذوف ای یجمع بین قطعات السحاب المتفرقة.

ثُمَّ يَجْعَلُهٗ رُكَامًا فَتَرَى الْوَدْقَ يَخْرُجُ مِنْ خِلٰلِهٖ ۚ

بیا کړځوي دا وریځ یو پر بل سرېره، ته وینې (ای مخاطب غیر معین) څاڅکي د باران راوځي له چاکو څخه د وریځې.

وَيُنَزِّلُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا مِنْۢ بَرَدٍ

او خدای ﷻ نازلوي له اسمانو څخه.

پوه سه: چې من جبال بدل اشتمال دی له من السماء څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مراد په دې آیت کې له سماء څخه وریځ ده لان کل ماعلاک فهو سماء. او مراد له جبال څخه هغه غټي غټي توتې د وریځي دي چې لکه غرونه په لوی والي کې. او د فیها ضمیر راجع دی وسماء ته چې له جملې څخه د مؤنثاتو سماعیه وو دی (من برد) بیان دی للجبال، او برد ته په پښتو ژلی وایي، او بعض مفسرین وایي چې په اصلي اسمان کې ډېر غرونه دي د ژاړو او د واورې، او یوه ملکه یې پر مقرره کړې ده هغه ملکه په اراده د خدای ﷻ ژلی. یا واوره په وریځ کې سوق کوي الی ماشاء الله تعالی من قطر من اقطار الارض والله اعلم.

فَيُصِيبُ بِهِ مَنْ يَّشَآءُ وَيَصْرِفُهُ عَنْ مَّنْ يَّشَآءُ ؕ

نو خدای پاک ورسوي دغه ژلی وهغه چا ته چې د خدای ﷻ اراده وي، نو کښتونه بلکې بعض اوقات مېږي او بزې ټوله هلاک کړي، او لهرې کړي دغه ژلی. د هغه چا څخه چې د خدای ﷻ ورته اراده سې، نو هغه ته مالی او جانی تاوان نه ورسېږي.

يَكَادُ سَنَا بَرْقِهٖ يَذْهَبُ بِالْاَبْصَارِ ؕ

قریبه وي چې رڼا د برق چې په پښتو یې پېلبو بولي چې یو دي سي دید د سترګو د کتونکو.

پوه سه: چې پېلبو ته چې څوک ډېر وګوري ړوند کېدنسي د سترګو دید یې ډېر کمزوری کېږي وذالک ثابت بالتجربة.

يُقَلِّبُ اللّٰهُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ

بعض مفسرین ددې آیت داسي ترجمه کوي چې تر شپې وروسته ورځ او تر ورځي وروسته شپه راځي، او بعض وایي چې کاهي د شپې ساعات ورځي ته ورکړي یعني ورځ اوږده سي لکه په دوبي کې، او بعض وخت د ورځي ساعات شپې ته ورکړي، نو شپه اوږده سي لکه په ژمي کې. یا په تغییر د احوالو د شپې او د ورځي بالحر والبرد، یعني چې شپه بالجملة څه ناڅه خنکه وي، او یا په نور او ظلمت کې چې ورځ که څه هم توره وریځ وي نوراني وي تر شپې چې اسمان صاف وي او د څورلسم سپوږمی هم وي مثلاً.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّاُولِي الْاَبْصَارِ ؕ

په تحقیق په مذکوره شیانو کې (د مذکوره په ویلو سره هغه سوال دفع سو چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مناسب د ماسبق ذکر سوی د قدرت الهي د نخښو خو تلک ؤ) عبرت، یعني دلالت دی پر وجود د صانع قادر بکمال القدرة، خاوندانو ته د کتلو (اولی جمع ده، مگر د لفظ خپل مفرد نه لري بلکې مفرد یې ذو دی.

پوه سه: چې ابصار جمع د بصر ده په معنی د لیدو د سترګو ده، او خودې سترګو ته هم وایي او قوت قلبي چې مدرک د اشیاؤ دی بصیرت هم وایي او بصر هم وایي، والمعنی ان من له بصیرة له مذکوره شیانو څخه پند اخلي و معرفت ته د مدبر په قدرت تامه او په علم شامل الدال قطعًا علی الوحدانیة. له سعید بن المسیب ؒ څخه چا پوښتنه وکړه: ای العبادة افضل؟ ده ورته وویل التفکر في خلق الله والتفقه في دینه. ودې تفکر في الخلق ته سعدي شیرازي قدس سره اشاره کړې ده په دې بیت کې:

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ..... هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ

او خدای ﷻ پیدا کړې ده هره دابه د مخصوصو اوبو څخه چې نطفه یې بولي (الدابة کل مایدب ای یتحرک علی الارض من الحیوانات) نو په دې آیت کې تنزیل دی د غالب حیواناتو علی الکل، ولي چې بعض حیوانات له هګۍ څخه پیدا کیږي، او بعض د عفو فاتو څخه پیدا کیږي.

پوه سه: چې ملکو او جن ته دابه نه وایي، او بعض علماء وایي چې اوبه اصل دي د ټولو مخلوق، قال البغوي ؒ وذالک ان الله خلق الماء ثم جعل بعضه ریحًا یعني هواء فخلق منها (دا ضمیر وریح ته راجع دی چې مؤنث سماعي دی) الملائکة وبعضه نارًا فخلق منها الجن (نار هم مؤنث سماعي دی) وبعضه طینًا فخلق منه آدم علیه السلام.

فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى بَطْنِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰى رِجْلَيْنِ

په دې حیواناتو کې بعض هغه دي چې پرنس خي لکه ماران، چینجیان او ماهیان، او بعض د دوابو پر دوو پښو تګ کوي لکه انسان، چرګان او نور مرغان.

سوال: مشي خو د پښو تګ ته وایي، نو یمشي علی بطنه څرنګه صحیح کیږي؟

ځواب: چونکه ماشي البطن یې یې د ماشي علی الرجل سره جمع کړی، نو د دوني تګ چې په عربي یې زحف بولي مشي وویل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّمْشِيْ عَلٰٓى اَرْبَعٍ

او بعض يې پر څلورو پښو تګ کوي لکه اوښان، غوايي، پسونه وغيرها کالسباع درنده ګان.

سوال: بعض دواب خو پر دوه پښو تګ کوي لکه څنڅه، غونډک، جولاګی وغيرها هغه يې ولي نه کړل ذکر؟

ځواب: عدم ذکر يې په سبب د عدم الاعتداد بها لقلتها، او يا ددې چې د هغو مشي لکه د څلورو پښو والا مشي دی.

پوه سه: چې تعبير په من سره او تذکير د ضمائرو له جهته څخه د تغليب د عقلاؤ دی.

يَخْلُقُ اللّٰهُ مَا يَشَآءُ ۭ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝

خدای ﷻ پيدا کوي هغه شيان چې ورته اراده يې سي (يعني ماذکر ومالم يذکر من البسائط والمرکبات مع اختلاف الصور والهيئات والحرکات والطبائع والاحوال مع اتحاد المادة علی مقتضی مشيته وارادته وحکمته) په تحقيق خدای پر هر شي قادر دی فيفعل مايشاء بلا منازع لامعقب لحکمه.

لَقَدْ اَنْزَلْنَآ اٰيٰتٍ مُّبَيِّنٰتٍ ۭ وَاللّٰهُ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

اللام موطئه لقسم محذوف، ما نازل کړي دي په قرآن کريم کي آيتونه ظاهرونکي د حق او توحيد (ظاهر الدلالات علی وجود صانع العليم الحکيم في مصنوعاته القدير علی مايشاء بانواع الدالات من المطابقة والتضمنية والالتزامية، لکن هغه چا لره چې القی السمع وهو شهيد) او خدای ﷻ هدايت کوي و هغه چا ته چې اراده د هدايت يې وکړي حسب استعداده باختياره ولاري سي ته چې دين د اسلام دی چې سړی رسوي و مراتبو ته د قرب الی الله والفوز بالجنة والنجات من النار، ددې معنی داده چې ايمان موهبي شی دی لايحصل بالنظر في الدلائل الا بتوفيق الله وهدايته.

بغوي رح وايي چې بشر المنافق په منځ کي دده او د يوه يهودي په محکه کي خصومت ؤ، نو يهودي و بشر منافق ته وويل چې ددې خصومت فيصله پر محمد (ﷺ) چې ته يې په دين کي داخل يې کوو. او منافق ورته وويل چې فيصله به يې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کعب بن الاشرف کوو، ولي چې محمد پر موږ ظلم کوي، او حق په جانب کې د یهودي ژغه پوهیدی چې محمد فیصله بالحق کوي، او کعب بن الاشرف رشوت خوړه ؤ، د منافق خیال ؤ چې څه رشوت به ورکړي او ستا پر خوا به فیصله وکړي فنزلت هذه الآیة.

وَيَقُولُونَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ وَاَطَعْنَا ثُمَّ يَتَوَلّٰى

وایي دوی یعني منافقین چې موږ ایمان راوړی دی پر خدای ﷻ او پر رسول او موږ اطاعت او فرمانبرداري کوو د خدای ﷻ او د رسول، بیا اعراض او روی ګرداني کوي له ایمان څخه، چې امتناع کوي د قبوله د حکم د رسول هلته چې دوی پوهیږي چې حکم د رسول پر خلاف د رایي ددوی دی.

پوښتنه: شان نزول د آیت کمامر خو په بشر منافق کې ؤ کمامر، نو صیغه د جمع یې ولې راوړه؟

ځواب: چونکه د بشر او د ټولو منافقینو حال او مقال سره یو ؤ، نو ځکه یې صیغه د جمع راوړه.

فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ مِّنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۭ وَمَآ اُولٰۗىِٕكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝

(فریق منهم) فاعل د یتولّی دی، مراد له فریق څخه بشر منافق وامثاله، وروسته تر قول ددوی یعني آمنا بالله آه، او نه دي دغه کسان (اشارة الی المنافقین کلهم، اشاره ودې ته ده چې منافقین بتمامهم که څه هم امنوا بالله آه په خوله وایي لکن په زړو کې یې ایمان نسته، او یا اشاره ده فریق متولی عن حکم الرسول ته) نه دي مؤمنان هغه مؤمنان چې تاته یې حال معلوم دی، او خدای ﷻ یې هم په صدق او اخلاص خبر دی، له حسن ؒ څخه روایت دی چې یو سړی له منافقینو څخه په خصومت کې د یو بل چا سره چې هغه به بر حق ؤ، او هغه ته به خصم ددد دعوت د فیصلې پر علیه الصلوة والسلام ورکړی په ښه اخلاص به یې هغه دعوت قبول کړی، ولې چې دی په دې پوهیدی چې رسول الله ﷺ زما په حق کې فیصله کوي په حق سره، او چې د منافق به ظلم په خیال کې ؤ یعني ناحقه دعوه، نو چې به دعوت سو و حکم ته د علیه الصلوة والسلام اعراض به یې وکړی، او دا به یې ویل راځه فلاني ته ورسو چې ژوندی مثال د هغه ناحقه دعوې د بشر منافق وه د یهودي سره کمامر تفصیله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذَا دُعُوٓا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ

چې دوی يعني منافقينو ته به دعوت ورکړل سي و حکم ته د خدای او د رسول د خدای ﷻ، او بعض محققين وايي ورسوله يې عطف کړی پر لفظ الله له دې سببه چې حکم د رسول حکم د خدای ﷻ دی. کريمه: وماينطق عن الهوىٰ ان هو الا وحي يوحىٰ. نحو اعجبني زيد وکرمه.

پوه سه: چې جمله د اذا دعوا آه عطف ده پر ما اولئک بالمؤمنين باندې (ليحکم بينهم) چې حکم وکړي په منځ کې ددوی. ضمير د ليحکم راجع و رسول ته دی.

سوال: په دمخه آيت کې دعوت د خدای او د رسول دواړو ذکر سوی ؤ او په ليحکم کې يې يوائې ضمير و عليه الصلوة والسلام ته راجع کړی؟

خواب: ددې سببه چې مباشر د حکم د خدای ﷻ خو عليه الصلوة والسلام دی حقيقةً وظاهراً که څه هم حکم د عليه الصلوة والسلام حکم د خدای ﷻ دی باطناً.

بيت:.... گفته او گفته الله بود ..... گرچه از حلقوم عبدالله بود

إِذَا فَرِيقٌ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ۝

نابېره يوه ډله د دوی يعني ظالمانه او ناحقه دعوه يې په چا کړې وي اعرض کونکي وي يعني له حکم څخه د رسول.

وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ۝

او که چېرې حق په جانب ددوی يعني خصم يې پر باطل دوی راځي و عليه الصلوة والسلام منقادين او فرمان برداره د رسول د حکم، ولې چې د دوی يقين دی چې عليه الصلوة والسلام حکم بالحق کوي.

أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ أَمۡ يَخَافُونَ

آيا په زړو کې ددوی ناجوړې د ظلم ده، که ددوی په زړو کې شک دی ستا په نبوت کې يعني پر تا يې د تهمت ځای پيدا کړی، نو يقين يې په نفاق بدل سوی دی، او که ددوی بېرېږي چې تا ته د فيصلې لپاره نه درځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَنْ يَّحِيْفَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ وَرَسُوْلُهٗ ؕ بَلْ اُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ۝٥٠ ع

چې ظلم دي وکړي خداى او رسول د خداى ﷻ پر دوى په فيصلو کې د حکم ماتو. بلکې دوى دي ظالمان پر خپلو ځانو بالکفر والنفاق وعدم الانقياد لحکم الله ورسوله، او علاوه پر هغه دوى ظالمان دي پر خلکو چې اموال ددوى بالباطل خوري په رشوت او تحاکم و کعب بن الاشرف وغيره ته.

پوه سه: چې کلمه د بل اضراب دى د قسمين اخيرينو څخه لتحقق القسم الاول.

فائده: تقسيم داسې دى چې منافقينو چې امتناع له تحکيم څخه د عليه الصلوة والسلام کوي (۱) يا به خلل او نقصان په دوى کې وي (۲) يا په حاکم کې چې عليه الصلوة والسلام ؤ، بردوهم تقدير (۳) يا دا نقصان به په حاکم کې ثابت ؤ ددوى، او يا به متوقع ؤ، اخير دوه قسمه خو دواړه باطل دي، ولي منصب د نبوت د عليه الصلوة والسلام او نهايت امين والى د عليه الصلوة والسلام حتى قبل النبوة دى منع کوي د ورته کار و څخه، فتعين القسم الاول وهو الخلل والنقصان فيهم من النفاق، او شاهد د خلل په دوى کې دادى چې حق ددوى په جانب کې ؤ ياتوا اليه مذعنين.

فائده: اورد ضمير الفصل الذي فائدته الحصر في قوله تعالى بل اؤلئک هم الظالمون، ليدل على نفي ذالک من غير المنافقين يعني چې دلالت پر دې وکړي چې دا خلل د اعراض له حکم څخه عليه الصلوة والسلام حصر پر دوى دى متجاوز و مخلص مؤمنانو ته دى.

پوه سه: چې عادت د خداى ﷻ په قرآن کريم کې ذکر د اعداء الله وکړى او رومښته ذکر د احباء الله کوي وما ينبغي لهم فقال جل ذكره.

إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ إِذَا دُعُوْٓا إِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ
اَنْ يَّقُوْلُوْا سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ؕ وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ۝٥١

پوه سه: چې کلمه د انما لپاره د حصر ده، يعني نه دى قول د مؤمنانو مگر دا، والمراد بالمؤمنين ههنا بقرينة ذكرهم عقب المنافقين المخلصون منهم چې دوى وبلل سي و خداى او رسول ته يعني و حکم ته د خداى او رسول، تا چې حکم وکړي رسول د خداى ﷻ.

پوه سه: چې تحقيق ددې خبرې چې دسخه خداى او رسول دواړه ذکر سوه او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لیحکم کي یې مفرد ضمیر و رسول ته راجع کړی عنقریب تپر سو فتذکر.

فائده: قوله لیحکم منصوب دی په ان مقدر سره وروسته تر لام (ولي حرف جر پر فعل نه داخلیږي کما تقرر في کتب النحو) خبر د کان دی او اسم د کان ان یقولو دی، چونکه ان مصدریه دی نو معنی د ان یقولوا قولهم ده چې موږ واورېدې دعوت د خدای او رسول ته دده، او موږ اطاعت کوو او اجابت کوو د هغه دعوت.

(و اولئک هم المفلحون) او دغه کسان چې مذکور قبل هذا قول ددوی دی، دوی دي فلاح او خلاصون مندونکي له عذاب څخه د خدای په دنیا او آخرت کي دون غیرهم، ضمیر فصل :هم: لپاره د حصر دی.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَخْشَ اللّٰهَ وَيَتَّقْهِ

که څوک اطاعت وکړي د خدای او د رسول د خدای یعني في بقیة عمره، قال ابن عباس رضي الله عنه فیما سانه وسره، او د خدای ﷻ څخه بېرېږي یعني د خپلو ګنهو په سبب ومخالفة احکامه تعالی او ځان له عذاب څخه د خدای ﷻ خلاصوي په امتثال کي د اوامرو دخدای او په منع کي د ځان له منهیاتو څخه او په محافظت سره د احکامو د خدای او د حدود د خدای ﷻ.

فائده: د صرفو په کتابو کي وایي چې لپاره د تخفیف په کتف بکسر التاء کي کتف هم روا دی، لکن دا قانون مقید دی په دې سره چې یوه کلمه وي، نو اصل د یتقه یتقیه دۍ چونکه کلمه د یاء په جزم کي ولاړه وه لان کلمة من شرطیة جازمة نو یتقه بکسر القاف والها پاته سو، بیا یې خلاف القیاس قاف ساکن کړی یتقه جوړ سو، ما وویل خلاف القیاس لان اسکان العین انما کان قیاسًا فیما هو کلمة واحدة کمامر آنفًا، او د یتقه د ضمیر سره دوې کلمې دي لکن قراء ضمیر منفصل لکه متصل وکړ ځاوه، ولي تقه پر وزن د کتف، نو یې ځکه یې قاف ساکن کړی فافهم وتدبر.

پوه سه: چې دا قرائت د حفص رحمه الله دی، او جمهور قاریان یې یتقه بکسر القاف علی الاصل، وبعض قراء کلمة د ها ساکن وایي په وصل او وقف کي او بعض قاریان یې په کسره د ها، وایي.

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ۝

نو دغو کسانو بری پیدا کړی پر نعیم مقیم في جنت نعیم او پر رضوان د رب رحیم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ اَمَرْتَهُمْ لَيَخْرُجُنَّ

يعني منافقين قسم اخلي په خداى ﷻ سره، كه ته دوى امر كړې چې له كوره ووځي او مالونه پرېږدئ، او يا معنى دا چې جهاد ته ووځئ (ليخرجن) جواب دى لاقسموا على الحكاية او جزاء د شرط معنى، بغوي ؒ وايي چې منافقانو به عليه الصلوة والسلام ته وويل: اينما كنت اكن معك (هر چېرې چې ته يې موږ درسره يو ستا سره) ولان خرجت خرجنا معك وان اقمت اقمنا معك وان امرتنا بالجهاد جاهدنا، قال الله تعالى ردًا لقولهم.

پوه سه: چې د قسم او يمين معنا يوه ده، نو بناء على هذا جهد منصوب دى چې مفعول مطلق دى يعني مضاف دى و مصدر ته د اقسموا من غير لفظه، والمعنى په نهايت ټينګ قسم سره او په مبالغه سره په قسم كې غرض ددوى انكار دى له امتناع څخه ستا له محكمې څخه.

قُلْ لَّا تُقْسِمُوْا طَاعَةٌ مَّعْرُوْفَةٌ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ

ته ورته ووايه چې قسمونه مه اخلئ يعني په درواغو يعني ستاسي دا طاعت معلوم دى چې دا ستاسي د خولې خبرې دي د اعتقاد خبرې نه دي، او ورته خبرې ټاسي عرف كړ څېدلى دى چې په خوله وعدې راكوئ او په عمل كې يې نه پياده كوئ (او بعض مفسرين وايي چې طاعة معروفة مبتداء ده خبر يې محذوف دى، والمعنى طاعة معروفة في الشرع وهي مايكون باللسان والجنان افضل من الحلف اى القول الكاذب، او بعض مفسرين وايي چې د آيت معنى داده المطلوب منكم طاعة معروفة لا اليمين بالطاعة نفاقًا) په تحقيق خداى ﷻ خبر دى په عمل ستاسي چې نفاق دى، نو كلمه د ما مصدريه ده او يا په هغه شي چې ټاسي يې عمل كوئ، نو كلمه د ما موصوله ده او عائد يې محذوف دى.

قُلْ اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ

ته ورته ووايه چې اطاعت كوئ د خداى ﷻ او اطاعت كوئ د رسول.

پوه سه: چې كلمه د قل يې مكرره كړه لپاره د تاكيد د امر بالاطاعة يعني في الفرائض والسنن والجهاد في سبيل الله لرجاء رحمة الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَّا حُمِّلْتُمْ

که تاسي ایها المنافقون اعراض وکړی له اطاعت څخه (وفیه التفات من الغیبة الی الخطاب معهم) یعني پر علیه الصلوة والسلام لازم تبلیغ دی او پر تاسي هغه شی لازم دی چي پر تاسي خدای ﷻ لازم کړی دی من الامتثال.

پوه سه: چي تولوا صیغه د مضارع ده اصل یې تتولوا بصیغة الخطاب لکن یوه تایې څندي حذف کړه، فانما آه جزاء د شرط محذوف ده اقیم علته ماقامه، والتقدیر فان تتولوا تخسروا انفسکم ولاتضرون الرسول شیئًا لانه علیه ای الرسول ماحمل علیه وقد ادی ما کان علیه من التبلیغ علی اتم وجه وعلیکم ما حملتم، لکن تاسي اعراض کوئ د ما حمل علیکم من الاطاعة.

وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا ۚ وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ ﴿٥٤﴾

(وان تطیعوه) عطف علی ان تولوا یعني که تاسي اطاعت وکړئ د رسول ﷺ في جمیع امرکم به (تهتدوا) جواب للشرط تاسي به لار پیدا کړئ و حق ته په دنیا کي او و جنت ته په آخرت کي. او نه دی لازم پر رسول باندي مګر نه تبلیغ د اوامرو او منهیاتو د خدای ﷻ چي هغه هم په ښه واضح دول وي.

پوه سه: چي دا جمله بیان دی د ما حمل علی الرسول من جانب الله ﷻ.

پوه سه: چي حاکم په مستدرک او طبراني له ابي بن کعب ؓ څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوة والسلام او اصحاب دده چي مدینې منورې ته راغله او انصارو ځای ورکړی او فوق العادة کومک یې ورسره کاوه، نو کفارو د عربو ټولو په یوه خوله د انصارو ؓ په دښمنی لاس پورې کړی او د هر طرف تهدید د حملې پر مدینه منوره د انصارو ؓ تر غوږو تېرېدې حتی چي اهل مدینه که مهاجرین که انصار وه د شپې او د ورځي مسلح بیدبدل او مسلح به کرځیدل، نو دوی په خپلو کي سره وویل چي داسي وخت به هم پر موږ راسي چي آمنین مطمئنین یو د شپې او د ورځي لاتخاف الا الله، فنزلت هذه الآیة.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ

وعده کړې ده خدای ﷻ د هغو کسانو سره چي ایمان یې راوړی وي د تاسي څخه یا اهل المدینة الذین هم مع رسول الله ﷺ من المهاجرین والانصار حین نزول الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې ما دا قيد وويايي حين نزول الآية لپاره د دفع د يو سوال چې متوهم به ويل چې مخاطب چې عليه الصلوة والسلام او من معه دي. نو قيد د منكم مستدرک دی، ولي چې آمنوا له هغه څخه اغناء راولي. حاصل د ځواب دادی چې مراد عامة المؤمنين نه دي بلكې هغه مؤمنان دي چې نزول الآية په مدينه منوره كې موجود دي ولايفيد ذالک الا قيد منكم فتامّل هداک الله لدقائق القرآن الكريم.

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْاَرْضِ

او عمل د صالح كارو هم كوي. هر آئينه به خداى ﷻ تاسي خليفه ګان وګرځوي په مځكه كې يعني خلافت او امارت د مځكې به وتاسي ته وسپاري، يعني دا خوف او بېره ستاسي به په امنيت او امارت دربدله كړي.

پوه سه: چې صالحات عام دي واجباتو سنتو وغيرها ټولو ته شامل دي.

پوه سه: چې دا جواب د قسم محذوف دی. والتقدير وعدالله واقسم اى والله ليستخلفنهم الله.

سوال: قسم د خداى ﷻ د كوم ځاى څخه فهميږي؟

ځواب: وعده د خداى ﷻ په سبب د حتمي تحقق نازل منزلة القسم ده، والمعنى والحاصل للآية لنورثنهم ارض الكفار من العرب والعجم فنجعلهم يعني نجعل منهم خلفاء ملوكا واجب الطاعة سياسة، وفي الحديث ليدخلن هذا الدين على ما دخل عليه الليل.

كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

صفت د مصدر محذوف دی اى استخلافا كاستخلاف الذين من قبلهم من الانبياء. لكه داؤد او سليمان عليهما السلام. وهذا قول قتاده رح. يا لكه استخلاف د بني اسرائيلو په مصر او په شام كې چې جبابره خداى ﷻ هلاک كړه، و اورثهم ارضهم وديارهم واموالهم يعني كما كان وعد موسى عليه السلام في التوراة بفتح بلاد الشام، لكن دا وعده په حيات كې د موسى عليه السلام نه سوه پوره. ولي د تيه قصه په منځ كې څلوېښت كاله حائل سوه وروسته تر وفات د موسى يوشع بن نون عليه السلام خداى ﷻ نبي كړی. نو دده په لاس فتح د شام وسوه او بنارونه د شام پر بني اسرائيلو باندې وه وېشل سول. داسي وعده خداى ﷻ د محمد ﷺ سره كړې ده كريمه: ليظهره على الدين كله. ووعد بفتح الشام لكن دا وعده هم په حيوة كې د رسول الله ﷺ نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوه پوره بلکې فتح د شام په خلافت کې د عمر ﷺ پوره سوه کما في کتب السیر.

وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ

او هر آئینه خدای ﷻ به مقرر او ثابت وګرځوي دین ددوی په داسي ډول چې عمل به تولو احکامو ته د دین کبري بلا منازع، هغه دین چې خدای ﷻ مختاره کړی دی د دوی لپاره، ابن عباس ﷺ په تفسیر کې د تمکین داسي وایي یوسع لهم في البلاد حتی یملکوها لیظهر دینهم الاسلام علی سائر الادیان آه، وقد انجز الله وعده.

وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِّنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ

او خدای ﷻ په بدل کړي یعني په زړو کې ددوی به پیدا کړي وروسته تردې چې دوی بېرېدل له کفارو څخه کمامر امنًا یعني د زړه ډاډ او بېغمي، او زما عبادت به کوئ او نه په شریکوئ زما سره یعني په عبادت کې هیڅ شی نه بت او نه ملکه او نه ستوري او نه سمعه او ریا.

پوه سه: چې جمله د یعبدونني حال ده له من الذین آمنوا منکم څخه، فائده د حال داده چې وعد د نصر د خدای ﷻ مقید دی بالثبات علی التوحید، ابو العالیة وایي چې خدای ﷻ غالبه وګرځاوه نبیه محمد ﷺ پر جزیره د عربو کاملاً. فآمنوا و وضعوا السلاح ثم قبض الله نبیه ﷺ نو دوی داغسي په امن کې وه په خلافت کې د ابوبکر ﷺ او په خلافت کې د عمر ﷺ وفي اوائل خلافة عثمان ﷺ و اول فتنة وقع في المسلمین واقعة قتل عثمان ﷺ ثم وثم.

وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٥٥﴾

او څوک چې کافر سي یعني مرتد سي العیاذ بالله او ناشکري د نعمت د امن او تمکن ونه کړي او تائید د دین الذي ارتضی لهم له لاسه ورکړي، نو دغه کسان دي خارج له حدود څخه د ایمان او عن الطاعة قال البغوي ؒ قال اهل التفسیر او من کفر بهذه النعمة (یعني الامن والتمکین في الارض) هغه کسان دي چې عثمان ﷺ یې په شهادت ورساوه، فلما قتلوه غیر الله مابهم من الامن وادخل علیهم الخوف حتی صاروا یقتتلون بعد ماکانوا اخوانًا. بغوي ؒ وایي فما قتل بني قط الا قتل به سبعون الفًا ولا خلیفة المسلمین کعثمان ﷺ الا قتل به خمسة وثلاثون الفًا.

فائده: وروسته د خلافت څخه د خلفاء راشدینو منکر سوه روافض او خوارج

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته تر تولو یزید بن معاویه حیث قتل ابن بنت رسول الله ﷺ یعني الحسین بن فاطمة رضي الله عنهم ومن معه من اهل بیت النبوة. او اهانت یزید پلید وکړی د اولاد سره د علیه الصلوة والسلام او یزید پلید به فخرًا ویله هذا یوم بیوم بدر او بیا یزید پلید لښکر واستاوه و مدینې منورې ته چې د علیه الصلوة والسلام قیام ګاه ده حیًا ومیتًا. نو په حره کې د مدینې منورې یې ۵ هر مسلمانان په قتل ورسول او د مسجد نبوي یې نهایته سپکاوی وکړی، او بیا یې لښکر واستاوه مکې مکرمې ته او په منجنیق یې مکه مکرمه درې ورې کړه. او عبدالله بن الزبیر رضي الله عنه چې د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه لمسی د بي بي اسماء رضي الله عنها زوی وُ د زمزم د څاه پر غاړه یې حلال کړی واباح الخمر حتی کفر یزید بدین الله، قاله المظهري رح.

دروښ وایي: چې علماء اختلاف لري بعض وایي چې پر یزید لعنت نه دی روا، او بعض علماء توقف کوي، لکن د قوله د مظهري یعني قوله وکفر دا صراحةً معلومیږي چې پر یزید پلید لعنت روا دی لانه کفر بدین الله، او علامه ثاني محقق تفتازاني په شرح العقائد کې وایي ونحن لانوقف في شانه بل في ایمانه فلعنة الله علیه واعوانه انتهی، راوي وایي چې عبدالله بن الزبیر رضي الله عنه چې یزید ذبح کاوه دده د مور اسماء رضي الله عنها عمر تخمینًا د سل (۱۰۰) کاله په شاوخوا کې وُ. نو دا راغله پر لکړه یې تکیه کړې وه چې ددې د زوی د وینو بوی سو د مور یې شیدې ترتیو راتوی سوې او حیض هم ورغلی، نو دې وویل چې زویه هغه ځای چې ته اولاً پکښې پیدا سوی وې هغه درپسې وژړل او هغه تیو چې تا شیدې ځندي رودلې وې هغو هم درپسې وژړل زه نو نه درپسې ژاړم انا لله وانا الیه راجعون یې ووایه راهي سوه نعم الصبر لهذه المرئة.

وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿٥٦﴾

او تاسي اقامت د لمانځه کوئ.

پوه سه: چې اقامة الصلوة په هر ځای کې د قرآن کریم چې راسي که په لفظ د مصدر وي او که په لفظ د فعل وي او که په لفظ د اسم فاعل وي معنی یې اداء د لمانځه ده په تولو ارکانو او واجباتو او سنتو او په خشوع او خضوع سره، په بل آیت مبارک کې چې راغلي دي ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر هغه دغه کامل لمونځ دی. او ورکوئ زکوة د تولو اموالو که نقود وي او که مواشي وي چې د نصاب او د شرائطو د وجوب بیان یې په کتابو کې د فقه شریف راغلی دی. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اطاعت کوئ د رسول الله ﷺ في جميع ما يامركم به وينهاكم عنه، راجين ددې اوسئ چې پر تاسي به رحم وکړل سي د خداى ﷻ له جانبه څخه او يا لکى ترحمون.

دروښ وايي: چې په عطف کي د اقيموا الصلوة آه عظيم اختلاف دى د مفسرينو، روح البيان وايي چې معطوف پر مقدر دى چې مقام يې تقاضى کوي اى فآمنوا وعملوا صالحًا واقيموا الصلوة الآية، او روح المعاني وايي چې زما په نږ چې مختاره دى هغه داده چې عطف پر مقدر ده چې نظام القرآن يې تقاضى کوي، ولي خداى ﷻ په دمخه آيت کي وويل ومن كفر بعد ذالك الآية فهم منه النهي عن الكفر فكانه قيل فلا تكفروا واقيموا الصلوة الخ. او مظهري ؒ وايي چې جمله واقيموا الصلوة سره د معطوفاتو عطف ده على قوله تعالى واطيعوا لله آه مع كثرة الفاصل بين المعطوفين فراجع الى التفسيرين اى روح المعاني والمظهري.

لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

ته گمان مه کوه يا محمد ﷺ، او يا کل سامع پر هغو کسانو چې کفر يې مختاره کړى وي چې دوى دي خداى ﷻ عاجزه وکړ ځوي له اهلاک څخه ددوى په مځکه کي.

دروښ وايي: چې ابوجهل چې سره د زرو کسانو بدر ته ورغلى او په مقابل کي يې درې سوه ديارلس (۳۱۳) کسان مسلمانان د عليه الصلوة والسلام سره وليدل، نو خپل فوج ته يې داسي امر صادر کړى خذوهم واحصروهم واربطوهم بالحبال ولايقتل احد اسيره من المؤمنين الى آن آمرهم فيهم، نو له دې وينا څخه د فرعون الامة ابوجهل داسي فهميده چې خداى عاجزه دى له اهلاک څخه زمونږ په مځکه کي د بدر اخير الامر خداى ﷻ خپل قدرت عظيمه و ابوجهل ته وروښو چې په شمول دده اوويا کسان پر ميدان د بدر قتل سوه او اوويا کسه اسيران سوه په لاسو کي د مسلمانانو راغله او بقيه لښکر د ابوجهل په تښته ولاړل او په مسلمانانو کي په دې معرکه صرف څورلس کسه شهيدان سول.

پوه سه: چې ابن عامر او حمزه له قراء سبعه وو څخه دا لفظ لايحسبن په ياء د غيبت وايي او الذين يې فاعل بولي، والمعنى لايحسبن الكافرون انفسهم معجزين آه، او نور قاريان يې لاتحسبن الذين په تاء يعني مخاطب وايي، والخطاب للنبي ﷺ. والذين كفروا مفعول اول دى او معجزين مفعول ثاني دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مُعْجِزِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۚ وَمَاْوٰىهُمُ النَّارُ ۭ وَلَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝

او ځای ددوی دوږخ دی، دا جمله حال د الذین ځخه بد ځای دی د ورتګ اور یعني دوږخ.

بوه سه: چې لاتحسبن آه وعید للکافرین متصل بقوله ومن کفر بعد ذالک آه.

بوه سه: چې ابن ابي حاتم د مقاتل بن حبان ځخه روایت کړی دی چې د اسماء بنت مرثد یو مریی وُ چې ډېر وخت به کور ته راتللی په داسي حال کي چې دخول دده په داسي حالت د اسماء نه و خوښ مثلا بعض عورت اندامونه ددې به لځ وه. نو دا ښځه و علیه الصلوة والسلام ته راغله او داسي یې ورته وویل ان خدمنا وغلماننا یدخلون علینا في وقت نکرهها فانزل الله هذه الآیة الی اخیره، او بغوي ؒ وایي چې ابن عباس ؓ وایي چې علیه الصلوة والسلام یو هلک د انصارو ځخه چې نوم یې مدلج وُ عمر بن الخطاب ؓ ته یې په وخت کي د غرمې وروا ستاوه چې عمر ؓ راوبولي. نو مدلج چې د عمر ؓ په کور ورننوتی. عمر ؓ په مکروه حالت کي ولیدی فانزل الله هذه الآیة.

دروښ وایي: ولامنافات بین الروایتین في شان نزول هذه الآیة، ولي چې احتمالات موجود دي چې دغه دواړې واقعې یو د بل سره نژدې واقع سوي وي والله اعلم بالصواب.

بوه سه: چې احکام مذکوره په دې آیتو کي تتمه د احکامو سابقه وُ ده.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِيَسْتَاْذِنْكُمُ الَّذِيْنَ مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

والمراد بالخطاب الرجال والنساء معًا لکن تغلیب یې ورکړی و رجالو ته، ولي الذین آمنوا خطاب دی د رجالو، ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی (فائده: آمنوا چې یې ووایه اشاره ودې ته ده چې دا استیذان له احکامو ځخه د ایمان دی) هر آئینه طلب د اذن دي کوي هغه کسان چې په ملک کي ستاسي دراسته لاسو وي یعني مریان که د ښځو او که د نرو.

سوال: د مریي ملک ته ملک یمین ولي وایي؟

ځواب: په دې سبب چې په وخت کي د رانیولو د مریي یا د مینځي غالبًا مشتري قیمت د هغو په راسته لاس ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ مِنْكُمْ ثَلٰثَ مَرّٰتٍ

او هغه هلکان چې احرار وي چې نه وي رسېدلي ودرجې ته د بلوغ معهود. درې واړه يعني په درې وخته کې

پوه سه: چې تعبير د بلوغ څخه په حلم سره چې معنی يې احتلام دی له دې سببه دی چې احتلام اظهر له دلائلو څخه د بلوغ د نر دی. وبلوغ الغلام صيرورة الغلام بحال لو جامع انزل.

پوه سه: چې مراهق چې بلوغ ته نژدې سي په حکم کې د بالغ دی.

مِنْ قَبْلِ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَحِيْنَ تَضَعُوْنَ ثِيَابَكُمْ مِّنَ الظَّهِيْرَةِ وَمِنْۢ بَعْدِ صَلٰوةِ الْعِشَآءِ ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ

دمخه تر لمانځه د سهار ولي چې دا وخت ددې دی چې خلک د خوبه راویښېږي او د خوب کالي کاږي او د بیداری کالي اغوندي. او هغه وخت تاسي کاږی جامې خپلې چې د يقظه په حالت کې مو اغوستي وي د غرمې د خوب لپاره (من الظهيره) بيان للحين.

پوه سه: چې ظهيرة په لغت کې شدة الحر عند انتصاف النهار.

ثَلٰثُ عَوْرٰتٍ لَّكُمْ

برفع ثلث خبر د مبتدا، محذوفي دی يعني هي ثلث آه.

پوه سه: چې اصل د عورت خلل ته وايي، او بعض علما، وايي چې عورت مشتق له عار څخه دی اې پېغور. ځکه ښځي عورت بولي ولې د ښځي لخوالی پېغور دی.

مسئله: مقتضی ددې آيت داده انه لايجوز لعبد ان كان صغيراً عاقلاً ان يدخل على سيده بدون الاستيذان، ولا لامة ان تدخل على سيدتها واما دخول العبد البالغ او المراهق على سيدته فحرام في جميع الاوقات. واما دخول الامة التي يجوز له چې سيد ته يې وطي روا وي فيجوز دخولها في كل وقت كالزوجة ولايجوز لصغير عاقل يعني په جماع پوهېږي ان يدخل في احد هذه الاوقات بغير استيذان ويجوز لهم ان يدخلوا بغير استيذان في غير هذه الاوقات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَيْسَ عَلَيْكُمْ وَلَا عَلَيْهِمْ جُنَاحٌ بَعْدَهُنَّ طَوَّافُونَ عَلَيْكُمْ

يعني ايها الذين تسكنون البيوت (اى هغه كسانو چي په كورو كي اوسيږي) او نه پر مملوكينو او پر اطفالو چي تاسي ته درځي د خدمت لپاره يا نحو ذالك گناه او حرج پس له اوقات ثلثهٔ څخه يعني په ترك كي د اذن غوښتلو للدفع الحرج عليهم وعليكم في الاستيذان منهم في كل دخول لمخالطتهم ډير طواف كونكي دي پر تاسي يعني يدخلون ويخرجون كثيرًا.

پوه سه: چي دا جمله بيان د مرخص ده في الدخول مع عدم الاستيذان.

بَعْضُكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ

يعني بعض ستاسي طائف دي على بعض او يطوف بعضكم على بعض، دا جمله بدل ده له جملې سابقې څخه وبيان له.

فائده: په دې آيت كي خداى ﷻ عبيد او اطفال من جنس انفسهم وبلل لكثرة مخالطتهم، نو دوى يې بعض د مخاطبينو وبلل.

كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الْآيَاتِ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ

بيانوي خداى پاك وتاسي ته آيات د احكامو د شريعت په قران كريم كي او خداى پاك ښه خبر دى په احوالو ستاسي او په هر حكم كي حكمت لري، بغوي وايي چي علماء په حكم كي ددې آيت اختلاف لري بعض علماء وايي چي دا آيت منسوخ دى قال ابن عباس ؓ چي په زمان قديم كي نه خلكو لره پر دې وي او نه دروازې وكان الولائد والخدم يدخلون بيوت الناس، نو ډير وخت به د خلكو او د ښځو دا دخول او خروج نابيره نه ؤ خوښ، نو خلك مامور سول بالاستيذان في الاوقات الثلث المذكورة ثم بسط الله على الناس، نو پر دروازه يې پر دې واچولې چي په دې سره استيذان ته ضرورت نسته وذهب قوم الى انها غير منسوخة، له موسى بن عائشه څخه روايت دى چي ما له شعبي ؒ څخه پوښتنه وكړه ددې آيت په باره كي چي دا آيت منسوخ دى، قال لا والله قلت ان الناس لايعملون بها قال الله المستعان، وقال سعيد بن جبير ؒ ان الناس يقولون نسخت هذه الآية والله ماانسخت لكنها مما تهاون به الناس لكن مظهري وايي چي صحيح داده چي دا آيت منسوخ نه دى لكن حكم په استيذان معلول په علت دى چي اختلال واقع كيږي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تستر کي د عورات په دغو درو وختو کي کمايدل عليه قوله تالى ثلث عورات لكم او دغه خلل په تستر کي د عورات فارق دى په منځ کي د دغو دوو وختو او د نورو وختو في الاستيذان في الاول وعدم الحاجة الى الاستيذان في الناس.

قانون اصول: اهل اصول الفقه وايي چي عدم د حكم (چي عدم استيذان دى في غير هذه الاوقات الثلث) په نزد عدم د علة (چي اختلال في الستتر په غير کي ددې درو اوقاتو) نسخ نه بولى.

تفريع: که خلکو ته اختلال په تستر کي نه راتلى په دغو درو اوقاتو کي هم بيا په دغو درو اوقاتو کي هم استيذان ته ضرورت نسته مثلاً يو سړى د کور د باندې مهمان خانته وه چي چاته ممانعت نه ؤ او نه خلل په ستر کي ؤ نو استيذان ته هم ضرورت نسته والله اعلم.

وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ

چې نژدې سي کوچنيان ستاسي و بلوغ ته. نو دوى به اجازه غواړي لكه چې اجازه غوښتل هغو کسانو چې تر دوى دمخه وه يعني في الاوقات كلها. ولي چې مبيح د دخول بغير الاستيذان وهو كثرة المخالطة په سبب د بلوغ زائل سو چې هغه مبيح طفوليت ؤ، اكثره مفسرين وايي چې حكم ددې آيت عام دى وهر هغه چا ته چې دخول غواړي يا پر نرانو يا پر ښځو که محرمات وي دا ښځي او که اجنبيات وي (لكن په استيذان کي د محرماتو غاړي تازه کول يا ټخې کول هم كافي دى) او په اجنبيات صريح استيذان غواړي. په حديث شريف کي راغلي دي چې يو سړى د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړه چې زه د مور کور ته ورځم استيذان غواړي؟ فقال عليه السلام نعم. هغه سړي ورته وويل چې زه خو د مور سره په کور کي يم، فقال رسول الله ﷺ استاذن عليها، هغه سړي ورته وويل چې زه خو د مور خادم يم قال استاذن عليها اتحب ان تراها عريانة قال لا قال فاستاذن عليها (ولو بالتنح نح) له حذيفه څخه چا پوښتنه وكړه ايستاذن الرجل على امه؟ قال ان لم يفعل (يعني كه همېشه دخول بلا اذنه ؤ) رئ منها مايكره (يعني يووخت به يې لځه وويني)

پوه سه: چې امر بالاستيذان في هذه الآية للاستحباب. نو كه څوک خپل کور ته ورتلى او په کور کي خالص محرمات دده وې لكه مور. خور. خاله. عمه وغيرها يكره الدخول فيه من غير الاستيذان (يعني بوجه من الوجوه) لكن مكروه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنزيهي دی. واما الدخول في بيت غيره من غير استيذان فحرام لايجوز لقوله تعالى: يا ايها الذين آمنوا لاتدخلوا بيوتا غير بيوتكم حتى تستانسوا او دغه رنګه حرام دی دخول و هغه کور ته فيه نساء اجنبيات داسي اجنبيات چي نرو ته دخول نه وي روا بيله استيذان لقوله تعالى قل للمؤمنين يغضوا من ابصارهم.

بوه سه: چي دخول د مريي چي بالغ وي پر خپل مالکه بنځه بيله استيذان په نېز د مالک او شافعي ؒ روا دی بيله استيذان ولي دوی وايي چي مريی د مالکي بنځي محرم دی. نو استيذان يې صرف مستحب دی كما في المحرمات النسبية او په نېز د امام اعظم ابو حنيفة ؒ محرم يې نه دی نو پر مذهب دده استيذان واجب دی كما مر في سائر الاجنبيات.

دروښ وايي: چي په زمانه کي د اصحاب کرامو ﷺ عمومي استيذان په السلام عليكم هل لي في الدخول، نو که به د نعم جواب ورکړل سو داخل به سو، او که نه بيا به يې وويل السلام عليكم هل لي في الدخول وهكذا تر دريو واره پورې که به جواب د نعم ورته راغلی خوښه که نه نو به تلی، او د پښتنو استيذان د دروازې په تکولو سره دی تر هغه وخت يې تکوي چي څوک له کوره ورته راوځي او جواب دلا يا نعم ورکوي.

دروښ وايي: چي هغه خبره چي روح البيان کړې ده په حواله د تتمه چي دخول د عبد بالغ په غير کي د اوقات ثلثه روا ده بيله استيذان بالاجماع آه. دعوه د اجماع يې بې ځايه ده كما مر آنفًا من اختلاف ابی حنيفة ؒ.

فائده: په عمومي مسلمانانو کي دا احکام نه دي جاري خصوصًا په پښتنو کي. ولي يو ورور د بل ورور کور ته بيله استيذان ورځي اگرچه د ورور مايند خو دده محرم نه ده او که په يوه کور کي دوه ورونه سره اوسيږي هر ورور بيله استيذان کور ته داخليږي بلکې د ورور زامن هم بيله استيذان داخليږي.

پوښتنه: دوی خو عمومي سرای ته بيله استيذان په غير کي د اوقات ثلثه ؤ داخليږي او په آيت کي خو د بيوت لفظ راغلی دی؟

ځواب: دغه مذکوره کسان خو نو ته هم بيله استيذان ورځي.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۵۹﴾

دغسي لکه تاسي چي واورېدی خدای ﷻ بيانوي خپل آيات دالة پر احکامو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شرعيه وو او خداى ﷻ خبر دى په تولو احوالو او په هر كار كي حكمت لري.

پوه سه: چي والله عليم حكيم يې مكرر راوړى د مبالغه په امر كي د استيذان.

فائده: علامه د بلوغ د صغير يوه داده چي ماينه لري څنډي اميدوارد سي. او بله داده چي په خوب كي احتلام ورپيښ سي او يا ذكر په لاس كي مړي انزال سي. او د صغيره نجلى بلوغ په احتلام او انزال سره هم دى او په حيض او حمل سره هم دى. او كه دا علامې هيڅ نه سوې پيدا نو بلوغ د نر پر پنځلس (۱۵) كاله سره دى او د ښځي دا په دوولس (۱۲) كاله سره. او روح البيان د دوارو ته په پنځلس كاله سره بللى دى وقال وبه يفتى. والتفصيل في كتب الفقه الشريف.

وَالْقَوَاعِدُ مِنَ النِّسَآءِ الّٰتِيْ لَا يَرْجُوْنَ نِكَاحًا

والقواعد مبتداء ده من النساء حال دى له ضمير څخه د قواعد.

پوه سه: چي قواعد كه څه هم جمع مؤنث ده لكه ضوارب جمع ضاربة لكن دلته يې مفرد قاعد دى ولي دا صفت خاصه د ښځي دى نو تاء د تانيث ته حاجت نه لري لكه حيض او حمل چي صفت خاصه د ښځي دى. نو مفرد د حوائض حائض او د حوامل حامل بلا تاء التانيث. په قاموس كي وايي القاعد المرئة التي قعدت عن الولد والحيض وعن الزوج چي په پښتو يې سپين سرې ښځه بولي (التي لايرجون نكاحًا) صفت د قواعد دى يعني طمع د نكاح نه لري په سبب د كبرسن. ربيعه ؒ وايي چي مراد هغه سپين سري دي چي نر يې وينې بد يې څنډي راځي او كه چېرې داسي سپين سرې وه چي په ځان يې گوته وهل يعني لاسونه يې سره كول او سپين سر يې په نكرزو يا په تور رنگ واهه او مخ يې غوړاوه هغه په دې ايت كي نه دي داخلي.

فَلَيْسَ عَلَيْهِنَّ جُنَاحٌ اَنْ يَّضَعْنَ ثِيَابَهُنَّ

پر دوى نسته گناه (خبر د مبتداء دى او كلمة د فاء يې ورسره راوړه لتضمن المبتداء معنى الشرط كما هو القانون النحوي) چي دوى ايږدي او كاږي خپل كالي.

پوه سه: چي مراد د كالو څخه بعض كالي دي كما يدل عليه قرائة ابن مسعود وابى بن كعب ان يضعن من ثيابهن. يعني من تبعيضي يې راوړى فلا يجوز لهن كشف بطنها وظهرها وماتحت سرتها. او تر ناصه لاندي دمخ خوا او د شا خوا. لكن مخ لښدل او سر لښدل او بازو گان لښدل ورته روا دى. دغه رنگه د پښو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لخپدل او د ماتحت الرکبة لخپدل ورته روا دی.

غَيْرَ مُتَبَرِّجٰتٍۭ بِزِيْنَةٍ

پوه سه: چې اصل معنی د تبرج الظهور ده لکن په استعمال کې دې ته وایي چې ښځه زینت او جمال خپل و خلکو ته وربښي. وفي الحدیث یکره عشر خلال منها التبرج بالزینة لغیر محلها (لس خویونه مکروه دي د هغه څخه یو بنکاره کول دي د زینت ه خپل محل څخه پرته)، هغه نور نهه خویونه د اختصار له کبله متلوي سوه، صاحب الهدایة وایي چې تبرج اظهار الزینة دی په ښځه کې و بېګانه خلکو ته وهو المذموم، واما للزوج فلا. وهو معنی قوله علیه السلام لغیر محلها (یعنې محل د زینت مېړه دی).

پوه سه: چې غیر متبرجات حال دی د فاعل څخه د یضعن. نو دا قید دی د عدم الحرج في وضع ثیاب العجائز یعنې یکون وضع الثیاب للعجوزات لغیر اظهار الزینة للرجال. نو د هغه سپین سرې که یې غرض په وضع کې د ثیاب اظهار د خپل زینت وْ فذالک الوضع حرام علیها.

فائده: قلعه (یعنې کلا) ته هم برج په دغه معنی د ظهور وایي. او دوولسو بروجو ته ته چې بروج وایي لانها محال ظهور الکواکب السبع السیارة و الکواکب الثوابت.

فائده: تبرج باب د تفعل دی چې په شافیه کې وایي چې یوه فائده د باب د تفعل داده چې تکلف دی په مجرد کې لکه تزهد فلان یعنې په دهر تکلف یې څان زاهد کړی او طالبانو زدکړي ته تعلم وایي لانه لابد في طلبه و تحصیله من التکلف، دلته چې یې دا لفظ راوړی د دې لپاره چې سپین سرې ښځې خو محل د زینت نه دي لکن دا په څان کوته وهي او څان په تکلف سره ښائسته کوي کما مر من قبل فافهم.

وَاَنْ يَّسْتَعْفِفْنَ خَيْرٌ لَّهُنَّ ۭ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝

چې دوی له څان څخه طلب د عفت و کړی یعنې الکف عما لایلیق ولایحل لهن والمراد چې وضع د جامو دي نه کوي عند الرجال خیر (لهن) یعنې تر وضع الثیاب لانه قد یفضی الی الفتنة والتستر ابعد من التهمة. او خدای ﷻ اورېدونکی دی د دوی د خبرو د نرو سره او خبر دی په مقصد د دوی في وضع الثیاب.

پوه سه: چې د دې آیت معنی هغه قول د علماء ربانیون دی التقوی فوق امر التقوی. وایضاً ورد في الحدیث الصحیح لایبلغ العبد انیکون من المتقین حتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یدع مالس به (یعني في امر الفتوی) حذرًا مما به باس (یعني في امر التقوی) له ابن سیرین رئیس المعبرین ؒ څخه روایت دی چې ما وطي نه دي کړي قط (هیڅ کله) نه په ویښه او نه په خوب کي غیر ام عبدالله چې دده ماینه وه. دی وایي چې زه په خوب کي یوه پیګانه ښځه وینم او زه پوه سم چې دا خو ماته نه ده روا نو ستر کي څندي وارووم، یو بل عالم وایي: لیت عقلي في الیقضة (یعني چې په ویښه د نامحرمي ښځي څخه مخ وارووم) لکه حال د ابن سیرین ؒ په خوب کي.

حکایت: د یو سړي سپین سړي مور ناجوړه وه، نو یو طبیب ته یې ورو ستل د علاج لپاره، طبیب چې ددې و جوړ کړي هیئت ته او د زینت و کالو ته او عطر لګولو ته فکر وواهه، نو وه یې ویل چې دا ښځه ډېره محتاجه ده و مېړه ده. د سپین سړي زوی وویل چې سپین سري ښځي مېړه څه کوي، مور یې ورته وویل ویحک انت اعلم ام الطبیب (خوار سې ته پوهېږې که طبیب) ښځي که زوړ مېړه درلودی چې عضو تناسل یې مراوی ؤ د هغه سره یې وطي زړه نه غواړي بلکې د خوان سره یې وطي زړه غواړي.

لَيْسَ عَلَى الْأَعْمٰى حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْأَعْرَجِ حَرَجٌ وَّلَا عَلَى الْمَرِيْضِ حَرَجٌ

چې فاقد البصر وي (بالفارسیة نابینا، یعني نسته پر اینده ګناه) او نه پر ګوډ یا چې زنګون یې درد کوي و ډوډۍ ته سم نسي کښېنستلای، او نه پر مریض وبال سته، والمرض خروج د بدن دی له اعتدال خاص څخه وله اقسام شتی کما هو ظاهر.

شان نزول: دغو درو ډلو نه وه خوښه چې د جوړانو خلګو پریوه سترخوان یا کاسه ډوډۍ وخوري، ولي ړوند خو لوی لوی ګولې کوي او ګاهي د کاسې له یوه جانبه ویل جانب ته لاس غځوي او دی په ځان نه پوهېږي، او اعرج چې سم نسي کښېنستلای د دوو کسو ځای نسي، او د مریض به شاید بد بوی ولاړېږي یا به یې پزه بهېږي و نحو ذالک چې د کاسې او سترخوان سړي ته تکلیف رسېږي. نو دا آیت مذکوره نازل سو.

وَلَا عَلٰٓى اَنْفُسِكُمْ اَنْ تَاْكُلُوْا مِنْۢ بُيُوْتِكُمْ

او نسه پر تاسي حرج چې تاسي خوراک وکړئ په کورو کي خپل (نو کلمه د من جاره په معنی د فاء جاره ده)

پوه سه: چې مراد له بیوتکم څخه هغه کور نه دی چې په هغو کورو کي ستاسي زوجات او عیال موجود وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په بیوتکم کي بیوت د اولاد هم داخل دي لان بیت الولد کبیته، په حدیث صحیح کي راغلي دي انت ومالک لابیک اخرج هذا الحدیث اصحاب ستة الصحاح والحاکم عن عائشة رضي الله عنها وقال رسول الله ﷺ ان اطیب ما یاکل الرجل من کسبه وان ولده من کسبه رواه الترمذي وابو داؤد والدارمي من حدیث عائشة رضي الله عنها.

أَوْ بُيُوتِ آبَائِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أُمَّهَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ إِخْوَانِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخَوَاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَعْمَامِكُمْ أَوْ بُيُوتِ عَمَّاتِكُمْ أَوْ بُيُوتِ أَخْوَالِكُمْ أَوْ بُيُوتِ خَالَاتِكُمْ أَوْ مَا مَلَكْتُمْ مَفَاتِحَهُ أَوْ صَدِيقِكُمْ

درویش وایي: چي د ټولو کلماتو ددې آیت تفسیر ظاهر دی مګر اخیري عبارت ابن عباس رضي الله عنه وایي مراد ځندي وکیل د سړي او ناظر یې دی په مځکه کي او په ماشیه حیواناتو کي. نو ده ته حرج نسته چي خورک وکړي یعني وکیل او قیم او ناظر له مبوې څخه د باغ یا له شیدو څخه د مېږو او ښرو لکن ورسره وړي به یې نه او نه به یې ذخیره کوي، او ضحاک رحمه الله وایي چي مراد بیوت د مریانو دي وذالک لان السید یملک منزل عبده، (او صدیقکم) یعني بیوت صدیقکم.

پوه سه: چي مفاتح خزائنو ته وایي کما في قوله تعالی وعنده مفاتح الغیب (ای خزائنه) لایعلمها الا هو. عکرمه رحمه الله وایي چي که چا کیلي د باغ و چا ته ورکړه فهو خازن فلاباس ان یاکل الشئ الیسیر. یعني چي کور ته یې نه یوسي او د بل وخت ذخیره یې نه وګرځوي.

پوه سه: چي صدیق هغه اشنای ته وایي چي په اشنایي کي صادق وي، ولي چي د داسي اشنایانو تر منځ تبسط في اموالهم ښته.

فائده: صدیق یوه او جمع دواړو ته ویل کېږي کالخلیط، او بغوي رحمه الله وایي قال ابن عباس رضي الله عنهما چي دا آیت نازل سوی دی په حارث بن عمرو کي چي دی غزا ته ولاړی سره د رسول الله ﷺ او مالک بن زید چي د ضعفاؤ څخه وو پر ځپل کور یې خلف پریښو. نو غازي حارث بن عمرو رضي الله عنه چي له غزا څخه راغلی مالک بن زید رضي الله عنه دیر په جهد او په لوږه کي ولیدی، نو غازي ورته وویل چي زما د کوره به دي ډوډۍ خوړلای، مالک بن زید رضي الله عنه ورته وویل چي ما حرج کاوه او ګناه مي بلل چي بیله اجازې سته له کوره خوراک وکړم، فانزل الله تعالی هذه الآیة. قال البغوي رحمه الله چي حسن او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتاده ؒ دخول د بيت الصديق والتمتع بطعامه من غير استيذان منه (اى الصديق) في الاكل ددغه آيت په سبب روا بوللو ومعنى الآية من اوله الى صديقكم پورې داده چې نسته حرج پر تاسي چې له كورو څخه د دغو مذكوره كسانو اذا دخلتموها خورک وکړئ كه څه هم دوى نه وي حاضر په كور كې مګر طعام به درسره وړئ نه.

پوه سه: چې بعض علماء وايي چې دا حكم په اول كې د اسلام ؤ بيا منسوخ سو. لكن صحيح داده چې منسوخ نه دى لكن محمول پر دې دى چې خورک كونكى د دغو كسانو له كورو څخه پر دې باور ؤ چې صاحب البيت په دغه خوراک راضي دى يا په اذن صريح سره يا قرينه سره ولذا لک خصص المذكورين في الآية بالذكر فانه يعتاد التبسط بين هؤلاء. نو تخصيص د دغو كسانو جاري مجرى العادة دى ورنه كه څوک د اجنبي كور ته ورسي او په دې پوهيږي چې صاحب البيت راضي دى په اكل د طعام دده باذن صريح يا دلالة ده ته روا دى.

مسئلة فقهيه: په دې آيت سره احناف دليل وايي يعني چې عادت جاري دى په انسباط سره بين المحارم كما هو مدلول هذه الآية چې قطع اليد پر هغه چا چې غلا وکړي د ذى رحم له كور څخه خواه هغه مال مسروق ملک د ذى رحم وي او كه مال د بل چا وي د ذى رحم محرم په كور كې پروت وي لان الحدود يندرء بالشبهات وهذه الآية تورث شبهة كما لايخفى.

سوال: پر دې تقدير بايد قطع اليد نسي لازم پر هغه چا چې د صديق له كوره غلا وکړي لان الصديق مذكورة في هذه الآية ايضًا؟

خواب: صداقت او اشنايي خو عارضي شى دى ګاهي وي ګاهي نه وي بخلاف القرابة النسبية. او بل جواب دا دى چې غله چې د صديق له كوره غلا وکړه صداقت يې په عداوت بدل سو. بغوي ؒ ويلي دي چې عطاء الخراساني ؒ وايي چې غني سړى ورغلى د ذى قرابت او صداقت وكور ته او هغه ته يې دعوت وركړى نو هغه فقير چې يې كور ته راوستى غني به ورته وويل چې ته خپله ډوډى خوره زه جرح او ګناه بولم چې ستا سره زه ډوډى وخورم، ولي زه غني يم ته فقير يې فنزلت هذه الآية.

لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَأْكُلُوا جَمِيعًا أَوْ أَشْتَاتًا

نسته پر تاسي ګناه او جرح چې ډوډى خورئ يا په جمع واړئ يا جلا جلا او په بعض روايا تو شان نزول د دې آيت دا سي بيان كړل سوى دى چې بنې ليث بنې بكر چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یو قوم ؤ د کنانه د لوی قوم څخه. چې د دوی عادت دا ؤ چې دوه ډی یې بیله میلمانه نه خوړل یعني دومره مهمان فرست قوم ؤ نو ګاهي به د اسي پیښه سوه چې دوه ډی بې مخ ته پرته وه د سهار څخه تر مابنامه پورې نو تر مابنامه چې به میلمه نه سو پیدا چې دده سره دوډی وخوري، نو مابنام به یې دوډی یوازي وخوړل، وهذا قول قتادة والضحاک وابن جریج رحمهم الله، او ابن جریر د عکرمه او ابی صالح څخه روایت کوي چې دا آیت په انصارو کې د مدینې منورې نازل دی چې دوی ته به میلمه راغلی دوی دوډی نه خوړل تر هغو چې میلمه نه وای ورسره خوړلې یعني که څه هم به میلمه بل ځای دوډی خوړلې وای فنزل الرخصة لهم ان یاکلوا کیف شاؤا جمیعًا او اشتاتًا.

فائده: په باب کې د صداقت له حسن بصري رح څخه روایت دی چې یو وخت دی کور ته ورغلی یوه ډله ده د اصدقاؤ څخه ناسته وه چې دده ترچاپایې لاندې طعام پروت ؤ هغو بلا اجازه راخستی ؤ خوړی یې. نو د حسن رح مخ له خوشالیه وبرېښېدی وقال هکذا وجدنا من لقی من البدریین رض. حسین کاشفي میګوید که فتح موصلي رح درخانه دوستی آمد ودوست درخانه موجود نبود از جاریه او کیسه دراهم را طلبید جاریه کیسه بر آورد وفتح موصلي از آن کیسه چند درهم که ضرورت داشت گرفت وکیسه پس بجاریه داد. وچون خواجه (یعني مالک خانه) بخانه رسید وصورت حال زجاریه بشنید درشکرانه آن انبساط و دوستی فتح موصلی ودادن جاریه کیسه را آن کنیزک را ازاد کرد وبنواخت انتهی.

درویش میګوید که این است حقیقت دوستی وصداقت ودرنګارستان که نام کتاب است آورده:

شبی گفتم نهان فرسودهٔ را ..... که بود آسوده در کنج ریاطی
زلذتها چه خوشتر درجهان گفت ..... میان دوستداران انبساطی

دیګر شاعری گفته:

یاران بجان مضایقه باهم نمیکنند ..... آخر کسی بحال جدائی چرا کند
بسیار جد وجهد بباید که تا کسی ..... خودرا بآدمی صفتی آشنا کند

این بود چند جمله معترضه که دربیان حقیقت صدیقیت دربیان آمده وپس بتفسیر قرآن کریم رو می آورم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً

چي داخل سئ تاسي کورو ته. بعض مفسرين وايي چي معنى د آيت داده اذا دخلتم بيوتا لکم چي کورو الا نه وه يعني مثلاً د پلار کره تللې وه، نو پر خانو سلام ووایاست. يعني قولوا السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين فان الملائكة ترد عليهم. او بعض مفسرين وايي چي يو وبل ته دي سلام ووايي.

پوښتنه: په قرآن کريم کي خو انفسکم راغلى دى، نو بل سړى خو د سړي نفس نه دى؟

ځواب: د نفس اطلاق پر جماعت چي په دين کي يو وي هم کيږي يا په قرابت کي يو وي هم کيږي. قال الله تعالى لاتخرجوا انفسكم من ديارکم (يعني قربان او عزيزان له کورو څخه مه باسئ) وقال عز من قائل: لاتلمزوا انفسكم (عيب مه وایاست پر خپلو خانو يعني د خپل دين پر شريکانو يا د قرابت پر شريکانو الى غير ذالک من الآيات الكريمات)

پوه سه: چي تحية مصدر دى غير لفظ تسلموا فان التحية هو التسليم (لكه قعدت جلوسًا) بخاري او مسلم له ابى هريره ؓ روايت کړى دى قال قال رسول الله ﷺ خلق الله تعالى آدم على صورته (اى الصورة المختار له تعالى فالاضافة الى الضمير تشريف المضاف) طوله (۶۰) زراعًا فلما خلقه (اى نفخ فيه الروح) فقال اذهب الى هؤلاء الملائكة جلوس فسلم فاستمع مايحيوک فانها تحيتک وتحية ذريتک فقال اى ادم السلام عليكم فقالوا السلام عليک ورحمة الله اى زادوا ورحمة الله.

دروښ وايي: چي دا حديث ما د دې لپاره راوړى چي تحيه او سلام سره يو دي فافهم.

(من عند الله) اى كائنة من عنده تعالى مشروعة من لدنه (مباركة) يعني مقرونة بذكر البركة وهي الزيادة في الخيرات فيقول السلام عليكم فيقول السلام عليكم والبركة. بعض علماء وايي چي خداى ﷻ تحية د سلام توصيف په برکت سره وکړى ولي چي اميد سته د زيادت د خيرات او ثواب به وګرځي (طيبة) پاک له رياء څخه ولا نفاق فيها صادرة من طيب النفس وقيل تطيب نفس د اوريدونکي يعني په خوشاله کيږي. له انس ؓ خادم رسو الله ﷺ څخه روايت دى چي ته ملائي سې د يوه سره د امت زما فسلم عليه يطل عمرک واذا دخلت بيتک فسلم عليهم اى من كان من الرجال والنساء حتى زوجته يكثر خير بيتک وصل صلوة الضحى فانها صلوة الاوابين اى الرجاعين الى الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي: چې سلام و ماينې ته په پښتنو کې بې ناروا والي نارروا دی، بلکې چې مېړه راسي ماينه يې ناسته وي ماينه به ولاړېږي مېړه ته به سلام وايي. ابن عباس ؓ وايي چې مسجد ته داخل سئ فقل السلام علينا وعلى عباده الصالحين يعني چې څوک په مسجد کې نه وي، او که په مسجد کې خلک وه په خبرو سره اخته وه بيا دي السلام عليكم ووايي.

مسئله: که په مسجد کې خلکو لمونځ يا ذکر يا تعليم او تعلم کاوه فلا يسلم لانهم مشغولون بالعبادة، کريمه: واذا حييتم بتحية فحيوا باحسن منها او ردوها چې تاسي ته تحية يعني السلام وويل نو تاسي جواب ورکوئ په ښه تحيه سره او يا ردوئ په هغه قدر چې سلام والا درته ويلي وي يعني وعليكم السلام، په صحيح حديث کې راغلي دي چې يو صحابي ؓ راغلی و رسول الله ﷺ ته يې داسي تحيه وويل السلام عليكم، عليه الصلوة والسلام ورته وويل وعليكم السلام ورحمة الله (دا يو رد دی بالاحسن) بل سړی راغلی عليه الصلوة والسلام نه يې داسي تحيه پيش کړه السلام عليكم ورحمة الله، عليه الصلوة والسلام ورته وويل وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته (دا بل رد دی په احسن سره) درېيم سړی چې په دمخه دوه جواب کې د عليه الصلوة والسلام حاضر وُ ولاړ سو بيرته راغلی و عليه الصلوة والسلام ته يې داسي تحيه پيش کړه السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، عليه الصلوة والسلام ورته وويل وعليكم السلام (دا رد بالمثل دی) هغه درېيم سړي ورته، ويل نقصتني من حصتي زما حق دي راکم کړی؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل چې تا ماته شی پرې نه ښو چې زه يې درزيات کړم، نو ځکه مې رد بالمثل وکړی.

مسئله: سلام اچول سنت دی او جواب ورکول يې واجب دی.

مسئله: سلام اچول يا ردول سنت يا واجب کفايي دی مثلاً يو جماعت د خلکو راروان وُ نور خلک ناست وه يوه وويل السلام عليكم، د ګردو د سنت السلام اجراء وسول، او که په ناستو خلکو کې و عليكم السلام يوه ورته ووايه د واجب الرد مجرا ورکړه سوه.

سوال: څوک چې و چاته سلام ووايي جواب ورکونکی ورته ووايي وعليكم السلام، دا واو عاطفه پر کوم ځای عطف دی؟

ځواب: پر مقدر و المعنى علي وعليكم السلام، نو ځکه کافر چې و سړي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه منافقینو چي به علیه الصلوة والسلام ته ژوولی سلام دامي السام علیک (د سام معنا مرګ دی) په جواب کي به یې صرف علیکم وایي، له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د علیه الصلوة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه ای الاسلام خیر (یعني ای افعال الاسلام خیر) علیه الصلوة والسلام وفرمایل تطعم الطعام (یعني مهمان یا مسکین ته ډوډی ورکوه وتقرئ السلام علی من عرفت او لم تعرف متفق علیه. وعن ابي هریرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ للمؤمن علی المؤمن ست خصال (ای حقوق) (۱) یعوده اذا مرض (۲) ویشهده (ای جنازته) اذا مات (۳) ویجیبه (یعني قبلونه دده د عوت یعني د مېلمستیا دي کوي) اذا دعاه (۴) ویسلمه اذا لقیه (۵) ویشمته اذا عطس (او یرحمک الله دي ورته وایي چي هغه ونېږي) (۶) وینصح (خیرخواهي دې کوي د مسلمان اذا حاب او شهد) رواه النسائي وروی الترمذي والبزار نحوه، وعن ابي هریرة رضي الله عنه مرفوعًا یسلم الراکب علی الماشي والماشي علی القاعد والقلیل علی الکثیر ویسلم الصغیر (یعني کشر سړی) علی الکبیر (پر مشر سړي) متفق علیه الا ان الجزء الآخیر منه رواه البخاري فقط. وعن ابي امامة رضي الله عنه مرفوعًا اولی الناس من بدء بالسلام.

دروښ وایي: چي و مسائل السلام کثیرة.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ﴿۶۱﴾

داغسي خدای ﷻ بیانوي وتاسي ته آیات قرآنیه چي مشتمل پر احکامو د دین وي.

بوه سه: چي دا آیت درې واره مکرر راوړی دی لپاره د مزید تاکید او لپاره د تفخیم د احکام چي مختص وه په تفخیم پورې، په اول دوه واره کي هغه څه وویل چي مقتضی وه د تفخیم وهو علم الله وحکمته او دا اوس راوړه په مقصود سره ختم کړی فقال (لعلکم تعقلون) شاید تاسي به حق او خیر في الامور زده کړئ.

دروښ وایي: چي ابن اسحاق او البیهقي في الدلائل کي د عروة بن کعب القرضي رحمه الله روایت کړی دی چي قریش په کال د احزاب (پوه سه: چي پوره بیان د غزوة الاحزاب سره د مکمل تفسیره به په یوولسمه جزء سورة الاحزاب کي راسي ان شاء الله تعالی منتظر اوسئ) نو دوی وایول په مجمع الاسیال کي (چي د یوې شلې نوم دی) من رومة بئر بالمدینة چي مشري او قیادت ددوی د ابو سفیان پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غاړه ؤ، او د غطفان د قبیلې کافرانو په تقیین کې (چې د یو ځای نوم دی) الی جانب احد اوو علیه الصلوة والسلام ته ددې احزابو د راتلو خبر ورسېدی، نو امر د خندق یې وکړی. نژدې و مدینې ته او علیه الصلوة والسلام په خپل نفس نفیس سره په خندق کې کار کاوه او مسلمانانو هم کار کاوه په کولنګانو او بېلچو وغیرهاء او بعض کسانو د منافقانو ځانونه له کارو څخه د خندق د کیندلو وسپمول او ګاهې چې به حاضر سول په یو لږ ضعیف کار به یې عمل وکړی او بیر ته به په پټه ببعلم د رسول الله ﷺ خپلو کورو ته ولاړل او د علیه الصلوة والسلام څخه یې د تګ اجازه نه غوښتل او یو مسلمان که به یو ضروري حاجت چې لابد منه به ؤ د کور د تګ به ورپېښ سو، نو اجازه د کور تلو به یې ځندي وغوښتل او د بیرته د راتلو وعده به یې ورکړه او علیه الصلوة والسلام به اجازه ورکړه کما سیاتي في کل ذالک في سورة الاحزاب بالتفصیل التام، نو خدای ﷻ دا ورڅه آیتونه تر اخیره پورې د سورت نازل کړه.

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَىٰ أَمْرٍ جَامِعٍ

نه دي مؤمنان کامل الایمان مګر هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی وي پر خدای ﷻ او پر رسول د خدای ﷻ د صمیم القلب څخه او د محکمه عقیدې سره، یعني نه هغه کسان په خوله وایي آمنا ولم تؤمن قلوبهم وهم المنافقون، او چې وي د علیه الصلوة والسلام سره پر یو کار جامع (پوه سه! چې توصیف د امر په جامع سره مجاز دی للمبالغة، والمراد علی امر یقتضی ان یجمع الناس لذالک الامر کحفر الخندق فیما نحن فیه) ونحو ذالک کالجمعة والاعیاد.

لَّمْ يَذْهَبُوا حَتَّىٰ يَسْتَأْذِنُوهُ

دوی نه سره متفرق کېږي او نه چې د هغه کار څخه چې دوی پر غوښه سوي وه، تر هغه وخته چې اجازه به د رسول الله ﷺ څخه غواړي او علیه الصلوة والسلام به هم اجازه ورکوي.

پوه سه: چې ودې ته ضرورت نسته لکه چې بعض مفسرینو ویلي دي چې مراد د مؤمنینو څخه کامل مؤمنان دي لانه حکایة عن حال الموحدین من المؤمنین، ذالک الوقت ای وقت حفر الخندق وقد کانوا کلهم کاملین في الایمان وکان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شانهم ذالک ای لم یذهبوا الخ دون المنافقین کمامر عنقریب.

پوه سه: چې عدم التخلف د رسول الله ﷺ په مواضع د شدت دلیل واضح ؤ پر ایمان کامل ددوی، بیرته په وروسته آیت خدای ﷻ ددوی صدق ایمان پر وجه ابلغ راوګرځاوه وقال:

إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ

په تحقیق (یوه ابلغه وجه) هغه کسان چې ستا څخه اجازه غواړي (یعني لاجل ضرورة لابد منه) هم دغه کسان هغه دي چې ایمان یې پر خدای ﷻ او پر رسول د خدای ستې، اولئک آه دویم مبالغه په ایمان کې ددوی کما لایخفی علی مزاول کتب النحو والمعاني.

فَإِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ

نو چې دوی اجازه وغواړي ستا څخه لپاره د بعض ضروري کار چې دوی یې مجبوره کړي وه وتلو ته.

فائده: بعض چې وایي اشاره ودې ته ده چې په ټولو کارو کې که ضروري وي که معمولي کار وي دوی باید اجازه ستا څخه ونه غواړي، نو په دې سره یې دائره د انصراف پر مسلمانانو تنګه کړه (فاءذن آه) جواب د شرط دی نو ته اجازه ورکړه و هغه چا ته چې ستا خوښه وي.

پوه سه: چې اجازه ورکول یې مفوض کړه و مشیت ته د علیه الصلوة والسلام اشاره ودې ته ده چې امر دفاءذن لپاره د اباحت دی ولیس للوجوب یعني چې حتمًا به علیه الصلوة والسلام اجازه ورکوي، ولي که اجازه ورکول بعد الاستیذان واجب وای پر علیه الصلوة والسلام بطل فائدة الاستیذان لانه لایعجز احد من الاستیذان، وفیه دلیل علی ان بعض الاحکام کان مفوضًا الی رایه ﷺ وکذا الی رای الامام وخلیفة المؤمنین، وروسته تر علیه الصلوة والسلام.

وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ

او ته طلب د بخښني وکړه ددوی لپاره د خدای ﷻ څخه (یعني وروسته تر اذن فان الاستیذان ولو بعذر قصور منهم لان فیه تقدیم لامر الدنیا ولي چې استیذان خو د دنیاوي کارو لپاره دی او ثبات امر د دین دی پر هغه ده مقدم کړی فافهم) په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحقیق خدای ﷻ بخښونکی دی د تقصیراتو د مسلمانانو، او رحیم دی چې پر دوی اسانې جوړوي، وقال البغوي ؒ قال المفسرون في سبب نزول هذه الآية كان رسول الله ﷺ اذا صعد المنبر يوم الجمعة واراد احد ان يخرج من المسجد لحاجة او عذر لم يخرج حتى يخامخ به عليه الصلوة والسلام ته ودرېدی چې عليه الصلوة والسلام به هم ولیدی، نو عليه الصلوة والسلام به په دې پوه سو چې دا سړی اجازه د تلو غواړي، نو به يې اجازه ورکړه لمن شاء لكن اجازه به يې په اشاره د لاس ورکړه لابالقول، قال اهل العلم وكذالک كل امر اجتمع عليه المسلمون مع الامام لا يخالفونه ولا يرجعون عنه الا باذنه او چې دوی اجازه وغواړي بیا هم د امام خوښه ده که اجازه ورکوي او که نه.

مسئله: د اجازې غوښتل هلته غواړي چې د سړي پاتې والی په مسجد کې امکان نه لري يعني سخت مجبور وي چې نور نسي کښېنستلای په مسجد کې، مثلاً ښځه د جمعې د لمانځه لپاره راغلې وه حیض ورغلی، یا سړی په مسجد کې ناست ؤ داسې بولو ونیوی چې پر دې وېرېدی چې په مسجد کې به بولې راځخه توی سي، یا غائط غلبه پرو کړه الى غير ذالک من الاعذار فلا حاجة الى الاستيذان من الامام لان الله تعالى يعلم حاله فله اجازة الخروج من المسجد بامر تعالى.

لَا تَجْعَلُوا دُعَاءَ الرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا

قاسي مه ګرځوئ ايها المؤمنون بلنه د رسول الله (ﷺ) ویو کار ته که امر جامع وي او که غیر وي، لکه بلنه د بعض ستاسي تاسي لره ویو کار ته، يعني د بلنې او دعوت الرسول اجابت کوئ او امتثال د امر ددوی کوئ او مه ګرځوئ د رسول دعوت دعوت الرسول اجابت کوئ او امتثال د امر ددوی کوئ او مه ګرځوئ د رسول دعوت لکه د نورو خلګو دعوت، ولې د نورو خلګو په دعوت کې خو اعراض روا دی، او داغه رنګه سستي په اجابت کې د غیر هم روا ده او رجوع بېله اذنه هم روا ده، او مبادرت او اجابت د رسول ﷺ واجب دی او سستي ددې په اجابت حرامه ده او رجوع بېله اذنه ددې هم حرامه ده، نو پر دې تقدیر دا آیت لکه هغه آیت دی چې خدای ﷻ وایي: يا ايها الذين آمنوا استجيبوا لله وللرسول اذا دعاكم لما يحييكم.

فائده: پر دې تقدیر اضافت د دعاء و رسول ته اضافت دی د مصدر و فاعل ته او مفعول محذوف دی يعني الى اي امر كان، او مجاهد او قتاده ؒ وایي چې معنا د آیت دا ده چې تاسي مه ګرځوئ ناره و عليه الصلوة والسلام ته لکه ناره ستاسي بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

و بعض ته مثل يا زيد، يا عمرو الى غير ذالک، يعني په نامه ور ناري کوئ بلکي په الفاظو د تعظيم او احترام ناره ورته کوئ مثل يا رسول الله يا نبي الله يا حبيب الله الى غير ذالک، ابو نعيم ؒ په دلائل کي وايي د ضحاک ؒ څخه په روايت او هغه له ابن عباس ؓ څخه په روايت کان الناس يقولون يا محمد يا ابا القاسم، لکن هذا التاويل لايناسب ما سبق من حفر الخندق في غزوة الاحزاب، او تر هغه وروسته آيتو سره هم مناسب نه دی يعني الخروج باستيذان وبغير استيذان او بل په دې سبب دا تاويل ناسب نه دی چي دعا الرسول آه خدای پاک مشابه کړي وه کدعاء بعضکم بعضًا، په مشبه به کي خو دعاء مضاف ده وفاعل ته ولي چي وروسته مفعول به مذکور منصوب لري اعني بعضًا، نو په مشبه کي هم بايد اضافت د دعاء ورسول ته اضافت د مصدر و فاعل ته وي غايته انيکون المفعول محذوفًا کمامر، قال البغوي ؒ قال ابن عباس ؓ معنى الآية داده چي وبهرېئ له ښهرا څخه د عليه الصلوة والسلام که تاسي دی زهير کړئ او درد مو وروستی فان دعائه مستجاب موجب لسخط.

دروښ وايي: چي بخاري په خپل صحيح کتاب کي له عائشې ؓ څخه روايت کړی دی چي يهودان نبي عليه السلام ته راغله او داسي يې وويل السام عليک يعني رنګ يې د سلام ورکړی او په معنى کي مرګ دي وي پر تا. فقال ﷺ عليکم فقالت عائشة ؓ السام عليکم ولعنکم الله وغضب عليکم فقال رسول الله ﷺ مهلاً يا عائشة عليک بالرفق واياک والعنف (سختي) والفحش (بده وينا) قالت اولم تسمع ماقالوا؟ قال اولم تسمعي ماقلت لهم رددت عليهم فيستجاب لي فيهم ولا يستجاب لهم في. مظهري وايي چي پر دې تقدير بايد لفظ د آيت داسي وايي کدعاء بعضکم على بعض. ولي چي د لفظ د دعاء چي ښهرا مراد وي صلة يې على رائحي انتهى بحاصله، والجواب عنه ان حروف الجر تستعمل بعضها بمعنى بعض فيکون على التقدير المذکور کلمة د لام په معنى د على ده فافهم.

قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ يَتَسَلَّلُوْنَ مِنْكُمْ لِوَاذًا

په تفسير کواشي کي وايي چي قد دلته لپاره د قلت د متسللينو نه دی لانهم کانوا اقل من غيرهم، او روح البيان وايي چي کلمه د قد لپاره تخصيص ده که څه هم پر مضارع داخل دی بطريق الاستعارة. ولي راتلونکی وعيد پر تحقيق دلالت کوي آه. او د تسلل معنى وتل دی له منځ څخه تدريجًا وخفية يعني کرار کرار په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پته سره، والحاصل يعلم الله الذين يخرجون من الجماعة قليلاً قليلاً على خفية.

پوه سه: چې لواذ مصدر دی چې په يو شي سره ځان پټ کړي د بهري ددې چې ځوک يې ونه وينې كذا في الوسيط، په قاموس کې وايي چې اللوذ بالشئ الاستتار والاحتضان به (يعني ځان سائنه په هغه شي سره چې دی پټ کړي) مثلثة الفاء (يعني لام د لواذ مفتوح مضموم مكسور درې سره راغلی دی) او د نصب وجه يې داده چې حال من ضمير يتسللون ای ملاوزين.

پوه سه: چې لواذ يعني په پټه وتل عام دی که تسلل له صف څخه د جنګ د کفارو وي او که له مسجد څخه په ورځ د جمعې او که د نورو مجامع حقه وو څخه کحفر الخندق، علماء وايي چې پر منافقانو خطبه د عليه الصلوة والسلام په ورځ د جمعې ډېره درنه پرېوتل لكونهم كافرين بالقلوب، نو دوی به ځانونه پټول په بعض اصحابو سره چې د تجديد الوضوء لپاره به وتل او يا يو په بل به يې ځانونه پټول او له مسجد څخه به وتل، نو خدای عالم الغيب والشهادة دا وعيد ودوی ته ورکړی.

فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ

پس ودې ډېرېږي هغه کسان چې مخالفت له امر څخه کوي (ضمير يا راجع دی و خدای ﷻ ته لانه الامر حقيقة دی، او يا و رسول الله ﷺ ته لانه المقصود بالذكر)

أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾

چې دوی ته به ورسېږي يو غم په دنيا کې يا په مال کې يا په اولاد کې كالمرض والقتل والهلاک، او يا ورسېږي درد ناکه عذاب يعني في الآخرة، او په جلالين کې وايي ان تصيبهم فتنة بلية تظهر نفاقهم، او يصيبهم عذاب اليم ای عذاب عاجل في الدنيا انتهى.

أَلَا إِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

الا حرف تنبيه دی يعني خبردار خدای ﷻ لره دي هغه شيان چې په اسمانونو کې دي من الملائكة وغيرها او په مځكه کې دي من الانس والجن وغيرهم يعني خلقًا وملكًا وتصرفًا ايجادًا واعدامًا واعادة يوم القيامة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ ۗ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ

په تحقيق خداى ﷻ علم لري ايها المكلفون ستاسي پر احوالو او اوصافو چي له جملې څخه د هغه الموافقة او مخالفت دى او اخلاص او نفاق دى (ويوم يرجعون آه) عطف دى على ما انتم عليه، نو يوم مفعول به دى ظرف نه دى اى يعلم تحقيقًا هغه ورځ چي راجع كړه كېږي يعني المنافقين المخالفين لامر الله ورسوله و خداى پاک ته د عذاب او د جزاء بالنار في اسفل السافلين.

فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا ۗ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ﴿٦٤﴾

خداى به دوى خبر كړي په اعمالو ددوى (على رؤس الاشهاد واي خزي اخزى من اظهار اعمالهم النفاقية على جميع عظيم الآخرة) او خداى شمل علمه په هر شي خبر دى وان كان المنافقون چي كوشش يې كاوه په دنيا كي په ستر كي د اعمالو خپل عن عيون المؤمنين.

دروښ وايي: چي الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله وصحبه الكملة قد وفقني الله لتفسير سورة النور وقت الضحى يوم السبت (١٥) تخمينًا من شهر الشوال المكرم سنه (١۴٣٠) هـ ق، ارجوا من الله القادر المتعال ان يوفقني لتفسير بقية اجزاء و سور القرآن الكريم انه تعالى على كل شئ قدير وبالاجابة جدير.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ الْفُرْقَانِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ سَبْعٌ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَسَبْعُوْنَ اٰيَةً وَسِتُّ رُكُوْعَاتٍ

تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ۝

پوه سه: چې د تبارک معنی ډېر والی دی. نو مضاف ورسره محذوف دی، ای تبارک خیر الذي آه، تبارک مشتق دی له برکت څخه چې معنی یې کثرة الخیر دی.

فائده: تبارک یې پر نزول د قرآن مرتب کړی لکون الفرقان مما فیه من کثرة الخیر دینًا ودنیویًا، کما لایخفٰی.

سبحانه فائده: مولی قناري ؒ په تفسیر کې د فاتحة الکتاب داسې ویلي دي چې صاحب بن عباد (چې د عارف اللغة نوم دی) په دریْ الفاظو کې متردد ؤ (۱) الرقیم (۲) تبارک (۳) والمتاح.

دروښ وایي: چې په دې معنی نه چې د الرقیم لفظ چې په قرآن کې ذکر سوی دی یعني ان اصحاب الرقیم آه، په هغه نه پوهیدی چې سپی ځندي مراد دی، یاد تبارک په معنی، مراد په دې آیت کې او په تبارک الذي آه چې راغلی دی نه پوهیدی بلکې پوهیدی چې د تبارک چې هر ځای په قرآن کې راغلی دی معنی یې تکاثر خیر الذي ده. او د متاع په معنی في القرآن الکریم کې خو پوهیدی چې معنا یې یې ثبات سریع الزوال شئ ده، ولي لفظ متاع چې څو واره په قرآن مجید کې راغلی دی معنی یې په دغه کریمه: وما حیٰوة الدنیا الا متاع الغرور، لکن دی په دې کې متردد ؤ چې عرب قح او خالص عرب دغه الفاظ په کوم شي کې استعمالوي خیر په دې دوران پر ډېرو قریبو د اعرابو وګرځیدی لکن په مقتضٰی د دې محاورې: هرکه جوینده بود یابنده بود. یو ورځ یوې قریبې ته وارد سو. له بڼځې څخه یې واوربدل چې خپل کوچنې زوی ته یې وویل: این المتاع؟ ابن صغیر ورته وویل جاء الرقیم واخذ المتاع وتبارک الجبل. دی ډېر خوشاله سو چې دریْ لفظه یې یو ځای واوربدل.. جامي ؒ وایي:

چه خوش باشد که بعد از انتظاری ..... باامید رسد امیدواری

نو د بڼځې څخه یې پوښتنه وکړه چې تا او ابن صغیر څه وویل او څه مو مراد ؤ هغې ورته وویل چې ما د ابن صغیر څخه پوښتنه وکړه این المتاع یعني خمیره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چېرې ده (یعنې چې ښځې یې په اوبو لنده کړې نور اوړه په اغږې) کوچنې راته وویل چې سپی راغلی خمیره یې واخستل غره ته پورته سو، نو ماته معلومه سوه چې متاع شی حقیر ته وایي، او رقیم سپي ته وایي او تبارک په معنی د صعد دی انتهی په پښتو ژباړه.

او په برهان القران کې (چې د یو کتاب نوم دی) وایي چې تبارک یو داسې لفظ دی چې بېله خدایه په بل چا کې نه مستعملېږي وخص بهذا الموضع لان مابعده امر عظیم، وهو القرآن المشتمل علی جمیع معاني کتب الله او ددې لفظ یعنې تبارک مضارع د استعمال په میدان کې نه ده وارده انتهی.

فائده: فرقان مصدر دی په معنی د جلا والي د دوو شیانو سمي به القرآن مبالغة لغایة فرقه بین الحق والباطل والمؤمن والکافر.

(علی عبده) مراد له عبد څخه بنده اخلص ونبیه الاخص وحبیبه الاعلی وصفیه الاولی محمد المصطفی ﷺ دی.

پوه سه: چې په دې اضافت کې تشریف دی د علیه الصلوة والسلام په دې معنی چې عبد مطلق یعنې من کل الوجوه دی دی. او تفضیل دده دی پر ټولو انبیاؤ فانه تعالی لم یسم احدًا منهم بالعبد المطلق وفیه رد علی النصاری حیث یقولون عیسی هو الله او ابن الله بان الرسول لایکون الا عبدًا للمرسل ولهذا قدم في التشهد عبده ورسوله (لیکون للعالمین نذیرًا) چې وګرځي دا عبد لپاره د عالمیانو ببرونکی له عذاب څخه د خدای ﷻ په فرقان منزل سره د انس او جان که دده د زمانې وي او که وروسته راځي الی یوم القیامة فالنذیر بمعنی المنذر.

سوال: نذیر فعیل له بابه د مجرد او منذر خو صیغه اسم فاعل له باب څخه د افعال ای الانذار، نو څرنګه فعیل په معنی د مفعل کېدای سي؟

ځواب: قاضي بیضاوي ؒ وایي چې فعیل په معنی د مفعل په کلام کې د عربو راغلی دی او دا بیت یې شاهد ګرځولی دی:

امن ریحانة الداعي السمیع ..... یورقني و اصحابي هجوع

ریحانه د شاعر خور وه چې خلکو په اغواء ځندي بهولې وه او شاعر سره د څو کسانو په طلب کې د هغې راوتلي وه، نور ملګري دده د شپې په خوا به خوب بیده وه او شاعر ته خوب نه ورتلی د خورد سودا له جهته، نو یې دا بیت ووایه چې معنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې داده پر طریقه د تجاهل د عارف. آیا د ربحانه له خوا یو بلونکی چې په ما خبري اوري (دا د سمیع ـ یې فعیل دی چې په معنی د مفعل یعنې مسمع راغلی دی، یورتنې چې زه بیا اړه کړی یم او خوب نه راځي او حال دادی چې زما ملګري مجوع یعنې بیده دي)

پوه سه: چې انذار اخبار دی و پاسه چې تخویف ورسره ملګری وي، لکه تبشیر چې اخبار دی چې خوشالي پکښې وي.

سوال: رسول الله ﷺ خو بشیر او نذیر دواړه ؤ، نو بشیریې د څه حکمت لپاره نه راوړی؟

ځواب: انذار چې په کافرانو کې تاثیر ونه کړي، نو تبشیر خو یې په طریق اولی نه کوي لان الانسان مجبول علی ان یقدم دفع الضرر عن جلب المنافع، او بل ځواب دادی چې په اولین دعوت کې د رسول الله ﷺ اهل البشارة نه وه. ټوله اهل مکه مشرکان وه.

فائده: راغب اصفهاني وایي چې عالم نوم دی د فلک او چې فلک احاطه پر وکړي من الجواهر والاعراض.

سوال: عالم چې په مفرد لفظ ټولو ته شامل دی، نو جمع یې څرنګه صحیح ده لانه یقتضی تعدد الافراد؟

ځواب: د عالم اطلاق پر هره نوعه روادی لکه عالم الانس عالم الجن عالم الماء وعالم النار الی غیر ذالک. فالجمعیة باعتبار الانواع.

پوښتنه: جمع په واو او نون یا ، یاء اه نون سره چې جمع سلامت یې بولي، دا خو مخصوص په عقلاؤ سره ده او سره ددې چې اکثر انواع د عالم خو غیر ذوی العقول دي. لکه حیوانات، نباتات و جمادات؟

ځواب: ابن الشیخ رح وای چې جمع سلامت یې په دې راوړه چې مقصود استغراق د ټولو افراد و د عقلاؤ دی من نوع لانس والجن لا جمیع افراد عالم.

سوال: ملائکه خو هم ذوی والعقول دی، او له افراد و څخه د عالم دي؟

ځواب: هو! لکن له خارج څخه دا معلومه ده چې رسول ﷺ مبعوث و ملکوته نه ؤ، فلم یبق من افراد ذوی العقول الا الجن والانس فهو رسول الیهما جمیعًا انتهی. او بعض علماء په توجیه کې د جمع سلامت داسي وایي چې انسان چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نور مخلوق سره یو ځای وي ده ته تغلیب ورکول کېږي پر نورو انتهی.

سوال: تاسي دمخه وویل چې ملائکه له رسالت څخه د علیه الصلوة والسلام خارج دي او په حدیث صحیح کې راغلي دي: ارسلت الی الخلق کافة؟

ځواب: دا عام مخصوص البعض دی کما قیل ما من عام الا یخص بعض افراده منه.

فائده: یو نبي د انبیاؤ ؑ نه دی استول سوی مګر خپل قوم ته ماسوی د رسول الله ﷺ څخه.

سوال: د نوح علیه السلام رسالت خو هم عام ؤ ټولو انسانانو ته، ځکه په طوفان نوح ؑ ټوله خلک له منځه ولاړه، ماسوی د کښتي د سپرو انسانانو، او یوه ښځه او نر د حیواناتو کمامر؟

ځواب: د نوح ؑ رسالت که څه هم موجود ینو ته دده د زمانې عام ؤ لکن د وروسته راتلونکو نسلو لپاره نه ؤ عام بخلاف رسالة النبي ﷺ فانها باقیة الی یوم القیامة.

تنبیه: امام مظهري له عموم څخه د رسالت د نوح ؑ منکر دی، استدلالاً بقول نوح ؑ کما جاء في القرآن یاقوم، او مظهري له دې څخه هم منکر دی چې په طوفان نوح دي ټوله دنیا غرقه سوې وي وهو في ذالک مخالف لجمیع المفسرین ؒ.

سوال: د سلیمان علیه السلام خو هم انس او جن تر تصرف لاندي وه، نو دده رسالت عام نه دی او که څرنګه؟

ځواب: سلیمان ؑ و جن ته لپاره د دعوت و ایمان ته نه ؤ مبعوث بلکې جن یې مسخر وه د خدای ﷻ په حکم ولا یلزم من التسخیر العام عموم الدعوة.

الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا

(الذي) خبر د مبتداء محذوف دی ای هو الذي (له) لام لپاره د اختصاص دی ای خاصة له دون غیره لا استقلالاً ولا اشتراکا (ملک السمٰوات والارض) کاشفي وایي بادشاهي اسمانها را وزمینها چه وی منفرد است بآفرید آنها پس اورا رسد تصرف در آنها واینست معنای ملک (ولم یتخذ ولدًا) دا رد دی پر نصارٰی ؤ باندي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه: الله عزوجل هغه ذات دی چې خاص دده لپاره دی ملکیت د اسمانونو او مځکې او خدای جل جلاله نه دی اخستی د ځان لپاره ولد که نرویي لکه نصاری چې وایي چې عیسی ابن الله یا یهود وایي عزیر ابن الله، یا بښځه اولاد لکه بعض مشرکین چې وایي الملائکة بنات الله لانه حي لایموت، او ولد هغه چا لره وي چې دده وارث وګرځي وروسته تر مرګ دده.

فائده: ولد په معنی د مولود دی، واحد او جمع، صغیر او کبیر، ذکر او انثی ټولو ته شامل دی، وروسته آیت رد دی پر مشرکینو د مکې.

وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ۝

او نسته خدای جل جلاله لره شریک په ملک السمٰوات والارض کې تاچې دده منازعت یا ومعاونت وکړي په دې مملکت کې، قال المولوي المعنوي في المثنوي:

واحد اندر ملک اورا یارنی ..... بنده گانش را جز او سالارنی
نیست خلقش را دگر کس مالکی ..... سرکش دعوی کند جز هالکی

(وخلق کل شیئ) او پیدا کړی دی خدای جل جلاله هر شی (د ټولو موجوداتو چې حادث دي یعني له مواد مخصوصهؤ ځخه پر صورو معینهؤ مختلفة الآثار والاحوال) نو خدای جل جلاله اندازه کړی او آراسته کړی دی هر شی د خواصو لائقهؤ په هغه شي پوري، د مثال په توګه انسان خدای جل جلاله پیدا کړی دی دده سره د مناسب شیانو لپاره کالادراک والفهم والتدبر في امور المعاش والمعاد واستنباط الصنائع رنګارنګ لکه موږ چې د انسانانو د پوهني قسم قسم مخترعات او کمالات دنیاویه او علوم اخرویه ددوی، وعلی هذا فقس احوال سائر مخلوقاته عزوجل.

وَاتَّخَذُوا مِن دُونِهِ آلِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْئًا

او ګرځولي دي مشرکانو د ځانو لپاره (من دونه: حال دی والمعنی حالکونهم متجاوزین عبادت الذي خلق هذه الاشیاء. آلهة: جمع د اله ده یعني معبودات چې بتان دي) چې هغه خدایان ددوی قادر نه دي پر خلق د یو شي له اشیاؤ ځخه اصلاً لکونها جمادات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: ضمیر د یخلقون خو د عقلاؤ لپاره دی، نو بتانو ته څرنګه راجع سو؟

ځواب: مشرکانو خپل بتانو ته د عقلاؤ درجه ورکول، نو ځکه ای ﷻ ددوی پر زعم خطاب ورسره وکړی، کذا في تفسیر ابی اللیث السمرقندي رح.

وَّهُمْ يُخْلَقُوْنَ وَلَا يَمْلِكُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا

دوی لکه نور مخلوقات د خدای ﷻ پیدا دي (لان الکفار یصنعونها من حجر او نحاس او فضة او ذهب وامثالها وکل هذه الاشیاء مخلوقة لله ﷻ) او ددوی یعني الاصنام په طاقت نه ده پوره ضرًا بحذف المضاف ای دفع ضر مثلاً څوک دي دوي مالتوي.

پوه سه: چې دفع الضر یې تر نفع دمخه کړی لان الاول اهم من الثاني (ولا نفعًا) بحذف المضاف ای جلب نفع، نو څرنګه به له عابدینو څخه ددوی دفع د ضرر وکړي یا په هغو ته جلب د نفع وکړي، نو دا معبودان ددوی تر حیواناتو لابې وسه او بې قدرته دي، ولي حیوانات في الجملة دفع د ضرر له ځانه څخه کولای سي، خر په لغتو دفع د ځان کولای سي او سپی په غابنو او منګلو دفع د ضرر له خانه څخه کولای سي الی غیر ذالک، او جلب د نفع هم کولای سي خر چې یو ځای وانبه وویني په مزه مزه یې خوري او سپی چې یو ځای غوړ هډوکی پیدا کړی په غابنو او په ژبه یې خوري وهکذا سائر الحیوانات.

وَلَا يَمْلِكُوْنَ مَوْتًا وَّلَا حَيٰوةً وَّلَا نُشُوْرًا ۝

یعني ددوی له قدرته نه ده پوره وژل د ژوندي ذی روح، او نه ژوندي کول د مړو شیانو لکه نطفه د حیواناتو په دنیا کې او نه بعث بعد الموت، نو شی چې دغسې عاجزه وي هغه په معبودیت نه ارزي عقلاً، ولي چې په دوی یعني بتانو کې لوازم د الوهیت نسته بلکې اضداد د الوهیت پکښې دي، ددې معنی داده چې معبود بالحق به قادر وي پر اماتة او احیاء مرة في الدنیا ومرة في القیامة.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اِفْكُ ِۨافْتَرٰىهُ وَاَعَانَهٗ عَلَيْهِ قَوْمٌ اٰخَرُوْنَ ۚ

او وایي هغه کسان چې کافران دي (لکه نضر بن الحارث، عبید الله بن امیة، نوفل بن خویلد وامثالهم واتباعهم من مشرکي مکة) نه دی قرآن چې محمد (ﷺ) یې نازل من الله برلي (کلمه دان نافیه ده) مګر نه دروغ (یعني مصروف من الحق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی الباطل لان الصرف عن الحق معتبر في مفهوم الافک لغةً) چې جوړ کړی دی محمد (ﷺ) له خانه، او کومک کړی دی دده سره پر جوړلو د قرآن نور قوم، کفارو د قریشو به ویل چې یهودان د مدینې وه ده ته اخبار د تېر سو امتورا استوي او دی یې په عربي ژبه خپروي او وایي چې زه رسول یم ماته وحي من عند الله راځي.

فائده: فرق په منځ کې د افتراء او د کذب دا دی چې افتراء په قصد درواغ من قول نفسه ته وایي او کذب عام دی، ولي چې ګاهي سړی درواغ وایي تقلیداً لغیره کذا في الاسئلة المفحمة.

فَقَدْ جَآءُو ظُلْمًا وَّزُوْرًا ۚ

دوی راتګ وکړی په دې قول کې خپل یا یې په دې فعل، مآل د دواړو تفسیرو یو دی، ولي چې جاء او اتی دواړه په معنی د فعل مستعملېږي (ظلمًا) تنوین لپاره د تعظیم دی ای ظلمًا عظیمًا چې کلام الله چې له اتیان څخه د مثل یې خلګ عاجز دي دوی مختلق د یهودو له خوا څخه وباله (وزورًا) ای کذبًا کبیرًا ولي چې دوی نسبت د داسي شي و علیه الصلوة والسلام ته وکړی چې دی له هغه څخه پاک دی یعنی الکذب علی الله.

وَقَالُوْٓا اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ اكْتَتَبَهَا فَهِيَ تُمْلٰى عَلَيْهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا ۝

او دوی به ویل په یاد کې د قرآن چې دا د اولینو خلګو قصې دي.

پوه سه: چې اساطیر جمع د اسطورة ده چې و منقول درواغو ته وایي یعني دا قصې چې محمد (ﷺ) یې مونږ ته کوي دا د پخوانیو خلګو خرافات دي لکه قصه د رستم او اسفندیار، بالفارسیة افسانهای اولیانست که در کتابها نوشته اند.

پوه سه: چې معنی د کتابت دا نه ده چې علیه الصلوة والسلام لیکلي دي، ولي چې علیه الصلوة والسلام خو کاتب نه وۀ او مشرکون په دې خبر وه بلکې معنی یې داده امر ان تکتب له یعني بل یې امر کړی دی چې ته یې ماته را نوشته کړه، ددې مثال دا دی چې عرب وایي (اقتصد فلان) فلاني رګ ووا هه. نو سړی خو په خپله خپل رګ نه خلاصوي بلکې معنی یې داده چې امر غیره په رګ وهلو سره (فهي تملی) نو دغه اساطیر القاء کېږي یعني تلاوت یې کېږي (علیه) ای علی محمد ﷺ تا چې دی یې د هغو له خولو څخه په یاد کړي لکونه علیه الصلوة والسلام امیًا (بکرة واصیلا) په اول او په اخیر کې د ورځې، والمراد الدوام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ اَنْزَلَهُ الَّذِیْ یَعْلَمُ السِّرَّ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اِنَّهٗ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِیْمًا ۝

وواید یا محمد (ﷺ) په رد کي د قول ددوی او په بیان کي د حق و دوی ته) چي نازل کړی دی دا قرآن هغه چا چي په سر او غیبت خبر دی په اسمانو کي او په مځکه کي، په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی او مهربان دی.

پوه سه: چي مراد له غیب څخه غیب من الله نه دی بلکي مراد د غیب عن الناس دی. نو چي دا قرآن داسي چا نازل کړی دی، نو تاسي یې ولي اساطیر الاولین بولئ او که چېري دا خبره رښتیا وي چي زه یې له ځان څخه جوړوم، نو تاسي په مثل د قرآن بلکي په مثل د لسو سورتنو د قرآن بلکي په مثل د یوه سورت د قرآن راتګ وکړئ.

پوه سه: چي لفظ د کان که څه هم ماضي ده لکن دلته ځندي مراد استمرار دی یعني خدای ﷻ غفور او رحیم ؤ او دی او وي به غفور رحیم، والمعنی انه تعالی غفور رحیم ازلاً وابداً، نو هم دا سبب دی چي ستاسي په تعذیب کي تعجیل نه کوي پر ما تقولون في کلامه تعالی من انه اساطیر الاولین مع کونه تعالی قادراً علی تعذیبکم او سره ددې چي تاسي مستحق د عذاب هم یاست په دې آیت کي اشاره ودې ته هم ده چي دغه کسان چي قرآن عزیز ته یې د کذب او اساطیر الاولین نسبت کاوه که د خپل کفره توبه وکاږي او ایمان پر خدای ﷻ بالتوحید او پر قرآن بکونه کلام الله تعالی وبکون محمد رسول الله ﷺ، خدای ﷻ به مغفرت د ماضي کفر څخه ورته وکړي او رحم به پر وکړي، قال الله تعالی (واني لغفار لمن تاب) گفته اند در توبه باز ست و حق تعالی دستگیر.

وَقَالُوْا مَالِ هٰذَا الرَّسُوْلِ یَاْكُلُ الطَّعَامَ وَیَمْشِیْ فِی الْاَسْوَاقِ ؕ

وویل مشرکانو چي اشراف د قریشو وه لکه ابو جهل، عتبة بن ربیعة، امیة بن خلف، عاص بن وائل و امثالهم چي دوی اجتماع کړې وه د کعبې مبارکې سره، څه سبب دی دغه رسول لره یعني چي دی ځان رسول بولي.

پوه سه: چي ما استفهامي دی لپاره د انکار د وقوع یعني که دی رسول وای دا آئینده کار ونه باید دده کولای، او کلمه د ما مرفوع ده لکونه مبتدا، وخبرها قوله (هذا الرسول)

پوه سه: چي کلمه د ل جلا نوشته ده په مصاحفو کي که څه هم باید په وصل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوشته سوې وای لکن اتباع د مصحف سنت ده. او لفظ د هذا لپاره د تحقیر د شان د علیه الصلوة والسلام دی. ولي چې علیه الصلوة والسلام په دغه مجلس کې د دوی حاضر نه وُ. نو باید دوی ذالک ویلی وای، په کتابو کې د علم معاني وایي چې کاهي اشاره و قریب شي ته په اسم اشاره د بعید و کړل سي تعظیمًا لشان ذالک القریب مثل قوله تعالی: ذالک الکتاب لاریب فیه. او کاهي اشاره په اسم اشاره د قریب و غائب بعید ته و کړل سي لپاره د تحقیر کما في ههنا عند هؤلاء الظلمة. او اطلاق د رسول پر علیه الصلوة والسلام لپاره د استهزاء دی.

(یاءکل الطعام) چې ډوډۍ خوري لکه موږ چې یې خورو یعني غذاء ته محتاجه دی (ویمشي في الاسواق) او ګرځي په بازارو کې لپاره د طلب د معاش لکه موږ چې ګرځو. نو دی پر موږ څه فضیلت لري. حاصل د کلام د دوی دا دی چې رسول باید پر صفت د بشر نه وي. نو که ده دعوٰی صحیح وي. نو باید حال دده زموږ له حال څخه مخالف وای. حسین کاشفي وایي: ندانستند که نبوت منافی بشریت نیست بلکه مقتضٰی آنست تا تناسب و تجانس که سبب افاده و استفاده بحصول پیوندد انتهی.

لَوْلَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مَلَكٌ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ۝

(لولاء) حرف تخصیص دی په معنٰی د هلاّ دی په فارسي وایي چرا، په پښتو وایي ولي (لولاء انزل الیه ملک) ولي نه نازل کړه کېده ده ته ملک یعني پر صورت اصلي د ملکي چې جلا د صورت د بشر وای. نو به وای هغه ملک دده سره یعني د علیه الصلوة والسلام ببرونکی له عذاب څخه د ورځي د قیامت.

فائده: یکون منصوب دی. ولي چې جواب د لولاء دی.

أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ

او یا نازل سوې وای د اسمان له خوا څخه ده ته یوه خزانه. او یلقی آه عطف دی پر انزل باندې. نو دی مستغني د یمشي في الاسواق څخه لپاره د تحصیل د موادو او تزاقیه وُ.

بوه سه: چې کنز مال منکوز ته وایي ای المجموع المحفوظ لوقت الحاجة (او یکون له جنة یاءکل منها) او یا که ملک نه وای نازل سوی او نه له اسمانه خزانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني ګنج نه وای فلا اقل باید یو باغ د انګورو یا د خورما خو به یې درلودای چې ده خورک ځندي کولای لکه اهل غنی او اهل د قریو چې یې لري.

وَقَالَ الظّٰلِمُوْنَ اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا رَجُلًا مَّسْحُوْرًا ۝

او ویل به ظالمانو.

فائده: مراد له ظالمانو څخه هغه اول قائلان دي.

سوال: نو چې هغه مراد دي نو خو بې ضمیر ورته راجع کړی وای یعني وقالوا نو د اسم ظاهر په راوړلو کې څه حکمت دی؟

ځواب: حکمت یې تصریح او حکم په ظلم سره د دوی دی عن تجاوزهم عن الحد في الفی والضلال (ان تتبعون) تاسي متابعت یعني که چېرې تاسي متابعت هم وکړئ نه کوئ (الا رجلاً مسحوراً) مګر نه د یوه سړي چې په ده چا سحر او جادو کړی دی، نو دماغ یې ورخراب کړی دی. نو ځکه خلاف د مذهب د آباؤ او اجداد چې شرک دی خبري کوي چې توحید د معبود دی.

اُنْظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوْا لَكَ الْاَمْثَالَ فَضَلُّوْا فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ سَبِيْلًا ۝

وګوره ته یا محمد (ﷺ) څرنګه بیانوي دوی ستا لپاره امثال یعني احوال او نومان چې له عقل څخه د هر لیري لېري دي او ستا له حال څخه د هر لېري لېري دي، ولي چې دوی به ته قبل د دعوی النبوة امین مکه بللې اوس دي ګاهي شاعر بولي. ګاهي دي ساحر بولي، ګاهي دي مسحور بولي. ګاهي دي مفتر بولي او ګاهي دي فقیر بولي الی غیر ذالک، نو دوی ګمراهان سوه له حق څخه په ضلال، نو دوی طاقت نه لري د لاري بحذف المضاف ای سلوک سبیل الی الهدی او مخرجًا عن الضلالة نو په دغو اعتراضو د دوی پر رسول الله ﷺ دوی هغه استعداد فطري د لاسه ورکړی.

تَبٰرَكَ الَّذِيْٓ اِنْ شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّنْ ذٰلِكَ

ای تکاثر خیر الذي بحذف المضاف کمامر، که د خدای ﷻ اراده وسي دربه کړي وتاته بنه شی د دغو شیانو چې کافرانو تاته ویل یعني او یلقی الیه کنز او یکون له جنة.

پوه سه: چې مراد دادی چې په دنیا کې به یې درک درمعلوم سوی وای ان شاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لانه تعالى شاء ذالک له في الآخرة، لكن خداى ﷻ هغه خير څنډ ولى دى تر آخرت لان نعيم الآخرة خير وابقى حيث خاطبه ﷺ (لو لاک لما خلقت الكائنات) كذا في برهان القرآن چې يو زيبا تفسير دى.

دروېش وايي: چې بعض تور مخي كتاب فروشان او سلفيان او نورې ورته دلي دا حديث موضوعي بولي.

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۙ وَیَجْعَلْ لَّكَ قُصُوْرًا ﴿۱۰﴾

(جنات تجري من تحت الانهار) بدل دى له خيراً څخه او محقق او مثبت د خير والي يې دى مماقالوا) هغه خير جنتونه دي يعني باغونه د قسم قسم مېوو چې بهېرې لاندې تر درختو د هغو څلور ويالې اوبه، شيدې، عسل او شراب (ويجعل لک قصوراً) عطف دى پر جعل لک. او د ركې يې به يې واى تاته بنګلې، كوټيانې يعني په دې دنيا كې، فارسي: كوشكهاى عالى ومسكنهاى رفيع.

دروېش وايي: كه در اسباب نزول مذكور است كه چون مالداران قريش حضرت رسالت بفقر وفاقه سرزنش كردند رضوان كه نماينده روضات جنات است با اين آيت نازل شد و درجى (يعني صندوق) از نور پيش آنحضرت نهاد و فرمود كه فروردگار تو ميفرمايد كه مفاتح دنيا در اين درج است آنرا بدست تصرف تو ميدهم، بى آنكه از كرامت ونعمتى كه نامزد تو كرده ايم در آخرت مقدار پر پشه كم گردد. حضرت ﷺ كه اى رضوان مرا باينها حاجت نيست فقر را دوست تر دارم وميخواهم كه بنده شكور وصبور باشم، رضوان گفت اصبت اصابک الله بک نشانه علو همت آنحضرت همانست كه باوجود تنگدستى واحتياج گوشه چشم التفات بر خزائن روى زمين نيفگند، وهمچنان در شب معراج نظر بما سوى الله نكشوده كه در اين آيت ذكر شده (ما زاغ البصر وما طغى).

بَلْ كَذَّبُوْا بِالسَّاعَةِ ۫ وَاَعْتَدْنَا لِمَنْ كَذَّبَ بِالسَّاعَةِ سَعِیْرًا ﴿۱۱﴾

بلكه كفار مكه تكذيب په قيامت. حشر او نشر كوي، او مونږ اراسته كړى دى د هغه چا لپاره چې تكذيب د ساعت كوي سعيراً يعني عظيم اور شديد الاشتعال.

پوښتنه: د قيامت ورځې ته ولې ساعت وايي؟

ځواب: تشبيهًا لها بالساعة لسرعة حسابه، كريمه: وهو اسرع الحاسبين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کریمه: کانهم یوم یرونها کم یلبثوا الا ساعة.

إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾

چې وویني دا سعیر دا کافران د لېرې ځایه څخه یعني چې نهایت لېرې وي. دوی به واوري د سعیر له خوا اواز د شدید غضبان سړي چې ځیګر یې له جوشه د غضب او غصې ډک وي (وزفیرا) زفیر هغه اواز دی چې د سړي له نسه راپورته کېږي.

درویش وایي: چې یوه مهمه پوښتنه خلګ کوي چې دوزخ خو اور دی. نه ستر ګې لري. نو څرنګه وویل سوه چې سعیر وویني دا کافران د لېرې ځای څخه لکه د مشرقه څخه تر مغربه پورې. او نه عقل لري چې کفار یې وپېژني. نه ژوند لري چې د غصې او د غضبه کافرانو ته څګر او نس ډکی سي؟

خواب: روح البیان او نور تفاسیر هم وایي چې د اهل السنة مذهب دا دی چې بنیة یعني جسم او کوم خاص صورت لکه د انسان شرط د حیلوة او د عقل او د رؤیت او د خبرو شرط نه دی، نو عین ممکنه ده چې سعیر او دوزخ پر د غه خپل چې دی خدای ﷻ په ده کې حیات او عقل او رؤیت او خبري پیدا کړي وما هو علی الله بعزیز لایعجزه شئ.

درویش وایي: چې ددې مذهب د اهل السنة ډېر احادیث مبارکه کوي، صحیح حدیث دی چې علیه الصلوة والسلام وویل چې زه هغه ډبره پېژنم چې زه به غار حراء ته تلم دې به ویل السلام علیک یا رسول الله، او له ابن مسعود ؓ څخه صحیح روایت دی چې موږ په کاسه کې بنورو او غیره خوړل تسبیح د کاسې وغیره به مو اورېدلې یعني سبحان الله، او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې ابو جهل یوه ورځ څو دانې شیګې په موټه کې ټینګې نیولې وې، و علیه الصلوة والسلام ته یې وویل که دې دا زما په لاس کې شی راوښووی پر تا ایمان راوړم، علیه الصلوة والسلام ورته وویل چې بنوونه خو یې آسان کار دی که دا ستا د لاش شی کلمه د توحید وویل ته ایمان راوړې، ابو جهل ورته وویل چې دا خبره به اعجب وي، نو سنګر پزو په لاس کې د ابو جهل چې ده هم واوېده داسي وویل: لا اله الا الله محمد رسول الله، ابو جهل فرعون هذه الامة هغه شیګې وغورځولې او علیه الصلوة والسلام ته یې وویل چې پر دې شیګو دي هم سحر وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې په عربو کې دا دستور ؤ، په حيلوة کې د رسول الله ﷺ يعنې په مسلمانانو کې د مدينې منورې، چې کوچنی به يې پيدا سو تر هغو يې هيڅ شی د خوراک نه ورکاوه يوه يا دوې دانې خورما وې به يې راواخستلې کوچنی به يې راوستی و عليه الصلوة والسلام ته، نو عليه الصلوة والسلام به خورما په خوله کې وژوول او نارې به يې کوچني ته په خوله کې ورکړې، نو اول شی چې به د کوچني نس ته ورغلی، د عليه الصلوة والسلام نارې به وې، وروسته به يې د مور شيدې وغيره ورکولې، دې کار ته يې په عربي کې تحنيک وايه، يوه ورځ يوه صحابي خپل طفل ابن اليوم د تحنيک لپاره و عليه الصلوة والسلام ته راوستيؤ، ده مبارک د مخه تر تحنيک و طفل ته وويل من ابوک؟ پلار دې څوک دی، طفل د خپل پلار نوم واخستی، وروسته عليه الصلوة والبسلام ورته وويل من انا؟ زه څوک يم؟ طفل ورته وويل انت رسول الله ﷺ.

دروښ وايي: چې دا حديث تائيد د مذهب د اهل السنة والجماعة کوي کما لايخفی، او نور دلائل ددې مذهب هم ډير دي وفيما ذکرناه کفاية لمن يعلم قدرة الله ﷻ او هغه څوک چې بې عقلي شيانو شی نه منې او د عقل غلام وي هغه پوه سو کار يې پوه سو.

دروښ وايي: چې ددې مقام او تاءويلاتو ضرورت نسته لکه چې مريان د عقل يې کوي، ولې چې تاسي واورېدی مذهب د اهل السنة والجماعة چې د ظاهره سره د دغو آياتو موافق دی کما حرره هذا العبد الضعيف آنفًا فاي ضرورة الى التاويل لانهم قالوا التاويل كالميتة اذا اضطرت اليها يجوز لک اكلها واذا استغنيت عنها فهي باقية على حرمة اكلها فعليک بالتاويل الدقيق في هذه الآيات ولاتكن من الغافلين، والمؤلين لايات الكتاب بلا ضرورة ... مصرع:

دا باران چې پر همه ؤ مخکو اوري .... مشرف کړی ذات د کيميا ولي

وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾

او هغه وخت چې واچول سي.

فائده: ضمير د منها راجع دی و سعير ته چې مؤنث سماعي ؤ، او مكانًا منصوب په نزع د خافض دی اى في مكان و لفظ منها بيان تقدم فصار حالاً كما في كتب النحو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(ضيقًا) صفت دی د مکان، والمعنی هسي ځای چي تنګ وي تاچي عذاب د سعیر په دې تنګی سره دوه چنده وګرځي، (مقرنین) ای حالکونهم چي جوت سوي وي لاسونه ددوی د غاړو سره په ځنځیر سره او یا معنی داده چي دوی به د شیطانانو سره ترل سوي په ځنځیرانو (دعوا هنالک) دوی خواست او ښېرا کوي پر خپلو ځانو باندې په دغه مکان ضیق کي د سعیر (ثبورًا) د هلاک یعني خدای ﷻ دي موږ مړه کړي چي له دې عذابه خلاص سو، قال الکاشفي ؒ واین کلمه (یاکلمه ویل) کسی گوید که آرزو مند هلاک باشد از جهت سختی زندگی، د عربو د قانون سره برابر په وخت کي د تنګی او بد حالی دوی داسي وایي: یاثبوراه، یا ویلاه، یا هلاکاه، دا ندا مجاز دی یعني مرګه چېري یې راځه چي وخت دي دی.

فائده: په حدیث شریف کي راغلي دي چي اول تر ټولو چي کالي د اور به په اغوستل کېږي ابلیس دی او دده اولاد به وروسته په پسې وي، ابلیس دا ناري وهي واثبوراه ذریه یې دا ناري وهي واثبورهم حتی چي د سعیر د کندې پر غاړه ودرول سي، ابلیس وایي واثبوراه او ذریه یې وایي واثبوراهم، نو خدای ﷻ په ژبه د ملکو لپاره د تنبیه پردې چي تاسي ته به هلاک نه وي خالدین في النار یاست.

لَا تَدْعُوا الْيَوْمَ ثُبُورًا وَّاحِدًا وَّادْعُوا ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿۱۴﴾

تاسي خواست مه کوئ ننه ورځ د قیامت ده پریږده ثبور اکتفاء مه کوئ، او تاسي خواست د ډېرو وارو د ثبور وکړئ.

پوه سه: چي مراد کثرة في نفسه نه دی، ولي چي ثبور خو في ذاته یو دی بلکې مراد تکرار او عدد دی، ولي چي ستاسي عذاب له جهته ځخه د غایت شدت او د طول د مدې تر ابد پورې مستوجب دی لتکریر الدعاء في کل آن.

قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ الْخُلْدِ الَّتِي وُعِدَ الْمُتَّقُونَ ۚ

ته ورته ووایه یا محمد (ﷺ) یعني کفارو ته د مکې چي آیا دغه عذاب چي تاسي یې کم او کیف واورېدی خیر دی که جنت د همېشه لپاره هغه جنت الخلد چي وعده یې کړل سوې ده یعني له جانبه ځخه د خدای ﷻ د تقوی دارو بندګانو سره.

فائده: مراد له تقوی ځخه مطلق تقوی ده چي مربوط په نفس کلمه د لا اله الا الله محمد رسول الله ده یعني نه تقوی په دویمه مرتبه کي چي په طاعاتو واجبه پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سري راتګ يعني کوي يې او له ټولو منهياتو څخه پرهېز کوي، او نه درېيمه درجه د تقوی چې تقوی د انبياء عليهم السلام ده او د کاملانو د اولياء الله ده يعني فقط نه دويمه درجه مراد ده او نه فقط درېيمه درجه مراد ده. ولي مؤمن بالقلب واللسان که څه هم په غايت عصيان کي وي مګر ابدي دوزخ ورته نسته خلافًا للمعتزلة دوی وايي چې مرتکب د کبائرو ګنهو چې بې توبې مړ سي ځای يې ابدي دوزخ دی، اهل السنة والجماعة وايي چې مؤمن چې بې توبې مړ سي يا په رحمت عامه د خدای ﷻ ټوله کبائر وروبخښل سي، او يا به يې رسول الله ﷺ په اجازه د خدای ﷻ شفاعت وکړي، په دواړو صورتو کي اور ته نه داخليږي، او که دواړې لاري پرېښدي سي په قدر د ګناه به دوزخ ته ورسي اخير به بيرته جنت الخلد ته ورځي.

فائده: مراد له جنت الخلد څخه يا معنی لقبي ده چې هر جنت جنت الخلد دی يعني د دوام ځای او يا معنی علمي مراد ده چې د يو خاص جنت نوم دی، والاول اولی و انسب فتامل.

سوال: دا استفهام څرنګه لاړ لري چې عذاب مؤبد د سعير بنه دی او که جنت الخلد. او استفهام خو د شک او تردید لپاره په دې کي دی که هيڅ څوک شک او تردد نه لري چې جنت الخلد تر سعير مؤبد بهتر دی؟

ځواب: دا استفهام يې د کفارو د سرزنش او د تهکم لپاره او غم چې ول د دوی دی پر هغه شي چې د دوی څخه د لاسه ووتی چې جنت الخلد دی په سبب د کفر د دوی په دنيا کي.

كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَّمَصِيرًا ﴿١٥﴾

چې ؤ دغه دار الخلد د دوی يعني مؤمنانو لپاره.

سوال: کان څو ماضي ده او دار الخلد چې مؤمنانو ته ورکول کېږي هغه په قيامت ورکول کېږي چې استقبال بعيد دی؟

ځواب: بعض مفسرين د دې سوال دفع په دغه الفاظو کوي ای في علم الله او بعض مفسرين وايي چې دار الخلد چونکه موعود د خدای ﷻ دی والله تعالى لايخلف الميعاد، نو نازل يې کړی پر منزله د امر متحقق في الماضي فافهم هداک الله تعالى، کريمه: تلک الجنة التي اورثتموها بما کنتم تعملون (ومصيرا) يعني مرجع يرجعون اليه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خٰلِدِيْنَ ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْئُوْلًا ﴿۱۶﴾

دوی لره دي هغه شیان چي اشتهاء یې ورته کېږي یعني من الماکل والمشارب ومن انواع النعیم چي ددوی د مراتبو سره برابر وي، دا قید چي ددوی د مراتبو سره برابر وي ددې لپاره ما ووایه چي څوک توهم ددې ونه کړي چي اهل جنت ټوله په مراتبو کي سره برابر دي.

درویش وایي: چي ددې آیت څخه ظاهر سو فساد د قول د شرع الاشباه والنظائر چي په جنت کي لواطت روا دی لجواز ان یریدها اهل الجنة، او ده دلیل په عموم ددې آیت کړی دی (لهم مایشآؤن) وجه د فساد ددې قول داده چي لواطت خو د خبائثو کارو څخه دی التي ماتعلقت الحکمة په روا والي سره د هغه یعني اللواطة في عصر من الاعصار لکه زنی، فکیف یکون ماهو خلاف الحکمة الالهیة مرادًا ومشتهیٰ لاهل الجنة، والحاصل ان عموم الآیة انما هو بالنسبة الی المتعارف وموافق للحکمة الالهیة، ددې آیت مفاد دادی چي مرادات د بندګانو په جنت کي پوره کېږي بخلاف الدنیا چي د سړي وشي ته اشتهاء کېږي او مراد یې وي لکن په لاس نه ورځي، (خالدین) یعني همېشه به وي دوی یعني في الجنة چي نه موت سته خلود بلا موت نه اخراج سته له جنته (کان) دي دغه مذکوره شیان چي دخول دی د جنت او خلود دی فیها او مایشاؤن وه.

درویش وایي: چي په لفظ د مذکور هغه سوال دفعه سو چي مناسب د کانت وُ ولي چي مرجع د ضمیر د کان خو دهر شیان وه، حاصل د جواب دادی چي هر څو دهر شیان چي وي لکن په تاویل د مذکور یا ماذکر یو شی ګرځي (علی ربک وعدًا مسؤلًا) یعني دغه شیان چونکه موعود د خدای ﷻ دي په خپل فضل او کرم سره حق ددې لري چي مؤمنان یې له خدایه وغواړي.

سوال: علی خو لپاره د وجوب دی نحو لي علیک دین، او سره ددې چي پر خدای ﷻ خو وجوب نسته؟

ځواب: کلمه د علی یې ددې لپاره راوړه چي خلاف په وعده کي د خدای ﷻ ممتنع دی، نو لکه واجب داسي سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللّٰهِ

ذکر کړه یا محمد (ﷺ) و قوم ته خپل هغه ورځ چې جمع به کړي خدای ﷻ دوی او هغه شیان چې دوی یې عبادت کاوه ماسوی له خدایه څخه.

پوه سه: چې کلمه د ما علی التحقیق که څه هم عامه ده للعقلا، وغیرهم لکن په قرینه د جواب آتي مراد څنډي عقلا دي کالملائکة وعیسی وعزیر علیهم السلام.

فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِي هَٰؤُلَاءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا السَّبِيلَ ﴿١٧﴾

آیا شما بودید یعني، خدای پاک ووایي و معبودینو ته، تاسي ګمراهان کړي وه زما بندګان چې دغه دي یعني تاسي ای معبودینو دعوت ورکړی وُ خپل عبادت ته، او که دوی په خپل فکر ګمراهان سوي دلاري حقي څخه یعني چې دوی نظر صحیح نه کاوه او اعراض یې کړی وُ د مرشد نصیح څخه.

سوال: خدای ﷻ په ازل کي په حال د معبودینو چې دوی دعوت نه دی ورکړی او خلک یې نه دي امر کړي په خپل عبادت سره، نو په دې سوال کي څه فائده؟

ځواب: فائده یې الزام د عابدینو دی په دې معنی چې د معبودینو څخه سوال وسي په مذکور سوال سره او معبودین جواب ورکړي بما هو الحق الواقع، نو د عابدینو ددوی به غم او حیرت او دهشت ډېر سي او عابدین به په جواب د معبودینو ملزم سي یعني بتکذیب المعبودین دوی لره او اظهار د معبودینو بېزاري ددوی څخه او اظهار د معبودینو چې موږ دوی نه دي امر کړي په عبادت د خپل ځان، نو شق ثاني به ثابت سي یعني ام هم ضلوا السبیل، چې دوی په خپله ګمراهان وه.

قَالُوا سُبْحَانَكَ مَا كَانَ يَنبَغِي لَنَا أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَاءَ

معبودین به وایي دا جمله مستانفه یې بیاني د سوال یعني معبودینو په جواب د سوال د خالق لایزال څخه وویل (سبحانک) پاکي ده تا لره، دا کلمه د تعجب ده ددوی د سوال چې ددوی څخه وسو، یا تنزیه د خدای ﷻ د انداد څخه (ماکان ینبغي لنا) نه بنایي او نه ده لائق موږ لره، چې موږ به ګرځو و متجاوزین ستا څخه یو ولي له اولیاؤ څخه.

فائده: کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي او لفظ د اولیاء مفعول د تتخذ دی او اتخاذ دلته متعدي و مفعول واحد ته دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: خدای پاک خو ددوی څخه دا سوال وکړی آیا تاسي ګمراهان کړي دي زما بندګان په معبودیت خپل سره او دوی په جواب کي ورته ووایي ماکان ینبغي لنا آه چي موږ غیر له تا څخه بل معبود نه وایو او نه یې عبادت کوو، نو حاصل د پوښتنې دا دی چي دا جواب خو د سوال سره برابر او دفع د هغه نه په کېږي؟

ځواب: دفع د سوال په طریق برهاني سره وکړه سوه یعني څوک چي په خپله د من دون الله عبادت نه کوي، نو غیر به څرنګه په عبادت د غیر الله امر کوي چي عبارت ددوی د خپلو ځانو څخه دی.

وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَآبَاءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا الذِّكْرَ ۚ وَكَانُوا قَوْمًا بُورًا ﴿١٨﴾

یعني موږ خو نه دي ګمراهان کړي دوی بلکي سبب د دوی دا و ګرځېدی چي دوی ته تا نعمتونه ګوناګون ورکړي وه او طویل عمرونه دي ورکړي وه تا چي دوی حق د هغو نعمتو ادا کړي او د هغو شکر ووایي لکن دوی په شهواتو کي غرق سوه.

تر دې اندازې پورې په شهواتو نفسیه وو کي غرق سوه چي ستا ذکر او شکر یې هېر کړی یعني څنډي غافله سوه او نعمتونه ستا چي وسیله د هدایت او ایمان وه دوی ته سبب د ضلال او کفر و ګرځېدی (وکانوا قومًا بورًا) ای صاروا بسبب اختیارهم الضلال علی الهدی یو قوم هالکین په هلاک معنوي سره چي کفر دی.

فائده: بور جمع د بائر ده په معنی د هالک.

كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا نَصْرًا ۚ

یعني خدای ﷻ و عابدینو ته وایي چي په تحقیق سره تکذیب وکړی ستاسو د معبودینو ایها الکفرة.

پوه سه: چي کلمه د با، په معنی د في ده او کلمه د ما مصدریه ده ای في قولکم انهم آلهة وانهم امرونا بذالک الکفر.

(فلا تستطیعون صرفًا) نو تاسي طاقت نه لرئ یعني اې هغه کسانو چي خدای ﷻ ته مو شرکاء وویل دفع د عذاب د خپلو ځانو بوجه من الوجوه لا بالذات ولا بالواسطة او نه کومک یو قسم کومک درسره کېږي یعني نه د ځان له خوا او نه د بل چا د خوا یعني هغه کسان چي تاسي یې عبادت کاوه او سره ددې چي تاسي په دنیا کي دا ویل چي دا زموږ معبودین زموږ کومک کوي او زموږ څخه به عذاب دفع کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّظْلِمْ مِّنْكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيْرًا ﴿١٩﴾

او هر څوک چې ظلم یعنې پر ځان له تاسي څخه وکړي ایها المکلفون، په ده به وڅیښو یعنې ده ته په ورسوو عذاب لوی چې عبارت له دخول څخه د نار دی او خلود فیها دی.

پوه سه: چې مراد له ظلم څخه شرک دی بقرینة مابعده، له مابعد څخه مراد دغه نذقه الخ دی، ولي عذاب کبیر نه وي مګر په ظلم کبیر الذي هو الشرک.

شان نزول: کفارو به ویل مالهذا الرسول یا، کل الطعام ویمشي في الاسواق کمامر خدای ﷻ په دې آیت جواب ورکړی.

وَمَآ اَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّآ اِنَّهُمْ لَيَاْكُلُوْنَ الطَّعَامَ

او موږ نه دي استولي هیڅ څوک له رسولانو څخه مګر په داسي ډول چې هغه رسول به ډوډۍ خوړل لکه نورو خلکو چې به خوړل.

وَيَمْشُوْنَ فِي الْاَسْوَاقِ ۭ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ فِتْنَةً ۭ

او په بازارونو کې به ګرځېدل له لپاره د طلب د معاش، نو دا خورک د طعام یا مشي بالاسواق خو د دوی د رسالت سره منافي نه دۍ، نو ستاد رسالت سره هم منافي نه دی کما زعم قومک.

او موږ ګرځولي بعض ستاسي یعنې یا ایها الناس د بل بعض لپاره فتنة یعنې امتحان او ابتلاء، مثلاً امتحان د فقراء په اغنیاؤ سره دی چې فقیر پر خپل فقر او مسکنت صبر کولای سي او که نه وبالعکس یعنې چې غنې د خپلې غنې شکر ویلای سي او که نه، والمرسلین ﷺ بالمرسل الیهم چې رسولان پر اذیت او عداوت صبر کوي که نه، او د رنځورانو امتحان په جوړانو سره دی یعنې ناجوړي پر خپلې ناجوړي صبر کولای سي که نه، وبالعکس یعنې د جوړانو امتحان په بیمارانو سره دی چې جوړ د خپل صحت او عافیت شکر اداء کوي او که نه، والاسافل کښته رتبه په عالي رتبه سره امتحان کېږي چې دا سافل الرتبة پر خپله رتبه صبر کوي او که د عالي الرتبة سره حسد کوي وبالعکس چې عالي الرتبة زور او ظلم کوي او که نه، والرعایا بالسلاطین یعنې دوی د هغوته بغاوت کوي او که یې حکم منې او د رندو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خداى ﷻ امتحان په بصير سره كوي چې دى پر خپل روند والي صبر كوي او كه نه، وبالعكس لاجل شكر البصير على بصارته، والضعفاء چې په بدن ضعيفه وي په هغو سره امتحان كوي چې ايدان يې قوي وي، او امام واسطي ؒ وايي ماوجد موجود الا لفتنة يعني د ابتلاء لپاره وما فقد مفقود الا لفتنة.

أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾

(اتصبرون) غاية للجعل المذكور اى لنعلم تصبرون وفيه حث على الصبر وفي عكسه حث على الشكر (وكان ربك بصيرًا) او خداى ﷻ خبر دى په من يصبر او يجزع وفي العكس، خداى ﷻ چې څوك شكر د نعمت وايي او كفران كوي او شهوت پرستي كوي، اصلاً په دې آيتو تسلي وعليه الصلوة والسلام على ماقالوا في حقه من انه ساحر، او شاعر او مجنون الى غير ذالك، شيخ عطار ؒ وايي:

مگر ديوانه شوريده ميخاست ..... برهنه آمد زحق كرباس ميخواست
كه الهى بيرهن د رتن ندارم ..... وگر تو صبر دارى من ندارم
خطاب آمد ان بى خويشتن را ..... كه كرباس ميدهم اما كفن را
زبان بكشان آن مجنون مفطر ..... كه من دانم ترا اى بنده پرور
كه تا اول نميرد مرد عاجز ..... تو ندهى هيچ كرباسش هرگز
بيايد مرد اول مفلس عور ..... كه تا كرباس يابد اندر گور

دروش وايي: چې الحمد والمنة والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله وصحبه الكملة قد وفقني الله لتفسير الجزء (١٨) وقت العشاء يوم السبت (٤) ثمينًا من شهر ذى قعدة الحرام سنه (١٤٣٠) هـ ق، ارجوا من الله القادر المتعال ان يوفقني لتفسير بقية اجزاء القرآن الكريم انه تعالى على كل شئ قدير وبالاجابة جدير.

تروم العز ثم تنام ليلاً ..... ومن طلب العلى سهر الليالي
بقدر الكد تكتسب المعالي ..... يغوص البحر من طلب اللآلي
كه فاسق يم كه فاجر يم ..... پر تفسير باندې مين يم
روز محشر هر كه آيد تصوير جانان دربغل
من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي د مضامینو فهرست

شمېر	مضمون	مخ	شمېر	مضمون	مخ
۱	سریزه	۳	۲۴	فاذکروا اسم الله علیه	۲۰۲
۲	بنهانه فائده	۱۱	۲۵	افلم یسیروا في الارض	۲۱۳
۳	د ام اتخذوا آلهة تفسیر	۲۵	۲۶	نکته	۲۱۵
۴	سوال او ځواب	۳۴	۲۷	دروېش وایي	۲۲۵
۵	خلق الانسان من عجل	۴۳	۲۸	الفائدة الموعودة	۲۳۰
۶	ونضع الموازین القسط	۵۲	۲۹	وجاهدوا في الله حق جهاده	۲۴۷
۷	حکایت	۶۹	۳۰	د اتلسمي پاري پیل	۲۵۲
۸	د ابراهیم ؑ مختصره قصه	۷۱	۳۱	حکایت	۲۵۶
۹	درواېش وایي	۸۴	۳۲	دروېش وایي	۲۵۸
۱۰	تفریع	۹۱	۳۳	ثم جعلنا نطفة	۲۶۸
۱۱	وایوب اذ نادی ربه	۹۷	۳۴	یو دقیق سوال	۲۷۲
۱۲	د ایوب ؑ لنډه قصه	۱۰۲	۳۵	پوښتنه او ځواب	۲۸۰
۱۳	د ذا الکفل او شیطان قصه	۱۰۷	۳۶	حکایت	۲۸۸
۱۴	لایحزنهم الفزع الاکبر	۱۲۹	۳۷	ثم ارسلنا رسلنا تترا	۲۹۴
۱۵	د سورة الحج پیل	۱۴۰	۳۸	فائده	۳۱۲
۱۶	دروېش وایي	۱۴۲	۳۹	سوال او ځواب	۳۲۲
۱۷	سوال او ځواب	۱۴۶	۴۰	ادفع بالتي هي احسن	۳۳۴
۱۸	هذان خصمان اختصموا	۱۶۶	۴۱	حتی اذا جاء احدهم الموت	۳۳۵
۱۹	مسائل متفرقه	۱۷۳	۴۲	حکایت	۳۴۷
۲۰	د حطیم شریف اندازه	۱۷۹	۴۳	د سورة النور پیل	۳۵۱
۲۱	پوښتنه او ځواب	۱۸۱	۴۴	والذین یرمون ازواجهم	۳۶۴
۲۲	واذن في الناس بالحج	۱۸۲	۴۵	قصة الافک	۳۷۲
۲۳	مسئله	۱۸۹	۴۶	دروېش وایي	۳۸۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي د مضامینو فهرست

شمېر	مضمون	مخ	شمېر	مضمون	مخ
۴۷	پوه سه	۳۹۸	۶۱	تنبیه	۴۶۱
۴۸	حکایت	۴۰۳	۶۲	حکایت	۴۶۱
۴۹	وتسلموا علی اهلها	۴۰۵	۶۳	لقد انزلنا آیات مبینات	۴۶۶
۵۰	مسائل متفرقه	۴۱۶	۶۴	دروېش وایي	۴۷۵
۵۱	دروېش وایي	۴۲۰	۶۵	واذا بلغ الاطفال	۴۸۰
۵۲	تنبیه	۴۲۲	۶۶	پوه سه	۴۸۳
۵۳	تفریع	۴۲۹	۶۷	مسئله فقهیه	۴۸۶
۵۴	مسائل متفرقه	۴۳۰	۶۸	مسائل متفرقه	۴۸۹
۵۵	الله نور السمٰوات والارض	۴۳۵	۶۹	د سورة الفرقان پیل	۴۹۷
۵۶	پوښتنه او ځواب	۴۳۷	۷۰	سوال او ځواب	۴۹۹
۵۷	دروېش وایي	۴۵۰	۷۱	تنبیه	۵۰۰
۵۸	د نبي کریم ﷺ د ژوند مختصر حالا	۴۵۱	۷۲	وقالوا مال هذا الرسول	۵۰۴
۵۹	فائدة لابد منها	۴۵۴	۷۳	خاتمه	۵۱۶
۶۰	اقام الصلوة وایتاء الزکوة	۴۵۵			

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

الحمدلله زمونږ اداري ته دا ويارړ ورپه برخه دی چې د دين د شعبې
د هر فن کتاب يې وپښتو ژبې ته ژباړلی دی، لکه څرنګه چې
زمونږ اداري څو کاله دمخه يو کتاب په نامه د "تعليم العقائد" له
اردو ژبې څخه وپښتو ته وژباړی چې الحمدلله ډېر مقبول
وګرځېدی، لکن چونکه هغه کتاب د ابتدائي طالبانو لپاره وو، نو
اوس زمونږ اداري د عقائدو په اړه يو بل کتاب د جناب قاري
محمد فضل الحق حقاني په خوښه پښتو سره ژباړلی دی ان شاء
الله ډېر ژر به منظر عام ته راسي.

عقائد الاسلام

چې د جناب مولانا محمد ادريس کاندهلوي صاحب تصنيف دی
چې دا کتاب د اهل السنة والجماعة د عقائدو ويندويه دی چې د
باطلو فرقو نشاندهي هم پکښې ده.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او
pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

مکتبة القراءت والتجويد

کاسي روډ کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د سرور کائنات فخر موجودات سردار کل عالم خاتم النبیین حضرت محمد ﷺ او ډډه د خوږو ملګرو مبارکانو صحابه کرامو ﷺ مبارک ژوند و هر مسلمان ته بلکې و هر نوع انسان ته قدم پر قدم د نیکبختۍ زېری ورکوي، کوم څوک چې ددوی مبارکانو پر لارو نقش قدم باندې روان سو، بس هم دغه انسان کامیابي پیدا کړه، د مکې تر ټولو لوی سردار ابوجهل ددوی له لارې څخه سرغړونه وکړه د دواړو جهانو ذلت ورپه برخه سو. یوه حبشي غلام ددوی پیروي وکړه په دې دنیا کې و هغه ته موږ حضرت بلال ﷺ وایو او د هغه جهان نیک بختي خو یې په برخه ده چې ده.

نو ددې مبارکو هستیو د ژوندانه په اړه او د دین لپاره ددوی د خدمت، ترخې او خوږې، تکالیفو او قربانیو به باره کې موږ د حضرت مولانا محمد یوسف الکاندهلوي ؒ کتاب حیاة الصحابة و خوږې کندهاری پښتو ته راژباړلی دی، او وچاپ ته رسېدلی دی.

حیاة الصحابة ۵

په دې کتاب کې د مبارکانو صحابه کرامو ﷺ د ژوندانه ټول حالات د ټولو غزواتو پوره احوال او د خلفاء راشدینو د خلافت ټوله احوال موجود دي، او ددې تر څنګ به نورې پر څه تاسي د کتاب د کتلو په وخت وګورئ دا تاسي دا یې کتاب.

مکتبة القراءت والتجوید

کاسي روډ کوئټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفي۱۲ ټوک

د نصیراحمد احمدي لـخوا

سکین او pdf سـو.

تاریخ. ۲۶-۱۰-۱۳۹۸

واتساپ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner